ناول: ته څوک یې؟

لیکوال: خواجه زي

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره.

https://t.me/pashtoonovels0


ته څوک یې؟!
د ابلیس ناول دریم جلد
لیکوال: خواجه زی

"بِسمِ اللّهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم"

نظر مې د دوکان د ښېښې څخه هغه خوا د سړک بلې غاړې ته په هغه کوچني میدان و چې د هلکانو یو ډلي په بیحد شوق او خوشحالۍ لګیا وه او کرکټ یې کاوه، د کوچنیوالو څخه تر همدا اوس یوازیني شئ چې بیحد مې خوښیده او شوق مې ورسره درلود همدغه کرکټ وو، کله ناکله چې ماذدیګر خوا ته بیکاره کیدلم نو تلم د هغوي سره مې لوبه کول، تقریبا شپږ میاشتي کیږي چې دلته راغلې یم دقیق که ووایم نو د هغه وخت څخه چې د ذوالفقار د دفتر څخه ووتلو او د

زبير د هغه پيدا کړی کار څخه يې هم وشړلو نو دا
دوکان مو واخيست.

البته بايد ووايم چې زبير او ذوالفقار واخيست زما
سره پيسي چيرته وه؟ خو په نوم زما او د زبير دی
دوارو په شريک پکې کار کو، زه هره مياشت ذوالفقار
ته د هغه د قرض يو څه پيسي ورکوم البته دومره
پيسي هم نشم ورکولي کله ناکله د مياشتي پنځه زره
روپي ورکوم، کله دوه زره او کله ناکله خو بيخې د
مياشتي دومره کار نه کيږی چې خپل خرچه اوباسم
څه ورسيږی چې ذوالفقار ته يې ورکړم! خو د بيکاری
څخه همدا کار هم ښه دی، وخت تيريږی او ذوالفقار
هم دومره خپل د پيسو غوښتنه نکوی چې زه دی
پعذاب شم.

البته هغه بيچاره خو بيخي د پيسو نوم لا نه اخلې، کله
ناکله چې زه د مياشتي يو څو زره روپي ورکوم نو
سخت غوسه کيږی او پيسي نه اخلې خو زه يې په

زوره ورکوم، د هغه احسانات پر ما دومره زیات دی چې حد نلری او زه پوهیږم چې د هغه یو احسان هم نشم جبران کولای خو د پیسو پر ورکولو یو څه خپل وجدان راحت کوم.

د دی دوکان یو خوبي همدا د کرکټ لیدل دی کله ناکله چې مشتری نه وی زه هم ځم او هلته کرکټ کوم البته کله ناکله! دا څو وختونو کې د کرکټ کولو څخه لویدلي یم زیاتر د لری څخه د لوبي څارونکي یم.

په همدی فکر کی وم چی د دوکان دروازه خلاصه شوه او دوه چاغي انجوني چی هر یو یې درې منه آریش کړی و په سترې ګامونو باندی دوکان ته را دننه شول، دا څو وخته چې دوکانداری مې شروع کړې وه دومره تجربه مې حاصل کړی وه او په یو نظر پوهیدم چې ایا مقابل کس مشتری(اخیستونکي) دی که یا هسې وقت ضایع کونکی؟

د هغوی د چاغ جسمونو او سترېو څهرو او خالي لاسونو څخه یو شي ماته په واضح توګه ښکاریدل او هغه دا چې هغوي خپل د خوښي ډیزاین یا اندازه نده پیدا کړی،په یو بی حوصله مسکا او تکرای جمله " ښه راغلاست څه مرسته ستاسو سره کولای شم" چی هر ورځ په کرارتو مې د هر مشتری د راتلو سره تکرارول د هغوی پام ځان طرف ته راواړو د هغه دواړو څخه یوه جنۍ چې عمر یی یوسه لږ معلومیدی پداسی حال کی چی خپل حجاب یی سم کاوه کرار وویل: تور برجست لری؟ غټ سایز کې ؟

صحیح ګمان مې کړی و مشتری وه ډیر ژر مې ورته درې ډیزینه برجستونه په تور
رنګ کی د هغوي مخې ته کیخودل او ومې ویل: په غټ سایز کی یواځې دا دری ډیزینه لرم.

جنۍ لکه چی یو راحته ساه واخیستی، په تلوار یې وپوښتل: پدی ډیزین کی 52 اندازه سایز لری؟

په حیرانتیا می جنۍ ته وکتل چاغه وه خو دومره هم نه! زما په نظر 50 سایز ورته برابر وو، همدغه خبره مې هغې ته هم وکړل او ومې ویل: زما په نظر 50 سایز تاسو ته برابر دی ځکه دا برجستونه کش دی او ډیر کشیږی(او بیا مي د یو برجست پایسه تر کوم ځای چی کشیدل کش کړل ترڅو زما په خبری اعتبار وکړی جنۍ لکه چی زما خبره خوښه شول ځکه په خوشحالي باندی سر وخوځاوه او ویې ویل: سمه ده همدا اخلم.

خوشحاله شوم چی زما خبره یی ومنل زما په نظر چاغي ښځې د ښکرو څخه بهتره دی! ځکه یواځی ورته اندازه مهمه وی، نه ډیر د ډیزاین پسی سر ګرځوی او نه هم رنګ ورته ډېر مهم وی، که یو ښکره جنۍ اوس راغلې وایې نو مجبوره ورته دا ټول دوکان می خالې کړی وایی ترڅو ډیزاین ،رنګ ،کیفیت اصل، بدل او خلاصه چی زر رقم درد و بتر یې کتلې وایی، او د دی ټولو څیزونو د کتلو وروسته یې هم ویل" زه تر دا

بل دوکان ځم یو بل شي اخلم او بیرته ژر راځم" او دا خبره مطلب هسې می پر تا دا ټول دوکان خالي کړو خو زما هیڅ شې خوښ نشو!

خو جالب دا چې زیاتر اوقات داسې هم کیدل چې د ټول بازار کتلو وروسته ستړی ستومانه راتلل او بیرته یې همغه شئ کوم چې لومړۍ ځل خوښښ شوی وو اخیست؟! په داسي حال کې مې ډېر زړه غوارړی هغه جنۍ ته ووایم: ایا لومړۍ دی چینجی درلود چې وا دی نه خیست او ځان دې دومره ستړی کړو؟ خو افسوس چې داسي الفاظ یو ښځې ته مخامخ ویل ښه نه دی.

– قیمت یی څو دی؟

اه بیا تکراری بحث یعني د دوکانداری بترینه بحث او موضوع همدغه د جنس په سر چنه وهل دي، منم چې چنه وهل سنت طریقه ده خو د هغه څخه مطلب دا چنه وهل نه دی، کوم چنه چې دوي د جنس په سر وهې دا د انسان عصاب خوړل دې او زه ورڅخه کرکه

لرم، کاش د خارج پشان په هر جنس باندی قیمت لګول شوی واي او خلکو هم بغیر د کوم چني وهلو څخه په آرامه آرامې یې پیسي ورکول او خپل خرید یې کاوه ای کاش! البته خپل خبره اخلم دا چاغي ښځی داسې بهترینه هم نه دی، دویته که ډیزاین او رنګ دومره مهم نه وي خو قیمت بیحد مهم دی، یعنی تر څو چې په چني وهلو،وهلو دی د بدن پوست در ونباسي تر هغه وخته دې نه خوشي کوی.

د ډیر چنو وهلو وروسته راځی شول چې ما بدبخت ته یو پنځه افغانۍ فایده د هغه جنس په سر راکړی او زه په هغه پنځه روپو داسي خوشحاله شوم ته وا چې پنځه لکه ډالر مې فایده کړی ده. د هغوي دتلو سره سم د دوکان دروازه بیا خلاصه شوه او دا ځل زبیر راننوت.

زبیر- سلام څنګه یی؟
- علیک سلام ښه یم ولی دی دومره ناوخته کړل؟
زبیر پداسی حال کی چی یو برګر او د پیپسې بوتل زما

خوا ته نیو وویل: وبخښه، یوځه کار راته پیدا شو نو ځکه ناوخته شول، څنګه مشتری دی درلود؟
پداسی حال کی چی برګر او د پیپسې بوتل مې د هغه د لاس اخیست ومی ویل: مشتری نه، باید ووایي د عذاب فرښتې! یعنې دومره یې د قیمت په سر چني ووهل چې اخر کی مې زړه غوښت خپل سر په دا دیوال ووهم.

زبیر په خندا وویل: نه داسې کار ونکړی، که خدای نخواسته په تا یو شئ وشې نو ذوالفقار به زما پوست په ژوندوني وباسی.
- یعنی د دی لپاره چی ذوالفقار درته څه ونه وایي زما سلامتیا درته مهم ده؟
زبیر پداسې حال کی چې یو عطر یې را اخیستې و او په ځان یي پاشې په خندا
وویل: معلومداره خبره ده چی دهغه د وېرې نه پریږدم یو اغزی دی لا پر پښه ننوځې، کنه پرتا خو څه سینه چاق عاشق نه یم؟!

- بلا بلا ریشخندی انسانه، هغه عطر پرېږده زر ځله مې درته ویلې چې د دوکان شیان په ځان مه واهه یا څوک یې نه اخلې وایې دا استعمال شوی.
زبیر داسې حال کې چې عطر یې بیرته پوښ ته اچو ویې ویل: دوی باید خوشحال شي چې دا عطر لومړی ما وهلې.
په ریشخند مې وویل: هو نو تخو پیرصیب یې کوم شي چې استعمال کړی هغه برکتي کیږي.
زبیر پخندا وویل: اپرین اوس دی اصل خبره وکړل، زه دا خبری پرېږده پوهیږی طاها څه مې پیدا کړی؟

د برګر خوړلو حال کې مې ورته سر وخوځاوه او ومې ویل: څه؟
د زبیر سترګي له شیطنت څخه وپړقیدل زما خواته چې د میز شاته په څوکۍ ناست وم راغې او خپل موبایل یې راوخیست او ویې ویل: یو خطرناک فلم مې پرون ماښام پیدا کړو طاها، چې باور به ونکړی که ووایم په یوه شپه کې مې درې ځله وکتې.

- ما فکر وکړو کوم خزانه،مزانه دی پیدا کړي، پر تا دی ودریږی.
زبیر- نچ د خزاني څخه ډېر قیمتي فلم دی.

څه مې ونه ویل او خپل برګر خوړل مې پیل کړل زبیر هم څو دقي خپل د موبایل شیان اخوا دیخوا کړل او بلاخره یې هغه فلم پیدا کړو په خوشحالې د موبایل سکرین زما خواته ونیو تر څو فلم وګورم، همدا چې نظر مې د موبایل په سکرین ولګید سترګي مې له حیرت خلاصي پاتي شوی، یو نظر مې د زبیر خوا ته چې په خوشحالې زما خوا ته راکتل وکړو او یو نظر مې بیا د موبایل په سکرین هغه فلم ته البته باید ووایم هغه سکسي "پورن فحش" فلم ته وکړو او په غوسه مې وویل: مړ شې زبیر دا نو څه دی؟

زما په دی خبره زبیر لږ حیرت وکړو موبایل یې سکرین یې خپل خواته وګرځو، زه په تمه وم چې هغه ووایې دا فلم نه وو بلکې دا د غلطي څخه راغلی خو هغه

بیرته همغه فلم زما خواته ونیو او ویې ویل: څه دی؟ خو فلم دی وګوره دومره زبردست فلم دی.

دا ځل نو د رښتیا مې ورته غوسه راغله یو دوه کلک ټک مې پر اوږه وواهه او موبایل مې ورته په لاس ورکړو او ومې ویل: خدای دی ورک که زبیر چې درڅخه بیغم شم، دغه فحش فلم تا ماښام درې ځله کتلې؟ای وشرمیږی بیا که خپل دی غول خوړلې وه او کتلی دی و بیا نو ولې دی ماته راوړو؟ فکر کوی زه هم ستا پشان دا چټیاټ ګورم؟

زبیر- اوووو په کراره دا کوم سکسی یا فحش فلم نه دی.
- نه دی؟
زبیر- اهوم نه دی.
- عجب! نو دا ستا په نظر فحش فلم نه دی؟
زبیر- عه ورک شې خیرن، منم لږ اهوم اهوم یعنې مطلب بې شرمانه انځورونه لری خو په قران دا دومره

جالب فلم دی.
- ستا سر دی هغه جالب وخوری، دا رقم شیان کتل پوهیږی څومره ګناه لری؟ دیته اسلام د سترګو زنا وایي.
زبیر- بیا شروع شو مولا صیب.

غوښتل مې یو دوه درې خبری ورواچوم چې زبیر په بیحد عاجزانه لهجه وویل: طاها! ته وقران زما نیشه کې تیشه مه وهه راشه دا وګوره، باور وکه د کتلو څخه به یې پښیمانه نشې.
- په قران قسم یوځل بیا داسي بکواس شیان ماته راوړی داسی وهل وخوری چې خوند درکړی.
زبیر- ورک شې لخیره زه درته وایم دا فلم ډیر جالب کیسه لری، ته یې د هغه نور شیانو سره څه کار لری؟ ته یې کیسي ته وګوره.
- هغه مرداره کیسه یې ستا مبارک زه یې نګورم.

پاسېدم ترڅو د عطرونو قوطیان منظم کړم، خو زبیر د سریښ پشان زما پسي و او زاری کول ترڅو زه هغه فلم وګورم دومره یې وویل او زارۍ وکړل چې بلاخره مې ورته وویل: کتل خو زر کاله وروسته هم داسي مردار فلم نګورم خو ته چې اوس دومره لګیا یې او وایي چې جالب کیسه لری نو کیسه یې وکړه.
زبیر- نه نو کیسه کول یې خوند نه کوی باید ویې ګوری ځکه هغسې بیا په کیسي بهتره پوهیږی.
- بیخي مکوه ورځه ورک شه زما عصاب دی په کافي اندازه نن خراب کړل.

زبیر څو شېبې خاموش شو او کله چې ولیدل بله چاره نلری نو په نه زړه یې وویل: که څه هم د هغه فلم خوند په کتلو کېدی خو اوس چې تا د ځان څخه مولا جوړ کړی نو کیسه به یې درته وکړم، ګوره د فلم اول سر کې چې تا کوم ښځه ولیدل ښه؟
- هوم.

زبیر- هغه ښځه اصل کې ښځه نه ده! مطلب عه څنګه دې پوهه کړم ته خیرن فلم هم نګوری چې په کیسه دې سر خلاص شې، ګوره اومم کیسه به داسي شروع کړم ګوره یو ډاکټر دی اصل کې د پوستکي جراح ډاکټر دی، د ده یوه ښځه ده او یو پنځلس کلن لور ده په ده باندی دا خپل ښځه او لور بیحد ګران دی، د ده مور او پلار مړ شوی او دی خپل د ښځې او لور سره په یو کور کې یوازی ژوند کوی (څو شیبې خاموش شو، مخ مې تاو کړو چې وګورم ولې خاموش شو؟ زما په کتلو زیبر په کرار وویل: نه یوازی ژوند نکوی، د ده سره یو بوډۍ ښځه هم ژوند کوی چې ماشومتوب کې دغه ډاکتر ته شیدی ورکړی وه او د ده رضایی مور راځې دا بوډۍ ښځه هم د دوي سره ژوند کوی البته د یو نوکری پشان او د دوي د کور کار کوی.

دا بوډۍ ښځه په دنیا کې هېڅوک نلری،البته یو زوی لری چې ډېر خبیث انسان دی، یو بیکار معتاد چرسی چې یوه ورځ ازاد دی او دوه میاشتي بندیخانه کې

بندی دی. خلاصه چې دا ښځه د تګ لپاره بل ځای نلری او د همدی ډاکټر په کور کې ژوند کوی یوه ورځ

د دې بوډۍ ښځې زوی خپل د مور د لیدو لپاره د ډاکټر کور ته راځې البته د دی لپاره نه راځې چې خپل د مور پسې زړه تنګ شوی نه، بلکې پولیسان ورپسی دې! زما په نظر ده کوم غلا،ملا کړی ده او د هغوي څخه د بچ کیدلو لپاره خپل مور ته راځې او ورته وايې ما دلته پټ کړه، خو مور يې دا خبره نه منې،د دوي دواړو په همدی خبرو کې بحث وی چې د ډاکټر ښځه راځې او پوښتنه کوی چې څه خبره ده؟ هغه بوډۍ ښځه هم د شرم څخه نه پوهیږی چې څه ووايي؟ چې په همدی وخت کې د هغې زوی چالاکی کوی او خپل ځان د ډاکټری ښځې ته داسی بیخې نامي ښه سړی معرفی کوی او اخر کې ورته په مظلومیت او دروغو وايي چې د کور صاحب يې دی له کور څخه شړلې ځکه چې ده سره د کرايي پیسي نه وه. او اوس دی د اوسېدو لپاره

کوم ځای نلری او خپل د مور ځنګ ته راغلې که اجازه وی یو څو ورځې دلته پاتې شې؟!

د ډاکټر ښځه هم د لږ فکر کولو وروسته د هغه خبیث خبره منې او ورته اجازه ورکوی چې د یو څو ورځو لپاره د دوي کور کې پاتې شې، له بلخوا سر خوږلې بدبخت ډاکټر د یو مهم کار لپاره بل ښار ته تللې.
زبیر خپل د خبرو په منځ کې ودرید ما ورته په کنجکاوی کتل ترڅو خپل خبرو ته دوام ورکړی. رښتیا که ووایم کیسه راته جالب معلومیدل که څه هم فلم کې لومړی صحنه یې ډیر خراب راخیستلې وه! زبیر چې زما منتظر نظر ولید نو په شیطنت یې وویل:
څنګه اوس هم نغواړی فلم وګوری؟

بد،بد مې وروکتل زبیر یو بد خاصیت درلود او هغه دا چې کوم وخت چې پوهه شوی واې چې د یو شئ په اړه یې ستا نظر جلب کړی بیا نو ترڅو چې ستا زاره یې درته نه واې چولی تر هغه یې هغه خبره نکول، نو

ځکه ځان مې ناګاره واچو بیرته خپل په کار بوخت شوم او په یو بې پروا لهجه مې وویل: ورځه ورک شې د هغه بیکاره فلم سره دی، هسی برېبرې لګیا وی نو ما ویل بده ده درته شا کړم نو ځکه مې مخ دروګرځو کنه کیسه دی بیخي په غوږ نیولو نه ارزی.

زما په دی خبره زبیر په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: هو، هو تخو رښتیا وایې بیخې دی غوږ نه و نیولی کنه؟

کوم ځواب مې ورنکړو، زبیر چې هم زما بې پروای ولیدل نو خپل لګیا شو د کیسي پر کولو او مضریت یې پریخود.

زبیر- ښه نو د کیسی دی ځای کې وو چې بدبخت،کم بخت ډاکتر تللې بل ځای ته او د ډاکټر ښځې د دی بوډۍ زوی ته خپل په کور کې ځای ورکړو، او دا کم بخت ښځه چې دومره خپل په خاوند ګرانه وه او حتا یو لور یې هم درلود د دی خیرن سړی سره یارانه

جوړوی.
بی اختیار می مخ د زبیر خواته کړو او ومې ویل: نه!

زبیر- په قران! دا کم بخت ښځه د دی سړی سره جوړیږی او خلاصه چې ځو ورځی ښه په عیش او عیاشي باندی اا سړی د ځان سره ساتي خو کله چې د ډاکټر د راتګ خبر واوری نو خپل د غه خبیث یار ته پیسي ورکوی او ورته وايې چې اوس لاړ شه او زما بدبخت خاوند راروان دی خو هغه کم عقل ځو ورځي په کور دی او بیا د کوم کار لپاره ځی کله چې لاړو بیا ته راشه خلاصه چې همغسی کیږی خاوند یې د ځو ورځو لپاره کور ته راځې او بیا د یو کار په سلسله کې ځې او دا بیا د دی بوډۍ زوی ته زنګ وهی چې راشه میدان چغالي دی.

په حیرت مې د زبیر خبره پری کړل او ومې ویل: دا بوډۍ ښځه ولې ډاکتر ته خپل د زوی او د هغه د ښځې د بد عملی په اړه خبر نه ورکو؟

زبیر- مورا! پوهیږی مور څه ته وای؟ زوی چې هرڅومره بد شي بیا هم یو مور خپل د اولاد مرګ نغواړی، هغه بوډې ښځه هم خپل د دی خبیث زوی مرګ نغوښت نو ځکه دی ورته ډیر نصیحتونه کول البته خپل زوی ته یی کول خو زوی چې تازه په داسی مزو وریپیښ شوی و نو خپل د مور یوه خبره یې هم نه منل البته دومره خبیث څهره یی ده زه حیران یم دا د ډاکتر ښځه د ده سره څنګه یارانه جوړه کړل؟

زبیر په یو افسوس دا خبره وکړل چی ماته خندا راغلل.

زبیر- خانده مه رښتیا وایم تا خو فلم کې نه دی لیدلی خو باور وکه سم خنزیر پشان څهره یې ده همغسې چاق بد قواره او دا بدبخته ښځه دومره ښکلې ده، د دی خاوند هغه بدبخت ډاکټر هم ښکلې دی بیا ولاکه چې دا ولی د دی مردار سره جوړه شوه؟ په هر حال

خدای دی واخلی دواړه ښه نو کیسه مې کول چې د دی خاوند بیا د کار په سلسله کې یو چیرته ولاړی.

- صبر د دی څخه مخکې چې کیسه پیل کړی تا ویل د دی یو پنځلس کلنه لور ده هغه چیرته ده؟ هغه خو کوم چیرته نه ده تللی، هغه نو څنګه خپل د مور د دی غلط کارو څخه نه ده خبره؟

زبیر بد بد راوکتل او ویې ویل: کله چې فلم نګوری نو معلومداره ده چې د کیسی په سر و بر به صحیح نه پوهیږی زه هم کوم روبات نه یم چې ټول کیسه الف څخه تر یا درته وکړم لور یې زما لیاده ووتل چې درته ووایم هغه یې یو مکتب کې اچولې چې لیلیه لری او میاشت کې یوځل کور ته راځی.

- اها صحیح شو اوس دوام ورکړه.

زبیر- مرګ یې دوام ورکړه.

کرار مې وخندل چې زبیر یو دوه نور خبری هم وکړل او بیا یې کیسه راوخیستل: ښه نو ویل ښځې خپل

هغه خیرن خبیث معشوق راوغوښت په دی فکر چې خاوند مې نشته، او دواړه لګیا وه عیش او عشرت یې کاوه چې له هغه خوا یې خاوند راغلو!

همدا چې خوله مې د پوښتني کولو لپاره جوړه کړل ترخو وپوښتم خاوند خو یی د کار لپاره تللی وو څنګه راغلو؟ چې زبیر په غوسه زما د څه ویلو مخکی خوله رابنده کړل او ویې ویل: یو دقه خوله دی بنده ونیسه کیسه لا خلاصه شوی نه ده، وایم چې ولی راغلو دومره که تلوار دی درلود بیا به دی فلم کتلی وایی، دومره بد مې راځی خبره مې پوره کړی نه وی او ته لکه د شلمبو مچ پشان پوښتنی کول پیل کړی چی دا نو ولی داسی شو؟ هغه  نو ولي هغسی شو؟ هر څه وشو ښه وشو په تا یی څه؟

د زبیر دومره غوسي ته مې وخندل او ومې ویل: اها زه صحیح شو څه نه وایم مهربانی جناب کیسه خوان صیب!

زبیر- مرض او درد کیسه خوان صیب.
- اصلاً بیخې کیسه مکوه چی دومره نازونه کوی.
زبیر- زه ناز کوم که ته؟ د انسان پشان مې درته فلم راوړو ځان دی اولیا د زماني جوړ کړو چې توبه، توبه زه خو داسی شیان نګورم او اوس ګوره څنګه غوړ دی نیولي کیسی ته؟! که غواړې کیسه وکړم نو د انسان پشان غوړ شه او زما خبره مه بندوه.

غوښتل مې ورته وایم چې بیخې مکوه! خو کله چې د زبیر هغه د قاتلانو پشان په غوسه نظر مې ولید نو په کراره مې وویل: سمده نور پوښتنه نکوم کیسه وکړه.

زبیر څو شیبی په ځیر،ځیر راوکتل او بیا یې خپل کیسه پیل کړل: د ډاکتر څخه په کور کې خپل یو دوسیه پاتې شوی کوم کې چې د ده د نن ورځې د کنفراس او جراحې یو مهم مثله وی نو ځکه دی مجبوره کیږی بیرته کور ته راوګرځې او کله چی کور ته راځې نو خپل ګرانه ښځه د هغه د معشوق سره خپل

په کوټه کې، خپل په بستر کې په هغه بد حال کې ګوري.

زه بغیر د څه ویل  ورته غوږ وم چې زبیر په تنده لهجه وویل: ما فکر کوو اوس به دواړه راونیسې او مړه به یې کړي خو باور کوی طاها! دا کم بخت ډاکتر هملته بغیر د څه ویلو وچ کلک درېږي، داسی لکه چې فلج شوی وې یا کوم خوب ویني او باور یې نه کیږي چې څه روان دی؟ هغه خبیث د بوډۍ زوی چی هم ډاکتر هک حیران ویني نو ژر دوه پښې لری دوه نور هم قرض کوی او الفرار... د کور څخه تښتي د هغه د تلو وروسته د ډاکتر ښځه د ډیناسور پشان های،های ژاړي او اوښکی توی کوی او بخښنه غواړي.

مور مړې ډاکتر هم د کوټي یو کونج کې کښیني او خپل سر په دواړو لاسونو نیسې چې دا نو څه مصیبت راباندی نازل شوی؟ خلاصه چې کافران دی او بیغرت خپل ښځې ته هیڅ نه وایی باور کوی یعنې یوه څپیړه

يې لا نه وهې، يوازې ورته وايې نور زه ستا سره هېڅ کار نلرم او دا چې د کور څخه دې نه شړم يوازې او يوازې خپل د لور پخاطر داسې کار نکوم او نور زما خوا ته را نشې او تمام!

يعنې خپل غوسه يوازې د هغې سره په خبرو نکولو باسې، څو مياشتې د دې پيښې څخه تيرېږي او ډاکټر بيخې خپل کور ته نه ځې او که ځې هم نو خپل د ښځې خواته ګورې لا نه، يوه ورځ چې دې پکار کی دې زنګ ورته راځې او خبر ورکوی چې د ده کور اور اخيستې او د ده ښځه هم په دې اور کې سوځيدلې! البته بدبختکه مړه نه ده خو بيحد زيات سوځيدلې، ډاکټر بدبخت هم په تلوار ځان شفخانې ته رسوی، او هې د مينې کور دې خدای برباد کړی د دې دومره کارونو او خبرو او خيانت او دوکې با وجود بدبخت ډاکټر خپل د ښځې لپاره ژاړی او ټول هغه کينه او بغض چې د هغې لپاره يې زړه کې درلود يوه شيبه کې ټول لمينځه ځې او د يوءيو ډاکټر لاس نيسې او ژاړی

ورته کوی چې ښځه یې وژغوری او د ښځې عجل هم لکه چې پوره نه وو ځکه ژوندی پاتي کیږی خو!

خو تقریبا 95% خپل جلد(پوستکي) له لاسه ورکړې او دومره بدقواره او بدرنګه ورخخه جوړه شوی چې څوک ورته کتلې لا نشې خو بیا هم په ډاکتر باندی داسی ګرانه ده لکه توره اوسکه(کشمش) څو هفتي په ویښ ورسره په شفخانه کې تېروی د هغه وروسته یو نوی کور اخلی او دا کور ته وړی او څلرویشت ساعته ورباندی داسي پام کوی چې نه پریږدی ښځه یې لاس تور او سپین ته ویسي، او کوم مینه چې دا څو وختو کې کمه شوی وه هغه اوس سل چنده کیږی او تل کوښښ کوی هغه خوشحاله وساتی او پرینږدی چې خفه شي خو ښځه یې چې اوس خپل ښایست له لاسه ورکړی فکر کوی خاوند یې ورباندی ترحم کوی او زړه سوځیږی نو ځکه ورسره نه خبری کوی او نه ورته حتا ګوری، د کور ټول هینداری ماتوی ځکه چې نغواړی خپل سوځیدلې مخ پکې وګوری.

ډاکټر چې هم خپل د ښځې ژړا او بد حال ګوری نو خپل ټول کوښښ علم،تجربه کاروی ترڅو وکولې شې خپل د ښځې ښایست د جراحي په واسطه بیرته هغې ته ورکړی، خلاصه چې شپه او ورځ د هغې د مخ د جوړکولو لپاره کار کوی او د دی لپاره چې ښځه یې کور کې یوازی پاتي نشې د مجبوری څخه بیا هغه بوډی ښځه خپل کور ته راوړی ترڅو د ده پر ښځې پام وکړ.

یوه ورځ چې ډاکتر د تل پشان خپل کار ته تللې او کور خالې دی، یوځل بیا د څو میاشتو مخکې پشان خبره رامخکې کیږی او د بوډی زوی یو ځل بیا د دوي نوی کور ته راځې

د ډاکتر ښځه چی عجیب شیطان یې په *** ننوتلي د دی دومره خبرو او کارونو باوجود یو ځل بیا شیطان یې په زړه کې وسوسه وراچوي او غواړی د بوډی د زوی سره رابطه ونیسې خو هغه ورته وایي چی ته دی

دا شکل ته وګوره او زه چی تاته ګورم ما درڅخه کرکه کیږی او خلاصه چې دا بیحد سپکوی او ډیر بد رد ورته وایې اخر کې هم په زور د دې ښځه پیسي اخلی او بغیر له دی چی کوم توجه ورته وکړی د هغه ځای څخه ځی، د هغه د تلو وروسته د ډاکټر ښځه د څو میاشتو وروسته هینداری، مخې ته ځی او خپل مخ ته ګوری او تازه پوهیږی چې خبره څومره خرابه ده او د دی مخ څومره سوځیدلي او فکر کوی چې په داسې قواره خو ژوند نه کیږی او خلاصه دومره د هغه خبیث خبرو ته فکر کوی،کوی چې بلاخره کلک اراده کوی چې باید ځان ووژني.

د هغه خوا څخه بدبخت ډاکټر د څو میاشتو زحمت او خواری وروسته یو لاره پیدا کړی ترڅو خپل د ښځې مخ د اول ورځ پشان سم کړی هغه دومره دی خبری ته خوشحاله دی چې شیرني اخلې او خپل لور د لاس څخه نیسې او د کور پخوا روانیږی ترڅو دا ښه خبر خپل هغه اهوم اهوم ښځې ته ورکړی همدا چې دوی

دواړه کور ته ننوځې د دوي د پښو مخ کې یو شې درب لاندی پر ځمکه راغورځیږی

زبیر خاموش شو چې دا ځل ما ورته بد بد وکتل او ومې ویل: که وغواړی مضریت وکړی او کیسه همدلته نیمه کې پریږدی پخدای قسم داسی وهل درکړم.
زبیر پخندا وویل: مه ورختا کیږه کیسه پوره کوم نفس مې بند شو پریږده یو ساه خو واخلم.

که څه هم ډیر تلوار مې وو چې پوه شم چې څه شې د دوی ومخي ته راوغورځید!؟ البته که څه هم اټکل مې کاوه خو بیا هم غوښتل مې د زبیر له خولی پوره کیسه واورم خو زبیر هم مضریت نیولی وو د ساه اخیستلو په بهانه دری ساعت اخوا دیخوا شو لاړو اوبه یې وڅښل خپل بدن یې کش راکش کړو خلاصه ښه چې ډاډمن شو چې زما زړه یې راشین کړو د هغه وروسته خپل ځای کې کښیناست او په شیطنت یې وویل: ښه نو د کیسی کوم ځای کی وم؟

- یو شي د ډاکتر او د هغه د لور د پښو مخکې راوغورځید.

زبیر- اها هلته وم هغه شې اصل کې د ډاکټر ښځه وه هغې خیرنی ځان د بام له سر لاندی راوچو او ځان یې مړه کړل، د هغې په مړه کیدو د هغه لور لیونۍ شول ځکه هغې خپل د مور مرګ خپل د سترګو په وړاندی لیدلی وو بدبخت ډاکتر له یو خوا خپل ښځه له لاسه ورکړل له بلخوا څخه یې لور لیونۍ شول نو هک حیران پاتی کیږی چې څه وکړی؟ یو څو میاشتي خو دی هم د لیونیانو پشان ګرځې راګرځې خو اخر کې ځان راټولوی او خپل لور وړی ارواپوه ډاکټرانو ته ترڅو علاج یې وکړی او هغه صحنه کوم کې چې مور یی د دی د سترګو وارندی ځان وژنه کړی وه لیاده وباسې د ډاکټر په بیحد کوښښ کرار، کرار د څو میاشتو وروسته لور یې ښه کیږی او هغه پیښه یې لیاده وځي.

د لور په ښه کیدو یې ډاکټر یو ځل بیا د ژوند کولو لپاره یو هدف پیدا کوی د هغه ټول مینه او د ژوند امید دا ځل د هغه لور ده او بیحد وربانډی ګرانه ده او وربانډی پام کوی، د څو میاشتو وروسته کله چې د ده لور یو څه ښه شوی اوسیږی یوه ورځ د ده یو ملګری جشن نیولي او ډاکتر یې هم هغه جشن ته دعوت کړی ډاکتر هم د دی لپاره چې د لور فکر یې یوڅه بدل شې هغه د ځان سره جشن ته وړی، هلته په تګ باندی کرار کراری ده خوشحاله خوشحالې ده البته تر یو څو ساعتو! څو ساعت وروسته ډاکټر خپل د ملګرو سره په خبرو کی ګرم راځې او د لور حوصله یې تنګه کیږی او خپل د پلار څخه اجازه اخلې تر څو د هغه د ملګرو د لورګانو سره د ګرځیدو په پار بیرون حویلۍ ته لاړ شې.

پلار یې که څه هم زړه نغواړی خو د دی لپاره چی د لور طبعیت یې یوڅه ښه شې اجازه ورکوی خو ورته واې ژر بیرته راشه، لور یې هم په ډېره خوشحالي د

نورو انجونو سره د جشن څخه دباندی حویلي خواته ځي هلته حویلۍ کې ځوانان هلکان راټول شوی او مجلس یې راخیستي، هلکانو چې نظر په انجونو لګیږی نو خپل مجلس پریږدی او د دوی خواته راځې او انجونو ته د رقصیدو وړاندیز کوی انجوني هم د هغوي وړاندیز مني البته د ډاکتر لور د هیچا وړاندیز نه مني او د رقص د میدان څخه شاته د دوی ننداری ته دریږی.

په همدی وخت کې یو هلک راځی او دیته د رقصیدو وړاندیز کوی، دا یې بار،بار رد کوی خو هلک دومره ډیر ورته وایې چې دا مجبوره کیږی او منې، د دری څلور دقو رقصیدو وروسته هلک کرار،کرار دا د ځان سره عادت کوی او د رقص خلاصیدو وروسته ورته وایې چې راځه هغه خوا باغ کې قدم ووهو او خبری وکړو د انجلۍ چې خپل د پلار پشان بیحد یو ساده او بدبخته شي ده د هلک خبره مني او ورسره باغ خواته ځی کرار، کرار د جشن د ځای څخه لری کیږی او همغه حال

کی چی خبری او مجلس کوی هلک دا یو کونج خواته لځان سره وړېږ او ...

د زبیر خبره مې ورپری کړل او ومې ویل: او ... مه شرمیږه تر اخره ووایه.
زما په خبره زبیر پخندا شو او ویې ویل: ډیر مردار فکر لری.
- زه مردار فکر لرم که ته؟

زبیر- اصلا هغوی هلته کوم کار ونکړو که زما خبره دی نه وای پریکړی نو ویل مې درته، چې هلک غوښتل ورسره زور زیاتي وکړی خو جنۍ چې د پخوا څخه لږ لیونې غوندی وه او تازه لږ په ښه کیدو وه د هلک د داسې چلند په لیدو چیغې وهل پیل کوی او عصبی دوره وربواندی راځی بدبخت هلک چی هم دا حال ګوری نو دوه پښی لری دوه نور هم قرض کوی او الفرار او جنۍ همالته بی هوښه پریږدی، د څو ساعتو وروسته یې بدبخت پلار ورختا کیږی او خپل د لور پسې په

ګرځیدو کیږی او اخر کې خپل لور په یو بدحال کی د باغ په کونج کې پیدا کوی.

- دا څومره غمژن کیسه ده؟! هر مصیبت چې دی د دغه ډاکتر په سر راځې.
زبیر- لا خو کیسه پاتي! ډاکتر خپل لور په تلور شفخاني ته وړی او د څو ساعتو وروسته چې جنۍ په هوښ راځی نو دا ځل د رښتیا لیونی شوی ده.
په ناباوره انداز مې وویل: نه.
زبیر- ولای جنۍ رواني مرض اخیستی او د نر د جنس څخه وحشت او وېره لری حتا خپل پلار لا ځانته نږدی نه پریږدی او د هغه په لیدو چغې وهی.
په افسوس مې وویل: بیچارګی! البته باید ووایم بیچاره ډاکټر دا څومره بد شانس او بد قسمت انسان و.

زبیر- پریږدی کیسه وکړم کنه؟
- یعنې لا خلاصه نشوه؟ فکر کوم اخر کی ډاکتر هم

ځان وژنه کوی او خبره خلاصه!
زما په دی خبری زبیر په شیطنت وخند او ویې ویل:
کیسه خو اصل کی اوس پیل شول.
په ګنګس انداز مې وویل: هغه څنګه؟

زبیر په هیجان او شوق وویل: د ډاکتر لور لیونۍ کیږی او دی چی هرڅومره کوښښ کوی هر څومره ډاکټرانو ته چې خپل لور وړی لور یې نه ښه کیږی او ټول ډاکټران ورته یوه خبره کوی"ستا لور باید بستری کړو ځکه هغې خپل دماغي توازن کامل له لاسه ورکړي او د رښتیا لیونی شوی ده" خو ډاکتر دا خبره نه منې او د ټول ډاکټرانو سره جنګ کوی او خپل لور کور ته وړی، خو د څو ورځو وروسته لور یې د ځان وژنې کوښښ کوی او کله چې پلار یې غواړې د دی کار څخه یې منع کړې نو هغه نور هم لیونې کیږی او ځان وهي او کنځل کوی، د هغې د دی حال په لیدو ډاکټر مجبوره کیږی خپل لور په نه زړه لیونتون( دیوانه خانه عالیه باد ههههه) کې بستری کړی.

کله چې خپل لور هلته بستری کړی او کور ته راشې نو دا ټول مصیبتونه او خبری ذهن کې ګرځې راګرځې او دومره ډیپریشن کې ځې چې لومړۍ غواړې ځان ووژني خو ناڅاپه یې یو فکر ذهن ته راځې! وایې د مرګ څخه مخکې باید غچ واخلم.

د زبیر په خبره لږ مې هیجان د کیسي اوریدلو ته زیات شو کنه فکر می کاوه هسې غمژن او بدبخت کیسه ده، زبیر هم د کیسی په هیجان کی ننوتي وو او داسی په هیجان یې کیسه ویل ته وا چې د ډاکتر لځایه دی روان دی او غچ اخلی.

زبیر- نو ځې خپل د ملګری کور ته همغه ملګری کوم چې د هغه کور کی جشن وو او دا پیښه د ده د لور سره هلته واقع شوی وه، هلته په تګ باندی خپل د ملګری څخه پوښتنه کوی چې هغه هلک څوک و کوم چې د ده لور سره یې غوښتل داسی غلط کار وکړی؟ ملګري ورته وایې چې هغه هلک اراده شاید د غلط کار

وه خو هغه عمل يې نه دی ترسره کړی نو کار مه ورسره لره،د هغه په خبرو ډاکټر غوسه کيږی او وايې چې د هغه د لاسه زما لور ليوني شوی او ماته يې ادرس راکړه.

ملګري لومړی ډير کوښښ کوی چې دی منع کړی خو کله چې ويني نه منع کيږی نو د مجبوری څخه د هلک آدرس ورکوی، ډاکتر هم د آدرس اخيستلو سره سم خپل موټر کې کښيني او هغه ادرس ته ځې کوم چې ملګری ورکړی دی، هغه هلک کوم چې غوښتل د ډاکټر په لور زور زياتي وکړی هغه يو بدبخت او بيحد غريب هلک دی نه مور لری نه هم پلار! خپل د انا سره ژوند کوی او يو کوچني دوکان لری د کالو خرڅولو نور هيڅ مرګ نلری.

ډاکټر دوه ورځي هلک د نظر لاندی نيسې په دريم ورځ چې کله هلک يوازی ځان  خپل د کور څخه د دوکان خواته روان دی نابېره ورباندی بريد کوی او هلک بې

هوښه کوی البته هلک چندان بدنې ځواک او قواره هم نلری بیحد ډنګر دی سم د انجونو پشان دی ډاکتر وربانډی تکره دی نو ځکه ژر یې بې هوښه کوی او د موټر شاته ډالې کی اچوی او ځان سره یې خپل د کور خواته وړی هلته په رسیدو هلک خپل د کور زیرزمیني ته وړی.

نه پوهیږم ولی خو کله چې زبیر وویل د کور زیرزمیني ته وړی نو ناڅاپه چپه پښې می درد شروع کړو او د سترګو وړاندی می هغه لیوني جنرال راغلو چی تبر په لاس زما مخکی ولاړ و او غوښتل یې ما ټوټه،ټوټه کړی او بوجۍ کې مې واچوي دومره هغه فکر کې غرق شوی وم چې د زبیر په غږ په ښود راغلم.
زبیر- اووو چیرته ولاړی؟

- هېڅ همدلته یم کله چې دی وویل زیرزمیني نو یو خاطره مې ذهن ته راغلل.
زبیر- لکه چې هغه لیونی جنرال دی یاد ته راغلو؟

خپل په پښې مي لاس تير کړو د دری کالو وروسته اوس هم کله چې ډېر ستړی شم یا پښه مې یخ ووهی نو درد کوی،دا هم د خدای رحم وو چې قلم پری نشوه کنه بیا به مې څه کول؟ څومره خرچه زما په دی پښې راغلل ډاکټرانو ورته د سپین زرو سیخان دننه په هډوکي کې وتړل تر درې میاشتو هغه سیخان زما په پښه کې وه، هره هفته تلم ډاکټر ته ترڅو ماساژ ورکړی عه هغه کلونه څومره د خواری کلونه وه، که ذوالفقار نه وای زه ډاډمن یم چې همغه کال کې یا معیوب کیدلم یا هم مړ کیدلم.

د زبیر په دویم ځل غږ په ښود راغلم او ومې ویل: هو هغه جنرال می رایاد شو.
زبیر- خدای دی هغه ووهی بیحد ظالم انسان وو، خو په هر حال زه وایم د هغه کار دومره هم بد نه وو.
د زبیر په دی خبره په حیرت می وروکتل او ومې ویل: کار یې دومره هم بد نه وو؟ هغه څومره بیګناه کسان مړه کړل! هغه هم عادی مرګ نه بلکې ټوټه، ټوټه یې

کړل او ته لا واې دومره بد نه وو؟!
زبیر پخندا وویل: نه مطلب مې هغه نه وه، ګوره منم چې ډېر ظالم انسان وو او کار یې بیحد بد وو خو زما مطلب د ډاکټر په پرتله بیا هم نیک انسان وو یواځی وژل یې کول.

- نو ډاکټر څه کوی؟ ده خو هم هغه هلک راګیر کړی او غواړی مړ یې کړی.
زبیر پخندا وویل: همدا وایم کنه کاش ده هم یوازی مړه کول کړی واې!
- سم خبره وکړه زما عصاب خو دی راوخوړل په دی کیسی.
زبیر په هیجان خپل ځاې کی سم شو او ویې ویل: ګوره ډاکټر لومړۍ غواړی دا هلک مړ کړی، خو بیا د ځان سره واې چې یواځې مړه کول کوم ګټه نلری او باید ده ته دومره عذاب ورکړم څومره چې پر ما او زما په لور تیر شو، نو هلک بی هوښه کوی او هملته خپل د کور په زیرزمینې کی عملیات کوی.

په ګنګس انداز مې وویل: د څه عملیات کوی؟
زبیر په کټ، کټ پخندا شو او ویې ویل: اهومم.. د هلک هغه شي پرې کوی.
د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتی شوه او ومې ویل: نــــه!
د زبیر خندا لا زیاته شوه او ویې ویل: په قران د ظالم زوی هغه کار کوی خو کاش یوازی د هغه په پرې کولو راضی شوی واې د دی څخه وروسته چې د نرتوب څخه یې واچوی نو یو بل عجیب فکر یې هم ذهن ته راځي

داسی حال کې چې د ډېر حیرت څخه مې سترګی خلاصی پاتی وه ومې ویل: نور نو څه پکی پاتی شول؟
زبیر داسی حال کې چې خپل خندا نشول کنټرول کولای وویل: ګوره اول کې ما درته وویل چې دا ډاکټر د جراحي د پوستکي او ښکلا ډاکتر دی نو هلک چې په هوښ راشي او په چغو پوغ شروع وکړی نو ډېر په

راحت هلک بې هوښه کوی او دا سلسه تقریبا تر یوه میاشت روانه ده ډاکټر هلک ته ډوډۍ ورکوی او یو پیچکارۍ وربانډی کوی او همدا چې هلک په چغو شې او کمک غوښتل شروع کړې نو بی هوښه کوی.

هلک هم کرار، کرار چغي وهل پرېږدی او زارۍ کول شروع کوی ځکه پوهیږی که چغی ووهم نو بی هوښه کوی مې د یو میاشت وروسته ډاکټر هلک د کټ څخه خلاص کوی او ورته (زبیر پخندا شو چې زما خندا هم راغله که څه هم د ډاکټر په کار مې بیحد خراب احساس درلود، زبیر په همغه خندا وویل: د یوه میاشت وروسته ډاکتر هلک ته خپل کارنامه ښایی او هلک په های های ژاړي او زارۍ کوی خو ډاکتر یوازی ورته وایي دا یوه میاشت کیږی زه تاته د زنانه هرمونو پیچکار کوم او ستا بدن کرار،کرار جراحي ته اماده کیږی.

هلک چې نور ژوند ته هېڅ امید نلری بغیر د څه ویلو ډاکتر ته غوږ نیسي ډاکټر هم ورته په کراره او بیغمه توګه واې یوه بله میاشت باید دا پیچکار درته وکړم ترڅو کامل توګه اماده شی د دی خبرو وروسته هلک چې خپل د ځان په لیدو روح یې د بدن څخه وتلې بیرته په کټ ترې او ورڅخه ځې همدا رقم یوه میاشت تیریږی او د یو میاشت وروسته ډاکټر په هلک باندی پیچکاری کوی او کله چې بې هوښه شې نو خپل شخصی روغتون ته یې وړی او هلته خپل ځینو ملګرو ډاکترانو ته چی هغه هم د ده په رقم جراحان دی راغواړې او ورته واې چې یو هلک ماته راغلې او دا څو میاشت کیږی زاری کوی چی تغیر جنسیت عمل ترسره کړم(تغیر جنسیت مطلب د نر څخه یې ښځه کړم) او بیحد په تکلیف دی او دومره پیسي هم نلری نو ما ورباندی زړه وسوځید او غوارم دا عمل ترسره کړم.

نو که ستاسو څخه کوم یو راسره مرسته وکړی نو ډیر به مو مننددوی اوسیږم. هغه ډاکټران چی هم دا خبری

اوری نو فکر کوی چی د ربښتیا همدا کیسه ده او خارج کی خو اوس هر لس نفرو کی یو نفر تغیر جنسیت کوی نو کمک کیږی او هلک عملیات کوی د څلرویشت ساعت وروسته عملیات بریالی کیږی او هغه بدبخت هلک یو دم جنۍ جوړیږی، ډاکتر هلک بیا په همغه بې هوښي حالت کی خپل کور ته راوړی او د څو ساعتو وروسته چی هلک په هوښ راځی نو دا ځل نه چغي وهی نه ژاړی او نه هم زاریۍ کوی د یو مړ انسان پشان یوازی ډاکتر ته ګوری ډاکتر هم ورته هینداره راخلې او د هلک نوی څهره ورته ښایی او باور کوی طاها دا مضر ډاکټر هغه هلک ته کوم څهره ورکړی؟

په ګنګس انداز زبیر ته ګورم چې هغه پخندا وایې:
ډاکټر خپل د مړی ښځې څهره هلک ته ورکړی.
- نه ..
زبیر- ولای، باور وکړه یو دم هغه رقم ښکاری البته د هغې څخه لا زیات ښکلۍ ښکاری ډاکټر د یو نقاش پشان د هغه بدبخت هلک هر غړی جلا،جلا جوړ کړی او

حتا خپل د ښځی کوم ځایونه چې د ده خوښ نه وه هغه یې لا اوس جراحی کړی.
- مرګ، مرګ.

زما په خبره زبیر خاندی او وایې: خو رښتیا وایم ډاکتر خپل ټول هنر مصرف کړی او داسي ښایسته کړی دې هغه هلک چې زر دانې ښځې د هغه د ګوتي یو نوک ته نشی رسیدلې په څو میاشتو کې د هغه څو جراحي عملونه کوی او زر رقم پیچکاریاني او هرمونونه دا هلک ته تزریق کوی خو خلاصه دومره ورباندی مصرف کوی چې بدن یې،څهره یې، غږ یې او حتا رفتار یې لا د یو ښځې رقم کیږی، البته د حق تیر نشم د دی ټول کارونو په موده کې ډاکټر د هلک سره ډیر ښه رفتار کوی خپل ورته په خوله ډوډی ورکوی حتا هغه باندی د انجونو نوم هم ایږدی خلاص چې ډیر یې ښه ساتي.

د څو میاشتو وروسته ډاکتر مجبور کیږی د یو کار په سلسه کې یو ځای لاړ شې، نو د هلک د ساتني لپاره بیا

هغه بوډۍ ښځه راوړې خو دا ځل هغې ته سم قسمونه او قرانونه ورکوی چی دا ځل به کوم غلطي نکوی، ډاکټر بوډۍ ته نصیحت کوی چی د هلک شاوخوا به کوم خطرناک شئ مثال چاقو یا کوم ښیښه یا کوم بل شئ به نه پریږدی، ځکه چې ډاکټر وېرېږی هلک ځان وژنه ونکړی البته هلک څو ځله په دي میاشتو کې د ځان وژني کوښښ کړی هم و، بوډۍ ښځه ډاکټر ته وعده ورکوي چی خپل د سترګو پشان به د هلک څخه ساتنه کوی، باید ووایم چې ډاکتر بوډۍ ښځې ته ټول کیسه کړی او هغه خبره ده چی دا ښکلی جنۍ اصل کی هلک دی!

خلاصه چې ډاکټر ځې او دا بوډۍ په بیحد احتیاط د دروازی د شا څخه هلک ته ډوډۍ ورکوی بغیر له دی چې کوم خطرناک شئ د هغه خوا کی پریږدی هلک دیته هم زارۍ کوی او ډېر ورته وایې چې خیر دې ما پرېږدې، خو بوډۍ د هلک یو خبری ته هم غوږ نه نیسي او یوازی ډوډۍ ورکوی او ورڅخه ځې. په دې منځ کې

څو ورځې تېرېږی او ډاکټر بیرته کور ته راځې او ګوري چی خیرو خیرت دی، نو دا ځل ډاکتر یو کار کوی! ډاکتر دا دومره وخت کې هلک د زیرزمیني په یو کوټه کې ساتلی وو خو د ډیر وخت وروسته هلک ته وایې چې زه دی نن بیرون حویلۍ ته ورېم ترڅو لږ چکر ووهی؟! خو په دی شرط چی چغ ماچغ او شور ماشور به نه جوړوی.

هلک چی تقریبا یو نیم کال شوی و لمر یې لا په سترګو نه ولیدلي د ډاکټر خبره منې، ډاکټر هم هغه د لاس څخه نیسې او کرار یې لځان سره له زیرزمینی څخه بیرون باسی، باور کوی لمر به څه وی لیدل به یې څه وی؟ یا شین چمن به څه وی؟ او لیدلی به یې څه وی؟ خو دا هلک د لمر او د هغه شین چمن او حویلۍ په لیدو ژاړی یعنی دومره یې زړه هلته تنګ شوی وی چی دا وچ چمن ورته جنت ښکاری.

- نچ نچ بیچاره، باور کوی د دی هلک څخه می لومړۍ بد راتلل خو اوس مې ورباندی زړه سوځیږی، منم چې کار یې غلط وو خو دومره ظلم کول هم ورسره ښه نه وه.

زبیر پخندا وایې: لا کیسه پاتې.

- ژر یې خلاصه کړه پخدای طبعیت دی راخراب کړو اخر څه کیږی؟

زبیر- نو غوږ شه چې ژر کیسه خلاصه کړم، هلک دومره د چمن او لمر په لیدو احساساتي کیږی چې ژاړۍ او بې اختیاره ډاکتر غیږ کې نیسې او مننه ورڅخه کوید هلک دا رفتار اصل کې یو روانې رفتار دی، او اروپوهان وایي کله چی انسان ډیر وخت یوځای تېر کړی نو که ظلم هم وربانذی کیږی د هغه ظلم سره عادت کیږی او هغه ظلم ورته ښه ښکاری او خپل انساني حقوق کوم چی خدای ورته ټاکلي هغه لیاده باسې او ځان د ظالم کس احسان مند ګڼي.

په دی هلک باندی هم څه ناځه همداسی چل کیږی، ډاکټر چې د هلک دا رفتار ګوری نو احساس کوی چې خپل پخواني مینه مطلب خپل ښځه یې غیږ کیده! د هلک څهره خو پوره د ده د ښځې رقم وه نو د ده هم ورته احساسات پیدا کیږی او کرار کرار نور هم ورسره مهربانه کیږی او باور به ونکړی خو ډاکټر په دی هلک مین کیږی.

- الله اکبر.

زبیر پخندا وویل: ولله الحمد.

- بلا،بلا مه خانده دا نو څنګه عجیب غریب کیسه شوه؟!

زبیر- عجیب غریب نه جالب! ډاکټر د هلک سره مینه پیدا کیږی او کرار،کرار یې د زیرزمینې څخه لومړی خپل د کور یو کوټې ته او بیا کرار،کرار یې خپل کوټې ته وړی هلک هم د دنیا څخه لاس مینځلې د ډاکتر هره خبره منې البته خبره منې نور اجازه نه ورکوی چې

کوم کار وکړی.
- ای درد و مرض او کوم کار وکړی بی ادب.

زبیر پخندا وویل: مرض پرېږده کیسه وکړم، خلاصه چې ډاکتر او هلک یو دبل سره بیحد صمیمي کيږی او ډاکتر هم وربانډی کرار،کرار باور کوی یوه ورځ ډاکټر د یو کار لپاره مجبور کیږی بیا له کور ولاړ شی او بوډۍ ته واې په هلک فکر ساته، بوډۍ هم ورته هو کوی خو کله چې ډاکتر له کور لاړ شې نو د بوډۍ خانه خراب هغه خبیث زوی بیا د دوی کور ته راځې هغه خبر نه دی چې د ډاکټر ښځې ځان وژنه کړی هغه خپل د مور سره لګیا دی او پیسي ورڅخه غواړې مور یې هم د ډیر وېرې څخه پیسي په لاس ورکوی او ورته وایې ژر د دې ځایه لاړ شه، بوډۍ غواړی خپل زوي ژر له کوره وباسي ترڅو هغه هلک ونګوری خو خانه خراب هلک چې د دوی د خبرو غږ اوری نو خپل د کوټې څخه راوځې.

د بوډۍ زوي چی هلک ګوري نو تعجب کوی او فکر کوی چې دا د ډاکتر ښځه ده همغه د ده پخواني معشوقه؟! نو لومړۍ خو باور یی نه کیږی خو وروسته د یو کوڅه ډب سپي پشان د هلک خواته ورځې او بیا د دروغو د محبت کیسي شروع کوی خو هلک چې د بوډۍ زوي نه پیژني نو ورته بار،بار واې ماته نږدې مه راځه خو د بوډی زوی د هغه خبره نه منې بوډۍ څو ځله کوښښ کوی چې خپل زوي منع کړی خو زوی نه منع کیږي او اخر کې خپل مور وهی او کله چې ګوری هلک بیخې په خبره نه دی نو په زوره یې له لاسه نیسې او کوټې ته یې لځان سره وړی او ورته واې زه خو دې پخوانی معشوق یم ولی ما رد کوی؟

خلاصه هلک چغې وهي خو د بوډۍ زوی لګیا دی او بیځایه خبری کوی،چی همدی وخت کې بوډۍ لځان سره واې چې ما د ډاکتر حق کې ډیر بد کړی او زما د زوی له لاسه د هغه ټول کورنۍ لمینځه تللې نو دا به لوی ظلم وی چې د هغه دا نوی امید او هیله چی د دی

هلک د راتلو سره یې په ژوند کې پیدا شوی هغه هم زما زوی ورڅخه واخلې او ډاکټر برباد کړی، په همدی فکرونو بوډې ډاکټر ته زنګ وهې او ورته کیسه کوی، ډاکتر چې دومره ډیر د کور څخه نه دی لری شوی د دی خبرو په اوریدو په بیحد تلوار بیرته کور ته راګرځې او همدا چی راشې خپل توفنچه راخلې او خپل د کوټې دروازه ماتوی او یو ځل بیا د څو کالو مخکې صحنې سره مخامخ کیږی خو دا ځل په دې توپیر چې هلک ژاړې او هغه خبیث لځان څخه لرې کوی خو هغه سپې نه ورڅخه لری کیږی.

ډاکټر چې هم د څو کالو د زړه کوفت یې زړه کې پاتې و بغیر له دې چې د بوډۍ زوی ته د خبرو شانس ورکړې خپل د توفنچی ټول مرمۍ د هغه خبیث په بدن کې ورخالې کوی او ځای پر ځای مړ کوی، هلک چې په ډاکټر نظر ولګیږی نو په تلوار د هغه خواته ځې او هغه په غیږ کی نیسې او ورته ژاړۍ ډاکتر هم ورته دلداری ورکوی او د هغه وروسته هلک بل کوټې ته

استوی او خپل د بوډی سره یوزای د هغې د زوی لاش د حویلۍ په یو کونج کې دفن کوی بوډۍ یو څو اوښکی خپل د زوي په مړی توی کوی

خو ډاکټر ورته دلداری ورکوی او وایې چې د نن څخه وروسته زه ستا زوی یم او هغه خبیث لیاده وباسه، د جسد د دفن کولو وروسته ډاکټر د هلک خوا ته ځې، او همدي منځ کی هلک یو فکر کوی هغه لځان سره واې چی په چغو پوغ خو کوم کار نه کیږی او نه هم د دی کور څخه تښتیدلې شم مګر دا چې داسي وښایم چې زما هر شی لیاده وتلې او په ډاکتر مین شوی یم!

خلاصه چې خپل په ذهن کې د جوړ کړی پلان د عملې کولو لپاره هلک ډاکتر ته وایي چې زه ستا سره مینه لرم او غوارم درسره واده وکړم!

- دا لا بل شرم.

زبیر بغیر له دی چې زما خبری ته کوم پام وکړی پخندا خپل کیسی ته دوام ورکوی او وایي: د هلک په خبره ډاکتر دومره خوشحاله کیږی چې حد نلری، هلک ته واې چې زه هم درسره مینه لرم او سبا څو کلیسا ته او هلته واده کو، په همدی شپه ډاکتر د هلک د خوشحاله کولو لپاره خپل د جایداد نیمه حصه یو کور او څو لک ډالر د هغه په نوم کوی او څو ساعت کښېنې او هغه ته د مینې،عاشقې او د ښه راتلونکې کیسی کوی هلک هم ځان ورته مین،مین کوی او هغه شپه د ډاکتر سره تېروی په سهار یې هلک اراده کوی همدا چې کلیسا ته ولاړل نو د هغه ځای څخه به تښتې او پولیس به خبر کوی.

سهار خواته ډاکتر پر ځان ګوتې وهې او ځان څخه شل کلن ځوان جوړوی او د هلک خواته ورځې او ورته وایې راځه چې لاړشو کلیسا ته، هلک هم په دروغجنې مسکا سمده وایې او ډاکتر سره یوزای د کور څخه وځې په دی ګمان چې نن به یې د ازادی ورځ وی، خو

ډاکټر چی تازه يې عقل سر ته راغلې هغه هم اټکل کړی وو چې هلک شاید وغواړی وتښتي نو ځکه يو داسی کلیسا ته يې لځان سره وړی چې د ښار څخه بيحد لری دی او يوازی یو پاپ هلته ژوند کوی او بس، هلک چې کله هلته ورسیږی نو ټول د تښتیدلو امیدونه يې خاوری ایری شي او مجبوره کیږی چې ډاکټر ته"هو" ووايی او د هغه سره واده وکړی.

د کلسیا څخه به بيرته راتګ کې هلک کوښښ کوی ډاکتر راضی کړی تر څو کوم هوتل خوا ته لاړ شي او يو شي وخوری خو ډاکتر هر بار د هغه خبره رد کوی او وايې موږ تازه واده کړی او زړه مې غواړی کور ته لاړ شو ترڅو دواړه يوازی اوسيږو او ما بوږی د همدی لپاره د څو ورځو لپاره رخصت کړی ده،هلک چی ګوری ډاکتر ته چل نشي ورکولای نو نامیده او نامراده کرار کښینه کله چی کور ته ورسیږی نو د رښتیا هم بوږی نشته او دوی دواړه يوازی وی، ډاکټر خو په کالو کې نه ځايږی د خوشحالې څخه او هلک هم هيڅ کار نشي

کولای او یوازی په زړه کی قسمونه ډبوی او ظاهره کی په دروغجنی مسکا د ډاکتر هره خبره منې

دا حالت تر ماښام روان وی ماښام خواته هلک ځان سره واې چې تښتیدلی تر هغه وخت چې ډاکتر ژوندی وی امکان نلری نو باید ډاکتر مړ کړم، ډاکتر د خدای ناخبر بغیر له دی چې د هلک په نیت خبر اوییږی په خوشحالي د هغه شاوخوا ګرځي راګرځی او ورته جان وقربان واې چې همدی وخت کې هلک ورته بهانه کوی او وایې زه باید یو حمام وکړم او ځان لږ چمتو کړم ډاکتر چی هم په باغونو کې ګرځی فکر کوی هلک غواړی ځان د ده لپاره سینګار کړی نو اجازه ورکوی هلک هم د حمام کولو په بهانه د ډاکتر کوټې ته ننوځې او په اول نظر کی خپل د زړه شئ مطلب توفنچه پیدا کوی.

توفنچه راخلې سم یې چک کوی چې مرمۍ لری او کنه؟ کله چې سم صحیح مطمن کیږی چی توفنچه

جوړه تیار ده نو له کوټې وځې او د بدبخت ډاکتر خوا ته چې په کوچ باندی پروت دی او د هلک په انتظار کې غزلونه وایې ورځي، ډاکټر چې فکر کوی هلک تیار شوی نو په خوشحالي ورته وای دومره ژر تیار شوی؟ هلک هم ورته واي هو نغواړی وګوری؟ د هلک په دی خبره ډاکټر پخندا خپل سترګي خلاصوی او(زبیر پخندا شو ما ته هم خندا راغله او لکه لیونیانو پشان دواړو یو څو شیبې هسی وخندل د هغه وروسته زبیر وویل:

زبیر- کله چې هلک توفنچه په لاس ویني نو خوله یې له حیرت څخه خلاصه پاتې کیږی، اول خو خاندی او هلک ته وایې چی ته ټک نشی کولای خو کله چې هلک په ډیر غوسه د هغه په پښه ټک کوی نو د ډاکتر عقل سر ته راځې او کوښښ کوی هلک پوه کړی چې د ده په مرګ غټ ترینه ستونزه خپل هلک ته جوړیږی، ځکه هیڅوک نور هلک نه پیژنی او یوازیني کس چی د ده سره مرسته کولی شی هغه دی خپل دی، خو هلک ورباندی بل ټک هم کوی او دا ځل یې په اوږه ولی

ډاکتر چی نور خپل د ژوندی پاتی کیدو څخه نامید شوی هلک ته واې چی مړ کوی خو می سل سلنه هغه کې خو شک نشته خو د مرګ څخه مخکی زما یو ارمان پوره کړه،هلک که څه هم زړه نغواړی خو بیا هم واې ارمان دی ووایه، پوهیږی طاها ډاکتر څه ارمان لری؟

- څه؟

زبیر پخندا وویل: ډاکتر ورته واې دومره زحمت مې پر تا وویست د مرګ څخه مخکی خو یو مچکه راکړه.
د زبیر په دی خبره بې اختیاره مې خندا راغلل او ومې ړیل: ډېر پدرلعنت شې یې.
زبیر چې هم خندل ویې ویل: وا ما نو څه کړی؟ خو رښتیا وایم ډاکتر ورته دا خبره کوی، هلک هم لومړۍ داسی هک حیران پاته کیږی او وروسته غوسه کیږی یو بل ټک ډاکتر په بل پښه په مرمې ولې چې ډاکتر هم بغیر د کوم چغی وهلو یوازی خاندی او وایې که زما خبره په دی خاطر نه منې چې ما درباندی ظلم کړی

صحیح دی حق لری خو د نن د واده پخاطر چې ښځه او خاوند شو زما دا آرمان راپوره کړه.

او عجیب ده دا خارجیان بیحد بیغرت خلک دی هلک زړه نازړه کیږی ډاکتر چی ګوری هلک زړه نازړه شوی نو یو څه نور هم د میني داستان تعریف کوی او هلک تقریبا راضی کیږی خو وېرېږی چی دا کوم چل ونه اوسیږی او هسې نه که نږدی ورشم راګیر می کړی؟ ډاکتر چې د هلک په زړه نازړه توب پوهیږی نو ورته پخندا وای یو بل ټک مې په دی ځای خپل زړه ورته ښایي وایې دلته مې ووله د هغه وروسته چې اخری سلګۍ مې دی او کامل د لاس او پښو ولیدلې یم او ته ډاډمن شوی چی نور د حرکت نه یم بیا راشه، هلک که څه هم د ډاکتر څخه بد راځی خو د مړ کولو زړه یې نلری خو ډاکتر ورباندی چغی وهی ترڅو وار وکړی د هغه په چغه هلک ورختا کیږی او وار کوی او نښه یې همغه ځای لړیږی کوم چی ډاکتر ورته ویلی وه ډاکتر

خپل اخری ساه ګانی اخلی او هلک ځانته نږدی راغواړی هلک هم خواته یې ورځی او ....

- ډېر بی شرم انسان یې زبیر،یعنی دا مردار ځایونه یی داسی په خوند تعریف کوی.
زما په خبره زبیر خپل و څنګ ته په میز باندی ایخودل شوی کتابچه پر ما وار کړل او پخندا یې وویل: اصل چینجې ته لری نه زه، بی شرم خو ته یې زه د هغه خراب ځایونو څخه ژر تیرېږم خو ته له قصد زما خبره هغه خای کې بندوی ترڅو درته په تفصیل باندی هغه خبره وکړم.
- ورک شی خیرن خو ته داسې په خوند،خوند روان یې چې زه فکر کوم که درته ونه وایم ودریږه نو په جزیاتو به ټول داستان ووایي.
زبیر پخندا وویل: نچ زه پوهیږم څنګه د دی ځایونو څخه جمپ واچوم اوس پریږده کیسه وکړم چې ناوخته ده نور باید کور ته لاړشو.

خاموش شوم ترڅو زبیر خپل دا عجیب غریب کیسه ژر خلاصه کړی چې د رښتیا هم نور د ماښام د اذانو او د دوکانو د بند کولو وخت وو.

زبیر- هلک نږدی راځی او ډاکتر په همغه د مرګ حال کی د دی ښځه وروسته چې ښکل کوی د غوږ څنګ کې کرار ووایې" که څه هم مړ دی کړم خو ته زما د ښځې ښځه ډېر وفاداره وی او ځان دی هغه خبیث "مطلب یې د بوډۍ زوی دی وایې ځان دی هغه ته ونه سپارو او د اول ښځه تر اخر یوازی زما سره وی، او د دی خبرو سره سم بدبخت ډاکتر مړ کیږی او هلک هم څو شیبی هک حیران دریږی او د هغه وروسته الفرار.

لومړۍ د پولیسانو یو حوزي ته ځې او دا ټول کیسی کوی خو هغوی باور نه کیږی او دی مجبور کیږی خپل اصلی نوم او ځای ورته وښایي پولیسان هم د اطمنان لپاره د هلک انا ته زنګ وهی او هغه چی کله راشی لومړۍ خو دی نه پیژنی خو هلک ورته په ژړا، ژړا کی کیسه کوی او هغوی هم د هلک په خبره د ډاکتر کور ته

ځې او د رښتیا د هغه مړی پیدا کوی او باوری کیږی چی دا جنۍ اصل کی د یو نیم کال مخکی ورک شوی هلک دی. هلک خپل د انا سره خپل کور ته ځی خو نور نړۍ هغه رقم نه ده ښنګه چی یو نیم کال مخکی وه، اوس ټول کسان ده ته بل ډول ګوری او دی د هغوی د نظر ښخه په تنګ راځی او ځان سره واېٍ کاش هیڅکله دی نړۍ ته نه واېٍ راغلی!

یا که راغلی واېٍ نو ای کاش هیڅکله می د ډاکتر د لور سره هغه کار نه واېٍ کړی چی دی حال ته نه وای رسیدلی نو خلاصه د کلام طاها جان هغه دا چې دا هلک یو ځل د ډاکتر په لور زور زیاتی وکړو خو ډاکټر ...

زبیر پخندا شو ما ته هم خندا راغلل خو همغه خندا حال کی می ورته یو ښو کنځل هم وکړل خو زبیر بیا هم خپل خوله بنده نکړل او په خندا،خندا یې وویل: یعنې ده د ډاکتر په لور یو ځل لاس واچو خو ډاکتر دی سل واره .....

- ای درد و مرض بنده کړه خوله دی.
زبیر پخندا وویل: سمده نور څه نه وایم خو ګوره جالب فلم و کنه؟
- څه ناڅه البته تا چی څنګه کیسه وکړه هغه دومره بی ادب نه وه څومره چی د فلم لومړۍ انځور وو؟
زما په دی خبر زبیر په شیطنت وویل: تا چی د فلم لومړۍ سر کی کوم سړی او ښځه ولیدل او ما درته وویل دا ښځه اصل کی ښځه نه ده؟ مطلب می همدا وو هغه ښځه چی د هغه سړی سره وه هغه همدا هلک وو او هغه سړی همدا د کیسی ډاکتر وو.
په حیرت می وویل: دا نو څنګه؟

زبیر- په همدی خاطر خو می درته وویل چی دا کیسه ما دری ځل وکتل، فلم ډیر ګډوډ وو دا کیسه چی ما درته وکړل دا خو د درې ځل کتلو او پوهیدلو وروسته ما درته وکړل کنه هلته لومړۍ کیسه د هلک او ډاکتر د مینې څخه شروع کیږی بیخې زما سر لومړۍ کی خلاص نشو خو د دوه،درې ځلو کتلو وروسته پوه شوم

چې دلته لومړۍ هلک ښايي بيا کيسه شاته وړی او د ډاکتر ښځه ښايي او د هغه کيسه وايي.

- اهوم خو بيا هم زما په نظر داسی فحش فلم يو ځل لا په کتو نه ارزۍ څه ورسيږی درې ځل؟ که څه هم کيسه يې عجيب غوندی وه.
زبير - شايد خو ما وکتو اوس خو کار تر کار تير شو.
- هو د اوس لپاره خو کار تر کار تېر شو خو د دی وروسته داسی شيان مګوره.
زبير په خندا وويل: په سترګو مولوی صيب.

- بيحد نن ډېر ما ته مولا،مولا نه واې؟
زبير پخندا وويل: خو ته د موليانو رقم خبری او نصيحتونه کوی.
- د هغه جاهل خلکو رقم خبری مکوه زبير چې دومره بد مې راځې،کله چې ښه خبره د اسلام خبره ورته کوی نو هغوی وايي ځان راته نيک،نيک يا مولا، مولا مکوه، ته صبر.

خپل موبایل مې راوخیست او یو اډیو مې پلې کړل او موبایل مې د زبیر خواته ونیو: واخله دیته غوږ ونیسه. زبیر موبایل راڅخه واخیست او لږ غږ یې ورکړو، چې له هغه خوا د یو مولا د نصیحت غږ پورته شو چې ویل یې:

- یو مهمه خبره تاسو ټولو ورونو ته کوم چی دا څو وخت بیخې زیات زموږ په معاشره کی عام او عادی خبره ګرځیدلې، هغه د دی فحش ویډیو ګانو او انځورنو په اړه ده نو ای زما مسلمانانو ورونو او خویندو، آیا پوهیږئ چې یو بل ته د فحاشۍ ویډیوګانو، عکس ونو او یا پیغامونو لیږل څومره ستره او خطرناکه او کبیره ګناه ده؟ که تاسې د الله (ج) له عذابه وېرېدلای، او که ستاسې زړونو کې د الله جل جلاله حیا او خشیت وای، نو دا کار به مو هېڅکله هم نه وای کړی.
الله تعالی فرمایي: إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ

فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ (النور: ۱۹)

ژباړه: بېشکه هغه کسان چې غواړي فحاشي (بدچلند او بې‌حیایي) د مؤمنانو په منځ کې خپره شي، د هغوی لپاره په دنیا او آخرت کې دردناک عذاب دی.
ای وروره! ای خورې! ته به اوس فحش ویډیو یو چاته واستوې، خو پوه شه،هرڅوک چې دا ویډیو دا عکس یا دا پیغام ګوري ته یې له هرې ګناه سره شریک کېږې، ته به مړ شې خو دغه ویډیو به لا نورو ته رسیږي او ستا د ګناهونو حساب به لا هم روان وي دا خو د صدقه جاریه پر خلاف ګناه جاریه شوه!

که ته دیوې بدکارې ښځې یا سړي ویډیو، تصویر یا خبرو ته وخت ورکړې او بیا یې خپلو ملګرو سره شریک کړې نو ته نه یوازې پخپله ګناه کوې، بلکې نورو ته هم د فحاشۍ دروازه پرانیزې ته د یو انسان د بدنامۍ وسیله جوړیږې او د خلکو د ذهنونو د فاسدولو

سبب ګرځې دا عمل نه غیرت لري، نه ایمان لري، او نه عزت.
ایا ستا همداسې ژوند خوښ دی؟ایا ته خوښ یې چې د قیامت په ورځ دا ټول خلک ستا د اعمالو پر تله درواچول شي؟

ایا ته خوښ یې چې دا ویډیو د الله جل جلاله په حضور کې ثابته شي؟
نو خدای "ج" ته رجوع وکړه!توبه وباسه! نور دغه فاسد کار پرېږده او له نورو هم دا غوښتنه وکړه چې د داسې ویډیوګانو له خپرولو ځان وساتي.یاد ولره! بد عمل یو ځل کول ګناه ده خو خپرول یې بې شمېره ګناهونه لري!څه ضرور دی چی یوی فاحشی ښځی یا سړي ته تاسو دومره وخت ورکوی چی دهغی نوم او دهغی بدعمل له ټولو ملګرو سره شریک کوی تاسی پوهیږی چی داستاسی کړنه له هغی سره د بیا ګناه په حاصلولو کی څومره کمک کوی؟

زبیر زما موبایل بند کړو او ما ته په کتو یې په زړه نا زړه لهجه وویل: یعنې ما په دی کیسی کولو ګناه وکړېل؟

د زبیر دا خاصیت ډېر ښه و کله چې پوه شوی وایي چې کوم کار یې غلط دی نو ژر پښیمانه کیدو او د جاهلانو پشان خپل په غلط کار نه دریدو، د هغه د دلدارۍ ورکولو په پار مې وویل: اوممم هغه وخت ګنهکار په حساب راتلې کله چې دا فحش فلم دې نورو ته هم ښودلې وای، البته دا چې تا وکتلو دا هم ګناه وه! خو که وغواړی خپل د کتلو باوجود نور ته یې هم وښایی نو دا بیا دوه چنده ګناه ده او هو په دی هم ګنهکار راځې چی داسی بیځایه کیسه هر چاته وکړې.

زما په دی خبره زبیر خپل د جیب څخه خپل موبایل راوخیست او لکه چی هغه فلم یې ډلیت کړو ځکه خپل موبایل یې زما خواته ونیو او ویې ویل: کوم فلم؟ ولې هسې په ربا ورځ باندی پر ما تهمت لګوی؟ او کیسه خو تا ماته وکړل بی شرم ما کله درته داسی خراب کیسه

کړی؟ توبه،توبه اخر زمانه ده خلک خپل ګناه پر ما عاجز اچوی یا الله تخو شاهید وی چی دا خیرن طاها ماته هغه کیسه وکړل ما خو هیڅ ونه ویل.

د زبیر دی خبرو ته مې د حیرت څخه خوله خلاصه پاتي شوه، خو څوشیبې وروسته مې خندا راغلل او ومې ویل: دومره ژر دی مذهب بدل کړو؟
زبیر چې هم کوښښ کاوه خپل خندا کنټرول کړی ویې ویل: ما کوم مذهب نه دی بدل کړی دا ټول ملامت ته وی کنه زه او داسی خراب شیان کتل؟ الله اکبر امکان نلری.

غوښتل مې یو دوه کنځل ورواچوم چې د ماښام د آذان غږ پورته شو او مجبور خوله مې بنده کړه، د زبیر سره په ګډه د دوکان شیان مو سم کړل او دوکان مو قفل کړو د هغه وروسته پخپل زوړ،پخواني موټر سایکل کښیناستم او د کور پخوا روان شوم البته زبیر هم راسره په موټر سایکل کښیناست ترڅو تر یوځای

ورسوم، په لاره کې زبیر راته وویل: طاها ستا په نظر
ایا د ډاکتر کار غلط وو؟
داسي حال کې چی نظر مې د سړک خواته وو ترڅو
کوم ټکر،مکر ونکړم د هغه ځواب کې مې وویل: تا لا تر
اوسه هغه کیسه له ذهن څخه نه ده ویستلي؟ تر اوسه
د هغه بیځایه دروغ فلم په اړه فکر کوی؟

زبیر- زما ذهن یې پریشانه کړو، زه فکر کوم د ډاکټر کار
یو دم صحیح وو!
- ستا په نظر صحیح وو؟ خو زما په نظر خو ظلم وو.
زبیر- ظلم خو بیخې نه وو،ته فکر وکړه د هغه له لاسه
د ده د لور ژوند تباه شو او هغه لیونې شوه، که هغه
داسي مردار کار نه واې کړی نو هېڅ وخت به هم
داسی کار نه واې ورسره شوی ده خپل د ګناه بدل
ولید، دې خپل ښځه شوه ترڅو پوه شی د یو ښځې
پسې کتل، هغې باندی زور زیاتی کول څنګه دی؟ ده
باندی همغه کار وشو کوم چې ده کړی وو،زما په نظر
خو انصاف ورسره وشو!

او رښتیا ته خبر یې پاکستان کې یو قانون امضا شوی او هغه قانون دا دی چې که کوم سړی په کوم جنۍ تجاوز وکړی نو د قاضي لخوا حکم ورکول کیږی چې هغه سړی شنډ کړی! مطلب د مردانګی څخه یې واچوی ترڅو د داسی سړی نسل لا پاتی نشی.

په پوسخند مې وویل: چرکستان د کوم خوا اسلامي مملکت او اسلامي قانون شو؟ د هغوی ټول قانون خو د کفر دی، ته ولاړسه ګوګل یا بل هر ځای چې سرچ وکړی او پوښتنه وکړی چې نړۍ کې تر ټولو ډېر فحش ویډیوګاني او فلمونه کوم هیواد کې کتل کیږی؟ نو تاته به په اول نمبر کې دا چرکستان شریف نوم راشي نو ما ته د دال تعریف هیڅکله مکوه، او هو ته فکر وکړه که داسي قانون هم اوسیږی او عمل هم ورباندی وشي نو ایا کوم فایده به وکړی؟

زه فکر کوم د فایدی لځایه تاوان به وکړي! ځکه که تو یو نفر د هغه د انساني حق څخه محروم کړی د یو ګناه

په سبب نو هغه دومره غوسه، حسد او بغض کې راځې چې دا ځل د زنا کولو لځایه ښځه وګوری مړه کوی، نو ځکه زه وایم چې اسلام او د اسلام قانون بهترینه قوانین دی او تمام.

زبیر- خو اسلام د داسی کارونو په اړه څه نه وای.
- څه نه وای؟ اسلام چې څومره په دی موضوعاتو کی کلک دی د نړۍ هېڅ قانون هغسی نه دی.
زبیر- ته فکر وکړه که همداسي واقعه خدای مکړه په پښتنو کی پیښ شوی وای د جنۍ پلار د دی لځایه چې هلک ته کوم څه ووایي خپل لور یې د غیرت په نوم مړه کول.

- د اسلام نوم په دی خبرو مه بد کوه دا د ځینو جاهلو پښتنو قانون دی نه ده اسلام، زه تاته یو کیسه کوم تر څو پوه شې چې اسلام څنګه قانون لری، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کې یوه ښځه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ورته ویې ویل: چی

یا رسول الله زما ښځه غلط عمل شوی او ما زنا کړې؟!
زبیر په حیرت وویل: ښځې راغله او دا خبره یې وکړل؟
- هو جناب هغه وخت د صحابو وخت و د نیک خلکو وخت و که کوم غلطي ورڅخه شوی واې راتلل او خپل گناه یې منل ترڅو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته یو لاره وښایی او د هغه گناه ښځه دوی پاک کړې.

هغې ورته وویل ما گناه کړې او پر ما حد جاری کړې او اسلام کې د پیغلی جنۍ لپاره مطلب کوم چې واده نه وی کړې او داسي کار ورڅخه وشې د هغې لپاره سزا یې سل دوری "جلد" ده او که واده کړې ښځه داسې وکړې بیا نو سنگسار "رجم" ده همداسي د سړی لپاره هم دی، خو ها دا قانون هغه وخت عملې کیږي کله چې هغه انسان خپل راشې او خپل په گناه اقرار وکړی یا دا چې څلور سم صحیح دیندار او صادق خلک شاهدی ورکړي چې دغه کس داسی گناه کړې ده او په اسلام کې د هر چا شاهیدی هم نه منل کیږي.

هغه هم ځانته شرايط لرى البته که انسان څخه داسى ګناه وشى او هغه د دى لځايه چې چا ته ووايي او هغه خبره پټ کړى او توبه وباسى الله"ج" به هغه معاف کړى خو په دى شرط چې توبه يې د رښتيا توبه وى، او زنا کې د سړى لپاره خو خبره واضح ده همغه دقه کې يا رجم يا هم دوره وهل کيږى خو ښځه فرق کوى،دلته دى ښځې خپل وويل چې ما داسې کړى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم مخ ورڅخه وګرځو.

د دې لپاره چې شايد ښځه لاړه شې او توبه وباسى او خداى به يې وبخښى خو هغى بيا وويل چې يا رسول الله زما څخه ګناه شوى دومره يې ډېر وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل ايا د هغه بد عمل "مطلب زنا" څخه خو تاته حمل نه دى شوى؟ هغې ورته وويل هو زه اميدواره يم او ماشوم لرم نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل ترڅو چې دا ماشوم نړۍ ته نه وى راغلې تر هغه وخت پر تا حد نه

جاری کیږی لاړه شه کله چې ماشوم دی نږۍ ته راغلو بیا راشه.

دا ښځه لاړه څو میاشتي وروسته کله چې ماشوم نږۍ ته راغلو هغه ماشوم یې غیږ کې ونیو او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ویې ویل چې یا رسول الله ماشوم هم نږۍ ته راغلو اوس پر ما حد جاری کړې ترڅو خدای زما ګناهونه را وبخښی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل لاړه شه او دی ماشوم ته دوه کال شیدی ورکړه څکه ددی ماشوم پر تا باندی حق دی کله چې د شیدو څخه دی جلا کړو بیا راشه، ښځه بیا لاړه او د دوه کالو وروسته بیا راغله داسی حال کې چې ماشوم لږ غټ شوی و هغه یې له لاسه نیولې و پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې دا ځل هغه ولیدل نو بل کوم بهانه پاتی نشول په کوم چې وکولای شی ښځه بچ کړی نو ماشوم یې راوخیست او ویې فرمایل:

- څوک د دی ماشوم سرپرستی کوی؟ څوک دا ماشوم ساتی؟ یو صحابه وویل یا رسول الله زه یې ساتم پیغمبر صلی الله علیه وسلم ماشوم هغه صحابه ته ورکړو او د هغه ورسته په ښځې باندی حد جاری کړو او سنګسار یې کړل، همغه سنګسار کولو وخت کې اصحابو ویل دی پر ځان سختي وکړل نو خدای به یې توبه قبول کړی او داسې به یې پاکه کړې لکه چې هېڅ ګناه یې نه وی کړی.اوس و وایه چې د اسلام قانون سم دی که د کفر؟ اسلام ځکه وای سر عام د خلکو مخکی ختا کار کس ته سزا ورکړی ترڅو دا نور ورڅخه عبرت واخلې او داسی کار ونکړی.

خو د دی ټولو سختیو با وجود وګوره اسلام حتا هغه د زنا څخه جوړ شوی ماشوم ته لا حق ورکوی او پریږدی ترڅو پیدا شې خپل حق شیدی وخوری کوم نفر یې په سرپرستي ونیسی د هغه وروسته یې مور ته سزا ورکوی، داسی قانون به ته د نړۍ په بل کوم ځای کې پیدا کړی؟

زبير- امممم ما بيخي دا خبرى نه وه اوريدلى.
په پوسخند مې وويل: زمونږ د اوس نسل د اسلام قانون باندي سر نه خلاصيږی او د خارجيانو قوانينو ته ښه په جوش چک چکي وهې او تاييد کوی.

زبير څه ونه ويل ما هم نور خبره کش نکړل، زبير په نيمه لاره کی ښکته شو او خپل د کور پخوا روان شو، ما هم خپل د کور پخوا حرکت وکړو دوه کاله مخکې خپل هغه پخواني کور کوم چې د قبرستان خوا کې و هغه مې خرڅ کړو او يو بل کور مې د استاذ د کور څنګ ته ونيو، ځکه هغه دنيا سر کې په يوازی کور کې يوه ښځه او ماشوم کله اوسيدلې شول؟ د بابا کور ته خو هم نشوم تللی د ذوالفقار کور هم داسی سيمه کې و چې ما زر کاله وروسته هم هلته يو کور اخيستل خو لری په کرايه لا نشو نيولې نو مجبور د استاذ د کور څنګ کې می يو کور په څلور زره افغانۍ کرايه کړو.

ترخو زړه مې بیغم اوسیږی که کوم ورځ کور ته ناوخته لاړ شم یا لاړ نشم نو یو څوک شته چې په اقرا یا محمد فکر وساتي، محمد! د کوم وخت څخه چې شموئیل بیرته راغلې نو ما خپل د زوی نوم د یوازی شموئیل څخه محمد شموئیل کیخود! ما د شموئیل نوم خپل په زوی کیخود په دی فکر چې شموئیل مړ شوی خو کله چې هغه راغلو نو خپل د زوی نوم مې لږ بدل کړو د شموئیل څخه مې محمد شموئیل کیخود، د دی څخه مخکې چې کور ته لاړ شم د میوه خرڅونکي دوکان څنګ ته ودریدم او یو څه میوه مې واخیسته.

محمد بیحد کیله خوښیږی او تل یې خوله خلاصه وی بابا کله،کیله هم نشې ویلی کله واې د هغه د خبرو په یاد راوړلو مې مسکا پر شونډو راوړل خدایه شکر د ټولو نعمتونو، بلخصوص د اقرا او د محمد په راکولو، څو کاله مخکې کله چې مجرد وم او واده مې نه وکړی ژوند مې بې هدف او بې خوند و نه پوهیدم چې سبا که راویښ شوم څه وکړم؟ یوه ورځ به په یو خیال وم

بله ورځ په بل خو اوس د واده سره ژوند مې هدف پیدا کړی سهار د کور وځم ترڅو یو ګوله حلال بوډۍ خپل کورنۍ ته پیدا کړم او ماښام د هغوی د لیدو پخاطر په شوق کور ته راځم.

داسې حال کې چې مجردی وخت کې نه کوم کور و او نه هم کوم څوک چې زما راتلو ته په تمه اوسیږی، خو اوس دوه نفره شته چې پوهیږم زما راتلو ته سترګي په لاره دی، میوه مې واخیسته او کور خواته لاړم همدا چې موټر سایکل مې د کور حویلۍ ته ننباسو محمد مې د اقرا په غیږ کې د برندۍ په سر ولاړ ولید، محمد د همغه ځای څخه ما ته چغي وهل پیل کړل دومره په خوږه ژبه یې ناری وهل چې ژر مې موټر سایکل و درو او بغیر له دی چې میوه راوخلم د هغه خواته ورغلم د اقرا د غیږ څخه مې راوخیست او ښکل مې کړو یو ځل هم نه دومره مې ښکل کړو چې د اقرا د اعتراض غږ پورته شو.

اقرا- مرې دې کړو.
پخندا مې وویل: پدرلعنت داسي ښکلی خاندی او خبری کوی زړه مې غواړی ویې خورم.
اقرا په تروش تندی وویل: ته لومړۍ د ده د نن کارنامه وګوره چې څه یې کړی؟ د هغه وروسته یې وخوره.
داسي حال کې چې کوټې ته ننوتلم ومې ویل: څه یې کړی؟

اقرا- ته ورڅخه خپل پوښتنه وکړه.
کوټې ته په داخلیدو په نالې کښیناستم او محمد مې خپل و مخ ته په غالې ودرو او ورڅخه مې وپوښتل: څه کار دی کړی شوخک چې مور دې داسې درڅخه شکایتمنده ده؟
محمد تازه په خبرو راغلې و په ټول خبرو تر یو حده سم صحیح پوهیدی خو تلفظ یې صحیح نشو کولاې، اوس هم زما په خبرو پوه شو نو ځکه خپل په کوچني او خوږه ژبه لګیا شو تر څو خپل د ځان څخه دفاع وکړی.

محمد- نه.... نه هیط ... نه کلی...( نه ... نه هېڅ ... نه کړې.)
داسي حال کې چې د محمد خبرو ته مې خندا راغلې وه د اقرا خوا ته مې مخ کړو او ومې ویل: دا خو وای ما هېڅ نه دی؟

اقرار- یعنی تاسو پلار او زوی عمر کې یوځل خپل ګناه منلې چې اوس یې ومنی؟
پخندا مې وویل: زما په نظر تر همدا اوس بحث یوازی په زوی کې وو، ناڅاپه څنګ پلار یې منځ ته راغی؟
اقرار داسي حال کې چې کوښښ کاوه ونه خاندی ویې ویل: دا ستا زوی زما د پلار چلونه کوی؟
- څنګه چلونه کوی؟
اقرار- ته ورته ووایه دادا څنګه په لاره ځې؟

د محمد خوا ته مې وکتل او همغه جمله چې اقرا ویلي وه هغه مې ورته ووایه، او د محمد پکار لومړی خو خوله مې د حیرت څخه خلاصه پاتي شوه خو وروسته

د خندا څخه ورته شین شوم، محمد د استاذ رقم خپل لاسونه خپل شاته نیولې وه او داسې حال کې چې غبږ،غبږ قدمونه یې اخیسته سر یې ښکته نیولې و او یو دم د هغه پشان د تګ چل یې کاوه.

دومره په ښکلې او خوږ انداز یې هغه حرکتونه تر سره کول چې زما طاقت ونشو خپل خواته مې راکش کړو یو دوه ځل مې ښکل کړو، خو په ښکل کولو مې زړه یخ نشو او په غاښ مې کړو، البته زما په نظر غاښ مې یوڅه کلک ورباندی لګولی وو، ځړکع چې د ژړا غږ یې پورته شو ما هم د اقرا خوا ته ټیله کړو او لځایه پاسیدم ترڅو مونځ وکړم زه د جای نماز پسې ګرځیدم چې د اقرار ناراض غږ داسي حال کې چې محمد یې غیږ کې نیولی و او کوښښ یې کاوه ترڅو هغه کرار کړی پورته شو او ویې ویل: ته وګوره لاس دې ورته تک شین کړو دومره کلک غاښ څوک په ماشوم لګوی؟

جای نماز مې هوار کړو خو د دی څخه مخکې چې په لمانځه و دریږم د هغې خواته مې وکتل او پخندا مې وویل: خپل ملامت یې داسي خوږ زوی به دی نه راوړ، ترڅو زه هم وربانددی غابښ ونه لګوم.

غوښتل مې د لمانځه نیت وتړم چې یو خبره مې ذهن ته راغلل په شیطنت مې د هغې خواته وکتل او ومې ویل: البته په دی کار کی(د محمد د لاس خوا ته مې اشاره وکړل کوم چې په غابښ کړې مې و او زما د غابښونو نښه وربانددی پاتی وه او ومې ویل: زه ملامت یم د زوی لځایه مې باید مور ورڅخه داسي په غابښ کړی واې.

زما په دی خبره اقرار یو دم خاموش شوه یعنې نه یې راوکتل او نه هم الف خبره یې لا وکړل د هغې په دی خاموشي مې خندا راغلل، د هغې عادت وو هر کله چې ما داسی کوم خبره ورته کړی واې نو هغه ځای په ځای خاموش کیده او د شرم تک سره کیدل د هغې د حال

په لیدو بیحد خندا راغلی وه خو زړه مې هم نه کیدو چې داسی خجالت زده اوسیږی نو ځکه ورته مې وویل: ما لږ میوه اخیستي وه خو ستا د زوی له لاسه مې لیاده ووتل چې کور ته یې راوړم د موټر سایکل سره ده هغه راوخله.

د دی خبری د کولو سره سم الله اکبر مې کړل او پر لمانځه و دریدم اقرا هم لځایه پاسیده او غوښتل یې محمد لځان سره ویسي خو هغه زما خواته راغلو یعنې د دومره کلک غابښ لګولو او ژړا وروسته هغه بیا هم زما خواته راغلو او داسي حال کې چی ما لمونځ کاوه، هغه زما شاوخوا په ګرځیدو شو او کله ناکله خو زما پشان د رکوع او سجدی حرکتونه هم کول، اقرا چې ولید محمد ورسره نه ځې نو خپل د حویلۍ خواته لاړه او هغه یې پریخود.

د لمانځه په اخری رکعت کې وم چې محمد زما د څنګ لری شو او د کوټی څخه ووت، همدی وخت کې خپل

شاته مې یخ شمال احساس کړو داسي لکه کړکۍ چې خلاصه شوی وی او یخ باد ورڅخه راځې؟! خو عجیب دا وه چې دا کوټې هېڅ کوم کړکۍ نه درلود چې وغواړی شمال ورڅخه راشی؟ التحیات ته کښیناستم او کوښښ مې وکړو چې خپل فکر د دی خبری څخه واړوم تازه الهم صلی مې شروع کړې وه چې د کوټې درړازه خلاصه شوه! ما فکر وکړو چې اقرا یا محمد رانوت خو لا څو شیبې نه وه تېر شوی چې دروازه بیحد په کلک بنده شوه داسي چې لمانځه کې زما اوړی د هغه ناڅاپه ډک څخه وپریدل بد احساس مې پیدا کړو او ژر مې غوښتل مونځ خلاص کړم خو لا سلام مې نه وګرځولي چې د محمد چیغه مې ترغوږ شه.

په تلوار د کوټې د دروازی خواته لاړم ترڅو وګورم څه شوی، زما د تلو سره سم اقرا چې آشپزخانه کې وه هغه هم راووتل د محمد غږ د حویلۍ څخه راتلو بغیر له دی چې څپلۍ په پښو کړم د حویلۍ خواته مې منډه کړل او محمد مې د کلا د دروازی سره پر ځمکۍ

ناست ولید لکه چې غوښتل یې له کور ووځې خو د دروازې سره یې پښه لګیدلې او غورځېدلې و!

په تلوار مې له ځمکې راپورته کړو او ومې کتل چې خوږ شوی خو نه دی؟ کوم خاص زخم یې نه درلود لږ د راسته پښې زنګون یې ګراشه شوی وو نور ښه و، داسې حال کې چې غیږ کې مې راخیست په حیرت مې وویل: ته همدا څو ثانیې مخکې کوټه کې نه وې؟ یوه دقه کې څنګه د دروازې تر خولې راورسیدلې او ځان دې خوږ کړو ها؟

خو محمد بغیر د څه ویلو یوازې ژړل اقرا چې د محمد په ژړا زما پسې له کوره راوتلې وه محمد زما څخه واخیست او ښکل یې کړو او همغه حال کې هغې هم زما پشان په حیرت وویل: ته څنګه تر دې ځای راغلې؟ تخو همدا څو شیبې مخکې لا کوټه کې وې؟

زړه مې ویل هغه شمال او د دروازې ناڅاپه ټک د محمد د داسې ناڅاپه دلته راتلو سره ضرور کوم تړاو

درلود؟! خو خپل سر مې وخوځاوه نه خدای دی نکوی کوم فکر چې کوم هغسې دی اوسیږی.

- راځه دننه کور ته ټول همسایه ګانو مو خبر کړل.
زما په خبره اقرا د کور خواته روانه شوه ما هم غوښتل وریسی لاړ شم چې د کور دروازه وټکیدل د دروازی په ټک،ټک اقرا یوه شیبه خپل ځای کې ودریدل او د دروازی خواته یې وکتل خو کله چې ما ورته د کور ته د تګ اشاره وکړل نو هغه په تلوار کور ته ننوتل او زه د دروازی خواته ولاړم ترڅو وګورم څوک دروازه ټکوی؟

دروازه مې چې خلاص کړه یو ناشنا کس د دروازی شاته ولاړ و، بیحد جګ وو تقریبا دوه متر قد یې درلود سر تر پایه یې تور کالې اچولې وه حتا سترګې لا تک تور وه! اول نظر کې داسې ښکاریدو لکه کوم ناشنا ځای څخه چې راغلې وی! واضح که ووایم نو سم د عمر سریال د خلکو پشان و، هغه سریال که مو کتلې

وی نو هغه کې چې کوم عربان دی هغوي زیاتر کالې اوږده او د سر پګړی عجیب شانتي ترلي وه، دغه کس هم هغه رقم کالې اچولې وه حتا څهره یې لا د عربانو پشان ښکارېدل البته دا هم باید ووایم چې څهره یې بیحد نوراني وه!

زما د څه ویلو مخکې لومړۍ سلام هغه وکړو، د غږ په اوریدو یې لا حیران شوم، لهجه یې ډېر کلک او عین حال کې فصیح وه سم د عربانو د لهجې پشان! او د هغه څخه لا حیران کوونکي خبره دا چې غږ یې ماته د ډېر پخوا یو خاطره ذهن ته راوړل یو وخت زما بدن بیحد خارښت کاوه داسي چې په زیات ګرولو مې ټول بدن ویني شوی و هغه وخت یو نفر زما په غوږ کې قران ویلې و او د هغه په دم زما بدن خارښت جوړ شوی وو، تر اوسه مې یاد دی هغه غږ بیحد عجیب و او بیحد هم د دغه کس د غږ پشان وو بیحد!

په فکرمند انداز مې ورته علیک وویل هغه دوه سترګي ماته نیولې وه بغیر د څه ویلو نظر یې دومره دروند و چې ما بد احساس وکړو او ورڅخه مې وپوښتل: کوم څوک مو پکار وو؟
څو شیبې بغیر د څه ویلو بیا په ځیر،ځیر راوکتل او بیا د ښه شیبه خاموشي وروسته یې په دروند غږ وویل: یو چا ویل دی کوڅه کې جومات دی خو ما پیدا نکړو تا لیدلی؟

د هغه په دی خبره حیران شوم! ځکه جومات د کوڅي په سر کی وو او د مسجد ګنبده او لاؤډسپیکرونه د لری، لری څخه ښکاریدل نو بیا د څنګه نه ولیدلی؟ د کوڅي سر د جومات خوا ته مې لاس ونیو او ومې ویل: هغه جومات دی!
هغه سرې بغیر له دی چې زما د لاس د اشاری خواته وګوری دوه سترګی زما خواته نیولی وه، کرار،کرار دا ځیر نظر یې زما پر عصاب وتلګې لکه چې هغه هم پوه

شو چې ویې ویل: مننه.
- هیله کوم.

د دی خبری سره سم غوښتل مې دروازه بنده کړم چې هغه د دروازی څنډه ونیول او په همغه بډ او ډارونکي غږ یې کرار وویل: خپل په ځان او خپل په کورنۍ پام کوه او په هر چا باور مکوه.

په حیرت مې وروکتل غوښتل مې پوښتنه وکړم د دی خبرو څخه دی مطلب څه دی؟ چې هغه مخ وګرځو او روان شو، ما هم جرئت ونکړو وریسې غږ کړم او وپوښتم چې ته څوک یې؟ او دا خبری دې ولې وکړل؟

په زړه نا زړه انداز مې دروازه بنده کړه او کورته ننوتم خو څه شپه وه هغه شپه! محمد ټول شپه بغیر د یو ساه اخیستو وژړل، نه یې څه ویل، نه یې څه خوړل، یوازی خوله خلاصه کړی وه او ژړل یې درې نیم بجې د شپې کله چې ژړا یې بیحد زور واخیست نو اقرا ته

مې وویل: داسې نه کیږي شاید کوم ځای درد کوی او ویلي نشې مورې هم نه پوهیږو راځه ډاکټر ته یې ویسو.

اقرا لا ځواب نه و راکړی چې په همغه نیمه شپه د حویلۍ دروازه وټکیدل.

په حیرت مې د اقرا خواته وکتل هغې هم داسې حال کې چې زما پشان تعجب کړې و کرار وویل: په دی نیمه شپه به څوک وی؟
- نه پوهیږم ته دې زوي کرار کړه چې مړ شو له ژړا زه ګورم چې څوک دی؟

په تلوار د کور د دروازی خواته ولاړم خو د خلاصولو مخکې مې غږ کړل: څوک یې؟
د هغه خوا د استاذ غږ راغلو چې ویې ویل زه یم! ژر مې دروازه خلاصه کړه او د هغه په لیدو په حیرت مې وویل: خیرت خو دی استاذ؟
استاذ داسی حال کې چې کور ته راننوت ویې ویل:
ولای زمورې خوا کې خو خیرو خیرت دی خو دلته (د

کور خواته یې اشاره وکړل د کوم خوا څخه چې د محمد د ژړا او چغو غږونه راتلل او ویې ویل: خو دلته لکه چې خیرت نه دی؟ شموئیل ولی داسی ژاړی؟

داسي حال کې چې د استاذ سره د کور پخوا روان وم کرار مې وویل: نه پوهیږم د ماذدیګر ماښام راهیسې چې په چغو شوی تراوسه ژاړی اراده مې وه ډاکتر ته یې ویسم.

استاذ خپل ځپلۍ وباسل او کور ته ننوت د محمد د غږ په تعقیب زموږ د کوټې خواته ولاړ خو کوټی ته د داخلیدو مخکې ستوني صاف کړو او بیا ننوت،اقرا چې خپل پلار ولید نو حیرانه شوه خو د هغې د څه ویلو مخکې استاذ محمد د هغې له غیږی واخیست او موږ دوارو خوا ته یې راوکتل او ویې ویل: دا اته ساعت کیږی دا ماشوم ژاړی او تاسو اوس تازه اراده کړی چې ډاکتر ته یې ویسی؟

زما د څه ویلو مخکې اقرا وویل: هېڅ وروباندی نه دی شوی بابا! هسې په شغ( ضد) ولیدلی نه خوړ دی، نه وړی دی، نه هم د بدن کوم ځای درد کوی هسې ژاړی.

استاذ باندی محمد بیحد ګران و نه پوهیږم دلیل یې څه و؟ هسې د لمسی په حساب خو د ذوالفقار لور راحیل هم لمسۍ کیدل د هغه نور لورګان اولادونه یې هم لمسیان کیدل خو محمد ورباندی بیحد ګران و شاید دلیل دا وو چې ورته نږدی و او درسته ورځ د هغه ومخ کې د هغه په کور کې وو؟ زه خو سهار د مولا د آذان سره تلم او د ماښام په آذان راتلم اقرا درسته ورځ خپل د پلار کور کې وه.

استاذ بغیر د څه ویلو محمد غیږ کې واخیست او د کوټې منځ کی اخوا دیخوا په ګرځیدو شو او همغه حال کې په محمد باندی دم کول هم شروع کړل او په نهایت حیرت کی محمد کرار شو او د هغه په غیږ کې ویده شو! د هغه د ویده کیدلو سره سم د سهار د آذان

غږ هم شو استاذ محمد په کرار د اقرأ غیږ ته ورکړو او ویې ویل: زما په خیال چې نظر شوی و؟!

د استاذ په خبره اقرا بد،بد زما خواته راوکتل چې ما په کرار وویل: زه نظر نلرم ما ته داسی مګوره.

زما په خبره استاذ کرار وخندل او ویې ویل: نظر هر کس لری د ځینو ده ښه نظر وی د ځینو ده خراب،کله ناکله داسی هم کیږی چې یو شې یا یو کس ستا په نظر ډېر ښکلې راشي او ته بغیر د ماشالله ویلو ورته وګوری نو هغه چې ستا زړه ته ډیر ګران شی نظر کیږی دیته ښه نظر د میني نظر ویل کیږی، بیا اولاد خو وی ګران نو شاید تا ورته بیحد ډېر کتلی وی چی نظر کړې د دی؟

د استاذ په خبر مې سر ښکته واچو، د رښتیا هم نن ما باندی محمد بیحد خوږ لګیدلی وو او بیحد مې هم ښکل کړو بغیر له دی چې حتا یو د نظر دعا یا یو ماشالله ووایم، استاذ زما په اوږی لاس کیخود او

داسی حال کې چی د خبرو مخاطبه یې اقرا وه وویل:
مورې ځو د سهار لمانځه ته چې قضا نشې ته هم خپل په زوی فکر ساته که راویښ شو او بیا یې ژړل نو دا ځل یې ضرور ډاکتر ته ویسي شاید کوم ځای درد کوی.

د دی خبری سره سم استاذ د بیرون خواته روان شو خو زه دتګ مخکي د محمد خواته چې بیغم ویده و لاړم په تندی مې کرار ښکل کړو او اوس چې کار تر کار تقریبا تېر و اوس مې وربانډی د نظر دعا وویل،د هغه وروسته د استاذ پسي جومات ته ولاړم د سهار د لمانځه وروسته په ګنګس قدمونو د کور خواته راغلم دومره ستړې وم او خوب مې راتلو چې حد نه درلود، محمد بیغم ویده وو اقرا هم د هغه څنګ ته ویده شوی وه، ما هم بیحد زړه غوښت ویده شم خو د ځان سره مې وویل د خوب مخکې زبیر ته زنګ ووهم او ووایم چې نن دې دوکان هغه خلاص کړی او زه به غرمه

خواته ورشم، خو لا مې موبایل راخیستې نه و چې د هغه زنګ راغلو

- الو.

زبیر- الو سلام علیکم.

- علیکم سلام، خیرت خو دی په دی سهار وختې دی څنګه زنګ و واهه؟

زبیر- خیرو خیرت دی لکه چې لیاده دی وتلې؟

په ګنګس انداز مې وویل: څه مې لیاده وتلې؟

زبیر- دا چې نن دوکان ته تازه مال راځې؟

د زبیر په دی خبره خپل تندی ته مې ټک ورکړو زما څنګه لیاده وتلې وه نن د میاشت اخره وه، نن دوکان ته نوی مال راتلو او نن د ټول میاشتي د ګټې او توان حساب کیدو. زما په خاموش کیدو زبیر په خوبجن غږ وویل: شابه راروان شه زه هم اوس د کور حرکت کوم د سړک مخکي زما په تمه شه دواړه یوځای ځو دوکان ته.

او بغیر د نور څه ویل یې موبایل بند کړو د کوټې منځ کې په نامیدی ودرېدم او د اقرا او محمد خواته مې وکتل چې په بیغم او اسوده خیال باندی کرار ویده وه! څو شیبې هملته ولاړ وم د هغه وروسته د محمد خوا ته ولاړم کرار مې ښکل کړو رنګ یې پریدلې و، په خوب کې لا شونډان د ژړا کولو پشان بوک نیولې وه، اقرا چې زما راتګ ته پام شو لږ سترګې خلاصې کړل او په خوبجن او ستړې غږ یې وویل: ویده کېږی که سبا ناری درته تیار کړم.

- یو هم نه، تاسو ویده شې نن دوکان ته نوی مال راځې زه باید لاړ شم.

اقرا غوښتل لځایه پاسېږی د هغې عادت و تل کار ته د تلو وخت کې د کور تر دروازی زما سره راتلل خو ما یې اوږه ونیول او ومې ویل: ضرورت نشته ته ویده شه زه خپل ځم،که محمد راویښ شو او بیایی د ماښام پشان ژړل نو ما ته زنګ و واهه تر څو ویسو ډاکټر ته.
اقرا- سمده په ځان پام کوه.

- ته هم پام کوه هم په ځان هم په دی(د محمد خوا ته مې اشاره وکړل: هم په دی شوخک خان صیب.
اقرا- په سترګو.

***

که څه هم د سهار څلور بجې وه خو بیا هم د خلکو او موټرونو تګ راتګ ډېر وو، د زبیر راتګ ته په تمه وم هغه ویلې وه همدلته زما په تمه اوسیږه او زه یو دقه کې راځم خو اوس تقریبا لس دقیقې کیدل چې دی یخ کې ولاړ وم خو د زبیر درک نه کیدو! غوښتل می ورته زنګ ووهم چی چیرته دی او ولې نه راځی؟ چی همدی وخت کی د سړک د هغه بلخوا ځخه زبیر ته مې فکر شو چې د همغه ځای څخه یې ماته لاس خوځاوه او راروان وو.

په تروش تندی مې ورته کتل ترڅو راشې،کله چې راغلو نو د سلام ویلو سره سم زما شاته کښیناستو ما

هم موټرسایکل روښانه کړو او همغه حال کې مې ورته وویل: دا درې ساعته دې څه مرک کول چې زه دی دلته منتظر درولي وم؟
زبیر داسی حال کې چی د موټر سایکل د هینداری څخه ځانته کتل او خپل ویښتیان یې جوړول ویې ویل: نه ګوری خپل ویښتیان مې جوړول.

د هینداری څخه مې وروکتل او په تروش تندي مې وویل: یو ویښتیان پورته کول دومره وخت غواړی؟
زما په دی خبره زبیر د شالخوا په اوږه ووهلم او ویې ویل: خیرن سم وګوره خپل ویښتیان می رنګ کړی.

دا ځل لږ په توجه می وروکتل خو بیا هم کوم خاص شئ ته مې فکر نشو نو ومې ویل: زما په نظر خو د تل پشان دی؟
زبیر- زموږ خلک یو خبره کوی او ولا چې حق خبره کوی، هغوی وایی غوا نو کله د ګل په بوی پوهیږی؟
اوس هم ته نو کله په شټیل او فیشن پوهیږی؟ سم

وګوره لخیره روڼد شې،خپل د ویښتیانو سرونه مې خرمايي رنګ کړی.

- ای ورک شې په دی کارونو دې، ته مګر ښځه يې چی دومره فیشن کوی او ویښتیان رنګوی؟ پوهیږی ویښتیان رنګول سرېانو ته په اسلام کی ...

لا مې خبره پوره کړی نه وه چی زبیر وویل: ته وقران طاها ځان څخه راته د پوهنتون د ثقافت استاد مه جوړوه، هر کار کی اسلام،اسلام دا ما خپل د زړه لپاره جوړ کړی.

په پوسخند می وویل: هو نو تخو هر کار خپل د زړه لپاره کوی نه د اسلام لپاره! لومړۍ دی غوږ سوری کړو او غوږوالې دی ورواچول چې دا ښېیل دی، بیا خپل په ږیره کیدې زر خط واچول چې دا ښېیل دی، بیا دی په لاس ټیټو وواهه چې دا ښېیل دی بیا دې ...

زبیر- هسې غول مخوره هغه ټیټو دایمي نه وه وګوره پاک شوی او هغه غوږ مې هم یوازې د یو میاشت لپاره سوری کړی و او غوږوالې مې وراچولې وه اوس وګوره هېڅ نه وراچول او سوری هم بند شوی او پاتې شوه ږیره نو سم وګوره زه خو بیخې ږیره پرېږدم نه چې وغوارم خط پکې واچوم.

- ته ما ته دا ووایه چې دا کارونه دې کړې وه او کنه؟

زبیر پخندا وویل: هو کړې مې وه خو اوس نه، ډېر پخوا د جاهلیت وخت کې.

په پوسخند مې وویل: یعنی اوس جاهل نه یی؟ هسې خپل زړه مه خوشحاله کوه ته اوس هم همغه جاهل یې، که نه منې نو خپل حال ته وګوره، خپل ویښتیانو رنګ کولو ته دې وګوره.

زبیر- عه عه اصلا ستا سره خبری نه کیږی، داسی دی اسلام سخت کړی که یو نفر لږ خپل په ځان ورسیږی بس کافر شو!

- زه ټاپه نه لګوم خو ستا کارونه د انسانانو نه دی ته خپل دا غاړی ته وګوره دومره زنځیرونه ولا که یو ښځه واچوی کوم چی تا اچولي.

زبیر- ته ما ته یوه خبره وکړه ابا اسلام کی د یو کس پاک او فیشني ګرځیدل حرام دی؟
- نه.
زبیر- نو خبره خلاصه.
- البته ستا پشان هم نه ..
زبیر- بنده کړه خوله دی زما موډ مه خراب کوه زه نن خوشحال یم.

د هینداری ځخه مې بد،بد وروکتل خو نور څه مې ونه ویل، زما خپل سر هم درد کاوه خوب مې نه وکړی حوصله مې هم نه درلود چې وغواړم ده ته نصیحت وکړم نو چوپ شوم دوکان ته په رسیدو هغه کس چی مالونه راوړل د وخت راغلی و او موږ ته په تمه و، ستړی مشې مو ورسره وکړل او ما ژر د دوکان دروازه

خلاصه کړه او د زبیر سره لګیا شو د مالونو په
ننویستلو کله چې خلاص شول نو هغه سړی ته مو
پیسې ورکړل او لګیا شو مالونه مو دوکان کی ځای پر
ځای کول یو قوطي خوله می چی خلاص کړه نو هغه
کی ټول د ښځو د سینګار شیان وه!

ما دا شیان نه و راغوښتې زموږ کاروبار د سینګار
شیانو نه و فکر می وکړو چې دا قوطي د غلطې څخه
راغلی نو ځکه زبیر ته می غږ کړل.
- زبیر.
زبیر- هوم.
- فکر کوم دا یو قوطې د غلطي څخه راغلی!؟
زبیر مخ راوګرځو او ویې ویل: څنګه د غلطی څخه
راغلی؟
قوطي ته می اشاره وکړل او ومی ویل: وګوره موږ د
سینګار شیان نه وغوښتې خو دوی دا راوړی.

زبیر زما خواته راغلو او د هغه شیانو په لیدو يې په خندا وویل: دا ما راغوښتی.
- ولی؟
زبیر- ته په دی خبرو نه پوهیږی،اوس وخت دا شیان ښه بازار لری نو ما ویل فایده به وکړو.
- د ښځو د سینګار په شیانو؟

زبیر بد، بد راوکتل او ويې ویل: نه د سړیانو د سینګار په شیانو! سترګي لري ګوری چې د ښځو د سینګار شیان دی نو د ښځو لپاره مې راوړی.
- خو زه فکر نکوم چی کوم فایده دی وکړو.
زبیر- ستا فکر غلط دی ځکه اوس وخت د هر شئ څخه ډیر شې چی اخیستل کیږی هغه همدا د ښځو د سینګار شیان دی، البته ما لومړۍ ځل لږ راوغوښتل خو د میاشتي اخر کې کله چې دا خلاص شول نو بیا به ډیر راوغواړم.

- خو زه فکر نکوم چې دا دي لا ځوک واخلې چې ته لا د بل ځل راوړلو پلان دی هم جوړ کړی.
زبير- څومره ساده يې طاها! اوس وخت د ټولو څخه زيات بازار چې ګرم دی همدا د ښځو د سينګار د شيانو دی، يعنې که يو سړی د سبا ډوډۍ لا ونه لری خو ښځه به يې په کور کې ضرور د سينګار شيان ولری، البته ستا او ستا د کاکا په اړه ډاډمن نه يم زه فکر کوم په نړۍ کی خواری ښځی همدا ستا او ستا د کاکا ښځه به وی.

- ولی؟
زبير پخندا وويل: ځکه چې تخو بيخبر او ساده د عالم يې او کاکا دی هم غوسه ناک او تند مزاج انسان دی نه ته د ښځی په ارزښت پوهيږی نه دی کاکا! که زه ستاسو د خسر لځايه واې لور خو لری خپل د لور ويښته مې لا تاسو دواړو ته نه درکو تاسو بې احساس خلک.

په غوسه مې وروکتل او ومې ویل: ته ډېر با احساس یې؟ که زه ستا د خسر لځایه وایه ما تا ته ښځه نه درکول مور که نور وی کنه څهره او رفتار خو مو د سړیانو دی، ته خپل ځانته لږ په هینداره کې وګوره د سړیانو نوم دی شرمولي او هو د ویښتیانو رنګ دی اوس بیخې ښه ښکاری سم د دی بازاری ښځو پشان سور رنګ دې ورکړی.

دا ټول خبری مې د عصاب خراب کیدو څخه وکړل او که رښتیا ووایم یو دقه وروسته پښیمانه شوم د سترګو له کونج مې د زبیر خواته وکتل فکر مې کاوه شاید خفه شوی اوسیږی خو هغه کرار زما څخه لری شو او د هینداری مخې ته ودرید د څو دقو وروسته یې وویل: ټول خبری دی هسې غول خوړل وه خو یوه خبره دی رښتیا وه!

سر مې پورته کړو او ور ومي کتل چې هغه په تشویش وویل: ما خرمایي رنګ ورکړی وو خو اوس رنګ یې

سور شوی! دا ولي؟

داسي حال کې چې خندا راغلې وه ومې ویل: تشویش مکوه که چا درته وویل دا ولې سور رنګ دی ورکړی ووایه دا فیشن دی.
زبیر- بلا.. بلا په دی مرداره خوله دی، د کوم وخت څخه چې ته او ستا هغه بد اخلاق کاکا زما ژوند ته راغلي یاست ما د خیر ورځ ستاسو له لاسه نه ده لیدلې.
پخندا مې ورته وویل: زموږ د سر دعا کوه که موږ دواړه نه وای دولت تاته تذکره کې د نر لځایه نر ښځې جنسیت لیکو.

زما په دی خبره د زبیر غوسه راغله او د لاس څنګ کې چې کوم د عطرو قوطي و هغه راوخیست غوښتل چې په ما یې ګوزار کړی چې ما ورته وویل: هسې د خر پشان لغتي مه اچوه هغه عطرو قوطي زر روپي قیمت لری هسې نه چې مات یې کړی.

زبیر- ستا سر دی دا عطر وخوری تا زما دا دروند شخصیت ته توهین وکړو او هغه وخت د یو عطرو قوطي غم اخیستی یې؟
پخندا مې ورته وویل: ستا محترمانه شخصیت به جوړ شي خو د عطرو قوطي که مات شو بیا نو نه جوړیږی.

زما په دی خبره د زبیر غوسه لا زیاته شوه او د رښتیا یې د عطرو قوطي زما پسي ګوزار کړو ما هم یوازی دومره وکولای شو چې ځان بچ کړم او د عطرو قوطي لاندی پر ځمکه ولګید او مات شو.
زبیر- لاسونه دې مات شه خو ګیر کړی به دی واې.
په غوسه مې وروکتل او ومې ویل: بل ځل چې راتلې د کور څخه خپل رسۍ لځان سره راوړه چې پښه دی وترړم هسې دوکان کې لغتې ونه غورځوی.

زبیر- ګوره نن مې درته ډېره حوصله وکړل یو بل خبره وکړه داسې وهل وخوری چې خوند درکړی.
- که نر یې دیخوا راشه، ولې د ښځو پشان هسې شیان

ګوزار کوی؟
زما په دی خبره زبیر پخندا وویل: اخ ته ماته د جنګ خبری کوی؟ ته نیم کیلو یې خپل وچ کلک بدن ته وګوره.

- نرتوب په وزن نه دی، ته دیخوا راشه چې درته وښایم جنګ څه دی؟
زبیر پخندا وویل: نغوارم خپل لاس ستا خیرن په وینو ولړم، لاس به مې در وړی نه وی چې د چرګ پشان به دې ساه ختلې وی، تخو چندان شئ نه یې خو هغه لیونی کاکا به دی څوک درګیر کړی؟

همدا چی راغلم یو ځواب ورکړم او خوله یي وربنده کړم موبایل ته می زنګ راغي
را پورته می کی د ذوالفقار نمبر وو.
- الو سلام علیکم ذوالفقار ښه یی؟
زبیر پخندا وویل: څومره حلال زاده، همدا اوس یې د خیر ذکر وو.

بدبد می وروکتل چی د زبیر خندا نور هم ډیر شول.

ذوالفقار- چیرته یی؟
- دوکان کی یم خیریت دی؟
ذوالفقار- تیار اوسه اوس درځم درپسی.
په حیرت مې وویل: خیریت خو دی؟ چیرته؟

ذوالفقار - کلې ته! پرون ماښام ماما مړ شوی.
په ورختایي می وویل: کوم ماما؟
ذوالفقار- په یو دوه کالو کېدي ټول خپل او خپلوان لیاده وباسل؟ آفرین دي پرتا ویی!
- مطلب مې کوم یو یې؟ درې څلور ماما ګان لرم په نوم؟!
ذوالفقار- په نوم ...؟ زما ماما مړ شوی.
- ستا ماما؟
ذوالفقار ـ هو، اخوند زاده ماما.

- اها خدای دې وبخښې خو پوه نشوم ته ولې زما پسې را روان یی؟

ذوالفقار- ځکه مورې دواړه څو جنازې ته یی.
- زه کار لرم ذوالفقاز، خدای دې وبخښی خو زه نشم درتلی ته خپله ولاړ شه.
ذوالفقار - بنده که خوله دی بیځایه خبری مه کوه تیار اوسه پنځه دقو کی در رسیږم.
- ذوالفقار! پخدای دونی کار لرم چـ ... خبره می لا پوره کړی نه وه چی ذوالفقار وویل: ګوره زه نن عصاب مصاب نلرم لکه انسان پشان خپل شیان سم کړه زه څو دقیقو کی ستاسو د دوکان مخکې یم  او پاتی شول کارونه دی نو، بیغمه اوسه زه هم دومره بیکاره نه یم چی تر حلوا خوړلو هلته پاتی شم، څو جنازه کې ګډون کوو درې څلور ساعته بعد بیرته راځو پخیرو خیرت.

- څه ضرورت دی زه یی جنازی ته ولاړ شم؟ ستا ماما دې ما خپل په ټول عمر کې دوه ځله لا نه دي لیدلی!
ذوالفقار- خبره د دوه یا یو ځل لیدو نه ده، ته په بعضې خبرو نه پوهیږی، څو دقیقو کې در رسیږم تیار اوسه.

د ذوالفقار د خبرو څخه معلومیدل چی بیحده پریشانه
او یو څه هم عصبی دی او اصلا د بیځایه خبرو
حوصله نلری ځکه بغیر د خدای پاماني څخه یی
موبایل بند
کړو

زبیر- څه شوی؟ څوک مړ شوی؟ ذوالفقار څه ویل؟
زبیر ته چې مخامخ راته ولاړ و او په تشویش یی
پوښتني کول ومې کتل او ومې ویل: د ذوالفقار ماما
لکه چی مړ شوې! هغه هم را روان دی چی دواړه ولاړ
شو جنازی ته.
زبیر- بیچاره خدای دی و بخښي څو کلن وو؟
- نه یم خبر خو د ډېر عمر و، هغه وخت چې زه کلې
کې وم د70/80 کالو و اوس به شاید د90/95 کالو وو
زما په نظر!؟
زبیر- نچ نچ بیچاره پنځه رنځه یې سلیزی ته پاتی وه
چی عزرائیل کرین بولډ
کړو.

زبیر خپل د دې خبري سره سم پخندا شو، ما ته هم خندا راغلل خو یو دوه کنځل مې وړواچول چې بیا داسې خبره ونکړی، که رښتیا ووایم چندان خاص احساس مې د هغه د مرګ د خبر په اوریدو نه درلود! د هغه د مرګ خبر داسې وو لکه تلویزیون یا فسبوک کی د یو بیګانه کس د مرګ خبر چی واورم بیا لځان سره ووایم چی خدای دی وبخښی بیچاره، او څو شیبې وروسته بیرته خپل کار ته ادامه ورکړم د ماما د مرګ خبر هم همدا رقم و ماته ما هغه ټول عمر کې دوه ځل لا سم صحیح نه ولیدلې.

زبیر- خپه خو نشوی چی ستا د ماما په مرګ مې وخندل؟ البته زما کوم بده اراده نه وه خدای دی وبخښی خو هغه فکر مې ناڅابه ذهن ته راغلو.
- نه کوم مشکل نشته.
زبیر- ښه نو ته یې جنازی ته ځی؟
- زړه می نغواړی خو مجبور یم چې ولاړ شم.
زبیر- تر سبا بیرته راځې او کنه؟

- ښکاره ده چې راځم، ذوالفقار ویل یوازې ځو جنازه کو او بیرته راځو.

زبیر- ښه خبره ده ځکه زه یوازې ځان دا دومره قوطیان او شیان نشم ځای پر ځای کولاي.
- څومره چې کولای شې هغومره وکړه نور ما ته پریږده سبا چې راشم خپله یې کوم.
زبیر- اهوم

- زبیرا! کله چې یو جنازه کې ګډون کوې نو د هغه مړ شوی کس خپلوانو ته څه وایې؟ مطلب وایې خدای دې وبخښې ښه سړی وو؟ یا وایې د ښه کسانو عمر لږ وي؟ البته د ده عمر خو ډیر وو؟
زما په خبرو زبیر څو شیبې ښه د زړه د خلاص وخندل د هغه وروسته یې په حیرت ویل: ته نه پوهیږې چې د مړي خپلوانو ته څنګه تسلي ورکړې؟
- د کوم خوا پوه شم؟ دا زما لومړی ځل دی چې د جنازې لمونځ ته ځم، البته د دی څخه مخکې زما انا او

نیکه وفات شوی خو هغه وخت زه ماشوم وم او ذهن ته مې نه راځې چې ځنګه حالت وو؟

زبیر- ګوره کله چې هلته ولاړې نو د جنازې مونځ خو به دې زده وی که هغه دې هم نزده؟
- نه هغه مې زده مطلب اوریدلې مې دې چې څنګه کیږې.
زبیر- زه دا هم شکر چې اوریدلې د دې البته هغوي پر تا د جنازی مونځ نکوی، یوازې غوښتل مې دا ووایم چې د جنازی د مونځ کولو او د مړی د دفن کولو وروسته د مړې د خپلوانو خواته لاړ شه او ووایه خدای دې وبخښي خپل د ماما نوم واخله یا ووایه ماما! بیا ووایه خدای دې جنتونه ورنصیب کړی او خدای دې تاسو ته د زړه صبر درکړې او ستاسو اخری غم دې اوسیږې.

- دا ټول خبرې ورته وکړم؟
زبیر- هو، دا ټول خبرې باید سم په ادب او انسانیت

وکړی د هغه وروسته هغوي به درڅخه مننه وکړی او ته به هم په ډېر انسانیت یو دوه د دروغو ستونه وکړي مثال هر امر او خدمت چې وو ما ته ویلې شی او زه مو په خدمت کې یم او داسی یو څو نور د دروغو ډیالوګ ووایه او د هغه وروسته کرار کرار ځان ورڅخه لری کړه او راځه.

- یعنې ضرور باید دا ټول خبری وکړم؟
زبیر- هو،ضرور باید دا خبری وکړی کـ...

زما او د زبیر خبری لا نه وه خلاص شوي چی ذوالفقار راورسید! لکه چې د پنځه دقیقو څخه ډېر نړدی و دوکان ته؟ د هغه په راتګ زه او زبیر د دوکان ووتلو او د هغه خواته ورغلو.

زبیر د موټر خوا ته ولاړ او ذوالفقار ته یې وویل: خدای دی وبخښي ماما دی.
ذوالفقار په یو لفظ کې ځواب ورکړو: آمین.
او بیا بغیر له دی چی کوم بله خبره وکړی ماته یي

اشاره وکړل چې موټر کې کښینم، ما هم د زبیر سره خدای پاماني وکړل او موټر کې کښېناستلم.
- سلام ښه يي؟
ذوالفقار د سر په ښورولو ځواب راکړو او موټر یې روان کړو، تندی يې بیحده تریو وو او معلومیدل چې بیحده ډېر پریشانه دی نه پوهیږم ولې؟ یعنې منم چې ماما يې مړ شوی خو داسې نه معلومیدل چې یواځې د هغه په مرګ دی خپه وی! داسي ښکاریدل لکه یو بل موضوع یی هم ذهن ور خراب کړی وی؟

ذوالفقار- که بوږی دی نده خوړلې نو شاته سیټ کی په پلاستیک کی یو خوراک وریژی او کباب شته هغه وخوره.

د ذوالفقار په خبره بیحده خوشحال شوم او ژر مې د موټر د شا سیټ څخه پلاستیک را واخیست، ما سهار لا بوږی نه وه خوړلې البته باید ووایم د پرون ماښام څخه!

نم،نم باران ورېدی او هوا هم وریځه وه، زه بیحده ستړی وم ذوالفقار هم تندی تروش نیولې وو او خبری نه کول، کلې ته هم نږدی نیم ساعت لاره وه د بوډۍ خوړلو وروسته مې ذوالفقار ته وویل چی زه یوځه سترګې پټې کوم که ورسیدو او زه ویده شوی وم نو راباندی غږ وکړه، هغه هم یواځې د سر په ښورولو ځواب راکړو لکه چې د ماما مرګ یې بیحده خپه کړی وو؟

ډېر ژر مې سترګې درنې شول او خوب وړی وم د ذوالفقار په آواز راویښ شوم.

ذوالفقار- پاسه را ورسېدو.

ذوالفقار موټر مخامخ د ماما د کور د دروازې سره درولې وو. بغیر زموږ د موټر څخه څو نور موټرونه هم ولاړ وه چی معلومیدل د بنی اسرائیل قوم ځانونه رارسولېدی. د دروازی مخکی کوچنیان ځغاستل را ځغاستل ذوالفقار د موټر څخه ښکته شو، زه هم زړه نا

زرہ ورپسې شوم، هوا دومره یخه نه وه خو نه پوهیږم ولې زما یخ کېدو؟ ذوالفقار د تلو حال کې ماته فکر شو او ویې ویل: یخ دې کیږي؟

- څه ناڅه.

ذوالفقار په حیرت وویل: خو هوا خو دومره هم یخه نه ده.

- هو ولای هوا دومره یخه نه ده خو ولاکه چې ولی زما یخ کیږي؟

ذوالفقار بغیر د څه ویلو په غټ ګامو باندی رانه لری شو، زه هم پداسی حال کې چی لاسونه مې د یخ د سبب یو پر بل موښل ورپسي شوم. کله چی د ماما د کور دروازی ته ورسیدم نو د زړه درزا می تیزه شوه، د مړې د لیدو څخه نه وېرېدم بلکې خپل د کورنۍ د کسانو بلخصوص د بابا د لیدو څخه وېرېدم او بل دا چې یو رقم بد احساس مې درلود او په دی هم پوهیدم هر کله چې ما داسې احساس کړی هغه ورځ ما د خیر ورځ نه ده لیدلی!

د بابا او نور خپلوانو سره د مخامخ کیدو څخه په دی خاطر وېرېدم چې د کوم وخت څخه مې چې واده کړی و نو د هغوی سره مې قطع رابطه کړی وه! زما په قطع رابطي باندی بابا دومره غوسه نه وو ځکه د هغه مخکې هم زه د هغوی سره نه اوسېدم بابا هغه وخت غوسه شو چې ما د استاذ د کور څنګ کې کور کرایه کړو او هلته اوسېدل مې شروع کړل، زما په دی کار ټول خپلوانو ماته طعنې راکول شروع کړل او ټولو راته زنچو ویل! او ویل یې چې طاها ښځه نه ده راواده کړې بلکې طاها ښځې ته واده شوی!چې خپل مور او پلار یې پریخودلې او د خسر کور کې اوسیږی.

نو اوس ځکه وېرېدم چې هسې نه بابا ما ووینې او پخواني خبری یې یاد ته راشې او د ټول کلې مخکې راسره جنګ وکړی او سپک مې کړی! ځکه مې زړه نه غوښتل دی جنازی ته راشم اوس هم خپل په راتلو بیحد پښیمانه وم، تقریبا دا دوه کال مې ځان د دی بنی اسرائیل قوم څخه جلا کړې و خو اوس مجبور وم بیا

ورسره مخامخ شم. بیحده ډیر وېرېدلې وم بلخصوص چې بد احساس مې هم درلود او زړه مې ویل یو بد پیښه واقع کیدونکي ده، خو ځانته مې دلداری ورکړل چی څو ساعته دې او په یو کونج مونج کې به ځان پټ کړم او همدا چې جنازه خلاصه شول نو دوه پښې به څلور کړم او د دی کلی او خلکو څخه به یې الفرار وکړم.

حویلۍ داسی ډک وه چی ما په زور باندی خپل او پردی پکې پیژندە، د خدای شکر ما بغیر د کاکا خیلو او ماما خیلو څخه دا نور قوم خویش نه پیژندە! نو ځکه سر، سری هر یو چې مې مخکې راتلې ورسره سلام علیک مې وکړل او د ذوالفقار پسې شوم. مخامخ د حویلۍ دیوال خواته یی فرش هوار کړی وو او بعضی بوډاګان او مشران وربانډی ناست وه بابا، ذوالقرنین کاکا او زما ماماګان چی ما دا درې څلور کال بیخې لیدلې نه وه په فرش ناست وه، د حویلې منځ کی په

یو کټ باندی ماما پری ایستلی و، کفن کړی او زنه یې ورنه تړلی وه لکه چی غسل یی ورکړی وو؟

بیحده بوډا شوی و آخرین دیدن مو تقریبا څو کاله مخکې و هغه وخت لږ ځوان و خو اوس بیحد بوډا شوی و، هغه بیحده شني سترګی یې پټی وه. د مړی پسې خبری کول ښه کار نه دی خو زه تل د ماما د هغه بیحد شنو سترګو څخه وېرېدلم بیحده شني وه لکه جادوګرانو پشان! او داسې په ځیر،ځیر درکتل چې ساه اخیستل درته سخت کیدل.

ذوالفقار هم لکه چې درک کړې و چې د بابا سره زما مخامخ کول ښه پایله نلری نو ځکه هلته د تلو مخکې و درېد او د لاس په اشاره یې ما ته یو ځای وښود تر څو هلته لاړ شم د هغه د لاس د اشاری په تعقیب خپل د ژوند د منفور ترین، بدبخت ترین او هغه کس چې ما ورڅخه بیحد بد راتلل د هغه کس سره مخامخ شوم فرید!

د فرید په لیدو مې په تلوار ذوالفقار ته وویل: زه هلته نه کښېنم.
ذوالفقار- بنده کړه خوله دی، زه ستا لپاره وایم خپل خو پوهیږې چې پلار دی څومره درته غوسه دې دا شرم به چیرته ویسو چې مړې په میدان پورت وی او تا او پلار دی جنګ شروع کړې وی؟
- بابا دومره هم لیوني نه دی.
ذوالفقار- لیوني دی او کنه زه د هغه سره کوم کار نلرم خو دومره پوهیږم چې ته د هغه مخ ته ولاړ نشې بهتره ده.
- سمده د هغه ومخ ته نه ځم، خو د فرید څنګ کې هم نه کښېنم.

د دی خبری سره سم بغیر له دې چې د ذوالفقار خبری ته غوږ شم چې څه غواړې ووایې د حویلۍ کونج ته روان شوم کوم خوا کې چې ما کوم داسي کس نه پیژندو چې شناخته اوسیږی او ما ته مزاحمت وکړې، کله چې لږ ځای پر ځای شوم نو سر مې راپورته کړو او

یو نظر مې خپل شاوخوا راغلو خلکو ته وکړو بیحد ډیر خلک راغلې وه.

ماما اصل کې مولا و! مطلب مې د مولا څخه عالم یا کوم مفتي نه دې بلکې تعویزګر مولا دی! البته ذوالفقار ویل څو کاله مخکې دا کارونه پریخودلې وه او توبه یې ویستلي وه، خو زما په خیال کوم کسان چې اوس راغلې د هغه زیاتر برخه د ده مشتریان دی! مطلب هغه کسان دی کوم چې ده ورته خپل په ژوند کې تعویذونه کړی وه، د کور دننه څخه د ښځو د ژړا او قرآن ویلو آوازونه راتلل نه
پوهیږم دوي ولې مړی نه وړی چی پټ یي کړی؟

تر کوم ځایه چی زه په اسلامي موضوعاتو پوهیږم، نو اسلام وایې چې په مړی نه باید ډیر وخت تېر شي او باید ژر تر ژره یې دفن کړې! خو د ماما په دفن کولو یې بیحد وخت تېر کړو، ذوالفقار ویل ماما پرون ماښام

مړ شوی وو! نو اوس هغه دی د بل ورځي ماښام کيږی نو ولي نه پټ کوی؟

په همدي فکرونو کې وم چې د ښځو د ژړا آوازونه تېز شول، سر مې چې پورته کړو نو يو څو کسان مې وليدل چې د ماما جنازه يې له کوره وباسل د جنازی د ويستلو سره سم په حويلۍ کې موجود دا نور خلک هم ورپسې د کوره ووتل زه هم خپل لځايه ولاړ شوم ترڅو د جنازی پسي لاړ شم، زه چې کوم ځای کې ناست وم هغه اصل کې يو تخته وه! د لرګۍ يوتخته وه او زه نه پوهيدم چې دا اصل کې د څه لپاره دلته کيخودل شوي ده؟ خو همدا چې يو ګام مې واخيست او د دويم ګام د اخيستلو اراده مې وکړه هغه د لرګۍ تخته کوم چې زه ورباندې ناست وم هغه مات شو د هغه د مات کيدلو سره سم زما د پښو لاندی خالي شو او درب زه لاندي وغورځېدم.

څو متره د ځمکې لاندې مې سقوط وکړو او په يو کلک شي ولګيدم، د لګيدلو سره سم د ډېر درد څخه مې اخ له خولې ووت، د څو شيبو لپاره اصلا پوه نشوم چې څه چل وشو؟ خو وروسته د خلکو په شور ماشور او د ذوالفقار په غږ چې په زوره يې ماته نارې وهل هوش مې سر ته راغلو خپل شاوخوا مې وکتل تک توره شپه وه پورته مې چې وکتل نو تازه مې سر خلاص شو چې څه مصيبت راباندې نازل شوی، زه څاه کې ولېدلې وم! البته بايد ووايم چې څاه تقريبا وچه وه او د ماما کورنۍ خپل د کور ګند او کثافت دلته اچول او تقريبا څاه ډک شوی وه يوازې اته،نهه متر پاتې وه چې کامل ډک شي.

دا هم شکر چې څاه يې ډک کړې وه که دا خالي وايې او زه پکې راغورځيدلې واې نو ولاکه ژوندی پاتی شوی وايې البته اوس هم چندان ښه وضعيت مې نه وو راسته لاس مې بيحد درد کاوه او پوهيدم چې زخمي شوی،پښه خو مې بيخې درد يې د حد اوړيدلې و،

تندی مې هم لکه چې د ځاه په دیوال لګیدلې و البته مات شوی نه وو خو بیحد درد یې کاوه خلاصه چې فکر مې کاوه بدن مې ټوټه،ټوټه شوی د ذوالفقار اندیښمن او ورخطا غږ مې چې واورید خپل د دردونه له فکر راوتلم او ځواب مې ورکړو.

- ذوالفقار!

زما د غږ په اوریدو د ذوالفقار هوسا ساه اخیستل مې د همدی ځایه لا احساس کړل.

ذوالفقار- ښه یې طاها؟ خوږ شوی خو نه یې؟

- ښه خو نه یم خو مړ هم نه یم.

د لاندی څخه ما ته یوازی د هغوی غږونه راتلل او څوک مې صحیح لیدلي نشو خو دومره پوهیدم چې ډېر کسان د ځاه خولي ته ولاړ دی یو د هغه کسانو څخه وویل: همدا چې ژوندی یې شکر باسه څو میاشتي مخکې یو ماشوم په دی ځاه کې وغورځید او د څو ساعتو وروسته مو جنازه ورڅخه راپورته کړل، د همدی لپاره خو مو د ځاه خوله بنده کړې وه.

د هغه سرې په دی خبره په وېره باندې د خولي لاړی
مې تېری کړل او خپل شاوخوا په کتو شوم، یعنې دلته
یو ماشوم مړ شوی وو؟ په دی فکر ناڅاپه ټول بدن کې
مې وېره خپره شول او تقریبا په بیحد عاجزانه لهجه
مې ذوالفقار ته غږ کړل: ذوالفقار ما له دې ځایه وباسه.
ذوالفقار- سمده،سمده طاها! آرام اوسیږه هېڅ خبره
نشته اوس دی راباسم.
د دی خبری سره سم غږ یې پورته کړو او خپل شاوخوا
کسانو ته یې وویل: یو رسۍ یا زینه راوړی تاسو ټول
ولی دلته ولاړ یاست؟

د ذوالفقار د خبری سره سم څو کسان د څاه له خولې
لرې شول او لکه چې د رسۍ یا هم کوم بل شې د
راوړلو پسی ولاړل، د هغوی تر راتګ ما د څاه شاوخوا
ته کتل پیل کړل تک توره شپه وه هېڅ هم نه ښکاریدل
خو دومر بد بوی شاوخوا و چې حړ یې نه درلود زما
پښې تر زنګونو پوری په هغه ګندو کې ننوتلې وه او د

ګندو او کثافاتو مرداری اوبه مې ټول کالي ککړ کړي وه.

ذوالفقار- ستا په نظر څو متر لاندې یې؟
- نه پوهیږم خو دومره نه ده.
د همغه بیګانه سړي غږ بیا راغلو کوم چې د هغه کوچني د مرګ کیسه یې ماته کړې وه ویې ویل: دا څاه تقریبا 32/33 متره ده خو دا څو کلونو کې چې اوبه یې وچې شوي وه نو موږ هم ډک کړل اوس شاید اته،نهه متر خالي اوسیږي.
ذوالفقار- اته،نهه متر خو ډېر دي فکر کوم د دې څخه به کمه اوسیږي.
- هو زه هم همدا فکر کوم ځکه که اته یا نهه متر وای نو اوس به زه ضرور مړ وای.

هغه بیګانه سړي بیا یو څه وویل خو ما د هغه خبرې ته فکر نشو ځکه د څاه د دیوال سره یو شې وخوځید که څه هم تیاره وه خو غږ یې ما واضح واورید،د وېرې

څخه مې لاړې تیرې کړل ژر مې خپل جیب ته لاس کړو تر څو موبایل ګروپ مې روښانه کړم خو کله چې موبایل مې راوویست نو بدبخت موبایل مې مات شوی و او هیڅ نه روښانه کیدو د هغه شي کرار،کرار حرکت مې خپل خواته احساس کولای شو په لړزانه لهجه مې وویل: ذوالفقار دلته یو شئ دی؟

ذوالفقار- آرام اووسیږه طاها! څه دی؟

- نه پوهیږم تیاره ده لیدلې نشم خو زما خواته راراون دی غږ یې اوریدلی شم.

د ذوالفقار لځایه بیا هغه کس وویل: دا څاه کلونه کیږی چې بنده ده شاید کوم مار ....

ذوالفقار د هغه سرې خبره په غوسه وربنده کړل او څه ناڅه جنجال یې ورسره شروع کړو، داسی حال کې چی هغوی جنجال کاوه هغه شئ ورو،ورو ماته د رانږدی کیدو، نور نو د ډیر وېرې څخه د ژړا حال ته

رسیدلی وم په عاجزانه لهجه مې ذوالفقار ته غږ کړل: ذوالفقار.

ذوالفقار- طاها مه وېرېږه کوم شې نشته زما په نظر ضرور کوم موږک دی.

هغه شې ښه رانږدی شو او ما اوس کولای شو په همغه تیاره کی هم د هغه د دوه سترګو ځلیدل وګورم، نور نه ښکاریدی چې څه دی؟ خو دوه سترګی له ورایه پڅقیدل شاخوا می خپل لاس وګرځو ترڅو خپل د دفاع لپاره یو شئ پیدا کړم خو لاس کې می یوازی د کثافتو پلاستیکونه راغلل د ډیر ناچاری څخه ژړا راغلی وه بدن مې د وېری څخه په رپیدو وو نور مې د ذوالفقار یا د کوم بل چا غږ نشو اوریدلې یوازی د هغه شئ دوه سترګي مې لیدلې شول او بس.

څو شیبې هغه شې ولاړ وو او یوازی زما خواته راکتل د څو شیبو وروسته بیا په حرکت شو، یو ځای مې اوریدلی وه چې حیوانات هر کوم حیوان چې اوسیږی

هغه په هغه کس یا شي حمله اچوی کوم چې د حرکت یا د تښتیدو حال کې اوسیږی! نو ځان سره مې دا پریکړه وکړه چې خپل لځایه به ښور نخورم ځای پر ځای ولاړ وم او هغه شي ښه رانږدی شو بیا یې خپل لاره بدله کړه زما د څنګ تیر شو څو ځله پر ما ښه وڅرخید او تازه زه هلته پوه شوم چې دا د رښتیا هم مار دی!؟ او بیحد هم غټ و او کرار کرار لګیا وو ځان یې پر ما راپیچو لږ چې لاس او پښې راټخه وپیچل نو پوه شوم چې دا می د عمر اخری شیبه دی

نو څه چې د قران ایتونه مې زده وه د هغه ویل مې شروع کړل سترګي می تړلی وه او همدا ایتونه می ویل چې ناڅاپه عجیب چغه په څاه کې خپره شول او هغه مار زما له شاوخوا لری شو په حیرت مې سترکی خلاصی کړی او همغه حال کې د ذوالفقار اندیښمن غږ مې هم وارید چی ماته یې غږ کاوه.

ذوالفقار- طاها زما غږ اورې؟ طاها.
په لړزانده لهجه مې ځواب ورکړو: ه ... هو اورم.
ذوالفقار- نو ولې رسۍ نه نیسې؟ ښه یې؟ کولای شې رسۍ ونیسې چې زه دې پورته راکش کړم یا زه لاندې راښکته شم؟

حیران وم نه پوهیدم هغه مار څنګه ناڅاپه ورک شو؟ مار خو د قران په ایتونو نه ورک کیږي مګر دا چې .... مګر دا چې پیرې اوسیږي؟ څو کاله مخکې شموئیل راته ویلې وه چې د پیریانو بیحد خوښیږي چې خپل ځان د مار په شکل کیږي یا هم پیشو او کفتره! دا هغه شکلونه دي چې پیریان یې زیاتر وختونه غوره کوي.
ذوالفقار- طاها زما غږ درځی؟
- هو .. هو نه ضرورت نشته ته راشی زه رسۍ نیولې شم.

د دې خبرې سره سم په تیاره کې مې لاس شاوخوا وګرځو او رسۍ مې پیدا کړه همدا چې ما رسۍ کلک

ونیول ذوالفقار پورته خواته کش کړو او ډیر ژر یې له ځاه څخه وویستلم.

د ځاه څخه چې راووتلم څو شیبې هملته پروت وم زړه کې مې دومره توان او انرژی نه وه چې پاسیږم،څو شیبی وروسته چې سترګي مې خلاصی کړل او خپل شاوخو مې هغه دومره ډیر خلک ولیدل نو لځان سره مې وویل کاش ځاه کې د هغه مار وو که پیری و هر څه چې و د هغه سره پاتي شوی وای خو دا حال مې نه وای لیدلې، ټول کالي مې د ګندو څخه ډک شوی وه د راسته اوږی لستوڼی می شکیدلې وو او د اوږی څخه می وینه راتلل ذوالفقار غوښتل زما زخم په یو شئ وتړی خو د هغه خلکو د منځ څخه یو سړی چی د ځهری څخه د ذوالفقار په عمر معلومیدی ویې ویل:

- لومړۍ دی یو حمام وکړی او یو جوړه نوی کالی دی واچوی د هغه وروسته که زخم یې جدی و نو ډاکټر ته به یې ویسو.

د هغه خبره ټولو ومنل او زه هم په تلوار بغير له دی چې چاته وګورم د کور خواته روان شوم د ډير شرم څخه مې سر نشو پورته کولای، د راغلو کسانو څخه نيم ډله يې د ماما جنازه وړی وه او نيم نور يې زما په سر د څاه سره ولاړ وه دا هم زما د راتلو فايده، زه مثلا راغلی وم چی د دوی سره مرسته وکړم خو د مرستي لځايه ورته مصيبت جوړ شوم دا هم ښه وو چې فريد، بابا او ذوالقرنين کاکا د جنازی سره تللی وه او دلته نه وه چې ما په دی حال وويني.

البته که په دی حال يې ليدلي واې نو زړونه يې نه راباندی سوځيدل بلکی خوشحاله کيدل بلخصوص فريد.

يو سړی زه د يوه دروازي خواته ويوړلم او راته ويې ويل چې دا حمام دی زه هم په تلوار ننوتلم هغه راته شامپو او يو جوړه تور کالی چی ښکاريدل د ده خپل دی راکړل او د حمام څخه ولاړی، ما هم په تلوار خپل

کالی د ځان څخه لری کړل او غوښتل مې ژر تر ژره حمام وکړم او د ذوالفقار سره د دی کور او کلي څخه ژر تر زره لاړ شم، نه می غوښتل یو نفر لا وګورم، غوښتل مې کمیس له سر وباسم چې د کمیس بغل جیب کې مې یو دروند شی احساس کړو داسی حال کې چی موبایل مې حمام ته د راتلو مخکې ذوالفقار ته ورکړو وو بیا نو زما جیب ولی داسی دروند دی؟

په حیرت او مشکوک انداز مې خپل جیب ته لاس کړو او هغه شئ مې راوویست کوم چې جیب کې مې وو یو تعویذ وو!

***

په موټر کی ناست وم د ماما د کور څخه د ذوالفقار سره د ښار خواته روان وو، ما خپل سر د موټر په ښیښی تکیه کړی و او بیرون مې کتل، هوا په تیاره کیدو وه تقریبا شل دقیقې کیدل چې د ماما له کور څخه مو حرکت کړی وو، بدن مې بیحد درد کاوه

بلخصوص راسته اوره مې چې نه پوهیږم په څه باندی خیری شوی وه او پښه مې چې د درد څخه صحیح نشوم وربادندی تلې، خو د دی دردونو څخه ډېر اندیښمن چې وم په څاه کې د هغه لیدلی مار او بیا حمام کې خپل جیب کې د هغه پیدا شوی تعویذ ته اندیښمن وم.

کرار مې خپل لاس د جیب خواته ویوړ او تعویذ مې لاس کې ونیو نه پوهیږم د څه تعویذ دی او څنګه زما جیب ته راغلې وو؟ خو یو حس می راته ویل چې دا بی دلیل زما جیب ته نه دی راغلې او هر چا چې دا زما جیب کې کیخودلې ضرور یو مقصد یې د دی کار څخه درلود، خو نه پوهیدم چې څه مقصد؟

ذوالفقار- ډاډمن یې چې ښه یې؟ او نغواړی ډاکټر ته لاړ شې؟
- دا زرم"1000" ځل دی چې دا خبره کوی ذوالفقار!
ومې ویل چې ښه یم او ډاکتر ته نه ځم، یوازی خپل د

خیر که زحمت نه درته کیږی ما تر کوره ورسوه، کنه د سړک غاړه کې می هم ښکته کړی مشکل نشته خپل ځم.
ذوالفقار په غوسه راوکتل او ویې ویل: زه ستا په غم کې یم خر، اوس په ګرمو وینو کې یې په درد نه پوهیږی هسې نه څو ساعت وروسته حالت دی خراب شې!
- هېڅ نه کیږی زه ښه یم.
ذوالفقار- تا هلته د څاه څنګ کې څه مرګ غوښتل؟
مګر ما تاته ونه ویل چې د فرید څنګ ته لاړ شه؟

- ذوالفقار ته وقران بحث مه کش راکش کوه حوصله نلرم، هرڅه وشو بس د قسمت کارونه وه که زه خبر وای هلته څاه ده او زه پکې غورځیږم نو ته فکر کوی زه بیعقل وم چې هلته له قصد لاړ شم؟

ذوالفقار- ما ونه ویل چې تا له قصد ځان په څاه کی واچو زه دا وایم چې ته ړوند وی تا هغه څاه ونه لیدل

چې تللی وی او د هغه په سر ناست وی؟
ناڅاپه غوسه راغلل دا نیم ساعت کې ذوالفقار زر ځله دا خبری کړی وه او اوس هم لګیا وو او دا خبری کول په همغه غوسه مې وویل: هو زه ړوند یم ما څاه ونه لیدل صحیح شو؟ بس دی پخدای سر دی را په درد کړو

ذوالفقار خپل لاس لږ پورته کړو خو بیرته یې ښکته کړو او په غوسه یې وویل: شکر وباسه چې سر دی مات دی او زخمی،زخمی یې کنه داسی بډب می درکړی وای چی یوه هفته لځایه نه وای پاسیدلي.

که رښتیا ووایم لږ و ویریدم ځکه ذولفقار په داسی وهلو کې د رښتیا هم ماسټری درلود، په نامحسوس توګه لږ ورځخه لری شوم البته زما په نظر ذوالفقار پوه شو چې بد،بد یې راوکتل خو څه یې ونه ویل خو شیبی بغیر د څه ویلو موټر روان وو د هغه وروسته ذوالفقار وویل: تا څه ویل؟

- ما؟ ما خو هېڅ نه دی ویلی.
ذوالفقار- مطلب می اوس نه دی، هغه وخت چې څاه کې وی نو و دی ویل دلته یو شئ دی؟ هغه څه وو؟

نه مې غوښتل چې ذوالفقار ته ووایم چې هلته ما یو مار ولید چې خپل غیب شو! نه مې غوښتل هغه یو ځل بیا زما د ژوند په ستونزو کې راښکیل شې، هغه کلونه کیدل چې زما ستونزی حل کول نور بس وو هغه اوس د یو ماشوم پلار و نو دا به بې انصافي وی چې زه خپل د ستونزو لپاره هغه د کورنۍ څخه جلا کړم.
نو ځکه مې وویل: هېڅ نه وو.
ذوالفقار- ډاډمن یې؟
- هو.

ذوالفقار- نو تا بیا ولې وویل چې هلته یو شئ دی؟
- هسې وېرېدلې وم نو په نظر کې مې داسی راغلل چې هلته کوم شئ موجود دی خو اصل کې هېڅ نه وه.

ذوالفقار نیم نظر راوچو او ویې ویل: ډاډمن اوسیږم چې رښتیا وایې؟
- هو رښتیا وایم ذوالفقار هلته هېڅ نه وو.
ذوالفقار- نه پوهیږم ولې خو داسي احساس کوم چې یو شئ زما څخه پټ کوی!
- باید ووایم چې دا احساس دی غلط دی، ځکه ما درته رښتیا وویل.

ذوالفقار نور څه ونه ویل خو له څهری ښکاریدل چې زما په خبرو یې باور نه دی کړی. د نیم ساعت وروسته ذوالفقار زه خپل د کور د کوځي مخ کې له موټر ښکته کړم خو د تلو مخکې بیا خپل نصیحتونه یې شروع کړل او ویې ویل: که ښه نه یې هسې ضد مکوه راځه ډاکتر ته لاړ شو.
- ښه یم ذوالفقار، مننه چې تر کوره دی راورسولم نور نو خدای پامان.
ذوالفقار- که ماښام خوا ته دی حالت خراب شو یا کوم

کار دی درلود نو ماته زنګ وواهه سمده؟
- سمده، په سترګو نور نو خدای پامان ورځه.

ما غوښتل ذوالفقار لاړ شي او د هغه وروسته زه روان شم ځکه چې پښه مې درد کول او سم په لاره نشوم تللی او نه مې غوښتل چې هغه زما ګوډ،ګوډ تګ وګوری او بیا خپل خبره راوخلی چی راځه ډاکتر ته، خو ذوالفقار هم ضد نیولي وو په غوسه یې وویل: ته زما سره څه کار لری؟ ته روان شه خپل کور ته زه هم ځم.

د ذوالفقار په تنده لهجه پوه شوم کې یو څه نور د هغه د تلو لپاره ټینګار وکړم، نو سم صحي شکي کیږی او ولاکه بیا قدم لاړ شي نو ځکه اوږی مې پورته واچول او ځان مې بې پروا ورته وښود او کرار روان شوم البته خپل ټول زور می ووهی چې سم په لاره لاړ شم، ترڅو چې زه د کور تر دروازی رسیدم ذوالفقار هملته ولاړ وو دروازی ته په رسیدو چې ماته سم د ترکیه او ایران د

قاچاق لاره ښکاره شوه یوه هوسا ساه مې واخیسته د کور د دروازې د خلاصیدو مخکې مې د کوڅې سر کې ولاړ د ذوالفقار موټر ته مې لاس وخوځاوه او هغه هم د یو هارنګ په وهلو روان شو.

د هغه د تلو وروسته په سترې او دردمند انداز مې دروازه خلاصه کړه او کور ته ننوتلم د حویلې د دروازې په غږ اقرا زما راتګ ته فکر نشو کله چې دهلیز ته ننوتلم نو تازه د هغې فکر زما راتګ ته شو نه مې غوښتل چې ورخطا یې کړم خو زما پریدلې رنګ او هغه تور اوږده کالي چې زما پسان دوه نفر پکې ځای کیدل هغه ورخطا کړل په تلوار زما خواته راغله خو ما ورباندې وار له مخ کړو او ژر مې وویل: وغورځیدم کالۍ مې لړ خیرن شول نو ځکه دا کالۍ مې واچول خپل له خیر که زما یو جوړه کالي راوړې.

اقرا- چیرته وغورځیدې؟ خوږ خو نشوې؟

- نه خوږ شوې نه یم، محمد چیرته دی؟

اقرا داسی حال کی چی په اندیښنی زما خواته را کتل
وویل: محمد د بابا کور کیدی موټر سایکل دی نن نه دی
راوړی؟ د موټر سایکل سره خو دی ټکر نه دی کړی؟
داسی حال کی چی د کوټی خواته تلم د هغې د
تشویش لری کولو لپاره مې پخندا وویل: که د موټر
سایکل سره می ټکر کړی وایی اوس به د کور لځایه په
شفخانه کې وای!

اقرا- خدای دی نکوی داسی خبری مکوه، خو تندی دی
خوږ دی کالۍ دی هم ..
مخ مې وروګرځو او په کلک می وویل: ومی ویل ښه
یم یوازی یو جوړه کالی راکړه بس.
اقرا- سمده .. خو ...

کوټی ته ننوتلم او اجازه می ورنکړل چی هغه نور
خبری وکړی، څو شیبی وروسته اقرا په لږ مرور انداز
راته کالۍ راوړل او له کوټي ووتل ما هم ژر خپل کالی
بدل کړل راسته اوږه می بیحد درد کول د کالو بدلولو

وروسته مې تعویذ راوخیست نه پوهیدم چې څه ورسره وکړم؟ خو یو احساس نه پریخودلم چی لری خطا کړم بیرته مې خپل بغل جیب ته واچو او په نالی کښیناستم، اقرا راغله که څه هم اندیښمنه ښکاریده خو څه یې نه ویل خاموش وه، پوهیدم چې زما د تیزی لهجې څخه لږ خفه شوی لومړۍ خو می زړه نه غوښت چی ورته اصل کیسه وکړم خو وروسته دی نتیجی ته ورسیدم چی لږ رښتیا ویل او لږ خبره پټ کول په ګټه دی نو ځکه مې ورته وویل:

- نن سهار چی له کور ووتلم دوکان ته نوی مال راغلی و هغه مې ځای پر ځای کول چی ذوالفقار راته زنګ وواهه او ویې ویل راځه چې کلي ته لاړ شو ماما مړ شوی.
زما په دی خبره اقرا په حیرت باندی "وی" کړل او ویې ویل: څنګه مړ دی؟

ټول کیسه مې ورته وکړل کلي ته دتلو او څاه کې د غورځیدو خو دا مې ورته ونه ویل چې څاه کې مې څه ولیدل؟ کله چې ورته ومې ویل څاه کې وغورځیدم نو په تشویش زما خواته راغلل او هرڅومره چې ما ورته ویل ښه یم خو هغې زما خبرو ته غوږ ونه نیو او مجبور یې کړم چې خپل کمیس وباسم کله چې زما زخمي، زخمي بدن او بلخصوص زما خوږ شوی لاس یې ولید نو عجیبه وه خوږ شوی زه وم، درد ما درلود خو ژړل هغې؟ په حیرت مې وروکتل او ومې ویل: لیونۍ شوی یې؟ ولې ژاړې؟

اقرا په همغه ژړا حال کې وویل: ولې خپل د ځان په فکر کې نه یې؟
پخندا مې  وویل: چا ویل چې خپل په فکر که نه یم؟
اقرا- همدا حال دی د هرڅه ګواه دی، ته څاه کې غورځیدلی وی او دومره خوږ شوی یې او هغه وخت یو ډاکټر ته هم نه یې تللی؟
- ځکه چې ښه وم.

اقرا- ځنګه ښه وی؟ ته دی دا رنګ ته وګوره، ته دی دا خپل زخمي بدن ته وګوره، فکر مکوه چی زما درته پام نشو سم په لاره هم نشوی تللی، د دی دومره خبرو باوجود یو ډاکتر ته ولی نه ځی؟

- د ډاکترانو څخه می بد راځی، د اوس وخت ډاکترانو ته که رک روغ انسان هم ورشي نو زر رقم چکاپ او درد و مرض به ورته ولیکي او دومره کوچني خبره به هم درته د سرطان تر خبری ورسوی او بیا به درته یو بوجۍ دوا په شا درکړی او خپل جیبونه به د پیسو ډک کړی د اوس وخت ډاکتران ډکټران نه دی بلکي قصابان دی انساني قصابان، او هو دی دوه زخمونو ته هم دومره تشویش مکوه ما دا رقم ډیر ټکونه خوړلي.

اقرا- شاید، خو ته هم دی خبری ته فکر وکړه چی ته اوس هغه د څو کالو مخکی کس نه یی، اوس تاته یو کورنۍ ګوری که خدای نکرده په تا کوم شی وشي نو زه او محمد څه وکړو؟

- ستا خبری یو دم صحیح دی خو اوس زه ښه یم او دا ټول خبری تېر شوی او هیر شوی نو ته یې هم هیر کړه د بحث حوصله نلرم سر می درد کوی د پرون راهیسي چی ستا د زوی د برکت ویښ یم که اوس دی] اجازه وی یوه شیبه ویده شم که څنګه؟

اقرا که څه هم خفه ښکاریدل خو نور یې څه ونه ویل او ماته یې یو کمپل راوړو ما هم بالښت د سر لاندی سم کړو او ویده شوم، نه پوهیږم څومره وخت ویده شوی وم خو دومره پوهیدم چې ډیر وخت نه کیدو د پرون ماذدیګر پشان می یو شمال احساس کړو البته په دی توپیر چی دا ځل هغه باد ما خپل شاوخوا احساس کاوه داسی وه لکه چې باد زه د ځمکې څخه پورته کولم؟

دومره دا احساس مې قوی وو چې همغه د خوب حالت کی مې خپل لاس وخوځاوه او کوښښ مې وکړو ترڅو د کوټې غالې باندی لاس ووهم او ډاډمن شم چې

پرځمکه یم! خو ځمکه می احساس نکړل داسی لکه چې د رښتیا په هوا کی وم؟ د دی خبری په پوهیدو په تلوار می سترګی خلاصی کړل او د هغه سره سم درب په نالې وغورځیدم د درد څخه می بی اختیاره اخ له خولی ووتل چې د کوتی دروازه خلاصه شوه او اقرا رانئول په مشکوک انداز یی راوکتل او ویې ویل: څه شوی ښه یی؟

- هو ښه یم.

اقرا- که خوب دی پوره شوی اوسیږی نو بابا او ادی راغلی راشه بیرون.

- تا خو ورته کوم څه نه دی ویلی؟

اقرا- ما هغوی ته هېڅ نه دی ویلي.

- مطلب هغوي خبر دی خو تا ورته نه دی ویلی؟ بیا نو چا ویلی؟

اقرا- حفصی خور ادی ته زنګ وهلی و او ورڅخه ستا پوښتنه یې کړی وه چې اوس ښه یی او کنه؟

بې اختیاره مې وویل: اه ذوالفقار ... سمده اوس درځم.

حفصه د اقرا مشره خور او د ذوالفقار ښځه وه! لکه چی ذوالفقار هغې ته زما د ځاه ولیدو کیسه کړی وه او هغی هم خپل مور ته زنګ وهلی وه او خلاصه چی ټول کلي خبر شوی وو چی زه ځاه ته غورځیدلی وم، خو عجیب خبره دا وه راته چی ذوالفقار څنګه دا خبره خپل ښځی ته کړی وه؟ یعنی د هغه عادت نه وو داسی خبری او موضوعات د کوم چا سره شریک کړی او ورته کیسه وکړی!

د کوټې څخه ووتم استاذ او د اقرا مور چې ما ورته خاله ویل دهلیز کی ناست وه، ما د اقرا مور ته خاله ویل! یعني ما ډېر کسان لیدلې چې خپل خواښی ته مور یا مورجانه وایې خو زما نه خوښیدل چې د اقرا مور ته دی مور یا مورجانه ووایم! داسي نه ده چې بد مې ورڅخه راځې نه اصلا، خو پر ژبه مې نه راځې

چې ورته مور ووایم زما په نظر لږ چاپلوسانه لفظ دی، په هر حال شاید د ځینو کسانو خوشبیږی خو زما هېڅ نه خوشبیږی په کلک لهجه مې سلام واچو او په یو خالي نالې د استاذ خواته نږدی کښیناستم محمد چې تراوسه د استاذ په شاوخوا ګرځیدو او شوخي کول زما په لیدو زما خواته راغلي

که څه هم پرون درسته شپه ما د دغه نیم کیلو، شوخ موجود له لاسه خوب نه وو کړی خو اوس چې داسي په منډه زما غیږ ته راغلو او خپل په خوږه ژبه یې بابا،بابا ویل شروع کړل ټول ستړیا مې له بدن ووتل زه د محمد سره لګیا وم چې استاذ په طنز لرونکي لهجه وویل: پرون ماښام زوی دی نظر شوی وو او ټوله شپه یې وژړل نن سهار لکه چې ته نظر شوی وی چې څاه کې و غورځیدلی که څنګه؟

که دا خبره کوم بل چا راته کړی واې شاید خفه شوی واې، یا هم غوسه شوی واې یا هم امکان یې درلود فکر

مې کړې واې چې مقابل نفر راباندی ریشخند وهې خو کله چې استار دا خبره وکړل نو خندا راغله او ومې ویل: بس د قسمت کارونه دی،کنه چندان ښایست هم نلرو چی څوک دی موږ نظر کړی.

زما په دی خبره د اقرا مور په تشویش وویل: خدای دی نکوی چی څه درباندی وشې، تل دی خدای جوړ او روغ لره، زه هم د اقرا جانې د پلار د خبری سره موافقه یم شاید خدای مکړه بد نظر به وهلی یاست چې داسي کارونه درسره کیږی؟

د هغې په دی خبره ناڅاپه استاذ پخندا شو او ویې ویل: ستا د خواښی مطلب د بد نظر څخه اصل کې دا وو چې هغه فکر کوی د مړی درنه سایه پر تا غورځیدلې.

د استاذ په دا رقم شیطنت می خندا راغله او د اقرا د مور خواته مې نیم نظر واچو چې په غوسه یې د استاذ خوا ته کتل د اقرا مور که څه هم مثال د خبری د

مولا ښځه راتلل خو بیحد خرافاتي عقاید یې درلود او د هغې په دی عقایدو او فکرونو استاذ تل د هغې سره جنجال وو.

استاذ خپل تکیه پر بالښت سم کړه او داسي حال کې چې خپل ښځی ته یې کتل د خبرو مخاطب یې زه کړم او ویې ویل: ځینې کسان داسې جاهلانه، بی اساسه او بیځایه خرافاتي عقیدې لری چې په اوریدو به دی سترګی له حیرت خلاصي پاتی شی، ته فکر وکه محمد طاها یو جارو دی جوړ شوی د دی لپاره دی چې کور وباندی جارو کړی او پاک یې کړی خو همدا جارو که یو ماشوم راوخلې یا هم د شپی لخوا کور وباندی جارو کړی نو ځینې بی منطق کسان وایي" جارو مه وهه چې میلمه راځي"

د استاذ په دی خبره مې خندا راغلل چی هغه هم پخندا وویل: زه دیته حیران یم چی جارو یې په میلمه راتلو څه؟ یا وایې قیچي هسې مه جنګوه کنه جنګ

کیږی.
نوکان د شپې لخوا مه کموه چې بد شګون لری. که پیشو دی مخکې لاره بنده کړه نو بد ورځ به په مخکی ولری،که د مړي په کور کې چرګ چیغې کړی نو یو بل نفر به هم د هغه کور څخه مړ کیږی!

استاذ چی کوم خبری وکړل هغه ما زیاتر اوریدلي وه خو دا د چرګ چیغه او د هغه کور څخه د نفر مړ کیدل می نه وه اوریدلی په حیرت می وروکتل چی استاذ پخندا وویل: اوس هم ستا خوابښي په همدی خاطر ورخطا ده ته فکر وکړه چی د مړی د کور د چرګ په چغي بل نفر مړ کیدلې شې نو د مړی د کور ځاه ته په غورځیدو به د هغه نفر څنګه حال وی؟

د اقرا مور ناڅاپه وی کړل او ویې ویل: خدای دی نکوی چې کوم شئ وربآندی وشي، ما چې همدا واوریدل چې طاها زوی ځاه کې غورځیدلې نو لس

چرګان مې ورته نضر کیخودل سبا یې د پیر بابا زیارت ته ورم انشاءالله چې هېڅ به ورباندی ونشی.

د هغې په داسې ساده لهجه ما او استاذ خندا شروع کړل ځکه زما په نظر د رښتیا هم د اقرا د مور ځینې خبری بیحد خرافاتی وه، خو د اقرا مور زموږ پخندا غوسه شوه خو د هغې د څه ویلو مخکی استاذ په شیطنت ورته وویل: نه ... نه ته لږ صبر لا مې هغه ستاسو د سپین سرو لخوا جوړ شوی کتابي خبری پوره نه دی ویلی لږ غوږ شه.

د اقرا د مور بغیر دهلیز کی موجود ټول کسانو که هغه استاذ وو، که زه وم، که اقرا وه، که د اقرا کشره خور وه ټولو خندل استاذ هم د شیطنت په لهجه خپل ښځې ته وویل: ستاسو په کتاب کی راغلي چې یو نفر چی ډیر وخاندی نو بیا به هغومره اندازه ژاړی! که غاښ مو مات شو نو هغه په یو ټوکر کې تاو کړه او د بام پر سر یې کیږده نو نوی غاښ به دی ښه راووځي،

که نوی کال دی پخندا سره شروع نکړو نو ټول کال به دی بد تیر شی، که په کور کې مو میږیان پیدا شول نو بی اتفاقي به راشي، که جولاګي"عنکبوت" مو په کور کې ځاله جوړه کړل نو قرضدار به شئ ...

استاذ د دی خبرو د ویلو وروسته د څو شیبو لپاره خاموش شو او ناڅاپه هغه خندانه څهره یې په غوسه بدله شوه او خپل ښځې ته یې په تنده لهجه وویل: دا ټول خرافات دی دا ټول د خلکو د بی سوادی له امله ستاسو ذهنونو کی پاتي شوی او د قران کریم علاوه یو بل کتاب مو ځانته راویستي او د هغه ځای دا فتواګاني صادروی قرآن کریم او سنت د رسول الله"صلی الله علیه وسلم" د دې ټول باورونو او خبرو پر خلاف دی قران کی خدای وايي: وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ. پر الله مه وایاست هغه څه چې نه پرې پوهېږئ.

یعني هره خبره چې الله قران کی نه وی کړې پیغمبر "صلی الله علیه وسلم" په حدیثو کی نه وی کړې اصحابو څخه روایت نه وی نیک خلکو نه وی کړې بیا ته څنګه په هغه خبرو باور کوی؟ ته لږ عقل نلری؟ خپل فکر نشې کولای چې د غاښ ښه راوتل د ېوکر او بام سره څه تړاو لری؟ یا د مړی د کور د چرګ چیغه د بل چا د مرګ سره څه تړاو لری؟ د کوم وخت څخه مرګونه خدای د چرګو په چغو تړلې؟

استاذ په یوه ساه دومره ډېر خبری وکړل خو د اقرا مور هېڅ ځواب ورنکړو شاید هغې هم احساس کړې وو چی دا عقیدی او خبری هسي د خلکو خرافات دی او بس. استاذ چی ښه خپل زړه خپل پر ښځې تش کړو د هغه وروسته خاموش شو اقرا او مور یې هم څو شیبې دهلیز کی ناستي وه د هغه وروسته د شپې ډوډۍ د تیارولو په بهانه له دهلیز ووتل د هغوی په تلو ما کرار استاذ ته وویل: لکه چی خاله خفه شوه؟

زما په خبره استاذ راوکتل او ویې ویل: پوهیږم چې خفه شوه، خو بله چاره نه وه،زر ځله مې ورته په کراره نصیحت کړې، زر ځله مې ورته په مینه ویلي چې ښځې د دی کارو څخه لاس واخله دا بیځایه د جاهلیت کارونه او خبری پریږده خو په خبره نه ده، پخوا بیا هم ښه وه تر یو حده یې ځان کنټرول کاوه او زما څخه د وېرې پخاطر یې هم داسي ښکاره کوم کار نکوه خو پرون ...

غوږ وم چې استاذ خپل خبره وکړې خو هغه خاموش شو، که څه هم زړه مې غوښت پوه شم چې پرون د اقرا مور څه کړی چې استاذ تر دی حد ورته غوسه وو؟ خو کله چې استاذ څه ونه ویل ما هم نور خبره کش نکړل، د ماښام ډوډۍ مو یو ځای وخوړل ااو د هغه وروسته ما او استاذ جومات خوا ته لاړو، البته که زما خوښه واې نو جومات ته نه تلم! البته تللې نشوم خو کله چې استاذ روان شو او دهلیز کی یوازی د اقرا مور او کشره خور پاتی شوه نو زه هم د مجبوری د استاذ

پسې روان شوم بده وه د ښځو مجلس کی کښیناستلی وایې.

جومات کې په اخری صف کی ودریدم او بیحد په کراره باندي خپل مونځ مې وکړو د لمانځه د خلاصیدو وروسته په تمه شومم ترڅو د استاذ سره یوځای لاړ شم چی همدی وخت کی یو ځوان هلک چی د شل یا هم یو ویشت کالو ښکاریدی د استاذ خواته راغلو او د سلام او ستړی مشې وروسته یې په بیحد کرار انداز د استاذ څخه وپوښتل: مولوی صاحب یو پوښتنه مې درلود که وخت ولرې؟
استاذ خپل پټو راوخیست او ویې ویل: وایه بچیه څه پوښتنه لری؟
هلک- البته پوښتنه نه ده اصل کې یو ستونزه ده، ولای نه پوهیږم څنګه ووایم خو دا څو وخت کیږی چې پیریان مې بیحد پعذابوی.

د هغه هلک په دی خبره ما خپل غوږونه ښه تېز کړل او په توجه می وروکتل او غوږ مې ونیو او ځان سره می وویل طاها بچی  پیریان لکه چی یوازی ستا پسې نه دی دا بدبخت پسې هم دی، اسلامي لحاظ ښه نه دی چی د کوم مسلمان په ستونزه انسان خوشحال شې خو متاسفانه چی زه خوشحال شوم! مطلب کله چی ویې ویل پیریان مې پعذابوی نو لږ می زړه سکون پیدا کړو چی یوازی زه په دی مشکل کی نه یم ګرفتار، بلکې بل نفر هم راسره دی او هر مشکل کې چی انسان کله یوازی وی نو زیات ورته سخته وی خو کله چی وګوری نور کسان هم د ده په ستونزه اخته دی بیا لږ یې زړه راحت کیږی او د هغه هلک په دی خبره زما زړه لږ راحت شو استاذ ورته په ځیر وکتل او ویې ویل: څنګه پعذابول کوی؟

هلک- ولای مولوی صاحب ستاسو څخه یې څه پټه کړم دشپي خوب ته مې نه پریږدی دروازه، ټکوې یا

کړکۍ خلاصې او بندی کوی او داسی کارونه کوی چې ما وډاروی.

استاذ- دا کارونه یوازی دشپی لخوا کوی؟ مطلب یوازی تا خوب ته نه پریږدی؟
هلک- نه یوازی دشپي لخوا نه دی او د خوب خبره هم نه ده بلکی ... څنګه ووایم عبادت ته مې نه پریږدی هر وخت پر لمانځه ودریږم داسی کیږی او اکثر ډارول یې بیا د شپی لخوا وی د ماښام،ماخوستن او کله ناکله چی تهجد ته ولاړیږم د غه وخت کی بیا بیخې زیات مې وېروي.

د هک په دی خبره استاذ مسکي شو او ویې ویل: تازه په لمونځو راغلی یی؟
هلک په ګنګس انداز ویل: څنګه پوه نشوم؟
استاذ- مطلب د دی څخه مخکې دی مونځونه پر وخت کول که اوس تازه پر لمانځه راغلی یی؟
د استاذ په دی خبره هلک په شرم خپل سر ښکته واچو

او کرار يې وويل: نه وختي مې دومره لمونځونه نه کول ورځ کی یو یا هم دوه وخت مې کول او دوه درې وخت می پریخودل خو دا یوه میاشت کیږی چې خپل ټول لمونځونه پر وخت کوم حتا تهجد هم کوم.

استاذ- ستونزه دی همدغه ده.

هلک- څنګه؟

استاذ- ګوره بچي پیری هم د شیطان د اولادی څخه دی او کافر پیریان خو بیخې سم صحیح شیطانان دی، نو تا چی پخوا یو مونځ کاوه او دوه درې دی خوشی کول نو دوی درسره کوم کار نه درلود ځکه هغوی ته پخپل ډله کی شمارلې! خو کله چې ته د اسلام خواته مکمل راغلی او زړه دی د لمانځه سره ولګید نو دا خبره خو د د رڼا ورځ پشان ښکاره ده چې شیطانانو باندی ستا دا کار بد ولګیده او هغوي ځان سره وويل چی دا بې نماز څنګ نیک انسان شو؟

نو ځکه اوس تا وېروې او ستا زړه کی دا ډار اچوی چې لمونځ او عبادت د دی ټول شیانو سبب دی او غواړی په دی کارونو تا د خدای څخه لری کړی، زه تاته یو لنډ مثال درکوم البته شاید تا خپل هم اوریدلې وی ډېر مشهوره کیسه ده، وایې په پخوا وخت کې یو شپون و هغه د میږو یوه رمه درلوده خو دا شپون ډېر بې نماز سړی وو یوه ورځ یې د یو نیک انسان څخه واوریدل چې پر لمونځ کولو باندی خدای په مال کی برکت اچوی! نو دا شپون لمونځ کول شروع کړل نو کله چی شیطان ته دا خبر ورسېد چې شپون د مال د برکت لپاره پر لمانځه راغلې نو د شپون خواته ورغې

او شپون به چې هر وخت لمونځ ادا کاوه شیطان به د هغه یوه میږه مړه کول ترڅو د شپون عقیده خراب کړی او هغه د مونځ کولو څخه بند کړې، خلاصه چی شپون یو وخت مونځ وکړو شیطان یوه میږه مړه کړل، شپون بل وخت مونځ وکړو شیطان بله میږه مړه کړل او شپون بیا لمونځ وکړو شیطان بیا بل میږه مړه کړل،

خلاصه چې دا کار دومره روان وو ترڅو چی د شپون یوه میرږه پاتې شوه دی وخت کې د شپون اراده او نیت هم بدل شوی وو او کرار،کرار یې دا عقیده پیدا کړه چئ په لمونځ کولو باندی زما میږی مړه کیږی!

لکه څنګه چی تا دا عقیده پیدا کړی چی په لمونځ کولو باندی می پیریانان وېروی! شپون چی کله ولیدل ټول میږی یو د بل پسې مړه کیږی نو د لمونځ کولو څخه یې لاس واخیست او نه پوهیدو چی څه وکړی؟ همدې وخت کې هغه پاتې اخری میږی بد حال شروع کړو او هسې چغی وهل یې پیل کړل نو شپون خپل هغه اخری پاتی شوی میږی ته وویل: هسې بغاری مه وهه اودس هم لرم یوازی یو رکعت مونځ دی چاره درکوی!

د استاذ په دی خبره ما وخندل چی استاذ هم پخندا شو او ویې ویل: مطلب د شپون عقیده دومره خرابه شوی وه او هغه تر دی حد د شیطان تر ولکۍ لاندی راغلې وو چې خپل میږی ته یې په لمونځ کولو باندی

ګواښ کوو.

هلک- نو اوس زه څه وکړم؟ یعنی باید د هغوي پعذابول وزغمم یا د لمونځ څخه پر شا شم؟

استاذ- ګوره بچي شیطانان په انسانانو هېڅکله حاکم نه دی هغوی یوازی یو وسوسه او وېرول دی، نو هر کله چی پر لمانځه دریږی نو ایت الکرسي ووایه او پر ځان یی چوف کړه او دا فکر په ذهن کی وساته چی د دوی پعذابول په دی سبب دی چی زه په صحیح لاره روان یم او خدای ته نږدی کیږم او هیڅکله د لمانځه څخه مخ مه اړوه د دی څخه به غوره مرګ څه وی چی په لمانځه دی یو څوک مړ کړی؟ دا خو د شهادت مرګ دی البته ورخطا کیږه مه شیطانان انسان د لمانځه کولو په سر نشی وژلي یوازی وېروی بس.

د استاذ د خبرو وروسته هلک سر د پوهیدو په انداز وخوځاوه او روان شو د هغه د تلو سره موږ هم د

مسجد څخه ووتلو او کرار،کرار د کور پخوا روان شو چې استاذ پخندا وویل:

دا هلک د پیری نوم واخیست ما ته یې یوه کیسه رایاد کړه.
- څنګه کیسه؟
استاذ- څو وخته مخکې مې یو کتاب ویلو نو هغه کې د پیریانو ډېر یو عجیب کیسه هغه لیکوال رانقل کړې وه پخپل کتاب کې، ډیر عجیب او څه ناڅه طنز امیز کیسه وه! هغه لیکلې وه چې یو مولا و هغه به تل خپل پټو پخپل مخ پیچو داسي چې یوازی سترګی،پوزه او لږ ږیره به یې ښکاریدل خو هیڅکله به یې خپل غوږونه نه ښکاره کول.

یوه ورځ د هغه ځینو شاګردانو د هغه څخه د دی کار علت وپوښت چې استاذ صیب تاسو ولی تل داسې نقاب پوښ ګرځې او هیڅکله خپل غوږونه نه ښکاره کوی؟ د شاګرادنو په دی خبره د مولا رنګ یو دم وپرید

او ډیر کوښښ یې وکړو چې خپل شاګردان یو رقم راضي کړي او د دی خبری څخه تېر شي خو هغوی ډېر زاری وکړل او اخر کې هغه مولوی مجبور شو خپل پټو د سر لری کړی، کله چې هغه پټو له سر لری کړو نو شاګرانو ولید چې د مولا صیب یو غوږ نشته او په بیخ کې پری شوی!

نو شاګرانو یې ډېر حیرت وکړو او ورڅخه پوښتنه یې وکړل چې دا غوږ باندی مو څه شوی او ولی پری شوی؟ د هغوی په خبره مولا په ژړا شو او په همغه ژړا کې خپل شاګردانو ته وویل زه به تاسو ته اصل کیسه وکړم او هغه دا ده چې زه د مولانا *** د خاص شاګردانو څخه وم او ما د هغه ډېر خدمت کړی نو په اخری کلونه د خدمت کې ما د هغوی څخه یو درخواست وکړو، او ما هغوی ته وویل چی ماته یو داسي دمچ وښایست چې د هغه په وسیله زه پیریان وګورم خو پیریان ما ونشې لیدلي!

په حیرت باندی د تګ حال کې می استاذ ته وکتل چې هغه پخندا وویل: اوس پیریان مورږ وینې خو مورږ هغوي نشو لیدلې دا مولا خپل د استاذ څخه داسی دم غوښت چې دی پیریان وګوری خو پیریان دی ونشی لیدلی! دا مولا کیسه کوی او وایی ما ډیر زاری وکړل خو زما استاذ ما ته هغه دم نه ښود او ویل یې چی هر سوک د هغه دم طاقت نلری او هرڅوک یې صحیح استعمال هم نشې کولای خو وایې زه دومره ورپسي شله شوم او دومره مې زاری ورته وکړل او وکړل چې بلاخره استاذ راضې شو او ما ته یې هغه دم وښود خو د دم د ښودلو سره یې ما ته دا هم وویل چې غلط ګټه که د دی دم څخه پورته کړی نو خدای دی تاته سزا درکړی.

مولا چی دم زده کړو نو استاذ یې خوشې کړو او راغی کور ته په همغه شپه یې د استاذ لخوا زده کړی دم ویل پیل کړل او دومره یې وویل او وویل چې بلاخره کوم پرده چې د انسانانو او پیریانو د نړۍ ترمنځ خدای

حائیله کړی هغه لری شول او دا مولا پیریان لیدل شروع کړل خو پیریانو دی نه لید، نو دا مولا کې مرض وو ده دا دم زده کړی د مضریت لپاره و نو د پیریانو په تنګول او پعذابول یې پیل کړل لکه څنګه چې پیریان انسانان وېروې ده هم همغسې د پیریان وېرول شروع کړل

او پیریانو به چغي بوغي وهل چی یو انسان دی او یو انسان دي، خو هغوی لیدلې نشو لکه څنګه چې موږ پیریان نشو لیدلې، دا حالت تر څو کلونو روان وو او مولا همداسئ لګیا وو د پیریانانو په پعذابولو باندي تر دې چی یوه ورځ ډله،ډله پیریان یې ولیدل چې خپل ځانونه جوړوی او یو دبل سره په خوشحالی روان دی، مولا حیران سو چې څنګ چل دی نن چې دا پیریان داسې خوشحاله دی؟

نو د پیریانو څنګ ته لاړو چې پوهه شي اخر کیسه څه ده؟ او څه خبره ده چی دا ټول داسې خوشحاله دی؟

کله چې د پیریانو څنګ ته ورسیدو نو د هغوي خبرو ته غوږ شو او پوه شو چې نن د پیریانو د مشر پیری د لور چی یو ښاپیری ده واده دی د یو بل پیری سره! نو مولا هم د پیریانو په منځ کی د هغه واده خواته ورغلو او هلته په تګ کله چی د ده نظر په هغه ښاپیری ولګید نو موږ وایو کنه فلانکی جنۍ باندی پیری ناست دی یا پیریورباندی مئین دی ځکه چی ډیره ښایسته ده!

نو دا مولا باندی هم څه ناڅه همدا چل وشو، همدا چې نظر یې په هغه ښاپیری پریوت نو ورباندی مئین شو، ښاپیری خو وی ښایسته نو دی د هغې پر ښایست باندی اصل کی مئین شو او مخامخ ولاړ او نه سلام نه کلام د ښاپیری لاس یې کلک ونیو، د هغې د لاس په نیولو ښاپیری چغي شروع کړی چې یو انسان نیولی یم او یو انسان نیولی یم، ټول پیریان ورباندی راټول شول خو هیچا ته هېڅ نه ښکاریدل خو ښاپیری همداسی چغي وهل د ښاپیری پلار چی خپل لور په دی حال کی ولیدل نو زموږ د خلکو پشان چی کله پر چا پیری

کښېنې نو مولا ورته راوړو نو د ښاپیری پلار هم پیریان واستول ترڅو یو مولا راوړی او دا انسان د ښاپیری څخه لری کړی.

د پیریانو مولا راغلو او دم او چوف یې شروع کړو خو هرڅومره چې زور یې ولګو ویې نشو کړی چی هغه مضر مولا د ښاپیری څخه لری کړی، ځکه چې د مولا دم کوم چې استاذ ورته ښودلې وو هغه ډېر ځواکمن وو، د پیریانو مولا دم او چوف کول او دا مولا کرار بیغم ناست و او ښاپیری کلک نیولي وه او ښاپیری چی لومړۍ ځل داسی کار لیدو څنګه چی انسانان ورخطا کیږی چی دا څنګه چل دی؟ همغسې هغوی هم ورخطا شوی وه او نه پوهیدل چی څه وکړی؟ نو دی وخت کې د ښاپیری پلار چې کله ولیدل د دوی مولا کوم کار نشې کولای نو په تلوار یې یو پیری ته وویل چی لاړ شه او پاچا ته د دی خبری خبر ورکړه.

ځکه چې دا د دوي په نړۍ کې یو نامعلوم او عین حال کی خطرناک موضوع وه، داسی یو موجود راغلی و چې پیریانو نشو لیدلې او هغه موجود دویته تکلیف رسو او د ده لور یې د واده په ورځ نیولی وه، د پیریانو پاچا ته چې کله د ښاپیری د پلار خبر ورسید نو هغه هم هک حیران شو چې دا نو څنګه چل دی؟ انسان څنګه زموږ نړۍ ته راغلی؟ او زموږ جنۍ ولې نیولې؟ د پیریانو دا پادشاه ډیر هوښیار پیری وو او هر کله چی د کوم ځاي پادشاه هوښیار وی نو ضرور د هغه د شاوخوا کسان هم ورسره هوښیاران وی

پادشاده ژر خپل یو ډیر زبردست عالم ته خبر ورکړو چی د هغه خدمت کې حاضر شي چې داسې یو موضوع راپیښه شوی، نو هغه عالم پیری فوراً حاضر شو او د پادشاه خدمت ته راغلو دا عالم پیری ډېر بوډا و هسې خو پیریان طبعیتاً زرګونه کلونه عمر کوی نو دا عالم پیری هم بیحد د عمر د لحاظ په ټولو پیریانو مشر و، د هغه په راتګ پادشاه د هغه ډیر احترام وکړو او

هغه ته يې حکم ورکړو چې د هغه جنۍ خواته دی لاړ شي او هغه انسان دی ورڅخه لرې کړی.

عالم پیری هم د پادشاه حکم ومنو او روان شو، کله چی هلته ورسید نو لومړۍ نظر کې دا عالم پیری هغه انسان مولا ولید چې د ښاپیری لاس یې نیولی او ... (استاذ پخندا شو ما ته هم خندا راغلې وه خو عین حال کی بیحد هم شرمیدم دا هم د خدای شکر و چی کوټه کی وو او شاوخوا تیاره وه او یو بل مو نشو لیدلې کنه د شرم د لاسه پر ځمکه ننوتلم. استاذ د خندا وروسته کرار وویل: عالم پیری د هغوی خواته ورغې او همدا چی مولا ته وروسید نو په کلک غږ یې ورته وویل: د جنۍ لاس خوشې کړه رزیل مولا!

مولا چی عالم پیری ولید او د هغه لخوا یې خپل ځانته د مولا د لفظ خطاب واورید نو پوه شو چې دا پیری ما ویني! نو لږ و وېرېد خو بیا هم د هغه ښاپیری لاس یې خوشی نکړو او برعکس خپل د استاذ لخوا ورکړل

شوی دمونه یې بیا ویل شروع کړل ترڅو د دی عالم پیری له نظر هم ورک شی، خو هغه عالم پیری ورته بیا وویل: خوشی کړه دهغې لاس او له دی خایه ورک شه. خو مولا چې هم په ضد راغلې و د پیری ځواب کې وویل: زه نځم ته ورک شه.

عالم پیری بیا مولا ته وویل چې لاړ شه خو مولا بیا انکار وکړو تر دی چې عالم پیری یوه څانګه د درختي راوخیسته چې څو پاڼي وربانده موښتي وه او دم کول یې په شروع کړل د دیخوا څخه هم مولا دم ویل پیل کړل او چوف، چوف تر دې چې عالم پیری خپل دم خلاص کړو او د هغه څانګي څخه یې یوه پاڼه وشکول د پاڼي د جلا کولو سره سم د مولا غوږ له بیخ پری شو او چغې بوغي وهل یې شروع کړل خو د دی باوجود بیا هم د ښاپیری لاس یې کلک نیولی وو

د هغه په دی کار عالم پیری ورته پخندا وویل: اخری چانس درکوم که دا ځل د جنۍ لاس خوشی نکړې نو

قسم پر خدای چی دویم دم به ستا د سر د پرې کولو کوم او هیڅوک به ستا د مرګ ضموار نه وی مګر ته خپل.

مولا چی دا خبره واوریدل نو په ډار باندی د ښاپیری لاس خوشې کړو او دوه پښي يې درلود او دوه نور يې هم قرض کړل او د هغه ځای وتښتید. دا ټول کیسه دا مولا پخپل خپل شاګرادنو ته وکړل او اخر کی ورته وویل دا ټول کارونه چی زما سره وشول د دی اصلي سبب دا و چې ما خپل د استاذ سره کړی وعده ما ته کړه او د هغه د رازده شوی دم څخه مې غلط استفاده وکړل.

د استاذ د کیسی د خلاصیدو وروسته تقریبا کور ته رسیدلې وو چی ما په حیرت ورڅخه وپوښتل: ایا په رښتیا داسی دم شته؟
زما په خبره استاذ پخندا شو او ويې ویل: څنګه ته هم کوم ښاپیری غواړی که څنګه؟

د استاذ په دی خبره دومره وشرمیدم چی نور یوه خبری مې لا ونکړل او کور ته ننوتم، استاذ هم خپل کور ته ولاړ د اقرا مور او خور هم تللی وه دومره ستړی وم او بدن می درد کاوه همدا چی کور ته ورسیدم سر می کیخود او ویده شوم،همغه ویده کیدلو حال کی می ځان سره فکر کاوه چی ایا ښاپیری د رښتیا هم دومره ښکلی وی؟ پر ما هم یوه مئینه وه خو ما یو ځل ولا نه لیدل د زبیر خبره موږ له سر شانس نلرو.

استغفرالله مې وویل او خپل فکر می د دی خبری څخه وارو، زړه مې غوښت زبیر ته زنګ ووهم او ورته ووایم چې سبا دوکان ته نه ورځم او لږ طبعیت می ښه نه دی، خو متاسفانه چی موبایل می د ذوالفقار سره وو البته مات وو که راسره وایې هم نو بیا مې هم کوم کار نشو کولای، بیا مې د ځان سره وویل چې سبا نځم نو زبیر به هم خپل پوهه شي چې کار به لرم او نه یم

ورغلې، په همدی فکرونو کې مې سترګی پټی کړل او ویده شوم.

سهار د دروازی په ټک،ټک له خوبه راپاسیدم چې ومې کتل لمر ښه سم صحیح راپورته شوی او د سهار لمونځ هم قضا شوی، د اقرا خواته مې وکتل چې لا هم کراره ویده وه ما هم ورباندی غږ ونکړو هسې هم مونځ قضا وو راویښ کول یې فایده هم نه درلود، په ناراضه توګه د دروازی خواته روان شوم ترڅو وګورم څوک په دی سهار وختي راغلی؟ تلو،تلو کې مې زړه کې ښه کنځل هغه کس ته چې داسې سهار وختي زما د کور دروازه یې ټکول وکړل.

هسې هم د سهار مونځ خو قضا شوی وو که دا منحوس نه وایې راغلی که نور نه وو خوب خو به مې کامل کړی وایې، کله چې دروازه مې خلاصه کړه نو زبیر مې په خندانه خوله خپل د موټرسایکل سر ولید! همدا چې اراده مې وکړه یو دوه خبری ورته وکړم چې

هغه په تشویش وویل: ستا په دی تندی څه شوی طاها؟ ښه یې؟ جنګ دی کړی؟

- هو ښه یم نه جنګ چیرته وو.

زبیر- نو بیا ولی دا تندی دی داسې پرسیدلې؟ د ذوالفقار سره دی جنګ کړی؟

- ولې چټیاټ وای؟ لیونی یم چې هسې میدان د ذوالفقار سره جنګ وکړم؟

زبیر- نو بیا څه دربانډی شوی؟ پرون چې تلي رک روغ وی اوس څه بلا وهلی یی؟

- غواړی همدلته د کور مخکی درته ټوله کیسه وکړم؟ اصلا ته د څه لپاره راغلی؟

زبیر- عجب بی لیاقت انسان یی ما فکر وکړو چی موټر سایکل دی زما سره دی نو ته به پیاده دوکان ته لاړ شې نو ستا غم می وکړو او سهار وختې خپل د نازنین خوب ښخه تېر شوم ترڅو تا خیرن دوکان ورسوم.

- ما نن نه غوښتل چی دوکان ته راشم غوښتل می ویده شم خو ته لکه د عذاب فرښته رانازل شوی.
زبیر ناساپه په مهربان لهجه وویل: که حالت دی ښه نه دی مه راځه استراحت وکړه، زه خپل ځم دوکان ته خو دا راته ووایه چی څه دربندی شوی؟ ولی دی د پرون ماښام راهیسې خپل موبایل ته جواب نه ورکو؟

د زبیر په داسی مهربانه لهجه مې خندا راغله او په شیطنت می وویل: داسې په مینه راڅخه اظهارات اخلې یوه شیبه مې فکر وکړو دویمه ښځه مې یی!
زما په دی خبر زبیر غوسه شو یو ټک یې راته په اوږه راکړو او ویې ویل: د مرګ خبر دی راشه لخیره، ستا سره انسان نیکې هم نشې کولای.
زبیر زه په همغه اوږه وهلی وم کوم چی خوږه وه د هغه په ټک مې خپل اوږه د درد ونیول چې زبیر په ورخطای وویل: ما خو دومره کلک هم ونه وهلی څه دربندی وشول؟

- نه ته ملامت نه یی زما اوږه د وخت درد کول.
زبیر- ګونګي شی طاها خو خبری وکړه څه مرګ دربادی شوی چی داسی ټوټه،ټوټه یی؟ ته تللی وی چی خپل د ماما جنازه وکړی که خپل جنازه؟ ذوالفقار خو موټر نه وو ټکر کړی؟
کله چې د زبیر پرلپسي خبری مې واوریدل نو پوه شم د ده څخه خلاصون نشته نو ځکه مې ورته وویل: ته لږ صبر زه خپل شیان راوخلم اوس ژر بیرته راځم.
زبیر -چیرته راځې؟
کور ته د تلو حال کی مې وویل: راځم چی ولاړشو دوکان ته.

زبیر غوښتل څه ووایی خو زه ژر کورته ننوتلم اقرا ته چې په درنه خوب ویده وه ومې ویل چې زه ځم کار ته،هغې هم د خوب حال کی اهوم وویل خدای خبر چی زما په خبره به پوهه شوی وی او کنه؟ خو زه پاسیدم چې لاړشم چې نظر مې په محمد ولګید دومره ښکلی ویده وو خپل دواړه لاسونه یې خلاص نیولی

وه، د هغه په لیدو مې خندا راغله خواته یې ورغلم او ښکل مې کړو د هغه وروسته له کوره ووتم او د زبیر سره یوځای د دوکان پخوا روان شوم.

لاره کی زبیر دومره ډیر وویل چی څه شوی؟ او څه شوی؟ چی مجبور ټوله کیسه مې ورته وکړل عجیب وه ما زبیر ته څاه کې د هغه لیدلی مار کیسه هم وکړل! نه پوهیږم ولی ما ذوالفقار او اقرا او هیچا ته د هغه په اړه ونه ویل خو زبیر ته می وویل کله چی دوکان ته ورسیدو زبیر په خلاص خوله د حیرت څخه وویل: ته ډاډمن یی چی مار وو؟
- اهوم.
زبیر- بیا ناڅاپه خپل غیب شو؟

داسی حال کی چی د دوکان دروازه می خلاصول بیا مې هم اهوم د هغه په ځواب کی وویل چی زبیر په ورخطایی وویل: ته ډاډمن یی چه ښه یی؟ ولی یو ډاکتر ته نه ولاړی؟

- خوشې کوه زبیر تخو پوهیږی چی ما د ډاکترانو څخه چندان ښه نه راځی.
زبیر- بلای ښه نه راځې خر انسان ته هغه دومره څاه کی غورځیدلی وی پښه دی خوږه شوی بدن دی ټول زخمي شوی باید تللی وایی یو ډاکتر ته.
- نچ ضرورت نشته.

زبیر ډیر راته وویل ترڅو د هغه سره یو ډاکټر ته لاړشم خو ما ونه منل، هغه چې هم کله ولیدل زما ځواب ورته "نه" دی نو یو څو کنځل یې راته وکړل او خاموش شو، خو څو شیبې وروسته بیا په خبرو شو او بار،بار یې راڅخه د هغه مار په اړه پوښتنه کول کوم چی ما څاه کی لیدلی وو.
- زبیر!
زبیر- ها!
- ګوره ما څاه کې د مار  دلیدلو کیسه ذوالفقار ته نه ده کړی.
زبیر- ولی؟

- بس، زړه مې نغوښت چې هغه خبر شې او یوځل بیا زما د ژوند په ستونزو کی راګیر شی، تا ته مې هم نکول خو تا دومره ټینګار وکړ چی مجبور شوم درته ووایم، نو هیله لرم چی ته ذوالفقار ته دا خبری ونکړی سمده؟

زبیر- که ته نغواړی هغه خبر شې سمده زه ورته کوم څه نه وایم، خو هو بد به دی کړی وای چی ما ته دی دا خبره نه وای کړی.

کرار مې وخندل او تازه خپل جیب کې هغه تعویذ ته می فکر شو او زبیر ته می وویل: رښتیا زبیر یوازی د مار کیسه نه وه!
زبیر- یعنې څنګه چی یوازی د مار کیسه نه وه؟ نور څه شوی؟ ایا ځاه کې کوم بل شئ هم وو؟
- نه مطلب مې دا دی چې یوازی د مار کیسه نه وه،بلکې کله چې له ځاه راووتلم او غوښتل مې حمام وکړم نو خپل جیب کی مې یو تعویذ ولید داسې حال

کی چی زما سره دا تعویذ هیڅکله نه وو د څاه څخه د راپورته کیدو وروسته مې هغه تعویذ جیب کی وو!

زبیر- اوس درسره شته که لری دی ختا کړو؟
- نه راسره شته، نه پوهیږم خو زړه مې ونشو چې لری ختا کړم.
زبیر- ته ماته راکړه.

خپل د جیب څخه مې تعویذ راوویست او زبیر ته می ورکړو زبیر تعویذ د میز په سر کیخود او په ځیر،ځیر ورته به کتو شو د څو شیبو وروسته یې کرار وویل: طاها!
- هوم؟
زبیر- دا ما ته تعویذ نه ښکاري!
- څه مطلب تعویذ نه ښکاری؟ که تعویذ نه دی نو څه دی؟

زبیر- ګوره ما تعویذونه لیدلې خو یو یې هم په دا رقم نه دی پیچل شوی؟ ته د دی پوښ ته وګوره که څه هم

د ډېر وخت مخکې ښکارې خو تر اوسه ورباندې د ستنوې نښه شته داسې ښکارې چې ستنې ورباندې ننویستل شوې وې؟ او تا کوم تعویذ لیدلې چې خلک ورباندې ستنه ننباسې؟

- هوم ولاکه نه پوهیږم.

زبیر- ته هغه قیچې راکړه زه به دا اوس معلوم کړم چې دا د رښتیا تعویذ دی او که جادو؟

- قیچې څه کوې؟

زبیر هغه تعویذ پورته ونیو او ویې ویل: غواړم دا خلاص کړم او وګورم چې دننه یې څه دي؟

- زما په نظر دا فکر به دې سم نه وي!

زبیر: ولې؟

- ځکه چې ما اورېدلې تعویذ په خلاصولو باندې باطل کیږي او اثر یې لمینځه ځي!

زبیر- دا خو بیخې ښه خبره ده نو موږ یو ثواب کار کوو؟!

- خو زه دې تعویذ ته ښه احساس نلرم.

زبیر- ولې؟
- ګوره زبیر پیریان ډېر مضر مخلوقات دی، زه فکر نکوم چې کوم پیری دی د ښه نیت څخه دا تعویذ زما جیب کې کیخودلې وی؟! بلخصوص هغه بد وخت کی زه فکر کوم ضرور کوم خبره د دی شاته شته؟

زبیر- ستا خبری هم صحیح دی خو تا خپل وویل چې تعویذ خلاصول د دی سبب کیږی چې د هغه اثر لمینځه لاړ شې نو که خلاص یې کړو کوم تاوان به ونکړو او اثر به یې لاړشې او زه فکر نکوم چې دا دی کوم ښه تعویذ اوسیږی چې په غم کی اوسیږو چې اثر یې لمینځه لاړ شې، زه خو وایم په خلاصولو به یې ثواب وګټو شاید د کوم بدبخت بیچاره په حق کی دا غلط جادو شوی وی چې په خلاصولو به یی هغه د مصیبت خلاص شې؟!

زبیره دومره ډېر ټینګار وکړو چې بلاخره ما یې هم خبره ومنل او قیچی مې ورکړل ترڅو هغه تعویذ

خلاص کړي، که رښتیا ووایم نو زما په نظر هم تعویذ نه راتلو! ځکه چې بیحد عجیب شکل یې درلود د عام تعویذونو پشان نه وو زبیر په بیحد هیجان بسم الله کړل او داسي په احتیاط یې تعویذ خلاصول پیل کړل څوک وا د زړه یا د مغزو جراحي علمیات کوی! تعویذ په تور چرمي پوښ کې پیچل شوی و خو جرمۍ پوښ یې سوری،سوری وو داسی لکه چې ستنې پکې ننویستل شوی وی؟

د چرمۍ پوښ د لرې کولو وروسته ما فکر کاوه چې د تعویذ ورقه به ښکاره شي خو نه! یو بل پوښ هم ورکړل شوی وو دا ځل د کتان ټوکر څخه یو سور پوښ ورکړل شوی وو خو عجیب دا وه چې د پوښ خوله په تار نه وګنډل شوی! داسی وه لکه په ویښتیانو چې بند شوی وی؟ د هغه ویښتیانو په لیدو زبیر زما خواته راوکتل او ما د هغه خواته او ناساپه یو فکر مې ذهن ته راغلو او زبیر ته مې وویل:

- دا جادو دی!

زبیر- خومره عقلمند یې ماشالله اوس پوه شوی؟

- ریشخند مه وهه، وګوره دا پوښ یې په ویښتیانو ترلی او ویښتیان یوازی په جادو کی کارول کیږی.

زبیر- اهوم ته څنګه پوهیږی چې ویښتیان یوازی په جادو کی کارول کیږی؟ امکان لری چې تعویذ اوسیږی؟

- نه تعویذ خو بیخې نه دی، زه ډاډمن یم چې سل په سل دا جادو دی! ځکه چې اوریدلې می دی کله چې په پیغمبر صلی الله علیه وسلم جادو وشو نو هغه جادو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویښتیانو مبارک باندی شوی وو، چې د هغه جادو د سبب پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیحد مریض شو او هیڅوک نه پوهیدو چئ دلیل یې څه دی؟ تر دی چې الله "ج"وحي ورته وکړل او د هغه په واسطه یې پیغمبر صلی الله علیه وسلم خبر کړو او عجیب دا ده چې هغه جادو هم په یو څاه کې اچول شوی وو؟

زبیر- هوم شاید دا جادو همداسی کار کوی، ښه ته اوس خپل خبری پریږده راځه وګور دا څه دی؟

زبیر بیا په کرار لګیا شو ترڅو هغه پوښ هم لری کړی چی ما ورته وویل: صبر.
زبیر- بیا څه خبره ده؟
- ګوره دا جادو دی کنه؟
زبیر- هو، نو تا خپل وویل چی جادو دی بیا اوس په شک کې وولیدلی؟
- مطلب می دا دی چې دا جادو دی، و دې کی هیڅ شک نشته نو جادو انسان همداسی نه خلاصوی.
زبیر- نو څنګه یې خلاصوی؟
- ګوره جادو ولې اثر کوی؟
زبیر- ولاکه زما خسر ملا نه دی چی دا خبری راته وکړی چی ولی اثر کوی او ولی نه کوی؟

- بلا،بلا ګوره جادو تاثیر په پیریانو باندی دی!
زبیر- څه مطلب چې په پیریانو باندی دی؟

- ګوره کله چی یو جادوګر جادو کوی نو اصل کی هغه دا کار یو پیری ته ورکوی تر څو لاړ شی او هغه انسان ته ضرر ورسوی، نو د هر جادو سره یو پیری مقرر کیږی که موږ دا خلاص کړو امکان لری هغه پیری زموږ پسی راشی؟!

زبیر- دا بیا چا ویلی؟هسی خبره ده.

- ته غواړی دا خلاص کړی؟

زبیر- هو.

- سمده خلاص یې کړه خو د خلاص کولو سره یې سورت الناس،فلق او اخلاص ووایه ځکه چې دا سورتونه د جادو ضد سورتونه دی او جادو دفع کوی.

زبیر- سمده.

زبیر داسی حال کې چی سورتونه ویل پوښ یی لری کړو او کاغذ یې چې په یو پلاستیک کې تاو شوی وو، راوویست د پلاستیک د لری کیدلو وروسته یې په

خوشحالی کاغذ خلاص کړو، زه هم ورته خیر شوم چې وګورم څه لیکلی؟

د کاغذ څلور کونج کې څلور نومونه په غټ ټکو لیکل شوی وه شداد، قارون،فرعون او نمردو! د هغه نومونو په لیدو زبیر زما خواته راوکتل او ویې ویل: یو څو نومونه کم دی لکه چی لیاده یی وتلې هغه ولیکې؟ ابوجهل، ابولهب او هامان!
ما ته خندا راغله چی زبیر هم پخندا وویل: ولای د دی درې نفرو حق کی ظلم شوی دی دا هم غټ،غټ نامي کسان وه د دوی نومونه هم باید لیکل شوی واې.

- دا خبری ایله کوه وګوره نور څه لیکلي؟

د دی خبری سره یم دواړو بیا خپل فکر د ورقي خواته کړو عجیب شیان په ورقي وربانددی رسامي شوی وه، خو د ټولو څخه عجیب د ورقي منځ کې یو مثلث و چې د هغه په منځ کی یو شی لیکل شوی وو خو زیاتر الفاظ یې پاک شوی وه او نه ښکاریدل چې څه لیکل

شوی خو په دقت می چی وکتل نو یو نوم په هغه مثل کی لیکل شوی وو چې تراوسه پوره نه وو پاک شوی زبیر هم همغه ته فکر شو او ښه په ځیر یې ورته وکتل.
زبیر- عجیب ده!
- څه؟

زبیر- ګوره دا ټول لیکنه په عربی لیکل شوی خو دی مثلث کی دا یو ټکې په پښتو لیکل شوی او د هغه څخه عجیب لا دا چی یو نوم لیکل شوی!

- شاید دا جادو په همدی کس شوی وی؟
زبیر- شاید،امکان یې شته خو وګوره یوازی دا نوم نه دی دی مثلث کی دوه نور نوم هم دی خو بدبختانه چې هغه پاک شوی!
- دا نوم هم تقریبا پاک حساب کړه ځکه نه معلومیږی چې څه لیکل شوی؟

زبیر ورقه د میز څخه پورته کړل او د دوکان کړکۍ خواته له کوم خوا چې لمر راتلو هغه خوا ونیول او دواړو کوښښ وکړو ترڅو په مثلث کی لیکل شوی نوم ووایو خو سم نه ښکاریدی اخر کی ما وکولای شو د هغه لفظونه برابر کړم او ومی ویل: اها زبیر پوه شوم دا لومړۍ لفظ یې"ف" ده.

زبیر- دویم هم زما په نظر الف دی؟

- هو الف دی او و رپسی دا د "ط" پشان ما ته ښکاری؟

زبیر - ما ته هم "ط" ښکاری.

دومره مو د هغه نوم لفظونه پورته ښکته کړل چې بلاخره یو نوم مو ورڅخه را بهر کړو "فاطمه! "

د فاطمي د نوم د ویلو سره زبیر په غوسه کاغذ زما د لاس کش کړو او زما د څه ویلو مخکې څیری کړو، د هغه وروسته یې په غوسه وویل: دومره زحمت مې وویست چې اخر کی د دی منحوسې خاله نوم راشی؟

(د ابلیس ناول دویم پړاو بوجۍ ناول کي د فاطمي

کیسه راغلې دلته به په لنډ ډکو کې ووایم چې طاها او زبیر د فاطمه نومی جنۍ څخه چندان ښه خاطره نلری او زبیر خو بیخی ورسره جنګ کړی وو او تل یې ورته خاله ویل مطلب بوډۍ ښځه.)

پخندا مې د زبیر خواته وکتل او ومې ویل: ورک شه خیرن فاطمه خو یوازی یوه دانه نه ده چې تا ورقه څیری کړل دا ضرور کوم بل څوک وه!
زبیر- هرڅوک چې وه بس زما ذهن ته یوازی همغه نوم راغل. او افسوس زما په هغه دومره زحمت چې د دی لپاره می وویست، زه ځم یو شې د خوړلو لپاره راوړم تخو کوم څه نغواړی؟
- نه مننه.

زبیر په همغه تروش تندی له دوکان ووت ترڅو د سبا ناری لپاره ځانته یو شئ واخلې د هغه د تلو وروسته زه پاسیدم ترڅو د پرون پاتي مالونه ځای پرځای کړم،کرار، کرار لیګاوم او شیان مې ځای پرځای کول

چې دوکان دروازه وټکیده فکر مې وکړو کوم مشتری راغلی نو ځکه مخ مې وګرځو خو هیڅوک نه وو!
تعجب می وکړو ځکه ما د دوکان د دروازې ټک،ټک خپل اوریدلی وو!

خو بیا هم دومره توجه مې ونکړل او بیا لګیا شوم د شیانو په سم کولو چې دا ځل دروازه د لومړۍ ځل څخه په کلک وټکیدل داسی چې په غږ یې زما اوږی وپریدل په تلوار وګرځیدم چې وګورم څوک دی چی داسی دروازه ټکوی؟ خو بیا هم څوک نه ښکاریدل!
فکر مې وکړو چې شاید زبیر اوسیږی او شوخی کوی نو غږ مې کړل: زبیر ته یې!

د هغه خوا کوم غږ رانغلو د دوکان د باندی سړک خوا کې موټرونه په تګ راتګ وه رڼا ورځ وه او همدا رڼا ورځ زما زړه لږ ډاډمن کاوه او وېره یې راکم کول، شیان مې خوشی کړل او د دوکان د دروازی خواته ورغلم ترڅو وګورم څوک دی چې دروازه ټکوی؟ د

دوکان دروازه مې خلاصه کړه او بيرون ووتلم راسته
خواته مې وکتل هيڅوک نه وه خو همدا چې چپه
خواته مې وکتل ساه مې سينه کې بند شول يو کوچني
ماشوم وو خو... خو د انسان د ماشومانو پشان نه وو!
دوه کوچنې د بزی د ښاخونو پشان ښاخ يې درلود د
انسانانو پشان کالې اچولې وه خو د پښو ګوتي هم د
بزی پشان وه!

بغير له دی چې ما ته وګوری کرار بيغم زما د دوکان
مخکې ناست وو او د سرک هغه بلخوا ته يې کتل او
کله ناکله يې د ساتيری څخه زما د دوکان دروازه په
پښه وهل! د هغه په ليدو زه نه پوهيدم چې څه وکړم!
پوهيدم چې د پيری بچی دی ځان سره مې وويل چې
لاړشم او يو چاقو يا قيچی راوخلم که حمله يې وکړل
نو خپل د ځان څخه د دفاع لپاره يو څه ولرم ځکه
پيريان د داسی تيز شيانو څخه وېرېږی خو لا مې شاته
قدم لا نه و اخيستې چې يو کلک غږ زما د شالخوا

وویل: د دې ځاې ښخه لاړ شه ماشوم دا ستا د لوبي ځای نه دی.

د هغه غږ په اوریدو په تلوار مې شاته وکتل شموئیل زما شاته ولاړ وو! د دی ښخه مخکې چې زه ورته ووایم ما چیرته ساتیری کاوه؟ چې هغه د پیری بچي په تلوار زما د دوکان له مخی پاسید او وتښتیدو د هغه په تلو تازه پوه شوم چې شموئیل هغه ته دا خبره کړی وه نه ما ته! د هغه د تلو وروسته شموئیل زما خواته راوکتل او ویې ویل: ما درته یو ځل مخکې هم ویلی وه چې کوم ورځ که د غلطی ښخه دی کوم پیری ولید نو هیڅکله داسی ورته مګوره او ځان داسی ناګاراه واچوه لکه ته چی هغه نه ویني خو تا اراده وه چې دا ماشوم ووژنی!

- نه ... نه ... چا ویل چې زما اراده وه هغه ووژنم؟ شموئیل ښو شیبی په ځیر،ځیر راوکتل داسی لکه کوم بیعقل انسان ته چی ګوری د هغه د کتلو توان می نه

درلود نو ځکه مې وویل: منم چې نیت مې وو کوم چاقو یا قیچی راوخلم خو د هغه د وژلو لپاره می نه راخیست، یوازی د احتیاط لپاره مې راخیست که کوم وخت وغوارې راباندی حمله وکړې د ځان څخه دفاع وکړم!

زما په دی خبره شموئیل بغیر د څه ویلو د دوکان خواته روان شو ما هم یو هوسا نفس واخیست او ورپسی دوکان ته ننوتلم. زما په ننوتلو شموئیل زما خوا ته راوکتل او په تروش تندی وویل: هغه یوازی یو ماشوم وو، که تا د دی لځایه چې د هغه لاس او پښو او په سر باندی ولاړ ښاخونو ته کتلی وایې، لږ دی خپل نظر هغه خواته کړی وای کوم خوا ته چی هغه کتل نو لیدلی به دی وایې چې د هغه پشان نور کوچني پیریان هم هلته وه او ساتیری کاوه، دا پیری ستړې شوی و او دلته ناست و او ستا سره یې هیڅ کوم کار نه درلود خو تا د هغه د وژلو نیت درلود.

د شموئیل په خبرو بیحد شرمنده شوم ما یوازی د وېری څخه داسې اراده درلود ما فکر کاوه چې هغه به د کوم مضریت لپاره راغلی وی.
شموئیل: کوم پیری چی د مضریت یا تا ته د تکلیف رسولو اراده ولری هغه داسی نه راځی او دومره اجازه هم نه درکوی چی ته یې سر ته ودریږی او د هغه د وژلو پلانونه جوړ کړی.

- زه منم چې ما غلطی وکړل، خو ته هم ما درک کړه ما دا څو کالو کې د پیریانو څخه یوازی وهل ټکول لیدلي نو ځکه فکر می کاوه دا هم د هغوی له ډلی څخه دی.
شموئیل څو شیبی په ځیر راوکتل چې ما وویل: کوم کار دی زما سره درلود؟
شموئیل: هو.
- څه کار؟
شموئیل- اوس نشم ویلې.
- ولې؟
شموئیل- ځکه چې زبیر نږدی دی او اوس رارسیږی، زه

نن ماښام ستا کور ته درځم باید د یو موضوع په اړه ستا سره خبری وکړم.

د دی څخه مخکی چی ووایم د کوم موضوع په اړه غواړی خبری وکړی؟ چې زبیر دروازه خلاصه کړل او رانوت. د هغه د راتلو سره سم شموئیل هم غیب شو زبیر په مشکوک توګه شاوخوا وکتل او ویې ویل: کوم څوک راغلی وو؟

- نه ولې؟
زبیر- هسې احساس مې وکړو چې کوم کس راغلی وو، ښه دا خبری ایله کوه راځه ډوډۍ وخوره

زبیر درې بولاني او دوه پیالي شیدي راوړی وه زه هم وږی وم نو بغیر د کوم ست کولو لاړم او ډوډۍ خوړل می شروع کړل خو ټول فکر مې د شموئیل خواته وو، ولی داسی ناساپه راغلو؟ او د کوم موضوع په اړه غواړی زما سره خبری وکړی؟ ویل یې نن ماښام ستا کورته راځم! ایا د هغه جادو په اړه غواړی خبری

وکړی؟ یا دا چی هغه ورځ د ماما د کور په څاه کې کوم پیری چې ما د مار په شکل لیدلې و د هغه په اړه غواړی خبری وکړی؟ یوازی همدا دوه موضوع مې ذهن کې ګرځیدل او فکر مې کاوه چی ضرور غواړی د همدی په اړه خبری وکړی.

زبیر- کوم فکرونو کی ډوب یې؟
- هیڅ.
زبیر- خو زه دی خبری ته فکر کوم چی هغه جادو ولی باید تاته ستا د ماما د کور په څاه کی د یو پیری لخوا درکړل شې؟
- نه پوهیږم شاید د دی لپاره چی هغه خپل تعویذګر وو؟
زبیر- څه؟ ستا ماما تعویذګر وو؟
- هو،البته ډیر پخوا دا څو کلونو کیږی چې توبه یې ویستلې وه او تعویذونه یې نکول.

زبیر- نو عجیب نه ده چې د هغه کور کیدی داسې د مار په شکل پیری اوسیږی، د هغه کاروبار همدا وو.
- خو اوس مړ شوی او د مړو پسې څوک خبری نه کوی ښه کار نه دی، او هو ومی ویل کنه چی هغه د مرګ مخکی توبه ویستلې وه د دی کارونو څخه.
زبیر- اهوم خدای دی وبخښی خو پوهیږی ما د داسی کوډګر او جادوګرانو په اړه څه اوریدلی؟
- څه؟

زبیر- دا چې د جادوګر جادو تر هغه وخت نه منل کیږی ترڅو چی خپل خیمه په جهنم کی جوړه نکړی! نو که ستا د ماما جادو کار کړی وی نو ځای یی ...
- بنده کړه خوله دی، اول خو دا چې زما ماما جادوګر نه وو او دویم دا چی تر مرګ د توبی دروازه خلاصه ده نو ده توبه ویستلې نو امکان لری خدای به بخښلی وی؟!
زبیر داسی حال کی چی خپل پیاله شیدی څښل کرار وویل: خدای خبر.

تر ماذدیګر د زبیر سره دوکان کی وم د ماذدیګر اذان وروسته دوکان مو بند کړو او د کور پخوا روان شو، خو زبیر زما سره رانغلو هغه یوځای کار درلود نو ځکه زه یوازی روان شوم، د یو څلور لاری څخه تېرېدلم چې بیحد د موټرانو د بیروبار له سبب نیم ساعت په ترافیک کی بند پاتې شوم، دومره مې خلق تنګ شو هلته چې هسې مې هخوا دیخوا کتل شروع کړل ترڅو خپل وخت تېر کړم، چې ناساپه نظر مې په یو کس ولګید چې دوه سترګی ماته نیولي وه!

لومړۍ می فکر وکړو چی غلط به متوجه شوی اوسیږم او هغه به کوم بل چاته ګوری؟ نو ځکه خپل شاوخوا مې وکتل ترڅو هغه کس پیدا کړم، خو نه هغه سړی د رښتیا هم دوه سترګی ما ته نیولی وه! ما هم څو شیبې وروکتل خو ناساپه د شموئیل خبره می رایاد شول چی راته ویلې وه که پیریانو درته کتل نو ته ځان داسې بیخبره واچوه لکه ته چی هغوی نګوری؟

که څه هم هغه سړی ډېر عادی و او زما په نظر انسان ښکاریدو خو د احتیاط لپاره مې سترګی لاندی ځمکې ته ونیول او ځان مې داسی ونیو لکه زه خو تا بیخې وینم نه! ښه وو همغه شیبه کې لاره خلاصه شوه او زه په تلوار بغیر له دی چې یو ځل د هغه کس خوا ته وګرم له هغه ځایه ولاړم، کور ته چې ورسېدم نو د ذوالفقار موټر مې کوڅه کې ولید کله چې خپل کور ته ننوتلم نو اقرا راته وویل چې ذوالفقار د استاذ کور کی ما ته په تمه دی او نن شپه موږ ټول د استاذ میلمانه یو ما هم مونځ وکړو او د استاذ د کور خواته ورغلم.

ذوالفقار د استاذ سره په همغه کوټه کې ناست وو کوم کې چې ما لومړۍ ځل د استاذ څخه پکې درس زده کړی وو د هغه کوټی په لیدو په خندا مې اقرا ته چی زما څنګ ته راروانه وه ومې ویل: په یاد لری څو کاله مخکې کله چې زه ستاسو کور ته راتلم او د استاذ څخه به مې درس زده کاوه نو تا به تل موږ ته چای

راورېو او د کوټې د دروازې شاته به دې کيخودو او دروازه به دې ټکول؟

زما په دی خبره اقرا هم لکه چی هغه وختونه په یاد شول چې پخندا يې وويل: هو لومړی ځل چې ته د بابا سره زموږ کور ته راغلې نو ما درته د کوټې د پردی تر شاه کتل.

- نو ولې د پردی تر شاه؟
اقرا- نو مخامخ درغلې واې؟
پخندا مې وويل: هو نو څه کیدل؟
اقرا بد،بد راوکتل او ویې ویل: او دا کتل می هم ځکه وکړل چې بابا لومړی ځل يو نفر کور ته راوړی وو! د بابا عادت نه دی چې خپل کوم شاګرد یا کوم بیګانه کس کور ته راوړی، نو ځکه کله چې لومړی ځل يې ته لځان سره کور ته راوړی نو موږ ته ډېر عجیب وه.
- اهوم.

زه هغه کوټې ته ننوتلم کوم کې چی ذوالفقار او استاذ وو او اقرا خپل د مور او خور څنګ ته بل کوټې ته ولاړه،کوټې ته په ننوتلو په لوړ غږ مې سلام واچو چې ځواب کی استاذ او ذوالفقار دواړو علیک وویل،
غوښتل مې کښینم چې ذوالفقار لځایه پاسید! د هغه په پاسیدو په حیرت مې وروکتل خو هغه په بیغم خیال ولاړ و ترڅو زه ورسره سترې مشی وکړم! که څه هم د ذوالفقار کار راته حیرانونکي ښکاریده خو مجبور ورسره په بغل کشې مې سترې مشی وکړل او د هغه څنګ ته کښیناستلم، د ذوالفقار دی کار ته مې بیحد خندا راغلی وه یعنی مورې پرون یو بل سره ولیدل خو نن مو داسی بغل کشې او سترې مشی وکړل لکه کلونه مو چی یو بل سره نه وه لیدلې.

ذوالفقار- فکر مې نه کاوه چې په دی حال به دی کار ته ولاړ شې، سهار لس بجو خواته راغلم ستا د کور خواته خو ته نه وی.
پخندا مې وویل: څه مرمۍ خو می نه وخوړلی

ذوالفقار چې د پاسیدو او چیرته د تګ نه وم.
ذوالفقار په دروند نظر راوکتل او ویې ویل: یو همدا مرمۍ پاتی نور خو هر رقم ټک دی خوړلې.
نه مې غوښتل زما د وهلو، ټکولو کیسي دی د استاذ مخکې بیان شې نو ځکه خبره مې بدل کړل او ومې ویل: لور دی چیرته ده؟
ذوالفقار- خپل د مور سره هغه بله کوټه کېده.

همدغه وخت کې محمد کوټې ته راننوت او د همغه ځای په خوشحالي چغي وهل شروع کړل او عجیب لفظ یې زده کړی وو! د بابا لځایه ویل زما بابا! دومره په خوږ ژبي،په شوق او په ناز باندی دا لفظ ویلو چې ذوالفقار پخندا وویل: زما لور لا دومره ناز نلری څومره چی دا ستا زوی ناز او ادا لری.

غوښتل مې ځواب ورکړم چې محمد راغلو او ځان یې زما غیږ کې واچو د هغه په راتګ ذوالفقار ته ځواب ورکول مې لیاده ووتل څو ځله مې پر مخ ښکل کړو او

هغه هر څل خپل د مخ بل اړخ راړو چې دا خوا پاتي د هغه دی کارو ته استاذ او ذوالفقار خندل اخر کې ذوالفقار محمد زما څخه واخیست او ورته ویې ویل: لږ وشرمیږه تخو جنۍ نه یې چې دومره ناز کوی لږ د نرانو پشان اخلاق ولره.
خو محمد ورته په غوسه خپل په نیم ژبه وویل: ن... ن .. زما ... بابا ...

د ماښام د ډوډۍ تر تیار کیدلو موږ دري سره لګیا وو د محمد سره مو مجلس کاوه! عجیب ده کنه خو زموږ د خبرو څخه ډیر د محمد خبرو خوند کاوه نو ذوالفقار او استاذ کوښښ کاوه هغه په خبرو کړی او هغه هم د دواړو څواب په بیحد ناز او نخرو ورکو چې د هغه په دی کار به موږ ټولو خندل د ډوډۍ خوړولو وروسته چای راغلل او د چای څښلو وخت کې د ذوالفقار ښځه، اقرا،خاله او د کور نور نفران هم همغه کوټه کی راغلل

کوم کی چی موږ ناست وو، ما په بیحد کرار انداز د ذوالفقار د ښځې سره ستړې مشی وکړل او راحیل مې ورڅخه واخیستل، دومره ماشالله ښایسته ماشومه وه چی حد یی نه درلود شکل او صورت یې ټول خپل مور ته تللی وه همغسی عاجزه او خاموش.

خو یوازی شکل یی معصوم وو نور ماشالله د اخلاقو له لحاظ د ذوالفقار دویم اتوکاپی وه، یعنې همغه یوه شیبه کې بیچاره محمد دومره و واهه چې اخر ما ورڅخه راکش کړو او ذوالفقار ته چې پخندا یې خپل د لور دی کارنامو ته کتل ومې ویل: لږ دی دا لور درکنټرول کړه زما زوی مړ کړو.

زما په دی خبره د ذوالققار خندا لاپسې زیاته شوه او داسی حال کی چی خپل پیاله چای راخیستل ویې ویل: زه په دی موضوع کی هیڅ کوم کار نلرم، ستا زوی دی نر شی او خپل د ځان څخه دی دفاع وکړی.
- منم چې اوس ستا لور ورباندی زوروره ده خو دا

خبره هیڅکله لیاده مه باسه چی هلکان چې هرڅومره کمزوی شې بیا هم د یو جنۍ چاره کولای شې، څو کاله وروسته کله چی محمد لږ غټ شې بیا هغه وخت ستا د لور د وهلو نمبر راځې.

زما په خبره ذوالفقار پخندا شو او ویې ویل: غم مکوه تر هغه وخت زه خپل لور ته د هلکانو د وهلو طریقه هم زده کوم.

د ذوالفقار په دی خبره موږ ټول پخندا شو،چې ذوالفقار خپل جیب ته لاس کړو او زما موبایل یې ماته راکړو او ویې ویل: واخله دا لیونی موبایل دی پرون ټوله شپه خاموش وو سهار خوا ته ناساپه روښانه شو او زنګونه راتلل ورته شروع شول ټول خوب یې راته خراب کړو.

په حیرت مې خپل موبایل د ذوالفقار د لاس څخه واخیست او ومې ویل: دا څنګه روښانه شو؟ دا خو مات وو؟
ذوالفقار- هسې چینایی موبایل دی خپل خاموش کیږی

او خپل روښانه کيږی، زما منې يو بل نوی موبايل واخله دا څو کاله کيږی چی همدا يو موبايل دی لاس کيدی.
- ښه وو چی و دی ويل تا ماته چنايی موبايل راوړی وو.
ذوالفقار- ما تاته چنايی موبايل راوړی وو؟
- هو نو، همدا موبايل تا ماته راوړی وو لياده دی وتلی؟
ذوالفقار- کله می راوړی وو؟

پخندا می وويل: امممم تقريبا اته،نهه کال مخکي کله چې د لومړۍ ځل لپاره د هندوستان څخه راغلی نو تا دا موبايل دی ماته په سوغات کې راوړی وو.
ذوالفقار په حيرت وويل: رښتيا وايې؟
پخندا مې وويل: په قران همغه موبايل دی.
ذوالفقار- ما اوريدلې وه چې د اقتصاد څخه فارغ شوی کسان ډير عجيب غريب کارونه کوی خو باور می نه راتلو.

د ذوالفقار په دی خبره پخندا می وویل: نو اوس سم صحیح باور وکړه موږ د اقتصاد پوهنځي محصلین همداسی اقتصادی فکرونه کو.

زما په خبره ذوالفقار کرار وخندل او ویې ویل: سبا بیکار یی؟
داسي حال کې چې خپل موبایل مې پورته ښکته کاوه او حیران وم چې دا نو څنګه خپل ناساپه جوړ شو ومې ویل: اهوم سبا جمعه ده رخصت یم خو ..
ذوالفقار- خو څه؟
د سترګو له کونج مې وروکتل او ومې ویل: خو ستاسره هېڅ ځای نځم.
ذوالفقار په تروش تندی وپوښتل: ولی؟
- هسې لږ کار لرم ځکه.
ذوالفقار- څه کار لری؟

د ذوالفقار کارو ته حیران وم! یعنې د هغه دومره رسوای وروسته بیا هم هغه غوښتل ما د هغه خلکو

مخکې ویسی، یعني هرڅومره چې زه زور وهم تر څو د دی خپلوانو او قومیانو څخه لری شم هغومره ذوالفقار کوښښ کوی چې ما د هغوی خواته کش کړی، زړه مې غوښت سم په واضح توګه ورته ووایم چې زه نغواړم ستا د بنی اسرائیل قوم سره تګ راتګ وکړم خو ځکه چې د استاذ کور کی ناست وم او استاذ د داسی خبرو څخه بد راتلل نو څه می ونه ویل، استاذ بیحد کرکه درلود له دی چی د خپلوانو سره تګ راتګ بند کړم حتا استاذ یو شرط د اقرا د راکولو په وخت کی همدا کیخودلې و چی د اقرا د غوښتلو لپاره باید بابا ویسم.

سم واضح راته هغه وخت وویل چې زه دی د کاکا په غوښتني خپل لور تا ته نه درکوم او باید خپل پلار راوړی، یو دلیل چې د بابا سره می دا څو وخته بیخې تګ راتګ بند کړی همدغه دی،یعنی کله چی ذوالفقار ورته وویل طاها په یو جنۍ مئین شوی او ته راشه د مشر په توګه د پلار په توګه هغه جنۍ ورته وغواړه نو لومړی خو څلور ساعت فکرونه یی وکړل او ځان یی

کش راکش کړو خو کله چی ذوالفقار ورته وویل یوازی طاها نه بلکې ما ته هم په همغه کور کی جنۍ وغواړه نو راغلو مطلب خپل د ورور پخاطر راغلو نه زما پخاطر.

خو بیا هم ما څه ونه ویل او خوشحال وم چی راغلې خو نه پوهیږم د استاذ په لیدو څه وشول خو بابا یو دم لیونی شو او ویې ویل" ترڅو چی زه ژوندی یم اجازه نه درکوم د دی جنۍ سره واده وکړی." یعنی ټول راضی وه خو بابا ویل"نه" او دومره په کلک باندی"نه" وویل چی هېڅ رقم خپل د خبری څخه نه پر شا کیدی، د هغه خوا څخه هم استاذ یوه خبره نیولي وه چې پلار به دی مرکې ته راوړی کنه لور مې نه درکوم، یعنې زه بدبخت په دوه لارو کې حیران پاتې وم نه استاذ راضی کیدو نه هم بابا.

اخر کی ذوالفقار نه پوهیږم بابا ته څه وویل چی هغه یی راضې کړو او بابا په داسی یو شکل راغلو هغه

مرکې ته چی نه واې راغلې بهتره وو! ټول مرکه کی یوه خبره لا ونکړل یوازی په شمار باندی لس دقی کښیناست او همدا چی دسمال مو را واخیست بابا د ټولو څخه لومړی له کوره ووت د هغه په تګ باندی ذوالقرنین کاکا او یو څو نور خپلوان چی راغلی وه هغوی هم پاسیدل او د تګ مخکې ما د ټولو خبری اوریدل چی یو دبل سره یې ویل پلار یی په دی واده راضی نه وو خدای خبر چی دا واده څخه به د خیر ورځ وګوری!

یعنی سم خیر کار کی بابا راته شر جوړ کړو او زه یی ټول خپلوانو ته وشرمولم څومره خبری هغه ورځ زما او د اقرا پسې وشول یو ویل دا جنۍ سره د وخت جوړ وو او اوس یی د نوم بدی ورکړل نو ځکه د هلک پلار خپه دی، بل ویل شاید هلک کی کوم مشکل وو چې داسی وکړل خلاصه چې سم خوشحالي کی بابا راته غم جوړ کړو او اوس زه کوښښ کوم هغه خبری

لیاده وباسم خو ذوالفقار مې نه پرېږدی او هر دقه ما د هغوی خواته ورېی.

زما واده کې زما مور او خویندي د بیګانه ښځو پشان راغلې او یو ساعت کښیناستل او بیا ولاړل، ځکه چې بابا اجازه نه وه ورکړې او هغه یو ساعت هم شاید بابا د ذوالفقار د خاطر اجازه ورکړې وه، داسی حال کی چی ادی د طاهر په واده یوه هفته مخکی سیل او تماشا نیولې وه خو زما ... ژوره ساه می واخیسته او بغیر له دې چی د ذوالفقار ځواب ورکړم لځایه پاسیدم او له کوټې ووتم، ما د دی خپلوان د دی پلار د دی ماماګانو، کاکاګانو البته بغیر د ذوالفقار څخه نور د هیچا څخه د خیر ورځ نه وه لیدلې خو بیا هم ذوالفقار نه پوهیږم ولې دومره لیوال دی چې ما د هغوی خواته کش کړی؟

زه همداسې حویلۍ ته راوتلی وم تر څو لږ مې عصاب پر ځای شې، او داسی خبره د استاذ په کور کی د دی

دومره کسانو په مخکی ذوالفقار ته ونکړم چې سبا ورځ ورته د کتلو سترګي ونلرم خو همدا چی قدم می حویلۍ کی کیخود احساس می وکړو چی د پوزي څخه مې یو شی راځی کله چی لاس مې ونیو نو ومی لید چی پوزه مې په وینو شوی!

ژر د حویلۍ کونج کی د اوبو د نل خواته ورغلم او خپل په مخ مې اوبه وشیندل ترڅو وینه راتلل بند شې څو شیبی وروسته تازه د پوزی څخه مې وینه راتلل بند شوی وه چی د حویلۍ دروازی سره می یو کس ولید البته نه ښکاریدو او یوازی د سایي پشان وو خو دومره ډاډمن وم چې کوم سړی دی! لومړۍ می فکر وکړو چی استاذ یا ذوالفقار به اوسیږی خو کله چی سایه لږ وخوځیده او په هغه تور شپی کې دوه سترګي وځلیدل نو پوه شوم چې استاذ یا هم ذوالفقار نه دی، بلکې هغه دوه سترګي ما ته څاه کې د هغه مار د سترګو پشان ښکاریدل همغسې ځلیدونکي او ډارونکي.

د هغه سترګو په لیدو مې د زړه درزا یوسلو اتیا ته پورته شوی وه او هره شیبه په تمه وم چی کوم عجیب غریب او ډارونکي شئ د هغه سایي څخه راووځی او پر ما برید وکړي خو ناساپه شموئیل له هغه تیاری څخه راووت او پخندا یې وویل: کله چې وېرېږې بیحد جالب ښکاری ماشومه!

د شموئیل په لیدو بې اختیاره می یو هوسا ساه له سیني ووتل خو ډیر ژر د هغه وېرې ځای غوسی ونیو او ومی ویل: زما خو دی زاره راوچول او ته وایي جالب ښکاری؟ ایا تاسو ټول پیریان همداسی مضر یاست؟ او خپل د وخت تیرولو لپاره یو انسان تر مرګ ډاروی؟
شموئیل پخندا وویل: ما یوازی غوښتل وګورم ته چی کله د کوم پیری سره مخ کیږی نو څه کار کوی؟
په غوسه مې وویل: اوس دی ولیدو چې څه کار کوم؟
شموئیل په همغه مضر خندا وویل: هو ومی لیدو یوازی خپل ځای کی دربږې او خپل فاتحه واي.

بیحد می زړه غوښت ویې وهم! خو پوهیدم چې زور
مې ورباندې نه رسیږی او نشم وهلې، نو زړه مې
غوښت کنځل ورته وکړم خو بدبختانه چې کنځل مې
هم نشو ورته کولی.
شموئیل: اوممم د وهلو څخه راتېر شه کنځل هم زه تر
یو حد شاید وزغمم خو ډیر نه.
لومړۍ په حیرت می وروکتل خو څو شیبی وروسته
می یاد ته راغلل چی زما مقابل کې ولاړ کس شموئیل
دی او هغه کولای شی هغه خبری چی موږ لځان سره
په ذهن کې کو واوری نو ځکه بغیر له دی چی څه
ووایم مخ مې وګرځو او داسی حال کی چې خپل مخ
می وچ کاوه ومې ویل: د څه لپاره راغلی یې؟

شموئیل: ویلي مې وه درته چې درسره کار لرم.
- هو ویلي دی وه خو فکر مې نکو چې داسي راشي.
شموئیل- طاها زه کولای شم ستا د ذهن خبری واورم.
په حیرت مې وویل: هو پوهیږم.
شموئیل- بیا نو ضرورت نشته چی په خولی خبری

وکړی هغه هم په دومره لوړ غږ ضیالحق دیخوا تا ته درګوري.

د شموئیل په دی خبره په تلوار مې د هغه کوټې خواته وکتل کوم کې چی استاذ او ذوالفقار دوي ناست وه، زما د کتلو سره سم د کوټې پرده ښکته شوه، یعنی د رښتیا استاذ راکتل؟
شموئیل: هو هغه دیخوا کتل، اوس خبری نه کیږی لاړشه خپل مجلس وکړه ماښام خواته که څوک نه وه او ویښ وی بیا زه راځم کنه یو بل وخت به خبری وکړو.
کرار می وویل: د څه موضوع په اړه غواړی خبری وکړی؟
شموئیل: داسی په تلوار نه ویل کیږی.
- نو ځنګه و...

لا می خبره پوره کړی نه وه چی دا ځل د استاذ غږ مې د کوټې د دروازی سره واورید چی ویی ویل: خیرت

خو دی محمد طاها؟ ولی نه راځی؟
- لږ کار می درلود اوس درځم.

عجیب وه شموئیل هملته ولاړ وو خو استاذ لکه چی هغه نه لید! یوځل بیا مې د شموئیل خواته وکتل چی هغه وویل: ورځه نور یی مه مشکوک کوه بیا وروسته خبری کوو.

بغیر د نور څه ویلو روان شوم خو د تګ وخت کی مې شاته وکتل خو شموئیل نور هلته نه وو کوټی ته چی ننوتلم استاذ یو ځل بیا خپل پوښتنه تکرار کړل او مجبور ما ورته وویل چې پوزه مې ناساپه په وینو شول نو ځکه یو څو دقي بیرون ولاړ وم د استاذ حرکات او کارونه لږ عجیب شانتي وه په بیحد مشکوک نظر یی زما خواته راکتل!

زما په خبره چی ومې ویل پوزه مې په وینو شوی وه ذوالفقار په اندیښني وویل: ولی دی پوزه په وینو شول؟

- نه پوهیږم نن لږ ګرمی وه شاید د هغه له سبب وی؟
ذوالفقار- خو دومره هم نه وه چی بیخې تا پکي جل ووهی، آیا څاه کې د ولیدلو له سبب خو داسی نه یې شوی؟

د ذوالفقار په دی خبره د اقرا او د هغه د مور د دواړو ورخطا غږ پورته شو چی ما پخندا وویل: نه هسی کوم خبره نه ده او هو دومره وینه هم نه وه.

ذوالفقار په غوسه راوکتل او ویې ویل: خبره د لږ او ډیر وینو نه ده، هسی د پوزی څخه وینه راتلل بی دلیل نه وی هغه هم داسی حال کی چی پرون تا یو ټک خوړلې او امکان لری د هغه له سبب وی!؟
- ذوالفقار کوم خاص خبره نه ده.

داسی په کرار انداز مې ذوالفقار ته دا خبره وکړل او د سترګو په اشاره مې ورته استاذ او د هغه کورنۍ وښودل چی ذوالفقار هم مطلب واخیست او نور د مجلس تر اخره یی ماته څه ونه ویل خو کله چی کور

ته تلو نو د هغه مخکی سم خبری راته وکړل او څو ځله یی راته وویل چی سبا یو ډاکتر ته ولاړ شه کنه زه دی په زوره وړم، ما هم د دروغو وویل چی سمده! د ذوالفقار د تلو وروسته موږ هم خپل د کور خواته روان شو او هلته بیا درې ساعت اقرا زما عصاب راوخوړل چې ډاکتر ته لاړ شه او ډاکتر ته لاړ شه.

خو بلاخره هغه مې هم راضی کړل ترڅو زما بدبخت د سر لاس واخلی د شپی دونیمي بچی وه او زه تراوسه ویښ وم ترڅو شموئیل سره خبری وکړم. کله چی د اقرا او محمد د ویده کیدلو څخه ډاډمن شوم نو له کوټی ووتلم د اوبو څښلو لپاره اشپزخانی ته ولاړم ځانته می پیاله کی اوبه واچول او لا می یې یو غړپ نه وو ورڅخه کړی چی د شالخوا می د شموئیل غږ واورید.

شموئیل- دا څنګه کیسه ده؟ ایا ته څاه کی غورځیدلی وی؟

د هغه د راتلو څخه دومره ونه ډار شوم څکه راتلو ته
يې په تمه وم خو د هغه په دی خبره په حیرت می
وروکتل او ومې ویل: ته نه وی خبر؟
شموئیل- نه!
- عجیب ده ما فکر کاوه ته د همدی خبری لپاره راغلی
ترڅو راته ووایی هغه ځاه کی د مار په شکل پیری
څوک وو؟ او ولی غوښتل ما ته تکلیف راورسوی؟ او
بیا ولې ناساپه ورک شو؟ او هغه جادو چا او د څه
لپاره زما جیب کی کیخودلې وو؟

زما د خبرو د خلاصیدو وروسته شموئیل په حیرت
راوکتل او ویې ویل: زه د دی خبرو څخه په یو هم نه
وم خبر، پوره کیسه راته وکړه څنګه چل وو؟ ته چیرته
تللي وی چې دا شیان دی ولیدل؟

په لنډ ټکو کې مې شموئیل ته د هغه ورځې کیسه وکړه
زما د هر لفظ سره د شموئیل د څهری رنګ بدلیدو کله
چې مې خبری خلاصي شوی نو هغه بغیر د څه ویلو

خاموش ولاړ و زه هم څو شیبې صبر شوم ترڅو هغه لږ فکر وکړی خو د هغه فکر کول بیخی زیات شول تر دی چی زما حوصله تنګه شوه او ومې ویل: ما فکر کاوه ته تل پر ما فکر ساتي او ما ویني!

زما په خبره شموئیل په ګنګس انداز راوکتل او ویې ویل: چا ویلي چې زه تل پر تا فکر ساتم؟ زه هغه وخت پر تا فکر ساتم کله چې پوه شم په خطر کې یې او مرستي ته اړتیا لری.
- نو څنګه هغه ورځ پوه نشوی چی زه خطر کی یم؟ نږدی وو هغه مار .. البته بهتره به وی چی ووایم هغه پیری ما مړ کړی خو دا هم ښه شو زما دعاګانو کار وکړو.
شموئیل- نه ستا دعاګانو هغه پیری ستا څخه لری نکړو.
- څه؟ نو بیا چا لری کړو؟ تا خو ویل ته نه وی خبر! بیا څنګه دی زما سره مرسته وکړل؟

شموئیل- خبره همدلته ده هغه ورځ بیخي ما ته دا احساس ونشو چی ته په خطر کی یې، نو ځکه ستا خوا ته درنغلم خو یو بل کس ستا سره مرسته کړې.

- مطلب یو بل پیری؟

شموئیل- اهوم.

- ایا ته یې پیژنی؟

شموئیل- په یو دانه شک لرم خو ډاډمن نه یم.

- ښه نفر دی که بد؟

شموئیل راوکتل چی ما ژر وول: مطلب مې ستا کوم ملګری یا شناخته دی؟ هغه زما سره مرسته وکړل که څه هم ما ونه لیدو.

شموئیل- تا لیدلی.

- څه؟

شموئیل- تا هغه لیدلی.

- چیرته؟

شموئیل- نه پوهیږم چی څنګه دی لیدلی خو دومره پوهیږم چی تا د هغه سره ملاقات کړې.

- نه دا امکان نلری ما ستا بغیر د هیڅ کوم بل پیری سره لیدنه نه ده کړې.
شموئیل- پوهیږې طاها! موږ پیریان یو بل څنګه پیژنو؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چی هغه وویل: په بوی! موږ یو بل په بوی کولو پیژنو هغه ستا خواته درغلی وو او زه ستا د بدن څخه د هغه بوی احساس کولای شم، هغه د ډیر نږدې څخه ستا سره ملاقات کړې.

- شاید ته غلط شوی اوسیږې ما درته وویل چی هغه د مار په شکل پیری ځان په ما وپیچو شاید د هغه بوی تا احساس کړې وی؟
شموئیل- نه زه غلط نشم کیدلې هغه د مار په شکل پیری اصل کی *** د ذات دی هغوی زیاتر په داسی ځایونو کی ژوند کوی هغه ستا سره هیڅ کوم دښمنې نه درلود ته د هغه ځای ته ورغلی وی، نو هغه هم خپل د کور د ساتنې لپاره غوښتل پر تا برید وکړی خو کوم

کس چی هغه پیری ستا څخه لری کړو ایا تا هغه بیخې ونه لید؟

- نه، ما څاه کی یوازی همغه یو مار ولید او بس! او تا وویل لری کړو مطلب مړ کړی نه دی؟
شموئیل- نه مړ کړی نه دی یوازی ستا څخه یې لری کړی خو ولی؟

شموئیل بیحد دی خبرو ته فکرمند وو، خو ما ورته دومره فکر نه کاوه، ځکه هغه پیري چې هرڅوک وو هغه زما سره مرسته کړی وه نو مرسته خو تل ښه نفر کوی کنه؟

- شموئیل!
شموئیل- هوم.
- هغه تا غرمه ویل غواړی د یو موضوع په اړه زما سره خبری وکړی.
شموئیل څو شیبی راوکتل او بیایی کرار وویل: کوم

خاص موضوع نه وه غوښتل مې ووایم په ځان پام ساته.

د شموئیل په دې خبره مې په حیرت وروکتل، د هغه د خبرو څخه په واضح توګه ښکاریدل چې یوه خبره زما څخه پټېږي! نو ځکه غوښتل مې ورته ووایم چې څه خبره زما څخه پټېږي؟ خو زما د څه ویلو مخکې هغه ژر وویل: زه کار لرم باید لاړ شم، بیا وروسته خبرې کوو.

او بیا بغیر له دې چې په تمه شې چې زه کوم څه ووایم زما د سترګو د وړاندې څخه غیب شو، د هغه دې حالت ته بیحد حیران شوم ولې ناساپه داسې شو؟ ایا امکان لري هغه بل پیري چې زما سره مرسته کړې کوم غلط مطلب ولري خپل د کار څخه؟ او شموئیل څه غوښتل ووایي چې ناساپه د ویلو څخه یې پښیمانه شو؟

***

سهار که څه هم جمعه وه او زه بیکار وم خو محمد دومره زما په سر او اوږو پورته ښکته شو او دومره ډېر یې چغي بوغی کړل چې مجبور خوب مې پریخود او پاسېدم، اقرا کوټه کی نه وه او دا شیطان یې ماته پریخودلی وو غیږ کې مې راوخیست او د کوټې ووتم زړه می غوښتل لږ پټکه په اقرا وکړم. هسې زه یو نن بیکار شوی وم نو یو همدا نن خو به یې دا خپل زوی منع کړی وایې ترڅو زه لږ خوب وکړم.

خو کله چی هغه مې ولیدل چی له یو خوا کالۍ راخیستی مینځې او له بلخوا ژړ،ژړ لګیا ده او کور پاکوی او دی منځ کی دیګ هم پخوی نو خپل خوله مبارک مې بنده ونیول، محمد مې راوخیست او دهلیز کې ورسره په لوبو لګیا شوم ترڅو اقرا خپل کارونه خلاص کړی، هغه هم په تلوار څو ځله بغیر د څه ویلو زما د مخ څخه اخوا دیخوا تېر شول خو دریم ځل چی حویلۍ خواته ولاړل نو یو خبری ته می فکر شو!

هغې خپل چپه خوا نیولی وه او داسې ښکاریدل لکه چې درد لری؟ ورپسې ورغلم کالو ته ناسته وه زه یې مخامخ ودریدم او د هغې پریدلې رنګ ته په کتو مې وپوښتل: ښه یې؟
زما په خبری هغې راوکتل او په کمزوری غږ یې وویل: هو ښه یم.

- خیرت خو دی؟ یو وخت کې لګیا یې هم کالۍ مینځې، هم کور پاکوی او هم دیګ دی باندی کړی کوم خبره ده؟
اقرا- خیرو خیرت دی نه کوم خاص خبره نشته یوازی نن زما د خاله لورګاني راځې، نو ما ویل شاید دلته زموږ کور ته هم راشې ځکه ژر،ژر لګیا یم او کور پاکوم هغوی بیخې زموږ کور ته نه دی راغلی نغوارم لومړۍ ځل راتګ باندی فکر وکړی زه د کور دساتلو نه یم.

- عجب! دا رنګ دی ولی داسې پریدلې؟ کوم ځای دی درد کوی؟

اقرا- نه، ولي؟
-هومم نو ستا په نظر زه ړوند هم يم؟
اقرا- نه خدای دی نکوی زما مطلب داسی نه وو.
- رنګ دی پریدلې ملا دی درد کوی؟

اقرا داسی حال کی چی کالۍ مینځل کرار وویل: نه پوهیږم دا څو ورځی کیږی درد لرم ما فکر کاوه شاید د میاشتنې ناروغی له امله وی خو ...
- خو څه؟

اقرا داسی حال کی چی سر یې همغسی ښکته نیولی وو په شرم باندی وویل: خو پرون مریضه شوم خو اوس هم درد لرم،فکر کوم ګرده مې درد کوی؟
- ګرده؟
اقرا- هو یو ځل مخکې هم داسی په درد شوی وه بیا بابا ډاکټر ته ویوړم، ډاکټر ویل لږ میکروب لرم او دوا یې راکړل د هغه دوا سره ښه شوم.
- کوم ډاکټر وو؟

اقرا- څه یی کوی؟
- څه یې کوم؟ خو تا ورته هلته پاسه راځه.

اقرا- نه .. نه ضرورت نشته دومره درد هم نلرم.
- خو زه فکر کوم ډېر درد لری.
اقرا- نه دومره درد نلرم ښه یم، زه اصلاً داسی دردونه په درد نه شمارم.
د اقرا په دی خبره خندا راغلل او ومې ویل: هو نو تخو باهو بلې یی دا دردونه خو تاته هېڅ نه دی.

اقرا د شرم څخه خپل شونډه وچیچل او سر یې لاپسی ښکته کړو او ویې ویل: نه مطلب می دا نه وو خو باور وکړه دومره درد نلرم پرېږده خپل کار وکړم نغوارم خپل د خاله لورګانو ته یو بی سلقي ښځه ښکاره شم چې خپل کور نشی پاکولي.
- لومړۍ خو هر څوک چې داسی فکر ستا په اړه کوی بد کوي، او دویم دا چې کور پاک دی دا کالۍ هم اوس

پرېبږده راځه لومړۍ لاړشو ډاکتر ته.
اقرا- نه ډاکتر ته نځم.

هرڅومره چی اقرا ته مې وویل راځه ډاکتر ته او وروسته به خپل کارونه وکړی، خو هغې ونه منل ماته یې طبعیت ښه نه ښکاریدو د اقرا دا بد عادت وو ترڅو چی خپل کارونه یې نه وایی پوره کړی نو که خدای مکړه تر مرګ هم تللی وای پراو یی نه درلود کله چی د هغې ضد می ولید نو محمد مې هملته پرځمکه خوشې کړو او د اقرا له څنګ یو بل لګن(تشت د کالو مینځلو کاسه) راوخیستل او هغی ته مخامخ د کالو مینځلو ته کښیناستم زما په دی کار اقرا ځو شیبی هک حیران راوکتل او بیا یې په همغه تعجب وپوښتل: دا څه کوی؟
- نه ګوری کالي مینځم؟!

اقرا- نه ... نه ضرورت نشته ولاړ شه هسې زما کالی خراب کوی.

پخندا مې وويل: ما ته وايې کالۍ خراب مینځم؟
اقرا د کالو مینځلو څخه لاس اخیستی وو او پخندا یې زما خواته راکتل ویې ویل: هو نو کالۍ مینځل دی نه زده هسې ټول کالې رنګ او روی لمینځه وړی.
- اووو په کراره قربان! هېڅکله یو محصل ته چې د کور څخه یې څلور،پنځه کاله لری ژوند کړی مه وایه چی کار دی نه زده، ما نه یوازی خپل کالۍ بلکی د ذوالفقار کالۍ لا مینځلی.

زما په خبرو د اقرا خندا لا زیات شوه او ویې ویل: د ذوالفقار اوخښی کالۍ تا مینځل؟
- هو، ذوالفقار د کالو مینځلو او کور پاکولو څخه بد راتلل نو ځکه هغه یو دوه کال چی د ذوالفقار کور کې اوسیدم کارونه مو یو د بل سره ویشلي وه، کالۍ مینځل،کور پاکول زما کار وو او آشپزی کول او کله ناکله لوښی مینځل د ذوالفقار کار وو، خو اخر کې ذوالفقار په زوره باندی لوښي مینځل هم زما تر غاړې کړل.

اقرا- وی ته وقران د خندا څخه دی مړه کړم،ایا د رښتیا تا او ذوالفقار اوخښی د کور کارونه یو د بل سره تقسیم کړی وه؟
پخندا مې وویل: هو، نو موږ پوخ مجردان وو بله چاره نه وه خپل کارونه مو خپل کول البته باید ووایم زیاتر کارونه ما کول ځکه ذوالفقار په امر ورکولو کی تکړه وو او اوس هم تکړه دی، نور خو د کوم کار نه وو، باور کوی کالۍ مینځل خو یې لومړۍ زما تر غاړې کړل او خپل ځان یې ورڅخه بیغم کړو بیا دی منځ کې کله ناکله خپل کالۍ هم راباندی اوتو کول.

اقرا خپل په چپ تشې کوم ګرده چې یاد کړی وه درد کوی پر هغه یې لاس کیخود او پخندا یې وویل: وی ته وقران بس دی د خندا دی مړه کړم، دا چی فکر لا ورته کوم چی تا او ذوالفقار اوخښی داسی کارونه کول خندا مې راځې، داسی مو یو د بل سره کارونه تقسیم کړی وه ته وا ښځه او خاوند واست.

ما ته هم خندا راغلل او ومی ویل: هو ولای هغه وختونو کی کله ناکله داسی احساس ما هم کاوه، اوس هم خور ته دی وایه که د ذوالفقار په اړه کوم معلومات غواړی نو ماته دی ووايي زه یی میرہ ښه په زبر او زیر پیژنم.

اقرا- بس دی ته وقران د ډیر خندا څخه می نس په درد شو ولاړ شه ضرورت نشته ته کار وکړی څومره بد ښکاری د کالو مینځلو وخت کی هغه اشپزی کول بیا هم لړ ښه دی خو دا کار بیخي د نرانو سره بد خوند کوی.

- نچ ترځو چی ډاکټر ته رانشی زه هم نه پاسیږم.

اقرا- سمده ځم.

- افرین ولاړه شه راځه.

اقرا- نه اوس نه.

- نو کله؟

اقرا- باور وکړه زه اوس دومره درد نلرم هر کله چی درد می زیات شو قول چی درته وایم اوس هم ته پاسه هسې نه څوک راشی او تا په دی حال کی وګوری.

داسی حال کی چې پاسیدلم محمد چې ځان یې د اقرا د لاس کالو کې اچولې و او لګیا و خپل په ګمان یې کالۍ مینځل را واخیست او ومې ویل: و دې ګوری نو دې کې څه خبره ده؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل کور کې خپل د بیبیانو سره د کور کار کړې دی، په دې کې نو د شرم څه خبره ده؟
اقرا- شاید خو بیا هم بل ډول ښکاری، اوس هم ورځه کوټې ته لمر تیز دی محمد مریضیږی.
- صحیح دی،ته دی هم کار ژر خلاص کړه.
اقرا- سمده.

تر غرمې کور کې وم او فکر مې د اقرا خوا ته وو او په تمه وم که حالت یې لږ خراب شې نو که په رضا نه وه

په زوره يې ډاکټر ته ويسم، خو لکه چې درد يې کم شوی وو ځکه زما په نظر ښه ښکاريدل، ما چی هم ښه وليدل نو د جومات خوا ته روان شوم، هلته چی ورسيدم نو استاذ د جمعي خطبه شروع کړی وه او داسې يو بحث يې راخيستي وو چی د ټولو سرونه يې ښکته اچولې وه استاذ د نصيحت کولو او بيان کولو وخت کی داسی په جذباتو کې خبری کول چي انسان يې مجبور کاوه په پوره پام باندی ورته غوږ ونيسې، اخری صف کې کښيناستم او ورته غوږ شوم چې څه وايي؟

استاذ- يو هلک هغه ورځ راغلي و مسجد ته، البته د دی منطقي څخه نه وو ځکه د دی ځای زياتر هلکان زه پيژنم زما شاګرادن دی الحمدالله، دا هلک ما ته د کوم بل ځای ښکاريدو کله چې راغلو د سترې مشي وروسته يې وويل مولا صيب زه يو پوښتنه لرم، ما ورته ويل مهرباني څه پوښتنه لری؟ نو ويې ويل مولا صيب زما يو ملګري دی حافظ د قران دی ماشاءالله او بيحد ښه

هلک دی ماشاءالله او بیحد دیندار دی ماشاءالله او بیحد پوه او ذهین دی ماشاءالله او بیحد خپل د مور خدمت کوی ماشاءالله او بیحـ ...

ما ورته وویل خبره دې کاوه پوهه شوم چې اولیاء د زماني دی پوښتنه وکړه چې څه چل دی په دی بیحد ماشاءالله کې؟ نو هلک لږ شانتي خاموش شو او د هغه وروسته په بیحد ماشالله کرار انداز باندی(د استاذ خبرو ته ما خندا راغلل داسي په طنز امیز توګه یې دا کیسه راخیستي وه،خپل یې هم مسکا پر خوله وه) وویل بس یو ستونزه لری هغه دا چې بیحد خپل مور وربانډی ګرانه ده او قدر او عزت یې کوی ماشاءالله، خو خپل د پلار څخه یې بیحد بد راځې او حتا خبری لا ورسره نکوی او تل وایي چې پلار مې زما سره مینه نکوی او تل یې پر ما ظلم کړي نو ایا د ده دا کار صحیح دی چې خپل د پلار سره خبری نکوی که غلط؟

نو ما ورته وویل بیحد کار يې غلط دی ماشاءالله(د استاذ په دی خبره ټول مسجد پخندا شو خو استاد په جدی انداز وویل: ما ورته وویل سل سلنه کار يې غلط دی. د پلار حق ډېر لوی حق دی حتا تر دی حد چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي د جنت مینځني دروازه پلار دی! مطلب جنت ته د ننوتلو لاره د پلار رضایت دی. که پلار ناراضا وی د جنت بوی لا درباندی حرام دی.

نو هغه هلک وویل مولا صیب خو پلار يې هم لږ داسي ښه سړی نه دی، نو ما ورته وویل مسلمان دی؟ ویل څوک؟ ما ویل د هلک پلار؟ ویل هو بی شک مسلمان دی، نو ما ورته وویل د کافر پلار په حق کی پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي که ستاسو څخه د یو چا پلار کافر و،مشرک و، بت پرست وو او د بت عبادت يې کاوه او پلار يې مریض شو او بت خاني ته نشو تللې او هغه ستاسو څخه درخواست وکړو چې هغه بت خاني ته ویسي ترڅو د بت عبادت وکړی، نو تاسو خپل پلار

په شاه باندی تر بت خاني ویسي او پریږدی تر څو هغه خپل په زړه خپل د بت عبادت وکړی د هغه وروسته خپل پلار په ډېر احترام بیرته کور ته راوړی!

نو ته فکر وکړه د مشرک او کافر پلار احترام کول دومره فرض دی نو د مسلمان پلار حق به څومره وی؟ زه تاسو ته یو کیسه کوم ترڅو په دی کیسی باندی تاسو د پلار په حیثیت پوه شې.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو صحابه و دا صحابه یو زوی درلود یوازی یو زوی او بس! او دا زوی بیحد ورباندی ګران وو او په بیحد ناز او نعمت کې لوی کړو کله چې هلک لوی شو، ځوان شو، زلمې شو، نو د دنیا ژوند خو تل همداسې وی کنه پلرونه او میندي خپل عمر، خپل ځواني، خپل راحت ورکوی او ماشومان غټوی او کله چې اولادونه غټ شی نو ډېر کم داسي کسان وی چې د مور او پلار قدر کوی او زیاتر یې ناصالح او نافرمان وي.

او اوس وخت خو بيخې 100 کي 95% سلنه ناصالح
او نافرمان اولادونه وي يوازی پنځه سلنه که د مور او
پلار خبره ومني او عزت يې وکړي، نو ته فکر وکړه د
پيغمبر صلی الله عليه وسلم د وخت کيسه زه تاسو ته
کوم نو هغه وخت که دانه مانه داسي خلک پيدا کيدل
نو اوس 1440 کال وروسته به څه حال وی د
اولادونو؟ کيسه مې کول چې دا صحابه بوډا شو کوم
چی دا يو زوی درلود نو يوه ورځ يې ښځې ورته وويل
چې نور ته بوډا شوی يې او د کار کولو نه يی نور ته
کار مکوه، او هغه دی ماشاءالله زوی مو ځوان شوی
هغه به کار کوی او مونږ به ساتي!

دا صحابه هم خپل د ښځې خبره ومنل او وخت
تېرېدو که څه هم هغه هلک دومره خپل په پلار او مور
فکر نه ساتو خو بيا هم دوي کوم شکايت ورځخه نه
درلود، يوه ورځ د دی صحابه ښځه مريضه شوه نو د
ده سره د علاج لپاره کوم پيسي نه وه دی لاړ او خپل د
زوی څخه يی د پيسو غوښتنه وکړو چې لږ پيسې

راکړه چې ستا مور ورباندی طبیب ته ورم، نو دا هلک خپل پلار ته پیسې ورکړل او که ورنکړل خو زړه کې دا خبره راغلل چې زه پیسي ګټم او پلار مې راڅخه مصروفي دا خو انصاف نه دی!

نو په همدی خبری دا هلک په شکایت ورغې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته او خپل د پلار شکایت یې وکړو چی یارسول الله زه پیسې ګټم او زما پلار یې راڅخه غواړی او د هغوی ټول خرچه پر ما ده دا خو بې انصافی ده کنه؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم چی دا خبره واوریدل نو هغه دقه یی کوم خبره ونکړل، ځکه یوه جانبه قضاوت کول ښه کار نه وی نو ځکه هغه صلی الله علیه وسلم یو صحابه ته چې دی مجلس کې موجود و وویل لاړشه او د دی هلک پلار ته ووایه چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته غوښتې یې، دا صحابه روان شو ترڅو د هلک پلار راوړی، کله چی هلته ورسید او ورته ویی ویل چی پیغمبر صلی الله

علیه وسلم ته خپل حضور ته غوښتي یې نو د هلک پلار لږ اندیښمن شو

او د راغلی صحابه څخه یې پوښتنه وکړل چی په څه دلیل پیغمبر صلی الله علیه وسلم زه غوښتی یم؟ نو هغه صحابه ورته ونه ویل چې ستا زوی پر تا شکایت کړی، یوازی دومره وویل چې ستا زوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغې نو هغه هم تاسو غوښتی یاست. په دی خبره د هغه صحابه زړه په درد راغلو او بغیر د ویلو پوه شو چی کیسه څه ده؟

نو عربان چې دی هغوی ذاتً شاعر مزاج خلک دی او د دوی په وینو کې دا شعر ویل موجود دی تر دی حد چی عربانو به دا نور خلکو ته مطلب موږ عجمو ته به ګونګیان ویل! یعنی تاسو شعر ویلې نشي نو تاسو خو ګونګیان یاست، نو دا صحابه رسول الله صلی الله علیه خوا ته روان شو او په تلو، تلو کې خپل زړه کې دولس څخه تر پنځلس بیت شعر وویلو چې زیاتر یې د ګیلي

انداز درلود او اصل کې خپل زوي د دی شعرونو مخاطب و، کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته حاضر شو نو د هر خبری مخکې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دلته زما څنګ کې جبرائیل "ع" موجود دی او هغه وایي د هر خبری د کولو مخکې ته د دی سړی څخه یو پوښتنه وکړه.

نو هغه صحابه حیران شو او ویې ویل: یا رسول الله د څه پوښتنه؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا راته ووایه کله چې دا زما قاصد ستا خواته درغلو او تا ته یې وویل چې ما راغوښتی یې نو تا خپل زړه کې د ځان سره یو څو خبری وکړل هغه خبری ما ته بیان کړه څه دی وویل؟
نو هغه صحابه د ټولو مخکی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته هغه شعرونه کوم چئ ده خپل زړه کې د ګیلي پشان خپل زوی ته ویلي وه وویل د هغه شعرونو

خلاصه او مفهوم زه تاسو ته ووایم نو هغه څه داسي وو:

هغه وخت دی یاد دې چې په نمناک او لوند ځای کې موږ ویده شو او ته مو په ښه او بهترینه ځای کې ویده کړې؟
هغه وخت دی یاد دې چی ستا د ژړا له سبب ټول شپه زموږ سترګو ته خوب رانغلو؟
هغه وخت دی یاد دی کله چې تا لومړۍ قدم واخیست او موږ د خوشحالۍ له لاسه نه پوهیدو څه وکړو؟

هغه وخت دی یاد دی چې ته زلمۍ شوی او موږ بوډاګان؟
هغه وخت دی یاد دی چې ستا د سترګو نظر تېز شو او زموږ د کمزوری؟
هغه وخت دی یاد دی چې ستا د غوږونو اوریدل تېز شول او زموږ د کمزوری؟

هغه وخت دی یاد دی چې ستا لاسونو کې څواک راغلو او زموږ لاسونه په لړزیدو شول؟

هغه وخت دی یاد دی چې ستا مور ویل اوس زوی زلمی شو او هغه به یې ګټي او موږ ته به یې راوړي؟ خو تا خو هېڅ ګټه موږ ته و نه رسول، بچیه د همسایه ګانو سره لا انسان ښه رفتار کوی موږ خو ستا مور او پلار یو که د مور او پلار نسبت نه مني نو لږ تر لږ د یو همسایه پشان خو راسره رفتار وکړه، که هغه هم نه کوی نو شکایت خو به دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نه کاوه.

کله چې بیتونه خلاص شول نو ټول خاموش کښیناستل چې هغه صحابه وویل: یا رسول الله ستا خدای بیحد مهربان ذات دی، دا الفاظ زما ښځې لا وانه وریدل دا الفاظ حتا زما پر ژبه نه وه راغلي چې څوک دی وغواړی وآوری یوازی زما زړه کې راغلل او ستا

خدای د ټولو څخه مخکې زما د زړه خبره واوریدل نو په دی کار زما ایمان لا پر خدای مضبوط شو.

د دی خبری وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل خاموشي مات کړل او هغه هلک ته یې وویل دلته نږدی راشه بچي. هلک چې کله نږدی ورغلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په سینه لاس کیخود او ورته ویې ویل: انت و مالک لی ابیک. مطلب ته، او ستا ټول مال او دولت ستا د پلار دی.

الله اکبر! یعنی نه یوازی دا چی د هغه دولت یی یاد کړو بلکې د هغه ځان یی هم د هغه پلار ته منسوب کړو او ویی ویل ته، مطلب ستا ټول وجود ستا د پلار دی او همداسې ده کنه یو اولاد خپل د پلار څخه نوم، نشان او نسب اخلې، که داسی نه وی نو زموږ جامعه هغه کس ته حرمونې یا هم ولد زنا وایي د کوم کس چی پلار او نسب نه وی معلوم. نو دا د پلار حیثیت دی اسلام کې د هغه وروسته هغه صحابه او زوی ولاړ او

دا زوی ډېر صالح انسان شو او بیحد خپل د پلار او مور قدر او عزت یې شروع کړ او تل یې کوښښ کاوه چې هغوي خوشحاله وساتي.

د دي واقعي څخه دا څرګند شول چې د پلار حیثیت اسلام کې څه دی؟ ډېر خلک یوازی د مور حق او عزت یادوي زه د هغه څخه منکر نه یم خو د پلار حق هم اسلام کې ډېر لوی دی، په ټول نړۍ کې یوازیني کس د انسان پلار دی چې غواړي خپل خواری تېره کړی خو اولادونه یې پرمختګ وکړي یوازی او یوازی پلار ،نو داسي مکوی چې ووایست پلار مې ما وهي او پلار مې ظالم دی نو زه ورسره خپلوی او تګ راتګ بندوم نه، د پلار وهل لا شفقت دی باور وکړی د پلار د وهلو مثال سم د یو موټرسایکل ته د پطرول پشان دی،لکه څنګه چې یو موټر سایکل ته پطرول وانه چوی هغه حرکت نکوی همداسي تر څو چې یو نفر خپل د پلار څخه وهل ونخوری یو کار نکوی.

زما پلار وو خدای دی جنتونه ورته نصیب کړي(استاذ د خبرو منځ کې خپل د مخامخ کس څخه تسبیح وغوښتل او هغه یې مسجد کې موجود ټول کسانو ته وښودل او ویې ویل: دا تسبیح تاسو ګوری؟ زما د پلار په لاس کې یو دم همداسی تسبیح وه دا مې ځکه د دی ځوان څخه وغوښتل ځکه ډېر زما د پلار تسبیح ته ورته او هم شکل ده، ما خپل د پلار څخه د تسبیحو وهل خوړلې دی،زما تراوسه په یاد دی او پوهیږی په څه خبره؟ د نابالغ هلک او نابالغ جنۍ د جنازی فرق ما ته یاد نه وو او هغه زه په تسبیح وهلم ترڅو دا راته زده کړې او زه تر اوسه کله چې د یو ماشوم هلک یا جنۍ جنازه کوم نو ماته خپل پلار یاد ته راځې او زه ورته دعا کوم او تل وایم کاش پلار مې واې او لیدلي وایې چې ما د هغه په برکت دا د جنازی لمونځ زده کړو.

د استاذ ستونې د ژړا څخه ونیول شو، ژوره ساه یې واخیستل ترڅو خپل ځان کنترول کړې او بیایې وویل:

دا د اوس وخت ډيموکراسي او د خارجيانو بيځايه تبليغات زموږ د ځوانان فکر او عقايد دومره خراب کړی چی حد نلری، نن همدا نن ستا د راتلو مخکي يو سړی ما ته راغې او د هغه په ليدو ما د ځان سره وويل چې نن به زه د پلار د حقوقو په اړه خبری کوم بوډا سړی وو راغې غاښ يې وتلی و، ويل مولوی صيب زوی ووهلم او غاښ يې را مات کړو پوه شوی؟ ويل زوی ووهلم او غاښ يې رامات کړو، هغه الفاظ زه تاسو ته نشم ويلی کوم چې هغه سړی ما ته وويل په منبر ناست يم ښه نه دی چی هغه مردار او بيځايه الفاظ دی بيان کړم.

داسې سپي هم پيدا کيږی د زوی په نوم او دغسي سپی به خامخا غاښونه ورمات کوی، ما هغه سړی ته وويل ټول ملامت ته پخپله يې، اسلام يوازی ديته حکم نه دی کړی چی اولادونه راوړی بلکی اسلام دا حکم هم کړی چی هغه اولادونه وساتی، اسلام کی پلار په اولاد ډېر حق لری خو اولاد پر پلار يوازی او يوازی

درې حق لرى بس درې حق، او تا هغه درې حق لا نه دى پرځاى کړى چې دا دې اوس حال دى. اسلام وايې اولاد دى پيدا شو ښه نوم ورکړه اسلامي نوم ورکړه دويم وايي ښه تربيه ورکړه چې زموږ زياتر خلک په همدى دويم او دريم حق د اولاد کې کوتاهي کوى او هغه حق يې نشي ورپوره کولاى.

اسلام وايي دويم حق د اولاد په پلار دا دى چې ښه تربيه ورکړى،داسي تربيه چى دنيا او اخرت يې ښه شى خو زموږ خلک همدلته کمزورى کوى او همدا کمزورى راتلونکي کى د دى ټول خبرو او حالاتو سبب کيږى که يو پلار خپل د زوى سم تربيه ونکړى که خپل زوى ټوله شپه او ورځ په بازار کى خوشى کړى د زر رقم ناروا بد، خبيث او ايچرګانو سره ګرځې يا د خلکو د ناموس پسى ځغلې يا د خلکو ناموس د ځان سره تښتوى نو خامخا به همداسى شئ ورځخه جوړيږى، تا خو کوم مدرسى،خانقاه يا مسجد يا کوم سم ځاى نه

واستولې تا د همداسی خلکو سره خوشی کړی وو نو ضرور به همداسی شې ورځخه جوړیږی.

کوم کسان چې وایې اسلام کې خو دومره سختې نشته او تاسو دین سخت کړی نو زه منم هوو صحیح دی چې په اسلام کی سختې نشته خو په اسلام به سره سر خلاصو، اسلام داسي مفت هم نه دی راغلې اسلام هم ځانته اصول لری ځانته قوانین لری، یو جامعه یوازی په یو ښځې نه خرابه کیږی بلکی د جامعي د خراب کیدلو اصلی دلیل د هغه جامعي د نرانو خرابیدل دی، اوس وخت هر څوک وایی زه د فاطمي او خدیجي پشان ښځه او لورګاني غوارم خو خپل به ابوجهل او اوبلهب د زمانی وی، نو فاطمه او خدیجه پشان ښځه او لور لپاره ته باید د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پشان اخلاق او انسانیت ولری.

د هغه رقم ایمان ولری، کنه څه چی ته یې هغه به دی کورنۍ هم وی، نو فکر ساتې یوازی خپل په لورګانو نه بلکي خپل په زامنو فکر ساتي د داسی خراب خلکو ښځه یې راګرځوی د ملګرو په نوم چغالانو ښځه یې راګرځوی پوښتنه کوه خپل د زوی ښځه هلک چیرته تللی وی؟ د چا سره تللی وی؟ څه دی کول؟ څه دی نکول؟ ولی ناوخت راغلی؟

دا تربیه اسلام یوازی د انجونو لپاره نه ده راستولي خپل په زامنو فکر ساتي همدا زامن سبا ورځ د یو کور او یو کورنۍ پالونکي او مشران کیږی باید د کور اثاث جوړ کړو، څومره غلط او ناروا ښځې چی په دی جامعه کې تېر شوی د هغوی د خرابیدلو غټ ترینه لامل همدا نارینه دی که د هغوی په سر یو غیرتی پلار وایي، یو غیرتی ورور وایي، یا یو غیرتي میړه وایي نو هغوی به هیڅکله داسی لارو ته نه وایي راغلي، که یو جامعه کې یو ښځه په غلط لاره روانه شوه نو هغه ښځې ته کنځل مکوه بلکي وګوره کوم سړی؟ کوم

دوس دیته دا لاره هواره کړل ترڅو دا و دي کارو ته راشی؟

یوه ښځه هیڅکله داسی لاری ته نه راځی مګر دا چی یو څوک ورته لاره وښايي،نو ځکه وایم چې اوس وخت زما په نظر مهم مثله د ښځې څخه ډیر سرېان دی! نو د خدای خاطر وکړی خپل په زمانو خیال وساتي خپل په اولادونو خیال وساتي ...

د استاذ د خبرو خلاصیدو وروسته چې یو کتاب نصیحت وو، په مسجد کی موجود ټول کسان په فکر کې ولاړل د لمانځه د خلاصیدو وروسته د کور پخوا روان شوم خو ټول فکر مې د استاذ خبرو کې ګرځیدو.

که رښتیا ووایم نو فکر مې کاوه د استاذ د خبرو مخاطب اصل کې زه یم!  یعنې د خبرو زیاتر مخاطب یې ځان راته ښکاریدو شاید دلیل یې دا وو چې دا ټول خبری په ما کی موجود وه؟ ما د بابا سره نه لګیدل ما د هغه سره تګ راتګ بند کړی وو او حتا بار،بار مې

ویلی وه کاش دا زما پلار نه وایې، او دلیل یې زیاتر د بابا بداخلاقي او زما سره بد چلند وو خو اوس چې لږ انصافً فکر کوم نو منم چې بابا ظالم وو وهل یې کول امرونه یې صادر کول او زما سره تل بد رفتار یې کاوه خو ...

خو دی منځ کې ښه اخلاق هم دانه مانه درلود خو هغه ښه اخلاق یې هم داسې په بد بڼول څرګندول چې د سړی زړه یې ورڅخه تور کاوه لکه د مثال په توګه کله چې کلی کې وم او تقریبا لسم یوولسم ټولګي کی وم او تقریبا ځوان هلک وم او زما ټول ملګرو هغه وخت کی موبایل درلود بابا ماته موبایل نه راکو،یعنی دا کار یې هغه وخت زه بیحد غوسه کولم خو اوس چی ورته فکر کوم نو پوهیږم چی دا کار یی ښه وو نه بد!

اوس چې خپل پلار شوی یم او ځینې خبرو ته په دقت ګورم متوجه کیږم چې د بابا ځیني کارونه ښه هم وه همدا موبایل نه راکول او د بیځایه ملګرو څخه ساتنه

زمونږ کلي کی داسی لوفر هلکان زیات وه چی حد یی نه درلود او زیاتر هم زما سره یو مکتب او یو ټولکې کی وه نو بابا به هیڅکله نه پریخود چی زه د هغوی سره اوسیږم، او د حق تیر نشم هغوی ډیر بد هلکان وه یعنی هغه عمر کی به د مکتب شاته پټیدل او سګریټ به یې واهه نو ځکه بابا تل بد منل زه د هغوی سره اوسیږم حتا څو ځله یې د هغوی په سر وهلی هم وم او عجیب ده هر کله چی وهلم یې نو زه به غوسه کیدلم او زما غوسه به داسی وه چی کوټی ته به تلم او نه به می ډوډۍ خوړل او نه هم د کوټی څخه راوتلم او نه مې هم د چا سره خبری کول.

ذوالفقار زما دی خاصیت باندی تل خندل او ویل یې دا د انجونو خاصیت دی خو زه همداسی وم او هغه وخت به بابا زما د بیرته خوشحاله کولو لپاره مخامخ خو کوم څه یی نه ویل خو ادی ته به یې پیسې ورکول چی دا ورکړه طاها ته! هسی خو بابا طاهر او طیبی ته هم پیسی ورکول خو کوم ورځ به چې زه خفه وم هغه

ورځ به یې ماته د هغوی ښخه یو څه ډیر پیسی راکول او په هغه شپه به یې هم میوه اخیستل او زما برخه به یې تل ډیر راستلو دا د بابا د آشتی کولو طریقه وه که په دی شیانو نه وایی خوشحاله شوی نو اخر لاره یې دا وه چې کوټې ته راتلو او په غوسه یې ویل مونځ دی کړی؟

خنده داره خبره ده کنه؟ خو بابا به په داسي پوښتنو کولو او ما په خبرو راوړلو باندی کوښښ کاوه ما آشتی کړی، د دی خبرو په یاد راوړلو مې مسکا پر خوله راغله ما دا څو کلونه هیڅکله د بابا دی کارونو ته فکر نه و کړی تل می د بابا منفی کارونه ته فکر کړی وو خو نن د استاذ په خبره زما ذهن د بابا ښه رفتار خوا ته هم ورغلو کور ته ورسیدم اقرا ډوډۍ راوړه نه پوهیږم په څه ډول می ډوډۍ وخوړل فکر مې ګډوډ وو تر دی حد چی اقرا وویل: خیرت خو دی؟ کوم څه شوی؟

- خیرو خیرت دی بس یو خبری ته مې فکر کاوه.
اقرا- څه خبری ته؟
- ستا په نظر زما کار صحیح دی که غلط؟
اقرا- کوم کار؟
- همدا چې خپل د کورنۍ،مور او پلار او ټول خپلوانو سره تګ راتګ مې بند کړی؟
اقرا څو شیبې خاموش شوه د هغه وروسته یې کرار وویل: دا ستا او ستا د کورنۍ موضوع ده زه پکي څه ویلي نشم، خو که زما نظر وغواړي نو وایم چې کار دی صحیح نه دی،هر رقم چې اوسیږی بیا هم هغه ستا پلار دی او هغه ستا کورنۍ ده، او ته زما څخه ښه پوهیږي چې خپلوی پرې کول څومره ګناه لری.

د اقرا په خبرو مې سر وخوځاوه د ربښتیا هم هرڅومره دلایل چې راوړم بیا هم هغه زما کورنۍ ده د څو شیبو خاموشي وروسته مې وویل: د خاله لورګاني دی رانغلل؟
اقرا- نه، ادی ویل نن یو بل ځای میلمنې دی شاید سبا

یا بل سبا راشي.

- اوس بیکاره یې؟

اقرا- هو.

- راځه لاړشو زما د پلار کور ته.

زما په خبر اقرا په خوشحالۍ او حیرت وویل: رښتیا وایې؟

- هو، ځې؟

اقرا- دا نو څنګه پوښتنه ده؟ معلومداره ده چې ځم.

او د دی خبری سره سم پاسیدل تر څو تیاره شې او بیحد هم ژر تیاره شول لکه چې هغه هم وېرېدل چې هسې نه زما اراده بدل شې او همداسي وه که دوه دقي نور ناوخته کړی واې زما ارده بیرته بدلیدل کله چې هغه مې تیاره ولیدل نو موټر سایکل مې له کوره وویست او روښانه مې کړو اقرا زما شاته کښیناستل او محمد ما ځان سره مخکې کښینو او داسی حال کې چې په یو لاس مې هغه نیولې وو په بل مې موټر سایکل روښانه کړو او د بابا د کور خواته روان شوم.

د بابا کور ته د رسيدلو مخکې شيطان زر ځله منع کړم او زر فکر يې ذهن ته راته راوړل او د ټولو څخه غټ فکر او انديښنه مې دا وه چې د دومره وخت وروسته که هلته لاړ شم هسې نه بابا مې بيخي کور ته پرينږدی او د ټولو مخکې مې سپک کړي؟ او کنځل راته وکړی؟ په دی فکر دومره زړه نا زړه شوم چې غوښتل مې موټرسايکل مخ وګرځم او بيرته کور ته لاړ شم، خو د اقرا خبرو او دلداری راکولو لږ زړه راته ډاډمن کړو او روان شوم لاره کې اقرا ويل خالی لاس تلل بد دی او يو شئ واخله زه هم نه پوهيدم چې څه واخلم؟

اخر کې اقرا وويل يو من سيبان واخله ما هم همغه واخيستل او روان شو کله چې د بابا د کور دروازی ته ورسيدم نو بيحد وېرېدلې وم او استرس مې درلود فکر مې کاوه يو نفر د ستوني څخه نيولی يم او نفس اخيستلو ته مې نه پريږدی د اقرا په غږ مجبور شوم د موټر سايکل څخه ښکته شوم او دروازه مې وټکول ځان سره مې د قران ټول زده شوی آيتونه وويل چې

بابا دی دروازه خلاصه نکړی او هسی نه د کوځی منځ کی په جنګ شو، او د لومړۍ ځل لپاره زما دعا قبول شوه او د کور دروازه مروه خلاصه کړه زموږ په لیدو دومره خوشحاله شوه چې حد یې نه درلود.

دومره خوشحاله وه چې بغیر له دی چې موږ کور ته دعوت کړی د لیونیانو پشان کور خوا ته په منډه شوه ترڅو ادی ته زموږ د راتګ خبر ورکړی د هغې په داسي تلو ما اقرا ته د سر په اشاره وویل چې کور ته ننوځه، هغه هم یو څه وېرېدلې ښکاریدل، حق یې درلود د واده دوه درې کال وروسته د لومړۍ ځل لپاره خپل د خسر او خواښی لیدو ته راتلل! هغه هم داسی خسر چی زموږ په واده ناراض وو، د هغې د ننوتلو وروسته ما هم په بسم الل، بسم الله موټر ساکیل کورته ننویست او دروازه می بنده کړل.

همدا چې دروازه مې بند کړل ادی له کور راووتل او زموږ په لیدو یې سترګي له اوښکو ډکی شوی په بیحد

محبت باندی د اقرا او محمد مخ ښکل کړو اقرا هم د هغې لاس ښکل کړو او سترګی مشی ورسره وکړل د هغه وروسته حسنا او مروه ورسره سترګي مشي وکړل او د هغه سره سم یې د اقرا د لاس تقریبا په زوره باندی محمد کش کړو او په خوشحالۍ ورسره خبری کول شروع کړل د هغوی داسی کار ته زما خندا راغله، چی تازه می ادی ته فکر شو چې په ژړا یې زما خواته را کتل مخکې ورغلم او نه پوهیږم ولی خو دومره یې په لیدو خوشحاله شوم چې غیږ کې مې ونیول او دا ځل ما د هغې ویښتیان ښکل کړل

پر ما ادی بیحد ګرانه وه خو هیڅکله می داسی غیږ کې نه وه نیولی، زه په دی احساساتي وختونو او شیبو کی ډیر ټنبل او شرمندوک یم خو نن نه پوهیږم د زړه تنګون سبب وو که څه بل دلیل خو ادی می غیږ کې ونیول ادی څو شیبې زما غیږ کې وژړل د هغه وروسته یې په تلوار خپل اوښکی پاک کړل او ویې ویل:

ادی- خاوری دی زه شم د دومره وخت وروسته تاسو نن راغلی یاست او زه د دی لځایه چی تاسو کور ته دعوت کرېم او خوشحاله اوسیږم ژاړم، راځی کور ته راځی.

د ادی د خبری وروسته بۍول کور ته ننوتلو ما شاوخوا کتل خو بابا می چیرته ونه لید لکه چی کور کې نه وو؟ زموږ د ننوتلو سره سم د څو کالو وروسته ما د لومړي ځل لپاره د طاهر ښځه ولیدل! ما بیخی لیدلی نه وه او زه یو خاصیت لرم د ښځو سره هیڅ بۅل خبری او سترېی مشې نشم کولې، یعنی د ښځو سره د مخامخ کیدلو وخت کی د هغوی لځایه زه شرمیږم او سر ښکته اچوم د طاهر د ښځی په لیدو مې هم سر ښکته واچو او په بیحد کرار انداز می ورسره سترېی مشی وکړل.

په نالي کښیناستم مروه او حسنا ته په کتو شوم ماشاءالله خویندی مې غټې شوی وه! حسنا په لومړۍ نظر کی راته سم طیبه ښکاره شوه مروه هم غټه شوی

وه خو دومره نه زه د هغوی او هغوی زما په لیدو دومره خوشحاله شوی وه چې د بابا او طاهر نه موجودیت مې بیخې لیاده وویست او د هغوی سره په خبرو شوم، نه پوهیږم څومره وخت تیر شوی وو چې دروازه وټکیدل او مروه پاسیدل ترڅو دروازه خلاصه کړی، څو شیبی نه وه تیر شوی چې د مروه غږ مې واوریدو چې په خوشحالی ویل: طاها لالا راغلی ورینداره هم ورسره ده محمد یې هم راوړی.

نه پوهیدم چې د هغې دا توضیح ورکول طاهر ته دی که بابا ته؟ انتظار مې ډیر اوږد نشو او بابا په درنو قدمونو او تروش تندی دهلیز ته راننوت. د هغه په لیدو بی اختیاره لځایه پاسیدم ټول خاموش وه لکه چې ټول د کوم جنګ یا دعوا انتظار درلود؟ ادی په بې کرار انداز پاسیدل او غوښتل کوم څه ووایي خو د هغې د څه ویلو مخکې د بابا شاته طاهر دهلیز ته راننوت او همدا چی زه یې ولیدم او بیا هغه درنه فضا یې ولیدل نو پوه شو چی حالت خراب دی نو ځکه ژر رامخکې ېو

او زما سره يې بغل کشی وکړه او په خوشحال لهجه د فضا د بدليدو لپاره يې وويل:

طاهر- اووو سترګی مو روښانه دا لمر نن د کوم خوا راختلې چې ته ديخوا راغلې؟
ما هم کوښښ وکړو ځان لږ عادی وښايم د بابا د تروش تندی څخه می نظر واخيست او ومی ويل: ولای نن جمعه وه زه هم بيکار وم نو ځکه ديخوا راغلم.

طاهر- ښه دی وکړل.
زما سره د سترِی مشي وروسته طاهر د اقرا خواته وکتل او ورسره سترِی مشي وکړل د هغوي څخه مې نظر واخيست او د بابا خواته مې وکتل په بيحد دروند نظر او تروش تندی د اقرا خواته کتل داسي په دروند نظر چې زه لا ورڅخه وډار شوم څه ورسيږی اقرا ته!

د طاهر سره د سترِی مشي وروسته اقرا په بيحد کرار انداز بابا ته سلام واچو بابا هم څو شيبې ورته په ځير وکتل او بيا د سر په خوځولو بغير له دی چی ما يا اقرا

ته کوم اهمیت ورکړی زموږ مخامخ د دهلیز کونج کې په نالې کښیناست، د هغه په کښیناستلو ټولو یو هوسا نفس واخیست! د ټولو فکر راحت شو او ډاډمن شول چې بابا د جنګ اراده نلری، موږ هم کښیناستو مروه په تلوار د بابا مخکې یو پیاله چای کیخودل طاهر زما څنګ ته کښیناست او کوښښ یې کاوه خپل په خبرو ماحول لږ عادی غوندی کړی.

او تقریبا خپل په کار کې بریال شو البته که د بابا خاموش او دروند نظر له پام وغورځوم نو خیرو خیرت وو، د نیم ساعت وروسته ادی دوي د اقرا سره بل کوټې ته ولاړل ترڅو راحت مجلس وکړی او زه و بابا او طاهر دهلیز کی یواځی پاتئ شو څو شیبې
خاموشي وه لکه چې د طاهر خبری هم خلاصی شوی وه؟ ما خو هم بحث او خبره نه درلود چې وغواړم د دوي مخکې وکړم نو خاموش ناست وم او بیحد بد او نفس تنګ احساس مې درلود.

بابا- ذوالفقار ویل څاه کې غورځیدلی وی؟

د بابا په ناساپه غږ او پوښتني نظر مې د فرش د ګلانو څخه واخیست او ور ومې کتل حیرت مې وکړو، د بابا غږ داسي حال کې چې غوسه ناک ښکاریدو خو د اندیښنې او تشویش نښې هم پکی وه؟
- هو، خو دومره لوی خبره نه وه.
بابا خپل سر کرار وخوځاوه او ویې ویل: فکر نه کوم ذوالفقار دی هسې خبره وکړی! لکه چې خورږ شوی وی چې هغه اندیښمن وو؟

نه پوهیږم ولې خو د بابا د سوال ځواب څخه په استرس او وېری کې و ولیدم، فکر می کاوه د هغه مطلب کوم بل څه دی؟
- نه، نه یم خورږ شوی ذوالفقار هسې اندیښمن شوی.

بابا خپل د لاس پیاله راوخیست او غوښتل څه ووایي خو د محمد په غږ چې د مروه د غیږ څخه یې ځان جلا کړو او زما خواته په راځغاستلو شو او بابا، بابا

ناری وهل خاموش شو، بی اختیاره بغیر له دی چی د بابا شتون ته پام وکړم غیږه مې خلاصه کړه او داسی حال کې چی محمد می غیږ کې نیو ومې ویل: جان بابا څه وای؟
مروه غوښتل محمد واخلې خو هغه ځان زما غیږ کې نور هم پټ کړی و او چغې وهل نه یې غوښتل مروه یې واخلی د هغه په دی کار لږ مې خپل د غیږی څخه جلا کړو او ومې ویل: عمه دی نه ده؟ ولی عمه ته دې نه ځی؟
محمد بیرته خپل ځان زما غیږ کې پټ کړو او خپل په خوږه ژبه یې وویل: نې... نې.

د هغه دی کار ته زما خندا راغلل او مروه ته می وویل: څو شیبی پریږده او کوم کار مه ورسره لره بیرته ستا خواته درځې اوس هسی ناز کوی.

مروه چی زما خبره واوریدل نو محمد ته یې وویل: نور دی نه اخلم اصلاً ستا عمې نه یم ولاړم.

د هغې په دی خبره محمد وروکتل خو فکر یې کاوه چی هسی ټوکی کوی خو کله چې مروه بیرته د کوټې خواته روانه شوه نو محمد هم زما د غیرې څخه جلا شو او وریپسئ شو د هغه و دی کار ته زما خندا راغله زما نظر لا د محمد خواته وو چې طاهر په خوشحاله خو داسی لهجه چې حسرت او نامیدی ورڅخه څرګندیدل کرار وویل: څومره ماشاءلله خوږ دی.

د طاهر خواته مې وکتل د هغه داسي حسرتمند لهجې باندی مې زړه وسوځید نه پوهیږم مشکل د طاهر وو که د ښځې؟ خو دا درې کاله د دوي د واده کیدل خو تراوسه یې ماشوم نه درلود غوښتل مې ورته دلداری ورکړم او ووایم خدای مهربان دی تا ته به هم اولادونه درکړی خو زما د څه ویلو مخکې موبایل ته مې زنګ راغلو، زبیر و لومړۍ مې غوښتل پاسیږم او ځواب ورکړم خو بابا او طاهر خاموش وه او داسی ښکاریدل لکه چې غواړی زه همدلته ځواب ورکړم نو زه هم مجبور شوم همدلته ځواب ورکړم.

زبیر- الو سلام علیکم.
- علیک سلام.
زبیر- چیرته یې؟

د بابا خواته چې کرار لګیا و خپل چاي څښل ومې کتل او ومې ویل: کور کې یم، کوم څه شوی؟
زبیر- بیکار یې؟
د زبیر د پوښتنو څخه په تنګ راغلم زړه مې غوښت ژر تر ژر خپل خبره وکړی او لاړ شي نو ځکه ومې ویل: څه کار لری؟
زبیر- ستا څخه مخکې ذوالفقار ته مې زنګ وواهه ځکه تا ویلی وه موبایل دی مات شوی او د ذوالفقار سره دی؟! خو هغه راته ویل موبایل دی خپل جوړ شوی وو او تاته یې درکړی.
- هو هغه پرون ماښام ذوالفقار راکړو خپل جوړ شوی وو!
زبیر- زه ښه ده کنه زه راغلی وم چې درته بل موبایل واخلم.

په حیرت مې وویل: غوښتل دی ماته موبایل واخلې؟
زبیر- هو، خو زړه دی مه خوشحاله کوه کوم ایفون مې نه درته اخیست یو نوکیا موبایل مې درته اخیست چې د مړی او ژوندی احوال دی ولرم، متاسفانه که لیاده دی نه وی وتلی نو موږ شریکانو یو؟!
زړه مې غوښت یو دوه کنځل ورواچوم خو متاسفانه چې بابا ناست و او نه کیدل نو ځکه ومې ویل: زه صحیح ده مننه وروسته بیا خبری کوو.
زبیر- صبر چیرته روان یې؟ کار درسره لرم.

نور نو واقعا حوصله مې خلاصیدل تقریبا په قهرجن لهجه مې وویل: څه کار لری؟ وایه.
زبیر- رسول مړ شوی.
په حیرت او تقریبا لوړ غږ مې وویل: څوک مړ شوی؟

زما په لوړ غږ د بابا او طاهر نظر هم زما خواته شو خو بغیر له دی چې د هغوی کتلو ته کوم توجه وکړم بیا مې زبیر ته وویل: څوک مړ شوی؟

زبیر- عه عجب شئ یې خو ومې ویل کنه رسول مړ
شوی.
- کوم رسول؟
زبیر- رسول یادوم رسول؟ لیاده دې وتلی زموږ د
اقتصاد پوهنځي عمومي اول نمره او نماینده!

د زبیر په خبره تازه پوه شوم چې څوک یادوی، زموږ د
اقتصاد پوهنځي لایق ترینه هلک رسول چې زموږ
نماینده هم وو بیحد ځوان وو دا چی د مرګ خبر می
واورید واقعا خفه شوم نو ځکه و مې پوښتل: نچ،نچ
بیچاره څنګه مړ شوی؟ ټکر،مکر یې کړی که څنګه لا
خو ډیر ځوان وو؟
زبیر- کاش ټکر یې کړی وای.
- څه مطلب چې کاش ټکر یې کړی وایي؟
زبیر- بدبخت خودکشي کړی.

د زبیر په دی خبره دا ځل نو بیخې د حیرت څخه مې
خوله خلاصه پاتی شوه.

- څه؟ خودکشی کړې؟ په څه خاطر؟
زبیر- ولاکه نه یم خبر خو دومره پوهیږم چی دا څو میاشتو کې اقتصادی حالت  بیخې خراب وو او دا دومره دوه کال کیدل چې د کار پسې ګرځیدو خو چا ورته د جارو وهلو کار لا نه ورکو، څو ځله یې کوښښ کړې و چې قاچاقي توګه خارج ته لاړ شې خو لکه چې قسمت یې نه وو هر ځل نیول کیدو او بیرته یې راستو تر دی چې نن یې د خودکشی خبر ما ته مدثر راکړو، خو ډیر خر دماغ انسان وو! پوهیږې ځان یې څنګه وژلی؟

د رسول د مړه کیدو د خبر په اوریدو دومره مې طبعیت خراب شو چې حد یې نه  درلود، که څه هم چندان صمیمی ملګری نه وو خو څلور کاله مو یو ځای یو ټوګلي کی درس ویلی وو او څه ناڅه یو یل مو سره پیژندل.
- نه، څنګه یې وژلی ځان؟
زبیر- بیعقل ځان د بار وړونکي موټر مخکې اچولې

بیخی یو هډوکی په بدن کی روغ نه دی پاتې داسی ټوټه، ټوټه شوی زه دیته حیران یم که ځان یی مړ کاوه نو یو آسانه لاره به یې خپل کړی وایی دومره دردناک نو څوک ځان وژني!؟

د زبیر په خبرو مې لا زړه خراب شو ژر مې ورسره خدای پاماني  وکړل او موبایل می بند کړو، د بابا او طاهر شتون مې یو دم لیاده ویستلې وو او ټول فکر می د رسول خوا ته وو او دیته مې فکر کاوه چې کله یې ځان د هغه لوی موټر لاندی اچو ایا هغه دقه مړ شوی یا که خپل د هډکو د مات کیدلو درد یی احساس کړی؟ زړه به یې چودلي وی؟ یا هم شاید مغزه یې شیندل شوی وی؟ هره شېبه مې ذهن کې نوی خیالونه راتلل او زړه یې راخراب کاوه چې د طاهر په غږ په ښود راغلم.

طاهر- ستا ملګری ځان وژنه کړی؟

تازه می د هغه او بابا خواته چی دوه سترګي ما ته

نیولی وو فکر شو په کراره انداز مې سر وخوځاوه او ومی ویل: هو.
طاهر- ولی ځان وژلي؟
- نه پوهیږم زبیر ویل ځینې ستونزی درلود.
طاهر- خدای دی وبخښی خو څومره بیعقل وو، د یو څو ستونزو لپاره انسان نه باید داسی شیطان ته تسلیم شی او ځان ووژنی.
- ځان وژن داسي آسانه خبره او پریکړه نه ده طاهر! د نړۍ د ټولو څخه سخت کار همدا ځان مړ کول دی ته فکر وکړه هغه به کوم حال ته رسیدلې وی چې داسي یو عمل یې ترسره کړو او ځان یې ووژلو.

زما په خبره طاهر لږ خاموش شو او ویې ویل: هو ولای دا خبره خو دی صحیح ده،ضرور مجبور شوی خو بیا هم کار یې غلط وو.

- هو، سل سلنه یې کار غلط وو خو دومره پوهیږم چې ضرور بد حالت کې وو، کنه هغه ما لیدلی بیحد

عاجز،زحمتکش او لایق هلک وو څلور کاله پرلپسي نه یوازی زموږ د ټولګي بلکي په ټول پوهنتون کی ټاپ عمومي اول نمره وو،د دومره لیاقت وروسته یو کار ورته پیدا نشو او د بیکاری او اقتصادی ستونزو له لاسه يې ځان وژنه کړي، دا خبره شاید تاته آسانه او ریشخند ښکاره شي طاهر ځکه چې تا د هر خوا څخه ډګي نه دی خوړلې ته د کوم ځای څخه د کار کولو لپاره نه يې شړل شوی.

مخامخ می د هغه خواته وکتل نه پوهیږم ولی خو د دی ټول کلونو مصیبتونه او دردونه می رایاد شول او ومې ویل: تا تر دولسم ټولګي درس وویلو د هغه وروسته بغیر د کوم زحمت او کوښښ څخه ولاړی او د بابا سره دی کار شروع کړو،داسي حال کې چی موږ په زحمت او تکلیف پوهنتون ته کامیاب شو بیا څلور کاله مو په بترینه حالاتو کې درس وویلو او د زړه ویني مو وخوړل ترڅو پوهنتون خلاص کړو

یوازې په دې امید چې یوه ورځ خپل پر پښو ودرېږو او یو کار شروع کړو او خپل ژوند وکړو، خو د دومره زحمت او درس ویلو وروسته موږ د پوهنتون لیسانس ته چا د یو روپي ارزښت لا ورنکړو او حتا په هغه لیسانس باندې موږ ته د جارو وهلو دنده لا رانکړل زه خو نامید شوم او د دومره درس وروسته کښیناستم او دوکانداری مې د مجبوریت شروع کړل، خو زما ملګری همت وکړو او ماسټری هم وویل په دې امید چې شاید د هغه په برکت ورته کوم کار پیدا شي خو بیا هم ورته چا کار ورنکړو، یعنې اتلس کال درس ویلو وروسته چا ورته د ماشي اندازه لا ارزښت ورنکړو ځکه واسطه یې نه درلود او نن سبا ټول کارونه په واسطي دی، نو ته فکر وکړه دې که خودکشی ونکړی نو څوک به یې وکړی؟

که ذوالفقار زما لاس نه وایي نیولي او د هغه مرسته نه وایي نو زه شک نلرم چې زما حالت هم اخر خودکشي ته رسیدلی وای. بیا مې کرار وویل: ته څه خبر یې

شاید ما هم یوه ورځ ځان وژني ته فکر کړی وی؟
دا خبره مې کرار وکړل خو لکه چې بابا واوریدل ځکه قهرجن غږ یې پورته شو.
بابا- څه دی وویل؟
- هېڅ.

نه مې غوښتل یو نن چې راغلې یم کوم جنګ جوړ کړم خو بابا لکه چې زما د دی اخری خبری څخه ډېر غوسه شوی وو او تقریبا خپل پیاله یې داسي خوځول لکه چې غوارې وار وکړی؟ د هغه د حال په لیدو خپل د کړی خبری څخه پشیمان شوم اصلاً پر ما څه جبر وو چې دویته مې وویل یوه ورځ مې د ځان وژنی اراده درلود؟ عجب خر بیعقل یم. ښه

وو طاهر خبره بدل کړل او یو بل بحث یې راوخیست که څه هم بابا تندی همغسې تروش نیولی وو خو نور څه یې ونه ویل. ماښام آذان خواته ما غوښتل کور ته

لاړ شم خو ادی او طاهر بیحد زاری وکړل او اخر کې د بابا په خبره چې ویې ویل: پاتي شه نن شپه.

زه هم پاتي شوم، نه پوهیږم خو نن راته بابا عجیب غوندی ښکاریدی، دا څو کلونو کې ما داسې نه ولیدلی نن زما خبرو ته یی غوږ نیولی وو او غوږ نیول څه کوی چې زما خبری ورته مهم وه! کله چې ومی ویل ما ځان وژني ته فکر کړی وو نو د بابا رنګ یو دم بدل شو لکه چې بیحد خفه شوی وی په دی خبره!

ماښام هم ادی غوښتل طیبه د ماښام ډوډی ته را وغواړې خو بابا ویل نن ماښام یې مه را غواړه او پریږده په کراره ډوډی وخورو، ما لومړی ګمان وکړو چې بابا شاید د طیبي څخه غوسه وی یا هم د هغې د ماشومانو د شور ماشور څخه یې ښه نه راځې، خو وروسته مې یو فکر ذهن ته راغلو طیبه هیڅکله یوازی نه راتلل او فرید ضرور ځان د سریښ پشان ورسره وصل کاوه او راتلو او ډولو ته معلوم وه چې ما د فرید

څخه څومره بد راځې نو شايد په همدی خاطر بابا ادی ته وويل چې پرېږده نن شپه په کراره بوډۍ وخورو!

يعنی امکان لری بابا زما په خاطر داسی کار کړی وی؟ که څه هم د امکان څخه لری خبره وه چی بابا دی وغواړی زما خاطر وکړی او زما خوشحالي دی ورته مهم وی خو نه پوهيږم ولې د بابا په کار خوشحال شوم!

ماښام د کلونو وروسته ټول په يو دسترخوان کښيناستو د کور ښځې زموږ څخه لری د دسترخوان په بل سر کښيناستي او موږ دی بلخوا، ادی زما د خوښی بوډۍ پخه کړی وه وريجي بغير د کشمش څخه او د چرګ غوښه، زه د طاهر څنګ ته کښيناستم بابا د دسترخوان سر کې ناست وو او ټول يې د نظر لاندی وه د بوډۍ وخت کې د تل پشان محمد شوخي شروع کړل او د هر کس خواته ورتلو او خبری کول هغوی هم ورته يو، يو ګوله بوډۍ خوله کې ورکول او محمد هم

په خوشحالۍ همداسې روان کله چې ماته راورسيد ما غيږ کې ونيسو ترڅو نورو ته مزاحمت ونکړی خو هغه چغې وهل شروع کړل ترڅو پرېږدم هغه خپل شيطنت وکړي، زه او محمد لا په کشمکش کې وو چې بابا وويل: پرېږده څه کار ورسره لرې؟

بابا دا خبره په دومره غوسه وکړل چې ما بې اختياره محمد خوشې کړ او هغه هم په خوشحالۍ بيا خپل کار شروع کړو بابا ورته په مسکا کتل باور مې نه راتلو بابا لکه چې محمد خوښ شوی وو؟ ځکه ما ليدلي و بابا د ماشومانو سره چندان ښه رفتار نه درلود او کوم مجلس کې چې ماشوم وايي هغه يې د باندې باسو او ويل يې د ماشومانو د چغ ماچغ عصاب نلرم، خو نن لکه چې بابا د محمد شيطنت او شوخي خوښ شوی وه او دا ماته بيحد عجيب وه.

د ډوډۍ خوړلو وروسته کله چې د چای نمبر شو نو محمد بيا خپل کار شروع کړو موږ ناست وو او هغه د

دهليز مينځ کی لکه د پيشو بچي پشان يوځل د حسنا خواته ځغاست بيا د مروه خواته او حتا کله ناکله د طاهر خواته هم راتلو البته طاهر ورته چاکليټ نيو او هغه راتلو کنه د هغه بغير دومره نه راتلو او د طاهر سره يې لږ بيګانګي کول، د محمد له لاسه موږ ټول مجبور شوی وو چې خبل پياله چاي لاس کی ونيسو ترڅو هغه ونه سوځيږی، همدی ځغاستلو، راځغاستلو کې محمد د بابا خواته ورغلو او د بابا د لاس تسبيح ته ځير شو د هغه په دی کار ما بی اختياره ورباندی غږ کړل.

- محمد ديخوا راشه.

خو هغه د نې،نې پر ويلو نور هم د بابا خواته نږدی شو او لاس يې د هغه د تسبيح خواته ونيو، زه پوهيدم چې هغه تسبيح په بابا څومره ګرانه ده، ما د هغه تسبيح په سر دومره وهل د بابا څخه خوړلی وه چې حد يی نه درلود، نو ځکه نه مې غوښتل چې محمد دی

همورباندی وهل وخوری همدا چې د پاسېدلو اراده مې وکړل ترڅو محمد د بابا څخه لری کړم بابا محمد په غیږ کې ونیو او خپل تسبیح یې د هغه په لاس کې ورکړل.

د بابا په دی کار د حیرت څخه مې سترګي راووتل، بابا دا تسبیح په عام اصطلاح خپل پلار ته لا نه ورکول، دومره ورباندی ګرانه وه چې حد یې نه درلود خو نن یې هغه د محمد په لاس ورکړل، بابا نن بیحد عجیب غوندی رفتار کاوه ما ته او محمد ته یې بیحد توجه کول، په کرار کښیناستم او هغوی ته په کتو شوم محمد تسبیح هسې ښورول بابا مسکا په خوله تسبیح د محمد په ګوتو کې وارول او ویې ویل: داسي تسبیح واروه او ووایه الله،الله.

د بابا په خبره محمد هم همغسې وکړل د تسبیح دانه یې ارول او خپل په خوږه ژبه یې الله،الله ویل دومره په خوږ انداز تسبیح ارول چې ټولو ورته پخندا کتل

بابا سر ښکته کړو او تندی ورڅخه ښکل کړو محمد هم د څو شیبو وروسته د بابا له غیږې پاسید او بیا یې خپل شیطنت شروع کړو،د ماښام تر لس بجو ناست وو او مجلس مو کاوه البته زیاتر خبری طاهر،مروه،حسنا او ادی کول دی منځ کې زه،اقرا او بابا خاموش وو د طاهر ښځې هم کله ناکله خبری کول بیحد عاجز او حیاناکه جنۍ ښکاریدل د هغې او طاهر په لیدو بی اختیار مې زړه کې دعا وکړل چې خدای دی ورته یو اولاد ورکړي اولاد د خدای نعمت دی.

د لس بجو وروسته زه پاڅیدم او اقرا ته مې اشاره وکړل چې نور تیاره شې چې لاړشو زموږ په پاسیدو ادی په تلوار وویل: چیرته ځې زویه؟
داسی حال کې چی د محمد د لاس څخه مې د بابا تسبیح اخیستل ومې ویل: نور نو شپه تېره شوه غوره به وی چې موږ هم کرار،کرار حرکت وکړو لاره لری ده.
د ادی د څه ویلو مخکې بابا په دروند غږ وویل: یو نن که دلته پاتي شي قیامت به رانشې!

د بابا په خبره مې وروکتل او خندا راغلل، د بابا لهجه بیحد د ذوالفقار پشان وه هغه هم کله ناکله داسی ماته ویل که څه هم زړه مې غوښت لاړ شم خو دا چې بابا وویل مه ځه او ادی هم ټینګار کاوه نو مجبور پاتې شوم ادی یو کوټه ما او اقرا ته راکړل ترڅو هلته ویده شو ما هم د بابا تسبیح د محمد د لاس واخیستل او بابا ته مې ورکړل او د هغه کوټې پخوا روان شوم کوم چې ادی ما او اقرا ته د خوب کولو لپاره تاکلې وه، بیحد خوب راتلو محمد هم نور د خوب زنګیدو ادی دوه کمپل راوړل اقرا هم ځایونه واچول محمد مې یه نالې څملو او خپل هم څملیدم بیحد نن ستړی وم داسی حال کې چی کوم خاص کار می هم نه وو کړی خو بیا هم د ستړیا احساس مې کاوه.

اقرا او محمد خو همدا چې څملیدل ویده شول خو زه تر څو دقو ویښ وم او د نن ورځی کارونو ته مې فکر کاوه د بابا داسی ناساپه مهربان کیدلو ته او د هغه رفتار ته چې د محمد سره یې درلو، اوس مې هم باور

نشو کولای چی بابا دی داسی مهربان رفتار زما او د محمد سره کړی وی! د اقرا سره یې چلند لږ تریخ وو خو بیا هم خوشحال وم چې کوم څه یئ ورته ونه ویل نه پوهیږم ولې د اقرا سره داسی تریخ چلند درلود؟ البته د اقرا سره یې د تریخ چلند اصلی دلیل د استاذ له سبب و.

نه پوهیدم بابا اخر ولی د استاذ څخه بد راتلل؟ په همدی فکرونو کې کرار،کرار مې سترګي ګرم سول او ویده شوم، د ویده کیدلو څخه مې دومره وخت نه و تېر شوی چې د دروازی د لاستي په پورته او ښکته کیدو خوب مې وپرېد او راویښ شوم کوټه کې توره شپه وه لومړۍ پوه نشوم چې ایا کوم کس غواړی د بیرون څخه دروازه خلاصه کړی که له دننه؟ هېڅوک نه ښکاریدل خو د څو شیبو وروسته سترګي می د تیاری سره عادت شول او محمد مې ولید چې کوښښ یې کاوه دروازه خلاصه کړې او بیرون لاړ شی.

د هغه په لیدو خپل ځای کې کښیناستم خو د دی څخه مخکې چی منع یې کړم له کوټې ووت، د هغه په وتلو زه هم په تلوار لځایه پورته شوم محمد دهلیز کې روان وو کرار مې ورپسی غږ کړل خو هغه بغیر له دی چې کوم توجه وکړی همغسی روان وو، بی حوصله مې پوف کړل او خپل ګامونه مې تیز کړل ترڅو غیږ کې واخلم هغه بیحد شوخ وو او نن چې دومره شوخي او شیطنت یې وکړو نو خوب کې هم د هغه شیطنت کولو لپاره روان وو هغه د دی څخه مخکې هم داسی کار کړی وو او کله به چې له خوب پاسید بغیر له دی چې وګوری ماښام دی یا نیمه شپه ده روان کیدو به یو ځل خو خوب کې د حویلۍ تر دروازی تللی وو او غوښتل یې د استاذ کور ته لاړ شي هغه هم په نیمه شپه د ظالم زوی وېرېدی هم نه!

د دی څخه مخکې چې ورته ورسیږم هغه د دهلیز دروازه خلاصه کړه او بیرون ووت د هغه په دی کار حیرت مې وکړو، هغه نن درسته ورځ دهلیز کی شوخی

کول نو باید همدلته پاتی شوی وایی نه دا چی د دهلیز ښخه ووځې خو بیا مې فکر وکړو چې شاید د مروه یا هم د حسنا پسې ګرځی،و وېرېدم چې زینو کې ونه غورځیږی نو ځکه په تلوار ورپسی ورغلم خو کله چې د دهلیز دروازی ته ورسیدم نو محمد مې د زینو لاند د زیرزمینی دروازی سره ولید.

د هغه په دی کار لږ وډار شوم،یوه ثانیه کې ښنګه د دومره زینو ښخه ښکته شو؟ د خولی لاړې مې تېرې کړل او بیا مې ورباندی غږ کړل خو هغه هېڅ زما خواته نه کتل داسی لکه چې هیڅ زما غږ نه اوری؟ د زیرزمینی دروازه یې خلاصه کړل او ننوت د هغه په دی کار پوه شوم چې خبره عادی نه ده که څه هم بیحد ډاریدلې وم او که محمد نه وایې ولاکه د زیرزمینی خواته مې ګام لا اخیستی وایي په دی نیمه شپه کې خو دا چی محمد هلته لاړو نو بی اختیار ورپسې شوم زیرزمینه دروازه می لږ خلاصه کړه هېڅ

نه ښکاریدل توره شپه وه کرار مې غږ کړل: محمد .... محمد!

ځو ځله مې غږ کړل خو هېڅ ځواب مې ترلاسه نکړو کامل ننوتلم او غوښتل مې د زیرزمینی ګروپ روښانه کړم چې ناساپه د شالخوا یو چا په کلک شئ ووهلم او د هغه سره سم د زیرزمینی دروازه په کلک بند شول دومره کلک یې وهلي وم چې بی اختیاره مې اه له خولی ووت او پر ځمکه وولیدم د څو دقو لپاره بدن مې یو دم فلج شو او هېڅ حرکت مې نشو کولای احساس مې کاوه د پوزی څخه مې وینه روانه ده، نه پوهیدم چې چا وهلی یم او څوک دی؟

خو دومره پوهیدم چې چندان ښه شیان او خبری مې مخکې نه دی، کوښښ مې وکړو پاسیږم او د لږ کشمکش وروسته دومره وتوانیدم چې کښینم شاوخوا مې وکتل هېڅ څوک نه ښکاریدل که څه هم تر مرګ ویریدلی وم خو بیا هم فکر مې د محمد خوا ته وو،

بغیر له دی چې خپل د سر درد ته کوم توجه وکړم هغه ته مې اواز کړو خو بیا مې هم ځواب خاموشی وه، یو حس مې ویل چې هغه ماشوم له سر محمد نه وو او دا ټول یو بهانه او چل وو چې ما تر زیرزمینی راکش کړی په دی فکر په تلوار بغیر له دی چې خپل د سر درد یا خپل د پوزی وینو ته پام وکړم د زیرزمینی د دروازی خواته می حمله کړل خو لا می لاس دروازی ته نه ورسیدلې چې یو چا له پښو کش کړم او پر مخې پر ځمکه وغورځیدم.

دومره کلک ټک مې وخوړو چې خپل د پوزی د مات کیدلو غږ مې پخپل واورید د ډیر درد او وېرې څخه ژړا راغلی وه، د یو چا د قدومونو غږ مې خپل شاوخوا احساس کاوه کوښښ مې وکړو پاسیږم خو احساس مې کاوه یو سل کیلو یې وزن مې پر ملا پروت دی او د ولاړیدو اجازه یې نه راکول د ډېر وېرې او درد څخه مې یو ځاځکي اوښکه له سترګو تویه شوه په هغه تیاره کې می د زیرزمینی کونج کې د یو نفر په سایه

نظر ولګید، شاوخوا بیحد تیاره وه خو بیا هم ما کولای شو د هغه کس شتون هلته احساس کړم.

په کرار قدمونو زما خواته رانږدی کیدو د هغه په هر قدم نږدی راتلو زما د زړه درزا زیاتېده او د پورته کیدلو لپاره مې کوښښ کاوه خو هیڅ فایده نه درلود کرار،کرار رانږدی شو همدا چې زما څنګ ته راورسید له ځمکی پورته کړم او د زیرزمینی په دیوال یې ولګولم مخ مې نشو ورځخه لیدلی خو د ستمي او خر،خر نفس اخیستل مې ورځخه احساس کولای شول خپل ګرم ساه یې زما په مخ خالی کړل او په یو بیحد دروند او عجیب غږ یې وویل: تا زه راوغوښتلم.

دومره یې کلک زما ستونی نیولی وو چې نفس مې نشو اخیستی مخ مې د نفس نه اخیستلو له سبب مخ پر شین کیدو وو او خپل اخری ساه ګاني مې اخیستي چې ناساپه د زیرزمینی دروازه خلاصه شوه.

د هغه سره سم د هغه کس د لاس زور هم لری شو او زه په زنګونو باندی پر ځمکه وغورځیدم ډېر ژر د زیرزمیني ګروپ روښانه شو او ما د زیرزمیني د دروازی سره بابا ولید چې په حیرت او اندیښنی زما خواته راکتل، د ګروپ روښانه کیدلو سره سم شاوخوا مې وکتل او د محمد په نه لیدو هوسا ساه مې له سیني ووتل لکه چې د رښتیا هم محمد یو بهانه وو ترڅو ما لاندی زیرزمینی ته راکش کړی! بابا په تلوار زما خواته راغي.

بابا- څه شوی پر تا؟ دلته څه کوی؟ دا خوله او پوزه دی ولی داسي په وینو ده؟
په زحمت باندی له ځمکی پاسیدم خپل په لاس مې خپل پوزه ونیول بیحد درد یې کاوه که څه هم وېرېدلې وم خو کوښښ مې وکړو ځان عادی ښکاره کړم او ومې ویل: وغورځیدم.
زما په خبره بابا په حیرت وویل: دلته وغورځیدلی؟ د

څه لپاره دلته راغلی وی په دی نیمه شپه چې
وغورځیدلې؟

نه مې غوښتل بابا دی پوه شی چې زه د پیریانو سره لاس او ګریوان یم، ځکه پوهیدم چې دا خبره ذوالفقار ته کوی او یو ځل بیا ذوالفقار زما په ستونزو کې راګیر کیږی نو ځکه په دروغو مې وویل: نه زینو کې وغورځیدم او پوزه مې پر وینو شول  غوښتل مې تشناب ته لاړ شم او خپل لاس او مخ و مینځم خو دلته توره شپه وه هېڅ مې ونه لید او بیا وغورځیدم متاسفانه! وبخښی ستاسو خوب مې هم لکه چې خراب کړو؟

بابا څو شیبې په ځیر راوکتل داسي چې بی اختیاره ما خپل د خولی لاړی تېر کړل.
بابا- د څه لپاره د کوټې څخه دی راوتلی وی چې زینو کې وغورځیدی؟ که د اوبو څښلو یا تشناب لپاره

راوتلی وی نو پورته منزل کې دا ټول شیان شته څه ضرورت د لاندی منزل خواته راغلی؟

د بابا په داسی مشکوک او درنه لهجه پوه شوم چې شک یې کړی.
- ه .. هغه حویلۍ لخوا مې غږ واورید نو غوښتل مې وګورم څه خبره ده؟
بابا- عجیب ده ما خو کوم غږ وا نه ورید!
نه پوهیدم نور څه ووایم!؟ یوازینی لاره چی ذهن ته مې راغلل هغه دا وه چی خپل ځان لږ په ټګی ووهم نو ما هم همداسی وکړل خپل پوزه می ونیول او ومې ویل: اخ.. زما پوزه لږ درد کوی لاړشو ویې مینځم بیا به خبری وکړو.

د دی خبری سره سم بغیر له دی چی د بابا مشکوک نظر ته کوم توجه وکړم د زیرزمینی څخه ووتلم او پورته منزل د تشناب خواته لاړم، خپل پوزه مې ومینځل خو بیا هم درد یې درلود او نفس مې سم د پوزی څخه

نشو اخیستی همغه حال کې چی خپل پوزه می مینځل دیته مې فکر کاوه چی اخر هغه څه و چی پر ما یې برید وکړو؟ ویل یې تا زه راغوښتلی یم؟ دا نو څه معنا؟ سبا باید ضرور یو ځل د شموئیل سره وګورم او پوښتنه وکړم، اه شموئیل نن هم مرستي ته رانغلو او که بابا نه وایې راغلی خدای خبر زما به څه حشر وایې؟

د دی وروسته چې خپل پوزه مې له وینو څخه پاک کړل له تشناب ووتلم بغیر له دی چی شاوخوا وګورم په تلوار کوټی ته ننوتلم ترخو بیا د بابا په ګیر ورنشم او جنایی پوښتني راڅخه شروع نکړی. اقرا او محمد کرار ویده وه، په کرار ګامونو د محمد خواته ورغلم څنګ کې کښیناستم نن زه د هغه لپاره تر زیرزمیني ولاړم کنه خدای پر سر شاهد دی ټول نرۍ هم که زما پر نوم کړی وایي قدم مې لا په هغه نیمه شپه کی د زیرزمینی خواته نه اخیست خو نه پوهیږم کله چې د محمد په شکل هغه پیری مې ولید نو ناساپه لکه چې زما بدن

کې زر کیلو واټ انرژی راغلی وی داسی په تلوار ورپسی ورغلم بغیر له دی چی ځانته فکر وکړم

یوازی او یوازی فکر می د محمد خواته وو چی پر هغه خو کوم شئ نه وی شوی؟ اه د ربښتیا چی هم اولاد د انسان د ښمن دی.کرار مې تندی ورڅخه ښکل کړو چې هغه هم خوب کې تندی تروش کړو او په بل څنګ شو زه هم له څنګ یې پاسیدلم او خپل ځای ته ورغلم بیحد مې خوب راتلو که څه هم اندیښمن او وېرېدلې وم خو بیا هم خوب دومره راباندی غالب وو چې بغیر له دی چې کوم بل موضوع ته فکر وکړم سترګې می پټې کړل او ویده شوم.

سهار د دې څخه مخکې چې ادی دوې پاسیږی د کار پخوا روان شوم او اقرا ته مې وویل چې غرمې خواته تیار اوسیږی ځکه د کار ژر بیرته راځم او ځو کور ته، هغې هم د خوب حالت کې د سر په خوځولو زما خبره تایید کړل بغیر د نور څه ویلو د محمد مخ مې ښکل

کړو او د کور ووتم پوزه مې درد کول او پوهیدم چې خامخا به شنه شوی وی داسي لکه چې جنګ مې کړی وی او یو چا په بوکس وهلې اوسیږم؟ البته همداسی هم وه خو په دی توپېر چې جنګ کوونکي زه نه وم او یو پیری وهلی وم تر اوسه مې د هغه خبری ذهن کې ګرځیدل څه مطلب چې ما راغوښتی؟

دومره د دی خبری په اړه مې فکر ګډوډ وو چې هېڅ پوه نشوم څنګه دوکان ته ورسېدم؟ دوکان مې تازه خلاص کړې وو چې زبیر هم راورسید زما په لیدو یې په حیرت وویل: جنګ دې کړی؟

- نه ولې؟

زبیر- دا مخ او پوزه دی ولې داسې شنه ده؟ لکه چې یو چا سم وهلې اوسیږی؟

بیا بغیر له دی چې زما د کوم ځواب په تمه شی رانږدی شو لاس یې زما د مخ خواته راوړو خو ناساپه زما مغزی ته یې فکر شو او داسی حال کې چی په هغه یې لاس واهه ویې ویل: دا مغزی دی ولی داسي شین دی؟

داسی ښکاری لکه چې یو چا له ستوني نیولی اوسیږی؟

خپل مغزی ته مې هېڅ فکر نه وو د زبیر په خبره د دوکان د هینداری خواته وګرځیدم او د رښتیا هم د ستونی شاوخوا می شنه وه کوم خوا چې ماښام هغه پېری نیولی وم، لعنت دی ورباندی داسی زور یې درلود نږدی مړ کړی وم.
زبیر- ولی خبری نکوی؟ د ذوالفقار سره دی جنګ کړی؟ هغه وهلی یی؟
- ته ولې هرځل چې ما لږ خوږ وګوری فکر کوی چې ذوالفقار وهلې یم؟
زبیر- نه چې ډېر خوش اخلاق دی ځکه فکر کوم.
په پوسخند مې وویل: هغه ما نه وهې خپل ګمان پر ما مکوه.

زبیر بد،بد راوکتل او داسی حال کې چې د دوکان هغه بلخوا ته تلو ویې ویل: ما ته ګوره د چا په فکر کې یم؟

ورځه مړ شه خیرن.

د زبیر داسی غوسه ناک لهجې ته مې خندا راغلل څو میاشتې مخکې زبیر یو ریشخندی کار وکو هسې میدان بغیر د کوم خبری ذوالفقار ته زنګ وهلی وو او د دروغو یې ویلي وه چې طاها موټر وهلې او موږ شفخانه کې یو؟ او بغیر له دی چې مثلا ووایی په فلانکې یا بیستانکې شفخانه کې یو موبایل بند کړې وو ذوالفقار هم لکه د لیونیانو پشان د ښار ټول شفخانې زما پسی کتلې وه او اخر کې د درې ساعتو وروسته کله چې د ټول خوا نامید شوی وو زموږ د دوکان خواته راغلو چې شاید دلته د کوم چا څخه زما احوال واخیستل شی؟

او د راتلو سره سم پر ما چې د دی ټول موضوعاتو څخه ناخبر وم نظر ولګید او پوه شو چې زبیر ورته دروغ ویلې، هې هې نو کله چې خبر شو زبیر هسې د دروغو دا خبره کړی داسې زبیر وواهه چې تر دوه

ورځو دوکان ته نشو راتلې، کله چې ما د زبیر څخه پوښتنه وکړل ولی دی داسی دروغ ذوالفقار ته ویلې؟ نو زبیر ډېر جالب ځواب راکړو ویل یې نن ورځ د دروغو عمومي ورځ ده او دی ورځ کی خلک دروغ وایې! دومره ریشخند ځواب، د هغه ځواب وروسته حق مې ذوالفقار ته ورکړو چې ښه یې وډبوی، د هغه ورځی وروسته زبیر د ذوالفقار څخه بیحد وېرېدی البته ترڅو وخته ورڅخه مرور هم وو خو بیا یې اشتي وکړل.

زه همدی فکرونو کې وم چې زبیر خپل د لاس کتابچه زما خواته راوچول او ویې ویل: څه مرګ درباندی شوی نغوارې ووایې چا دا رقم تور او شین کړی او وهلی یې؟

- وهل دې صحیح وویل خو.

زبیر- خو څه؟

- خو کوم کس نه یم وهلې.

زبیر- څه مطلب کوم کس نه یې وهلی؟ نو چا داسی

کړې یې؟
بیا بغیر له دې چې زما ځواب ته په تمه شې په حیرت یې وویل: مه وایه چې کوم پیری وهلی یې؟
- افرین هوښیار شوی یې.
زبیر په ورخطای زما خواته راغلو او ویې ویل: درد او بلا او هوښیار شوی یې، څنګه یو پیری ووهلې؟ د څه لپاره؟

د زبیر په زیات پوښتنو مجبور شوم د پرون ماښام ټول کیسه ورته وکړم زما د خبرو خلاصولو وروسته زبیر په ژور فکر کې لاړ د څو شیبو خاموشی وروسته یې وویل: د هغه د دې خبرې مطلب څه وو چې تا زه راغوښتلی یم؟
- هومم ولای زما فکر هم همدې خبرې ته دی، خو نه پوهیږم چې ولې داسی خبره وکړل په څه دلیل؟!
زبیر- امکان لری دا همغه ستا د ماما کور کی د ښاه پیری وی؟ هلته خو یې کوم څه درته ونه ویل شاید اوس راغلی چې خپل غچ"انتقام" واخلی؟

- نه پوهیږم دماغ مې هېڅ کار نکوی، خو پر یو موضوع لږ شکمن یم.

زبیر- کوم موضوع؟

- فکر کوم د هغه د دی خبری مطلب شاید هغه جادو ته اوسیږی کوم چې موږ خلاص کړو؟ ما ویلی وه درته کنه جادو تل یو پیری باندی تړلی وی؟

زبیر- هسې خبری مکوه اول خو دا چی هغه جادو ما خلاص کړو نه تا نو که کوم پیری درلود باید زما خواته راغلی وایی نه تاته.

څه مې ونه ویل او خاموش شوم فکر مې زر خبرو خواته لاړو او د ټولو څخه بتر یې دا چې هسې نه کوم ورځ پیریان زما لځایه محمد یا اقرا ته ضرر ورسوی، زه خپل وهل او ټکولو ته دومره نه وم خفه لږ،لږ مې ورسره عادت کړی وو خو خدای مکړه که کوم ورځ وغواړی اقرا یا محمد ته کوم زیان ورسوی ډاډمن یم هغه ورځ زه خپل ځان خپل مړ کوم.

زبیر- اوس څه وکړو ستا په نظر؟
- نه پوهیږم.
زبیر- زما خبره منې خپل خسر ته ووایه هسې هم لومړۍ ځل هغه درسره مرسته وکړل شاید بیا هم کوم مرسته وکړی شی؟
- فکر نکوم دا ځل کوم مرسته وکړی شی.
زبیر- ولی؟
- استاذ کوم تعویذ نکوی یوازی د قران کریم سورتونه وایي او دم کوی او د حق تېر نشم د هغه زیاتر دمونه هم ګټور دی خو کله چی همغه سورتونه زه وایم هېڅ اثر نکوی!

زبیر- ولی اثر نکوی؟
- هومم استاذ ویلی وه زه ورباندی عقیده نلرم.
زبیر- څه مطلب ته عقیده نلری؟ ته مګر قران نه منی؟
- بی له شک چې منم یې.
زبیر- نو بیا؟
- عقیده او منل فرق کوی زبیر زه چی کله وډار شم دا

ټول سورتونه وایم خو زړه کې مې دا عقیده وې چې دا
کوم فایده نشي کولای او پیریان به ضرور ما ته کوم
تاوان راورسوي.

زبیر- دیته وېره ویل کیږي، او خفه نشې خو ما هم د
یو چا څخه اوریدلي وه چې پیریان زیاتر په هغه
کسانو غالب دي او هغوي وېروي کوم کسان چې ډارن
وي.
- مننه د نیک نظر څخه دي.
زبیر پخندا وویل: هیله کوم.
- مرګ، مرګ خیرن تا هغوي څه لیدلي چې داسې سینه
ټکوې! پوهیږي کله چې هغوي راځي څومره وحشت او
وېره لري؟
زبیر په بیغم خیال خپل اوږي پورته واچول او ویې
ویل: هر څنګه چې وي خو زه نه وېریږم.

په دروند نظر مې وروکتل او ومې ویل: خدای دي نن
ماښام یو دانه پر تا برابر کړي چې پوهه شي زما پر

حال.
زبیر- مرګ د سپی بچي په دی خبره دی.
پخندا مې وويل: څنګه لکه چې له نوم څخه يې لا و وېرېدي؟

نیم ساعت مو ښه په دی خبرو جنجال وکړو د هغه وروسته د زبیر مشوری شروع شوی او ویل یې راځه یو بل مولا ته لاړ شو او بېر يې هم ټینګار درلود چې تیل داغ مولا ته لاړ شو! خو ما انکار کاوه هېڅ مې د دی مولا د نوم څخه لا ښه نه راتلل موږ په همدی خبرو کې وو چې د دوکان دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار راننوت.

د ذوالفقار په راتلو ما په نامحسوس توګه زبیر ته سترګي تنګی کړل ترڅو نور دا موضوع پرېږدی او ذوالفقار ته څه ونه وايي، هغه هم پوه شو او ژر یې موضوع بدل کړل
زبیر- نظر نشې څنګه نن زموږ دا عاجزانه دوکان ته مو

تشريف راوړو؟
ذوالفقار- سلام.
- عليک سلام، ښه يي؟
ذوالفقار په تروش تندی زما خواته راوکتل او ويې
ويل: زه خو ښه يم خو پر تا څه شوی؟ دا مخ دی ولی
داسی دی؟
- کوم خاص خبره نه ده وغورځيدم.
ذوالفقار- سترګي نلری؟
- سترګي لرم خو شانس نلرم بدبختانه.
ذوالفقار څو شيبی بد بد راوکتل خو د دی څخه مخکې
چی بل څه ووايي زبير وويل: ته څنګه په دی سهار
وختی زموږ خواته راغلی؟ څه شوی؟

ذوالفقار- نه څه بايد وشی؟ هسی زړه مې تاسو دواړو
پسي تنګ شوی و نو ځکه راغلم.
د ذوالفقار په دی خبره ما او زبير يو بل ته مشکوک
وکتل چې زبير طاقت ونشو او پوښتنه يې وکړل: نن دا
لمر د کوم خوا راختلی چې تا زموږ دواړو پسی زړه

تنګ شوي
ذوالفقار داسی حال کې چې خپل لاس یې د میز په سر کیخودو په پوسخند وویل: زه تل ستاسو یاد کې یم او ستاسو په لیدو خوشحالیږم البته په دی شرط چې کوم بد کار مو نه وی کړې او زما پر عصابو نه یاست تللی.

د ذوالفقار د څهری او خبرو څخه ښکاریدل چی نن ډېر خوشحال دی.
- نن ډېر خوشحال ښکاری؟
ذوالفقار- بده ده خوشحال یم؟
- نه، خو که ووایي په څه خبره داسی خوشحال یی؟
نو موږ به هم خوشحاله شو.
ذوالفقار- راځې نن زما میلمانه یاست وږم مو هوتل ته هر څه خوری پیسي مو زه ورکوم.

د ذوالفقار په دی خبره زما او د زبیر حیرت لا زیات شو که څه هم ذوالفقار تل داسی ولخرچی او مصرفونه کول خو نن دا چی سهار وخت راغلی و او داسی خبری

کول لړ عجیب غوندی وه.
زبیر- ستا دا خوشحاله څهره او داسی سخېتوب زه فکر کوم یو دلیل لری؟!
ذوالفقار په شیطنت د زبیر خواته وکتل او ویې ویل: لکه څنګه دلیل؟
زبیر- اممم فکر کوم بیا لکه چی پلار کیږی؟ ځکه هغه بل ځل چی لور دی پیدا کیدل داسی خوشحاله وی.

د زبیر په خبره په حیرت می د ذوالفقار خواته وکتل څه ناڅه د زبیر خبره راته صحیح ښکاریدل، خو ذوالفقار پخندا وویل: نه هسې کوم خبره نه ده، غلط فکر دی کړی.
- بیا نو څه خبره ده؟
ذوالفقار- غواړی همدلته درته ووایم؟ راځی یو هوټل ته لاړشو د ډوډۍ خوړولو وخت کی درته وایم، اوس راځی او کنه؟
ما ژر خپل ځان د میز له شا څخه راوویست او ومې

ویل: ضرور ځم مفته بوږی ده څوک ورته نه وايي؟
هسې هم داسی وږی یم.

زما په خبره زبير هم پاسید بېر ژر مو د دوکان دروازه قلف کړل او یو نږدی هوټل ته لاړو،درې سره د یو میز شاوخوا کښیناستو ځکه چې سهار وختی و نو زیات کسان نه وه ګارسون راغلو او ذوالفقار فرمایش ورکړو، ګارسون هم د دی پر ویلو چی نیم ساعت وخت شاید ونیسې ځکه چی تازه یی پخو ولاړ د هغه په تلو زبیر په بې صبری وویل: اوس ووایه څه شوی؟ ولی داسی خوشحال یی؟
ذوالفقار په مضریت وویل: دومره تلوار ښه نه دی بوږی وخورو بیا وایم.

زه خو خاموش شوم پوهیدم کله چې ذوالفقار ووایې وروسته نو مطلب هر کله چې د هغه زړه وغواړی بیا وايي او د هغه مخکې د کوم چا خبره نه منې، خو زبير لا لګیا وو او کوښښ یې کاوه چې ذوالفقار په خبرو

راوړی، د نیم ساعت وروسته زموږ غوښتل شیان راغلل البته باید ووایم د ذوالفقار غوښتلې شیان او د حق تېز نشم سم خرچه یې کړی وه ډېر شیان یې راغوښتی وه ما خو بسم الله کړل او بغیر د کوم ست کولو لګیا شوم په ډوډۍ خوړولو که څه هم سهار لخوا زه دومره ډوډۍ نخورم او زړه مې نغواړی خو د دې شیان په لیدو اشتها مې اتومات خلاص شوه او خوړل مې شروع کړل.

زبیر- تا ووېل هر څه چې تاسو زړه غواړی راوغواړی؟
ذوالفقار- هو همداسی مې ووېل.
زبیر- نو اوس خو دا ټول شیان تا خپل راوغوښتل،موږ خو ولا نه کتل چې څه شته او څه نه؟
ذوالفقار د میز سر ته اشاره وکړل او ویې ویل: مطلب دا شیان اوس ستا نه خوښیږی؟
زبیر لاس په سینه شو او چوکۍ ته یې تکیه ورکړل او ویې ویل: نه.

زه بغیر له دی چې د دوی جنجال ته وګورم لګیا وم بوېږ مې خوړل پوهیدم زبیر هسی بهانی کوی او د هغه څو میاشتو د وهلو کینه یې تر اوسه زړه کې نیولی ذوالفقار هم لکه چې پوه شو ځکه پخندا یې وویل: زه اوس فرمایش ورکړه څه دی زړه غواړي؟ زبیر- اوس یې نغواړم تا دا ټول شیان د طاها په زړه راوغوښتل.
زه چې د خوړلو حال کې وم سر مې راپورته کړو او ومې ویل: ها! زه دی مینځ کې له کوم خوا شوم؟

ذوالفقار زما خواته راوکتل او ویې ویل: دا نن هسې چټیات لګیا دی ته دی بوېږ وخوره.

د ذوالفقار په دی خبره زبیر په غوسه وویل: زه چټیات لګیا یم؟ ته وګوره وریژی دی راوغوښتل بغیر له دی چې کشمش ورواچوي او ټول پوهیږي چې طاها وریژو کې د کشمش( اوټکی) څخه بد راځی، وګوره غوښه دی راوغوښتل چرګ او د چرګ کباب د غوای غوښه دی

راونه غوښتل ځکه پوهیږی چې طاها یې نخوری نور هم ووایم؟

د زبیر په خبره تازه ما د بووږۍ خواته فکر شو د ربښتیا هم ټول زما د خوښي شیان وه!
ذوالفقار- ستا مشکل اوس څه دی؟ که دا نخوری نو نور ځانته راوغواړه، داسی دعوی وهې لکه چی طاها ستا بنه ده؟

د ذوالفقار په دی خبره زما خندا راغلل د زبیر خندا هم راغلی وه خو د دی لپاره چی کم رانشی ویې ویل:
ورک شه،که زه د ده خیرن بنه اوسیږم نو میرہ به مو هم ته یې؟

د زبیر په دی خبره خپل خندا مې کنترول نشو کړی او کوم ګوله بووږۍ چی خوله کې می وه هغه مې په سره غاړه ولاړل او په ټوخ و ولیدم، ذوالفقار ژر د اوبو بوتل زما خواته ونیو په زحمت می هغه د لاس واخیست، د دوه دري غړپ اوبو څښلو  وروسته مې زبیر باندی

بوتل وار کړو او ومې ویل: نور هسې بیخایه غول مخوره یا کښینه د انسان پشان ېوېږ وخوره یا ورځه دوکان ته زما پر عصابو مه ځه.

زبیر څو شیبې خاموش شو د هغه وروسته داسی حال کې چی د ځان سره یې بنګ،بنګ وو لګیا شو د ېوېږ په خوړلو البته د دی لپاره چې خپل زړه لږ خالي کړی په ذوالفقار باندی په قصد باندی لس سیخ کباب راوغوښتل! ذوالفقار هم د دی لپاره چی زبیر بیا جنګ شروع نکړی خبره یې ومنل د ېوېږ خلاصیدو وروسته د زبیر راغوښتل شوی لس سیخ کباب هسې پاتی وه او یو دوه دانې کی ورڅخه خوړلی شوی وه.

ذوالفقار د هغه کباب خواته اشاره وکړل او زبیر ته یې وویل: ها! څنګه شو؟ نو ولی نخوری؟
زبیر داسی حال کې چې د ډېر ېوېږ خوړلو له لاسه په څوکۍ باندی تقریبا څملېدلې و وویل: په تا یې څه چې خورم او کنه؟

ذوالفقار- پیسي خو زماورباندی تللي؟
زبیر- ما درته وویل موږ میلمانه کړه؟ ځان څخه به دی سخي ارسلان خان نه وايي جوړ کړی، خپل دی سینه وتکول چی هرڅه غواړی راوغواړی نو اوس هم بغاری مه وهه.

ذوالفقار او زبیر لګیا و او بیا یي جنجال کاوه چې ما د ګارسون څخه وغوښتل چې یو پلاستیک ماته راوړی، کله چې ګارسون پلاستیک راته راوړو نو بیغم لګیا شوم هغه کباب او د چرګ پاتي غوښه مې پلاستیک کې واچول زما په دی کار ذوالفقار او زبیر د څو شیبو لپاره د جنګ لاس واخیست.
ذوالفقار- دا دی ولې پلاستیک کې واچول؟ که موږ شوی نه یې زه به درته یو بل خوراک بوبۍ راوغواړم؟

- نه، نه ضرورت نشته ما دومره وخوړل چې تر یو هفتي که نور خوراک هم ونکړم نه وږی کیږم،دا مې راوخیستل ستا خبره پیسي مو ورباندی تللې زره مې

نه کیږی بیرته یې واستوم.
زبیر- ای د سومالیا وږی.
- مننه.
زبیر- نو هغه هېوکی دی ولی راټول کړل؟ یوازی به دی هغه کباب راخیستی وایی.
د زبیر خواته می وکتل او په شیطان خندا مې وویل: دا خو ما ځانته نه دی راخیستی.
د زبیر لځایه ذوالفقار وویل: نو چا ته دی راخیستی؟ داسی حال کې چی خندل مې ومی ویل: هغه زموږ دوکان څنګ کی یو پیشو تازه لنګ شوی او ماشومان یې پیدا شوی دا هغې ته ورم.

زما په دی خبره ذوالفقار پخندا سر وخوخاوه خو زبیر په غوسه وویل: ای مړ شی لخیره ما ویل دا څو ورځې ولی همدا چی زه دوکان ته رانوځم حساسیت کوم؟

پخندا مې وروکتل زبیر د پیشو سره حساسیت درلود همدا چی یو ځای ته تللی وایی کوم ځای کی چی

پیشو وه نو ټوخیدل به یې شروع کول زما پخندا زبیر د میز لاندی په لغته ووهلم او ویې ویل: مرګ،مرګ خاندی هم، ما څو ځله پوښتنه هم وکړل چی دلته خو پیشو نه ده راغلې؟ او تا ویل نه، خبر نه وم چې خپل د مور بنه دی دوکان کی پټه کړی.

- په کراره خیرن، دوکان کې مې نه ده پریښودلې د دوکان د دروازی سره کله ناکله راځی.
زبیر- هو تخو رښتیا وایي.
نور څه مې ونه ویل او خاموش شوم زبیر هم بد بد راوکتل او د شونډی لاندی کرار وویل: په ګیر مې راشی مړه کوم یې.
زما د څه ویلو مخې ذوالفقار وویل: پوښتنه نکوي ولی مې تاسو دواړو ته شیرنې درکړل؟

زبیر- ما څو ځله پوښتنه وکړل خو تا لکه تازه شوی ناوی پشان ناز کاوه او ځواب دی رانکړو.
ذوالفقار- خوله دې سمه خوځاوه نن مې تاته بړیر

حوصله وکړل.
د دی څخه مخکې چی دوی دواړه بیا جنګ پیل کړی
ومې ویل: د څه لپاره دی شیرنې راکړل؟
زما په خبره ذوالفقار د زبیر څخه نظر واخیست او
داسی حال کې چی پخندا یې خپل څوکۍ ته ډېر وهل
ویې ویل: شرکت مې خراب کړو؟
ما او زبیر بې اختیاره وویل: څه؟
ذوالفقار په بیغم انداز بیا خپل خبره تکرار کړل او ویې
ویل: ومې ویل شرکت مې خراب کړو.

- ته لیوني شوی یې ذوالفقار؟
زبیر- شک مکوه چې لیوني شوی کنه څوک خپل د
بدبختي په خبره چا ته شیرني ورکوی؟
ذوالفقار کرار وخندل او ویې ویل: که اجازه راکړی
خپل خبره پوره کړم؟ د شرکت د خراب کولو څخه مې
مطلب دا دی چې د شرکت شریکان مې ټول وباسل او
شرکت مې خپل کړو.

ما او زبير په حيرت يو ځل بيا يو بل ته وکتل اخر زما طاقت ونشو او ومې ويل: او هغوی هم ستا خبره ومنل او شرکت يې تاته درکړو؟

ذوالفقار خپل يوه پښه په بل واړول او ويې ويل: خپل کاکا دی کم لاس نيولې! ټولو حق مې ورته په لاس ورکړو او ورته ومې ويل په سلامت ورځی.

زبير- نو هغه شرکت څنګه تاته در ورسيدو هغه خو ډېر شريکان درلود؟

ذوالفقار- شرکت ما ته را ونه رسيد، هر چا خپل فيصده واخيسته او هر يو خپل په لاره روان شول، ما هم خپل فيصدی واخيسته او خپل د يو بل ملګری سره مې په ګډه يو ځای کرايه کړو او هلته مې خپل د شرکت شيان منتقل کړل.

- نو څه فايده دی وکړل؟ دا شريکان دی وشړل نور شريکانو سره يوځای شوی.

ذوالفقار- پخوا راسره لس شريکان وه خو اوس يوازی يو شريک دی او دا هم شريک نه دی بلکی بايد ووايم

زه يې قرضدار يم همدا چې کار وبار مې سم شو پيسې په لاس ورکوم او شرکت کامل خپل په نوم کوم.

- فکر کوی يوازی ځان کولای شې يو شرکت اداره کړی؟ موږ دوه نفر يو او دومره کوچنۍ دوکان نشو سمبال کولای هغه وخت ته خنګه غواړی دا دومره غټ شرکت يوازی ځان کنترول کړی؟
ذوالفقار خپل تکيه د چوکۍ واخيسته زموږ دواړو خواته يې راوکتل او په شيطنت يې وويل: د همدی لپاره خو سهار وخت ستاسو ليدو ته راغلم، تاسو دواړه به زما سره کار کوی.

- نه.
زما په نه ويلو ذوالفقار تندی تروش کړو او ويې ويل: ولې نه؟
- مرستي کولو لپاره درځو خو د کار لپاره نه.
ذوالفقار- ولې د کار لپاره نه؟
نه پوهيدم خنګه ورته ووايم چې خفه نشې.

- اوممم هغه ما بد راځی د کوم چا د لاس لاندی کار وکړم، ما هغه لومړۍ دنده کوم چې زبیر پیدا کړی وه هغه مې هم د همدی لپاره خوشې کړه، ما نه خوښیږی څوک راباندی امر وکړی.

ذوالفقار په غوسه وویل: زه په تا امر کوم؟

- نه .. نه مطلب مې ته نه یې خو زما زړه نغواړی.

ذوالفقار- ته بد کوی.

خاموش شوم او نور مې څه ونه ویل خو باډمن وم چې زه د ذوالفقار شرکت ته د کار کولو لپاره نه ځم، ذوالفقار د زبیر خواته وکتل او ویې ویل: ته څه وایي؟

زبیر- زه؟

ذوالفقار- هو ته.

زبیر- ما خو بیحد خوښیږی مفت پیسی وخورم بغیر له دی چې کوم زحمت وباسم خو، د هغه ځایه چې متاسفانه د فارسیبانانو خبره ستا اب او نمک مو خوړلې نو نشم کولای ستا سره چلبازی او فریبکاری

وکړم نو بهتره همدا ده چې درنشم.
ذوالفقار- څنګه چلبازی ونکړی؟

زبیر- ګوره ذوالفقار زه ډېر تنبل انسان یم او هیڅ مې نه خوښیږی منظم دی کوم ځای لاړشم او یا دی یو څوک راباندی په زوره کوم کار وکړی، همدا دوکان زما لپاره ښه دی ټول کار په طاها کوم او میاشت اخر کی مفت پیسي به جیب وهم نو ځکه وایم ستا اب او نمک مې خوړلې نغواړی لټی وکړم هغه هم داسی حال کې چی تا تازه شرکت جوړ کړی، زما خبره که منې نو یو دوه داسي کاریګران ونیسه چې تکړه او ایمانداره وی نه زموږ پشان بیکاره او ټنبل.

زموږ دواړو د انکار وروسته که څه هم ذوالفقار غوسه شو خو نور څه یې ونه ویل د نیم ساعت وروسته د هوټل ووتلو زبیر زما څخه ژر روان شو ترڅو د دوکان دروازه خلاصه کړی زه لا کرار،کرار د ذوالفقار سره روان وم د لږ تګ وروسته ذوالفقار وویل: خپل په ټول

ژوند کې پرون تا یو ښه کار وکړو نظر نشی.
د تګ حال کې مې وروکتل او ومې ویل: ما یادوی؟
ذوالفقار- هو.
- څه کار مې کړی چې ستا په نظر دومره ښه وو؟
ذوالفقار و درېد د هغه په درېدو زه هم ودرېدم.

ذوالفقار- دا چې تللې وی او خپل د پلار سره دی روغ جوړه کړی وه.
- تا ته چا خبر درکړو؟
ذوالفقار- یو چا راکړو څه یې کوی؟
- اهوم.
ذوالفقار- جنګ فایده نلری بلخصوص د کورنۍ او مور و پلار سره.
- ما جنګ نه و کړی.
ذوالفقار- جنګ یوازی دا نه دی چې یو بل سره ووهي ستا کار هم یو ډول جنګ په حساب راتلو دا دومره کلونه دی نه کوم پوښتنه پر هغوی وکړل او نه هم کور

ته ولاړې دا هم جنګ دی طاها.
- هغه زه د کور وشړلم.

ذوالفقار- دروغ مه وایه لالا هېڅکله ته له کور ونه شړلې، بلکي دا ته وی چې ضد دی کړی و او نه تلې کور ته.
- شاید مخامخ یې راته نه وه ویلې چې له کور ووځه، خو داسي کارونه او خبری کول چې همدا معنا یې درلود.
ذوالفقار- ته ډېر ضدی او ډېر هم بیعقل یې، پوهیږې کله چې ته ښار ته راغلې د درس ویلو په بهانه او د هغه وروسته دې خپل د کورنۍ سره تګ راتګ بند کړو لالا څومره ماته زنګونه ووهل او څومره یې زما څخه درخواست وکړو چې تا راضی کړم ترڅو بیرته کور ته لاړ شې؟ خو تا ضد نیولې و او ویل دی نځم.

که څه هم د بابا سره مې په ظاهر آشتي کړی وه خو بیا هم زړه مې کامل ورسره نه و صاف شوی ځکه به

پوسخند مې ذوالفقار ته وویل: ته چې وایې بابا دومره زنګونه تا ته وهل تر څو ما راضی کړې بیرته کور ته لاړ شم نو ولی د هغه دومره زنګو لځایه چې تاته وهل یو زنګ ما ته نه واهه؟ او ولې ماته مخامخ نه ویل چې راشه؟

ذوالفقار- غواړې ووایي زه دروغ وایم؟

- ما داسی نه دی ویلې خو که بابا د رښتیا هم غوښتل ما بیرته کور ته وغواړی نو کولای شول یو زنګ ما ته ووهی نه تا ته.

ذوالفقار- لیاده مه باسه هغه ستا پلار دی نه ته د هغه پلار، او پلرونه چی هرڅومره هم مهربانه شې بیا هم خپل د زوی مخکې یو خاص غرور لری لکه څنګه چې تا ضد درلود.

نور څه مې ونه ویل نه مې غوښتل هسې د پخوا خبری رایاد کړم او خپل طبعیت خراب کړم ذوالفقار هم لکه چې پوه شو ځکه نور خبره یې یو پر دوه نکړل او د خدای پامانی وروسته روان شو ترڅو خپل نوی

شرکت ته لاړ شی، زه هم روان شوم ترڅو پلاستیک کې راټول کړی غوښه او هډوکان پیشو ته واچوم، د دوکان څنګ کې دوه ډبری مې یو پر بل کیخودلې وه او یو په ظاهر امن ځای می پیشو او د هغه بچیانو ته جوړ کړی وو هلته په تلو پیشو مې ولیدل چې څملیدلې وه او ماشومانو یې شیدی خوړل زما په لیدو پیشو میاو،میاو کول پیل کړل په سر مې ورته لاس تیر کړو او بیا مې غوښه ورواچول او ژر د دوکان خواته روان شوم ترڅو د زبیر خبری بیا پیل نشی.

تر غرمه دوکان کې وم د غرمه وروسته د تلو اراده مې وکړه ترڅو ژر لاړ شم او اقرا د بابا له کور راوړم، زبیر ته چې د هینداری مخکې لګیا و او خپل ویښتیان یې جوړول ومې ویل: زه ځم لږ کار لرم ته تر ماذدیګر دوکان کې اوسیږه د هغه وروسته دوکان بند کړه.

زبیر د هینداری څخه نظر واخیست او ویې ویل: څه کار لری؟

- محمد دوي د بابا کور کېدی ځم چې هغوی راورم.
زبیر- اهوممم سمده خو فکر د دی؟ دا څو وخته بېر تنبل او بیکار شوی یې هر ځل یو بهانه کوی او کار پریږدی ځی.
- غول مخوره ما کله هسې بهانه کړی او د کار څخه تښتیدلی یم؟
زبیر- هغه ځل د ماما د مرګ په بهانه زر ولاړی او نن هم په دی بهانه روان یې چې محمد راورم، بیا وایي بهانی نه راورم.

- د نن تلو سره کیږی دوه ځل، او ته خپل ده ووایه چې هفته کې څو ځله دوکان ته راځې؟
زبیر بغیر له دی چې زما خبرو ته کوم توجه وکړی داسی حال کې چی شپیلی وهل او دوه سترګي هینداره کې ځانته نیولی وه او خپل ویښتیان یې جوړول ویې ویل: ستا په نظر که څښي پریږدم ښه به راسره ښکاره شي؟
د هغه په خبره ما هم خپل ویښتیانو ته فکر شو او

ومې ویل: ستا د خو نه یم خبر خو ته وګوره زما ویښتیان ډېر شوی سم ښکاری او که کم یې کړم؟

زبیر زما خواته راوکتل اوو ویې ویل: ښه ښکاری مه یې کموه.
- خو مینځل یې دا څو وخته یو څه سخت شوی، پعذابول کوی.
زبیر- داسي وایي څوک وا تر ملا دی رارسیدلې؟ یو اینچ د غوړو څخه دی لاندی راښکته شوی او په تندی باندی دی راغلی څهره دی ورسره معصوم ښکاری او هم بدرنګ.
- ها! یو ځل وایي ښه ښکاری بیا وایې بدرنګ؟ اوس کم یې کړم او کنه؟
زبیر پخندا وویل: نه مه یې کموه داسې معصوم څهره باندی انجونۍ ختاوځی بیا راځی درڅخه خرید کوی.
- بلا،بلا ریشخندی انسان لاړم په دوکان فکر ساته.
زبیر- سمده ورځه، خدای پامان.

د دوکان څخه د راوتلو حال کې مې د هغه د خدای پاماني ځواب ورکړو او بیا مې ډېر ژر موټر سایکل روښانه کړو او د بابا د کور پخوا روان شوم.

د هغه بل پرون پشان یو څه چې د دوکان څخه لرې شوم نو راه بندی شول او زه بیا ترافیک کی بند پاتی شوم، په بی حوصله انداز می شاوخوا کتل شروع کړل چې یو نفر زما په اوږه لاس کیخود او ویې ویل: وبخښی.

مخ مې وروګرځو د هغه بل پرون سړی وو کوم چی ماته په ځیر،ځیر کتل د هغه په لیدو بیحد و وېرېدلم ما هغه بل ورځ فکر کاوه چې دا کوم پیری دی خو اوس راته انسان ښکاریدو، څه کم او زیات د څلویښت دوه څلویښت کالو سړی وو.
په وېرې می وویل: بله مهربانی؟
سړی خپل د جیب څخه یو کارت راوویست زما خواته یې ونیو او ویې ویل: زه خان ګل رسولی یم د ** د

حوزی پولیس.
او د دی خبری سره سم یې خپل کارت ژر ښکته کړو چې ما وویل: کولای شم یوځل بیا مو کارت وګورم؟ هغه بیا ځلی خپل کارت زما مخ ته ونیو او د ربښتیا هم پولیس وو!

- مهربانی څه کار لری زما سره؟
پولیس- تاسو باید زما سره حوزی ته راشی.
- په څه خاطر؟
پولیس- هلته په راتلو به پوه شی.
- خو ووایست د څه لپاره؟
هغه زما د موټر سایکل کیلې وباسل او ویې ویل: هلته په راتلو به تاسو ته پوره د موضوع تفصیل درکړل شې اوس مهربانې وکړی راځی.

د دی څخه مخکې چی کوم ممانعت وکړم هغه پولیس زه د ځان سره کش کړم او د یو موټر خواته چی د سړک هغه بل خواته ولاړ و ویورلم موټر کی دوه نور

نفران هم وه چی زما سره راغلې پولیس زما د موټر سایکل کیلې یو د هغه دوه نفر ته ورکړل او ورته ویې چی زما موټر سایکل دی له دی ځای ویسی ما چی هرڅومره پوښتنه کول څه خبره ده؟ او څه شوی؟ هغوی هېڅ ځواب رانکړو.

موټر چی حرکت وکړو په غوسه می وویل: تاسو حق نلری دا ډول ما ویسې اخر خبره څه ده یو څه خو ووایست؟ ما څه کړی؟
پولیس- مه وېرېږه کوم خاص خبره نشته زموږ قومندان صیب ستاسو سره لږ کار لری ډېر ژر به مو بیرته خوشی کړی.
- ستاسو قومندان څوک دی؟ او څه کار لری زما سره؟
پولیس- کله چی حوزی ته ورسیدو نو معرفي به شي یو د بل سره.

د هغوی د چلند څخه پوه شوم چې نور هېڅ کوم خبره نکوی نو ځکه زه هم خاموش شوم، خو د ډېر وېرې

ثخه خپل په ژوند کی د ټول کړو بد کارونو لیست می
د سترګو وړاندی راغلو خو نه پوهیږم ولې ډیر فکر مې
د یوی خبری خواته تلو! هغه هم د څو کالو مخکی د
هغه جنرال د لور د مرګ او د هغه لیونی جنرال خوا ته،
ما خپل ټول ژوند کی همغه یو پولیسی قضیه او
پرونده درلود نور کوم خلاف کار می نه وو کړی چی و
وېرېږم خو بیا هم داسي زما لاس نیولي وړل زما زړه
کې وېره اچولې وه، لا حوزی ته رسیدلې نه و چی ما
خپل څنګ ته ناست پولیس ته چې داسې چمتو ناست
و ته وا لکه زه چی غوارم وتښتم ومې ویل: اجازه شته
یو زنګ ووهم؟

پولیس- نه.
د هغه د کلک نه ویلو سره نور می خوله بند کړل، همدا
چی حوزی ته ورسیدو زما موبایل او نور شیان یی
راڅخه واخیستل او زه یی د یو پولیس سره د یو
کوټی خواته روان کړم هغه پولیس زه کوټی ته ننباسلم
او خپل ډیر ژر له کوټی ووت او دروازه یی بنده کړل.

شاوخوا کوټه کې په کتو شوم یو معمولې کوټه وه یو
میز او دوه څوکۍ د کوټې منځ کې کیخودل شوی وه
او یو کوچني برق چې لږ یې کوټه روښانه کړې وه البته
زیاتر رڼا د بیرون څخه راتلل او دا هسې روښانه وو د
ټولو څخه بد د کوټې رنګ وو! ټول کوټه فولادی رنګ
شوی او دا رنګ ما ته استرس راکوو د څو شیبو
وروسته دروزه خلاصه شوه او یو 50/55 کالو په عمر
سړی رانوت د ښهری څخه جنايي پولیس ښکاریدو
خپل ږیری او بریت یې اخیستې وه او خیټه یې هم لږ
راوتلې وه او تور رنګ دریشې کړی وه د پتلون په جیب
کې هم مخابره وه خلاصه چې د ښهری څخه یې ما
هیڅ سم حس وانخیست بغیر د کوم سلام ویلو په
څوکۍ کښیناست او ماته یې هم د کښیناستلو وویل.

کوښښ مې وکړو ځان عادی وښایم او و نه ډار شم،
پوهیدم چې د پولیسو مخکې ډاریدل کار نور هم
خراب کوی نو ځکه څو ژور ساه ګاني مې واخیستل
ترڅو په ځان لږ کنټرول ولرم، زړه کې مې ویل کاش

شموئيل دلته وايي لکه هغه بل ځل پشان چې د پوليسانو څخه يې بچ کړم کنه هغوي په زوره د جنرال د لور قتل زما په غاړه اچو، په همدی فکرونو کې وم چې هغه راغلی کس خپل ستوني صاف کړو او په يو بډ غږ يې وويل: زما نوم عبدالرزاق حميدي دی او د مواد مخدر او نشه ای توکو په وړاندی د مبارزی د څانګي پوليس يم.

د هغه په دی خبره مې نور هم حيرت وکړو د مواد مخدر جنايي پوليس زما سره څه کار لری؟ همدا پوښتنه مې پر ژبه راوړل او ومې ويل: تاسو زما سره څه کار لری؟ د څه لپاره مو زه داسي بډول دلته راوړم؟ زما په خبره هغه خپل بډ چوکۍ ته ورکړل او ښه په ځير، ځير راوکتل او څه ناڅه په طعنه اميز توګه يې وويل: ستا په اړه مې ډېر څه اوريدلي وه غوښتل مې يو ځل له نږدی دې وګورم، باور مې نه کيږی ستا پشان (په توهين اميز توګه يې يو ځل بيا زما سر تر پښو

راوکتل او ویې ویل: کس دی زموږ یو تکړه جنرال وژلي وی؟!

د هغه په دی خبره مې غوسه راغلل او بغیر له دې چی پام وکړم چې حوزه کې یم او دا مخامخ کس یو پولیس عسکر دی ومې ویل: تاسو فکر نه کوي چې داسي یو حرم*نی ته د جنرال لقب کارول د جنرال د لفظ توهین دی؟

په تمه وم چې زما په دی خبره هغه غوسه شې او کوم بد غبرګون وښایي خو برعکس هغه په خندا چوکۍ ته تکیه ورکړل او ویې ویل: هوممم ستا د خبری سره هم نظره یم، داسي کس ته جنرال ویل لا ښه خبره نه ده خو زما د خبری مطلب دا وو چې هغه هرڅومره که غلط انسان وو خو بیا هم یو نظامي کس وو! هغه خپل ټول عمر په جنګ جګړو کې تېر کړی وو، نو ځکه د ذهني او فیزیکي لحاظ وړتیا او مهارت یې ستا څخه

زيات وه نو ځکه راته جالب وه چې پوه شم تا څنګه هغه مړ کړو؟

- فکر نه کوې د دی کیسی د بیان وخت تېر شوی؟ دا څه د پرون یا بل پرون کیسه نه ده چې زه دی تاسو ته ووایم دا د څو کالو مخکې خبره ده او ما دا څو وخته بیحد کوښښ کړی چې هغه منحوس ورځ لیاده وباسم نو زړه مې نغواړی د هغه ورځ په اړه کوم خبره وکړم که د همدی خبری لپاره مو زه راغوښتلی یم نو بهتره به دا وی چې نور لاړ شم.

حمیدی- ولې دومره تلوار لری؟ ما د هغه کیسې سره هېڅ کوم خاص دلچسپې نشته هسې ستا په لیدو هغه رایاد شول زموږ اصل خبره بل ده.
- څه خبره ده؟ خوشحالیږم که ژر ووایست ځکه چې زه ډېر کار لرم او بیکار نه یم.

د هغه د څه ویلو مخکې یو ځل بیا د کوټې دروازه خلاصه شوه او دا ځل جنرال راغلو! همغه د ذوالفقار د

کور څنګ کې جنرال کوم چې لور یې مړه شوی وه د هغه په لیدو نور هم و وېرېدلم فکر مې کاوه خپل د لور د مرګ قصاد غواړی زما څخه واخلې؟ بل هېڅ کوم فکر مې ذهن ته نه راتلو، د هغه په لیدو حمیدی د چوکۍ پاسید او د هغه خواته ورغلو د سترې مشې وروسته یې خپل چوکۍ هغه ته د کښیناستلو لپاره ورکړل هغه هم بغیر د څه ویلو ما ته مخامخ کښیناست بیخې بدلون نه و کړې لا هم ځوان شوی وو

سترګي همغسي هیبت درلود د هغه په لېدو بې اختیاره مې د خولې لاړې تېر کړل، هغه بغیر له دې چې زما څخه کوم پوښتنه وکړی مخ یې د حمیدی خواته چې د کوټې کونج کې ولاړ و او زموږ خوا ته یې راکتل واړو او ویې ویل: څنګه دی زما انتخاب؟
د هغه په خبره حمیدی کرار وخندل او داسی حال کې چی زما خواته یې راکتل ویې ویل: د تل پشان بهترینه ټاکنه مو درلود یو دم همغسې ده څنګه چې دا څو میاشتي موږ ورپسی وو خو یو کمې لری.

جنرال- څه کمې؟
حمیدي- ډېر احساساتي او نرم زړه دی او دا کار یې هېڅ ښه نه دی.
د هغه په خبره جنرال کرار وخندل او ویې ویل: خو زه فکر کوم چې همدا احساسات یې د ټولو څخه زیات پکار راځي.

د هغوي د بحث منځ کې وغورځیدلم او ومې ویل: وبخښی خو که اجازه مو وی زه لاړ شم نور په ما ناوخته کیږی.

زما په غږ جنرال راوکتل او ویې ویل: ولې دومره تلوار؟ تازه غواړم معرفي وکړم.
- معرفي نغواړم راته مهم نه ده چې تاسو څوک یاست؟ زه یوازی غواړم له دی ځایه لاړ شم تاسو په څه حق زه راګیر کړی یم؟
د جنرال لځایه حمیدی وویل: اوممم فکر کوم لفظ د راګیر به ښه نه وی، ځکه چې ته چا نه یې راګیر کړی

او هر چیرته چې هر وخت وغواړی تللې شی، موږ
یوازی د یو دوستانه ملاقات لپاره ته راغوښتی یې.

- زما داسی راوړل ستاسو په نظر دوستانه ملاقات وو؟
تاسو سم صحي زه لاس تړلې تر حوزی راوستم او زما
ټول شیان مو راڅخه واخیستل.
جنرال- هغه زما امر وو! او د هغه لپاره زه بخښنه
غوارم خو زه تا پیژنم او پوهیږم چې د وېرېدلو حالت
کې عجیب غریب کارونه کوی او حتا شاید د پولیس د
نوم په آوریدلو تښتیدلی وایي نو ځکه مې وویل چې
داسي دې راوړی.

د جنرال خبره تر څه حده صحیح وه ما د پولیس د
نوم په اوریدو د رښتیا هم د تښتیدلو اراده درلود البته
زه تل هغه ځای کی چی فکر کوم خطر دی تښتم خو
متاسفانه هېڅکله تښتیدل مې فایدمند نه دی ثابت
شوی.

- کولای شم وپوښتم زما څخه څه غواړی چې داسې دوستانه ملاقات مو راسره وکړو؟

زما په خبره جنرال کرار وخندل او ویې ویل: غوښتل مې درڅخه مننه وکړم.
- د څه لپاره؟
جنرال- د دی لپاره چې زما د لور قاتل دی وواژه.
- ما له قصد هغه نه دی وژلي بس يو ناګهاني پيښه وه.
جنرال- هوممم پوهيږم ضرور يو ناګهاني پيښه او قسمت وو کنه امکان يې نه درلود ته دی هغه ليوني انسان ووژني، کله چې کاکا دی راغلو او ویې ویل چې ته ورک شوی يې نو ما خو سل سلنه باور درلود چې سبا به ستا د مړ شوی او ټوټه شوی جسد سره به مخ کيږو!

که څه هم بې رحمانه او سخت خبره وه خو يو بډول سپين حقيقت وو او ټول پوهيدل چې ته نشې کولای د هغه ليوني له لاسه ژوندی بچ شې خو کله چې هغه نفر

ستا د ځای آدرس راکړو او کله چې هلته درغلو نو(جنرال خپل سترګي ما ته ځير کړل او ويې ويل: ستا د مړ جسد د ليدو په تمه وم خو لکه چې قسمت ستا سره ملګری وو او په بېحد ناباوری کې تا هغه ليوني وژلي وو!

- کوم نفر تاسو ته زما د ځای آدرس درکړو؟

جنرال- نه پوهيږم چې څوک و يوازی ستا آدرس يې راکړو او لاړو حتا و نه دريد چې موږ پوښتنه وکړو نوم يې څه دی؟ او د کوم ځای دی؟ لومړۍ مو باور نه کاو چې خبره يې رښتيا اوسيږی خو ستا کاکا ويل که د دروغو خبر هم وی بايد لاړشو او يوځل وګور موږ هم ورسره ومنل او کله چې راغلو ته مو پيدا کړی رښتيا پښه دی څنګه ده؟

د جنرال په خبره زه پوه شوم چې هغه يو نفر څوک وو، په شونډو مې نری مسکا راغلل شموئيل! لا خپل خيالاتو کې وم چې جنرال وويل: و دی نه ويل پښه

دی څنګه ده؟
- ښه ده، خو باور نشم کولای چې تاسو دی یوازی د یو منني کولو لپاره زه تر دی ځای راکش کړی اوسیږم؟
زما په خبره جنرال کرار وخندل او داسی حال کې چی حممیدی ته یې کتل ویې ویل: ګوره دومره ساده هم نه دی کله ناکله یې فکر ښه کار کوی. (بیایې زما خواته راوکتل او ویې ویل: سم فکر دی کړی موږ ستا سره لږ کار لرو، البته داسي باید ووایم چې موږ ستا همکاری ته اړتیا لرو.

- څنګه همکاری؟

جنرال- اصل کې یو ماموریت دی.

- څنګه ماموریت؟

د جنرال د څه ویلو مخکې حمیدی وویل: لومړۍ دا وواېه چې آیا همکاری کوی او کنه؟ د هغه وروسته بیا موږ تاته د ماموریت په اړه معلومات درکو.

د څوکۍ پاسېدم او ومې ویل: خوشحال شوم ستاسو د لیدلو څخه نور نو ښه وخت.

غوښتل مې د کوټې څخه ووځم چې حمیدی غږ کړل: مطلب نغواړې همکاری وکړې؟

مخ مې د هغه خواته وګرځو او په پوسخند مې وویل: تاسو څه فکر کوی؟ زه ستاسو په نظر لیوني یم چې وغواړې داسی جنجالونو کې ځان واچوم؟

جنرال- خو دا د ډېر کسانو د ژوند مثله ده، که ته زموږ سره مرسته وکړې ډېر بیګناه خلک به وژغوری.

- دا ستاسو کار دی، تاسو پولیسان،جنرالان او قوماندان یاست د خلکو د امنیت ساتنه ستاسو دنده ده نه زما، تاسو د همدی دندی لپاره پیسي اخلې نو خپل وظیفه ښه ترسره کړی زه به تاسو ته دعا وکړم چې خدای مو ماموریت کامیاب کړی.

ما فکر کاوه د دی خبری وروسته به جنرال غوسه شې خو هغه په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: کم لاس مې نیولې وی، ما فکر کاوه که پوه شې د بیګناه خلکو ژوند ژغورلی شی نو بغیر د کوم چون او چرا به زموږ سره همکاری وکړی خو لکه چې دا څو کلونو کې بیحد بې زړه او بې جرئت شوی یی؟

- خبره د جرئت نه ده کوم کار کې چې زما کار نه دی ولې ځان ورواچوم؟ زه کوم د فلم هیرو نه یم چې وغوارم ځان قرباني کړم ترڅو دنیا او بی ګناه خلک وژغورم هر یو خپل او خپل د کورنۍ د ساتلو مسئولیت لری البته دا ستاسو دنده هم ده.

غوښتل مې روان شم چې حمیدی وویل: ما د اول هم ویلی وه چی هېڅوک د خدای د رضا لپاره کوم کار نکوی خو جنرال صیب ویل نه دا هلک یې کوی، خو معلوم شو چې ته هم یوازی خپل په غم کی یې.

ورومې کتل شاید هغه غوښتل په دی خبرو ما ځانته خجالت زده کړی؟خو ما دا پولیسان ښه پیژندل دوی خپل مفت پیسي په جیب وهی او هېڅ کار د وطن د ګټي لپاره نه کوی خو کله چی د وطن دوستي خبره راشی بیا موږ ته داسی ګوته نیسي څوک وا وطن موږ خرڅ کړی او موږ برباد کړی دي.

- فکر نکوی دا خبره مو ډېر بې معنا ده؟ ځکه زه نه کوم پولیس یم او نه هم کوم دولتي وظیفه لرم، تاسو یو وړاندیز وکړو او ما هم رد کړو ځکه دا زما د وس خبره نه ده او هو تاسو دومره ډېر پولیسان او دومره ډېر خلک لری هغوی واستوی ماموریت ته! هغوی هم تجربه لری په دی کارونو کی او هم زما څخه غوره دی.

جنرال- خو موږ نغواړو کوم مسلکې کس دی ماموریت ته واستو.
- ولی؟
جنرال غوښتل کوم څه ووايي خو حمیدی بیا خبره ورپری کړل او ویې ویل: دومره پوه شه چې نشو کولای خپل د نفرانو څخه کوم کس دی ماموریت ته واستو نو ځکه ستا څخه د همکاری درخواست لرو.
- او زما ځواب بیا هم "نه" دی.
حمیدی- سمده کوم مشکل نشته موږ هم په زوره دربارندی کوم کار نکوو خو، ها!!! یو وړاندیز درته لرم.
- څنګه وړاندیز؟
حمیدی- که د وطن او د بیګناه خلکو لپاره همکاری نکوی نو د پیسو لپاره یې وکړه شل لک افغانۍ! څنګه دی؟

د هغه په دی خبره مې بیحد حیرت وکړو شل لک افغانۍ د یو ماموریت په سر ماته راکوی؟ که ربنتیا ووایم کنجکاو شوم چې پوه شم اخر څنګه ماموریت

دی چې دوي خپل کسان نشې پکی کارولې او یو عادی نفر زما پشان ورته پکار دی؟ خو اتومات توګه مې مغز راته وویل چې دومره پیسي چی کله یادوی نو مطلب د مرګ خطر ورسره سل سلنه دی نو ځکه کې وویل: بیا هم زما ځواب"نه" دی.

د دروازی لاستي می ښکته کړو او د وتلو حال کې وم چې جنرال په کلک غږ وویل: سل لک افغانۍ څنګه دی؟

مخ مې وروګرځو د هغوی دا کارو ته مې بیحد تعجب راغلی وو او که رښتیا ووایم بیحد هم وېرېدلې وم پوهیدم چې د دوي داسي ټینګار بی دلیل نه دی او دومره روپی ورکول خو بیخی عادی خبره نه ده پولیسان ولاکه یو روپی لا چا ته مفت ورکړی څه ورسیږی سل لک افغانیو ته! د کوټې څخه یو ګام ووتلم او کرار مې وویل: سل لک څه چې سل میلیون هم

راکړي بیا هم زما ځواب همغه "نه" بهتره به وي چې زما موبایل او موټر سایکل راکړې چې زه نور لاړ شم.

حمیدي غوښتل څه ووایي خو جنرال د هغه مخ ونیول او په لوړ غږ یې یو چاته ناري کړل څو شیبې وروسته زما څنګ ته همغه پولیس راښکاره شو کوم چې زه تر دې ځایه راوړې وم جنرال د هغه خواته وکتل او ویې ویل: د دې هلک شیان ورکړه او خوشي کړه چې لاړ شي او هو د تلو مخکې خپل د موبایل نمبر هم ورکړه شاید نظر یې بدل شي او وغواړي زموږ سره همکاري وکړي؟

بغیر له دې چې هغوی ته وګورم د حوزې ووتلم هغه پولیس زما موبایل راته راوړو او زما د موټر سایکل کلي راکړل او د حوزې د بیرون خواته یې اشاره وکړل او ویې ویل: هلته ستا موتر سایکل ولاړ دی.

ما هم سر وخوځاوه او غوښتل مې وران شم دا ماحول کې مې نفس لا نشو اخیستی بیخي درنه فضا یې

درلود خو لا دوه ګام نه وم تللی چې همغه پولیس غږ کړل مخ مې چی وروګرځو نو یو کاټ یې زما خواته ونیو او ویې ویل: دا زموږ د امر عبدالرزاق حمیدي صیب نمبر دی.

بغیر د څه ویلو مې ورڅخه کاټ واخیست او ژر له حوزی ووتلم خپل موټر سایکل مې د سړک هغه خوا ولاړ ولید کله چې څنګ ته یې ورسیدم نو ژر مې روښانه کړو خو د تګ مخکې خپل لاس کې کارټ ته مې فکر شو بغیر له دی چې کوم اهمیت ورکړم لاندی نلې(وله) کې می ختا کړو او روان شوم.

دوي فکر کړی و چې زه دومره بیعقل یم چې د څو روپو لپاره به حاضر شم داسي جنجال ته غاړه ورکړم چې نه پوهیږم اخر کې به ژوندی پکی پاتی شم او کنه؟ په همغه ګډوډ فکرونو کې د بابا کور ته ورسیدم عصاب مې دومره خراب وه چې هیڅ زړه مې نه غوښت چې کور ته ننوځم زما د موټر سایکل په غږ

مروه راته دروازه خلاصه کړه او ما ژر ورته وویل: خپل وریندار ته غږ کړه چې راشی.
مروه- لالا یو ځل پورته نه راځی؟

کوښښ مې وکړو لږ مسکا په شونډو خپره کړم او کرار مې وویل: نن لږ ستړی یم بیا یو بل وخت به راشم اوس دی وریندار ته غږ کړه چې راشی.

مروه خپل خوله څو ځله خلاصه او بنده کړل ترڅو یو څه ووایي خو زما ستړی څهره یې چې ولیدل نو څه یې ونه ویل او په تلوار د کور خواته لاړه ترڅو اقرا ته غږ کړي.

څو ثاني لا نه وه تېر شوی چې اقرا راغله د هغې په لیدو چې محمد ورسره نه وو ومې ویل: محمد چیرته دی؟
اقرا بغیر له دی چې زما ځواب راکړي په تشویش زما خواته وکتل او ویې پوښتل: په تا څه شوی؟ د چا سره دی جنګ کړی؟

- زه تاته لوفر معلوميږم چې د کور ووځم او د خلکو سره جنګونه وکړم؟
اقرا- نو بیا په دی مخ او پوزه دی څه شوی؟
- دا د اوس نه دی پرون ماښام دلته زینو کې وغورځیدم تا سهار ورته فکر نشو؟
اقرا- نه ما سهار فکر نشو.
پخندا مې وویل: ځکه چې ستا سترګي د خوب له غم نه خلاصیدی ځکه دی فکر نشو، محمد کوم دی؟

اقرا داسی حال کې چې زما د حال په لیدو او دا چې سهار یې زما خواته فکر نه و شوی خپل شونډه چیچل ویې ویل: یو ځل پورته راشه یو پیاله چاي وڅښه د هغه وروسته به لاړشو.
- ته زما دی حالت ته وګوره ستا زړه غواړی زه په دی حال باندی د ادی سره مخ شم؟ او بل دا چې زما سر بیحد درد کوی او نه هم حوصله لرم انشاءالله یو بل وخت به بیا راشو اوس راځه محمد هم راوړه.

اقرا په خواهشمند لهجه وويل: هغه ... ستا خور او اوخښی راغلې یو ځل هغوی وګوره بیا به لاړ شو.

د اقرا په خبره د کور خواته مې وکتل مطلب فرید راغلی؟ اوس خو بیخې امکان نلری چې لاړ شم همدا خبره مې اقرا ته هم وکړل او ومې ویل: ته پوهیږی چې ما د هغه ښځه څومره بد راځې کنه؟ نو بهتره به دا نه وی چې ژر لاړشو د دی ښځه مخکې چې کوم خوا بدی جوړه شی؟
اقرا- ته ولې دومره منفی فکرونه کوی؟ پوهیږم چې د هغه سره مشکل لری خو خپل د خور سره خو کوم مشکل نلری د هغې لپاره پنځه دقې یوازی راشه بیخې د هغه سره خبری مکوه یو کونج کې کرار کښینه.

د اقرا په خبرو مې خندا راغله د هغې خبری د ذوالفقار په رقم وه څو کاله مخکې ذوالفقار هم د دی لپاره چې ما راضی کړی ترڅو د هغوی جمع" منځ" کې شرکت وکړم نو همدا به یې ویل" یو کونج کې کښینه او د

هیڅ سره خبری مکوه" موټر سایکل مې خاموش کړو او ښکته شوم زما په دی کار اقرا په خوشحالۍ راوکتل کور ته د تګ حال کې مې ورته وویل: ستا لپاره راغلم خو پوهیږم چې ضرور هغه یو چینجې اچوی او خوا بدی جوړوی.

اقرا- نځ ته هسې بدګمان یې هېڅ نه کیږی راځه.

د اقرا سره د دهلیز خواته ورغلم اقرا ژر یو کوټې ته ننوتل خو ما په کلک غږ سلام واچو فرید د بابا څخه لږ لری په یو نالې ناست وو محمد هم د بابا څنګ کې وو او د هغه په تسبیح لګیا وو نه پوهیږم محمد ولې د بابا دا تسبیح دومره خوښیدل؟ زما د سلام ځواب بابا د سر په خوځولو راکړو خو فرید په طعنه لرونکي انداز وویل: اوو د کاکازو نظر نسې ته او دلته؟ فکر مې کاوه ستا د لیدو لپاره باید د کوم وزارت دروازه وټکو ترڅو ستا د لیدو جواز راکړې؟ او دا مخ باندی دی څه شوی؟ لکه چې جنګ دی کړی څنګه؟

اخری لفظ يې يو څه نور هم په طعنی وويل شايد هغه ګمان کاوه بابا زه وهلې اوسيږم! نه پوهيږم خو د هغه نظر او اشاره همداسی ما ته ښکاره شوه زړه مې غوښت لکه د هغه په دی نيشه کې تيشه ووهم او يو سم زدنی ځواب ورکړم خو د محمد پکار چې زما پښې کلک نيولې وه او په خوشحالۍ ناری وهل "زما بابا،زما بابا" يو دم مې فريد لياده ووت ښکته شوم او هغه مې غيږ کې راوخيست ځو ځله مې ښکل کړو او ومې ويل: تا بيا دا زما بابا خبره د چا څخه زده کړې؟ ها بلا؟

هغه پخندا بغير له دی چې کوم څه ووايي زه يې د مغزی څخه کلک ونيولم او په همغه خندا يې خپل خبره تکرار کړل زه دومره د هغه د خوږ ژبي په تاثير کې ورک وم چې بيخی مې خپل ځای او مکان لياده ويستي وو بيخې مې فکر نه وو چې د بابا کور کې يم او فريد او بابا زما خواته راګوری يا حتا دا چې فريد ځو شيبې مخکې ماته څه وويل؟ خو د ادی او د طيبي په غږ تازه مې  د هغوی خوا ته فکر شو زما د مخ اړولو

سره سم د هغوی ورخطا غړ پورته شو او پوښتنی کول یې پیل کړل چې څه شوی؟

ما هم په لنډ ټکو کې ورته موضوع بیان کړل او د بابا او فرید څخه لری د دهلیز د دروازی خوا ته کښیناستم خپل تر وس مې کوښښ کاوه چې فرید ته کوم توجه ونکړم د طیبي څخه مې د هغې د حال پوښتنه وکړل او بیا د هغې زوی مې غیږ کې راوخیست که څه هم له یو نظر چندان ښه مې ورڅخه نه راتلل ځکه د فرید زوی وو خو خپل زړه ته مې دلدارۍ ورکړل چې خپل د خور لپاره یې راوخله او د پخوا څخه یو متل دی وایې خورۍ ماما ته ځې، نو په همدی امید مې راوخیست چې شاید معجزه وشي او زموږ د کورنۍ پشان وی!

خو هر چا چی دا متل ویلې ډېر غلط متل یې ویلې ځکه هغه یو دم خپل د پلار او کاکا، فهیم اتوکاپی وو ما خپل ټول ژوند کې د بې ادب ماشومانو څخه بیحد بد او کرکه راځې د محمد غټ ترینه کنځل په یق

کیخ(مطلب خیرن) یا هم د تو تو بچی(مطلب د سپی بچي) کې خلاصیدل او ما په همدی خبرو لا واهه ترڅو نور دا الفاظ ونه وایي خو د فرید زوی همغه یو دقه کې په محمد وار وکړو او کله چې ما منع کړو خپل پروتګ یې و ویست او یو ډېر بی ادبانه کار یې ترسره کړو، د هغه په دی کار زما د غړونو څخه د ډېر قهر څخه اور ووت خو فرید داسي سرمستانه وخندل ته وا یو ډېر ښه کار یې کړی.

تر لس دقو په زور مې ځان هلته ټینګ کړو د لس دقو وروسته زړه کې مې د تلو اراده کړی وه چې بلاخره فرید طاقت خلاص شو او خپل زهر یې وشیندل.
فرید- دا پیسي څومره بد شئ دی کنه د کاکازو؟
زه اصلاً د هغه د خبری په مطلب پوه نشوم، نو ځکه بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې هغه په طعنه لرونکي او نیش وهونکي انداز وویل: لنډ مثال یې همدا ته، تر دا پرون دی یو نفر هم نه پیژندو خو نن چې د پیسو

خبره مینځ ته راغلل خپل په پښو راغلې روغې جوړوی تـ...

فرید لا خپل خبره نه وه پوره کړې چې بابا په غوسه ناک لهجه ورباندی غږ کړل ترڅو فرید خپل خبره بنده کړې، د بابا په خبره ما په حیرت د هغه خواته وکتل نه پوهیدم چې څه روان دی؟ او څه خبره ده؟ خو فرید په همغه خندا وویل: وبخښه کاکا د بي احترامي اراده مې نه درلود یوازی ستاسو هغه د دومره کلونو سپکاوی ته چې ګورم او اوس چې ګورم د دوه روپو لپاره دی( ماته یې اشاره وکړل) خپل پر پښو دلته راغلې یو څه زور راکوی.

ما هک حیران د دوي خواته کتل اصلاً نه پوهیدم چې د فرید د دی خبرو دلیل څه دی؟ او پیسي چیرته دی؟ او د ټولو څخه مهم د بابا سپکاوی ما کله کړی؟ هغه وخت چې بابا حتا زما واده ته لا رانغلو ما ورپسی کوم خبره ونکړل یوازی د هغه سره د تګ راتګ په بند کولو

مې خپل غوسه سړه کړل، بابا لګیا وو کرار یې فرید ته یو څه ویل چې زما نور طاقت ونشو او ومې ویل: اول خو سم خبره وکړه فرید، ما د داسي په غوږ وهلو خبرو څخه هېڅ ښه نه راځې او دویم دا چې ما خپل پلار ته هېڅکله سپکاوی نه دی کړی او که خدای مکړه په غلطي او جاهلیت کې مې داسي بیعقلې کړی هم وی نو زه به خپل د پلار لاس او پښي ښکل کړم ترڅو ما وبخښی!

او دریم دا چې ته څوک اوسېږی چې زموږ په کورنۍ موضوعاتو کې کار ولری؟ زموږ خبری پر تا هېڅ اړه نلری که ته نر یې نو خپل د پلار عزت وکړه او د یو جماعت مخکې د ګریوان څخه یې د دوه روپو لپاره مه رانیسه او خپل ګمان هم پر ما مکوه، زه الحمدالله ستا پشان جاهل نه یم چې د دوه روپو لپاره خپل پلار له ګریوان ونیسم او په سړکونو یې کش کړم.

دا خبره راته ذوالفقار کړې وه چې یو میاشت مخکې نه پوهیږم د کوم پیسو په سر فرید ذوالقرنین کاکا د ګریوان نیولې وو او تقریبا د بازار منځ کې یې یو لوی جګړه کړې وه چې په پایله کې خلکو یو د بل څخه جلا کړې وه او کله چې ذوالفقار خبر شوی وو نو فرید یې سم جوړ ډبولي وو، زما طعنه دومره په فرید باندی بده ولګیدل او اور یې وریاندی بل کړو چې غږ یې پورته کړو او لکه یو بې شرمي،بازاری ښځې پشان یې غوښتل جنګ شروع کړی خو بابا او ادی په خبرو لږ راکنټرول کړو خو هغه د خاموش کیدو نه و بیا یې خپل مرداره خوله خلاصه کړه او ویې ویل:

فرید- که تا د پیسو لپاره د سپي پشان نه غپل نو ته به هیڅکله دی کور ته نه وایې راغلې، فکر مکوه چې زه خبر نه یم ذوالفقار تاته ویلي چې انۍ(د ذوالفقار مور) خپل د پلار څخه پاتي جایداد او ځمکي په میراث کې تاته بخښلې خو شرط یې دا کیخودلې چې ستا پلار باید د میراث په ورقو امضاء وکړی کنه یو اتانیز لا تاته

نه درسیږی نو ځکه خو تا ځان څخه نیک انسان جوړ کړو او د دومره کلونو وروسته راورسیدی ترڅو اشتي وکړی او هغه میراث خپل په جیب ووهي،کنه زه تا پیژنم چې څومره نمک حرام او رزیل انسان یې.

***

په موټر سایکل ناست وم او د کور پخوا روان وم خو ټول فکر مې د څو شیبو مخکي خبرو کې ګرځیدو د فرید هغه چټیاټ خبرو کې چې اخر کې د بابا په غوسه خاموش شو او له کوره ووت او زه هم ورپسې بغیر د څه ویلو ووتلم اقرا هر څو شیبې وروسته راڅخه زما د حال پوښتنه کول او بخښنه یې غوښتل خو ما بغیر د څه ویلو یوازی مخامخ کتل باور مې نه راتلو چې داسي دی زه ذلیل شوی اوسیږم هغه هم د فرید په لاس!

که څه هم خدای زما په اراده ښه خبر وو چې ما نه کوم د میراث خبره اوریدلی وه او نه هم ورڅخه خبر وم خو داسي احساس مې کاوه چې بابا،ادی، طاهر،حسنا، مروه او حتا اقرا لا پر ما څه ناڅه د فرید د خبرو ګمان وکړو او فکر یې کاوه چې ما د میراث د نوم په اوریدلو راغلې یم آشتي کولو ته. اوس مې د بابا د لومړۍ ورځ تروش تندی درک کولای شو هغه هم لکه چې همدا فکر کړی وو په دی فکرونو مې موترسایکل له غوسي څخه تېز کړو چې اقرا زما په اړه لاس کیخود او په اندیښنی وویل: کرار لاړ شه طاها محمد دی و وېروه.

د هغې په خبره مې تازه محمد ته فکر شو چې د وېرې څخه یې زه کلک نیولې وم ژوره ساه مې واخیسته او موټرسایکل مې کرار کړو نه پوهیږم څنګه تر کور ورسیدم اقرا او محمد مې د کور دروازی سره ښکته کړل او زه روان شوم د تلو وخت کې اقرا څو ځله راباندی ناری کړل خو ما بغیر د ځواب ورکولو موټر

سایکل ته نور هم سرعت ورکړو او ډېر ژر د ذوالفقار کور ته ورسیدم لومړی مې فکر وکړو چې شاید کور کې ونه اوسیږی او خپل نوی شرکت کی به وی نو ځکه خپل به بې فکری مې لعنت وویلو خو د مبادا لپاره بیا مې هم دروازه وټکول او په بیحد حیرت کې ذوالفقار دروازه خلاصه کړه زما په لیدو یې حیرت وکړو خپل یو وریځ یې پورته کړل او ویې ویل: خیرت خو دی؟ ته په دی وخت کې دلته څه کوی؟

په بې حوصلې توګه مې وویل: کار درسره لرم اوس اجازه راکوی او کنه؟
زما په لهجې ذوالفقار لا حیرت وکړو د دروازی څخه لری شو ما هم موټر سایکل ننویست او دننه ورغلم همغه حال کې ذوالفقار پوښتنه وکړل: ښه نه معلومیږی کوم خبره شوی؟
- هو.
ذوالفقار- څه خبره شوی؟ خیرت دی؟

غوښتل مې هملته د ذوالفقار سره حساب او کتاب شروع کړم خو د يو نرم ښځينه او په عين وخت کې اشنا غږ په اوريدو چې بيحد کرار يې وويل"سلام" د ذوالفقار څخه مې نظر واخيست او د هغه غږ خوا ته مې وکتل او په بيحد حيرت کې د دومره کلونو وروسته مې په ميشا باندی نظر ولګيد د څو شيبو لپاره بې اختياره ورته ځير شوم بيحد ږنګره شوی وه د پخوا پشان يې مخ کې ځلا او خوشحالۍ او البته شيطنت نه ښکاره کيدو، سترګو کې بيحد عجيب غم ښکاريدی د ذوالفقار د ښځې په غږ په تلوار مې خپل نظر د ميشا څخه واخيست خو هغې تر اوسه همغسې ماته راکتل.

د هغې سترګو کې يو نامعلوم احساس وو چې زه نه پوهيدم چې دقيقاً څه دی؟ د ذوالفقار د ښځې سره مې ستړی مشی وکړل او همغه حال کې د ذوالفقار په اشاره د هغه پسې روان شوم همغه کوټه کې ذوالفقار د کښيناستلو لپاره دعوت کړم کوم کې چې يو وخت زه

اوسیدلم که څه هم بیحد غوسه راغلې وه خو بغیر د څه ویلو کښیناستم ذوالفقار خپل ښځې ته د چاې راوړلو وویل بیا ما ته مخامخ دیوال ته یې تکیه ورکړل او کښیناست.

ذوالفقار- ښه اورم څه خبره ده؟ ولې داسي غوسه یې؟
- ته خبر وی چې انیہ... مطلب ... یعنې ... ستا مور خپل د پلار لخوا رسیدلې میراث او جایداد زما په نوم کړی؟

زما په خبره ذوالفقار خپل دواړه وریځی په حیرت پورته واچول او ویې ویل: اوممم فکر نکوم داسي خبره دی لالا یا طاهر وغواړی تاته وکړی چا درته وویل؟
- نو مطلب صحیح خبره ده؟
ذوالفقار- هو، خو چا درته وویل؟
- د همدی لپاره هغه ورځ تا دومره ټینګار کاوه چې د ماما جنازی ته ما ویسي ترڅو هغوی ما ووینی او

مجبور شي د انۍ میراث د وصیت مطابق ماته راکړی کنه؟ او دا چې هغه میراث پیسي ماته تر هغه وخت نه رارسیږی ترڅو چی بابا رضایت نه یې ښودلې او هغه د میراث په کاغذونو امضا نه وی کړی؟

ذوالفقار- وایم چا درته دا خبری وکړل؟
په پوسخند مې وویل: پوهیږی چا راته وویل؟
ذوالفقار- چا؟
- فرید.
ذوالفقار په پوسخند وویل: ګمان مې کاوه چې هغه به دا کار کړې وب! څکه تاته د میراث په رسیدو یوازینی کس چې د بخیلي او حسادات څخه اور اخیست همدی خیرن وو.

په غوسه مې وویل: ولې دی ماته ونه ویل ذوالفقار؟ ولې دی ماته اول کې دا خبره ونکړل؟ ولې همغه وخت چی د ماما جنازی ته روان و کوم څه دې و نه ویل؟
ذوالفقار په بیغم انداز خپل اوږی پورته واچول او ویې

ویل: بیکار نه وم،تا خو ولید چې د شرکت د کارونو پسې شپه او ورځ ورک وم اراده مې درلود دا هفته کله چې بیکار شوم هم د دی خبری په اړه درته ووایم او هم دی ویسم ترڅو خپل د پلار سره آشتي وکړي، خو تا په تاریخ کې لومړۍ ځل یو مثبت او د عقلمندی ګام واخیست او خپل دی خبره جوړه کړل.

اوس هم یوازی پاته کیږی د ماما د زامنو څخه د ادی د ځمکو او جایداد د حوالې اخیستل، هغه هم د یو هفتې کار دی زه یې خپل درته اخلم او د هغه وروسته یې ستا په پلار امضا کوم او ته محمد طاها احمدزی څه کم او زیاد د لس لک افغانیو مالک کیږی.

د ذوالفقار خبری ته مې بغیر د څه ویلو کتل ما هلته دومره سپکاوی او کنځل وخوړل او دومره شرمنده شوم خو دی په دومره خوشحالۍ لګیا دی د هغه ځمکو بیه معلوموی؟! یو شیبه مې ذهن ته دا خبره راغلل چې شاید ذوالفقار د همدی لپاره خپل شرکت د شریکانو

څخه بیل کړی وی ځکه چې هغه ته معلوم وه چې زما په نوم پیسي شوی دی او ژر تر ژره به پیسه داره شم او بلاخره به د هغه قرض ورته ادا کړم! که څه هم حق مې هغه ته ورکو چې وغواړی خپل پیسي زما څخه وغواړی خو دا چې داسي زه یې د ټولو مخکې شرمنده کړی وم دا مې نشو هضم کولای.

- ذوالفقار.

ذوالفقار- هوم بیا څه دی؟ ولې دی تندی تروش نیولي؟ خوشحال اوسیږه خو مفت پیسی در روان دی.

خپل د جیب څخه مې یوه کوچني کتابچه راوویسته، ما دی کتابچه کې د هر هغه چا څخه د اخیستل شوی قرض پیسي ځان سره لیکل ترڅو لیاده مې ونه وځی او هغه کې د لومړۍ کس نوم ذوالفقار وو! کوم چې ما په تخمیني حساب باندی خپل ځان د هغه اولس لک قرضدار حساب کاوه البته دا زما حساب وو او دقیق حساب کې شاید د دی څخه هم زیاد وه، کتابچه مې د

ذوالفقار خواته ونیول او ومې ویل: ګوره ما ستا قرض حساب کړی او غم مکوه لیاده مې نه دی ویستلې نو ضرورت نه وو داسی ما د ټولو مخکې رسوا کړی او ذلیل کړی.

زما په دی خبره ذوالفقار ناساپه خپل تکیه د دیوال څخه واخیسته او په داسي حال کې چې غاښونه یې یو پر بل چیچل او کوښښ یې کاوه خپل غوسه کنټرول کړی ویې ویل: دا څه غول خوری ته؟

ما هم د هغه پشان په غوسه وویل: زه څه غول خورم؟ پوهیږی زه نن څومره د ټولو مخکې د فرید لخوا ذلیل شوم؟ پوهیږی ماته یې ویل"د پیسو سپي چې د پیسو د نوم په اوریدو راغلم چې د بابا سره اشتی وکړم او هغه راضی کړم." پوهیږی زه څومره بابا، ادی،طاهر او حتا اقرا ته لا شرمنده شوم! ځکه ټولو فکر وکړو چې د رښتیا هم زه د میراث په موضوع خبر یم او د هغه پیسو لپاره د دومره کلونو وروسته د بابا

سره روغی جوړی ته تیار شوی یم، داسي حال کې چی زما روح لا د دی خبرو څخه نه وه خبره، ځکه تا ماته نه وه ویلی ولې دی له قصد زه د ټولو مخکي شرمنده کړم ذوالفقار ها؟

زما په دی خبره د ذوالفقار غوسه بیخې خپل اخری حد ته ورسیده په یو غټ ګام یې ځان تر ما راورسو او له ستونې کلک ونیولم داسی حال کې چی له ډېر غوسی څخه یې ستمی کاوه او د مغزی او سر رګونه یې راوتلې وه ویې ویل: خپل د خولي سره خیال ساته طاها! ما هېڅکله له قصد ستا سره داسی کار نه دی کړی ومې ویل بیکار نه وم چې درته دا خبری ووایم، او پاتی شوه د فرید خبره نو د هغه د خبرو ځواب زه پوهیږم څنګه هغه ته ورکړم.

که څه هم پوهیدم چې ذوالفقار د ربنتیا هم دی موضوع کې ملامت نه دی خو دومره د فرید خبرو او د بابا نظر او حتا د اقرا د شک څخه ډک نظر چې د فرید

په خبرو يې څه ناڅه باور کړی وو پعذاب کړی وم چې غوښتل مې خپل د زړه کوفت او غوسه په ذوالفقار وباسم،که څه هم مغز مې راته بار،بار د خطر علامه راکول او ویل یې چې د دی خبرو پای وهل دې خو زما زړه دومره درد کړی وو چې حتا هغه وهلو ته هم چمتو وم نو ځکه ومې ویل:

- په ما د خر ګمان مکوه ذوالفقار! زه پوهيږم تا د هغه پيسو په ليدو خپل شريکان لری کړل او نوی شرکت دی جوړ کړو په دی امید چې شاید هغه پيسي تاته در ورسيږی او زه تاته ملامت هم نه وايم په دی فکر خو د هغه پيسو څخه لاس ومينځه زه هغه د ميراث ... البته باید ووایم چې هغه د ذلت پيسي سل کاله وروسته هم نه اخلم خو غم مکوه ستا قرض هم درکـ...

لا خبره مې خلاصه شوی نه وه چې د مخ یو خوا مې وسوځیده د ذوالفقار څپيړه شاید دومره کلک نه وه خو ځکه چې زما پوزه خوږه وه نو همغه شيبه کې

وینه بهیدل ورڅخه شروع شول د وینو په لیدو ذوالفقار شاته لاړو او زه هم پاڅیدم.
زما د وینو لړلې پوزی په لیدو ذوالفقار له ورایه خپل پکار پښیمان ښکاریده خو بغیر د څه ویلو یې راکتل، ما چې هم هغه خاموش ولید نو نور هلته پاتې کیدل مې صحیح ونه ګڼل او غوښتل مې د کوټې څخه ووځم،خو د تلو مخکې ذوالفقار له لاس وینولم او کرار یې وویل: ما نه غوښتل په تا لاس پورته کړم، خو تا غوسه کړم زه نه پوهیږم دا ستا مغزو کې عقل په نوم شئ هم شته یا که ټول بوس دی؟

اخ ته څنګه داسی بیځایه فکر کولای شې؟ زه ستا په نظر دومره بیعقل یم چې تاته په درکړو پیسو ملا وترم او خپل شرکت او کاروبار ستا د دوه روپو د راتلو په امید خراب کړم؟ ما هغه پیسی اصلاً حساب کې نه دی حساب کړی او ته خپل هم پوهیږی چې یو شرکت په لس،شل لک افغانیو هیڅکله مخکې نه ځی ما ته هغه پیسي اصلاً دومره عدد نه دی چې وغواړم ورباندی

سرمایه ګزاری وکړم یا کوم فکر ورته ولرم زه یوازی ستا لپاره خوشحاله وم! ما ویل شاید هغه پیسي تاته کوم فایده در ورسوی بس.

بغیر د څه ویلو مې وروکتل د څپیړی وروسته مې مغزو ښه کار کول پیل کړی وه او د ذوالفقار خبری راته یو دم منطقی ښکاریدل، ذوالفقار د رښتیا هم هیڅکله هغه پیسي په قرض پر ما نه شمارل زیاتر همداسی راکول، د پوزی څخه مې وینه څڅېدل غوښتل مې په لستوني پاک کړم خو ذوالفقار منع کړم خپل یې تر تشناب ویوړم او د پوزی مینځولو وروسته یې کرار وویل: اوس هم په کرار راځه کښینه وریندار دی چای راوړی یو پیاله وڅښه او داسی فکر وکړه چې هېڅ کوم خبره زموږ ترمنځ نه ده شوی، زه به ستا د خبرو څخه تېر شم او ته هم د دی(زما مخ کې خپل د څپیړی نشان ته یی اشاره وکړل او ویې ویل:

ذوالفقار- او ته هم د دی څخه تېر شه، البته که څه هم حق دی و دا ټک! ځکه بیځایه خبری دی زما په اړه ویل خو خیر زه به مهرباني وکړم او ستا د هغه اپلاتو څخه به تېر شم او پاتي شوه د فرید خبره خدای دی هغه زما لاس ته نه برابر کوی کنه قسم پخدای داسی کار به ورسره وکړم چې عمر لری نور داسی غول ونخوری ما هغه ته د یو میاشت مخکې لا زړه ډک دی.

خپل لاس مې د ذوالفقار له لاس جلا کړ او په غوسه مې وویل: مننه د مهرباني څخه دی، خو هغه مهرباني دی خپل جیب کې وساته او هوو زما دا یوه خبره بابا ته وکړه او ورته ووایه چې زه د پیسو لپاره نه وم ورغلی او هغه پیسي به هم هېڅکله وانخلم هېڅکله هم نه.

د دی خبری د ویلو سره سم له کوره ووتم، یعنې زه یې ووهلم زما پوزه یې په وینو کړل د هغه وروسته وایي مهربانی کوم او د دی خبرو څخه دی تېرېږم! د وهلو

وروسته زما د خبرو څخه تېرېږی؟ که څه هم پوهیدم ذوالفقار د غوسی وخت کې خپل ځان نشی کنټرول کولای خو دا چې داسی وهل مې ورڅخه وخوړل دا کار مې هم هېڅ نشو هضم کولای.

ذوالفقار زما شاته راروان و او کوښښ یې کاوه ما د تلو څخه منع کړي خو هر څومره چې ویې ویل مه ځه زه و نه درېدم، اخر کې د موټر سایکل روښانه کولو حال کې زما د لاس څخه د موټر سایکل کیلی واخیسته او ویې ویل: څومره ناز کوی طاها! ومې ویل کنه نه مې غوښتل و دې وهم خو تا هسې غول خوړل او زما عصاب دی راخراب کول او تخو پوهیږی زه بیځایه خبری نشم اوریدلی.

په پوسخند مې وویل: تا زما د دوه خبرو د اوریدو توان نه درلود نو اوس ته فکر وکړه ما به څومره اوریدلی وی؟ او کاش یوازی د یو نفر خبری وایې ته

زما لځایه نه وی چې وګوری ټولو څنګه ما ته کتل،
کیلي راکړه ذوالفقار حوصله نلرم غوارېم لاړ شم کور ته.

زما به بی حوصله لهجې ذوالفقار نور څه ونه ویل او په تروش تندی د موټر سایکل کیلې راکړل، زه هم ژر له کور ووتلم ذوالفقار تر هغه وخت چې زه د هغوی د کور له کوڅی وتلم خپل د کور د دروازی سره ولاړ و، لږ چې د ذوالفقار د کور دروازی څخه لری شوم ناساپه فکر می د میشا د کور خوا ته شو او په بیحد حیرت کې مې میشا د بام په سر ولاړه ولیده د هغې په لیدو ژر می نظر ورڅخه واخیست او روان شوم یو همدا پاتی چې د فهیم سره د هغی د ښځی په سر لاس او ګریوان شم هسی هم زه خو چندان شانس نلرم هر چیرته چی مصیبت وی زه پکې ګیر یم.

که څه هم بیحد مې سر درد کاوه او زړه مې غوښت یو خاموش ځای کې څملم او که نور نه وی د یو څو ساعتو لپاره هم که کیږی ویده شم خو بیا هم د کور

خواته نه ولاړم همداسی ښار کې وګرځیدم او
وګرځیدم تر دی چې ښه ستړی شوم او د ماښام د آذان
وخت وو چې کور ته لاړم اقرا زما په لیدو په ورخطای
زما خواته راغلل او پوښتنی کول یې پیل کړل خو ما د
سر مې درد کوی پر ویلو هغه د نور پوښتنو کولو څخه
منع کړه، اودس مې وکړو او د لمونځ کولو وروسته
کوټه کې څملیدم ماښام مې هم بوږی ونخوړل او
هملته کوټه کې څملېدم.

نن ورځ زما د ژوند بترینه ورځ وه لومړۍ هغه پولیسان
او بیا د فرید خبری او د هغه وروسته د ذوالفقار وهل
البته که څه هم کلک یې ونه وهلم خو همدا چې لاس
یې راباندی پورته کړو غوسه یې کړم، اقرا خپل ځای
زما څنګ ته واچو او د ویده کیدلو مخکې یو ځل بیا
بخښنه وغوښتل هغی فکر کاوه ملامت هغه ده چې زه
یې مجبور کړم چې د فرید د لیدو لپاره پورته ورشم،
خو ما ورته وویل ته ملامته نه یې د رښتیا هم هغه
ملامت نه وه هغه څه پوهیده چې زما اوخښی داسی

ډېر بیعقل شئ دی؟ زما د خبرو ورسته هغه لږ کرار شوه او ویده شوه. خو ما ته خوب نه راتلو تر ډېره ویښ وم او فکر مې د زر خبرو خواته لاړو او هغه زر خبرو کې یو فکر می دا وو چې هغه سل لک افغانۍ لږ پیسی نه وه ...

یعنی کله چې جنرال وویل سل لکه افغانۍ درکوم زړه مې غوښت ورڅخه پوښتنه وکړم اخر څنګه ماموریت دی؟ او د ژوندی پاتی کیدو فیصدی څومره ده؟ یعنې د منلو لپاره یې د بهانو پسی ګرځیدم خو د دی څخه مخکې چې کوم څه ووایم محمد او اقرا مې خیال ته راغلل او بی اختیاره مې ورته "نه" وویل کنه دومره پیسی وه چی ما خپل ټول ژوند ورباندی په عیش کی تېرولې شو سل لک افغانی د ذوالفقار قرض مې ورکولای شو او ځانته مې یو مستقل کاروبار پیل کولای شو د ټولو څخه وسوسه کوونکي خبره دا چې فرید او د هغه پشان بخیل کسان مې ورباندی سوځولی شول

اخ لږ خبره خو نه وه سل لکه افغانۍ خبره وه، درسته شپه می خوب رانغلو تر دی حد چی څو ځله می ځانته کنځل وکړل چی ولی می هغه کاټ لری ختا کړو؟ خو بیا به چې  نظر مې په اقرا او محمد ولګید نو خپل زړه ته به می تسلې ورکول پولیسان د خدای د رضا لپاره چاته سل لک افغانی نه ورکوی کله چی یو داسی لوی عدت او بیه یادوی نو مطلب د مرګ خطر پکی سل سلنه شته کاش زه مجرد وایی او دا خبره د څو کالو مخکی وایی هغه وخت بغیر د کوم فکر می د دوی خبره منل خو اوس د اقرا خبره می رایاد شوه دا ژوند یوازی زما نه دی که پر ما کوم څه وشی اقرا او محمد به څه وکړی؟

هندی فلم هم نه دی چی زه ووایم پیسی زما کورنی ته ورکړی او زه ستاسو خبره منم، نه زما ژوند که څه هم سخت دی خو دومره هم نه دی چی زه دی وغواړم داسی یو کار ته دی غاړه کیږدم دری وخت بوږی خدای رارسوی بدن می جوړ دی یو ځای لرم چی پکی

اوسیږم نور حرص کول د شیطان کار دی بهتره به دا
وی چی داسی فکر وکړم چی نن می هېڅ نه دی
اوریدلی او نه می هم د کوم پولیس سره لیدنه کړی.

په همدی فکرونو می لږ خپل زړه ته دلداری ورکړل او
د هغه سل لک افغانیو د فکر راوتلم د ویده کیدلو حال
کی وم او سترګی می کرار،کرار ګرمیدل چی آشپزخانه
کی د یو شئ د غورځیدو غږ می واورید لومړی می
ګمان وکړو چی پیشو به وی خو کله چی دا کار دوه
درې ځله تکرار شو لږ وېار شوم او د هغه بل پرون
ماښام او هغه پیری مې رایاد شو چی د محمد په شکل
یی ځان جوړ کړی وو، ځای کی کښېناستم نه پوهیدم
څه وکړم د آیت الکرسی پر ویلو شوم او ځان سره مې
ویل چې اوس به هر شی ارام شی او اوس به ارام شی
خو نه همغسی کرار،کرار ټک،ټک وو د څو شیبو
وروسته خپل زړه او جرئت مې ډېر کړو او پاسیدم
ځان سره مې ویل هسې نه غل راغلی وی او زه د پیری
په فکر ورته کرار ناست یم؟

د خولی لاړی می تېر کړل او د کوټې ووتلم غړونه نور هم واضح راغلل د تلو مخکی می غوښتل خپل د دفاع لپاره کوم څه راوخلم خو متاسفانه چی چاقوګان ټول آشپزخانه کی وه او ما یوازی یو لرګی پیدا کړو هغه می راوخیست او کرار مخکی ولاړم د آشپزخانی برق روښانه وو او دا کار حیران کړم غل چی د غلا لپاره راشی نو برق نه روښانه کوی کنه؟ همداسی که کوم پیری زما د وېرولو لپاره راشی نو برق نه روښانه کوی ځکه هغوی زیاتر په تیاره کی زما پعذابول خوښوی،خو دا چی برق روښانه وو نو زړه می ویل کوم د جنګ مثله نشته.

نو ځکه کرار،کرار د آشپزخانی خوا ته نږدی شوم دروازه می په تلوار خلاصه کړه او د ناساپه حملی په تمه وم خو په بیحد حیرت کی آشپزخانه خالی وه! فکر می وکړو دا ټول مضریت د پیشو کار دی او غوښتل مې د بیغمي څخه یو هوسا ساه واخلم چی یو چا د شالخوا زما د لاس لرګۍ واخیست او د هغه سره سم

يې زما خوله کلک ونیول او په بیحد بډ،عجیب خو عین حال کې آشنا غږ باندی وویل: چغي مه واهه کوم کار نه درسره لرم یوازی غواړم یو دوه خبری درسره وکړم سمده؟

د ډېر وېرې له لاسه مې احساس کاوه زړه مې خولې ته راغلې او ساه نشم اخیستې، مغز مې یو دم فلج شوی وه هېڅ فکر مې نشو کولای نه پوهیدم شاته کس انس دی که جن دی؟ دوست دی که دښمن؟ د ښه او بد توپیر مې نشو کولای یواځی غوښتل مې ژر تر ژره د دی حالت څخه خلاص شم نو ځکه سر مې وخوځاوه چې شاید پوه شی او خوشې مې کړی او همداسی هم وشول خو د خوشی کولو مخکی یو ځل بیا هغه کس په بډ غږ وویل: خوشی کوم دی خو په دی امید چې چغی بوغی شروع نکړی ځکه ستا خپل په ګټه ده، که چغې ووهی یوازی میرمن یا هم زوی دی راویښ کیږی او کار تاته سخت کیږی، زه یوازی د خبرو کولو لپاره راغلی یم نو هوښیار اوسیږه او کوم بیعقل توب مکوه.

د هغه په خبرو زړه کې مې وېره راغله له دی چې دقیق خبر وو چې دی کور کې زما علاوه نور څوک نشته او هم ناساپه جرئت مې پیدا کړو، محمد او اقرا زما سره کرښه وه او ما هېڅا ته دا اجازه نه ورکول چی د هغوی دوارِو په سر دی ما وګواښه وی په همدی فکرونو ناساپه وېره مې لمینځه لاړه هغه کس چې هم زما کرار کیدل ولیدل نو کرار یې زما له خولی لاس لری کړو او زما د لاس لرګۍ د اخیستلو وخت کې کرار وویل: فکر کوم دی لرګۍ ته به کوم اړتیا نه وی؟ځکه موږ دواړه غواړو یو دوستان ګپ ولګو.

د هغه د خوشی کولو سره سم په تلوار مې مخ وروګرځو ترڅو وګورم دا کس څوک دی چې په دی نیمه شپه په داسی حال کې زما کور ته راغلی؟ خو د مخامخ صحني په لیدو د حیرت مې خوله خلاصه پاتی شوه! همغه کس وو کوم چې یو هفته مخکې زما د کور د دروازی مخکې راغلی و او زما څخه یې د جومات آدرس غوښتی وو؟ یع همغه هیبت او قواره باندی د

همغه ورځ پشان عجیب غریب کالۍ اچولی وه نه پوهیږم ولی خو د خطر احساس مې نه ورځخه کاوه! او د هغه ځخه عجیب دا چې فکر مې کاوه انسان نه دی؟

– صحیح فکر دی کړی انسان نه یم.

د هغه په دی خبره لږ وډار شوم خو ژر مې ځان راکنټرول کړو یو ځو ګام ورځخه شاته ولاړم او په کرار غږ چې کوښښ می کاوه ونه لړزیږی ومی ویل: ت .... ته ځوک یي؟ او د څه لپاره زما کور ته را غلی یی؟ زما ځخه ځ ... څه غواړی؟

هغه په کرار او بیغم انداز هملته د آشپزخانی منځ کې کښیناست او داسی حال کې چی ماته یی هم د کښیناستلو اشاره کول ویې ویل: منم چې انسان نه یم او د چایو خوړلو ست نشې راباندی کولای خو که لږ په احترام باندی راسره رفتار وکړی بد به نه وی کنه؟

که څه هم پوه شوی وم چې پیری دی خو بیا هم نه پوهیږم ولی ورځخه وېره مې نه درلود نو ځکه په پوسخند مې ورته وویل: فکر نکوی چې دا غوښتنه دی یوځه ډېر غیر معقول ده؟ ته په نیمه شپه بی اجازی زما کور ته راغلی یی او زه دی لکه مجرمانو پشان نیولی وم او هغه وخت امید لری زه درسره محترمانه خبری وکړم؟ حق خو دا دی چې په لغتي باندی دی له کور وشړم.

زما په دی خبره هغه په لوړ غږ وخندل داسی لکه چی کوم ټوکه مې ورته ویلی وی د ښه شیبی خندا وروسته یې په ځیر زما خواته راوکتل او ویې ویل: ښه ده د شموئیل تک راتګ یو فایده رسولی.

د هغه په خبره په حیرت مې وویل: ته شموئیل پیژنی؟
— اوممم که د هغه سره زما په شناخت خوشحاله کیږی نو باید و وایم چې هغه مې ورور دی.
- څه؟ ت... ته د شموئیل ورور یې؟

زما په بیحد حیرت هغه په شیطان خندا وویل: ولی داسی تعجب دی وکړو؟ فکر خو نه کوی چې موږ پیریان وروړنه،خویندی یا مور و پلار نلرو؟ موږ هم ستاسو پشان کورنۍ لرو ورور او خور څه چی موږ وراره، خوری او حتا لمسیان هم لرو او ځکه چې زموږ عمرونه ستاسو په پرتله اوږد وی نو موږ حتا خپل کړوسیان لا لیدلی شو.

د هغه په هر خبره مې حیرت لاپسی زیاتیدو نه پوهیدم چې د هغه د دی خبرو مطلب څه دی؟ خو دا چې د شموئیل ورور وو یوڅه فکر می نور هم راحت شو ځکه یو ناشناخته احساس راته ویل هر هغه کس چې د شموئیل سره تړاو لری ما ته کوم تاوان نشی رارسولی، اوس چې سم می ورته کتل نو پوهیدم چې ولی د ده غږ ما ته دومره شناخته وو؟ د ده غږ د شموئیل د غږ پشان وو حتا څهره یې لا لږ همغه شان وه خو د څه لپاره راغلی؟ په شموئیل خو کوم څه نه دی شوی؟ په دی فکر په ورخطای می د هغه خواته

وکتل چې هغه په کرار لهجه وویل: شموئیل ښه دی
خو ..
- خو څه؟

هغه څو شیبی زما خواته په ځیر راوکتل او ما ورته په اندښنې وکتل، فکر می کاوه په شموئیل کوم څه شوی چی خپل ورور یې راستولی، د هغه خاموشی زما پر عصابو تلل غوښتل می یو ځل بیا ورڅخه خپل پوښتنه تکرار کړم چې هغه کرار وویل: تا زما د نوم پوښتنه ونکړل.
د هغه په دی خبره په حیرت می وروکتل مور د بحث کوم ځای کی وو او دی په کوم فکر کی وو؟
- ته ماته لومړۍ دا ووایه چې شموئیل ښه دی؟ د هغه وروسته به یو بل سره پیژندگلوی وکړو سمده؟

زما په دی خبره هغه خپل یو وریځ پورته واچول او په هیجان یی وویل: هو ښه وړاندیز دی منم یې، شموئیل

ښه دی البته د اوس لپاره ښه دی که همداسی راون اوسيږی ډير ژر به تور دود شی او هوا ته به لاړ شي.

- څـــــه؟

زما په لوړ غږ هغه خپل سترګي تنګی کړل او ویې ویل: چغي مه واهه، د لوړ غږ څخه مې بد راځي.

ژر مې ځان راټول کړو او ومې ويل: د خبری په مطلب دی پوه نشوم، څه مطلب چې تور دود کيږی او هوا ته ځي؟

هغه څو شيبې بغير د څه ويلو راوکتل د هغه وروسته يې وويل: عجيب ده! يعنې ته دومره هم نه يې خبر چې موږ پيريان چې کله مړه شو نو جسد مو نه پاتی کيږی چې وغواړو هديری کې ښخ کړو، بلکي موږ چې کله مړه شو نو همغه شيبه کې د تور دود پشان هوا ته ځو.

د هغه په دی خبره مې خوله نور هم د حيرت خلاصه پاتي شوه او ومې ويل: نو ته غواړی ووايي چې

شموئیل به ډېر ژر مړ شي؟ ولی؟ څه ورباندی شوی؟

زما په خبره ناساپه د هغه تندی تروش شو او په غوسه یې راوکتل خو څه یې ونه ویل نظر یې دومره دروند و چې ما احساس کاوه د آشپزخانی فضا کې اکسیجن مخ په کمیدو دی او نفس اخیستل پکی سخته کیږی دومره دا حال دوام وکړو چې نور د رښتیا هم ما ساه نشو اخیستلي او خپل ګریوان ته مې لاس کړو چې شاید د یو څو ثبی په خلاصولو لږ ساه واخیستل شم زما په دی کار د هغه فکر زما خواته شو او ژر د غوسی له حالت ووت د هغه د تندی د کرښو د خلاصیدو سره سم یوه شیبه کې ته وا د اکسیجن لاره چې خلاصه شوی وه څو ژور ساه ګانی مې واخیستی او په حیرت مې هغه ته وویل: د ... دا تا څنګه وکولای شو؟
س...ستا د غوسی کیدو سره یو دم د هوا اکسیجن لمینځه لاړو!

زما په خبره هغه د څو شیبو لپاره راوکتل خو بغیر له دی چې زما د پوښتنی ځواب راکړی ویې ویل: موږ یو د بل سره پیژندګلوی ونکړل، البته زه تا څه ناڅه پیژنم خو زړه مې غواړی ته خپل ځان راته خپل معرفی کړی ته څوک یې؟

د هغه په دی کارونو مې هیڅ سر نه خلاصیدو یعنې یوازی د دی لپاره راغلی چې ما وپیژنی؟ که څه هم د هغه د دی بیغم رفتار څخه مې ښه احساس نه کاوه خو ومې ویل: زما نوم محمد طاها دی.

همدومره مې وویل او خاموش شوم نه پوهیدم چې نور څه ووایم؟ کوم د ملګرو یا خپلوانو پیژندلګوی نه وه چې زه ووایم زه څوک یم؟ د چا زوی یم؟ یا د کوم ولایت څخه یم؟ یا څه کار کوم؟ فکر مې کاوه داسې خبری کول هغه هم یو پیری ته مناسب نه ده نو ځکه خاموش شوم هغه چې هم زما خاموشې ولیدل نو ویې ویل: امهمم زما نوم هم عبدالرحمان دی.

خپل سر مې د پوهیدو په انداز وخوځاوه او په مشکوک انداز مې پوښتل: فکر نکوم چې یوازې زما د نوم د پوهیدو او خپل د نوم د ویلو لپاره راغلی اوسیږې؟ زما سره څه کار لرې؟
عبدالرحمان- اهوم، صحیح پوه شوې ستا د نوم د اوریدلو لپاره نه یم راغلې اقتصاد پوه محمد طاها احمدزی صیب، اها ربښتیا دوکاندار صیب، اقتصاد خو دې هسې شوقي ویلی.

د هغه په دې خبرې مې حیرت وکړو هغه خپل په دې خبرو په نامحسوس توګه غوښتل ما پر غوږ ووهي او راته ووايي چې زه حتا ستا د ژوند او کاروبار په اړه لا معلومات لرم! څه مې ونه ویل او یوازې مې ورته وکتل ترڅو پوه شم د څه لپاره راغلې؟

عبدالرحمان- تر همدا اوس مې هسې بیځایه خبرې کول ترڅو ستا وېره لږ کمه کړم او اصل موضوع ته راشم، البته د دې څخه مخکې چې خپل د راتګ اصل

دلیل ووایم غوارم په یو څو خبرو دی پوه کړم.
- په کوم خبری؟
عبدالرحمان- په دې چی زه ستا دښمن نه یم او برعکس ستا مرسته کوونکي هم یم.
په مشکوک انداز مې وروکتل او ومې پوښتل: څنګه مرسته کوونکي؟ما خو هېڅکله ستا څخه مرسته نه ده غوښتی؟
عبدالرحمان- شاید تا مرسته نه وی غوښتي، خو ما مرسته کړې، البته متاسفانه زما مرستي ته ستا فکر نه دی شوی!

- څنګه مرسته دی کړی چې زما فکر لا نه دی شوی ورته؟
عبدالرحمان- دا یو هفته کیږی چې زه تا د هر بول خطر څخه ژغورم. لکه د مثال په توګه لومړی لیدنه کې یو پېړی غوښتل ستا زوی، محمد! (د محمد د نوم په ویلو و درید ترڅو زما ریکشن وګوری او کله چې زما ورخطا نظر یې ولید نو په پوسخند یې وویل: یو پیری

غوښتل هغه پعذاب کړی خو ما هغه ورڅخه لری کړو
او بیا مې ته ولیدی او درته ومی ویل په ځان پام ساته
یاد ته دی راغلو؟

د هغه په دی خبره هغه ورځ مې رایاد شول کوم ورځ
چې محمد مې د حویلۍ د دروازی سره په ژړا لیدلی
وو،بغیر له دی چې زموږ پام شی په یوه شیبه کې هلته
تللی و او بیا درسته شپه یې بی دلیل وژړل البته اوس
یې په دلیل پوه شوم او لاسونه مې موټ شول له دی
چې یو پیری محمد پعذاب کړی وی زړه مې غوښت
هغه پیری راونیسم او دومره یې ووهم تر څو بل ځل د
محمد خواته د راتلو جرئت لا ونکړی.

عبدالرحمان- زه شکر چې یاد ته دی راغلو، د هغه
وروسته دویم ځل کله چې خپل د ماما کور ته تللې د
هغه د جنازي لپاره نو هلته ځینې پیریانو خپل د سات
تېرولو لپاره ته هغه ځاه کې د یو غوسه ناک پیری
خواته وغورځولې او نږدی و هغه غوسه ناک پیری چې

د مار په شکل کې وو تا مړ کړی، خو ما هغه درڅخه لرې کړو.
- نو تا هغه زما څخه لرې کړو؟
زما په دې خبره هغه په خوشحالي وخندل او ویې ویل: بس نو زه داسې نیک صالح پیری یم.

د هغه په دې خبره ما ته خندا راغلل، ما دا لفظ تل داسې اوریدلی وو"چی نیک صالح انسان یم!"خو نن خپل ژوند کې د لومړۍ ځل لپاره مې اوریدل چې ویل یې" نیک صالح پیری یم." نو ځکه راته بیحد جالب وه خو د هغه څخه لا ډېر جالب دا وه چې ده ولی زما سره مرسته کړې؟ یا د هغه څخه لا جالب دا چی ولی راته وایي چی هغه مرسته ده کړې؟
- تا وویل ځېنو پیریانو خپل د سات تېرولو لپاره زه هغه څاه کې واچولم؟
زما په دې خبره هغه یو نظر شاوخوا وګرځو او بیا یې وویل: هو، ځینې پیریان پوهیږی چې ته د پیریانو د نرۍ سره یو ډول تړاو لرې نو ځکه د سات تیری څخه

غواړی تا و وېروې یا حتا وغواړی ستا سره خبری وکړی؟
- څنگه تړاو؟ زه پوه نشوم؟

عبدالرحمان- دا ډېر لوی بحث دی شاید د خبرو اخر کی خپل پوه شې خو د اوس لپاره دومره درته ووایم چې ځینې پیریان بیحد شوخ او شیطان دی او کله چې پوه شي ته زموږ د نړۍ سره لږ تړاو لری نو خپل د وخت تېرولو لپاره تا پعذابوی مطلب مې د پعذابولو څخه دا دي چی شاید نیمه شپه هسې د حویلۍ مینځ کی د قدمونو او تک راتک غږ واوری یا هم فکر وکړی د کوم چا د خندا یا ژړا غږ واوری خو څوک ونه اوسیږی، داسي کارونه کول عموماً د همدی شوخ پیریانو کار دی هغوی کوم خاص غرض ستا سره نلری بس یوازی خپل سات تیروی. یا حتا شاید ځیني درڅخه په یو موضوع کې مرسته وغواړی.

د هغه په هر خبره ما د حیرت څخه خوله خلاصه پاتي کیدل خو د ټولو څخه یې اخری خبره ډېر جالب وه.
- ما یوځل د هغوي مرسته غوښتل لیدي البته ډېر عجیب مرسته وه!

هغه ورځ مې رایاد شول چې د طاهر د دسمال راوړلو پسي تللي و او کله چې شپه هلته پاتي شو نو د ډوډۍ خوړلو وخت کې هغه ځینو پیریانو زه په ډېرو ویشتلم ترڅو ورته لږ ډوډۍ ویسم! هې څومره ښه شپه وه هغه کله چې فرید بیځایه خبری کول د پیریانو په اړه شروع کړل او پیریانو هم وواهه، اخ اخ عجب خوند یې وکړو زه خپل په خوږه خاطراتو کې وم چې عبدالرحمان وویل: ښه خاطرات دی په هر حال تر ټولو لوی مرسته مې دا وکړل چې هغه جادو مې ستا جیب کې واچو.

د هغه په دی خبره خپل د فکرونو څخه راووتلم او په حیرت مې تقریبا چغه کړل: څـــه؟ هغه جادو تا زما

جیب کې اچولی وو؟ د څه لپاره؟
زما په لور غږ د هغه تندی تروش شو او ویې ویل:
چغي مه واهه زه ستا د ذهن خبری لا اوریدلې شم نو ضرورت نشته ستوني دی څیری کړی، د دی لپاره مې هغه جادو ستا جیب کې واچو تر څو ته د قیصی په سر او بر پوه شي،خو بدبختانه چی ته او ستا هغه احمق ملګری ډېر ساده یاست او هغه مو یوازی د یو بې معنا جادو په نظر وکت بغیر له دی چی وګوری اصل خبره څه ده؟

د هغه هر خبری ته زما خوله له حیرت خلاصه پاتی کیدل همدا چی خوله مې خلاصه کړل تر څو کوم خبره وکړم هغه د لاس په را پورته کولو د خبرو کولو څخه منع کړم او ویې ویل: او یو بل مرسته مې پرون شپه درسره وکړل کله چې هغه پیری ستا د مرګ په نیت ته له ستوني نیولې وی ما ستا پلار راویښ کړو او تر زیرزمیني می راوړو تر څو هغه پیري تا خوشي کړی او نن خو بیخي پر تا می د احساناتو باران وکړو او د هغه

پیری نام او نښان می درته نیست او نابود کړو ترڅو نور هیڅکله تاته کوم زیان ونه رسوی.

د بېر حیرت او دومره معلوماتو څخه چې ناساپه یو ځل مې ذهن ته راداخل شول ژبه مې فلج شول او نه پوهیدم چې څه ووایم؟ دا ټول موضوعات چې زما په نظر زما د بد شانس څخه ما ته راپیښ شوی وه اصل کې د دی ټولو شاته یو کیسه وه او د هغه څخه لا بتر دا چې د هغه ټولو شاته زما د مرستي کولو لپاره د دی پیری لاس وو چې حتا زه یې پیژنم لا نه! او یوازی دومره پوهیږم چې د شموئیل ورور دی او بس.

عبدالرحمان- دا خبری می درته وکړل ترڅو پوه شې چې زه ستا سره کوم دښمني نلرم، برعکس پر تا مې بیحد هم احسانات کړی او غواړم تا وژغورم، البته د پخوا څخه یو متل دی وایي پیشو د خدای لپاره موږک نه نیسې بلکي خپل د ځان لپاره یې نیسي، نو زه هم د خدای لپاره ستا سره کوم مرسته نکوم بلکې د دی لپاره

يې کوم ځکه چې ستا سره مرسته کول اصل کې د شموئيل سره مرسته کول دی.

- په شموئيل څه شوی چی ته غواړې ورسره مرسته وکړې؟ او دا څنګه مرسته ده؟ زه ستا د خبرو په مطلب نه پوهيږم لږ واضح راته ووايه زما ژغورل د څه لپاره کوی؟ يا د څه شئ څخه ما ژغوری؟ او ولی دی زما سره مرسته وکړل دا يوه هفته؟ او هغه جادو دی د څه مقصد لپاره زما جيب کې واچو؟

عبدالرحمان- پوهيږی زما دوه کارونه هېڅ نه خوښيږي لومړی دروغ ويل او دويم د انسانانو سره اړيکه ساتل، که هغه هر ډول اړيکه وی زما ورڅخه بد راځې زه ... البته يوازی زه نه بلکې زموږ د نړۍ زياتر پيريان په دې عقيده يو چې کله خدای زموږ او انسانانو په منځ کې يو پرده کيخودلې او موږ يې يو دبل څخه منع کړی يو نو بايد د هغه حکم ومنو او يو د بل څخه لرې اوسيږو، خو زموږ ځينې پيريان او البته ستاسو انسانانو څخه

هم ځینی انسانان د خدای دا حکم د پښو لاندی کوی او یو د بل نرېٔ ته یا خو د سرکښۍ او بغاوت په پار نرېدی کیږی یا هم د میني،محبت یا په زر نور بهانو نرېدی کېږي چې پایله یې دوارو خواو ته د بدمرغۍ او ستونزو علاوه نور هېڅ هم نه وی،خو ته یو له هغه کسانو څخه یې چې ناخواسته او په غلطي باندی زموږ د نرېٔ خواته راغلی او ...

هغه چوپ شو چې ما په تلوار وپوښتل: او څه؟
عبدالرحمان په ځېر راوکتل او ویې ویل: ما درته وویل شموئیل زما ورور دی او زه غوارم د هغه ساتنه وکرم، حتا که هغه ساتنه د هغه په ناخوښي او نارضایتي هم وی بیا هم زه غوارم د هغه ساتنه وکرم او ته ... ته هغه کس یې چی هغه ته ضرر رسوی.
د حیرت څخه مې سترګي خلاصي پاتي شوی او ومې ویل: زه؟ زه شموئیل ته ضرر رسوم؟
عبدالرحمان- هو، ستا شتون شموئیل ته ضرر رسوی حتا شاید د هغه د مرګ سبب لا شي.

په ناباوره انداز مې وویل: نه ...نه ... امکان نلری ... دا هسې خبره ده.
عبدالرحمان- زما نه خوښېږي خبره ډېر کش راکش کړم نو په واضح توګه درته وایم کوم خبری چی شموئیل درته کړې تر همدا نن هغه ټول دروغ دی.

د هغه په دي خبره ما بې اختیاره وخندل او ومې ویل: ښه ټوکه وه ومې خندل.
زما په دی خبره ناساپه د هغه تندی تروش شو او په غوسه یې راوکتل او یو ځل بیا د هغه په غوسه ما احساس وکړو چې د آشپزخاني هوا درنه شوه او ساه اخیستل پکي سخته ده خو د نیکه مرغه هغه ډېر ژر زما حالت ته فکر شو او غوسه یې کم کړه خو تندی لا هم هغسې تروش نیولي و او په همغه حال کې وویل: ما تا ته کوم ټوکه نه ده کړې چې تا وخندل ما درته رښتیا وویل، شموئیل تر همدا نن تا ته دروغ ویلي.

ما دومره په شموئیل باور درلود چې بغیر د کوم شک او تردید څخه مې وویل: فکر نکوم چی هغه دی دروغ ویلی اوسیږی خو سل په سل ډاډمن یم چې ته راته دروغ وایي، اصلاً اوس چی ښه غور کوم نو فکر کوم ته شاید بیخې د شموئیل ورور ونه اوسیږی؟ یا که ورور یی هم اوسیږی چندان ښه ورور خدای خبر چې اوسیږی.

زما په دی خبره ناساپه هغه خپل لڅایه پاسید داسې چی زه د ویرې څخه څو ګام شاته لاړم او هغه یو څو ګام رامخکي شو او په ډارونکي غږ یې وویل: ما درته لومړۍ کې وویل چې ما د انسانانو څخه هیڅ ښه نه راځې او یوازی غواړم خپل په نړۍ کی په بیغم فکر ژوند وکړم خو ستا له لاسه نه یوازی شموئیل بلکی زما ټول کورنۍ ته خطر متوجه دی او زه نغواړم ستا له لاسه خپل کورنۍ له لاسه ورکړم، زه دلته راغلی یم تر څو یو داسي وړاندیز تاته وکړم چی زموږ ټولو ګټه پکې اوسیږی، داسی چی هم ته نور د تل لپاره د

پیریانو د پعذابولو څخه بیغم شې او هم شموئیل د مرګ څخه وژغورل شی.

- ت ... ته څه فکر کوي چې زه به ستا خبره ومنم؟ اصلاً همدا ته چې تر همدا اوس په هره خبره کېدی د شموئیل سره د مرسته کولو خبره کول، څنګه ناساپه دی وویل چې هغه ما ته دروغ ویلې؟ هغه هم یو، دوه دروغ نه! بلکې تر همدا نن.

عبدالرحمان په همغه ډارونکي نظر راوکتل او ویې ویل: هغه تاته دروغ ویلي، خو بیا هم زما ورور دی او زه غواړم د هغه سره مرسته وکړم نو زما وړاندیز ومنه ځکه هم ستا ګټه پکي ده هم زما د کورنۍ او د شموئیل.

دومره د هغه د غوسه ناک څهری او ډارونکی لهجي څخه وبرېدلی وم چې بی اختیار مې وویل: څ... څنګه وړاندیز؟

عبدالرحمان- زه نه پوهیږم ولې خو شموئیل تا ته تر همدا نن دروغ ویلی،شاید خپل په ګمان ستا د ژغورلو لپاره خو د هغه فکر نه یوازی ته ونه ژغورلې بلکی تا ته یی نور هم دښمنان پیدا کړل، او پاتي شوه د جادو خبره نو ما هغه ورځ ستا جیب کې هغه یوازی د دی لپاره کیخود څکه ستا ملګری ډیر پولیسي،جنایي خبری خوښیږی نو ما ویل شاید وکولای شی په هغه یو کاغذ د موضوع تر یو حد ځانونه پوه کړی خو نچ تاسو دواړه بیحد تنبل یاست.

د هغه په دی خبره چې د زبیر په اړه یې وکړل نور هم حیران شوم، هغه د کوم خوا خبر وو چې زبیر د جنایي موضوعاتو څخه ښه راځي؟

عبدالرحمان- ما کم لاس مه نیسه طاها! زه ستا د ژوند د هغه خبرو څخه خبر یم چې ته لا ورڅخه نه یې خبر(کله چې زما ګنګس نظر یې ولید نو خپل خبرو ته یې دوام ورکړو او ویې ویل: زه نن شپه څکه ستا لیدو

ته راغلم تر څو واضح درته ووایم چې څه خبره ستا شاوخوا روانه ده؟ او ته باید څه کار وکړې؟ ترڅو خپل ځان او خپل کورنۍ د هر ډول مصیبت او ستونزی څخه وژغوری، زه پوهیږم چې شموئیل په دی بهانه تاته نږدی شوی چې تا د پیریانو د قوم د یو سردار زوی وژلې او هغه د قوم مشر پیری دوولس نور قبیلي ستا په وړاندی راغونډ کړی ترڅو خپل د زوی قصد له تا واخلې!

خو دا هسې دروغ خبره ده، که لږ عقل ولری نو پوه به شی چې ته ... ته چې د یو پیری د کنټرول کولو نه یې او نږدی یو پیري دی ووژني څنګه د زرهاو پیریانو په مقابل کې تراوسه ژوندی پاتي یې؟ هغه هم داسي پیریان چې ستا په خبره ستا د وژولو لپاره یې یو د بل سره عهد کړی؟ ته خپل لږ فکر وکړه دا خبره بیحد ریشخند نه ده؟ د یو عادی انسان پسي د دوولس قبیلي پیریان ویی تر څو هغه ووژني خو د دومره کلونو وروسته وژلي نه شی، ایا د یو پیری لپاره سخت ده

ستا وژل؟ هغوی که وغواړی همدا اوس تا وژلی شی طاها، خو هغوي نغواړی تا ووژني.

که څه هم د عبدالرحمان په هر خبره تازه مې لږ،لږ ذهن خلاصیدی او د شموئیل د خبرو په اړه مې زړه کې شک او تردید پیدا کیدی خو بیا هم چمتو نه وم چې د ده خبره ومنم نو ځکه مې وویل: هغوي ځکه زه نشوم وژلي ځکه چې شموئیل زما ساتنه کول.

زما په خبره هغه پوسخند وواهه او ویې ویل: یعنې غواړی ووایي چې د شموئیل ځواک د دوولس قبیلي د مشرانو او د هغه د ملګرو څخه چې په زرهاو پیریان راځی ډېر دی؟ لږ د عقل څخه دی کار واخله شموئیل تا ته هسې دروغ ویلي اصلاً ته ماته دا ووایه تا د هغه قوم مشر پیری زوی کوم ځای کی مړ کړی چې دوی داسی درپسی دی؟ ها؟

د هغه په دی خبره چوپ شوم ځکه دا موضوع ما ته هم نه وه حل شوی زه خپل نه پوهیدم چې ما څنګه

هغه پیری وژلی؟ خو شموئیل راته ویل تا په غلطي کی داسی کار کړی خو هېڅکله یې راته واضح کیسه ونکړل چې چیرته او کوم ځای کې ما داسی کار کړی؟ عبدالرحمان په پوسخند وویل: ولی چوپ شوی؟ شموئیل خپل د دی دروغ د رسوا کیدلو له وېرې کوم بل د دروغو کیسه نه ده درته کړی؟

کله چې زما چوپ کیدل یې ولیدل نو په همغه پوسخند یې وویل: ته ډېر،ډېر بیعقل یې طاها، خو هغه خبره دی څه ناڅه درسره منم.

په منتظر نظر مې وروکتل نه پوهیدم کوم خبره یادوی؟

عبدالرحمان- هغه خبره چې و دی ویل شموئیل ستا ساتنه کوی زه دا خبره منم او دا هم منم چی شموئیل د ځینو پیریانو په پرتله ډېر ځواکمن دی خو دا معنا نلری چی هغه دی وکولای شې د زرهاو پیریان په مقابل کی یوازی ستا لپاره ودریږی چې څه دی؟ طاها زما د

هغه زوی په شکل دی کوم چی انسانانو وژلی دا لا بل دروغ ...

ځکه زما یو وراره هم انسانانو نه دي وژلی البته د یو جانب که فکر وکړم نو د هغه دا خبره د منلو وړ ده هغه تاته خپل د زوی په نظر ګوری خو دا خبره چی درته کړی دا دروغ ده.د شموئیل یو زوی هم ستا په شکل نشته او نه هم وو او که لږ نور هم عقل دی پکار واچوی نو باید د دی خبری په اړه هم فکر وکړی چی شموئیل ولی تاته ضیالحق معرفي کړو؟

په دی خبری نور مې طاقت خلاص شو نه امکان نلری چی استاذ دی هم په دی موضوعاتو کی شریک اوسیږی.

عبدالرحمان- ته بېیر ساده یی طاها که یو څوک درته ووایی غوږ دی سپی ویوړ نو ته بغیر له دی چی خپل غوږ ته وګوری د سپی پسی منډی وهی، اوس هم ته بغیر له دی چی په دی دومره کلونو کی یو ځل د

شموئیل خبرو ته فکر وکړی او د رښتیا او دروغ په اړه یې معلومات او دلیل وغواړی په پټو سترګو دی د هغه هر خبره منلې.

د عبدالرحمان په هر خبره د شک او تردید هغه کندۍ ته غورځیدم چې فکر مې کاوه د هغه څخه بیا ځلی راوتل به امکان ونلری، خو د دې ټولو شکونو باوجود په لړزانه غږ مې وویل: ش... شموئیل م.... ما ... ته دروغ نه وایي.
عبدالرحمان- د کوم خوا دومره ډاډمن یې چی شموئیل درته دروغ نه وایی؟
- ه... هغه زه بار،بار ژغورلی یم.
عبدالرحمان- هو شاید خو کله چې مصیبت د هغه له لاسه پر تا راغلی اوسیږی نو ضرور به دی ژغوری.
- زه باور نشم کولای شموئیل ولی وغواړی ما ته دومره دروغ ووایی؟ په څه خاطر؟ د څه لپاره؟

عبدالرحمان- زه نور خبرې درته نشم کولای یوازې همدومره مې درته لاره وښودل ترڅو ته دا ټول خبرې یو پر بل باندې وتړې او یو سم پایلي ته ورسیږې...
البته باید ووایم د هغه موضوع خواته لاړ شې ..
- د ... د کوم موضوع خوا ته؟
عبدالرحمان- زه د دې څخه نور زیات خبرې تا ته نشم ویلی.
- ولې؟
عبدالرحمان- تر همدې اندازه معلومات درکولو باندې ما خپل د وژولو حکم د شموئیل په لاس امضا کړې نور زه نشم ویلی خو ...

- خو څه؟
عبدالرحمان- خو ته یې کولای شې.
- څه .. څه کولای شم؟
عبدالرحمان- ته کولای شې اصل کیسه د شموئیل څخه پوښتنه وکړې.
په پوسخند باندې مې وویل: عجیب ده! همدا اوس دې

ویل شموئیل تاته دروغ ویلې او اوس وایی لاړ شه د
هغه څخه د رښتیا پوښتنه وکړه؟
عبدالرحمان- ګوره څنګه دی پوه کړم خو شموئیل یو
ډول خاص توجه او احساس ستا په وړاندی لري داسي
احساس چې ستا درد او پعذابیدل نشي زغملې او همدا
د هغه د کمزورتیا نقطه ده کوم چې ټولو ورڅخه مردار
ګټه اخیستي او ته هم کولای شې ورڅخه ګټه پورته
کړی.

- ز...زه نه پوهیږم ته څه غواړی ووایي؟
عبدالرحمان خو شیبې په ځیر راوکتل او د هغه
وروسته یې په کلک وویل: ته غواړی په رښتیا پوه شي
کنه؟

په داسي دوه لارو کې عبدالرحمان راګیر کړی وم چې
نه پوهیدم څه وکړم؟ خو دومره پوهیدم چې باید
شموئیل ووینم او د هغه له خولي څخه واورم چې
عبدالرحمان دروغ ویلي او هیڅ داسي کوم پټ کیسه

او خبره نشته خو .. خو ذهن مې ویل که ... که د عبدالرحمان خبرې صحیح وي او شموئیل تر اوسه ما ته دروغ ویلي وي او چل راکړی وي بیا څه وکړم؟ خپل احساسات مې راکنترول کړل او ومې ویل: که څه هم پر تا او ستا پر خبرو هېڅ باور نلرم خو غوارم شموئیل څخه پوښتنه وکړم او هغه هم عادي پوښتنه نه! غوارم په کلک ورڅخه اعتراف واخلم ترڅو تا ته یې ثابت کړم چې ته په غلط یې او شموئیل ما ته دروغ نه دي ویلي.

زما په دې خبره عبدالرحمان څو ګام شاته شو او په پوسخند یې راوکتل د هغه وروسته یې کرار وویل: بخښنه غوارم چې نامید کوم دی خو باید ووایم چې د دې بیعقل توب څخه نور راووځه طاها! شموئیل هغسي نه دی کوم چې ته ورته فکر کوې او حتا ضیالحق هم هغسي نه دی کوم چې ستا ذهن کې جوړ شوی د دوی علاوه ستا د ژوند ډېر کسان هغسی نه دي کوم چې تا ورته خپل ذهن کی ځای ورکړی.

نه مې غوښتل نور د هغه خبرى واورم هغه زه د يو داسى احساس خواته کش کولم کوم کې چى زما ټول نږدى کسان او کورنۍ راته په شک کى اچول نو ځکه په غوسه مې وويل: يوازى راته ووايه څنګه د شموئيل ځخه د رښتيا خبره را اوباسم؟ نور ضرورت نشته بيځايه خبرى وکړې.

عبدالرحمان- اهومم سمده زه د دى موضوع په اړه يوازى يو وړانديز کولاى شم کوم چې فکر کوم شايد ګټور ثابت شى او د شموئيل ژبه د رښتيا ويلو لپاره خلاصه کړې.

- څنګه وړانديز؟
عبدالرحمان- ما درته اول کې هم وويل چې شموئيل پر تا باندى بيحد حساسيت لرى نو ته کولاى شې د همدى لارې د هغه ځخه رښتيا خبره روباسي، سبا يا هر کله چې طبعيت دى ښه وو يو خالى ځاى ته لاړ شه او شموئيل راوغواړه.

- خ ...څنګه شموئيل راوغوارم؟
زما په دی خبره د عبدالرحمان سترګي له شیطنت وپړقيدل او ويې ويل: هغه ما ته پرېږده زه په يو بهانه د هغه فکر ستا خواته کوم کله چی هغه ستا ليدو ته راغلو نو ته به د ځان پر وهلو يا څه پوهيږم په ژړا يا هم زارۍ کولو هغه مجبور کړی ترڅو درته رښتيا ووايي خو داسی کار وکړه چی هغه مجبور شی کنه هغه سل کاله وروسته هم درته رښتيا نه وايي.

غوښتل می پوښتنه وکړم څنګه يې مجبور کړم؟ يا څنګه ورته زارۍ وکړم؟ يا زر نور خبری می غوښتل ورڅخه پوښتنه وکړم خو هغه په تلوار زما خواته يو کاغذ ونيو او ويې ويل: دا کاغذ په اوبو کی واچوه د هغه وروسته په دی اوبو حمام وکړه ترڅو زما بوی درڅخه لری شی او هو سبا دوه بجو خواته يو خالی ځای ته لاړ شه زه شموئيل دراستوم نور د خبرو وخت نشته زه بايد لاړ شم.

د هغه د تلو مخکې په تلوار می وویل: د.. دا کاغذ باندی ولی حمام وکړم؟
عبدالرحمان- کله چی د دی کاغذ پر اوبو حمام وکړی نو زما بوی په درځخه لری شی تخو نغواړي چې شموئیل زما بوی ستا ځخه استشمام کړی او ستا سره د خبرو کولو مخکی زما حساب کتاب وکړی؟ ته باید هغه ته داسی وښايي چی دی موضوعاتو ته دی خپل فکر شوی.

که څه هم شک لرم چې شموئیل به باور وکړی چی ستا خپل دی خبرو ته دی فکر شوی ځکه دا څو وخته هسی دا حسونه یی ډېر قوی شوی دی هغه ورځ لږ بد ګمان شوی وو پر ما پر هر حال یوه ورځ به ضرور پوه شی چې د دی خبرو شاته زما لاس وو خو نغواړم چی هغه ورځ دی سبا واسیږی.

عبدالرحمان دا خبره وکړل او بغیر له دی چی ما کوم خبری ته پریږدی غیب شو، د هغه په تلو هک حیران د

آشپزخاني منځ کی ودریدم خپل لاس کی کاغذ ته مې وکتل او بیا می د هغه یو،یو خبره ذهن ته راغلل هر ځومره چی د هغه خبری مې خپل ذهن کې پورته ښکته کول هغومره د یو پایلي خوا ته رسیدم، شموئیل ماته دروغ ویلی او .. او د هغه څخه لابتر دا چی شاید په دی دروغ ویلو کی استاذ هم د هغه سره شریک وی دا خبرو دومره سر راته په درد کړو چی بی اختیاره د آشپزخانی منځ کی کښیناستم او خپل سر می په دوارو لاسونو کی ونیو

نه دا امکان نلری شموئیل او استاذ داسی کار نشی کولای خو ... خو ذهن می راته ویل که دوی دوارو په ګډه داسی کار نه وی کړی بیا ولی شموئیل ما ته همغه لومړۍ لیدنه کی استاذ معرفی کړو؟ مطلب هغه استاذ پیژنی؟ ذهن می دومره یو دم منفی فکرونو خواته لاړو چی د زبیر خبره می رایاد شول کله چی راته د واده په ورځ یی وویل: عجیب خسر لری نه دی کورنۍ سم پیژنی نه تا پیژني او بغیر د کوم شناخت او کوم

معلوماتو څخه تاته خپل لور درکوی اوس وخت هیڅوک داسی هلک ته لور نه ورکوی کوم چی کورنۍ لا ورسره جوړه نه وی. پر تا دی بده ونه لګیږی خو زه دی موضوع ته هیڅ ښه احساس نلرم طاها! فکر کوم دا خسر کیدی شاید کوم فساد وی کنه دی زمانه کی داسی نیک خلک کله شته؟ چی نه ولور واخلی نه کوم بل شرط کیږدی او ډاریک خپل لور تاته درکړی."

زړه می غوښت په زوره،زوره چغی کړم زړه می ویل کاش نن ماښام د عبدالرحمان لځایه همغه د پرون ماښام پیری راغلی وایی او لکه خر پشان یی وهلی وایی خو دا خبری می نه وایی اوریدلی، زه خپل ژوند کی د ډیر کم کسانو سره صمیمی کیږم او کله چې د هغه کسانو سره صمیمي شم نو هغه کسان دومره راته ګران کیږی چی ټول ژوند می پر هغوی تړل کیږی او شموئیل او استاذ همغه دوه کسان وه چی ما ورباندی خپل د ځان څخه لا ډیر باور درلود او نن زما نظر د هغوی په اړه بدل شوی وو اوس چی سم فکر کوم نو د

هغوی کارونه او خبری راته مشکوک ښکاریدل یعنی امکان لری هغوی دوارو په ګډه ماته چل راکړی وی؟ خو اخر د څه لپاره؟

ناساپه د پوزی څخه می د ویني په راتلو د هغه غمژن او ګډوډ ماحول څخه راووتم پاسیدم او که څه هم اوس هم دوه زړه وم خو د عبدالرحمان خبره می ومنل او د هغه راکړی کاغذ مې په اوبو کی واچو او وربادی حمام می وکړو، د سهار تر اذان ویښ وم سهار هم د لمونځ کولو وروسته بغیر له دی چی اقرا راویښه کړم د دوکان خواته روان شوم باید د غرمي مخکې یو خالي ځای ته می ځان رسولی وایي او د شموئیل سره می لیدنه کړی وایی، دوکان می د نورو وروځو په پرتله نن بیحد ژر خلاص کړو نه پوهیږم یو ساعت که دوه ساعت مخکي خو هملته خپل د ګډوډ فکرونو سره فکر کولو ته کښیناستم.

د څو ساعتو وروسته بلاخره زبیر دوکان ته راغلو.
زبیر- سلام ... وا، وا نظر نشې ته او دومره ژر راتګ؟ دا لمر نن د کوم خوا راختلی؟
په نیولي غږ مې یوازې د هغه د سلام ځواب ورکړو او نور څه مې ونه ویل چې زبیر په مشکوک توګه وپوښتل: ما ته وګوره طاها جنګ دی کړی؟

هیڅ د زبیر سره د خبرو کولو حوصله مې نه درلود نو ځکه یوازې د ښه یم پر ویلو مخ ورڅخه وګرځو او لګیا شوم هسې د دوکانو شیانو په سم کولو خو زبیر د دی لځایه چې زما د چوپ کیدلو سره خپل پوښتني کول بس کړی برعکس زما خواته راغلو او دومره راباندی شله شو او دومره ډېر وویل چې څه شوی؟ او څه شوی؟ چې مجبور د دروغو مې ورته د پرون ورځ د میراث په سر د فرید خبری او بیا د ذوالفقار سره د جنګ کیسه بیان وکړل، نه مې غوښتل د شموئیل او استاذ په اړه ورته کوم څه ووایم د دی څخه مخکې چې خپل لا نه یم ورڅخه ډاډمن شوی زما همدا نیم د

حقیقت بیان هم زبیر حیران کړو او تقریبا باور یې وشو چې زما خراب حالت د څه شبب دی؟

زبیر- د انا د میراث ښځه دی مطلب د ذوالفقار مور ده؟
- هو.
زبیر- عجب نو د هغې په میراث ولې ستا اوخښی ستا سره جنګ وکړو؟ د هغې د مور میراث خو نه دی؟
- بس هسې خر شئ دی.
زبیر- د رښتیا چې خر دی هغه هم دوه پښو والا خر ... ښه پلار دی څه وویل؟
- هیڅ ... یوازی کوښښ یې کاوه موضوع په صلح امیز توګه پای ته ورسوی او د جنګ مخه ونیسي.

زبیر- عجب ... خو دی منځ کې پوه نشوم چې ذوالفقار نو ته ولې ووهلې؟
غوښتل مې ځواب ورکړم چې زبیر اجازه رانکړل او پخندا یې وویل: باور مې نه کیږی یعنې سهار یې

شیرنی درکړل او ماښام یې په بوکس لغت باندی هغه درځخه وویستل.

د زبیر په دی خبره بد،بد مې وروکتل چې هغه خپل خندا کنترول کړل او ویې ویل: داسي مه راګوره منم چې ذوالفقار غوسه ناک او بد اخلاق دی، تر دی حد چې ما لا ورڅخه بار،بار وهل خوړلي خو دا چی ته یی وهلي اوسیږی دا راته د منلو وړ نه ده!؟
- اوس خو یی وهلې یم ته یې منې او کنه هغه ستا کار دی.

زما په دی خبره زبیر بیا پخندا شو او ویې ویل: عجب کار یې کړی خو باور وکړه زړه مې وایی تا ضرور یو داسی خبره کړی چی د هغه حوصله دی بیخې صفر ته رسولې کنه ذوالفقار چی هرځومره ستا څخه غوسه شی پر تا لاس نه پورته کوی.
- دا فکر دې یو دم غلط دې، ځکه ذوالفقار چی کله

غوسه شئ نو هیچا او هېڅ شئ ته نګوری او ښه سم یی برابر کوی.

زبیر- شاید خو ستا په اړه دا موضوع فرق لری زه بار،بار شاهد تېر شوی یم چی ذوالفقار ستا د خبرو په وړاندی چوپ شوي او ځان یې راکنټرول کړی تر څو پر تا لاس پورته نکړی، لنډ مثال یې همدا پرون ورځ! که ستا لځایه ما هغسې په کلک د هغه د خبرو څخه انکار کړی وایې نو ښه جوړ وهل مې خوړل خو هغه تا ته هېڅ ونه ویل یوازی لږ غوسه شو بس، ومنه ته خیرن پر هغه بیحد ګران یی او دا چی پرون ماذدیګر یې وهلې یې نو ضرور تا یو داسي خبره کړی چی د هغه احساساتو ته دی زیان رسولې.

دومره مې عصاب خراب وه چی د زبیر د خبرو اوریدو توان مې نه درلود نو ځکه مې په تند لهجه ورته وویل: هو د هغه مقدس احساساتو ته مې زیان ورسو صحیح شو؟ زړه دی یخ شو؟ اوس می یوازی پریږده عصاب

نلرم.
زبیر- اوه اوه دا دومره غوسه؟ نچ نچ مه خفه کیږه زه خپل همدا اوس ذوالفقار ته زنګ وهم او مجبوره کوم یې چی دلته راشی او ستا سره روغ جوړ وکړی سمده؟
- نه.

زبیر پخندا وویل: ولی نه؟ مګر د هغه د وهلو پخاطر داسي شونډان دی بوک او خفه نه یې؟ خو ورته زنګ وهم چی راشې هم دی ستا څخه بخښنه وغواړی او هم دی ستا د راضي کولو لپاره موږ ویسی هوټل ته او د پرون پشان بوډۍ دی راکړی څکه خپل پر وهلو یې هغه ستا د بدن څخه ویستلي ..
- غول مخوره زبیر، زنګ ورته ونه وهې زه نغواړم د هغه غږ لا واورم.
زبیر- اوه، اوه خطرناک یعنی دومره ورڅخه خفه یې چې حتا غږ یې لا نغواړی واوری؟

د زبیر په خبرو نور مې حوصله بیخې صفر شول تر دی حد چې په کلک مې ورته وویل: زبیرا زه درڅخه درخواست کوم د نن لپاره زما څخه لاس واخله او خپل پر حال مې پریږده زه نه د ذوالفقار سره خبری کول غوارم او نه حتا ستا سره، نو پر ما احسان وکړه او خوله دی د یو څو ساعتو لپاره بنده ونیسه.

زما په داسي بې حوصلي او تقریبا تند لهجه د زبیر تندی تروش شو خو نور څه یې ونه ویل او لری شو او تر غرمه نور یوه خبره یې لا زما سره ونکړل ...

د تلو مخکې مې یو ځل بیا د هغه تروش تندی او نیولي څهری ته وکتل ما د هغه خفګان نه غوښت پوهیدم چې د هغه ټول خبری زما د حال د ښه کولو په پار وه خو ما خپل په بیعقلي هغه لځان څخه خفه کړي و او اوس چی داسي راڅخه مخ ګرځولی و نو بیحد خپل په کړی خبرو پښیمان وم خو له بلخوا دومره مې عصاب خراب او ذهن مې ګډوډ وو چې حتا خپل

حوصله لا مې نه درلود څه ورسیږی وغوارم د زبیر سره خبری وکړم او هغه پخلا کړم، د زړه له تله مې یو"اه" وکښ او و ومې ویل: زه تر یوزای کار لرم باید لاړ شم.

په تمه وم چې شاید کوم څه ووایي یا مخالفت وکړی خو هغه یوازی د سر په خوځولو ځواب راکړو او دا مطلب د زړه څخه خفه دی زبیر په مازی،مازی خبرو نه خفه کیدو خو که خدای نکرده یو ځل خفه شوی وایي بیا نو د چا پلار لا نشو پخلا کولای او نن لکه چې د زړه څخه خفه شوی وو، څو شیبې اخوا دیخوا شوم زړه مې غوښت لومړۍ زبیر سره اشتی وکړم بیا لاړ شم خو د هغه تروش تندی او مخ ګرځولو پوه کړم چې په دوه خبرو د هغه پخلا کول امکان نلری، نو ځکه ورڅخه روان شوم که څه هم د هغه په خفګان د زړه له تل خفه او پریشان وم.

موټر سایکل مې روښانه کړو دتګ ځای مې دا څو ساعتو کې معلوم کړی و غوښتل مې خپل هغه پخواني کور ته لاړ شم کوم چې دا څو وخته بیخې خالی وو او ما د خرڅ کولو اراده درلود خو چا نه اخیست او که کوم چا د اخیستلو اراده هم درلود نو د کور په بیه یی نه اخیست بلکی د قبر په بیه یی غوښت، البته حق یی هم درلود د هغه شاوخوا ټول قبرونه وه په همدی ګډوډ فکرونو کی د یو ساعت وروسته هلته ورسیدم موټر سایکل مې ودرو او دروازه مې خلاصه کړه ښه وه چی کیلې می پرون ماښام ورڅخه پیدا کړل.

موټر سایکل می دننه کور ته ننویست او دروازه مې بنده کړل کور داسی خالې وو چی ما فکر کاوه کوم د پیریانو کور ته راننوتې یم، البته پیریان خو یې درلود شموئیل راته ډیر پخوا ویلی وه چی دلته پیران اوسیږی خو زما سره کوم کار نلری،کوم خاص شئ د کور دننه نه وه ټول څیزونه مې ورڅخه ډېر پخوا وړی وه یوازی یو زوړ او پخواني فرش د دهلیز اخر سر کی

پروت وو چې هغه هم زما نه وو بلکی کله چی ما دا کور واخیست همدلته و،د دهلیز منځ کې هک حیران ولاړ وم نه پوهیدم څه وکړم؟

که رښتیا ووایم اوس د دومره راتګ او دومره فکر کولو وروسته پښیمان وم خپل د راتګ څخه، که .. که شموئیل د عبدالرحمان خبری تایید کړل بیا څه وکړم؟ که کیسه همغسي وه کوم چی عبدالرحمان ویلي وه بیا څه وکړم؟ که شموئیل او استاذ یو لاس وه او ما ته یې تر اوسه چل راکړی و بیا .. بیا څه کار وکړم؟ دا فکرونو زړه راته دومره خراب کړو چې زړه مې ویل بیخی د حقیقت د اوریدلو څخه تېر شم او له دی ځایه لاړ شم ما دومره زړه او جرئت نه درلود چې خپل د ژوند د دوه مهم کسانو د راز څخه پرده پورته کړم ما د دی طاقت نه درلود چې د دومره وخت اعتماد او باور وروسته واورم چې تر همدا نن ورځ پوری اوریدلې ټول خبری دروغ وه، ما خپل ځان کې دومره جرئت نه احساس کاوه

او بلاخره دا بد احساس مې دومره ځواکمن شو چې ما بې اختیاره خو ګام د دهلیز د دروازی خواته واخیستل ترڅو لاړ شم او دا ټول اوریدلې خبری خپل زړه کې ښخ کړم او داسی وښایم چې هېڅ مې نه دی اوریدلی او زه همغه طاها یم او هېڅ کوم شک او تردید نلرم خو ... لا یو ګام مې نه و اخیستې چې د شموئیل اندیښمن خو په عین حال کې مشکوک غږ مې خپل د شالخوا واورید.

شموئیل- ته دلته څه کوی طاها؟

د هغه په غږ په تلوار مې مخ وروګرځو... نه خدایه... نه ... ولې اوس؟.. ولې اوس چې ما دتګ اراده درلود.. اوس چې ماغوښتل دا خبری د تل لپاره خپل د ذهن په کنده کې ښخ کړم ولی اوس راغلو؟ کله چې نظر مې پر هغه ولګید دوه نامعلوم احساس مې زړه کې پیدا شول لومړی غوسه او دویم نامیدی او ناهیلی ..

شموئیل- و دی نه ویل طاها! ته دلته څه کوی؟

د هغه راتګ زه دیته اړ کړم چې خپل جرئت راټول کړم او د کوم څه لپاره چی راغلی وم هغه ووایم، که څه هم زړه مې ویل شاید پایله یې زما په بد تمام شي خو بیا هم غوښتل مې پوه شم زموږ خلک یو تکیه کلام کوی وایي مرګ یو وار ژوند هم یو وار اوس هم دا موضوع باید په یو ځل او د تل لپاره ما ته ځواب شوی وایي نه دا چې هره ورځ او هره شیبه ورته فکر وکړم .. په دی فکرونو مې خپل ټول جرئت راټول کړم او ومې پوښتل: غوارم ... غوارم یو پوښتنه درڅخه وکړم ... وعده راکوی چې .. چې رښتیا راته به وایي؟

زما په دی خبره د شموئیل تندی تروش شو خو د څه ویلو مخکې ما وویل: یوازی ... یوازی راته قول راکړه چې رښتیا به وایي شموئیل قسم واخله.

شموئیل- دا خبری څه معنا لری طاها؟ ته دلته د څه لپاره راغلی یې؟څه پوښتنه لری؟

د خولې لاړې مې تېر کړل او ومې ويل: قسم واخله چې رښتيا وايي ترڅو زه پوښتنه وکړم.

شموئيل بغير د څه ويلو راکتل او نه پوهيږم ولې خو د هغه دا خاموشی زه ډاډمن کولم چې هغه دروغ راته ويلي په دی فکر په افسوس باندی می خپل سترګي پټي کړل او ومې ويل: تا ... تا تر همدا اوس چې کوم خبری ماته کړې هغه ټول دی دروغ ويلی؟

په تمه وم چې هغه يو کار وکړې يو ريکشن وښايي خو هغه بغير د څه ويلو کرار راکتل.

شموئيل- چا دی غوږونه ډک کړې طاها؟ چا داسي زما په وړاندی راپورته کړې يې چې زما ټول خبری درته دروغ ښکاری؟ هوم؟

او خپل د دی خبری سره سم په ناساپه حرکت ما ته رانږدی شو او زما بوی کول يې شروع کړل د هغه په دی کارو و ډار شوم شموئيل هېڅکله داسې کار نه

کول.
- و ... ولی داسی کوی؟

شموئیل په غوسه خپل سر راپورته کړو او داسی حال کې چی خپل غاښونه یې یو پر بل چیچل ویې ویل: زه د هیچا بوی ستا څخه نشم احساس کولای د هیچا ... خو دا امکان نلری پوهیږم یو چا ستا سره لیدنه کړی خو نه پوهیږم څوک؟

- ت... ته دا خبره څه کوی چی ... چا ما ته دا خبری کړی؟ ی... یا چا زما سره لیدنه کړی؟ ته ماته دا ووایه چې تا تر اوسه ما ته دروغ ویلی او کنه؟

شموئیل- ته څه فکر کوی؟
په غوسه مې تقریبا چغه کړه: زه هېڅ فکر نکوم زما لعنتي ذهن راته هېڅ نه وايي زه یوازی غوارم ستا له خولې واورم چې رښتیا څه دی؟ او همغه خبره خپل زړه او ذهن ته وکړم او د دی لعنتي حال څخه راووځم

.. غوښتنه درڅخه کوم شموئیل مهرباني وکړه او ما ته رښتیا ووایه.

نه پوهیږم هغه زما په څهره کې څه ولیدل چې څو کام شاته لاړو او په بیحد یو عجیب غږ چې زما ټول وجود یې ولړزو ویې ویل: ووایه، په کوم خبره غواړې پوه شې؟

د هغه دا خبرې نه پوهیږم د جرئت راکولو لځایه ولی زما جرئت کم کړو؟!

- ایـ ... ایا دا رښتیا ده چې هغه پیریان د دی لپاره زما پسی نه دی چـ ... چې ما یې زوی وژلي؟.... بلک.... بلکې ... ستا ل ... له سبب زما پسی دی؟ هغوی هدف اصل کې ته یې نـ .... نه زه؟

په تمه وم شموئیل په کلک د دی خبرو څخه انکار وکړی، په تمه وم هغه ووایي دا ټول هسې خبرې دی خو ... خو هغه یوازی یو خبره وکړل ...

شموئیل: هو ...

یوازې یو "هو" او بس ... خو دا یو "هو" بار، بار زما ذهن کې ګرځیدو"هو،هو،هو" دا هو ډېر معنا درلود دا هو زما د ژوند، باور او اعتماد د بربادي معنا درلود ... دا هو د عبدالرحمان د ټول خبرو د صحیحي توب معنا درلود ... دا هو زما د بیعقلتوب او سادګي معنا درلود ...دا هو ... نور مې څه وا نه وریدل په سر کې مې بنګهارې شو او د سترګو وړاندې مې هر څه تور شو د غورځیدو مخکې مې خپل لاس په دیوال کیخود او هلمته کښیناستم، نه پوهېږم څومره وخت به هغه حال کې وم چې د یو چا په غږ مې خپل سترګې خلاصي کړل په تمه وم د شموئیل سره مخ شم خو ... خپل د مخامخ صحني په لیدو بغیر له دې چې خپل د سر درد ته کوم توجه وکړم په یو جست خپل ځای کې کښیناستم ...

- ت ... ته څوک یې؟

په مسکا باندی زما خواته راوګرځیدل د دی باوجود
چې پوهیدم پیرې ده خو هېڅ ورځخه نه وېرېدم!
شاید یوازیني دلیل یې د هغې بې مثال ښایست وو؟!
ما خپل ټول عمر کې داسي ښایست او ښکلا په
انسانانو کې نه و لیدلي ... اوس پوه شوم کله چې
خلک وایي فلانکي داسي ښایسته ده لکه ښاپیری نو
مطلب یې څه دی؟ دا د رښتیا هم ښایسته وه داسي
تک سپینه وه لکه .. لکه شیدو پشان پر مخ یې هېڅ
کوم خال یا کوم داغ نه وو صاف او تک سپین مخ یې
درلود او د هغه څخه لا ډېر چې زه یې حیران کړم د
هغې عجیب سترګي وه ...تکې توری د تور آسمان
پشان ..

د سترګو شاوخوا یې طلایي رنګ حلقه تاو شوي وه او
دا طلایي حلقي د هغې د سترګو ښایست او ښکلا لا
زیاته کړې وه د ښایست باوجود بیحد هم عجیب وه،
داسي ښکاریدل لکه توره شپه کې چې د لمر وړانګي د
اسمان له کونجونو څخه ځلېږي د مخ نور غړۍ عادی

وه یوازي د مخ بیحد سپین والي او سترګي عجیب او ښکلی وه ویښتیان یې نه ښکاریدل چې څه رنګ دی؟

خپل ویښتیان یې په یو سور رنګ دسمال باندی تړلې وه او اوږده تور کالي اچولې وه بغیر د مخ او لاسونو څخه یې نور د بدن هېڅ غړی نه ښکاریده خو داسي ښایسته وه چې زه یې په کتو کې ورک وم چې ناساپه هغه پخندا شوه د هغې پخندا تازه په خود راغلم او نظر مې ورڅخه واخیست چې د هغې کرار او نرم آواز مې تر غوږ شو.

— تر نن ورځې هېڅا تر دی حد زما د ښایست بیان نه و کړی مننه ...

د هغې په دی خبره په شرم باندی مې سر ښکته واچو او خپل شونډه مې کلک وچیچل زه د هغې په ظاهری ښکلا کې د رښتیا هم د څو شیبو لپاره بیخې ورک شوم ... خو اوس د هغې په خبره تازه په خود راغلم

نو بغیر له دی چې د هغې ښکلا ته کوم پام وکړم ومې پوښتل: ته څوک یې؟

په همغه مسکا چې هېڅ بډول یې له شونډو څخه نه لیری کیدل ما ته یې د کښیناستلو اشاره وکړل او خپل هم زما مخامخ کښیناستل او بیا په همغه غږ چې یو بډول خاص آرامښت او سکون ما ورڅخه احساس کاوه ویې ویل: زما نوم حوا ده.

بی اختیاره مې څو ځله د هغې نوم د شونډي لاندی له ځان سره تکرار کړو حوا ... نوم یې هم د هغې پشان ښکلی وو، خو د هغې د خبری په دوام یو دم خپل د فکرونو څخه راووتلم.
حوا- زه د شموئیل میرمن یم.

د څو شېبو لپاره ذهن مې د هر کار او خبری څخه فلج شو خو ناساپه غوسه په بیحد تېزوالي زما په رګونو کې په منډه شول تر دی حد چې په کرکه او نفرت مې د هغې خواته وکتل او ومې ویل: لکه چې د میړه دروغ

ويل دی خلاص شول او ته يې راوستولي تر څو دا ځل ته تر يو څو کالو ما وغولوي.. خو ښه په خلاص غوږونو يې واوره زه نور هېڅکله ستاسو کم اصل کسانو باندی باور نکوم نو بهتره به دا وی چې همدا اوس له دی ځایه لاړه شې ...

زما د خبرو په وخت کې هغې يوازی چوپتيا اختيار کړی وه او په بيحد مهرباني راکتل تر دی حد نظر يې مهربانه وو چې بې اختیاره زما خوله بنده شوه، کله چې چوپ شوم نو هغې په همغه ارام او د سکون څخه ډک لهجې باندی وويل: زه تا درک کولای شم که زه هم ستا لځايه وايې او داسي دروغ چا راته ويلی وايي نو د عمر تر اخره مې په هغه کس نور باور نشو کولای خو زه درته دروغ نه وايم که ما غوښتل تا ته دروغ و وايم نو هېڅکله مې تاته نه ويل چې زه د شموئيل ميرمن يم! ما درته دا خبره د لومړۍ څخه وکړل ترڅو ته وروسته په شک کې ونه لوېږی ... زه پوهېږم تا ته عبدالرحمان دا خبری کړی ...

د هغې په دی خبره مې حیرت وکړو، ځکه شموئیل نه وو خبر چې ما ته چا دا خبرې کړې نو دا څنګه خبره ده؟

حوا- ما ته عبدالرحمان وویل ...
- څـــه؟! ت ... ته هغه پیژنی؟
حوا- هو، کله چې هغه ماته وویل چې تا ته یې داسې خبرې کړې نو هغه په دی کار ورټو هغه نه باید تا ته دا ډول خبرې کړې وایې،خو هغه د یو څو کسانو په خبرو کې راغلی وو نو ځکه تاته یې هغه خبرې کړې وه، زه پوهېږم چې شموئیل تاته کوم څه نه دی ویلې خو زما سره ستا د ټول پوښتنو،اندیښنو او خبرو ځواب شته، نو ته یوازې باید آرام اوسیږې ترڅو زه درته یو پر یو ستا د ټولو پوښتنو ځواب درکړم سمده طاها؟

نه پوهېدم چې ورباندی باور وکړم او کنه؟ خو د هغې مسکا او د هغې آرام لهجې زه دې ته اړ کولم چې د هغې خبرو ته غوږ ونیسم نه پوهېږم ولې خو ما

ورځخه بد احساس نه اخیست برعکس یو ډول د سکون احساس مې ورځخه اخیست چې ډېر ناشنا وو دا احساس راته ...

حوا- ستا د ژوند ستونزی د نن او پرون نه دی بلکې د ډېر پخوا څخه دی، باید داسي ووایم ستا د پیدایښت څخه مخکې دا موضوع خراب شوی وه، نه پوهیږم خبره د کوم خوا څخه پیل کړم تر څو ته په ټولو خبرو صحیح پوه شئ ..
- د ... ه...ر ... هر خوا څخه چې پیل کوی پیل کړی یوازی راته ووایست چې څه روان دی؟ او ... او غوښتنه کوم یوازی رښتیا راته و وایست زه نور د دروغو اوریدلو توان نلرم ...

زما په دې خبره هغې یو ژوره ساه واخیسته او خپل خبری داسي پیل کړل: زه د *** قبیلي د مشر لور یم زه نه کوم ورور لرم او نه هم کوم خور، زه خپل د پلار یوازینې اولاد یم نو د انسانانو پر خلاف چې ښځه او

نر ته ګوری موږ داسې توپیر نلرو نو په همدې سبب د
پلار وروسته زموږ د قوم مشری ما ته رارسیدل خو د
دی ډولو خبرو باوجود زه بیا هم یوه ښځه وم او زما
واده کول زما پر قوم او زما په مشرتوبې کې ډېر مهم
رول درلود نو زما پلار تل غوښتل ما یو داسې چا ته
ورکړی چې د هغه وروسته زما او زما د قبیلې ساتنه
هم هغه کس وکړی ...

ډېر کسان زما غوښتنې ته راتلل خو زما پلار هېڅوک
نه خوښیدو او هېڅوک یې زما لایق نه ګڼه تر دې چې
یو نه هېردونکې پیښه واقعه شوه ... داسې پیښه چې
د سلګونو کلونو وروسته زموږ دوولس قبایلو ترمنځ د
بې اتفاقې تارونه وغځول .موږ د دی څخه مخکې هم
یو د بل سره غبې او کوچنې اختلافات او مشکلات
درلود خو دا لومړی ځل و چې موږ یو د بل په مخ کې
توری راوویستې او پریکړه مو د خبرو لځایه د جنګ په
میدان وکړل ... هغه پیښه زموږ د تاریخ یو بترینه او
نه هیردونکې پیښه وه داسې پیښه چې موږ یې تر

اوسه خپل اولادونو او بچیانو ته کوو تر څو ورڅخه عبرت واخلي او نور هېڅکله د هغه منحوس وختونو خواته لاړ نشي ...

ما بغیر د کوم څه ویلو ورته کولو کتل، نه پوهېدم چې اخیر د دی خبرو او کیسو تړاو زما د ژوند سره څه دی؟

حوا- موږ دوولس قبایل په یو منطقه کې ژوند کاوه موږ د ډېر پخوا څخه د عربستان څخه خراسان یا هم اوسني افغانستان ته راغلی وو زموږ دوولس قبایل او ټول پیریان تل په یو ټاکلي قانون ژوند تېرو او دا قانون تل د دوولس قومونو د مشرانو لخوا ټاکل کیده خو زموږ د دوولس قبایلو څخه یوه قبیلي د انسانانو سره بیحد تګ راتګ ډېر کړو او کرار،کرار دا تګ راتګ یو ډول په سرکښۍ او بغاوت بدل شو ...

کله چې د دوی تګ راتګ ډېر شو نو ډېر انسانانو ته ضرر ورسید او هغه انسانانو د ځان څخه د دفاع په پار د دغه قبیلي پیریان ووژل او دا شو چې دا قبیله د

انسانانو سره په یو ښکاره جنګ باندی واوښتل لومړۍ کې دا خبره د پردی تر شا او په پټه کیدل خو کرار،کرار د دوي کینه او بغض د انسانانو سره تر هغه حد ورسېد چې هغوي غوښتل یو علاقه"ځاي" بیخې خپل د ځان کړی او انسانان هلته پرینږدی خو دا کار زموږ د اصولو خلاف وو ...

موږ تل د انسانانو سره دوستانه خو عین حال کې د لیری څخه روابط پالل موږ تل د هغوی څخه په پټ ژوند کاوه خو دا قبیله په دی عقیده وه چې موږ باید د انسانانو سره جګړه وکړو او خپل د ژوند کولو لپاره یو ځای ونیسو او هلته انسانان پرینږدو،د دی قبیلي په دی بغاوت زموږ د قبایلو منځ کې یو لوی بې اتفاقي راپورته شوه ځینې قبایلو د دې قبیلي خبره ومنل او ځینو چې زموږ قبیله هم پکې شامل وه د دی کار سره سخت مخالفت څرګند کړو او دا مخالفت یو عادی مخالفت نه وو بلکې دا د یو لوی جګړې د پیل مخالفت وو ...

د قرنو وروسته زموږ مېنځ کې يو داسي شديد او سخت اختلاف پيدا شوی وو چې
فيصله يې په وينو او جګړې کيدل زموږ ټولو قبايلو نظر يوازی د يو قبيلي خوا ته وو، دا قبيله په يوازی ځان زموږ د يوولس قبايلو د مقابلي وه دا قبيله د عفريت د نسل څخه وه ... عفريت شايد ته ونه پيژني خوا دا د هغه نسل پيری دی کوم چې سليمان"ع" د وخت څخه نيولې تر همدا اوس د ځواک په څوکۍ ناست ده دا پيريان نه يوازی کورنۍ او نسلۍ ځواک لری بلکی دوی يو خاص قدرت لځان سره لري يو داسی ځواک چې ډېر کم پيريان يې لرې ...

کله چې اختلافات خپل اخيری حد ته ورسېد نو د ټولو قبايلو نظر د دی قبيلی خوا ته واوښت او ځکه چې دا پيريان تل وينه بهونکې او ظالم پيريان دی نو زياتر قبايلو جګړې ته زړه ښه کړو هغوی خيال کاوه د عفريت نسل به د هغوی سره ودرېږي او بلاخره د کلونو وروسته به دوی د انسانانو څخه يو ځمکه غضب کړي

خو هغوی لیاده ویستلي وه چې د عفریت قبیله اوس د اسلام په برکت مسلمانان شوی وه! دا یو خدای تقدیر وو چې دا قبیله مسلمانان شوی وه او له بلخوا د دی قبیلي مشری یو ځوان پیری کول کوم چې بیحد د وینی بهیدلو څخه بد راتلل او بیحد هم صوفي مزاج او د اسلام پایپند وو ...

نو په دی ډول د انسانانو سره د جګړې کولو مخکې موږ یو د بل په وړاندی ودرېدو اوه قبیلي زموږ پر خلاف وه او زموږ سره یوازی څلور نور قبایل وه خو زموږ امید د ګټې یوازی دا وو چې زموږ ملاتړ قبیله د *** قبیله ده کوم چې ځواکمن د عفریت د نسل پیریان لری او مشری هم یو اصل پیری کوی کوم چې د پلار او مور د دواړ جانب اصل عفریت دی، موږ د هغه په اړه ډېر اوریدلی وه کوم پیریان چې د پلار او مور لخوا عفریت اوسیږی هغه بیحد ځواکمن نړی ته راځي خو کوم پیریان چې د نور نسل پیریانو سره واده وکړې بیا لږ کمزوری کیږی خو دا هغه پیری وو چې د دواړو

جانب د لوی کورنۍ سره تړاو درلود او له بلخوا یو ځوان پیری وو او څومره چې یو پیری ځوان اوسیږی هغومره د هغه ځواک ډېر وی ...

د خبرو منځ کې هغې زما خواته راوکتل او ویې ویل: پوهېږی هغه ځوان مشر څوک وو؟

په ګنګس انداز مې سر د "نه" پشان وخوځاوه چې د هغې سترګو کې یو خاص روښنايي ښکاره شوه داسي چې طلایی حلقي د سترګو یې بیحد وپرقیدل او په بیحد یو خاص لهجه یې وویل: د هغه نوم شموئیل وو ...

د شموئیل د نوم په اوریدو مې سترګي د حیرت څخه راووتلي، باور مې نه کیدو چې شموئیل دی د کوم قوم مشر اوسېږی هغه هم د کوم عادی قبیلی مشر نه ... بلکي د هغه قبیلي مشر اوسیږی کوم چې د حوا خبره په یوازی ځان د یوولس قبیلو مقابله یې کولای شول! ناساپه د پرون شپه د عبدالرحمان خبره مې ذهن ته

راغلل چې ویل یې "هو منم چې شموئیل د نورو پیریانو په پرتله ځواکمن دی! " نو دا خبره رښتیا وه ... خو ما باور نشو کولای نه پوهېږم ولې خو شموئیل راته عاجز ښکاریدو نه جنګي ... زه خپل فکرونو کې وم چې حوا وویل:

حوا- شموئیل همداسي چوپ او عاجز دی او دا د نن و پرون خبره نه ده هغه تل همداسي دی دا د هغه خاصیت دی هغه د کوم چا سره د دوه خبرو څخه ډېر خبری نکوی یوازیني کس چې شاید ورسره ډېر خبری کوی هغه ته اوسیږی ..
په حیرت مې ویل: زه ...!
حوا- هو، شاید باور ونکړی خو زه چې میرمن یې یم زما سره دومره نه غږیږی څومره چې ستا سره خبری کوی ... شاید ریشخند په نظر راشی خو کله ناکله مې ستا سره بخیلی کېږي ... په هر حال دا خبری به پریږدو را به شو خپل اصل موضوع ته ...

ما یوازی په چوپتیا کې ورته غوږ نیولې و نه پوهېږم ولې خو کله چې ویې ویل " ستا سره مې کله ناکله بخیلي کېږي" نو دا لفظ او جمله یې په بیحد مات زړه بیان کړل ...

حوا- زما پلار د دی لپاره چی موږ متحد وساتي زه یې شموئیل ته ورکړم او په دې ډول زموږ اتحاد یې لا پسي کلک کړو لومړی کې څه ناڅه په دی کار خفه او غوسه وم، ځکه احساس مې کاوه چې زما په سر یو ډول معامله شوی؟ خو دا احساس د شموئیل په لیدو یو دم لمینځه لاړو، ځکه د دوولس قبایلو ټولو انجونو غوښتل هغه یوازی ورته یو نظر وکړی خو هغه اوس بغیر د کوم زحمت څخه یوازی او یوازی زما وو! دا زما لپاره ډېر جالب او په زړه پوری وه، خلاصه چې زموږ اتحاد ګټه ورسول او موږ پنځه قبیلي په هغه اوه قبیلو باندی غالب شو ...

هغه اوه قبايلو کې شپږ قبيلې بيرته تسليم شول خو يوه قبيله کوم چې د لومړۍ ځل لپاره يې دا د بغاوت اور راپورته کړی وو هغه تسليم نشول او موږ هغه قبيله لمينځه ويوړل، البته کامل نه ... د هغه قبيلي ځينې انجوني او ماشومان او ځينې ځوان پيريان تسليم شول او ځينې وتښتيدل او نور ولايتونو او منطقو ته لاړل د دی جنګ او زموږ د اتحاد وروسته پاتي يوولس قبايلو پخپل منځ کې تړون وکړو او د لومړۍ ځل لپاره يو مشر مو ځانته وټاکلو، يو داسي مشر تر څو موږ د نور پيريانو د ضرر څخه وساتي او هم زموږ منځ کې د تل لپاره صلح قايم کړې ...

نه پوهېږم ولې خو د حوا د خبرو وخت کې زما ذهن ته يوازی يو نوم راتلو چې د دی ټول پيريانو مشری په غاړه اخيستی وی ...

حوا پخندا وويل: صحيح فکر دی کړې هغه مشر شموئيل وو ...

د هغې په خبره خوله مې له حیرت خلاصه پاتې شوه یعنې شموئیل دومره لوی مقام درلود خپل په نړۍ کې او زه ناخبره وم؟ هغه ولې یو ځل ماته ونه ویل چې څوک دی؟ او څه مقام لری؟ د حوا غږ د فکرونو له نړۍ راوویستلم.

حوا- شموئیل ته مشری ځکه ورسېدل چې هغه لومړۍ خو د یو ځواکمنۍ قبیلې مشر وو او دویم دا چې زموږ سره په اتحاد او بلخصوص زما سره په واده کولو د هغه نفوس او ځواک اوس پر ټولو قبایلو ډیر شوی وو، نو په همدی سبب هغه مشر شو او دا مشری تر کلونو دوام وکړل او زموږ خلکو د یو خونړۍ جګړی وروسته په یو صلحه آمیز او هوسا فضا کې ژوند تېر کاوه خو د قسمت خبری دی هر څومره چې زموږ د واده وخت رانږدی کیدو هغومره عجیب غریب خبری اخوا دیخوا کیدل زه چې په شوق په تمه وم چې د دی ټولو پیریانو د مشر سره واده وکړم او د یو ملکۍ پشان ژوند تېر کړم یو ماښام خبر راغلو چې زما خاوند ...

کوم چی زه یې په نوم وم او زما ټول قبیله د هغه د یو حکم لپاره مړ کولو او مړه کیدلو ته حاضر وه په یو جنۍ مین شوی ....

په راوتلو سترګو مې د حوا خوا ته وکتل باور مې نه راتلو چې شموئیل دی مئین شوی وی، هغه هم داسي وخت کې چې حوا یې په نوم وه! حوا یو نظر راوچو خو په درد باندی بیرته نظر راښخه واخیست او په بیحد یو نیولې غږ یې وویل: کاش هغه زموږ د نړۍ په یو کس مئین شوی وایې ...
په حیرت او بند،بند لهجه مې وویل: څ ... څه مطلب چ... چې ستاسو د نړۍ په یو کس مئین شوی وایې؟
حوا دا ځل بغیر له دی چې ماته راوګوری خپل نظر یې زما شاته د دهلیز دیوال خوا ته ونیو او ویې ویل:
شموئیل د انسانانو د نړۍ په یو جنۍ مئین شوی وو ...

نور نو د حیرت څخه ساه اخیستل مې لا لیاده ووتل، شموئیل په یو جنۍ هغه هم د انسانانو د ډلۍ څخه

مئين شوی وو؟ ذهن مې بې اختياره يوازې يو خبره کول شموئيل هغه وخت مئين شوی وو چې حوا يې په نوم وه ... او سبا بل سبا يې واده کاوه ...

حوا په دردمند نظر راوکتل او ويې ويل: هو شموئيل په يو جنۍ د انسان له نسل څخه مئين شوی وو، هغه هم هغه وخت چې زه يې په نوم وم او مور لګيا وو د واده بندوبست مو کاوه ... شايد درته عجيب ښکاره شي خو زه دومره خپل د مات زړه په غم کې نه وم هغه ورځ څومره چې د شموئيل په غم کې وم، هغه زموږ سره کړښه، زموږ يو مهم قانون کوم چې هغه خپل د لومړۍ ځل لپاره ټاکلې وو د پښو لاندې کړی وو ....

دا خبره سم د بم پشان په ټول قبايلو کی خپور شو چې شموئيل! کوم چا چی د انسانانو سره تګ راتګ بند کړی وو ...کوم چا چی يوه قبيله ټول د دی لپاره وژلې وه چې د انسانانو نږۍ ته تلل اوس خپل په يو انسان مئين شوی دی ...

که څه هم ورځ تر بلې دا خبرو د ټولو قبایلو ذهنونه خراب کول خو دا چې کلک دلیل يې نه درلود او له بلخوا د شموئیل په وړاندی د بغاوت جرئت يې نه درلود نو دا خبره زیاتر په پټ کیدل او چا په ښکاره توګه دا موضوع نشول راپورته کولای... خو دی منځ کې زما د قبیلي د خلکو ژوند د ټولو څخه ډېر په خطر کې وو ځکه زما قبیله د شموئیل د قبیلي پشان ځواکمن نه وه او هغه شپږ قبایل کوم چې د لومړۍ ځل لپاره يې زموږ سره اختلاف کړی و یو ځل بیا په پټه خپل کارونه شروع کړی وه او ځکه چې د شموئیل قبیلي ته يې زیان نشو رسولي نو خپل د کینې او خشم اور يې زما د قبیلي د کسانو په وژلو سوړ کاوه ...

دا کار دومره دوام وکړو چې هره ورځ به یا زما د قبیلي کوم کس وژل شوی وو یا هم د هغه قبیلو یو کس وژل کیدو کوم چې زموږ سره په اتحاد کې ولاړ وه او د هغه اوه قبایلو مخ کې جګړه کړې وه، کله چې دا حال خپل اخیری حد ته ورسېد نو زه مجبوره شوم

خپل د غرور څخه تېره شم او خپل د قوم او هغه بې ګناه پيريانو د ژغورلو لپاره کوم چې زموږ په اتحاد کې وه يوه شپه د شموئيل خوا ته لاړه شم ترڅو ورسره خبرې وکړم ... دا يوازې زما د ژوند خبره نه وه چې زه دې په ژړا او ماتم کې کښېنم چې څه دې؟ زما خاوند په يو چا مئين شوی ... دا زما د قبيلې او زما د خلکو د ژوند خبره وه نو ما خپل احساسات يو اړخ ته کېښودل او خپل د مسئوليت د ادا کولو په پار د شموئيل خوا ته لاړم ...

هلته په تګ خبره شوم چې شموئيل نشته او چيرته تللې .. خو چيرته تللې؟ په دې باندې هېڅوک نه وه خبر، زه همغلته په تمه شوم تر څو شموئيل راشې خو يو ساعت شو دوه، دوه شو درې خو د شموئيل د راتګ هېڅ څرک ونه لګېدو کله چې د هغه د راتلو څخه نامید شوم او د تلو اراده مې وکړل نو هلته د لومړۍ ځل لپاره مې عبدالرحمان وليد ...

د عبدالرحمان د نوم په اوریدو زما غوږونه ښه تېز شول تر څو واورم هغه د شموئیل سره اصل کې څنګه اړیکه لری؟ حوا هم لکه چې زما اندیښنه درک کړه چې په زیر یې راوکتل او ویې ویل: عبدالرحمان د شموئیل ورور دی خو یوازی د یو پلار څخه ...

- څه مطلب یوازی د یو پلار څخه؟

حوا- مطلب د عبدالرحمان او شموئیل پلار یو دی خو مور یې یوه نه ده، د شموئیل پلار د نور پیریانو پر خلاف چې یوازی یوه ښځه کوی هغه دوه ښځې کړې وه، د شموئیل مور د عفریت د نسل څخه یو ځواکمن پیرۍ وه خو د عبدالرحمان مور یو عادی او د بیحد لاندی قبیلي یو معمولي ښځه وه، که څه هم د پلار لخوا عبدالرحمان ته ډېر ځواک رسیدلې و خو دا چې مور یې دومره نسلې او کورنۍ ځواک نه درلود نو ځکه عبدالرحمان د شموئیل څخه تل ښکته په حساب راتلو ...

همدا چې راغلم فکر وکړم چې عبدالرحمان ما ته دروغ ویلې او د شموئیل سره د کینې او بغض له سبب یې ما ته هغه خبرې کړې، حوا زما خبره هملته ذهن کې راوچه کړل او ویې ویل: منم چې عبدالرحمان او شموئیل د یو مور څخه نه دی خو هغوی د یو پلار څخه دی او که وغواړم ستا تردید او شک لیرې کړم نو باید داسي ووایم چې عبدالرحمان بیخې د داسی کیني او حسادات خبرو کې نه دی که څه هم د شموئیل ماماخیلو غوښتل د شموئیل د پلار د مرګ وروسته خپل د خورې د مقام د ساتلو لپاره عبدالرحمان ووژني او د قوم مشرې یوازې شموئیل ته ورکړې، خو شموئیل داسی کار ونکړو .. شاید خپل هم پوهیږې چې موږ پیریان ستاسو انسانانو پر خلاف ډېر عمر کوو؟

سر مې د "هو" په ښه و خوځاوه چې هغې وویل: نو د شموئیل او زما څهرې ته مه ګوره چې ځوان ښکارو موږ د ډېر عمرونو یو، بلخصوص شموئیل .. هغه زما او حتا د عبدالرحمان څخه لا د ډېر عمر دی کله چې د

شموئیل پلار مړ شو نو د هغه د مرګ وروسته د شموئیل ماماخیلو غوښتل عبدالرحمان چې هغه وخت کې یو دوولس یا هم غالباً دیارلس کلن ماشوم وو د دی لپاره ووژني چې راتلونکي کې د شموئیل مشری ته کوم خطر پیښ نکړی، خو شموئیل عبدالرحمان خپل د ماماخیلو د فتنې څخه بچ کړو او هغه یې وژغورو او د عبدالرحمان ساتنه یې وکړل لکه څنګه چې یو پلار خپل د کوچني ماشوم ساتنه کوی ... هو به هو همغسي شموئیل د عبدالرحمان ساتنه وکړل نو ځکه شموئیل په عبدالرحمان تر دی حد ګران دی ...

هغه شپه ما د لومړۍ ځل لپاره د عبدالرحمان سره لیدنه وکړل هغه ډېر زموږ مینځ کې نه ګرځیدو زیاتر د یو سایي پشان وو، زموږ نړۍ کې عبدالرحمان ته د شموئیل سایه ویل کیږی ... ځکه چیرته چې شموئیل اوسیږی هلته د هغه شاته د سایي پشان تل عبدالرحمان ولاړ دی او یو دلیل چې نور پیریانو د شموئیل مخالفت نشو کولای هغه عبدالرحمان وو ..

عبدالرحمان په هېڅ هغه چا رحم نه کاوه کوم چې د شموئیل پر خلاف یې خبره کړی وایې .. خو هغه شپه د لومړۍ ځل لپاره ما عبدالرحمان ولید چې په شموئیل باندی غوسه وو ...

دومره غوسه چې حد یې نه درلود البته د هغه غوسه یوازی د اندیښني او وېرې غوسه وه، هغه وېرېده چې د شموئیل دا تازه مینه د هغه ژوند ته خطر پیښ کړی .. هغه شپه عبدالرحمان ما ته وویل چې هغه څومره کوښښ کړی چې شموئیل د هغه جنۍ ښځه منع کړې ترڅو زموږ قبایل او نور خلک د هغه پر خلاف نشې خو شموئیل د هغه یوه خبره هم نه وه منلې، د یو ساعت خبرو وروسته چې زیاتر د عبدالرحمان ګیله او شکایت وو د شموئیل ښځه او وېرېده هغه ته کوم زیان و نه رسیږی، بلاخره هغه ما ته د شموئیل د تلو ځای راوښود .. او زه هغه شپه پوه شوم چې هغه ټول خبری رښتیا دی کوم چې د شموئیل په اړه کیږی چې هغه په یو

جنۍ مئین شوی دی هغه هم عادی مینه نه .. شموئیل د هغې په مینه کی جنون ته رسیدلی وو ...

تر دی حد چې ورته مهم نه وه چې څو قبایل د هغه پر خلاف شوی او نږدی ده یو بل بغاوت راپورته شی، لومړۍ مې اراده وکړل چې هغه جنۍ ووژنم ترڅو د دی ټولو مصیبتونه څخه خلاصه شم خو عبدالرحمان د دی کار څخه منع کړم، هغه که څه هم د شموئیل دی کارونو ته سخت غوسه وو خو په شرمنده لهجه یې ماته وویل: چې شموئیل په دی جنۍ مئین دی او که کوم څه ورباندی وشي هغه لیونۍ کیږی ... هغه زما څخه غوښتنه وکړل چې د خبرو له لارۍ شموئیل قانع کړم، سخت وه د شموئیل داسي لیدل خو ودرېدم او صبر مې وکړو کله چې د سهار اذانو غږ پورته شو شموئیل بیرته زموږ نږۍ ته راغلو او د راتلو سره سم لومړۍ کس زه وم چې مخه مې ورڅخه ونیول ...

دومره د هغه ښځه مې زړه مات شوی وو چې حد يې نه درلود، خو د دی باوجود ما منلې وه چې شموئيل مې له لاسه ورکړې او بهتره به دا وی چې خپل د قبيلې غم وکړم نو ځکه په بيحد کلک لهجه مې خپل وړانديز ورته بيان کړو ...
حوا په زير نظر زما خواته راوکتل او په داسی لهجه لکه چې مخ ته يې د ربنتيا هم شموئيل ولاړ دی ويې ويل: ورته ومې ويل ته نور د مشری لياقت نلری ستا د هوس ښځه ډکې مينې زموږ د قبايلو تر منځ يو ځل بيا د اختلاف اور راپورته کړی نو بهتره به دا وی چې ته خپل مينې ته ورسيږې او د قوم مشری عبدالرحمان ته ورکړې او نه يوازی د قوم مشری بلکې ما ته هم طلاق راکړه ترڅو زه د عبدالرحمان سره واده وکړم او خپل قوم د هلاکت له کندۍ ښځه وژغورم ...

فکر مې کاوه زما د خبرو وروسته به شموئيل په ډېر خوشحالي زما وړانديز ومني، خو هغه يوازی په کامل چوپتيا کې راکتل د هغه داسي چوپ نظر زما د غوسي

اور نور هم تېز کړو او نه پوهیږم تر کوم حد به مې بیځایه خبری ورته کړی وی خو کله چې زه چوپه شوم نو هغه یوازی څو لفظ وویل خو داسي الفاظ یې وویل چې زما خوله یې رابنده کړل ...

په کنجکاو نظر مې د هغې خواته کتل او بیحد ډېر تلوسه مې درلود چې پوه شم شموئیل ورته څه ویلي؟ خو حوا داسي په فکرونو کې غرقه وه لکه هغه ورځ ته چې تللي اوسیږی د څو شیبې چوپتیا وروسته یې کرار وویل: شموئیل په بیحد کرار لهجه وویل: لاړه شه او د واده تیاری ونیسه راروان هفته واده کوو ...

په راوتلو سترګو مې د حوا خوا ته کتل، زما د حیران نظر په لیدو هغې هم راوکتل او ویې ویل: زه هغه وخت ستا څخه لا ډېر حیرانه شوم، خو شموئیل دا خبره وکړل او روان شو خو د تلو مخکې یو ځل بیا زما خواته را وکتل او ویې ویل: او هوو د عبدالرحمان د

مشرتوب خبره دی له ذهن وباسه زه نغوارم په هغه کوم څه وشي ...

هغه یوازی دوه خبری وکړل ... یوازی او یوازی دوه ... خو داسي خبری چې زه یې په ساعتونو فکر کولو ته اړ ویستلم .. شموئیل په دوه خبرو کې زه په دی پوه کړم چې د عبدالرحمان د مشرتوبي خبره هېڅ فایده نلری ځکه ټول قبایل شموئیل او د هغه د کورنۍ د نوم څخه وېرېدل او د عبدالرحمان په مشرتوب هیڅوک نه راضي کیږی او که د هغه د مشرتوبي خبره پورته کړم نو یوازی به عبدالرحمان د مرګ خولې ته ټیله کړم او بس ...

او بل خبره چې بیحد زما فکر یې خراب کړو هغه وو د واده خبره! زما زړه هېڅ نه منل چې د هغه سره دی واده وکړم ... ځکه پوهیدم چې هغه پر یو بل چا مئین دی نو ځکه په همغه یوه هفته کی بار،بار د هغه لیدو ته ورغلم تر څو هغه منع کړم د دی خبری څخه خو هغه

بغیر د کوم احساس څخه یوازی یوه خبره کول" هېڅ کوم مینه او عاشقي نشته او زه ستا سره واده کوم" دومره د هغه د دی خبرو څخه نامید شوم تر دی چی خپل د هغه جنۍ خواته ورغلم کوم چی شموئیل ورباندی مئین وو او هلته په تلو تازه د کیسی په سر او بر پوه شم .. هغه جنۍ یو بل انسان مطلب یو بل سړی ته ورکړی وه نو ځکه شموئیل ورڅخه لاس مینځلی وو..

د دی خبری په اوریدو نه پوهیږم ولې خو د شموئیل لپاره مې زړه وسوځید، شاید دلیل یې دا وو چې ما خپل د میني زور لیدلی وو ..!

حوا- د دی خبری د پوهیدو با وجود بیا هم زما زړه نه کیدو چې د شموئیل سره واده وکړم ...خو خپل د قوم لپاره یو ځل بیا مجبوره شوم دی واده ته غاړه کېږدم .. لومړۍ کلونو کې هر څه ښه وه شموئیل یو ځل بیا ټول قبایل متحد کړی وه او د هر بغاوت مخه نیول شوی وه

... تر دی چې خدای مورې ته یو لور راکړل د هغې په پیدا کیدو شموئیل په بیحد ډېر ټینګار زما څخه غوښتل چې نوم یې "فاطمه" کېږدم د هغه دا نوم بیحد خوښېده ...

"فاطمه" دا نوم مې بار،بار ذهن کې وګرځیدو او ناڅاپه ذهن کې مې هغه جادو راغلو ... هغه باندی لیکل شوی نوم هم "فاطمه" وه!

حوا- هغه وخت نه پوهیدم چې دا نوم ولې د شموئیل دومره خوښیږی؟ خو وروسته پوه شوم چې دا د هغه جنۍ نوم وو کوم چې شموئیل ورباندی مئین وو ...

د حیرت څخه په راوتلو سترګو مې د حوا خوا ته وکتل، زما په نظر د شموئیل دا کار ډېر لوی ظلم وو! د حوا د څهرۍ رنګ د غوسي څخه سور شوی و ...

حوا- کله چې پوهه شوم شموئیل خپل د معشوقي نوم زما په لور کیخودلې یو ځل بیا مې زړه مات شو ... د

هغه په دی کار پوهه شوم چې شموئیل د دومره کلونو وروسته هم هغه لیاده نه ده ویستلي او تر اوسه د هغې په فکر کېدي ... او دا څو کلونه یې هسی د دروغو تظاهر کاوه چی هر څه لیاده ویستلې د دی خبرو د پوهېدو وروسته دومره غوسه راغله چې یو ډېر غلط پریکړه مې وکړل ... شاید ما هغه وخت هغه کار ته سل سلنه صحیح ویل خو وروسته پوهه شوم چې کار مې څومره غلط وو ...

ما هغه وخت یوازی غوښتل د هغه کس نوم د شموئیل د ژوند څخه پاک کړم کوم چې زما ژوند یی ماته زهر ګرځولې ن ... و ... نو ...

حوا په شرمنده نظر زما خوا ته راوکتل، کله چې ما هم ورته وکتل نو هغې خپل نظر لاندی ځمکې ته ښخ کړو او په همغه د شرم څخه ډکه لهجه باندی وویل: ما د هغه جنۍ کوم چې شموئیل ورباندی مئین وو د هغې د اوسیدلو پته مې هغه پیریانو ته ورکړل کوم چې زمونږ

او بلخصوص د شموئیل سر سخت مخالفین او دښمنان وه ... م ... ما غوښتل د هغوي په واسطه هغه جنۍ ووژنم ... او ... او همداسي هم وشول هغه جنۍ ډېر ژر مړه شول ...

په افسوس نظر مې د حوا خوا ته وکتل باور مې نه راتلو چې د شموئیل د غلطي له سبب دی حوا یو بې ګناه انسان وژلې اوسیږی ... دی منځ کې زما په نظر بې ګناه ترینه کس همغه جنۍ وه څکه د ټولو خوا ناخبره وه ...

حوا په همغه شرمنده نظر زما خواته راوکتل او ویې ویل: م... ما تر کلونو فکر کاوه چې دا مرګ زما د خبر ورکولو له سبب شوی او ما یو بې ګناه جنۍ وژلې .. او دومره مې په دی خبرو ځانته عذاب ورکاوه چې حد یې نه درلود، خو وروسته خبره شوم چې هغه جنۍ د هغه پیریانو لخوا نه ده وژل شوی کوم چې ما هغوی ته خبر ورکړې و ... بلکی زما څخه مخکې د هغې د مړه

کولو لپاره د جادو په واسطه د یو بترینه قبیلې پیریان مکلف شوی وه ...

جادو ... پیریان ... د جنۍ نوم فاطمه ... زما ذهن کې دا خبری ګرځیدل او اوس تازه پوهیدم چې څه خبره ده؟ هغه جادو چې زما جیب کې عبدالرحمان کیخودلې وو هغه د همدې ښځې د مړه کیدلو لپاره شوی وو ... یعنې د شموئیل د معشوقي د مړه کیدلو لپاره خو ... خو دا خبری پر ما څه اړه لری؟

د حوا لړزیدونکې غږ د فکرونو له نړۍ راوویستلم: ز ...زه بخښنه غواړم ...
په ګنګس انداز مې د هغې خوا ته وکتل نه پوهیدم چې حوا په څه خاطر زما څخه بخښنه غواړې؟
غوښتل مې همدا خبره وکړم چې هغې د ژړا څخه په ډک سترګو وویل: ه ...هغه ښځه ستا مور وه طاها ...!
په ګنګس لهجه مې د شونډې لاندی وویل: څه؟
خو حوا بغیر له دی چې زما ګنګس حالت ته کوم پام

وکړی په همغه ژړا وویل: او ... او هغه کس چ.. چې پر هغ... هغې باندی د .. د مرګ جادو کړی و ه ..و هغه س ... ستا انا وه ...

بې اختیاره مې وخندل او ومې ویل: ت ... ته ضرور غلطه شوی یې، ځکه زما مور ژوندی ده! تا ضرور زه د کوم بل چا سره غلط نیولی یم؟

حوا رانږدې شوه خو زه تر اوسه د هغه د خبری په حیرت کې وم، هغې زما لاس ونیو د هغې په دی کار تازه په خود راغلم غوښتل مې یو ځل بیا انکار وکړم د هغې د خبری څخه خو هغې د خبرو اجازه رانکړل او داسي حال کې چې کوښښ یې کاوه خپل اوښکې تم کړې ویې ویل: زه پوهیږم چې د دې خبرو د اوریدلو توان نلرې خو باید یو ځل او د اخیر ځل لپاره دا خبری واوری او خپل پر ژوند پوه شې، ما کلونه مخکې غوښتل تا ته رښتیا ووایم خو شموئیل منع کړم، هغه غوښتل تا په بیخبری کې وساتي ترڅو په خوشحالۍ

کې خپل ژوند وکړي خو زما عقیده دا وه چې تاته باید رښتیا وویل شئ ځکه د دروغو په بنسټ جوړ شوی خوشحالۍ ډېر دوام نلری که مورې هغه وخت تاته رښتیا ویلی وایي شاید نن ته په دی حال کې نه وایې ...

- د ... د څه رښتیا؟ ز .. زه فکر کوم ت... تا زه د کوم چا سره غلط نیولې یم؟ ز...زما نوم ط...طاها دی ... محمد طاها ... او... او زما مور ژوندی ده ...

دا لفظ مې به بیحد عاجزی وویل او بیا مې خپل د درد څخه ډک نظر د حوا خوا ته ونیو په دی امید چې زما د زړه خبری او درد زما د سترګو څخه احساس کړې او انکار وکړې خپل د ویل شوی خبری څخه او ووایې چې "هو" ستا مور ژوندی ده او زه غلطه شوی یم، خو د هغې خاموشي او دردمند نظر زه د جنون تر حد رسولم دومره غوسه مې ناڅاپه په ټول بدن کې احساس کړه چې خپل لاسونه مې د هغې د لاسونو څخه جلا کړل او تقریبا په چغه باندی مې ورته وویل:

زه پوهېږم ته هم د شموئيل پشان ما ته دروغ وايې، بيا مو څه پلان جوړ کړې چې داسي خبرې ما ته کوی هـــا؟

دا اخری هـا مې بيحد په چغه وويل داسي چې خپل د ستونې سوځيدل مې احساس کړل او پوه شوم د ډېر چغي له لاسه مې ستونې زخمي شوی، زما د بد حال په ليدو حوا د ژبي لاندی د يو څه ويل شروع کړل نه پوهېدم چې څه وايې؟ خو کرار،کرار مې بدن زما د کنټرول څخه ووت او بی اختياره خپل په پخواني ځاې کې کرار کښيناستم، غوښتل مې څه ووايم خو فکر مې کاوه ژبه مې خوله کې نشم خوځولې او بيحد درنه شوی!

په حيران نظر مې د هغې خواته وکتل زما د نظر په ليدو هغې څو ژوری ساه ګاني واخيستل او بيا يې په کرار وويل: زه بخښنه غواړم چې داسي کار درسره کوم خو زه مجبور يم، زه بايد تاته ټول حقيقت خپل ووايم

د دی څخه وراندي چې کوم بل پیری زموږ څخه د غچ اخیستلو په پار تا ته نږدی شې او بیځایه اپلاتي ووایې.

بیا یې زما د اوښکو او عاجزی څخه ډک نظر ته راوکتل او ویې ویل: اوس د شموئیل د منع کولو په دلیل پوهېږم هغه پوهېدی چې ته څومره احساساتي یې ځکه د دروغ ویلو له لارۍ یې ته ختا ویستلې وی تر څو د تل پشان په ناخبری کې خپل ژوند وکړې خو زه د هغه پشان نه یم ...

مخامخ زما سترګو ته یې راوکتل نظر یې دومره د هیبت او وحشت څخه ډک وو چې زما زړه یې لا ولړزو غوښتل مې خپل سترګي پټي کړم خو نه مې شو کولای .. خپل د دی حال په لیدو مې ژړا راغله او یوازیني شئ چې هغې ونشو کړې د هغې مخه ونیسي همدا اوښکې وه کله چې یو څاڅکي اوښکې مې له سترګو له کونج په مخ وبهیدی حوا رانږدی شوه خپل

په لاس يې زما څاڅکي اوښکه د مخ څخه پاکه کړه او وېې ويل: شايد باور ونکړې که درته ووايم ته پر ما باندی د شموئيل څخه لا ډېر ګران يې .. هغه تا ته خپل د معشوقي د زوی په نظر ګوری او وايې دا زما زوی دی ... خو .. خو ما تاته شيدی درکړی ...

په تلوار مې سر راپورته کړو او د هغې خوا ته مې وکتل باور مې نه راتلو په هغه خبره چې هغې کړی وی، زما د حيرت ناکه نظر په ليدو هغې پوسخند و واهه او داسي حال کې چې زما ويښتيان يې د تندی څخه پورته خواته اړول وېې ويل: ما درته لومړی کې هم وويل چې دا خبری د ډېر پخوا څخه خراب شوی او ستا راتګ يوازی هغه جنجالونه لا پسي پيچلې کړل(ژوره ساه يې واخيسته او دا ځل بغير له دی چې زما خواته وګوری وېې ويل: پوهېږم زما د خبرو د کولو وروسته شايد زمونږ د ټولو څخه دی کرکه راشئ خو باور وکړه طاها ... ته تل زما او د شموئيل لپاره ګران يې دا خبره هېڅکله له ذهن څخه مه باسه ...

بغیر د څه ویلو ورته زیر وم، نور د مخالفت او انکار توان مې په ځان کې نه لیدو یوازی غوښتل مې واورم چې زما د ژوند بربادی تر کوم حد ده؟ حوا چې هم زما خاموش نظر ولېد لږ لیری شوه او د هغې د لیری کیدلو سره سم احساس مې وکړو خپل لاسونه او بدن خوځولې شم او ژبه مې هم خوله کې خوځی خو بیا هم ما نه کوم حرکت وکړو او نه مې هم کوم څه وویل، زما داسی چوپتیا حوا ته جرئت  ورکړو ترڅو خپل خبرو ته دوام ورکړي

حوا- شموئیل د ډېر پخوا څخه ضیالحق پیژندو نه پوهېږم په څه ډول او څه دلیل؟ خو یو بل یې پیژندل او په همدی تګ راتګ کې شموئیل ...

حوا زما سترګو ته راوکتل ترڅو زما حالت وګوری چې د ضیالحق د نوم په اوریدو زه څه ریکشن ښایم؟ خو ما یوازی دوه سترګي ورته نیولې وه بغیر د کوم څه ویلو، زه پرون شپه پوه شوی وم چې شموئیل او استاذ

یو بل د پخوا څخه پیژنی خو نه پوهیدم چې څنګه او په څه بول؟

حوا- فـ... فاطمه د ضیالحق خور ده ...

ذهن کې مې بار،بار دا لفظ تکرار کېدو" فاطمه د ضیالحق خور ده"فاطمه د ضیالحق خور ده"فاطمه د ضیالحق خور ده" فاطمه ... کوم چا باندی چې شموئیل مئین وو هغه اصل کې د ضیالحق خور وه ..! مغز مې یو دم جام و درېد او نه مې شو کولای الفاظ او خبری صحیح درک کړم خو د حوا په خبره تازه مې ذهن کار پیل کړو.

حوا- شموئیل په فاطمي مئین وو خوا دا ناممکن مینه وه ځکه فاطمه هېڅکله د هغه نشول کیدلې، خو شموئیل بیا هم امید درلود تر دی چې س...ستا پلار په فاطمي مئین شو او هغه یې د ځان لپاره وغوښتل، هغه وخت چې ستا پلار د فاطمې سره واده وکړو هغه وخت ستا پلار یو بل ښځه هم درلود او حتا د هغه

ښځې څخه یې یو اولاد هم درلود .... ستا خور طیبه هغه وخت پیدا شوی وه ...

فکر مې کاوه یو عجیب غریب خوب کې ګیر پاتي یم، فکر مې کاوه دا ټول خبرې او کیسي هسې یو خوب دی او اوس به یو نفر مې وخوځوی او راته به ووایې پاسه خوب دی لیدو، خو د زړه درد مې او پر مخ مې را رواني اوښکې دا راته په ډاګه کول چې دا رښتیا دی نه کوم خوب، خو د دی باوجود بیا هم باور مې نشو کولای خو حوا همغسې لګیا وه بغیر له دی چې زما حالت ته وګوری خبری کول او زه یې وار تر واره د تباهي او بدبختي کندۍ ته غورځولم.

حوا- د ضیالحق پلار هغه وخت ژوندی وو او فاطمه هغه ستا پلار ته ورکړل ضیالحق د دی کار پر خلاف وو، هغه نه غوښتل خپل خور پر بنه هغه هم هغه سړی ته ورکړی کوم چې یو ماشوم لری خو د قسمت خبره باید ورته ووایو چې داسې یو کار وشو خو ستا د پلار

کورنۍ فاطمه او ستا د پلار دا دویم واده نه و خوښ، شاید د هغه غټ ترینه لامل دا وو چې ستا پلار د فاطمې په مینه کې دومره غرق شوی وو چې تقریبا خپل ټول خپل او خپلوان یې خوشې کړې وه او د ضیالحق او د هغه د کورنۍ سره اوسیدل یې شروع کړې وه.

دا کار ستا د پلار په ټول کورنۍ بد ولګیده خو د ټولو څخه زیات ستا پر انا ..! ځکه ستا د پلار لومړۍ ښځه کوم چې ته ورته مور وایې هغه ستا د انا خپل راتلل نو ځکه هغې نه غوښتل ستا پلار دی د هغې حق کې داسي بې وفای وکړی، همدا دلیل وو چې ستا انا لومړۍ تعویذات شروع کړل تر څو ستا د پلار زړه د فاطمي څخه تور کړې او د لومړۍ ښځې خوا ته یې راوړی خو کله چې تعویذاتو کوم ګټه ونه رسول نو خپل د ورور خواته لاړل د مرستي غوښتل په پار، د هغې ورور په ظاهر مولا وو خو اصل کې یو کوډګر وو ...

ستا انا د هغه ښځه وغوښتل چې داسي جادو دی پر فاطمي وکړې چې هغه مړه شې او ستا پلار بیرته کور ته راشې، ستا انا فکر کاوه د فاطمي ورور مطلب ضیالحق چې هغه وخت کې د مولي توب درسونه یې ویل ستا پر پلار تعویذونه کړی او خپل خور یې د تعویذونو په زور هغه ته ورکړی..! په هر حال د هغوي جادو کار وکړو او ستا د پیدایښت پر وخت هغه خبیث پیریان کوم چې د جادو له سبب د فاطمي پسي شوی وه فاطمه یې مړه کړل او لاړل خو ستا د مور مرګ دومره ستا د پلار په روحي باندی غلط تاثیر کړی وو چې هغه فکر کاوه ته د هغې د مرګ سبب یې هغه نه تر اویه نه دی خبر چې د فاطمي د مرګ اصلي سبب د هغه خپل مور ده او نه ته ...

د هغه دا غلط فکر د دی سبب شو چې تل یې ستا ښځه بد راتلل او حتا د فاطمي د مرګ وروسته یې ته د ضیالحق د کورنۍ سره پریخودلې او خپل د فاطمي د مرګ په ماتم کې کښیناست خو ضیالحق ډېر کوښښ

وکړو چې تا وساتي خو ته د دوه ورځو ماشوم وې او یو مور ته دې ارتیا درلود تر څو ستا ساتنه وکړې،خو هغه وخت ضیالحق تازه واده کړې وو د هغې ښځې ماشوم نه درلود چې وغواړې تا ته د هغه ماشوم سره یوځای شیدې درکړې نو ځکه یوه هفته یې ته په ډېر سختي د اوزې، غوا او نور حیواناتو په شیدو وساتلي خو هغه شیدې د یو تازه پیدا شوې ماشوم لپاره ښه نه وه او ورځ تر بلې ته مریض کیدلې شموئیل ستا دا حالت ونشو زغملې او ته یې ماته راوړلې او ما تر درې هفتو ته وساتلې او تاته مې شیدې درکړل بغیر له دې چې کوم څوک خبر شي ...

خو مورې دا کار د تل لپاره نشو کولای نو یو ورځ نه پوهېږم شموئیل په څه طریقي خو ستا پلرنې نیکه چې ډېر یو ښه انسان وو د ضیالحق تر کوره راوستو ستا په لیدو د هغه زړه پر تا وسوځید او ته یې د ضیالحق له کور څخه خپل کور ته بوتلې ستا انا چې کله ته ولیدلې نو هلته تازه پوه شوه چې ستا حق کې

ځومره بد کړې،هغې ستا مور وژلې وه او د هغه بد کار عذب وجدان دومره ونیول چې خپل د ګناه د معاف کولو لپاره یې تا ته شیدی درکړل او ته یې خپل د زوی ذوالفقار سره یو ځای غټ کړې.

خو ستا پلار لا هم همغسی لیونۍ وو او که څه هم فاطمه مړه شوی وه خو بیا هم هغه ټول ورځ به د هغې د قبر سره وو او شپه به هم هغه کور ته تلو کوم چې د فاطمې لپاره یې اخیستې وو، ستا پلار د رښتیا پر فاطمې مئین وو یو لیونۍ عاشق .. د هغه حالت ورځ تر بلې مخ په خراب کیدو شو تر دې حد چې یو ځل بیا ستا انا خپل د ورور مرستې ته مجبوره شوه، خو دا د هغه اخری جادو وو! ځکه د هغه وروسته شموئیل دومره ستا د انا ورور و وواهه چې د جادو او تعویذ کولو څخه یې توبه وویستل.

البته شموئیل غوښتل د فاطمې د مرګ لپاره هغه مړ کړی خو مور په ډېر ستونزه هغه منع کړو خو شموئیل

زړه نه يخ کيدو او خپل د غچ اخيستلو لپاره د هغه پيريانو پسی لاړو کوم چې د جادو د عملې کولو لپاره يې فاطمه وژلی وه شموئيل هغه ټول پيريان ووژل بغير له يو دانه ښځه چې ورښخه وتښتيدو، کوم چې زما په نظر هغه بل پرون د عبدالرحمان لخوا و وژل شوو!

په هر حال ستا د انا دا جادو هم ښه کار وکړو او ستا پلار يې يو ځل بيا خپل د کورنۍ او ماشومانو خوا ته راوړو که څه هم ستا پلار ته د فاطمي د مرګ لامل ګڼلي او ستا ښځه يې بد راتلل خو بيا هم ته د هغه زوی وی او دا هغه نسبت وو چی تاسو يې يو د بل سره وصل کولای کله چې ستا نيکه او د هغه وروسته ستا انا مړه شول نو تا خپل د پلار سره ژوند پيل کړو او شايد ستا پلار هم غوښتل تا ته يو بل شانس درکړی چې د فاطمي نوم يې يو دم ستا او خپل د ژوند څخه بهر کړو او ته يې ټولو ته خپل د لومړۍ ښځې ماشوم معرفی کړی ...

البته ستا نږدی خپلوان لکه ماما خیل او کاکا خیل په دی راز خبر وه خو هغوی هم لکه چې نه غوښتل ستا د پلار ژوند یو ځل بیا خراب کړی نو ځکه هیڅکله هیچا تا ته ونه ویل چی ستا اصلي مور څوک ده؟په هر حال کله چې ما او شموئیل ستا ژوند لږ سر او سامان ولید او ستا لخوا مو خیال بیغم شو نو بیرته خپل عادی حالت ته راوګرځېدو خو بدبختانه چی زموږ او ستا د خوشحالۍ دور ډېر لږ وو او یو ځل بیا یو نوی او نه حل کیدونکې مصیبت زموږ په سر نازل شو.

ما بغیر د څه ویلو یا څه کولو غوږ نیولې وو، خپل وجود کې مې د هېڅ کار او خبری کولو انرژی نه احساس کول یوازی غوښتل مې ژر تر ژره حوا خپل خبری وکړی او لاړه شي ... غوښتل مې په یوازی ځان په ساعتونو،ساعتونو یو خاموش ځاي کې کښینم او فکر وکړم ... فکر وکړم او فکر وکړم ...

حوا په شرمنده نظر راوکتل او ویې ویل: شاید دا زموږ غلطي اوسیږی خو باور وکړه طاها نه زه او نه هم شموئیل خبر وو چې زموږ یو معمولي کار به ستا راتلونکي ته نه جبران کیدونکې زیان ورسوی، که خبر واې نو هېڅکله به مو دا کار نه وایې کړي، مـ ..ما ... درته وویل کنه چې ما تا ته د درې هفتو لپاره شیدې درکړل ځکه څوک نه وه او ته ورځ تر بلې مریض کیدلې نو شموئیل ته ما ته راوړی او... او ما د ښه زړه او د ښه نیت څخه تا ته شیدې درکړل خو ..خو خبره نه وم چې د انسانانو او پیریانو هر ډول تعامل او نږدی والې د یو لوی بربادی سبب کیدلې شي ...

حوا ژوره ساه واخیسته او بیا داسي حال کې چې زما بې توجه نظر ته یې راکتل ویې ویل: څو کال مخکې یو ورځ یو پیرې نه پوهیږم په څه ډول خو ستا څخه یې زما بوی احساس کړی وو ... موږ تر هغه وخت نه وو خبر چې یو انسان ته د شیدو په ورکول سره زموږ د بدن ځینې خاصیتونه او بلخصوص زموږ بوی هغه

انسان ته ځی ... موږ په ناپوهې کې دا غلطي وکړل او همدا کار هم ستا د ژوند د بربادی سبب شو او هم زموږ ...هغه پیری ستا د وجود څخه زما بوی احساس کړي وو، او لومړۍ فکر چې ذهن ته یې راغلې وو هغه دا وو چې ته زما زوی یې ...

او دا د هغوي لپاره عجیب او عین حال کې د نه منلو خبره وه، تر دی حد چې هغوی دا موضوع د شکایت په توګه د شموئیل پر خلاف راپورته کړل، هغه ورځې زما د ژوند بدترینه ورځې وی زما خلکو ما ته په بد نظر راکتل د هغوی په نظر زه مجرمه وم او باید سزا مې لیدلې وایې خو شموئیل په کلک زما څخه دفاع وکړل او مجبور شو واقعیت بیان کړي البته واقعیت یې د راز په توګه یوازی د قبایلو مشرانو ته بیان کړو او د هغه ټولو څخه یې وعده واخیستل چې دا خبره به د تل لپاره همدلته پای ته رسوی که څه هم زموږ کار غلط وو خو چا د شموئیل په وړاندی د دریدلو توان نه درلود نو

ځکه د دی موضوع څخه تېر شول او تر یو څو وخته حالت ښه وو ...

تر دی چې زموږ مخالفینو ته دا خبر ورسید، دا خبر هغوي ته ډېر جالب وه د یو انسان څخه د یو پیری بوی ځي! هغه هم د کوم عادی پیری نه ... بلکې د هغه پیری چې د شموئیل میرمن په حساب راځې! دا خبره دومره هغوی ته جالب وه چې ستا خوا ته راتګ یې پیل کړو لومړۍ کې یوازی ستا د لیدو پخاطر او د دی لپاره چې پوه شي ایا دا خبره رښتیا ده او کنه؟ تل راتلل خو کرار،کرار دا تګ راتګ په مضریت او پعذابولو بدل شو او شموئیل مجبور شو یو کلک قانون وټاکي او د هغه قانون پر اساس تاته نږدی راتلل د ټول پیریانو لپاره منع کړی تر څو تا ته کوم زیان و نه رسیږی ...

شموئیل خپل د دی قانون د ټاکلو دلیل د قبایلو مشرانو ته دا راوړو چې ته یو انسان یې شاید د یو پیری بوی ولری خو د نسل څخه ته انسان یې او زموږ قانون کې

انسانانو ته نږدې ورتګ او هغوی پعذابول منع دی دا قانون تر یو حد د عام پیریانو د کنټرول کولو لپاره بسنه وکړل او تر یو حد یې ستا ساتنه هم وکړل خو دا قانون یو لوی مصیبت هم رامنځ ته کړو، شموئیل د دی قانون په ټاکلو په ښکاره توګه ستا څخه ساتنه وکړل او پیریانو ته یې وښودل چې ته د هغه لپاره ارزښتناکه یې چې داسې قانون ستا لپاره ټاکې او همدا دلیل زمونږ د دښمنانو لپاره کافې و چې ستا خواته یې فکر شې او تاته تکلیف در ورسوی ...

هغوی په یو کال کې څو ځله ستا په سر شموئیل ته ګواښونه وکړل تر دی حد چې شموئیل و وېرېدې چی د رښتیا هغوی تاته کوم زیان ونه ورسوی نو مجبور شو ستا د ساتنې لپاره په پټه د هغوی مقابله وکړې او دا هغه کار وو چې هغوی غوښت، هغوی تاته په ګواښ کولو شموئیل خپل د لوبې میدان ته را داخل کړو، د لومړۍ څخه هم د هغوی اراده ستا د وژلو نه وه هغوی یوازی غوښتل ستا په ګواښولو او پعذاب کولو

باندی شموئیل اصل میدان ته راکش کړی او شموئیل هم بغیر له دی چی خپل د کارونو پای ته فکر وکړی یوازی ستا څخه د ساتني لپاره د هغوی د لوبي میدان ته داخل شو ...

تر یو، یو نیم کال دا کشمکش او ډب و اخ یوازی ستاسو ترمنځ او د پردی تر شاه تر سره کیدو، خو هغوی په دی نه وه راضي هغوی غوښتل شموئیل د تل لپاره د میدان څخه وباسې او دا بهانه شموئیل خپل د هغوی لاس ته ورکړل ... کله چې شموئیل ستا لپاره مجبور شو جنرال ووژني ... د جنرال مرګ د شموئیل د ښمنانو لاس ته یو کلک بهانه ورکړل دومره کلک بهانه چې د لومړۍ ځل لپاره شموئیل د ټولو پیریانو مخکې محکمه شو هغه د یو انسان د ژغورنې لپاره بل انسان وژلې وو هغه زموږ د نړۍ قانون کوم چی ده خپل ټاکلې وو د پښو لاندی کړی وو..

زموږ پر خلاف چې کوم پیریان وه هغوی غوښتل د دی حالت څخه پوره ګټه پورته کړې او شموئیل د قبایلو د مشری څخه لیری کړی،خو هغه ورځ یو ځل بیا د شموئیل قبیلي د هغه ملاتړ وکړو او هر سرکښ او بغای پیری ته یې د هغه حد ور وښود، او ټول یې رخصت کړل خو ...خو د قبایلې محکمې د خلاصیدو وروسته د شموئیل د کورنۍ مشرانو شموئیل دا ځل خپل محکمه کړو هغوی نه غوښتل شموئیل دی د یو انسان په سر دومره لوی جنجال ځانته جوړ کړی،نو ځکه هغوي د شموئیل څخه وعده واخیستل چې نور به هېڅکله ستا لیدو ته نه درځې ..

شموئیل دا خبره خو په ظاهره ومنل البته تر څو کالو څه ناڅه خپل په وعدی هم ولاړ وو او ستا خواته نه درتلو خو پر تا باندی فکر وو او نور پیریان یې ستا د ساتنې لپاره ګمارلې وه، خو د څو کلونو وروسته شموئیل ګمان وکړو چې خبره تېره شوه او هېره شوه نو ځکه یو ځل بیا ستا لیدو ته درغلو خو دا د شموئیل

ډېر لویه غلطي وه، ځکه زموږ دښمن پیریان همدغه ورځ ته په انتظار ولاړ وه کله چې شموئیل ستا خوا ته درغلو هغوی پوهه شول چې ته د شموئیل لپاره ډېر مهم کس یې چې هغه د دومره خبرو، ګواښونو او ستونزو باوجود ستا لیدو ته درځي نو ځکه دا ځل د هغوی رحم نه پر تا وو او نه هم پر شموئیل ...

هغوی پوه شوی وه چې د بهانو پر راوړلو هېڅکله نشي کولای شموئیل د مشری څخه لیری کړی نو ځکه هغوی غوښتل دا ځل شموئیل ووژنی او د شموئیل وژل د پیریانو نړۍ کی امکان نه درلود نو هغوی مجبوره وه شموئیل د انسانانو نړۍ ته راکش کړی، ځکه د انسانانو په نړۍ کې د شموئیل ملاتړ کوونکې هېڅ کوم پیری نه وو او که دلته یې شموئیل وژلې وایې نو هیچا به نه د شموئیل ملاتړ کړی وایې او نه به یې هم دویته څه ویلې وایې خو شموئیل د انسانانو نړۍ ته راغوښتل آسانه نه وه او یوازینې لاره چې دوی کولای شول د هغه په طریقه شموئیل راوغواړی هغه ستا پعذابول وه

... نو ځکه هغوی داسي په بد ډول ستا پسې شول تر څو ستا له لارې شموئیل په لومه کې واچوي.

عبدالرحمان د دې ټول موضوع او پلان څخه خبر دی نو ځکه داسي د شموئیل لپاره اندیښمن دی او تا ته یې هغه خبرې کړې، که څه هم کار یې صحیح نه وو خو بیا هم ملامت نه دی، ځکه شموئیل د هغه ټول هستې او نیستې ده هغه نغواړې کوم کس دې شموئیل ته زیان ورسوی عبدالرحمان یو ډېر ښه پلان لری داسي چې هم تا او هم شموئیل د دې مصیبت څخه ژغورلې شې او زه فکر کوم هغه پلان به د ټولو لپاره ښه وی او موږ باید هغه پلې کړو خو ... خو شموئیل د هغه پلان سره نه دی موافق ...

حوا یو څه نور خبرې هم وکړل خو ما وا نه ورېدل، که رښتیا ووایم تر همدا اوس هم د حوا د نیم خبرو په مطلب مې اصلاً سر نشو خلاص، چې څه یې ووېل او څه نه؟ سر مې راباندی دروند وو او د هغې خبرې مې

یو تر میان اوریدل فکر مې کاوه یو څوک مې په سر کې میخونه ټکوی داسی نه زغمونکې درد مې احساس کاوه، خپل سر مې په دواړه لاسونو کې ونیو او په هغه هوار شوی خیرن فرش باندی څملیدم، زما په دی کار حوا لړ رانږدی شوه زما د سر ویښتیانو کی لاس وواهه او بیا یی زما تندی ښکل کړو او کرار یې وویل:

حوا- کرار ویده شه هېڅوک د دی وروسته تاته زیان نشی در رسولې ته نه یوازی شموئیل لپاره مهم یی بلکی زما زوی یې او زه هیچا ته دا اجازه نه ورکوم چی زما زوی ته دی کوم زیان ورسوی زه شاید د دی نړۍ د انسانانو مخکې ستا څخه دفاع ونشم کړی خو خپل د خلکو مخکی ستا څخه ملاتړ کولای شم زه هغوی ته اجازه نه ورکوم د دی څخه دی زیات تاته تاوان در ورسوی وخت یی راغلې خپل د کلونو د غلطی جبران وکړم ...

نور مې څه وا نه وریدل او سترګي مې پټي شوی ...

نه پوهېږم څومره به ویده وم البته باید ووایم چې بې هوښ او بې خود وم چې د یو چا د پښو د تلو راتلو په غږ مې سترګې خلاصي کړه هوا تقریبا تیاره وه د دهلیز مینځ کې یو سایه پشان شئ مې لید خو سم نه پوهیدم چې څوک دی؟ یا څه دی؟ دومره مې سر درد کاوه چې اصلاً خپل د موقعیت د درک کولو نه وم څو شیبې وروسته کله چې لږ مې عصاب ځای ته راغلل نو د حوا خبری مې یاد ته راغلل، نه پوهیدم ایا حوا ویل ورته صحیح دی یا ښاپیری ورته ووایم، یا د شموئیل میرمن؟ یا ... یا زما دایه چا چې درې هفتې ماته شیدې راکړې ورته ووایم؟

د هغې یو،یو خبره مې ذهن ته راغلل او د هر خبری په یاد راوړلو مې ذهن دومره خراب کړو چې خپل سر مې په دوه لاسونو کې کلک ونیو او زړه مې غوښت د زړه له تل چغه کړم چې د شموئیل اندیښمن اواز مې تر غوږ شو.

شموئیل- طاها ...! ښه یې؟

د هغه په غږ مې په تلوار سر پورته کړو او ور ومې کتل هېڅ احساس مې د هغه وړاندی نه درلود نه وربااندی غوسه وم او نه مې هم ورځخه بد راتلل، زما د بی حس نظر په لیدو هغه رانږدی شو زما ومخ ته په ځمکه باندی کښیناست او په کرار لهجه یې وویل: هر څه سمیږی زه درته وعده درکوم، د دی وروسته هېڅوک به تاته کوم زیان ونه رسوی ته یوازی ښه شه ...

په نیولې غږ چې د ستوني د درد او ډېر چغې وهلو له سبب وه ومې ویل: ته څه فکر کوی؟
شموئیل- د څه په اړه؟
- ز.. زما د حال په اړه؟ ای... ایا ته فکر کوی زه به د دی وروسته ښه شم؟

شموئیل بغیر د څه ویلو راوکتل د هغه داسي چوپتیا زما غوسه راوړل د هغه چوپتیا داسې وه لکه چې زما په زخمونو مالګه شیندی، د هغه چوپتیا زما د غوسي

اور ته د تيلو شيندلو پشان وه دومره مې غوسه زياته شوه چې بغير له دی چې خپل د ستونې درد ته کوم توجه وکړم په چغو باندی مې ورته وويل: ته فکر کوی د دی وروسته زه بيغم ژوند کولای شم هـــا؟ د دی خبری د پوهيدلو وروسته چې پلار مې دا دومره کلونه د دی لپاره زما څخه بد راتلل او زه يې لځان څخه شرلم ځکه چې هغه فکر کاوه زه د هغې د ... د معشوقي قاتل يم ... ی... يا دا چې هغه ښځې ته چې ما ټول عمر مور ويل ادی ويل ه.. هغه اصل کې زما ميره ده...!

يا ... يا دا چې هغه ښځې ته چې ما د ميني او شفقت نمونه ويل انا ... مې ويل هغه اصل کې زما د مور قاتله ده ... هغې زما د مور د مړه کولو لپاره جادو کړی وو يا ... يا دا چې هغه کس چې زه يې جنازی ته تللې وم او ... او خفه وم چې ... چې م.. ماما مې مړ شوی ...ه ... هغه د خدای ناخبر زما د مور اصل قاتل وو ... يا ...يا ..

نفس مې بند شو او د پوزې څخه مې وينه په رابهيدو شوه شموئيل په ورخطاى کوښښ وکړو چې ما د خبرو کولو څخه منع کړی خو ما خپل لاس راپورته کړو او هغه مې د ځان لرې کړو او په همغه غوسه مې وويل: ی... يا دا چې ه.. هغه کس چې ما ورته استاذ ويل ... ما ورته د يو پلار په نظر کتل .. ه ... هغه دا دومره کلونو کې ما ته چل راکړی ا.. او داسې حال کې چې زما ماما وو .. خو ماته يې داسي ښودل لکه چې ما بيخې له سر پيژنی هم نه ... يا ... يا دا چې ت ... ته ..

د خبرې دی ځای کې خپل سر مې په لاسونو کې ونيو او د ليونيانو پشان مې د ځان سره وويل: ی... يا دا چې کوم نفر ته .. ته چې ما خپل د ژغورنکې،ملگري او دوست په نظر کتل او د هغه په نوم باندې ما خپل د ... د زوی نوم کيخودلې وو ه .. هغه اصل کې ز...زما د مړې شوی مور عاشق دی .....!

په دی خبره مې چغې لاپسي ډېر شول او ومې ويل:
څـــه سميږی شموئيل هـــا؟ څه سميږی؟ ته څه سم
کولای شې هـــا؟

د جنون او ليونتوب هغه حد ته رسېدلې وم چې نه
پوهيدلم څه کوم؟ يا څه وايم؟ دومره راباندی دا خبرو
بوچ کړی وو چې خپل د ځان وهل مې پيل کړل او
تقريبا په چغو او ژړا مې ويل: زه ولې د دی لعنتي
خوب څخه نه راويښ کيږم؟ يو څوک ما راويښ کړی
خير دی .. زه مړ کيږم خير دی يو څوک ما راويښ کړی
.... او ووايست چې دا هسی خوب دی ... خير دې ...
ما راويښ کړې د دی لعنتې خوب څخه ...

دا خبرې مې کول او خپل ځان مې واهه چې شموئيل
ناڅاپه په غوسه باندی زما دواړه لاسونه کلک ونيول او
په بيحد لوړ غږ داسې چې زه يې هک حيران کړم ويې
ويل: بس يې کړه طاها ... بس يې کړه ... زه منم چې
ما غلطي کړی ... زه تا درک کولای شم او پوهېږم چې

ته اوس فکر کوی ټولو تاته چل درکړی او ستا ژوند يې خراب کړې خو لږ منطقې فکر وکړه، لږ خپل ځان زما پر ځای هم کېږده و بيا فيصله وکړه يو جانبه قضاوت مکوه ته خپل هم مئين شوی يې او پوهيږی چې مينه د هيڅا لاس کې نه ده زه منم چې س... ستا په مور مئين وم.

خو ... خو دا د هغه وخت خبره وه چې ستا مور نه ده چا په نوم وه او نه هم واده شوی وه کله چې ستا پلار ته يې ورکړل نو ته درک کولای نشې کوم درد چې ما تېر کړو خو قسم درته اخلم چې ما هېڅکله هغې ته په بد نظر نه وه کتلې د هغې د ورکولو سره سم زه لاړم ... لاړم چې ليادە وباسم او ...او يو نوی ژوند پيل کړم خو .. خو ستا مور زه بيرته وغوښتلم ... هغې خپل شاوخوا بد پيښې احساس کړې وه نو ځکه د مرګ مخکې د لومړۍ ځل لپاره زما څخه يو غوښتنه وکړل او هغه وه ستا ساتنه ... او ما هم ستا د ساتني قسم واخيست خو ... خو بخښنه غوارم ..

ما ونشو کړی ستا څخه صحېح ساتنه وکړم، ما ونشو کړې خپل وعده پوره کړم خو قسم درته اخلم چې د نن څخه وروسته به هر څه سم کړم او ... او کله چې هر څه مې سم کړل د هغه وروسته به ستا د ژوند څخه داسی ورک شم چې زما نوم او نښان به نور هېڅکله خپل ژوند کې ونه وینې، یوازی ته ارام اوسیږه طاها ...خواهش درڅخه کوم آرام اوسیږه ...

د شموئیل په خبرو لږ آرام شوی وم یا باید داسې ووایم چې د هغه په خبرو ذهن کې مې یو نوی معما او پوښتنه را پیدا شوی وه، شموئیل وویل هغې زه راوغوښتلم؟ یعنې فاطمه ی...یعنې مطلب زما مور د شموئیل سره لیدنه کړی وه؟ یعنې هغې شموئیل لیدلې وو؟ خپل ځواب مې خپل ورکړو، هو نو ضرور به یې شموئیل لیدلی وو چې د مرګ مخکې د هغه څخه غوښتنه کړی وه.
شموئیل- هو ... هغې زه لیدلي وم ...

د شموئیل په دی خبره هک حیران مې د هغه خواته وکتل چې هغه خپل سر ښکته واچو او کرار یې وویل: م ... ما دوه ځل د هغې سره لیدنه کړې وه،لومړی ځل ه... هغه شپه باندې چې ستا پلار ورباندې مرکه وکړل ... ن ..نو ما ځان فاطمې ته ښکاره کړو او ورته ټول کیسه مې وکړل .. ش...شاید بیعقلتوب وو خو .. خو ما غوښتل د هغې ځواب واورم که څه هم پوهیدم چې دا یو ناممکن کار دی خو بیا هم غوښتل مې خپل زړه بیغم کړم او د اخیرې ځل لپاره هم که کیږی خپل د زړه خبره ومنم ...

په منتظر نظر مې ورته کتل په تمه وم چې واورم خو د شموئیل لپاره لکه چې د خبرو کول ډیر سخت وه چې ژوره ساه یې واخیسته او نور یې هم خپل سر ښکته کړو او ویې ویل: خو هغې زه رد کړم ... په بیحد بد حال ... او په ژړا یې راته وویل چې د هغې ښځه لیری لاړ شم ه ...هغه زما ښځه وېرېدلې وه ...لا... لاسونه یې لړزیدل او .. او ما ته یې قسمونه راکول

چې ورځخه لیرې لاړ شم ... هغه شپه ما قسم
واخیست چې نور به هیڅکله د هغې خواته نه ورځم
... خو ... خو لعنت دې وي زما په زړه چې بیا هم د
لیرې څخه د هغې ژوند ته مې کتل او د هغې دیدن ته
ورتلم نه پوهیږم څنګه خو هغې زما شتون احساس
کاوه ...

که څه هم ما ورځخه تل ځان پټ کاوه تر .. تر دې چې
ستا د پیدا کیدلو په اخیرې میاشت باندې یوه ورځ کله
چې هېڅوک ک ... کور کې نه وه او زه په پټه ولاړ وم
او هغې ته مې کتل هغه په خبرو راغله او ما ته یې
وویل: زه پوهیږم چ ... چې ته دلته یې ن... نو مخکې
راشه او مه پټ کیږه ... د هغې په دې خبره لومړۍ مې
باور ونشو چې زه یې لیدلې اوسیږم او ما ته دې دا
خبرې کړې وې خو کله چې هغې وویل: تا ته وایم
پیرې!

نو پوه شوم چې د رښتيا هم ما يادوی، نو مخکې لاړم د لومړۍ ځل لپاره هغه زما څخه ونه ډار شول او په نرمۍ راسره خبری وکړل، هغې زه د داسې پېټ کتلو څخه منع کړم او د هغه وروسته يې د لومړۍ ځل لپاره زما څخه يو غوښتنه وکړل ...
شموئيل سر راپورته کړم او زما خوا ته يې راوکتل او بيا يې په کرار وويل: که څه هم عجيب غوښتنه وه خو ته زما حالت نشې درک کولای طاها ..! کله چې د کلونو وروسته هغه کس چې ته ورباندی د ليونيانو پشان مئين يې ستا څخه يو شئ غواړی څنګه احساس لری!

ما هغه دقه لځان سره وويل که دا ټول دنيا که دا زما څخه وغواړی، نو زه به "نه" ورته ونه وايم خو ... خو هغې يوازی خپل د نس د ماشوم ... مطلب ستا د ساتنی قول راڅخه وغوښت ... که رښتيا ووايم هغه دقه زما هېڅ د هغې دا غوښتنه خوښه نشوه خو دا چې هغې د لومړۍ ځل لپاره يو شئ زما څخه غوښتی

و نو ما "نه" ونشو ویلې ... زه پوهیږم زما دا خبری ستا ذهن نور هم زما په اړه خراب کوی خو قسم پر خدای ستا د پیدایښت او د ستا د لیدلو وروسته ما تاته خپل د زوی په نظر کتل او تل مې غوښتل ستا څخه ساتنه وکړم که څه هم په صحیح توګه مې ونشو کړی خو وعده درکوم چې ډېر ژر به هر شئ سم شئ.

هغه خبری کول او کوښښ یې کاوه چې ما راضی کړی چې د هغه خبری ومنم خو ما یوازی غوښتل تنها اوسیږم غوښتل مې دا ځل په ساعتونو،ساعتونو یوازی کښینم او د شموئیل د نن خبری خپل ذهن کې وګرځوم راوګرځوم او پوه شم چې اخر څنګه داسی وشول؟ شموئیل هم لکه چې پوه شو چې زه څه غواړم ځکه ناڅاپه چوپ شو او زما د مخې څخه پاسید د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: یو ساعت نور هم وخت لری کښینه او خپل فکرونه وکړه د هغه وروسته کور ته دې لاړ شه ...

بغیر د څه ویلو مې وروکتل او ځان سره مې فکر وکړو چې ایا زه کور هم لرم؟ نه ما کور نه درلود ما د هغه سړی د لور سره واده کړی وو چې ما ته یې دا ځو کال دروغ ویلې وه،شاید اقرا هم د دی موضوع څخه خبره وه او خپل د پلار پشان تر اوسه یې ماته چل راکوه! دا فکر د جنون تر حد ورسولم دا چې هغه ښځه چې زه ورباندی مئین یم ما ته دی دروغ ویلې اوسیږی دا نو سم جهنم وو ...

شموئیل- بیځایه فکرونه مکوه طاها ..! ستا ښځه د دی خبرو څخه نه ده خبره.
شاید د شموئیل اراده د دلدارۍ راکولو وه خو ما ورته په طعنه وویل: څنګه د هغي سره دی هم لیدنه کړی چې خبر یی ورڅخه؟

شموئیل خپل غاښونه یو پر بل کیخودل او په تروش تندی وویل: خپل د بد حال څخه منندوي اوسیږه چې د هغه خاطر کوم او څه نه درته وایم کنه حق دی وو

په دی خبره دی سم جوړ ووهم ... زه ځم یو ساعت وروسته راځم او امید لرم تر هغه وخت تللې اوسیږی.

په غوسه او لیونتوب مې وویل: مه راځه ..نور هیڅکله خپل مخ ما ته مه ښکاره کوه ... نغواړم د دی وروسته دی وګورم همدومره چې زما ژوند دی برباد کړو همدومره بس دی ... لاړ شه او نور هېڅکله خپل مخ ما ته مه ښکاره کوه شموئیل ... هېڅکله هم نه ... زه نور نه ستا مرسته غواړم او نه هم کوم بل څه ... یوازی زما د ژوند څخه ورک شه ...

زما په هر خبره د شموئیل نظر زما په وړاندی مات کیدو تر دی حد چې یو دم سترګي تک تور شول او سپین یې لمینځه لاړه څو شیبې په چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته په بیحد یو نامید او کرار لهجه یې وویل: که ته داسې غواړی نو ... نو سمده ... زه ...نور هېڅکله ستا خواته نه درځم خو ها ... قول درکوم

خپل د نړۍ هېڅ پیری ته به هم اجازه ورنکړم چې د نن څخه وروسته تا ته دې کوم زیان درورسوی ...

د دی خبری د ویلو سره سم شموئیل زما د نظر څخه غیب شو ... د هغه د تلو سره سم زما اوښکي هم پر مخ راوبهیدل نه پوهیدم چې دا اوښکې د څه لپاره وه؟ زما د خراب شوی ژوند لپاره؟ یا دا چې شموئیل لاړو؟ خو هر څه چې وو فکر مې کاوه د سینې چپ طرف مې سوځیږی یو ساعت نور هم د مړ جسد پشان هملته څملیدم، بغیر د کوم فکر کولو یوازی پروت وم همدی منځ کې څو ځله مې موبایل ته زنګونه راغلل خو ما خپل حوصله لا نه درلود څه ورسیږی د موبایل ځواب ورکولو ...

نو بغیر د کوم ځواب ورکولو همغسې پورت وم حتا د فکر کولو حوصله مې لا نه درلود یوازی څملیدلې وم او د دهلیز د کړکۍ څخه مې بی هدف د حویلی خواته کتل، هوا پوره توګه تیاره شوی وه او د ماښام اذنونه

اوریدل کیدل خو زما بدن کې هېڅ حس نه وو، نه مې زړه غوښت د چا سره خبرې وکړم او نه مې هم زړه غوښت لځایه پاسیږم او کوم کار وکړم، یوازې ځملیدلې وم او مخامخ مې کتل شاید یو ساعت همدې حال کې وم چې موبایل مې یو ځل بیا لیوني شو او پرلپسې زنګونه راتلل ورته پیل شول، لومړۍ مې نه غوښت ځواب ورکړم خو کله چې بیحد زنګونه ډېر شو نو په نه زړه مې ځواب ورکړو ...

- الو ..!

اقرا- الو طاها ...! چیرته یې؟ ولې موبایل ته ځواب نه راکوې؟ زما خو دې زاره راوچول.

نه پوهیدم څه ورته ووایم؟ دا څو ساعتو کې فکر مې کاوه احساسات مې یو دم لمینځه تللې، نه راته څوک مهم وه او نه هم را ته د چا خبره مهم ښکاریدل فکر مې کاوه هېڅ شئ دې نړۍ کې ارزښتمند نشته هېڅ شئ ...

د اقرا داسي اندیښمن لهجي په وړاندی زما سره هېڅ ځواب نه وو، البته زړه مې ځان کش راکش کاوه او ویل یې ځواب ورکړه او د دی اندیښنې څخه یې راوباسه خو ذهن مې ویل دا د ضیالحق لور ده ... دا هم خپل د پلار پشان دروغجنه ده ... دا څو کلونو کې دی هم تاته دروغ ویلې دا خبره وه چې ته یی د ماما زوی یې خو تاته یې نه ویل ... دا هم خپل د پلار پشان ده ... دا هم د شموئیل پشان دروغجن ده ... زما زړه او منطق یو د بل سره په جنګ وه نه پوهېدم ځواب ورکړم او کنه؟

او له هغه خوا د اقرا اندیښمن غږ وو چې بار،بار یې زما نوم اخیست او زما پوښتنه یې کول خو زما غوږونه د هغې د غږ د اوریدلو توان نه درلود خو کله چې د هغې د ژړا غږ مې واورید نه پوهیږم څه وشو خو بی اختیاره مې وویل: مه ژاړه ... زه نن شپه نه درځم لږ کار لرم ته لاړه شه خپل د پلار کور ته ...

او بیا بغیر له دی چې د هغې څواب ته په تمه شم موبایل مې بند کړو، د شموئیل او د حوا د خبرو د اوریدلو وروسته ذهنیت مې د اقرا په اړه خراب شوی وو او فکر مې کاوه هغې هم ماته دا دومره کلونه دروغ ویلې، خو د دې ټولو خبرو باوجود نه پوهېږم ولې خو د هغې د ژړا د اوریدلو توان مې نه درلود، لا مې موبایل صحیح بند کړې نه وو چې بیا زنګ ورته راغلو او دا ځل د ذوالفقار نوم د موبایل په سکرین ښکاره شوه بغیر د کوم فکر مې موبایل بیخي خاموش کړو ترڅو نور د زنګ غږ رانشې او په همغه ګنګس حالت څملیدم او دا ځل مې دوه سترګي په هغه تیاره کې د کوټې د چت خو اته ونیول ...

یعنی ذوالفقار هم د دی خبرو څخه خبر وو؟ یعنې هغه خبر وو چې ادی زما اصلی مور نه ده؟ یعنې امکان یې شته چې ذوالفقار خبر اوسیږی چې د هغه مور خپل د ورور په مرسته داسي یو ظالمانه قتل ترسره کړی؟ که څه هم زړه مې دا خبره نه منل خو بیا هم یو بد او د

بې اعتمادي احساس مې ټول وجود نیولې وو داسې چې فکر مې کاوه ټولو ماته چل راکړی، فکر مې کاوه ټول د دی خبرو څخه خبر وه بغیر زما څخه ...

فکر مې کاوه دوی پر ما د قرباني د غوا ګمان کړې وو او هر چا چې هر خوا زړه غوښت زه یې همغه خوا ته لځان سره کش کولم او ما هم د بیعقلانو پشان سر ښکته اچولي وو او د دوي په هر ساز رقصیدلم ...اوس چې د څو کلونو مخکې خبرو او پیښو ته فکر کوم نو هر موضوع راته حل شوی ښکاریدل،اوس د بابا د تروش تندی او کرکجن نظر په معنا پوهېدم .. هغه زه خپل د معشوقي د مرګ مسبب ګڼلم، اوس راته د ادی اوښکو معنا درلود هغې زما په هر ځل لیدلو ژړل اوس پوهیږم چې دهغې د ژړا سبب دا وو چې زه د هغې د ژوند د تباهی دلیل وم، خود نو به نو زما په هر ځل لیدلو ژاړی زه یې د بنی زوی وم ...

اوس راته د ذوالقرنین کاکا هغه مخالفت چې ویل یې: طاهر ته فرشته ورکوم خو طاها ته،"نه" یو دم راته حل شوی او منطقی موضوع ښکاریدل هغوی هیڅکله زه د بابا پر اولاد حساب کړی نه وم د هغوی په نظر زه ... زه اه مې وکښ او سترګي مې پټې کړل باور مې نه کیدو د څو ساعتو په موده کې زما ژوند د دې اړخ څخه په هغه اړخ اوړیدلې وی تر نن مې فکر کاوه که بابا راڅخه مرور دی یا خپل او خپلوان راته په ښه سترګه نګوری دلیل یې زما کارونه دی خو اوس پوهېدلم چې اصل ستونزه په ما کی نه ... بلکې د حوا خبره زما د پیدایښت مخکې خبره خرابه وه ...

پخوا به مې ځان سره ویل که بابا او خپلوان راڅخه مرور دی کوم خبره نه ده زه خپل کورنۍ او خپل ملګری لرم خو اوس ...

اوس نه کورنۍ لرم او نه هم کوم ملګری یوازینې کس چی راته پاتې وو هغه زبیر وو... وېرېدلم هسی نه یو

ورځ خبر شم چې هغه هم د یو دلیل لپاره ماته رانږدی شوی او هغه هم راته دروغ ویلې ... خو د دي ټول منفي فکرونو باوجود زړه مې غوښت ورته زنګ ووهم او ورته ووایم چې دلته راشه او طبعیت مې ښه نه دی خو د نن ورځ په خبرو چې هغه ته مې کړی وه جرئت مې نه کیدو چې زنګ ورته ووهم او ورته ووایم چې راشه ...

د ډېر نامیدی څخه مې ځان غیږ کې ونیو زه څومره بدبخت یم چې دی نړۍ کې هېڅوک نلرم ... نه مور، نه ورور،نه خور، حتا پلار مې لا زما څخه کرکه لری .. ما د یو ساعت په موده کې خپل ټول خپل،خپلوان او ملګری له لاسه ورکړل شیطان مې ذهن کې عجیب غریب فکرونه اچول نظر مې بې اختیاره د دهلیز کونج کې په خیرن او د دوړو ډک رسۍ باندې پریوت ... زما ژوندی اوسیدل کوم فایده هم لری؟ نه ... هېڅ فایده نلری، زه اخر یم څوک؟ بې اختیاره مې دا خبره د ځان سره تکرار کړل زه څوک یم؟ زه څوک یم؟ هېڅ ځواب

مې خپل خبرې ته نه درلود دا کار دومره عصاب راخراب کړل چې په لوړ غږ مې ځان مخاطب کړو او ومې ویل: ته لعنتې اخیر څوک یې؟ ته څوک یې؟ هــا؟ ته څوک یې طاها؟

د مغز چپ خوا مې منفې ځوابونه راته پرلپسې قطار کړل، ته یو منحوس انسان یې طاها ... ستا مور ستا له لاسه مړه شول ...ته دې نړۍ کې هېڅوک نلرې ... هېڅوک تا نغواړي ... ټول ستا له لاسه پعذاب دي ... پلار دې ورځ کې زر ځله ستا د مرګ غوښتنه کوي ... کوم چا ته چې ته ملګرې او کاکا وایې هغه ستا د مور د قاتل زوی دی ... ته فکر کوې هغه نه وو خبر؟ ته ډېر بیعقل یې ته فکر کوې هغه هسې د خدای لپاره ستا سره دومره محبت او همدردې کول؟ نه بیعقل هغه دا کارونه کول ترڅو خپل د مور د ګناه جبران وکړي هغه خبر دی چې مور یې ستا مور وژلې ...

نه ... نه ... دا فکرونو د جنون حد ته رسولم خپل
دواړه لاسونه مې په سر کیخودل نه ... نه ... ذوالفقار
داسي کار نشې کولای ... هغه ... هغه د دی خبرو څخه
نه دی خبر ... هغه وخت کې ذوالفقار هم ماشوم وو نو
د کوم خوا خبر شې؟ فکر مې کاوه په بدن کې مې دوه
کسان شتون لری یو کوښښ کاوه ما د نامیدی او
بیځایه فکرونو څخه راوباسی خو دویم په پوره توان
کوښښ کوو ما د نامیدی او ناهیلۍ نړۍ خواته کش
کړی دومره دا کشمکش مې ذهن کې روان وو تر دی
چې بې اختیاره د سترګو څخه مې اوښکې په بهیدو
شول

په ګنګس او خراب حالت لځایه پورته شوم هغه منفې
فکرونو والا لکه چې زما د دی کار څخه سخت
خوشحاله شو چې په دوه چند ځواک یې منفې خبری
شروع کړل ... هو .... هو طاها همدا یې اخیری لاره ده
...ته دی نړۍ کې د ژوند کولو لپاره هېڅ دلیل نلری
ټولو ستا څخه بد راځې ... ته یو منحوس انسان یې ...

دوه سترګي مې د دهليز کونج کې په غورځېدلې رسۍ باندی ښخ وه او منفي فکرونه مې هم اخيری حد ته رسيدلې وه ...

هو ... هو طاها همدا اخيری لاره ده لاړ شه .. لاړ شه رسۍ راوخله او د دی منحوس نړۍ څخه د تل لپاره ځان ورک کړه دا ژوند نور په ژوند کولو نه ارزی.
بې اختياره مې يو ځل نظر په هغه رسۍ او بيا د دهليز پورته لرګۍ باندي واچو، زړه کې مې دومره غوسه،کرکه،ناميدی او ناهيلۍ ډېره وه چې خپل د ذهن هغه برخي ته کوم چې کوښښ يې کاوه تر څو ما د دی کار څخه منع کړې هېڅ پام مې ونکړو او يو دوه ګام مې د رسۍ خواته واخيست ..

په دوړه او غبارو لړلې رسۍ مې د ځمکې څخه راوخيسته ځاې،ځاې سپين تارونه سپيځېدلې وه، رسۍ دومره اوږده نه وه کم او زيات يو،يونيم متر راتلل دا رسۍ مې اوس په ياد شوه! کله چې خپل د

کور شیان مې بټولول نو د فرش د ترېلو لپاره مې راوړی وه خو زبیر فرش په بل رسۍ وترو او دا اضافه پاتې شو موږ هم د هغه وروسته پکار نشول او همدلته مو کیخودل، په شونډو مې ترخه مسکا راغلل لکه چې دا رسۍ د همغه ورځ ښځه په همدی موخه پاتې وه ترڅو زه نن ورباندی ځان ووژنم او د دی دوه مخي نړۍ ښځه د تل لپاره لاړشم، همدیته قسمت وایي کنه؟! شاید همدای رسۍ باندی هم زما د مرګ قسمت لیکل شوی وو چې د دوه کالو وروسته دی په دی حالت او په دی وضعیت زما ومخ ته راشي؟

رسۍ مې په کلک وخنډل نړۍ دوره ورښځه پورته شوه چې زما د بټوخیدو سبب شو، هوا نور هم تیاره شوی وه او دهلیز کې شیان سم نه ښکاریدل مجبورً موبایل مې روښانه کړو ترڅو ګروپ یې بل کړم د موبایل روښانه کیدو سره سم د زنګونو او مسجونو سیلاب پیل شو زړه مې نغوښت د هیچا غږ او خبری واورم نو ځکه غوښتل مې موبایل په فلایټ موډ کې

کېږدم(د طيار موډ هم خلک ورته وايي هههه د دی تبې پر وهلو موبايل ته نور زنګ نه راځې) خو لا مې ګوته د تبې د وهلو لپاره نه وه نږدی کړی چې په يو ناشنا شماری مې نظر ولګيد چې زنګ يې راته واهه!

شماره داسي حال کې چې ناشنا وه او زما موبايل کې ثبت شوی نه وه خو بيا هم نه پوهيږم ولې نمبر يې راته آشنا ښکاريدو؟ خو دومره مې طبعيت خراب و او د ځان وژني فکر تر هغه حد ليونۍ کړی وم چې دا ناشنا شماره راته هېڅ ارزښت نه درلود نو ځکه بغير د کوم ځواب ورکول موبايل مې سايلنټ کړو او شاوخوا په کتو شوم ترڅو رسۍ د دهليز د يو لرګۍ سره وترېم،بلاخره د لږ کتو،راکتو وروسته نظر مې په يو لرګي ولګيد، څو کاله مخکې ما د پکې د لګولو وخت کې يو څه دا لرګۍ تراشلې وو ترڅو وکولای شم په راحت باندی د پکي لين ورڅخه تېر کړم اوس لکه چې پکار راغلو؟

خو لرګۍ بیحد پورته وو او زما لاس نه رسېدو ترڅو رسۍ په لرګۍ باندی تاووکړم، شاوخوا مې وکتل ترڅو یو شئ پیدا کړم او ورباندی پورته شوم همغه حال کې مې نظر د دهلیز څنګ کی په آشپزخانه ولګید د آشپزخاني کونج کې یو د غوړو تش،خیرن بوشکه کیخودل شوی وه د هغه په لیدو مې په درد باندی سترګي پټي کړل... لکه چې خدای هم غواړی زه ځان ووژنم چې داسي هر شئ راته تیار کوی؟ په نامید ګامو لاړم او هغه بوشکه مې راوخیسته بوشکه مې لاندی پر ځمکه کیخودل او ورباندی پورته شوم ...

لاس مې صحیح تر لرګۍ نه رسیدو خو د لږ کوښښ کولو وروسته ومې کولای شو رسۍ د لرګۍ څخه تېره کړم د لرګۍ څخه مې چې تېره کړه نو یو کلک غوټه مې ورکړل نه پوهېدم اوس څه وکړم؟ یعنې دا په غاړه کې واچوم او بیا بوشکي ته لغته ورکړم ...؟ په فلمو او سریالونو کې مې دا شیان ډېر لیدلي وه خو رښتیا که ووایم اوس چې خپل ورسره مخامخ کیدلم نو وېرېدلم

... د محمد د شیطنت ځخه ډک اواز مې غوږنو کې انګازی کول چې بابا ... بابا ناری وهل ... او بیا د هغه خوږ غږ چې ویل یې بابا کله(کیله) راوړه یا بابا ما ته کوکو واخله" ککو ته یې کوکو ویل د هغه د هر خبری په یاد راوړلو سترګي راته د اوښکو ډکول ...

د یو شیبې لپاره خپل پکار پښیمان شوم خو لا مې دا احساس دومره قوی شوی نه وو چې هغه منفې فکر والا کس حاضر شو او یو ځل بیا له سره یې خپل منفې خبری شروع کړل تر دی حد یې منفې خبری زما زړه او ذهن ته واچول چې بیرته پر بوشکه وختلم په همغه د اوښکو ډکو سترګي مې رسۍ غاړې ته واچول او ښه کلک غوټه مې ورکړل ... لعنت دی وی زما په دی ژوند چې نه مې ماشومتوب کې د خیر ورځ ولیده او نه هم ځوانې کې ... لعنت دې وې زما پر پلار چې د اولاد د ساتلو نه وو او زه یې دی منحوس نړۍ ته راوړلم ... ایا ما ورته ویلې وه چې ما دی نړۍ ته راوړه؟ یا ما له قصد د هغه معشوقه مړه کړل؟

اصلاً لعنت دی وی پر ټول هغه کسانو چې ماته یې دروغ وویل او چل یې راکړو او زه یې دی حالت ته مجبور کړم ... دومره مې زړه د ټول نړۍ او د هغه د خلکو څخه ډک وو چې ټولو باندی مې لعنت ویل شروع کړل ما نه غوښت ځان ووژنم خو ... خو نور مې د دی حالت د زغملو وس نه درلود نور مې دومره خپل ځان کې ځواک نه احساس کاوه چې د بابا یا استاذ مخ ته ورشم او داسي تظاهر وکړم لکه زه چې په هېڅ شئ هم نه یم خبر ... ما داسي کار نشو کولای څنګه د ادی و مخ ته وګورم؟

ادی ته په فکر کولو خپل په کار باندی لا ډاډمن شوم ما د هغې سره د مخامخ کیدلو توان نه درلود څنګه ورسره سترګو په سترګو شم او دا لیاده وباسم چې زما او زما د مور په راتلو د هغې ژوند برباد شوی وو او ... او خاوند یې هغه د یو ماشوم سره خوشې کړی و ...

لعنت وی په دی منحوس نرۍ خوله مې جوړه کړل چې یو بل لعنت هم واستوم چې ناڅاپه د یو بډ غږ په اوریدو نړدی وو د غوړو د بوشکې څخه مې پښه ښویه شوی او د رښتیا ځان پانسي کړم، په بیحد ستونزه مې ځان کنټرول کړو او لومړۍ کار چې مې وکړو هغه د رسۍ باسل خپل د غاړۍ څخه وه او بیا مې کرار خپل شاته وکتل چې د موبایل په کمه رڼا کې مې نظر په عبدالرحمان ولګید چې کرار د دهلیز کونج کې ولاړ و او دوه سترګي ماته نیولې وه ..

عبدالرحمان- فکر نکوی چې یو لعنت باید پر ځان هم ووایې؟

د هغه د دې خبری په مطلب لومړۍ کې پوه نشوم، خو کله چې پوه شوم نو د شرم څخه مې سر ښکته واچو.

عبدالرحمان- دا یو ساعت کیږی دلته ولاړ یم او ستا لعنت ویلو ته مې غوږ نیولی زما په نظر یو دوه لعنت باید پر ځان هم ووایې .. اها رښتیا پر تا لعنت به بیا

ستا زوی ووایې..! ستا د مرګ وروسته چې کله هغه لږ غبټ شې نو یو ورځ به هغه هم ووایې لعنت دی پر دی پلار وی چې زه یې دی منحوس نرۍ ته راوړم او خپله یې ځان وژنه وکړه ... څنګه هغه ته دی فکر کړی چې ستا وروسته به د هغه پر سر څه راځې؟

په ورخطا او د شک څخه ډک نظر مې د هغه خوا ته وکتل نه ما د محمد په اړه هیڅ فکر نه و کړی چې زما وروسته به د هغه سره څه کیږی؟ ما یوازی غوښتل خپل ژوند ته د پای ټکي کیږدم او بس ...

عبدالرحمان- پوهیږی یو دلیل چې د انسان څخه مې بد راځی همدا دی، تاسو بیحد ډیر خود خواه او خود پسند یاست تل خپل په فکر کې یاست تل ځانونه درته مهم ښکاری بل چا ته نګوری او بل دلیل چی ستاسو څخه مې بد راځی دا دی چې بیحد احساساتي یاست او تا خو بیا بیخې د احساساتو نوم وربد کړی.

غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ورته ووایم چې ته زما لځایه نه یی او تا زما پښان غمونه او ستونزی نه دی لیدلی نو حق نلری چې ما قضاوت کړی، خو زما د څه ویلو مخکې عبدالرحمان خپل لاس راپورته کړو او زه یې د خبرو کولو څخه منع کړم د هغه وروسته یې وویل: ما کولای شول دا خبری درته څو کال مخکې هم وکړم خو ځکه مې ونکړل ځکه چې ستا ژوند تل ته راته خپل د ژوند پښان ښکاریدو ...

په حیرت مې وروکتل نه پوهیدم چې د عبدالرحمان د دی خبری معنا څه ده؟ چې هغه په کرار خو داسی لهجه چې ما فکر کاوه د غم څخه ډک ده ویې ویل: ما چې هر ځل تا ته کتل نو فکر مې کاوه اصل کې خپل ژوند ته ګورم یوازی په لږ فرق باندی، ستا په پیدایښت ستا مور مړه شول خو زما په پیدایښت زما پلار مړ شو .. ستا څخه هیڅا ښه نه راتلل او زما څخه هم زما قوم او قبیلې ښه نه راتلل، البته ښه راتلل خو څه کوی چې بیخی غوښتل ما ووژني، زه هم دې ټول نړۍ کی

يوازى يو ورور لرم چې راته د هر چا ځخه ګران دى او ته هم دى ټول نرۍ کې يوازى يو کاکا لرى چې د هر چا ځخه دربادى ګران دى.

خو ددى ټولو باوجود بيا هم ستا ژوند زما ځخه ځه ناځه ښه دى، تا په مينه واده وکړو يو زوى لرى يو کورنۍ لرى چى دربادى ګرانه ده، خو ما تراوسه واده نه دى کړى ځکه په کوم چا باور نشم کولاى تا د زبير پشان ملګرى درلود خو ما هيڅ ملګرى نه درلود تا يو مور درلود که ځه هم ته يى نرۍ ته نه وى راوړى خو ته ورباندى خپل د اصلى اولاد ځخه لا ډير ګران وى، ته خويندى لرى چى تاته ورور وايى او د يو رښتنې ورور پشان مينه درکوى خو زه هيڅ کورنۍ نلرم اوس ته ووايه ايا ته ډير د ځان وژني حقدار يى او که زه؟

په خلاصه خوله مې ورته وکتل باور مې نه راتلو چې عبدالرحمان خپل په هغه دومره هيبت او وحشت باندى ما ته يې خپل د ژوند د بدبختيانو په اره وويل!

د هغه په خبرو لږ مې منطقی فکر وکړو او ډېر ژر دی پایلي ته ورسیدم چې زما ژوند د عبدالرحمان څخه زر چنده بهتره وو البته د دی خبرو د پوهیدو مخکې ...

عبدالرحمان په پوسخند راوکتل او ویې ویل: ستاسو انسانانو د دی ناشکری او احسان فراموشي څخه مې بیحد کرکه راځی، تاسو خدای اشرف المخلوقات پیدا کړی یاست په نړۍ کی د ټولو څخه غوره مخلوقات خو تاسو په دوه خبرو دیته حاضر کیږی چې هغه کار وکړی کوم چې خدای تاسو لپاره حرام کړی او حتا د دی سبب کیږی چې د اسلام څخه ووځي ...

خو تاسو تل خپل د احساسات څخه کار اخلې او د خدای د حکمونو نافرماني کوی، تاسو ډیر نمک نشناس یاست تاسو هغه کسان یاست چې د خدای 99 نعمت یو خوا ایږدی او د هغه په یو آزمایښت او امتحان باندی ناشکری کوی او تر دی حد ځان رسوی، که ربښتیا درته ووایم هېڅ مې زړه نه غوښت چې راشم او بچ

دی کړم راته هیڅ ارزښت نلری ستا مرګ او ژوند، اصلاً ولی راته ارزښت ولری؟ ته راته ووایه  کوم کس چې خپل مرګ ورته د ستونزو څخه د خلاصون لاره ښکاری او دومره کمزوری دی چې خپل د ځان ساتنه نشې کولای او خپل اولاد او کورنۍ دی حال کې پریږدی ایا ستا په نظر داسی کس د ژغورلو لیاقت لری؟ هوم؟

که دلته یم یوازی د شموئیل پخاطر یم، چې نغوارم ستا په مرګ باندی هغه فکر وکړی د هغه د خبرو او کارونو له لاسه تا داسی یو بد وکړل نو ژر راښکته شه او د انسان پشان لاړ شه خپل کور ته د دی څخه مخکې چی زه دی خپل په طریقه د دی ځای ویسم.

د عبدالرحمان په خبرو دومره غوسه راغله چې په بند،بند لهجه مې وویل: ت ... ته هېڅ حق نلری چې زما په داسی فکر وکړی یا وغواړی ما قضاوت کړی او هو زه نه ستا همدردی ته اړتیا لرم او نه هم را ته د شموئیل مرګ او ژوند مهم دی.

عبدالرحمان په پوسخند وویل: زه هم د همدردی درکولو لپاره نه یم راغلې، زما وس که وچلېږی یو سم رسی او چوکۍ هم درته راوړم چې په بیغم فکر او په کراره ځان خلاص کړی ... خو څه وکړم مجبور یم چې راشم او ستا پشان یو بیعقل سره خوله واچوم .. شابه راښکته شه لاړ شه خپل کور ته کورنۍ دی درته په تمه ده هله شابه ...

د عبدالرحمان هره خبره ډکه وه د طعنې او پر ما باندی د ریشخند وهلو څخه،خو نه پوهیږم د دی دومره خبرو باوجود ما زړه د دی لځایه چې کلک شې نرم شو او هغه کس ته چې ما ته یې توهین کاوه همغه ته په ژړا شوم او ومې ویل: ت ... ته څه پوهېږی زما په درد؟ ت ...ته چې وایې لاړ شه خپل کور او خپل کورنۍ ته ... ک ...کوم دی هغه کور او هغه کورنۍ؟ زه هېڅ کورنۍ نلرم هېڅ ...

زما د ژړا په لیدو عبدالرحمان د څو شېبو لپاره
خاموش شو ما فکر کاوه شاید زما په بد حال یې زړه
سوځېدلې اوسیږی او غواړی دلداری راکړی خو هغه
کرار زما په ځاي په فرش باندی کښیناست او داسي
حال کې چې خپل سر یې کرار راسته او چپه خواته
خوځاوه ویې ویل: ته د هغه حد ښځه چې ما فکر کاوه
د هغه ښځه لا ډېر بیعقل وختي، اوس پوهېږم شموئیل
ولې زه دومره منع کولم چې تاته کوم څه ونه وایم ...
هغه پوهېدی چې ته څومره نادان او جاهل یې ...

د هغه په دی توهین امیز خبرو د ډیر غوسي ښځه مې
اور واخیست په تلوار مې په لستوڼي باندې خپل د
سترګو اوښکې پاکي کړل او د بوشکې ښځه راښکته
شوم، داسي حال کې چې یو څو ګام د هغه خواته تلم
په همغه غوسه مې وویل: خوله دی بند کړه او د دی
ځای ښځه لاړ شه، اصلاً ته په څه حق باندی زما کور ته
راغلې یې او ماته داسې خبری کوی؟ ها؟ زه چې هر

کار کوم ډېر هم ښه کوم په تا یې څه؟ ته دی لاره وهه او له دی ځای څه ..

عبدالرحمان بغیر له دی چې زما خبرو ته د مچ د بنګ،بنګ په اندازه لا ارزښت ورکړی ښه یې ځان کش کړو او دیوال ته یې تکیه برابره کړه د هغه وروسته یې یه همغه خندا او پوسخند وویل: کاش خاصیت دی د ضیالحق لځایه یو څه خپل د کاکا خواته تللې وایې ... شاید اوس په دی حال نه وایې، ته ماته دا ووایه ته د څه لپاره غوارې داسي بد وکړی او ځان ووژني؟ دلیل دی څه دی؟

غوښتل مې خوله خلاصه کړم چې هغه اجازه رانکړل او خپل یې وویل: ما خو درته خپل د ژوند کیسه وکړل، نو اوس خو باید پوهه شوی اوسیږی چې دی نرۍ کې داسې ډېر کسان شته چې ستا څخه لا بدبخت دی خو بیا هم ژوند کوی ... نو مطلب ژوند پر ژوند کولو ارزی ...! خو د دی دومره خبرو وروسته بیا هم ته

خپل د بیعقلۍ  په خر سپور یې او ورځخه نه راښکته کیږی، ته ولې خپل کارونه د منطق او فکر لځایه په احساساتو کوې؟

د دی خبری سره سم په یو ټوپ لځایه پاسید داسي چې زه بې اختیاره د وېرې له لاسه څو ګام شاته لاړم، زما د دی کار په لیدو د هغه په شونډو پوسخند راغلو او ویې ویل: ګوره هغه ټول خبری پخواني خبری وی .. پلار دی څه وکړل ... مور دی څنګه شوه؟؟ ماما دی څه وکړل؟؟ خلاصه دا ټول خبری چې نن وربلندی پوه شې دا ټول د پخوا خبری دی او هغه خبری دی کوم کې چی تا هیڅ واک وربلندی نه درلود .. خو د دی څخه وروسته واک ستا په لاس کېدي چې غواړی خپل ژوند څنګه وکړی او خپل کورنۍ څنګه وساتي؟

ایا غواړی سبا ورځ ستا زوی په دی(عبدالرحمان د پانسي رسۍ ته اشاره وکړل او ویې ویل: په دی ځای کې ودرېږی او تا باندی لعنت وایې چې ولې دی هغه

دی منحوس نړۍ ته راوړی؟ او داسی منحوس ژوند دی ورته جوړ کړی؟ ایا ته غواړی یو بل طاها خپل د زوی څخه جوړ کړی؟ که ځواب دی "هو" دی نو بسم الله کړه زه دی مخه نه نیسم هر کار چی کوی وکړه خو ...

د هغه په خبرو زما سترګي د اوښکو ډکي شوی په دی فکر چې یو ورځ دی محمد دی حالت ته ورسیږی او وغواړی داسی یو کار دی وکړی زما زاره یې راچول، سر مې پورته کړو او د عبدالرحمان خواته مې وکتل غوښتل مې پوه شم چې د هغه خو وروسته څه دی؟ ما ارتیا درلود په دی نامید او ناهیل وخت کې کله چې شاوخوا مې تیارو او بدبختي نیولې یو نفر زما لاس ونیسې او ماته ووایې چې ژوند کولو ته امید شته، زما د نظر په لیدو د عبدالرحمان په شونډو نرۍ مسکا راغله داسې لکه چې هغه هم پوه شوی اوسیږی چې خبرو یې پر ما اثر کړی یو ګام نور هم رانږدی شو او کرار یې وویل:

عبدالرحمان- خو که لږ هم عقل ولری او خپل کورنۍ او اولاد درته مهم اوسيږی نو د دی وروسته به خپل ژوند جوړ کړی، خپل د پلار او پلار خيلو څخه دی بد راځي، د ضيالحق څخه دی بد راځی، خلاصه د هر چا څخه چې دی بد راځي نو د ځان وژني لځایه نر شه او د هغوی سره تګ راتګ بند کړه لکه څنګه چې دا څو کاله دی بند کړی وو ... یا اصلاً بیخې بل ولایت ته لاړ شه داسی چې هېڅوک ستا د ځای څخه خبر و نه اوسيږی، لاړ شه خپل او خپل د کورنۍ لپاره یو نوی ژوند پیل کړه، خو بیا هم درته وایم ځان وژنه دی بې ګټې ده ځکه کوم مشکل نلری دا ټول د پخوا ستونزی دی نه د اوس ...

اوس وخت ته یوازی یوه ستونزه لرې او د هغه حل کول هم پر ما او پر شموئیل دی، موږ د دی وروسته یو پیری ته هم دا اجازه نه ورکو چی تا ته دی تکلیف در ورسوی نو منطقی فکر وکړه او د شیطان د خر څخه راښکته شه.

عبدالرحمان دا خبری وکړل او بغیر د نور څه ویلو روان شو د هغه په تلو همَلته د دهلیز منځ کې کښیناستم نه پوهېدم څه وکړم؟ البته د عبدالرحمان خبرو تر یو حد سترګي راخلاص کړې وه او د نامیدی د هغه اور څخه چې زه یې د ځان وژنی خواته کش کولم لری کړې وم، نه پوهېږم تر څومره وخت به هلته ناست وم او خپل د فکرونو سره لاس په ګریوان وم، د عبدالرحمان د خبرو وروسته زما ټول فکرونو اخر کې د اقرا او محمد خواته تلل، هر څه چې وه هغوی زما کورنۍ وه که هر څوک پرېږدم هغه دواړه خو نشم پرېخودلې ...

ناڅاپه د محمد خوږه لهجه چې ماته یې بابا ...بابا ویل ذهن ته راغلل،دومره د هغه دا خوږ لهجه مې ذهن کې پورته ښکته شول چې فکر مې کاوه یو نامعلوم انرژی مې بدن کې په ځغاستو شوه بی اختیاره لځاي پاسېدم او د دهلیزد دروازی خواته په تلو شوم بېر ژر حویلۍ ته ووتلم او د موټر سایکل خواته لاړم غوښتل مې کور ته لاړ شم او بغیر د کوم څه ویلو په ساعتونو،ساعتونو

محمد غیرې کې ونیسم او دا منفی فکرونه او وسوسې خپل د ځان څخه لیری کړم.

غوښتل مې خپل د ژوند د یوازینې امید خوا ته لاړ شم هغه کس چې زما د وینو څخه وو ...هغه کس چې هېڅکله یې ماته دروغ نه وه ویلې .. هغه کس چې هېڅکله یې ما ته چل نه وو راکړی ... نه پوهیږم په کوم سرعت د کور پخوا روان شوم یو ساعت وروسته کله چې موټر سایکل مې خپل د کور د دروازی مخکې ودروی نو تازه مې یاد ته راغلل چې اقرا ته مې ویلی وه خپل د پلار کور ته لاړه شه ...

خپل په دی بې فکری مې لعنت وویل هېڅ مې زړه نه غوښت د استاذ د کور دروازه لا وټکوم تلل خو لیری خبره، په بیحد کرکه د هغه د کور د دروازی خواته مې وکتل او بغیر له دی چی هغه خوا ته لاړ شم خپل د کور دروازه مې خلاصه کړه او ننوتلم همغه حال کې می اقرا ته زنګ وواهه او همدا چې ځواب یی راکړو یوازی

يو خبره مې ورته وکړل" زه کور ته راغلم راشه" او بغير له دی چې د هغې کوم خبری ته غوږ ونيسم موبايل مې بند کړو، موټر سايکل مې حويلۍ کې ودرو او کور ته ننوتلم دومره ستړی وم چې فکر مې کاوه زرګونه ټنه وزن مې پر اوږو پورت دی

بغير له دی چې برق روښانه کړم د دهليز په نالۍ څمليدم سترګي مې پټي کړل خو بيا هم ذهن مې هوښيار و او د اقرا او محمد د راتلو په تمه وم شايد پنځه دقې لا نه وه تېر شوی چې لومړی د کور د دروازی غږ پورته شو او ورپسي د دهليز دروازه خلاصه شوه او ورسره سم برق هم روښانه شوو، د برق په ناڅاپه روښانه کيدو سترګي مې بند کړل څو شيبې وروسته مې چې خلاص کړل نو اقرا مې وليدل چې په خفه انداز د دهليز دروازی سره ولاړه وه او محمد يې په غيږ کې وو.

محمد زما په لیدو په خوشحالي چغه کړل او ځان یې زما خواته راکش کړو زه هم پاڅېدم او غیږ کې مې واخیست که څه هم بیحد خفه وم خو د محمد لیدو لکه چې انرژی راکړې وی څو ځله مې پر لپسی ښکل کړو او غیږ کې مې ونیو، اقرا تر اوسه د دهلیز کونج کې بغیر د څه ویلو مروره ولاړه وه د سترګو له کونج مې نیم نظر ورواچو خو څه مې ورته ونه ویل که څه هم زړه مې ویل چې دا به د کوم خبری څخه خبره نه وی او ملامت نه ده خو شیطان مې زړه کې دومره شک او تردید اچولی وه چې په دی آساني مې زړه ورسره نشو صاف کولای زه باید ډاډمن شوی وایې چې دا د دی ټولو خبرو څخه ناخبره وه او ماته یې کوم دروغ نه دی ویلې.

اقرا څو شیبې ځان همغسې مروره نیولې وه خو کله چی وکتل زه ورته کوم توجه نکوم نو رامخکی شوه او پوښتنی کول یې پیل کړل" تر اوسه چیرته وی؟او ولې ناوخته راغلې؟ او ولی دی زما زنګو ځواب نه راکو؟" د

هغه د دی دومره پوښتنو په ځواب کې ما یوازی یو ځواب ورکړو او په همغه ځواب مې چوپه کړل ورته ومې ویل " بیکار نه وم" اقرا چې زما دا بی غوری او بې توجهې ولیدل نو سترګي د اوښکو ډکي شول د هغې په دی حال زړه مې په درد راغلو خو ذهن مې دومره د منفی فکرونو څخه ډک وو چې خبری می لا ورسره نشو کولای ناز اخیستل خو لیری خبره ...

مخ مې ورڅخه وګرځو او د محمد سره د لږ خبرو او ساتیری وروسته خپل ځای مې د معمول پر خلاف د اقرا څخه لیری واچو او ویده شوم په دی کار د هغې نظر له ورایه خفه شو خو ما بیا هم ورته کوم توجه ونکړل، زما ذهن د شکونو څخه ډک وو او امکان یې نه درلود دومره ژر دهغې سره عادی چلند وکړم، زما ذهن اوس راته یوازی یوه خبره کول ... دا او د دی پلار او د دی ټول کورنۍ دروغجنه ده دومره مې دا فکرونه وکړل ... او وکړل تر دی چی خوب راباندی غالب شو او ویده شوم.

***

دوه هفتي د هغه منحوس ورځي څخه تېرېدل د کوم ورځ څخه چې شموئیل او د هغه وروسته د هغې میرمن "حوا" راته زما د ژوند د بد ترینه پیښو څخه پرده پورته کړې وه او زه یې د یو داسې حقیقت سره مخ کړې وم چې زما ټول کورنۍ او خپلوان یې راته د اعتماد د دایرې څخه ویستلې وه، په دې دوه هفتو کې نه مې د ذوالفقار د موبایل ځواب ورکړی و نه مې د طاهر سره خبری کړې وه او نه مې د بابا او ادی پرلپسی پیغامونو ته چې د طاهر لخوا یی راستول کوم ځواب ورکړی وو، استاذ سره خو بیخې قطع رابطه می کړې وه نه ده هغه کور ته تلم نه می د هغه مسجد ته سر ورښکاره کاوه..

حتا لاره می لا ورڅخه بدله کړې وه او که کوڅه کې مې استاذ لیدلی وایی نو تر هغه نه تلم ترڅو هغه تللی نه وایی د عبدالرحمان د خبرو وروسته مې کلک اراده کړې وه چې دا کور او خپلوان به پرېږدم او یو بل ځای

به کور نیسم خو بدبختانه چی پیسې می نه درلود او مجبور وم چې د میاشتي تر اخر صبر وکړم

د عبدالرحمان خبره شاید دا ټول خبری د پخوا وه او ما پکې کوم واک نه درلود خو د دی خبرو د پوهیدو وروسته ما فکر کاوه ټول خلک دروغجن او جلباز دی تر دی حد چې د زبیر سره مې لا دا دوه هفتو کی یو خبره نه وکړی، هغه هم ځان مرور نیولی وو او ما هم کوم څه نه ویل دومره خپل په دی چوپتیا کی ورک شوی وم چې کله ناکله چی د مشتریانو سره مې خبری کول نو خپل د غږ په اوریدو به حیران شوم .. یعنی تر دی حد چوپتیا می غوره کړی وه چې خپل غږ مې لا نه اوریدو زما د دی حال په لیدو زبیر لږ لږ خپل د مرورتیا د داېری څخه راووت او خبری کول یی پیل کړل خو ما بیا هم همغسی لنډ،لنډ ځوابونه ورکول او هغه می لځان څخه لیری کاوه ما پر هیچا باور نه درلود حتا په زبیر باندی ...

د ماذدیګر خوا وه چې د دوکان د بند کولو اراده مې
وکړل زبیر نن بیخی دوکان ته نه وو راغلی ما هم ورته
زنګ ونه واهه چی چیرته یی؟ که د پخوا وخت وایی
نو ضرور مې ورته زنګ واهه او پوښتنه مې کول چې
چیرته دی؟ او ولې نه دی راغلې؟خو دا ځو وخته خپل
حوصله می لا نه درلود څه ورسیږی زبیر ته ... د
ورځې به د خدای د وچ زوره له کور راوتلم او دوکان ته
به راتلم که محمد او اقرا نه وایې نو زړه مې غوښت
بیرته همغه کور ته لاړشم او دا ځل خپل ناتمام کار تمام
کړم..

دومره مې روحي حالت خراب وو چې د ځان د لیدو
حوصله مې لا نه درلود څه ورسېږي چې وغواړم د زبیر
یا د کوم بل چا پوښتنه وکړم چی فلانکی چیرته دی؟
او څنګه دی؟ په همغه ګډوډ فکرونو کې مې دوکان بند
کړو او په موټر سایکل کښیناستم لا روښانه کړی می نه
وو چې یو چا مې پر اوږه لاس کیخود مخ مې چې
وروګرځو نو زبیر مې ولید په خفه خو عین حال کې

غوسه ناک نظر باندی راوکتل او ویې ویل: ډېر نمک حرام انسان یې طاها ..!

بغیر د څه ویلو په کامل چوپتیا کې ورته زیر وم، په ځان کې مې دومره انرژی نه احساس کول چې وغواړم د زبیر سره دی خبره یو پر دوه کړم که رښتیا ووایم یو رقم بی احساس شوی وم د ټولو موضوعاتو په وړاندی نور راته د پخوا پشان مهم نه وه چې څوک څه حال کیدی؟ یا څوک زما په اړه څه فکر کوی؟ خپل پوهیدم چې دا حالت مې طبیعي نه دی او روحي،رواني مرض می پیدا کړی خو هېڅ کار می نشو کولای خپل ځان مې د دی حالت څخه نشو راویستلې، زبیر چی زما چوپتیا ولیدل نو په حیرانتیا یې وویل:

زبیر- باور می نه کیږی چې دا دی ته اوسیږی طاها ...! ته دومره بې احساس نه وی، فکر کوم په دا دوه هفتو کې یو چا بدل کړی یې ... اصل طاها یې وړی او د هغه لځایه ته ... ته لیونې طاها یې راوړی یې پر تا څه

شوی؟ ولی داسی کارونه کوی؟ پوهیږی دا دوه هفتي کیږی ما ستا غږ لا نه دې اوریدلې یوازی کله چی کوم مشتری راشی نو ستا یو دوه خبری اورم کنه د هغه بغیر ته په ټول ورځ کې زما سره یوه خبره نکوی په تا اخر څه شوی؟ ما ته ووایه زه مګر ستا ملګری نه یم؟ مګر موږ دواړو تل یو د بل سره خپل ستونزی نه شریک کول؟ ها؟

- حوصله نلرم زبیر.

زما په دی ځواب د زبیر حوصله هم لکه چې خلاصه شوه ځکه په غوسه یې زما ګریوان ونیو او ویې ویل: څـه مرګ پر تا شوی ها؟ دا دوه هفتو کې څه غول دی خوړلې چې حالت دی دا رقم شوی؟ ما ته ووایه څه درباندی شوی؟ ولې د ټول کسانو څخه په تښته یې؟ پوهېږی دا درې ورځې کیږی ذوالفقار او ورور دی بار،بار ستا لیدو ته راځې خو تا په زر بهانو د خبرو کولو څخه انکار کړې ته فکر کوی زه خر یم او دا شیانو

ته مې فکر نه دی شوی؟ لکه انسان پشان راته ووایه څه مرګ درباندی شوی؟ ک... که معتاد شوی یې راته ووایه پخدا نه دی وهم، نه هم درته کنځل کوم یوازی ورېم دی ډاکتر ته تر څو علاج دی وکړی ..

د هفتو وروسته نری مسکا مې پر شونډو راغله زبیر فکر کړی وو زه معتاد شوی یم؟!
زما د همغه لږ خندا په لیدو زبیر لږ هیله مند شو زما ګریوان خوشی کړو او دا ځل په کراره یې وویل: راځه د دوه ملګرو پشان کرار کښینو او خبری وکړو سمده؟ د پخوا پشان کله چې دی کوم ستونزه درلود نو ما ته دی ویل اوس هم راځه ما ته ووایه سمده طاها؟ وایې راته چې څه مشکل لری؟ او ولې داسي شوی یې؟ ها طاها؟

په چوپ نظر مې د هغه خوا ته وکتل نه پوهېدم ایا دا خبری کول به د زبیر لپاره صحیح وی او کنه؟ خو د هفتو وروسته زړه مې غوښت یو نفر ته خپل د زړه خبری وکړم او خپل درد د یو چا سره شریک کړم، زبیر

چې زما سترګو کې د راضیت نښې نښانې ولیدې نو په تلوار یې زما د موټرسایکل کیلي زما له لاسه واخیسته او په همغه تلوار یې د دوکان دروازه خلاصه کړه، د هغه وروسته یې زما لاس ونیو او دواړه دوکان ته ننوتلو دوکان ته د ننوتلو وروسته خپل د کار څخه پښیمان شوم.

فکر مې کاوه خپل د منحوس ژوند د بیان کولو وروسته شاید زبیر زما څخه بد راشي! او شاید ما یوازې پریږدی او زموږ ملګرتیا خلاصه کړی! نه پوهېږم ولې خو ټول بدن مې منفي فکرونو ونیو زما زړه کې وېره ننوتلې وه او ما نغوښتل خپل د ژوند یو بل ګران کس هم له لاسه ورکړم، خو زبیر په داسي مهارت خبری کول پیل کړل چې د هفتو وروسته زما د ژبې قفل مات شو او باور مې نه راتلو خو د نیم ساعت په موده کې خپل د ژوند د هغه بدترینه رازونو څخه مې پرده پورته کړل کوم چې دا دوه هفتې زما روح او احساسات لمینځه وړی وه.

په یو ساه کله په ژړا کله د لیونیانو پشان پخندا او کله ناکله د مړ جسد پشان په بې احساس توګه مې د الف څخه تر یا ټول کیسه هغه ته وکړل، زما د هر خبرې په اوریدو د زبیر سترګي له حیرت څخه خلاصیدی، کله چې زما خبرې خلاص شول نو خپل سر مې په دوه لاسونو کې ونیو او ژړا ته مې شروع ورکړل،طبعیت مې هیڅ ښه نه وو د دی دردونکي حقیقت د ویلو وروسته فکر مې کاوه زړه مې غوارې قي ووهم سر مې راباندی ګنګس وو زبیر په تلوار خپل لځایه پاسید او زما خواته راغلو ..

زبیر- آرام اوسیږه طاها، غوارې لاړشو ډاکټر ته؟
په همغه بد حال مې کرار سر د "نه"پشان وخوځاوه چې زبیر زما ویښتیان کوم چې اوس ډیر شوی وه او زما په مخ راغلی وه زما د مخ څخه لرې کړل او په غمژن لهجه یې وویل: نو مه ژاړه... ستا ژړا زما عصاب خراب کوی ...

پوزه مې پورته کش کړل او کوښښ مې وکړو خپل ژړا راکنټرول کړم چې زبیر کرار وویل: د کوم خوا دومره ډاډمن یې چې هغه پیریانو درته ربښتیا ویلې؟
سر مې راپورته کړو او کرار مې وویل: هغوی دروغ نشې ویلې ډاډمن یم.
زبیر په پریشاني خپل ویښتیانو کې لاس تیر کړو او د دوکان منځ کې په ګرځید راګرځیدو شو د څو شیبو تلو راتلو وروسته ناساپه خپل ځای کې ودرید او په غوسه یې وویل: دا خبری دی ولې اول ما ته ونکړل؟ ولې دی دا دوه هفتې د ګونګی توب روژه نیولې وه؟

په شرم باندی مې سر ښکته واچو او ځواب مې ورنکړو چې زبیر رانږدی شو او ویې ویل: اوس څه اراده لری؟ غواړی همداسي دوام ورکړی او د ټولو څخه لیری شی؟ یا غواړی د ټولو څخه وپوښتي چې ولی تاته داسی دروغ ویلي؟ زه ډاډمن یم چې هغوی خپل د دی کار لپاره ضرور یو دلیل لری.
په غوسه مې د هغه لاس خپل د اوږی څخه لری کړو او

ومې ویل: ورک دی شې هغوی او د هغوی دلیلونه زه نغواړې د هغوی یو نفر غږ لا واورم دلیل اوریدل خو لرې.

زبیر- ذوالفقار ... تخو ذوالفقار د هغوی لیست کې نه حساب کوی کنه؟
چوپ شوم نه پوهیدم څه ځواب ورکړم ما دا دوه هفتو کې هغه هم لځان څخه لیری کړی و او په ناخوسته توګه ذهن مې هغه هم د بابا دوي په ډله کې ثبت کړې وو او هغه هم راته مجرم ښکاریدو که څه هم د زړه له تل پوهېدم چې ذوالفقار هم زما پشان ناخبره وو د دی خبرو څخه.

زبیر چې زما چوپ نظر ولید نو په ناباوره توګه پخندا شو او ویې ویل: دا بې انصافې ده طاها، زه سل سلن ډاډمن یم چې ذوالفقار هم ستا پشان ناخبره دی زما ومنه د دی لځایه چې ورڅخه وتښتی یو ځل کښینه او منطقي خبری ورسره وکړه که څه هم د دی خبرو یو

سر او بنیادی ارېخ د هغه د مور سره تړاو لری خو زه ډاډمن یم چې ذوالفقار به ستا طرف ونیسي که ته ویلې نشې نو زه به ورته ووایــ.

خبره مې ورپرې کړل او په تلوار مې وویل: نه... نه، هغه نه باید هېڅکله د دی خبرو څخه خبر شي هېڅکله ... هغه ته به هېڅ نه وایې زبیر پوه شئ؟ هېڅ ..
زبیر- ولې؟
- همدومره پوه شه چې پر ځینو دلایلو نغوارم هغه پوه شي.
زبیر په پوسخند وویل: عجیب ده! ته هم خپل د پلار او خپلوانو پشان کار کوی، هغوی هم په بعضي دلایلو تا ته رښتیا ونه ویل او ته هم پر بعضی دلایلو ذوالفقار ته نغواړې رښتیا ووایې، نو ستا او د هغوی فرق په څه کې دی؟ که یو ورځ ستا پشان ذوالفقار هم د یو چا له خولې په دی خبرو خبر شو بیا څه ځواب لری چې هغه ته یې ورکړې؟

- هغه هېڅکله په دی خبرو نه پوهېږي هېڅکله هم نه ..

زبیر- دومره په ډاډ څنګه دا خبره کولای شئ طاها؟ هــا؟ ذهن کېدی څه دی؟

- هېڅ نه دی زبیر، یوازی راته قول راکړه چې هېڅکله به دا خبری ذوالفقار ته نکوی.

زبیر- ولې؟ولې نغوارې هغه پوه شې؟

نور نو حوصله مې په خلاصیدو وه تقریبا په غوسه مې ورته وویل: ځکه نغوارم چې زما له لاسه یو ځل بیا د کوم چا ژوند خراب شې، زه او زما ژوند خو هسې هم منحوس دی نغوارم زما له لاسه د ذوالفقار ژوند هم خراب شې، ته پوهېږی په دی ټول نړۍ کې یوازینې کس چې ذوالفقار ته بیحد ارزښت درلود او حتا د مرګ څخه شل کاله وروسته هم ارزښت لری

او هر میاشت د هغې په یاد ذوالفقاز یو ځل ضرور د هغې هدېرې ته ورځې همدا مور یې ده، ته غوارې زه د هغه څخه د هغه دا اخیری امید هم واخلم؟ هغه زما

لپاره په کافی اندازه خپل ژوند قربانې کړی نور نغوارم زما له لاسه پعذاب کې اوسیږی نو غوښتنه درڅخه کوم دا خبره هیڅکله هغه ته مکوه.

زما د خبرو اوریدلو وروسته زبیر د څو شیبو لپاره خاموش شو د هغه وروسته یې کرار وویل: سمده خو په یو شرط؟
- د څه شرط؟
زبیر- که نغواړی ذوالفقار ته رښتیا خبره وکړی نو باید ظلم هم ورسره ونکړی د هغه سره آشتي وکړه او خپل د مجرمانو د لیست څخه یې وباسه ځکه خپل هم پوهیږي چې ذوالفقار په دی خبرو نه دی خبر همدا زما شرط دی.

-سمده خو د اوس لپاره نه.
زبیر- نو کله؟
- پریږده لږ وخت تیر شی په دی خبرو، ترڅو ذهن مې دا خبری هضم کړی د هغه وروسته ورسره خبری کوم

هسې هم هغه اوس فکر کوی زه د هغه څخه د هغه د
وهلو په پار مرور یم.

تر یو ساعت نور هم هملته کښیناستو او خبری مو وکړل، زبیر څو ځله ماته د یو عصابو ډاکټر ته د تلو مشوره راکړل او ډېر یې هم ټینګار درلود چې زه یو ارواپوه ته اړتیا لرم ما هم ورته په ظاهر سر خوځاوه خو زړه کې مې یو داسي پلان جوړ کړی وو چې په پلې کولو کې خپل هم زړه نا زړه وم خو بله چاره نه وه، د یو ساعت خبرو وروسته هر یو خپل د کور پخوا روان شو لاره کې د سړک څخه تېرېدم چې یو موټر مې څنګ ته ودرېد لومړۍ مې ورته کوم خاص توجه ونکړل تر دی چې یو نفر د موټر څخه راښکته شو او زما مخي ته یې یو کارت ونیو

د هغه په دی کار په حیرت مې وروکتل چې هغه کرار وویل: دا د امر صیب نمبر دی ویل یې موږ تر اوسه

خپل په خبره ولاړ یو که نظر دی بدل شو نو زنګ وواهه.

هغه سرې دا خبره وکړل او بیرته همغه کورلا ېول موټر ته پورته شو او په تلوار زما د څنګ تیر شو، د څو شیبو لپاره په حیرت کې وم خو وروسته مې ذهن فعال شو او پوه شوم چې دا کسان څوک وه او د چا نمبر یې راکړې؟ کارت مې لاس کې راوخیست لومړۍ مې غوښتل د همغه څو هفتو مخکې پشان بغیر د کوم کتلو یې لاندی ختا کړم خو اخیر شیبه کې مې نیت بدل شو او کارت مې جیب ته واچو، بغیر د کوم خاص فکر کولو څخه همداسی جیب ته مې واچو ذهن مې دومره ګډوډ چې بیخی مې دی موضوع ته فکر نشو کولای ...

د هغه ورځی وروسته چې زبیر ته مې هغه خبری کړې وه د هغه ټول فکر زما خواته شوی وو، ما به چی هر کار کوی زبیر به د نظر لاندی نیولی وم. داسی به یی د نظر لاندی نیولی وم لکه په استخبارتو کی یوچا ته کار

وسپارل شی چی دا سرې به د نظر لاندی نیسی چی چا سره ګوری؟ چاسره کینی؟ چاسره بوډې خوری؟ چا سره خبری کوی؟

زبیر هم همدسی زه د نظر لاندی نیولی وم او د هغه څخه بتر دا چې هر خبری کې کوښښ کاوه ما د یو اعصابو ډاکټر ته ویسي او ما هم کله ناکله په صبر او کله ناکله هم په غوسه ځواب ورکو او خپل ځان مې ورڅخه خلاص کاوه یوه بل هفته هم په همدی کش مکش کې تېره شوه، د غرمي وخت وو لګیا وم د یو بوډې سپین سری ښځې سره مې د کالو په سر چنه وهل، د هغې زړه غوښت دا کالې بیخې زه ورته مفت ورکړم! ځکه کوم بیه چې هغې یادول په هغه قیمت باندی ما ته فایده پاتې کیدل خو لری چې سل افغاني ما خپل د جیب پکې تاوان هم کاوه

خو بیا هم هغه نه وه راضې او لا هم چنې وهل نور نو کرار،کرار عصاب مې په خرابیدو وه چې د دوکان

دروازه وټکیدل لومړۍ مې فکر وکړو چې زبیر شاید اوسیږی خو کله چې کوم غږ مې وا نه ورید نو سر مې راپورته کړو، د مخامخ کس په لیدو د څو شیبې لپاره مې نفس سینه کې بند پاتي شو ..

دلته څه کوی؟ د دوکان د دروازی سره ولاړ وو تندی د تل پشان تروش وو، دوه سترګي ما ته نیولې وه د هغه په لیدو د ځان سره مې وویل دا کس دلته څه کوی؟ د دی کس څخه خو زه دا یو میاشت تقریبا په تیښته وم او نه مې غوښتل نور د عمر تر اخیره یې وګورم نو نن ولې زما و مخ ته ولاړ دی؟ زما د دوکان آدرس یې د کوم ځای کړی؟ د هغه د سلام پر غږ پر خود راغلم تندی مې بې اختیاره تروش شو ژر،ژر مې د بوډۍ ښځې کار ورخلاص کړو هغه کالۍ مې ورته همغسې مفت ورکړل بغیر  د کوم پیسو اخیستلو ...

خو بیا هم د تلو وخت کې د دعا کولو لځایه هغې کالۍ مخځ ته نیولې وه او لا هم ناراضه وه او ویل یې

خراب تیکه دی راکړی! که کوم بل وخت وایې ما د دی بوډۍ سره کار درلود خو بس افسوس چې غلط وخت کې راګیر شوی وم، د هغې د تلو وروسته مخ مې وګرځو او د دروغو لګیا شوم د دوکانو د شیانو په شمارلو، د هغه نږدی راتلل مې احساس کړل او د زړه درزا مې لا پسي زیاته شوه، نه مې غوښتل ورته وګورم اصلاً د څه لپاره راغلې؟

ځان سره مې ویل شاید د کوم څه د اخیستلو لپاره راغلی اوسیږی؟ شاید د غلطي څخه دیخوا راغلې اوسیږی؟ په دی فکرونو خپل زړه ته مې دلداری ورکړل او په بیحد کرار غږ مې وپوښتل: څه مو پکار دی؟ کوم مرسته کولای شم؟
د دی خبری وروسته د ځواب اوریدلو په تمه وم خو کله چې کوم ځواب مې وا نه ورید نو سر مې پورته کړو او د سترګو له کونج مې وروکتل زما د نظر په لیدو د تل پشان تندی تروش کړو او په غوسه یې وویل: زما سلام ځواب نه درلود؟

د هغه په دی خبره مې حیرت ونکړو د بابا عادت وو د ماشومتوب څخه یې بار،بار زه په دی وهلې وم چې مشرانو ته سلام اچوه او که چا درباندی سلام واچو که دښمن دی هم وو نو د سلام ځواب ورکوه، خو حیران دی خبری ته وم چې د دومره وخت وروسته د څه لپاره زما دوکان ته راغلې؟ هغه هم داسي حال کې چې دا یو میاشت نه مې د هغه او نه د طاهر او ذوالفقار د زنګ او خبرو ځواب ورکړی وو او په نامحسوس توګه د ټول خپل، خپلوانو او بلخصوص د ده څخه په تیښته وم ...

او که کوم ځای کې مې له غلطي څخه هم کوم خپل او خپلوان لیدلې وایې نو د هغه ځای د یو سلواتیا متری څخه لیری کیدلم، کوښښ مې وکړو ځان عادی وښایم یو ژوره ساه مې واخیسته، نه مې غوښتل کوم جنګ او جګړه ورسره وکړم نو ځکه کرار مې وویل: علیک سلام کوم امر خدمت؟ څه مرسته کولای شم ستاسو سره؟

زما په دی رقم رسمي د کار په لهجه باندی بابا په حیرت خپل یو وریځه پورته واچول او یو دوه ګام نور هم زما خواته رانږدی شو دومره چی زموږ فاصله او واټڼ یوازی یو میز وو.

بابا- اوممم امر خدمت؟
- هو مهرباني.

بابا ځو شیبې بغیر د څه ویلو په چوپتیا کې راوکتل، کله چې زما بې تفاوت نظر یې ولیدل نو خپل تسبیح راوخیستل او شاوخوا دوکان یې د نظر څخه تېر کړو او کرار یې وویل: د طاهر د موبایل ځواب نه ورکوی، ذوالفقار ته چې زنګ وهم او ستا پوښتنه ورڅخه کوم نو وایې کوم خبر ورڅخه نلرم خپل خو هم د خدای په فضل دومره انسانیت نلری چې یو زنګ ووهې.

زما خواته یې نیم نظر راوچو او په تروش تندی خپل خبرو ته دوام ورکړو: دا دوه هفتي کېږی چې مور دی ناروغه ده.

د ادی د ناروغتیا د خبرو په اوریدو بې اختیار خپل د هغه بې تفاوت حالت څخه راووتلم او په اندیښنی مې وپوښتل: څه شوی ورباندی؟ همدا څو هفتې مخکې لا ښه وه.

بابا په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: تا څومره د هغې د حال پوښتنه وکړل چې دې نتیجې ته ورسېدی چې ښه وه؟؟

د شرم څخه مې سر ښکته واچو، په دی خبره کې حق د بابا سره وو ما هېڅکله دومره د ادی پوښتنه نه وه کړی چې پوه شم ښه ده او کنه؟ کال کې یو ځل لیدنې ته یئ ورتلم که طبعیت یې خراب هم وایې نو زما لپاره یې ځان ښه خودو او زه دومره جاهل وم چې باور مې کاوه چې ښه ده!

بابا- دا څو کاله کیږی طبعیت یې چندان ښه نه دی خو دا دوه هفتې بیخې حالت خراب شوی او دا څو ورځې هسې ستا د لیدو بهانې کوی او هر دقه یې ژړا شروع

ده(بابا نیم نظر زما خواته واچو او ویې ویل: که زما لپاره نه راځې حدقل خپل د مور د زړه لپاره راشه، په ژوند باندی باور نشته.

د بابا په دې خبره ورخطا شوم او ومې پوښتل: ډاکټر ته مو وړی؟
بابا- هو.
- څ.. څه یې ویل؟ ناروغی څه ده؟
بابا خپل تسبیح لاس کې واړول او کرار یې وویل: لومړۍ کې چندان سم ځواب نه راکو او ویل یې د ملا ستونزه لری، هډوکې کمزوری شوی او زر نور بیځایه خبری وکړل خو هغه بل هفته چې د طاهر سره تللې وه یو بل ډاکټر ته نو هغه ورته ویلې وه چې روماتیزم لری.
په حیرت مې وویل: څـــه؟

بابا- د هډوکو روماتیزم لری ډاکترانو د اوبو څخه په کامل توګه منع کړی ویل یې که پام ونکړی ستونزه یې

زياتيږي.

بد احساس مې درلود له دی چې د ادی د حال پوښتنه مې دا یو میاشت نه وه کړې، له دی چې مریضه وه او زه نه وم خبر، دا یو میاشت تر یو حد ځینې کسان مې خپل زړه کې بخښلې وه او یو د هغه کسانو څخه ادی وه! البته باید داسې ووایم چې دا یو میاشت کې ځان مې بخښلې وو نه ادی، ځکه ادی کوم ګناه نه وه کړې چې زه وغواړم ویې بخښم برعکس هغې پر ما دومره احسانات درلودل چې ما بیان نشو کولای

هغې د یو اصلې،ټکنې مور څخه ډېر زما خیال ساتلې وو، منم شاید هغې زه نه وم زیږولې خو د دی خبری څخه انکار نشم کولای چې زه یې خپل د رښتینې اولاد پشان غټ کړی وم او مینه یې راکړې وه، ما څنګه هغه لیاده وویستل؟ څنګه د هغې دا دومره محبتونه او شفقتونه مې لیاده وویستل؟

نه پوهېږم ولې خو يو احساس مې ويل چې ادی روماتيزم نلری! زه د روماتيزم مرض څخه څه ناڅه خبر وم پوهېدم چې څنګه درد لری خو ادی ما دا څو کلونو کې دومره بيحد پعذاب کې نه وه ليدلې، منم شايد زما څخه يې پټ کړی اوسيږی خپل حالت خو بيا هم که دا ستونزه يې درلود خبر کيدلم هغې يوازی کله ناکله خپل د ملا د درد ويل او د هغه په دليل موږ ټول پوهيدلو ناساپه مې غوسه راغلل او مخامخ د بابا خواته مې وکتل خو هغه بغير له دی چې زما غوسه ناک نظر ته پام وکړی لګيا وو د دوکان شاوخوا يې کتل د هغې د ملا درد د همدی سړی له سبب وو.

لياده مې نه دې وتلې هغه کلونه چې په هسې خبره به يې زموږ مخکې ادی خپل د لغتو لاندې راونيول او دومره به يې ووهل چې موږ فکر کاوه نور لاړل نفس يې ووت، همغه کلونو کې بار،بار خپل د ملا د درد فرياد يې کړی وو بار،بار خپل د هډوکو د درد فرياد کړی وو خو ما هېڅکله جدی نه وو نيولې، ما هغه وختونه نه د

ادی خوا نیول او نه مې هم بابا منع کاوه، فکر مې کاوه چې د ښځې او خاوند تر منځ یو ساده جګړه ده او خپل به ښه شي او ښه کیدل بابا به چې کله ښه خپل زړه د ادی پر وهلو تش کړو نو د هغه وروسته به تر څو هفتو ښه وو ..

خو اوس چې فکر کوم د هغوی جنګ او وهل د ښځې او خاوند ترمنځ د یو ساده جنګ پشان نه وه، بابا ظالم وو چې د ځان د ارم کولو لپاره یې ادی وهل او زه څومره بیعقل وم چې هېڅکله د بابا مخه مې ونه نیول، البته غټ ترینه دلیل یې پخپل ادی وه، چې اجازه یې نه راکول او تل به یې ویل: دا زما او ستا د پلار ترمنځ موضوع ده تاسو پکې کار مه لری.

اه زما موری ته ولی دومره صبرناکه وی؟ څنګه تر دی حد ښه اوسیدلې شی؟ څنګه هغه سړی چې ته یې د یو بل ښځې د میني پخاطر یو ماشوم په غېږ کې پریخودلې وی بخښلې شې؟ او څنګه د همغه ښځې

ماشوم خپل د اولاد پشان غبږ کولای شي؟ څنګه؟ څنګه دی وکولای شول بابا د دومره لوی دوکې او خیانت وروسته و بخښي؟ څنګه دی وکولای شول دا دومره کلونه د هغه سره اوسیږی او د هغه ظلمونه وزغمي؟

حیران وم د ادی دومره زغم او صبر ته حیران وم، فکر مې کاوه د هغې حد کې زما څخه لا ډیر ظلم شوی خو هغې د مجبوریت څخه غږ نه دی پورته کړی، هو ... مجبوریت ادی مجبوره وه، ضرور د مجبوریت څخه یې څه نه دی ویلې کنه د داسی سړی سره اوسېدل چې ستا امیدونه یې خاوری کړی وی لیونتوب دی، خپل په فکرونو کې غرق وم اراده مې درلود د ادی سره خبری وکړم او هغه راضی کړم ترڅو زما سره راشي، شاید احمقانه کار په نظر راتلو خو ما اراده درلود ادی لځان سره ویسم، نور مې نغوښتل چې ادی دی د مجبوریت څخه د داسی سړی سره ژوند وکړی

چې یو وخت یې د هغې ټول امیدونه،ځوانې او هیلۍ خاوری کړی وه

شاید هغه وخت بې کسه وه، مجبوره وه کوم ځای د تلو لپاره نه درلود د خلکو د خبرو او پیغورنو څخه ډارېدل خو اوس ... اوس زه یم ما ورڅخه ساتنه کولای شول د هغې د ټول محبتونو او مهربانیانو په بدل کې مې کولای شول ورته ټول عمر نوکری وکړم او حق یې ادا کړم نور مې اجازه نه ورکول چې بابا دی وربانډی ظلم وکړی په دی فکر مخامخ د بابا خواته مې وکتل او په کلک لهجه مې وویل: راځم.

زما په غږ بابا د شاوخوا کتلو څخه نظر واخیست او ما ته یې راوکتل چې دا ځل په تنده لهجه مې وویل:
راځم نن ماښام د ادی لیدلو ته راځم ...

چوپ شوم او ومې نه ویل چې راځم او هغه لځان سره ورم، غوښتل مې لومړۍ د ادی سره خبری وکړم د هغه وروسته د بابا سره د یو لوی جنګ تیاری ونیسم

بابا که هرڅومره د ادی څخه بد راتلل او وهل يې خو داسې په آسان باندی خدای خبر د ادی د ورېلو اجازه راکړی، زما په تنده لهجه بابا په حيرت راوکتل او د هغه وروسته يې کرار وويل: ښه خبره ده، نو شپې ته موږ درته په تمه يو.

د بابا د تلو وروسته لس دقې په ډېر زحمت باندی دوکان کې کښيناستم خو همدا چې زبير راغلو نو بغير د څه ويلو په تلوار د دوکان ووتلم، غوښتل مې کور ته لاړ شم غوښتل مې نن خپل د ژوند يو لوی فيصله وکړم که څه هم دا يو مياشت پکې زړه نا زړه وم خو اوس د ادی لپاره سل په سل خپل په پريکړه کې ډاډمن وم، کور ته چې ورسېدم نو زما په ليدو اقرا حيرت وکړو! ځکه زه هېڅکله د غرمې په وخت کور ته نه راتلم غوښتل يې زما د داسې ناساپه راتګ څخه وپوښتي خو د دی يو مياشت په ياد راوړلو چې ما ورسره خبری نکول او نه مې هم د هغې د خبرو

صحیح څواب ورکو نو د اوښکو څخه په ډک نظر یې یوازې راوکتل او چوپه پاتې شول.

د هغې د داسې حال په لیدو کې ووایم زړه مې په درد راغلو نو دروغ به مې نه وی ویلې، زما په نظر دا یو میاشت کې ډنګره شوی وه رنګ یې تل ژیړ وو او ډوډۍ هم سم نه خوړل د هغې د دی حال په لیدو له ستونې څخه مې بې اختیاره "اه" ووتل ځان سره مې وویل نو ستا او د بابا فرق په څه کې شو؟ هغه ستا مور پعذابول او تا هم خپل ښځه پعذاب کړل، ځان راته د بابا پشان ظالم ښکاریدو په کرار د اقرا خوا ته نږدی شوم او کوښښ مې وکړو لهجه مې نرم او محبت ناکه اوسیږی ما نن اراده کړې وه چې خپل ژوند ته یو نوی شانس ورکړم او د هغه شانس ورکولو لومړۍ ګام اقرار ته شانس ورکول وه ..

- سلام.

زما د سلام په غږ د اقرا سترګې لا د اوښکو څخه ډکې

شول او داسي حال کې چې لګیا وه کالۍ په تار اچول
په نیولې غږ یې وویل: ع... علیک ...س.لام.

د هغې د داسې لړزانه او ژړېدونکې غږ په اوریدو په
ځان مې لعنت وویلو ما ځنګه یو میاشت وکولای شول
د هغې سره داسې کار وکړم؟ ځنګه مې دومره عذاب
ورکړو خپل په کارونو؟
- ځنګه یې؟
اقرا بیا بغیر له دی چې ما ته وګوری په همغه لړزانه
لهجه یې وویل: ښ..ښه یم.
- محمد چیرته دی؟
اقرا- ویده دی.
- اهوم.

نه پوهېدم نور څه ووایم؟د هغې ځوابونه داسې وه
لکه چې د خبرو کولو حوصله نلری یا شاید زما حوصله
یې نه درلود؟

- څه دی پخ کړی غرمې ته؟

اقرا- هېڅ ..

- هېڅ؟

اقرا- ه .. هغه ما فکر نه کوو چې ته به راشې نو ځکه دیګ مې نه دی پوخ کړي.

- اوممم مطلب که زه ونه اوسیږم نو تاسو دیګ نه پخوي؟

اقرا- نه .. هغه پخوي خو ځکه چې دوه نفر یې نو سپک شئ پخو.

- لکه څنګه سپک شئ؟

اقرا- چپس یا هم هګۍ.

- اهوم اوس دی پخ کړی؟

اقرا- نه، په تمه وم چې محمد راویښ شئ د هغه وروسته یې پاخه کړم.

- هګۍ کور کې لرو؟

اقرا- هو، که وږی یې زه یې درته همدا اوس پخوم.

- نه ضرورت نشته ته دی خپل کارو وکړه زه یې پخپل پخوم.

اقرا په تلوار کالۍ پر تار واچول او ویې ویل: نه .. نه زه یې اوس پخوم ته لاړ شه لاس او مخ دی ومینځه زه ډوډۍ تیاروم.
- نه ته خپل کار وکړه زه یې پخپل پخوم.

اقرا غوښتل بیا مخالفت وکړي خو ما اجازه ورنکړل کور ته ننوتلم او لګیا شوم ترڅو یو څو دانۍ هګۍ پخې کړم، هغې چې هم ولیدل ما نشې منع کولای نو نور څه یې ونه ویل او خپل پکار اخته شول، ما اصل کې غوښتل د دی کار په کولو لړ د هغې مرورتیا لمینځه ویسم او خبری ورسره وکړم او ښه وو پلان مې ښه کار وکړو کله چې هګۍ مې پخې کړل او د اقرا مخې ته مې کیخودل او یو دوه بیځایه خپل د آشپزی د هنرونو تعریف مې ورته وکړو نو د هغې پر شونډو مسکا راغله او خبری کول یې پیل کړل.

د اقرا راضي کول همدومره آسان وه، کوم کسان چې وایې ښځې فلان دی او بستان دی او هېڅکله یې سرېی نشې درک کولای دا ټول دروغ دی، ښځې بیحد ژر رام کیدونکې مخلوق دی یوازی ورته مینه ورکړه او احترام یې وساته بس، همدا دوه کاره وکړه نور بیا ته وګوره چې هغوی ستا لپاره کوم، کوم کارونه کوی، د ډوډۍ خوړلو وخت کې یو دوه ګولې ډوډۍ مې د هغې خواته ونیول او زما په دی کار هغه د شرم تکه سره شوه د هغې په داسې شرمیدو زما خندا راغله ..

د هګې رومیان یو څه سوځېدلې وه خو دا چې همغه سوځیدلې هګۍ اقرا داسي په شوق خوړل او خندل یې نو ما فکر کاوه کوم آشپز طلایی یم او باید د آشپزی کوم مسابقه کې ګډون وکړم، د اقرا خوشحاله حالت پر ما هم اغیزه وکړل او د یو میاشت وروسته بغیر د کوم بیځایه فکر کولو څخه په کرار فضا کې مې ډوډۍ وخوړل؟ د ډوډۍ خوړولو وروسته اقرا چای دم کړو او ما تر هغه وخت مونځ وکړو، د لمانځه خلاصیدو

وروسته تازه مې غوښتل څانته یو پیاله چای واچوم چې محمد راویښ شو.

زما په لیدو هغه هم حیران شو خو تعجب یې یوازې یو دقه وخت ونیو د هغه وروسته یې د خوشحالۍ چغي پورته شول او زما خواته په ځغاستو شو خو ما ته د راتلو مخکې اقرا په غیږ کې واخیست، چې په دی کار دا ځل د محمد د ناخوښۍ چغه پورته شول د هغه د دی کارونو په لیدو ما پخندا اقرا ته وویل: پریږده ما ته راشې ولې دی واخیست؟

اقرا- لاس او مخ یې غوارم ومینځم.
- اوبه خو څه تښتې نه یو څو دقې وروسته یې ومینځه، اوس یې ما ته راکړه.
په تمه وم چې اقرا محمد راکړی خو هغې د دی لځایه چې ماته محمد راکړی د کوټې د دروازی خواته روانه شوه او همغه حال کې وویل: ته هم چیرته تښتې نه! یو څو شیبی صبر وکړه.

د هغې په داسی ځواب سترګي مې له حیرت خلاص پاتي شوی خو وروسته مې خندا راغله، هغې په دی ځواب راکولو وښودل چې لا کامل اشتی نه ده کړی او خفه ده! که رښتیا ووایم ځواب یې پر ما ډېر خوږ ولګید که څه هم پکې طعنه وه. د څو دقو وروسته بیرته کوټې ته راغله او د هغه وروسته یې اجازه راکړل محمد غیږ کې واخلم خو بیرته ژر یې زما څخه واخیست او ویل یې ډوډۍ ورکوم.

هغې محمد ته ډوډۍ ورکول چې ما کرار وویل: دا رنګ دی ولې داسې ژیړ دی؟
اقرا بغیر له دی چې د محمد څخه نظر واخلې ویې ویل: درته مهم دی زما حال؟
- اومم کله چې پوښتنه کوم نو مطلب راته مهم دی مریضه یې؟
اقرا- نه.
- نه مې خوښېږی چې خپل حالت او خبری زما څخه پټ کړی.

اقرا د یو شیبې لپاره نظر د محمد څخه واخیست او زما خواته یې رواکتل بیا په همغه مروره لهجه یې وویل: شاید ته یې د اوریدلو حوصله نلرې نو ځکه نه درته وایم.

د هغې داسې مرورې لهجې ته مې مسکا پرشونډو راغلل او ومې ویل: زه تل ستا د خبرو د اوریدلو توان او حوصله لرم، ته دا راته ووایه چې ایا ته حوصله لرې چې زما خبرې واورې او کنه؟
اقرا محمد ته د ډوډۍ خوړولو څخه لاس واخیست او په حیرت یې وویل: زه؟
- هو، ته ... ایا ته حوصله لرې زما خبرې واورې؟
اقرا په ناراضه لهجه وویل: ته ما خپل د خبرو لایقه نه حسابوې، کنه زه خو تل ستا د خبرو حوصله لرم.

- یعنې اوس که درته خپل د دې یو میاشت د بد حالت دلیل ووایم نو ایا زما خبرې اورې؟ او زما غوښتنه منې؟

زما په داسې مشکوک لهجه باندی اقرا لږ ورخطا شوه
او ویې ویل: ته ولې نن داسې خبری کوی طاها؟ څه
شوی؟ دا یو میاشت څه پیښ شوی وه چې ستا
طبعیت یې دومره خراب کړی وو؟

- ته ما ته لومړۍ دا ووایه چې ایا زما خبری اوری او
کنه؟

اقرا- هو .. هو اورم خو داسی خبری مکوه، زه ستا په
دا بډول خبرو کولو باندی ورخطا کیږم څه شوی؟

- مه ورخطا کیږه هغه ...

څو شیبې چوپ شوم نه پوهېدم خبره د کوم خوا پیل
کړم، زما په چوپ کیدو اقرا لا ورخطا شوه چې ما ژر
وویل: ډول کیسه درته اوس نشم کولای خو یوازی
دومره درته ویلې شم چې خپل د خپلوان او ستا د
خپلوانو او بلخصوص ستا او خپل د پلار سره په یو
خبره باندی مې لانجه راغلې هغه هم کوم کوچنې

لانجه نه  ... سم کلک د زړه له تل لانجه راغلې، نو ځکه غوارم د دی ځای لاړ شم ...

خپل د خبرو دې ځای کې مې د اقرا سترګو ته وکتل غوښتل مې د هغې ریکشن خپل د خبرو په اړه معلوم کړم، کله چې ومې ویل ستا د پلار سره مې لانجه راغلې نو سترګي له حیرت خلاص پاتي شوی غوښتل څه ووایې خو ما اجازه ورنکړل او ومې ویل: غوارم د دوی ټولو څخه یو لیری ځای لاړ شم ... نور نغوارم هېڅوک وګورم ... ایا کولای شې زما لپاره خپل کورنۍ،مور، پلار او خویندی پریږدی؟ ایا زما سره راتګ ته چمتو یې؟

***

تېز باران ورېده زما نظر د موټر د هینداری څخه د اقرا خواته وو،د غرمې څخه چې
هغه خبری مې ورته وکړل او ورته ومې ویل چې
غوارم بل کور ونیسم او ادی خپل ځان سره راوړم، او

ته خپل مور او پلار پرېښوده او زما سره راغلې نو زما د ټولو خبرو وړاندې چوپ وه، هېڅ یې نه ویل نه یې د "هو" ځواب راکړو او نه هم د "نه" دا کار یې زما فکر ته زر خبرې راوړل، د اقرا دا چوپتیا زه ډارولم فکر مې کاوه زما لځایه به خپل کورنۍ ته ارزښت ورکړې او ما به پرېږدې او هغوی ته به لاړه شې، شاید احمقانه فکر ښکاریدو خو ما همداسې فکر کاوه او دا فکر مې زړه په درد راوړلو، د زړه له تل مې "اه" وکښل او نظر مې ورځخه واخیست .

مخامخ ته په کتو شوم د باران ورېدو له سبب موټر سایکل مې کور کې پرېخودلې و او موټر مې د بابا تر کوره کرایه کړی وو، نه پوهېدم هلته په تلو به څه شئ به مې په تمه وي؟ او د ادی ځواب به راته څه وي؟ خو دومره پوهېدم چې زه باید خپل ټول کوښښ وکړم او ادی د هغه کور څخه راوباسم بس همدا زما یوازیني مقصد وو، همدا چې ادی لځان سره د هغه کور راوړم نو له دی ځای داسي چې هېڅوک خبر نشې تلم،داسې

ځای ته تلم چې هېڅچا ته یې آدرس معلوم نه وی،کور
مې څو ورځې مخکې کرایه کړې وو یوازی شیان وړل
یې پاتي وه د هغه کور آدرس حتا د زبیر سره لا نه وو.

په دی فکرونو مې زړه په درد راغلو هغه کور ته د تلو
وروسته ما د زبیر سره هم خپل تګ راتګ بند
کاوه،شاید ظالمانه پریکړه وه خو پوهېدم که زبیر ته
خبر ورکړم هغه ذوالفقار ته وایې او ذوالفقار هم بابا ته
او خلاصه چې ټول خلک خبرېږی چې زه چیرته یم؟ نو
ځکه هیچا ته مې نه وه ویلې او په پټه لګیا وم ترڅو
خپل کډه بار کړم، ما یوازی د اقرا تایید غوښت او
پوهېدم چې هغه دومره په آسانې نه راضي کیږی خپل
پوهېدم چې د هغې حق کې ظلم کوم، که هرڅومره
ځان سره ووایم چې د هغې پلار او مور ملامت دی او
ما ته یې دروغ ویلې خو بیا هم د اقرا حق دا نه دی
چې په دی ډول یې له کورنۍ څخه جلا کړم ..

البته ما هم داسي کوم اراده نه درلود ما یوازی غوښتل
د یو څو میاشتو لپاره د ټولو څخه بیخبر اوسیږم د
هغه وروسته مې اقرا ته اجازه ورکول چې خپل د پلار
کور ته لاړ شي خو خپل د خپلوان، بلخصوص د بابا
سره مې نور هېڅکله هم آشتي نکول هېڅکه ... په
همدی فکرونو کې د بابا کور ته ورسیدو لومړۍ څیز
مې چې په نظر راغلو هغه د ذوالفقار موټر وو چې په
کوڅه کې ولاړ وو، د هغه د موټر په لیدو هم خوشحاله
شوم او هم خفه، خوشحاله په دی شوم چې د تلو
مخکې د اخر ځل لپاره دا شانس مې درلود چې د
ذوالفقار سره لیدنه وکړم او خفه پر دی شوم چې څنګه
د یو میاشت وروسته د هغه سره مخامخ شم؟ او د
هغه څخه بتر دا چې څنګه هغه داسی بیخبر پریږدم او
لاړ شم؟

که داسې ناساپه لاړشم نو هغه به څه وکړی؟ څه فکر
به زما په اړه وکړی؟ تازه خپل د فکرونو بد خای ته
رسېدم چې د موټروان په غږ په خود راغلم، د موټروان

پيسي مې ورکړل او د موټر ښکته شوم د اقرا د غيږې څخه مې محمد راوخيست، باران تيز وو نو مجبور شوم محمد خپل د پټو لاندی ونيسم او د بابا د کور خواته قدمونه چابک کړم بغير د دروازی ټکولو کور ته ننوتلم اقرا هم په تلوار زما پسی راروانه وه کور ته په ننوتلو محمد په چغو شو ترڅو پټو يې له مخې لرې کړم ما لا پټو د هغه له مخه نه و ليری کړی چې د هغه په چغو مروه زموږ خواته راغلل او زموږ په ليدو يې مخ د خوشحالۍ څخه وپرقيده.

د هغې په ليدو د لومړۍ ځل لپاره غمژن شوم، ما حسنا او مروه يو دم لياده ويستلې وه د دوی په موجوديت کې خدای خبر ادی زما سره د راتلو لپاره زړه ښه کړی وايې، که ما غوښتل ادی ويسم نو مجبور دا دواړه مې هم وړی وايې د دوی دواړو وړل او ساتل زما لپاره کوم ستونزمنه خبره نه وه برعکس خوشحاليدم، خو بابا خدای خبر داسی اجازه راکړی وايې دومره مې فکر دی موضوع ته خراب شو چې د مروه د سلام ځواب مې لا

ورنکړې شو، دهلیز ته په ننوتلو نظر مې لومړی په ذوالقرنین کاکا ولګید چې د بابا څنګ ته ناست وو او د هغه وروسته په ذوالفقار او طاهر چې یو څه واټن کې یو دبل سره ناست وه.

په کرار غږ مې سلام واچو او اقرا ته چې زما شاته ولاړه وه لاره مې پریخودل ترڅو د مروه سره د ښځو د کوټې خواته لاړه شي، زما د سلام ځواب ټولو زما پشان کرار راکړو بغیر د ذوالفقار څخه چې یوازې په تروش تندی راوکتل طاهر په خوشحالۍ لځایه پاسیدو او ما ته یې د ذوالفقار څنګ ته د کښیناستلو وویل خو ما انکار وکړو او د ادی پوښتنه مې وکړل غوښتل مې لومړی هغه ووینم طاهر چې هم زما خبره واوریدل نو بغیر د کوم څه ویلو یې لاس د هغه کوټې خواته ونیو کوم کې چې ښځې ناستي وه.

یو نظر مې هغه خواته واچو او بیا مې د طاهر خوا ته وکتل او تازه مې سر خلاص شو او "اه" مې له سینې

ووت ما هلته د دومره کسانو مخکې څنګه د ادی سره خبری کړی وایې او هغه مې راضی کړی وایې چې زما سره راشې؟ لعنت دی وی زما په دی مردار او منحوس شانس لکه چې نن شپه د ادی سره د خبرو کولو مناسب وخت نه دی؟

په نه زړه د هغه کوټې خواته روان شوم خو کوټې ته د ننوتلو مخکې مې ستونې تازه کړو او د هغه وروسته کوټې ته ننوتلم،ذوالفقار خپل ښځه هم راوړی وه لومړې مې د هغې سره ستړی مشې وکړل د هغه وروسته د طاهر د ښځې سره او د هغه وروسته د ادی خواته لاړم چې په نالې ناسته وه او د اوښکو څخه په ډک نظر یې زما خواته راکتل، د سر د یو برخې ویښتیان یې کوم چې لږ د ټکری څخه راوتلې وه تک سپین شوی وه په سپین مخ باندی د کمزورتیا نښې نښانې له ورایه ښکاریدل، ایا ادی د دی څخه مخکې هم داسی وه یا نن زما په نظر دومره کمزوری او بوډۍ ښکاری؟

د لومړۍ ځل لپاره د هغې د څه ويلو مخکې زه ورنږدې شوم دواړه لاسونه مې ورځخه ښکل کړل او غېږ کې مې ونيول څو ځل د هغې د سر هغه برخه سپين ويښتيان کوم چې د ټيکرې څخه يې راوتلې وه ښکل مې کړل، زه د دې ښځې پوره وړې وم، دې پر ما دومره احسان درلود چې ما لفظ نه درلود د هغه د بيان لپاره، ادې زما په نظر د خدای يوه فرښته وه چې خدای د انسان په شکل باندې ما ته راستولې وه، ما خبرې کول نه وه زده بلخصوص داسې احساساتي شيبو کې خو نن مې د لومړۍ ځل لپاره غوښتل د ادې سره خبرې وکړم غوښتل مې هغې ته ووايم چې څومره راته ګرانه ده او څومره د هغې شتون ما ته د ژوندې اوسېدلو لپاره اميد راکوی، غوښتل مې ورته ووايم چې زه احسان فراموش نه يم او د هغې کړې احسانات نه هيروم.

خو دا خبرې مې د دومره کسانو مخکې نشو کولای، لکه چې هغوی هم زما حالت درک کړو چې د طاهر ښځه

پاسېدل او د دی خبری پر ویلو چې غوارې دیګ وګوری له کوټې ووتل او د هغه وروسته د ذوالفقار ښځه او بیا اقرا چې ویل یې د هغوی سره مرسته کوم د کوټې څخه ووتل. او زه څومره د هغوی د داسی شعور او درک لپاره مننډوی وم، کله چې ټول له کوټې ووتل او زه او ادی یوازی پاتې شو نو ادی زما خواته په اندیښنی راوکتل هغې لکه چې زما خراب حالت درک کړی وو چې داسی ورخطا وه او زه څومره د هغې د داسې اندیښمن نظر شرمندوی وم.

ادی- څه شوی بچي؟ ته ولې نن داسې بیقراره یې؟

- بیقرار نشم؟یعنې  ستاسو د دی حال په لیدو لیونۍ نشم؟
ادی په مهرباني باندی زما ویښتیانو کې لاس تېر کړو او ویې ویل: کوم څه نه دی شوی بچي زه ښه یم.

د ادی دی کار ته مې غوسه راغله له دی چې اوس یې هم د بابا خوا نیول او نه یې غوښتل د هغه بد ووایې،

له دی چې تراوسه یې کوښښ کاوه خپل ځان موړ ته ښه وښایي داسې حال کې چې هېڅ ښه نه وه.

- څه نه دی شوی ادی؟ تاسو خپل ځان ته وګوری د پاسپدلو نه یاست .. ما مه خطا باسې پوهېږم چې د بابا له لاسه داسې شوی یاست خو زه نور اجازه نه ورکوم چې داسې وکړی، زه خپل د هغه سره ستاسو د دی حال حسا ...(ادی زما پر خوله لاس کیخود او زما خبره یې بنده کړل.

ادی- نه بچې ستا پلار هېڅ نه دی کړی داسې مه وایه.

په غوسه مې د ادی لاس خپل له خولې څخه لری کړو او ومې ویل: نور د هغه خوا مه نیسه ادی بس دی، نور ضرورت نشته د هغه څخه و وېرېږې زه دلته یم ... زه دلته یم ترڅو تا لځان سره ویسم ته یوازی امر وکړه ته یوازی "هو" ووایه بیا وګوره چې څنګه دی له دی ځایه وړم.
ادی- داسی خبری مکوه.

- ولې ونکړم دا خبری؟ ها؟ ادی؟ ولی ونکړم؟ کلونه مخکې بیعقل وم،ساده وم،جاهل وم، نه مې شو کولای ستاسو ساتنه وکړم نو ځکه پریخودلې می واست چې بابا تاسو ووهې، تاسو ته عذاب درکړی خو د نن وروسته دا اجازه نه ورکوم د نن وروسته تاسو باندی د لاس پورته کولو مخکې باید بابا زما د مړ جسد څخه تېر شې نور بس دی.

ادی- داسې مه وایه طاها! خدای دی نکوی، منم شاید پخوا وختونو کې بابا دی پر ما لاس پورته کړی اوسیږی خو اوس دا څو کلونو کې هېڅکله یې داسی کوم کار نه دی کړی، زما مرضتیا د هغه له سبب نه ده بچي ته غلط پوه شوی یې زه روماتیـ..

د ادی خبره مې ورپری کړل او ومې ویل: تاسو داسی کوم مرضتیا نلری، دا هسې دروغ دی ستاسو د بدن او هډوکو درد ټول د بابا د هغه ظالمانه وهلو له سبب دی ضرورت نشته ما ته دروغ ووایست او د بابا خوا ونیسی(د هغې لړزانه، کمزوري لاسونه مې خپل لاسونو

کې ونیول ښکل مې کړل چې د هغې سترګي له اوښکو ډکې شول او ما وویل: ادی بس نه دی نور؟ دا دومره ظلم زغمل او معصوم اوسیدل بس نه دی؟ تاسو خپل ځوانۍ د دی سرې او د دی سرې د ماشومانو لپاره خاوری کړل ایا غوارې خپل هډوکوی هم د هغوی لپاره خاوری کړې؟

د ادی اوښکې له سترګو راوبهیدل چې ما په لاس ونیول او خپل خبرو ته مې دوام  ورکړو: ادی دا نړۍ کې د نیکی بدله په نیکی نه ورکول کیږي، بلکې د نیکې بدله په بدی ورکول کیږي ... که تاسو فکر کوی چې پر بابا که احسانات وکړې او د هغه هر خبره ومنې نو هغه به ستاسو سره مینه وکړې! نه هېڅکله هم نه هغه تاسو ته یوازې خپل د کور د ساتونکۍ او خپل د غوسې د سړولو د یو وسیلي په نظر ګورې نور بس ...

زما په خبرو د ادی ژړا لا پسې زیاته شوه، ما د هغې دا حال نه غوښت، ما نه غوښتل داسې خبری ورته وکړم

خو مجبور وم، ما باید هغه راضی کړی وایې تر څو زما سره راشې او بل لاره نه وه راسره بغیر له دی چې رښتیا ورته ووایم او د هغه دروغ خوب څخه په کوم کې چې ادی کلونه ویده وه راویښه یې کړم، ږد څو شیبو وروسته په تمه وم چې ادی شاید یو مثبت خبره وکړی خو هغې په کراره وویل: که ستا د پلار لپاره زما د ساتلو دلیل همدا دی کوم چې تا وویل نو زه په همدی باندی هم راضی یم.

د ادی په دی خبره زما سترګی د حیرت خلاص پاتې شوی، باور می نه راتلو چې ادی دی داسې ځواب راکړی اوسیږی، خو ادی په همغه کراره لهجه وویل: زه د پخوا زماني د ښځو څخه یم طاها ... زما د واده په ورځ زما مور او پلار زما غوږ کې یوازی یوه خبره کړی وه چې تر اوسه زما غږونو کې ګرځي، هغوی راته ویلې وه دی سړی سره چې ته واده کوی دا یوازی ستا خاوند نه دی ... بلکې دا ستا دین دی ... دا ستا ایمان دی ...

که دغه سړی غوښتل تا مړه کړی نو ته به د انکار لځایه په کراره دا اجازه ورکوی چې تا مړه کړی ..

ادی خپل د خبرو دی ځای کې زما د حیران نظر خوا ته راوکتل او خپل اخیری ټک یې ښه په کلک وکړو او ویې ویل: زموږ لپاره په سپین کالو کې د خاوند کور ته ننوتل او په سپین  کفن کې د هغه څخه راوتل د ایمان یوه برخه ښکاری، زه حاضر یم همدلته مړه شم خو خپل زامنو او لورګانو ته دا پیغور پرینږدم، چې سبا ورځ خلک ورته ووایې چې ته د هغه ښځې زوی یې چې خپل د میړه له کور څخه تللی وه ...

***

په ظاهره مجلس کې ناست وم او د ذوالقرنین کاکا خبرو ته چې د تجارت په اړه یې کول غوږ مې نیولې وو خو ټول فکر او ذکر مې د نیم ساعت مخکې د ادی د خبرو پسی وو، باور مې نه راتلو ادی دی داسې عقاید ولری او د هغه څخه بتر دا چې دومره خپل په هغه

خبرو کلکه اوسیږی چې حاضره وه دلته د بابا له لاسه مړه شې خو زما سره رانشې،تراوسه د ادی د خبرو په حیرت کې وم چې د ذوالفقار په غږ په خود راغلم.

ذوالفقار- موبایل دی ځان مړ کړو یا ځواب ورکړه یا بند یې کړه زما عصاب یې راخراب کړل.

د ذوالفقار په دی خبره ژر مې خپل موبایل ته لاس کړو او د وبخښې پر ویلو لځایه پاسېدم څو قدم چې د هغوې څخه لیری شوم نو ځواب مې ورکړو خو د هغه خوا څخه مې هېڅ ځواب وا نه ورید، یو دوه ځل مې الو،الو کړل خو کله چې ځواب رانغلو موبایل مې راښکته کړو د موبایل نمبر ته مې وکتل ناشنا وو بیا مې غوږ ته کړو او الو مې وویل خو بیا هم کوم ځواب رانغلو، غوښتل مې بند یې کړم چې اخیری وخت کې مې احساس کړو د کوم ښځې د ژړا غږ راغې؟

بیرته په تلوار مې موبایل غوږ ته نږدی کړو خو د څه ویلو مخکې دا ځل موبایل بند شو په حیرت مې

موبایل راښکته کړو، یو ځل بیا مې نمبر ته وکتو او دا ځل نمبر یې راته لږ آشنا ښکاره شو ..! ډېر ژر دا نمبر مې دماغو د ځان سره پورته،ښکته کړو او معلومات یې راکړل دا همغه نمبر و چې یو میاشت مخکې کله چې ما د ځان وژني اراده درلود ما ته یې زنګ وهلې وو! په دی خبره کنجکاو شوم ترڅو وګورم اخر دا څوک دی یا ده؟ نو ځکه زنګ مې ورته وواهه خو نمبر یې بند وو.

د څو ځله ناکام هڅو وروسته موبایل مې جیب کې کیخود او بیرته خپل ځای ته کوم چې طاهر په زوره کښینولې وم راغلم یعنې د ذوالفقار څنګ ته، زما په راتلو ذوالفقار د سترګو له کونج راوکتل خو څه یې ونه ویل ذوالقرنین کاکا تر اوسه لګیا و خبری کول ما غوښتل ځانته پیاله چای واچوم چې بیا مې د موبایل د زنګ غږ پورته شو ...

د دی پر لیسي زنګونو څخه مې عصاب خراب شول لومړی مې غوښتل پاسیږم او ځواب ورکړم خو کله

چې ټول مجلس چوپ شو او ماته په کتو شو نو پوه شوم چې هغوی غواړي زه همدلته څواب ورکړم، نو زه هم پا نه څېدلم ترڅو څوک بد ګمان ونکړي او موبایل مې همدلته ځواب ورکړو البته بغير له دی چې نمبر ته وګورم چې څوک دی؟ په ټُنده لهجه مې الو کړل چې د هغه خوا د زبير حيران آواز مې تر غوږ شو.

زبير- ولې دومره غوسه يې؟

د زبير د غږ په اوريدو ژوره ساه مې واخيسه او ومې ويل: نه غوسه نه يم، هغه ستا څخه مخکې يو نفر بيځايه زنګونه وهل او مزاحمت يې کاوه نو ما فکر وکړو بيا همغه کس دی نو ځکه داسې ځواب مې درکړو، څه شوی خيرت خو دی؟

زبير- هو خيرو خيرت دی چا درته مزاحمت کاوه؟ ته نمبر يې ماته راوستوه.

- دومره مهم نه دی، د څه لپاره دی زنګ وهلې؟

زبير- ذبيح الله پيژني؟

بالښت ته مې تکيه وکړل او شاوخوا مې وکتل بولو
زما خبرو ته غوږ نيولې وو د داسې حالت څخه مې بد
راتلل زړه مې غوښتل لاړ شم خو افسوس چې داسې
ناساپه تلل ښه صورت حال نه درلود نو ځکه مجبورې
هملته کښيناستم او په زوره مې زبير ته ځواب ورکړو:
څوک؟
زبير- ذبيح الله همغه چې په چوک کې د کالو دوکان
لرى؟
- هو، هو و مې پيژندو څه شوى؟

زبير- څه نه دى شوى، نن ستا د تلو وروسته هغه راغلو
او ستا پوښتنه يې وکړل چې چيرته يې؟ ما هم ورته
وويل چې يو څو دقې مخکې کور ته ولاړې نو هغه
راته ويل طاها زما پنځه زر افغانۍ قرضداره دى او ما
اوس هغه پيسي پکار دى.
اه مې له خولې ووتل او ومې ويل: ولې دى هغه وخت
ما ته زنګ ونه واهه؟
زبير- زنګ مې وواهه خو ستا موبايل هغه وخت بند وو

اوس تازه زنګ درغې.
- پیسي دی ورکړل؟
زبیر- نه.
- ولې؟

زبیر- نو زه څه خبر وم چې ته یې د رښتیا قرضداره یې او کنه؟ او بیا دا چې څومره قرضدار یې په هغه هم نه وم خبر نو څنګه پیسي مې ورکړې وایې؟

خپل جیبونو کې خپل د کتابچې پسې په ګرځیدو شوم، همغه کتابچه چې ما خپل قرضونه پکې لیکل او همغه حال کې می زبیر ته وویل: هو زه یې قرضدار یم هغه میاشت چې دوکان ته مو مال راوړو زما پیسې کم شول نو ذبیح الله ما ته قرض راکړو ما بیخې دا یو میاشت لیاده وتلې وه چې بیرته ورکړم کاش تا ورکړې وایې نن.
زبیر- زه نو څه خبر وم چې تا قرض کړې، زه خیر سبا به یې ورکړم.

کتابچه مې یو جیب کې هم نه وه او دا کار زما عصاب دومره خراب کړل چې بغیر د خدای پاماني مې موبایل په زبیر بند کړو ترڅو خپل کتابچه پیدا کړم زه خپل د ځان سره په کش مکش وم چې ذوالفقار وویل: د دی پسی ګرځې؟

د ذوالفقاز په غږ مې د هغه خواته وکتل او په بیحد حیرت کې می د هغه په لاس کې خپل کتابچه ولیدل، څو شیبې مې په حیرت وروکتل زما د قرضونو کتابچه د هغه سره څه کوی؟ زما د ګنګس حال په لیدو ذوالفقار په تروش تندی کتابچه زما غیږ کې راوچول او داسی حال کې چې خپل پیاله چای راخیستل په تروش تندی وویل: هغه ورځ چې زما کور ته راغلې وی نو کتابچه دی زما کور کې لیاده وتلې.

د هغه په دی خبره تازه مې هغه ورځ یاد ته راغلل کوم ورځ چې فرید د میراث خبره راته وکړه او بیاه زه په غوسه د ذوالفقار کور ته ولاړم او هغه ووهلم، بغیر د

څه ویلو کتابچه مې راواخیسته او خلاصه مې کړه
لومړۍ صفحي باندی مې چی نظر ولګید نو حیرت مې
لا زیاد شو، لومړۍ ټول صفحه کوم کې چې ما د
ذوالفقار قرض لیکلې وو هغه ټول صفحه په قلم باندی
خط شوی وه،هغه هم یو خط نه ..! بلکې سم خط
خطې شوی وه او هېڅ نه معلومیدل چې څو عدد هلته
ما لیکلې؟

د سترګو له کونج مې د ذوالفقار خواته وکتل زما د
راتلو څخه تر همدا اوسه یې نه کوم خبره راسره کړی
وه او نه هم کوم څه یې ویلې وه یوازی په تروش
تندی ناست وو او د ذوالقرنین کاکا خبرو ته یې غوږ
نیولې و، البته د هغه خبرو ته یې هم چندان غوږ نه و
نیولې ځکه د پوښتنو ځواب یې نه ورکو داسې ناست
وو لکه په زوره چې چا راوړی وی او د مجبوری څخه
یې مجلس کې کښینلې وی! خو د دی ټولو خبرو
باوجود دا چې نن شپه مې ولید خوشحاله وم، څو

شیبې بغیر د څه ویلو د سترګو له کونج ورته زیر شوم خدای خبر بیا به مې کله لیدلې وایې؟

ډاډمن وم د تلو وروسته د ټولو څخه ډېر چې زړه به مې تنګ شې هغه به د ذوالفقار پسي وی، زه هېڅکله د هغه څخه داسې نه وم لیری شوی حتا کله چې ذوالفقار هندوستان ته تللې هغه وخت یې لا ما ته موبایل واخیست تر څو د هغه د تلو وروسته زه وکولای شم هره ورځ د هغه سره خبری وکړی شم، ذوالفقار زما لپاره یوازی کاکا نه وو هغه زما ژوند کې د یو مشر ورور،ملګری او حتا د یو پلار صفت درلود که څه هم عمر یې زما څخه دومره ډېر نه وو خو تل یې داسې پر ما خیال ساتو لکه زه چې د هغه ماشوم یم.

تر اوسه مې هغه ورځ په یاد ده کوم ورځ چې ذوالفقار تازه لومړي تنخوا اخیستې وه او خپل تنخوا یې ټول ما ته راکړل، ما هغه ورځ د هغه په دی کار څومره وخندل خو ذوالفقار په غوسه باندی راته یوه خبره

وکړل داسې خبره چې تر اوسه مې ذهن کيده، هغه راته وويل ته زما د کورنۍ يوازيني کس يې او زه غواړم زما تنخوا ته وساتي ترڅو کرار، کرار په دی پيسو دواړه په کډه يو کور واخلو او د دی ځايه لاړ شو.

هغه وختو کې بابا بيحد پر ما سختي کول او د هغه حال په ليدو ذوالفقار تل ما ته دلدارۍ راکول او ويل يې کور اخلم او تا لځان سره وړم او همداسی هم وکړل کله چې ښار ته راغلو او کور يې ونيو زه هم ورپسې راغلم، د دی ټول خبرو په ياد راوړلو نرۍ مسکا مې پر شونډو راغلل خو لا دا خوشحالۍ مې ډېره شوی نه وه چې د ذوالقرنين کاکا خبری د خولې خوند راخراب کړو.

ذوالقرنين کاکا په طعنه اميز لهجه وويل: طاها جان لکه چې د ټول خلکو څخه دی قرضونه اخيستې او سترګي دی د ادی ميراث ته ښخې کړی؟

زموږ خلک یو عقیده لری د ماشومانو د شیدو خوړلو په اړه او وايې: شیدی د ماشوم په اخلاقو او تربیت باندی اثر اچوی او زه فکر کوم البته اوس دا فکر کوم چې د هغوی دا خبره رښتیا ده .. ځکه ما د حوا د شیدلو خوړلو له سبب د هغې ځینې خاصیتونه اخیستې وه که څه هم نه پوهېدم څنګه خاصیتونه دی خو په هر حال ځینې خاصیتونه یې راغلې وه نو د دی څخه ښکارې چې د رښتیا هم شیدی داسی یو ځواک لری او د ذوالقرنین کاکا او د هغه د اولادی په لیدو دا عقیده مې لا ځواکمن کیږی.

دا خبره په دی خاطر نکوم چې ووایم د ذوالفقار د مور شیدی خراب وه یا داسی کوم بل خبره، که څه هم د انې(ځینې خلک خپل د پلار مور ته انې یا هم انا وايې) څخه د هغه خبرو د پوهیدو وروسته چندان ښه زړه مې نه درلود خو مطلب مې هغې ته نه دی بلکې بابا کله ناکله موږ ته یوه کیسه کول او ویل یې کله چې ذوالقرنین کاکا پیدا شوو نو انې ډېره مریضه وه او

شیدی نه درلود چې ذوالقرنین کاکا ته یې ورکړی نو هغه هم د ډېر لوږی څخه ژړل تر دی چې یوه ورځ یو جوګې کوم چې یو ماشوم یې هم په غیږ کې وو د خیرات غوښتلو لپاره د دوی د کور دروازه ټکوی او انې چې کله دیته ډوډی راوړی نو د دی جوګي نظر په ذوالقرنین کاکا لږیږی او د هغه د ژړا پوښتنه کوی چې دا ماشوم ولی ژاړی؟

نو انې هم ورته وایې زه شیدی نلرم او دا وږی دی نو ځکه ژاړی، جوګې ښځه چې کله دا خبره اوری نو انې ته وایې زه ستا ماشوم ته شیدی ورکوم البته په دی شرط چې ته ماته یو څو روپۍ د معاش په توګه راکړی انې هم د مجبوریت دا خبره مني او بلاخره هغه جوګي ښځه ذوالقرنین کاکا ته شیدی ورکوی،هغه هم یو ورځ نه بلکې تر دوه،درې میاشتو ترڅو چې انې لږ ښه کیږی او خپل شیدی کوی.

نو بابا کله ناکله چې ذوالقرنین کاکا به کوم غلط کار وکړو یا کوم غلط خبره به یې وکړل نو په غوسه به یې ورته ویل ته ملامت نه یې د جوګي شیدی دی رودلې (خوړلې) نو ځکه داسې کارونه کوی البته دا خبره یې ورته ډېر پخوا کول دا څو کلونو کې چې دواړه څه ناڅه بوډا شوی ما دا خبره د بابا له خولې نور نه ده اوریدلې، البته زما په نظر ډېر ښه خبره وه او باید اوس هم وشې ځکه د ذوالقرنین کاکا ځینې خاصیتونه د رښتیا هم د جوګیانو رقم دی.

مثال د خبری بیحد بې معنا خبری کول یې، بیځایه لافې ویشتل یې، خبرو وخت کې ستونې شکول او چغی وهل یې او بل یې همدا بخیلې او طعنه وهل او هو زړه کې بغض ساتل دا ټول خاصیتونه فکر کوم د همغه شیدو له سبب ذوالقرنین کاکا او د هغه زامنو ته راغلې البته زه خپل د دی خبری د اثبات لپاره یو اسلامی دلیل هم لرم او هغه دا چې پیغمبر "ص"

فرمايلي کله چې تاسو ښځه کوئ نو هغه د دی د څلور شيانو له لحاظ وګاکي.

لومړی نمبر کې د ښځې دينداری او دويم نمبر کې د هغې کورنی مطلب د يو داسې کورنی څخه ښځه وکړه چې اصل او نسب ولرې تر څو راتلونکې کی ستا اولادونه هم د يو اصل نسب دار کورنی د ښځې څخه اوسيږی او بيرته خبره همغه شيدو ته ولاړل نو فکر کوم ملامت ذوالقرنين کاکا نه دی بلکی دا د همغه د شيدو اثر دی چې نه يوازی په ده کې پاتي بلکې د ده په اولاده کې هم پاتی.

خو له يو خوا دی خبری ته حيران وم او نه پوهېدم چې اخر دا پنځه يا هم لس لک افغانی چې مثال د خبری د انې څخه ما ته په ميراث کې پاتی شوی يعنې د دوی په نظر دومره ارزښت لری؟ اوس وخت اته، نه لک افغانی د يو ښځې ولور دی نو د يو ښځې ولور ايا دومره جنګ،طعنه، بغظ و کينه لری؟ زما د چوپ نظر

په لیدو طاهر او بابا کوښښ وکړو د مجلس خبره بدل کړی او د هغه بل ورخ پشان چې فرید جنګ جوړ کړو بیا جنګ جوړ نشي خو ذوالقرنین کاکا دا خبره نیولې وه او نه یې پریخودل دومره چې زما حوصله یې تنګه کړل او غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ورته ووایم چې زه ستا د مور هغه مردار پیسي نغوارم خو لا خبره مې کړی نه وه چې زما د ځنګ څخه د ذوالفقار قهرجن غږ پورته شو.

ذوالفقار- فکر کوم هغه کس چې د میراث پیسو ته سترګي په لاره وو او امید یې درلود چې هغه و دوی ته ورسیږی هغه ته او ستا زامن وی نه طاها! ځکه د کوم وخت څخه چې خبر شوی یاست ادی خپل برخه میراث طاها ته پریخودلې داسي ښکاری چې پر تاسو اور بل دی؟

د ذوالفقار په دی خبره ذوالقرنین کاکا د غوسي څخه تور او شین شو او د ذوالفقار څخه لا په څو چند

قهرجن او تنده لهجه يې وويل: مورې د چا د میراث پیسو ته سترګي نه دی نیولې خو دومره حق لرم چې وپوښتم زما مور د څه لپاره خپل مال طاها ته بخښلې؟

ذوالفقار په بیحد کرار او بیغم لهجه وویل: حق نلری وپوښتي، ځکه دا ستا د پلار مال نه وو چې ستا یا ستا د زامنو حق پکې راشې دا د ادی مال وو او د مور په مال کې د کوم وخت څخه میراث تقسیم شوی؟ د هغې زړه غوښت خپل میراث ورکړی طاها ته نو ور یې کړو وسلام زه نور بحث نه وینم په دی موضوع کې.

خو زه فکر کوم ته په دی غوسه یې چې ادی ولې خپل میراث تا یا ستا زامنو ته نه دی بخښلې؟ ته فکر وکړه که دا میراث د طاها لځایه تاته یا ستا زامنو ته درکول شوی وایې او مورې داسي خبری کړی وایې کوم چې ته او ستا هغه بیعقل زوی کوی نو تا به څه مورې ته ویلې وایي؟ زه خو بغیر د کوم شک ویلې شم تا به هغه

وخت پر موږ ټول باندی د کفر ټاپه لګولې وایې، لکه خنګه چې اوس یې لګوی.

د ذوالفقاز او ذوالقزنین کاکا لفظي جګړه کرار،کرار د بوکس او لغت جګړې ته نږدی شوی وه چې د بابا غږ پورته شو او دواړه یې چوپ کړل.
بابا- بس دی، ماشومان خو نه یاست چې داسی یو د بل سره مو جنګ راخیستې وشرمیږی دواړه غټ سړیان یاست(بیایې د ذوالفقار خواته وکتل او لا په غوسه یې وویل: او ته ذوالفقار ته مشر او کشر نه پیژني؟

د بابا په تنُده لهجه ټول چوپ شول خو دا چې بابا ذوالفقار ته داسې خبری وکړل پر ما ډېر بد ولګیدل ما د اول هم هغه منحوس میراث نه غوښت او اوس چې د هغه په سر ذوالفقار ته داسې خبره وشول نو بیخې مې نغوښت زما په نظر همدا یې وخت وو چې ځان د

هغه ظاهر میراث خو په باطن کې د هغه پیغور څخه بچ کړم نو ځکه ومې ویل: زه هغه پیسې نغواړم.

زما په غږ ټولو زما خواته راوکتل په قسم سره ویلی شم چې د ذوالقرنین کاکا سترګي د خوشحالۍ څخه وځلیدل خو ذوالفقار په غوسه ناک لهجه زما نوم واخیست خو زه بغیر له دی چې د هغه ګواښونکي غږ ته کوم پام وکړم لځایه پاځیدم او خپل خبره مې بیا ځل تکرار کړل: زه هغه میراث نغواړم.

او بیا مې د ذوالقرنین کاکا خوشحاله څهری ته وکتل او په پوسخند مې وویل: خو فکر کوم ذوالقرنین کاکا او د هغه زامن ډېر د دی میراث مستحق دی، ځکه شکر الحمدالله خدای ماته لاس او پښې راکړی تر څو وکولای شم خپل کورنۍ ته یو ګوله حلال رزق وګټم خو فکر کوم ستاسو او ستاسو د زامنو اخری امید همدغه میراث ته دی نو زه مال مرده هغه هم په داسې

ېول نخورم هغه دی تاسو او ستاسو هغه مستحق زامنو ته مبارک شی.

د دی خبری سره سم بغیر له دی چې د هغوی د حیرت څخه راوتلو سترګو ته وګورم د د هلیز څخه ووتلم خو د وتلو مخکې طاهر په تلوار زما اوږه ونیول او ویې پوښتل: چیرته روان یی؟
بغیر له دی چې چاته وګورم ومې ویل: لږ د باندی قدم وهم څو دقې وروسته بیرته راځم.
طاهر- سمده خو قول چې هغسې لاړ نشې ضرور به بیرته راځې، ادی ستا لپاره ستا د خوښۍ خواږه پخه کړی.

د سر په خوځولو خپل اوږه مې د هغه له لاسه جلا کړل او د باندی ووتلم، د بابا کور کوم حویلۍ نه درلود، یوازی څو قدم ځای وو هلته مې زړه نه خلاصیدو نو مجبور له کور ووتلم بارن اوس هم وریدو خو دومره تیز نه وو نو ځکه همغه باران کې کرار،کرار کوڅه کې

روان شوم، د ذوالقرنین کاکا د نن شپې خبرو خپل په پریکړې لا ډاډمن کړم دا خلک نه په خپلوی ارزی او نه هم په رشته داری، د دوی سره همغه قطع رابطه کول او یو لری ځای تلل او نور هېڅکله نه لیدل بهترینه انتخاب دی.

نه پوهېږم تر کله به د باران لاندی ګرځېدلې اوسیږم چې د موبایل په غږ پر خود راغلم طاهر و ویل یې ډوډۍ تیاره ده راشه تا ته په تمه یو، د سمده پر ویلو مې موبایل بند کړو او د بابا کور خوا ته په تلو شوم نن ماښام د ادی د راضي کولو لپاره دلته راغلې وم خو پوه شوم چې د ادی راضي کول او ځان سره وړل د کوه کاف د غر کیندلو څخه ډېر سخته کار دی، د ادی د نن ماښام خبرو زه یو دم د هغه د راضی کیدلو څخه نامید کړم او پوه یې کړم چې ادی به هېڅکله زما سره رانشي هېڅکله ..

په همدی فکرونو کورته ورسیدم خو لا مې دروازه خلاصه کړې نه وه چې د شاته کور دروازه کوم چې د ذوالقرنین کاکا کور وو خلاصه شوه، او ما په همغه شپه کې د فرید منحوس څهره چې سر یې په سپین ټوټه تړل شوی وو ولید، د هغه د مات سر په لیدو بیحد خوشحال شوم طاهر راته ویلې وه چې د هغه ورځ د جنګ وروته په سبا یې ذوالفقار راغلې و او فرید یې ښه جوړ ډبولې خو باور مه نه راتلو چې داسط وهلې اوسیږی چې د یو میاشت وروسته یې لا سر تړلی وی!

څومره چې د هغه د مات سر په لیدو خوشحال شوم هغومره د هغه د منحوس نظر په لیدو مې عصاب خراب شول، غوښتل مې په تلوار د بابا کور ته ننوځم تر څو د هغه کوم بیځایه بکواس مې تر غوږ نشې خو په بیحد حیرت کې زما د تلو مخکې هغه په حیرت راوکتل او بیا په تلوار بغیر له دی چې خپل د کور دروازه بنده کړی کور ته ننوت او ما یې غږ واورید چې

په لوړ غږ يې وويل: هغه دلته راغلې، د کاکا کور کېدی ...

پوه نشوم چې هغه د خبرې مطلب څه وو؟ خو همدا چې منحوس قواره يې زما د سترګو د وړاندې څخه لرې شول خوشحال شوم، غوښتل مې ژر کور ته ننوځم د دی څخه مخکې چې هغه بيا راشې هسې شانس خو نلرم! همدا چې کور ته ننوتلم نو ذوالفقار مې حويلې کې وليد چې په غوسه باندی د حويلي يو خوا او بلخوا يې قدم واهه زما په ليدو د قدم وهلو څخه ودريد او په غوسه يې راوکتل.

پوهېدم چې د هغه دا غوسه په څه سبب ده، څومره چې ذوالقرنين کاکا او د هغه زامنو غوښتل ما د ميراث څخه محروم کړی هغومره ذوالفقار غوښتل خپل د مور وصيت پر ځای کړی او هغه ميراث ماته راکړی خو خبر نه و چې زه که مړ هم شم نو بيا هم هغه ميراث نه اخلم هغه ميراث نه وو بلکې د يو انسان د مرګ فديه وه! هغه هم د هر انسان نه ... بلکی زما د مور د وينو

فدیه وه ...

دروازه مې بنده کړل او بغیر له دی چې د ذوالفقار غوسه ناک نظر ته کوم پام وکړم غوښتل مې د کور خواته روان شم چې زما شاته دروازه په کلک باندی په ټکیدو شوه! داسې په کلک چې ما فکر کاوه اوس به دروازه له بیخ راووځي، د دروازی په داسې وحشیانه ټک،ټک زړه کې مې بد احساس پیدا شو د پخوا د خلکو خبره زړه کې می ناولې لاس تېر شو، یو احساس مې ویل شاته لاړ شه او پرېږده چې ذوالفقار دروازه خلاصه کړی خو غیرت مې دا اجازه نه راکول چې د وېرې څخه دی شاته لاړشم.

او له بلخوا ذوالفقار هم په حیرت ولاړ وو او دوه سترکي د دورازی خواته نیولې وه، کله چې ومې لیدل بل چاره نشته نو دروازه مې خلاصه کړه البته پوره مې خلاصه کړی نه وه چې یو کلک ټک مې پر مخ ولګید او

ځای پر ځای پر ځمکه را وغورځولم، دومره کلک ټک وو چې د څو شیبو لپاره مې هېڅ احساس نکړل خو بېر ژر یا باید داسې ووایم چې د سترګو په رپ کې فهیم مې ولید چې زما په سینه ناست دی او بوکسونه یې زما مخ، خوله او پوزی ته نیولې دی.

دومره د هغه لومړۍ ټک او بیا د دی پرلپسي ټکونو څخه ګنګس وم چې هېڅ په ځان پوه نشوم چې څنه چل دی؟ او څه شوی؟ یوازی د فهیم بوکسونه وه چې زما پر خوله او پوزه لګیدل او کنځلی او بد و رد ویل یې وه چې د لاړو سره یې زما پر مخ بادلو خو دا ټول حالت د څو شیبو څخه زیات دوام ونکړو ځکه د ذوالفقار غوسه ناک غږ او د هغه سره سم د هغه لغت وه چې پر فهیم ولګیدل او هغه یې زما د سینې څخه لری پر ځمکه خطا کړو ...

د فهیم د لری خطا کولو سره سم یې ژر زه له اوږی ونیولم او له ځمکې راپورته کړم،دومره درد مې درلود

چې بې اختیاره مې خپل لاسونه په پوزه ونیول او اخ او اوخ ویل مې شروع کړل زما د دی حال په لیدو ذوالفقار د غوسي او قهر څخه اور واخیست سترګي تکې سری شوه او د فرید خوا ته چې کوښښ یې کاوه فهیم له ځمکې راپورته کړی حمله واچول فرید یې څنګ ته کړو او فهیم یې راونیو لومړۍ بوکس یې چې پر پوزه ورکړو زه چې د هغوې څخه مثلاً یو څه لری ولاړ وم ما لا د فهیم د پوزي د مات کیدلو غږ واورید او زړه مې ورباندی یخ شو.

فکر مې کاوه ذوالفقار په همغه دوه،درې بوکس خپل غوسه سړه کوی او فهیم خوشې کوی، خو کله چې هغه فرید د دویم ځل لپاره څنګ ته کړو او فهیم یې راونیو نو پوه شوم چې د ذوالفقار غوسه د حد اوښتې، ذوالفقار فهیم لکه د فوټبال توپ پشان د ځمکې پورته کړو او مخامخ د حویلې په دروازه یې وواهه .. دومره کلک یې وواهه چې زه بې اختیاره یو دوه ګام ورنږدی شوم، د ذوالفقار حالت هېڅ طبیعي نه ښکاریدی فهیم

ته یې داسې بکوس او لغت بند کړی وه لکه غواړی چې مړ یې کړی ... غوښتل مې ورنږدی شم او که څه هم د فهیم د رنګ څخه مې لا ښه نه راتلل خو بیا هم د ذوالفقار مخه ونیسم تر څو د هغه د مردار ویني تهمت د ذوالفقار پر غاړه نشي.

خو زما د کوم څه کولو مخکې طاهر په یو خیز ځان تر ذوالفقار ورسو او هغه یې د شالخوا ونیو،
بابا،ذوالقرنین کاکا او د هغه وروسته د کور ټول ښځې هم دی رسوایی میدان ته حاضر شول یو بد حال وو حویله کې سم دم د محشر میدان جوړ شوی وو، د ټولو یو نظر د ذوالفقار او فهیم خواته وو او بل یې زما خوا ته، دومره مې عصاب خراب وه چې زړه مې غوښتل ځمکه وچوی او زه پکې ننوځم تر اوسه نه پوهېدم چې د فهیم دا لیونتوب له څه سبب وو؟

فکر مې کاوه شاید د میراث په سر اوسیږی؟ یا هم شاید دا چې ذوالفقار فرید زما په سر وهلې وو د هغه

د زړه کوفت يې غوښته زما وباسې او مثال د خبری خپل د ورور غچ واخلې خو د بدبخت خبر نه وو چې ذوالفقار هم دلته دی کنه زر کاله وروسته يې هم داسی بد نکول، طاهر او بابا په زر زحمت باندی ذوالفقار د فهيم څخه جلا کړو فهيم که څه هم پر وينو لړلې وو خو بيا هم کوښښ يې کاوه د ذوالفقار خوا ته ورشې لکه چې د ده نن مرګ پوره وو چې د ذوالفقار خوا ته يې ځان کش راکش کوه؟

خو فريد او ذوالقرنين کاکا دومره کلک نيولې وو چې ښور يې نشو خوړلې کله چې خپل د خلاصون څخه نامید شو نو خوله يې زما خواته ونيول او بد رد ويل يې پيل کړل او همغه کنځل،کنځلو کې هغه خبره وکړل چې ما ځان سره ويل چی ای کاش خبره همغه د ميراث وايې ... ای کاش خبره همغه د ورور د غچ اخيستلو وايې .. ای کاش ... او ای کاش ...

یو ځل بیا په هسې میدان بغیر له دې چې کوم ګناه وکړم مجرم پیژندل شوی وم، یو ځل بیا زما نوم بدنام شوی وو. زه نه پوهېږم اخر ولې تل باید زه تر مرګ ورسیږم هغه هم د داسې خبرو پر سر چې زه پکې هېڅ ګناه نلرم، اخر ولې تل باید زه د ښځې، ناموس او زر نور بکواس خبرو پر سر راګیر شم؟ داسې حال کې چی عمر کې مې یوی ښځې ته لا په بد نظر نه دی کتلې؟ اخر ولې؟ لومړۍ هغه لیوني جنرال چې فکر یې کاوه زه یې د ښځې سره یارانه لرم او غوښتل یې ما ټوټه،توټه کړی او بوجۍ کې مې واچوي او اوس هم فهیم؟

اصل کیسه داسې وه چې سبا ورځ ذوالقرنین کاکا غوښتل لاړشي خپل د خیښانو کور ته ترڅو د فهیم د واده نیټه وټاکي، فهیم هم دا خبره آوری او په خوشحالۍ میشا ته زنګ وهي او دا خبره ورته کوی خو میشا ورته وایې چې زه نغواړم ستا سره واده وکړم او زه ستا د کاکا د زوی .. مطلب اینجانب بدبخت،

منحوس، خدای او قران وهلې او شرمولي سره مینه لرم او دا مینه د اوس هم نه ده بلکی د ډېر پخوا څخه موږ یو بل سره پیژنو او مینه کوو ...

فهیم چې کله خپل په هغه مردار غږ د یو شلیتي او بی شرمې ښځې پشان دا خبری وکړل نو په حویله کې د موجود ټول کسانو سترګي د حیرت او شک څخه زما خواته راواوښتل بغیر د ذوالفقار څخه چې په غوسه یې طاهر لځان څخه لری کړو او د بابا د لاس لیری کولو حال کې په غوسه وویل: ته ما خوشې کړه لالا ... ته ما خوشې کړه تر څو د دغه سپي خوله وربنده کړم تر څو نور هسې بیځایه ونه غپېږي.

د فهیم د خبرو اوریدو وروسته پوه شوم چې یو ساعت مخکې زنګ د چا وو؟ او ولې خبری نکول؟ خو حیران وم اخر میشا ولې اوس داسې خبری وکړل؟ که فهیم یې نه و خوښ نو کولای شو همغه لومړۍ کلونه د کوژدی کې ورته وواېي نه دا چې درې،څلور کال یې په

نوم کښینې او اوس دقیقه نود کې چې دوي د واده تیاری نیول دا د هندی فلمو پشان ځان څخه لیونۍ جوړه کړی او "نه"  ووایې ..

او نه یوازی "نه" ووایې بلکې عشق و عاشقي هم په یاد راشې او ما هم د ځان سره بدبخت کړې، البته یوازینې دلیل چې زړه مې ورباندی لړ ډاډه وو هغه دا و چې شکر ما خو کوم بیځایه وعده او ګپ هغې ته نه دی ورکړی کنه اوس به د رښتیا په دی موضوع کې راګیر وایي، البته اوس هم څه ناڅه راګیر وم خو خیال مې یو څه راحت وو ځکه ملامت نه وم، او د پښتنو خبره چې ملامت نه یې نو د پادشاه څخه مې وېرېږه.

د فهیم پر غږ پر خود راغلم، د ذوالفقار په خبره لکه چې هغه د ډېر غوسي څخه اور اخیستي وو چې کوښښ یې کاوه ځان د فرید د لاس څخه خوشی کړی خو کله چې بریالي نشو نو د همغه ځای په چغو وهلو خپل ستوني وشلو او ذوالفقار ته یې وویل: ته رزیل

خبری مکوه چې ستا پدرلعنت له لاسه دا داسې بی شرف جوړ شوي، دا ټول د حرامیتوب لاری چاری خو همدا تا ورته خودلې، لومړۍ دی هغه کور کی د جنرال د لور سره جوړ کړو او کله چې خبره تر ناموس ورسیدل نو دواړه د هغه ځایه وتښتیدلې .. او دا ځل مو بیا زما د ښځې سره لاره چاره جوړه کړه تاسو دواړه حرموني یاست ...

د فهیم په دی خبره ذوالفقار د ډېر غوسي څخه اور واخیست داسې چې په یو خیز یې ځان د طاهر او بابا له لاسونو څخه وویست او فهیم یې راونیو خو لا یو بکوس یې لا سم د زړه د خلاصه نه وو ورکړی چې بابا،طاهر او ذوالقرنین کاکا راونیو خو د دی دومره کسانو باوجود ذوالفقار ځان د فهیم خواته کش کوو او قسمونه یې ورته اخیستل چې ژوندی دی نه پرېږدم د هغه حال په لیدو ذوالقرنین کاکا د فرید پر سر چغه کړل ترڅو فهیم د هغه ځای ویسې خو فیهم  نه د چوپ کیدو نوم اخیست او نه هم د تلو .. ولاړ وو او

هر تهمت او مردار خبره چې په خوله ورتلل ما او ذوالققار ته يې کول.

بغير له دې چې د فهيم اپلاتو ته کوم توجه وکړم نظر مې د دومره کسانو منځ کې د دهليز د دروازې څنګ کې ولاړ په اقرا باندې وو، چې د اوښکو او شک څخه په ډک نظر يې زما خواته راکتل د هغې د نظر په ليدو د لومړۍ ځل لپاره مې زړه راته وويل که نن چوپ پاتې شوې طاها..! نو نه يوازې ناحق تهمت به درباندې ولګول شي او نوم به دې رسوا شي بلکې هغه اعتماد او باور چې اقرا پر تا لرې هغه به هم لمينځه لاړ شي.

زما چوپ اوسېدل د ذوالفقار څخه بغير نور ټول کسانو ته دا باور ورکړی وو چې د رښتيا هم زه ګنهکار يم او د فهيم خبرې صحيح دي، په دې فکر خپل د پوزې وينه مې پر لستوڼي پاک کړل او د فهيم خواته يو دوه ګام نږدې شوم هغه تر اوسه ما ته فکر نه وو او لګيا وو کنځلې کول چې ما ورباندې غږ کړل او ومې ويل: شرم

درته پکار دی چې خپل د ښځې پرده او عزت لا پر تا نه کیږی او د دومره کسانو مخکې په افتخار او ستونې شکولو سره وایی چې ښځه دی یارانه لری، ته هم ځانته نر وایې؟

زما پر غږ او خبرو ټولو دا ځل زما خواته راوکتل، د ټولو نظر حیران او متعجب وو بغیر د ذوالفقار څخه چې خوشحاله معلومیدی، زما په خبرو هغه نور ځان د بابا دوی له لاسونو څخه نه کش کاوه ترڅو لاړ شي او فهیم ووهې، بلکې کرار شوی وو او داسی ښکاریدل لکه چې میدان یی ما ته پریخودلې ترڅو زه خپل د ځان څخه پخپل دفاع وکړم، زما په خبره فهیم د ډېر غوسی څخه تور اوشین واوښت او غوښتل یې پر ما حمله وکړی خو فرید ونیو، خو همغه حال کې پر کنځلو وویل: زه د داسی یو فاح**شی پرده نکوم کوم چې ستا پشان حرموني سره جوړه شوی وی، تاسو دواړه زه خپل پر لاسونو وژنم ترڅو پوه شي نر څوک دی؟

- د خبرو سره دی پام کوه زه ستا د ښځې سره هیڅ بډول اړیکه نلرم عمر کې مې لیدلی نه ده نو د میني کیسه له کوم خوا شول؟ او پاتي شول خبره د پخوا د پیژندګلوي نو موږ دواړه یو پوهنتون کې درس ویلې ... او هلته زر انجونی نور هم وه یوازی ستا ښځه نه وه، نو ته فکر کوی زه د ټولو سره جوړ وم؟ یا هغوی ټول زما سره جوړې وې؟ لږ د عقل څخه دی کار واخله.

فهیم بغیر له دې چې د انسان د بچي پشان زما خبرو ته فکر وکړی لکه شلیتې ښځې پشان یې په غوسه وویل: غول مخوره رزیل ته فکر کوی زه خر یم او په دی خبرو نه پوهیږم؟ ژوندی دی نه پریږدم دواړه مړه کوم، ټوټه،ټوټه کوم مو او پوهیږی د هغه وروسته څه کوم؟

که څه هم د هغه خبری راته هېڅ ارزښت نه درلود خو بیا هم غوږ شوم چې واورم څه غول غواړی وخوری؟ خو کله چی د هغه خبره او د هغه نظر مې د اقرا خوا

ته ولید، نو نه پوهېږم څه وشول؟ فکر مې کاوه بدن
کې مې زر کیلو واټ انرژی راغلې او سترګي مې نور
هېڅ نه ویني بغیر د فهیم څخه او مغز مې بل حکم نه
راکوی بغیر د هغه د وژلو څخه دومره ځواک او جنون
مې ناساپه پیدا کړو چې فهیم مې د فرید د لاسونو د
منځ راوویست او بوکسونه مې خولۍ ته ورته بند کړل
او همغه حال کې د ډېر غوسي څخه بې اختیاره مې
ورته کنځل له خولې وتل ..

فکر می کاوه بدن کی می اور بل دی د هغه په خبرو د
جنون تر حد رسیدلی وم نه پوهیدم چی څه کوم او
څه نه؟ یوازی غوښتل می د هغه ژبه ورپری کړم چې د
اقرا نوم یی ورباندی اخیستې او د هغه دوه سترګی
راوباسم چی داسې په مردار نظر یې د هغې خوا ته
کتلی وه، لومړۍ کی یوازی ذوالقرنین او فرید کوښښ
کاوه ما د فیهم څخه لری کړی خو کله چی د دوی زور
راباندی ونه رسید نو طاهر هم مرستي ته راغلو خو
عجیب وه یو نفر هم زه نشوم لری کولې د هغوی کش

کول ما ته داسې ښکاريدل لکه زما سره چې ساتيری کوی؟

د دی حال په ليدو د لومړۍ ځل لپاره ذوالفقار رامخکي شو زه يې له شالخوا ونيولم او کوښښ يې وکړو ما د فهيم څخه لری کړی خو عجيب وه د هغه زور هم پر ما نه رسيدو ...! فهيم مې دومره وهلی وو چې نور يې خبری هم نشو کولای خو تراوسه مې زړه نه و وربانداې يخ شوی او زړه مې غوښت نور يې هم ووهم، د هيچا زور نه راباندی رسيدو ذوالفقار چې ځانته ځان ويل هغه لا زه زره اندازه د فهيم څخه نشوم لری کولای.

خپل زور ته خپل هم حيران وم خو د حيران څخه ډېر يو ډول عجيب احساس مې درلود! له دی چې د فهيم وينه زما پر هر بوکس اخو ديخوا پرېدل زما زړه وربانداې خوښ کيدو او بهتره احساس مې کاوه يو ډول عجيب د خوند او لذت احساس .. داسې احساس چې هيڅکله مې تر نن ورځې خپل په ځان کې نه وو

احساس کړی، فکر مې کاوه زړه مې وینه غواړی زړه مې غواړی نور هم وینه وبهوم! فکر مې کاوه یو نفر مې د غوږ څنګ کې لګیا دی او وایې: نور هم وینه تویه کړه ... او نور هم وینه تویه کړه ...

دومره دا وسوسه ځواکمن وه چې د هغه د هر ځل ویلو سره زما د وهلو ځواک لا پیاوړی کیدی خپله مې د وینو جریان خپل په ټول بدن او بلخصوص خپل په سترګو کې احساس کاوه بغیر له دی چې څوک راته ووایه پوهېدم چې سترګي مې د وینو پشان سری شوی، د ذوالفقار غږ مې اوریده چې ویل یې" طاها بس دی،مړ دی کړو بس دی ..طاها " غږ مې اوریدو خو د خبری د تحلیل کولو ځواک مې نه درلود فکر مې کاوه بدن مې زما کنټرول کې نه دی ... فکر مې کاوه زه خپل د بدن یو کونج کې ناست یم او زما لځایه یو بل نفر لګیا دی او داسی کارونه کوی او زه یوازی تماشاچی یم د دی کارونو ..!

فرید د فهیم د ژغورولو لپاره زه څو بوکس ووهلم خو ما نه کوم درد احساس کړو او نه مې هم فهیم خوشې کړو،خو ذوالفقار همغه حال کې چې یو لاس باندی زه نیولې وم فرید باندی ګوزار وکړو او څو کنځله یې ورواچول، دی کش مکش کې حتا بابا لا راغلو او څو ځله یې په غوسه ما ته وویل چې بس کړم او فهیم خوشې کړم خو زه همغسی د فهیم پر وهلو لګیا وم خو بلاخره کله چې د کاکا ښځې ځان پر فهیم واچو او په ژړا باندی زما څخه غوښتنه وکړه چې هغه خوشې کړم د دی سبب شو چې شاته لاړ شم همدا چې شاته لاړم تازه لکه چې مغزو ته مې اکسیجن ورسېد او پر خود راغلم ...!

ما څه وکړل؟ په حیرت مې خپل ځان ته وکتل چې لاسونه او کالي مې پر وینو لړلې وه او پنځه نفرو نیولې وم! نظر مې د فهیم د بې هوښ جسد خوا ته لاړو چې د کاکا ښځې په غیږ کې نیولې و ژړل یې او ماته یې ښیراوی کول، ګنګس وم نه پوهېدم چې څه

چل روان دی؟ خپل د اوښي په درد مې کرار "اخ" له خولې ووت چې ذوالفقار خپل د لاس فشار زما د اوښي څخه لرې کړو او د لاس څخه یې د کور خواته کش کړم خو زما نظر لا تر اوسه پر فهیم وو چې د کاکا ښځې په غیږ کې نیولې وو او فرشته یې سر ته ناست وه او چغې وهل ..

بابا په غوسه طاهر ته لګیا وو چې موټر چالان کړه ترڅو فهیم شفخاني ته ویسي، ذوالقرنین کاکا فرید د اوږی نیولې وو او نصیحت یې ورته کاوه خو فرید د غضب او انتقام څخه په ډک نظر زما خواته راکتل او په سترګو،سترګو کې ګواښولم چې ژوندی دی نه پریږدم! خپل د اوږی پر کش کیدلو د ذوالفقار خوا ته می وکتل هغه په غوسه باندی زه د ادی له څنګ تېر کړم او د یو کوټې خواته یې ننویستلم، همدا چې د کوټې دروازه په کلک بنده شول زما اوږی له وېرې ویرېدل او تازه عقل مې سر ته راغلو ما څه کار وکړو؟

د څو شیبو مخکې کارونه مې صحیح ذهن ته نه راتلل داسې احساس مې کاوه لکه هغه کارونه چې ما نه وی کړی؟ د ذوالفقار پر غږ په ګنګس انداز مې د هغه خواته وکتل چې مخامخ ما ته ولاړ و او دوه سترګي ما ته نیولې وه.

ذوالفقار- ښه یې؟

بغیر له دی چې د هغه خبره درک کړم سر مې د "هو" په بڼه وخوځاوه چې هغه څو ګام رامخکې شو او په مشکوک لهجه یې وپوښتل: طاها! تخو زما څخه کوم خبره نه پټوی کنه؟

د ذوالفقار د خبری په مطلب پوه نشوم نو ځکه په ګنګس انداز مې وپوښتل: څنګه خبره؟

ذوالفقار ژوره ساه واخیسته بیا په اندیښني خپل ویښتیانو کې ګوتې تېری کړی او ویې ویل: ستا حالت څو شیبې مخکې هېڅ عادی نه وو ... څنګه ووایم بیخې بل ډول ویې داسې لکه چې بدن دی د بل چا لخوا کنټرول کیږی ...؟

زه خپل هم پوهېدم چې حالت مې څو شیبې مخکې زما د کنټرول لاندی نه وو خو نه مې غوښتل ذوالفقار ته دا خبره وکړم نو ځکه ومې ویل: تا د هغه حرمو**ني خبری وا نه وریدل چې څه غول یې وخوړل؟ زړه دی غوښتل د هغه خبرو وروسته لکه دوس پشان ودریږم او پریږدم هغه زما ښځې ته هر اپلاتي چې په خوله ورځې ووایي؟
ذوالفقار په تروش تندی وویل: زما مطلب هغه نه دی، ته خپله هم پوهېږی چې زه څه وایم نو کوښښ مکوه چې ما ته دروغ ووایې او چل راکړی، شاید نور کسان نه وی پوه شوی خو زه چې تا خپل د لاس د ورغوی پشان پیژنم پوهیږم د څو شیبو مخکې کار امکان نلری ستا اوسیږی.

که څه هم احساس مې کاوه بدن مې د اوس لپاره زما د کنټرول لاندی دی خو بیا هم هغه احساسات کامل لمنیځه نه وه تللي نو ځکه په پوسخند مې ذوالفقار ته وویل: که زما نه وو نو د چا وو؟ لکه چې په ویښه

باندی خوب ګوری ذوالفقار؟ سترګي دی صحیح خلاصې کړه او وګوره ستا و مخ ته زه ولاړ یم نه کوم بل څوک.

ذوالفقار په همغه تروش تندی او مشکوک لهجه وویل: شاید په ظاهر ته اوسیږی خو فکر نکوم هغه کارونه او دا خبری دی ستا اوسیږی طاها ..؟

په همغه پوسخند چې هیڅ ډول مې د شونډو څخه نه جلا کیدی ومي ویل: ولې فکر کوی دا کارونه زه نشم کولای؟

ذوالفقار- ځکه چې زه تا پیژنم او پوهیږم چې ته دومره زور نلری چې پنځه نفر خپل ټول ځواک یوزای کړی خو تا ونشې نیولې! دا امکان نلری او دویم دا چې ته دومره ظالم نه یې ...که هرڅومره فهیم غول خوړلې وی ته دومره ظالم نه یې چې تر مرګ یې ووهې، هغه دقه ته بل ډول وی طاها سترګي دی د نفرت، کرکي او وحشیتوب څخه ډکي وه، ما عمر کې ته داسې نه وی لیدلی هېڅکله هم نه ...!

- ليدلی دی نه وم څکه هېڅکله خبره زما ناموس ته نه وه رسيدلې ذوالفقار ..

ذوالفقار بغير د څه ويلو په همغه تروش تندی او مشکوک نظر راوکتل د ذوالفقار په نظر کې ډېر شيان وه لکه انديښنه،حيرت،شک، خو د ټولو څخه چې ماته جالب وه هغه د ذوالفقار په نظر کې وېره وه! نه پوهيدم چې ايا ذوالفقار زما لپاره وېردلې يا زما څخه وېرېدلې؟؟؟

***

شامپو مې لړ په اوبو کې ګډه کړل کله چی ښه زګ يې وکړل نو د هغه وروسته مې ټوټه لنده کړل او ميز پاکول مې پيل کړل، دوه مياشتي کيدل چې دې هوټل کې مې د ګارسون په توګه کار کول پيل کړی وه، دوه مياشتي کيدل چې د هېڅ شناخته کس سره می ليدنه نه وه وکړی نه ذوالفقار،نه زبير، نه طاهر، نه بابا او نه هېڅ کوم بل خپل او خپلوان هېڅوک مې دا دوه

میاشتو کې نه وه لیدلې ټولو څخه لرې دلته مې ژوند پیل کړی وو، د هغه شپې وروسته چې د فهیم سره مې جنګ وکړو او بیا ذوالفقار کوټې ته ننویستلم او جنایي پوښتني پیل کړل او بیا ترڅو چې په هغه بد حال خپل کور ته لاړو

اقرا وژړل یوه شیبه هم غلې نشول کله چې ښه یې وژړل او زړه یې سپک کړو د هغه وروسته نه پوهېږم څه ورباندی وشول خو عجیب خبره یې وکړل؟! ماته یې وویل راځه یو لیری ځای لاړشو ...! د دی ټول کسانو څخه لرې یو داسي ځای چې نه هېڅوک وپیژنو او نه هم هېڅوک موږ وپیژني! یو داسې لیری ځای لاړشو او دا ټول خبری او کسان هملته پریږدو ...

که څه هم د هغې وړاندیز یو ناساپه وو او حیران یې کړم خو دا حیرت همغه لومړۍ څو شېبی وو د هغه وروسته دومره خوشحاله شوم چې د همغه ورځ په سبا بغیر له دی چې کوم کس خبر شې خپل شیان مو

ټول کرېل او د هغه ځای راغلو دلته، لومړی مې غوښتل د پکتیا څخه بیخې یو بل ولایت ته لاړشم خو کله چې فکر می وکړو بل ولایت ماحول به څنګه وی؟ خلک به یې څنګه وی؟ نو جرئت مې ونکړو بل ولایت ته لاړ شم خو د پکتیا هغه ولسوالي ته لاړم چې د ذوالفقار او د بابا دوي څخه تقریبا په ساعتونو،ساعتونو مزل یې درلود ..

دا ځای مې د فسبوک په یو پوسټ کې لیدلې وو چې یو کس نشر کړې وو، ما په لومړۍ نظر کې خوښ شو ځکه کوچني خو عین حال کې منظم او ښه کور وو د یو کوچني فامیل لپاره مناسب وو دوه کوټې، مناسب دهلیز، اشپزخانه او کوچنې حویلې درلودل همدا چې ومې لیدو نو مسج مې ورپسی وکړو هغه هم وویل چې په کرایه یې نه ورکوم او که ګرو کوی نو قیمت به ووایم، ما هم بغیر د وخت ضایع کولو څخه ورسره ومنل او بیا مې د دوکان څخه هغومره پیسي راوخیستل څومره چې د کور ګرو کولو لپاره پکار وه.

البته د راتلو مخکې مې زبیر ته یو مسج کیخودو او هغه کې می خپل د هغه پخوانې کور قواله کوم چې د هدیری خوا کې وو او تقریبا دوه،دونیم لک بیه باندی اخیستونکې درلود واستول او هغه ته مې پوره واک ورکړو ترڅو هغه کور خرڅ کړی او د هغه پیسي د دوکان په هغه پیسو کې کیږد کوم چې ما بی اجازی او بیخبر د دوکان څخه اخیستی وی، امید مې درلود په دی کار مې زبیر غوسه نشې البته پوهیدم چې زبیر په بی اجازه پیسو اخیستو دومره غوسه نشې څومره چې زما په داسی ناساپه تلو به غوسه شې ...

یعنې زما د تلو وروسته به هغوی زما په اړه څه فکر کړی وی؟ ایا زما پسې به ګرځیدلې وی؟ ذوالفقار به څنګه وی؟ زبیر خو به زما خبری ذوالفقار ته نه وی کړی؟ نه ما هغه ته قسم ورکړی وو خدای خبری چې څه یې ویلې اوسیږی، که څه هم زړه نا زړه وم خو ځانته مې دلداری ورکول چې زبیر به کوم څه ذوالفقار ته نه وی ویلی یوازینې کس چې ورته اندیښمن وم

هغه ذوالفقار وو پوهیدم زبیر به په یو ډول ځان آرام کړی خو زما داسی ناساپه تګ به ذوالفقار هیڅکله درک نشي کړی که څه هم هغه ته مې د سیمکارټ مات کولو مخکې مسج استولې وو او ورته ویلی می وه چې زما پسی مه ګرځه او بهتره ده خپل ژوند ته دوام ورکړی، زما شتون یوازی ستاسو ژوند برباد کوی نو غوره همدا ده چې ما هیر کړه ...

که ذوالفقار دا مسج زبیر ته ښودلې وی نو بی له شک ویلي شم زبیر د مسج لیدلو ورسته په تروش تندی او غوسه ویلې" ته اوس د ده دلشکسته د هندی ډرامو ډیالوګ ته وګوره" په دی فکر مې بې اختیاره مسکا پر شونډو راغله زبیر تل د احساساتي خبرو او کارونو مخکې داسی ریشکن ښودو او ریشخند یې واهه خو عجیب دا وه چې زموږ ټولو څخه ډېر احساساتی همدی خپله وو، باور مې نه راتلو چې د زبیر او ذوالققار پسي به مې زړه دومره تنګ شې چې کښینم او د هغوی

خبرې او کارونه په یاد راورم او په دې ډول خپل زړه تنګون یو څه کم کړم ...

په همدې فکرونو کې وم چې اغاګل راباندې غږ کړل.
اغاګل- اووو کاریګر صیب هغه څلورم نمبر میز ته لاړ شه او وګوره څه غواړي؟
- سمده.

زما د "سمده" پر ویلو هغه هم نور څه ونه ویل او روان شو، د هغه د تلو وروسته ژر مې خپل کار خلاص کړو او د هغه میز خواته لاړم ترڅو د هغوی فرمایش واخلم، هغه میز باندې یو بوډا سړی او دوه کوچنۍ ماشومان چې ښکاریدل د همدې سړي زامن دي ناست وه، بوډا سړي یو خوراک قابلي او یو خوراک کباب وغوښت، ماشومانو هم یو پیپسي وغوښتل خو بوډا سړي ورباندې غوسه شو او هغوی هم نور څه ونه ویل ما هم د ماشومانو فرمایش ونه لیکو چې هسې نه پلار

يې ووايي ما خو نه وه راغوښتلي نو ولې دی پيپسی راوړل؟

دا دوه مياشتو کې پوه شوی وم چې بايد د هغه چا فرمايش وليکم کوم څوک چې غواړي پيسی راکړي! کنه بيا جنګ جوړيږي، د هغوی د غوښتل شوی شيانو د ليکلو وروسته د هوټل آشپزخاني خوا ته لاړم آغاګل لګيا وو د اشپز سره يې ټوکې کول آشپز هم داسې حال کې چې کار يې کاوه او خندا يې پر شونډو وه خو بيا هم ويل يې بس يې کړه، خو آغا ګل همغسي لګيا و او خبری کول.

آغاګل اصل کې زما د نوي کور همسايه وو، ښه هلک وو کله چې لومړۍ مياشت دلته راغلم او کار پسې در په در ګرځيدم او هيڅ کار نه راته پيدا کيدو ده راته دا کار پيدا کړو، دی خپل په همدی هوټل کې ګارسون وو يوه ورځ چې د کار نه پيدا کيدلو له سبب په غم باندی د کور خواته روان وم کوڅه کې می دې وليد او نه

پوهېږم خنګه خو د لومړۍ ځل لپاره مې یو ناشناخته کس ته خپل د زړه درد وویل او د بیکارۍ څخه مې ګیله ورته وکړل، خبر نه وم چې زما دا ګیله کول به دومره ګټوره اوسیږی!

د هغه ورځ په سبا آغاګل دلته راته کار پیدا کړو، البته چندان ښه کار خو نه دی خو بیا هم ګوزاره کوی، میاشت کې شپږ زره افغانۍ راکوی او کوم خوراکي شئ چې پاتي شی هغه هم موږ ته راکوی ترڅو کور ته یې یوسو مطلب ډوډۍ مو مفت ده، هغه شپږ زره افغانۍ معاش هم د کور کرایه د برق بیل او د کور نور میده خرید پکې کیږی خلاصه په یو لفظ کې که خپل د دی دوه میاشتو حالت بیان کړم نو باید ووایم شکر الحمدالله حالت مې ښه دی. د آغاګل پر غږ د هغه خواته مې وکتل.

آغاګل- اوو مجنون صیب په کوم فکرونو کې غرق یې؟
- هیڅ ...

آغاګل- هېڅ فکر نکوی او داسی په فکرونو کې غرق یی؟ که کوم خبره وی موږ ته ووایه نه دا چې چوپ و درېږی.

- کوم خاص خبره نشته هغه تاسو دوارو خبری کول نو ځکه زه چوپ وم.

آغاګل خوله خلاصه کړل چې یو څه ووایې خو د هغه د څه ویلو مخکې اشپز چې محمود نومیده او د عمر څخه د ځلویښت،پنځه ځلویښت کالو سړی وو او تقریبا دا دوه میاشتو کې می څه ناڅه پیژندلي وو داسی حال کې چی خام غوښه یې په سر شوی غوړو کې اچول آغاګل ته یې ویل: ټول خو ستا پشان غراو نه دی(ډېر خبری کوونکي کس ته ځینې کسان غراو وایې) چوپ اوسېدل هم هنر دی، چې بدبختانه ته یې نلری.

د محمود په خبره آغاګل زما څخه نظر واخیست او د هغه سر په جنګ شو،آغاګل اصل کې د غزنی څخه وو

او محمود که څه هم اصل کې د پکتیا څخه وو خو دا چی کلونه یې په مختلف ځایونو کې کار کړی وو نو خبرو وخت کې مختلف لهجې او تکیه کلامونه یې استعمال کول کله ناکله یې داسی خبری کول چې د جنګ مېنځ کې به آغاګل د هغه په لهجه باندی به پخندا شو او جنګ به یې لیاده لاړو، د هغوی دواړو خبرو ته مې په خندا سر وخوځاوه او خپل پکار لګیا شوم ترڅو د څلورم نمبر میز فرمایش تیار کړم.

آغاګل او محمود دا دواړه هغه کسان وه چې دی دوه میاشتو کې ما ته د ذوالفقار او زبیر خالي ځای ډک کړی وو، که دوی دواړه نه وایې زه همغه لومړۍ میاشت کی د ډېر یوازیتوب او زړه تنګون څخه لیونۍ کیدلم که څه هم دواړو دومره تعلیم نه درلود او ټول عمر یې ایران، ترکیه یا د افغانستان نور ولایتونو کې تېر کړی وه خو بیا هم بیحد ښه کسان وه د څلورم نمبر میز فرمایش مې تر هغوی ورسو او بیرته آشپزخاني ته راغلم، تر ماښام هوټل کې لګیا وم کله مې د راغلو

کسانو غوښتل شوی شیان ورېل او کله به مې هم د محمود او آغاګل خبرو ته غوږ نیولې وو.

د ماښام د اذان وروسته کرار،کرار مې خپل شیان راټول کړل او د کور پخوا راون شوم، آغاګل او محمود هوټل کې پاتي شول هغوی دوارو د شپي تر لس او کله ناکله تر یوولس بجو کار کاوه چې په دی اضافه کار باندی به د هوټل مالک ورته اضافه پیسي ورکول،خو زه به د شپي د آذان سره سم د کور پخوا روان کیدلم که څه هم پیسو ته مې اړتیا درلود خو زیات نشوم پاتی کیدلې، ځکه اقرا او محمد کور کی یوازی وه که څه هم د آغاګل مور او خویندی زیاتر وخت زموږ کور ته راتلل ترڅو اقرا یوازی ونه اوسیږی.

خو د ماذدیګر د اذان وروسته هغوی به خپل کور ته تلل او زما تر تلو به اقرا کور کې یوازی اوسېدل او وېرېدل به نو ځکه څو ځله یې زما څخه غوښتنه کړې وه چې دشپی لخوا یو څه وخت کور ته لاړشم نو ځکه

زه داسې وختي کور ته تلم، د آغاګل او محمود دوارو سره مې خدای پامانی وکړل او روان شوم د کور څخه تر هوټل دومره لاره نه وه پیاده تګ باندی تقریبا لس،پنځلس دقیقي لاره وه نو ما هم کوم ټکسی ونه نیول او همغسې پیاده روان شوم، که څه هم درسته ورځ هوټل کې د یو خوا څخه تر بلخوا په ځغاستو وم او یو دقه لا په ارام نه وم کښیناستلې خو بیا هم زړه مې د دی پیاده مزل لپاره خوښ وو.

کله چې د کور مخکي کوڅي ته ورسېدلم نو هلته د موجود دوکان څخه مې یو څه میوه واخیسته او بیا د کور خواته راون شوم، د کور دروازی ته مې یو ټک شاید ورکړی و او کنه؟ چې دروازه خلاصه شوه .. د اقرا په لیدو چې محمد یې په غیږ کې نیولې وو پخندا مې وویل: لکه چې د دروازی مخ کیدی ځای اچولې و څنګه؟ لا یو ټک مې ورکړی نه وو چې خلاصه دی کړه!

اقرا داسې حال کې چې د دروازي له مخي لرى کيدل او ما ته يې د ننوتلو لاره راکول کرار يې وويل: دا کور او ماحول راته ناشنا دى هېڅ د امنيت احساس نکوم، همدا چې يوازى شم نو زر فکر مې ذهن ته راځې نو ځکه حويلي کې ګرځيدلم ترڅو ته راشې.

داسې حال کې چې کور ته ننوتلم محمد چې د اقرا غيږ کې ويده وو د هغې له غيږى څخه مې واخيسته بيا مې دروازه د ځان پسې بنده کړه او هغې ته مې د کور ته ننوتلو اشاره وکړل، اقرا په تلوار زما د لاس څخه شيان واخيستل او د کور پخوا روانه شوه د هغې تګ ته مې د شالخوا کتل او دى خبرى ته مې فکر کاوه چې څه وکړم؟ څنګه د اقرا دا وېره کمه کړم؟ داسې خو نه کيږى چې ټول عمر دى دا په وېره تېره کړى او حويلى کې دى زما د راتګ انتظار وکړى.

اوس لا هوا يخه وه څه ورسېږى يو مياشت وروسته ته چې واوره ورېږى او ټول ځاى يخ نيسې هغه وخت

به هم ایا داسې په حویله کی زما د راتلو په تمه اوسیږی؟ په دی فکر مې تندی تروش شو که څه هم د هغې دا اندیښنه تر یو حده د منلو وړ وه خو بیا هم ما نه غوښتل هغه د ځان او محمد سره داسی کار وکړی، اقرا خپل ټول عمر په یو منطقه او ماحول کې تېر کړی وو نو اوس داسی ناساپه د هغه ماحول څخه لیری کېدل ورته نا امنه ښکاریدل او له بلخوا د رښتیا هم د دی کور موقعیت چندانې ښه نه وو.

دلته چې تازه راغلو نو اغاګل راته یو ورځ وویل چې د کوځې مخکې چی څو کوره یو د بل سره څنګ په څنګ دی هغوی ټول غله دی نو د ځان سره پام کوه او د هغه کور د کسانو خوا ته مه نږدی کیږه، هغه څو کوره د رښتیا هم بد خلک وه څو دانۍ ځوانان وه چی درسته ورځ او شپه به په کوڅه کی ناست وه او سګریت به یی واهه او کله ناکله خو به یې د یو ځای څخه موټر هم راوړو او په هغه کې به یې سندره اچول او غږ به یې ورڅخه دومره پورته کاوه چې ټول

همسایه ګان به یې پعذابول، هر سهار به چی زه تلم د کار خواته یا دشپي به چی راتلم نو دوي به دوه سترکی زما خواته نیولی وه.

کله ناکله د هغوي د داسې کارونو او کتلو څخه مې بیحد عصاب خراب کیدل خو هېڅ مې نشو کولای مورږ د څنګ یو همسایه اغاګل دوي وه او بل همسایه مو یو فارسیبان کور وو چی زمورږ پښتنو د رنګ یی لا بد راتلل شاید دلیل یی همغه د کوڅې سر کی څو لنډغر وه،هغوی ته په کتلو به دوی فکر کاوه چی مورږ ټول پښتانه همداسی غل او خراب خلک یو ...

د بووډۍ خوړلو وخت کې اقرا د یو ګوله بووډۍ خوړلو وروسته لاس ونیو او په ځغاستو د تشناب خواته لاړه او همغه یو ګوله خوړلی بووډۍ هم قې کړل، زه هم وریسې ورغلم او کله چی د هغې د داسی بد حال او پربدلې رنګ په اړه مې پوښتنه وکړل نو هغې یوازی وویل معده مې دا څو وخته لږ خرابه ده او بس! خو ما

ته د هغې مشکل لږ نه ښکاریدو دا دوه میاشتو کی اقرا بیحد وزن کم کړی وو او رنګ یې تل تک ژیړ وو هر ځل به چی ما پوښتنه کول ښه یې؟ ډاکتر ته ځې؟ نو هغې به یوازی ویل ښه یم او لږ معده می درد کوی یا ملا مې درد کوی او کله ناکله به یی کالۍ مینځل او ستړیا بهانه کړل او ډاکټر ته د تلو څخه به یې انکار کاوه.

څو ځله مې غوښتل په زوره یې ویسم ډاکتر ته خو هغې نه منل او ویل یی ښه یم. د هغی د حال په خراب کیدو لوښې او سرخان ما خپل ټول کړو د هغې ځای لا ما پخپل واچو که څه هم هغې ډیر وویل مکوه خو ما یی خبره ونه منل او ځای مې ورته سم کړو د ویده کیدلو مخکې د ستړیا او معدی درد په بهانه یې یو بروفین ګولۍ خولی ته واچول او ویده شول خو ما درسته شپه خوب ونکړو، د اقرا خراب حالت ته مې طبعیت خراب و، فکر می کاوه شاید د هغې د خراب حالت اصلی دلیل د هغه کورنۍ اوسیږی چې دا دوه میاشتي ورڅخه لری وه!

شاید د هغوی پسي زړه تنګ شوی وی خو ما ته څه
ویلې نشې او د ډېر فکر کولو او زړه تنګون له سبب
داسې عصبی مرض یې پیدا کړی وی؟ له یو اړخ په بل
اړخ شوم او زر رقم فکرونه مې وکړل خو هیڅ د حل
لاره می پیدا نکړل دا دوه میاشتي پر ما باندی د اقرا
په پرتله ډېر ښه تیر شوی وه البته منم کله ناکله به مې
د ذوالفقار او زبیر په اړه فکر کاوه خو دومره زیاد نه
چې طبعیت مې خراب شې ما دا دوه میاشتي کوم
ذهني ستونزه نه درلود یوازی زړه تنګون وو چی هغه
به هم د اقرا او محمد په لیدو به مې لیاده وت، خو
اقرا د دی نوی ماحول سره تر اوسه نه وه اموخته
شوی.

دا خبرو مې ذهن خراب کاوه ټول شپه مې فکر وکړو
او اخر دی پایلې ته ورسېدم چې سبا یو څه پیسي د
هوټل د مالک څخه وغواړم او کله چې هغه پیسي
راکړل نو لږ وخت کور ته راشم او اقرا ویسم یو ښه
ډاکټر ته ترڅو وګوری څه ستونزه لری؟ کله چې

جسمي حالت يې لږ ښه شو نو د هغه وروسته به کوښښ وکړم چې يو سرګرمی او مشغولتيا ورته پيدا کړم ترڅو خپل د کورنۍ په اړه دومره فکر ونکړی، په همدی فکرونو کې خوب وړی وم، سهار وختې له خوب پاڅيدم او بغير له دی چې اقرا راويښه کړم د هغې څنګ ته مې يو څو روپی کيخودل او له کوره ووتلم ...

نن د نور ورځو په پرتله کار ته مې هيڅ زړه نه کيدو او ټول فکر مې د اقرا خواته وو، تازه دا دوه مياشتي د ژوند کولو په مطلب پوهيدلې وم چې هغه هم اقرا داسې شول نه پوهېدم څه وکړم ترڅو ښه شئ؟
يوازيني کار چې پوهيږم چې بايد يې وکړم هغه دا و چې اقرا يو ښه ډاکټر ته ويسم، ترڅو جسمي حالت يې ښه شي، د هغه وروسته د روحي حالت لپاره يې هم بايد يو غم وخورم خو څه وکړم؟ ناساپه ذهن ته مې د آغاګل خويندی راغلې اقرا يو ځل خپل خبرو کې راته ويلې وه چې هغوي مدرسي ته ځې ...!

اقرا هم د ديني درسونو سره ډېر شوق درلود که ورته ووایم د هغوی سره مدرسي ته لاړه شه نو شاید فکر یې پر بله شې؟ خپل په دی فکر بیحد خوشحال شوم او ځانته مې افرین وویلو اوس یوازینې کار چې باید وکړم د هوټل د مالک څخه یو څو روپي اخیستل او یو څه ژر کور ته تلل دی ترڅو اقرا ډاکټر ته یوسم، په دی فکر د کار کولو څخه مې لاس واخیست او آغاګل ته چې لګیا وو لوښې مینځل ومې ویل: د هوټل مالک نه دی راغلې؟

زما په غږ هغه راوکتل او په مشکوک انداز یې وپوښتل: لس دقیقي مخکې راغلو څه کار ورسره لری؟ د آغاګل په دی خبره بیحد خوشحال شوم خپل کالو باندی مې لاس تېر کړو چې لږ اتو کړې معلوم شې،بیا داسي حال کې چې د اشپزخاني څخه وتلم ومې ویل: لږ کار ورسره لرم.

او بیا بغیر له دی چې د هغه ځواب ته په تمه شم د هوټل د مالک د کوټې خواته روان شوم، د هوټل د مالک کوټه د هوټل په اخیری کونج کې موقعیت درلود دومره یې د اشپزخاني څخه واټن نه درلود دا هوټل بیحد کوچني وو او همچنان بیحد هم بې ډیزاین او پخواني، دومره پخواني چې زیاتر دیوالونو یې درزونه کړی وه او ما فکر کاوه د یو معمولې زلزلي په کیدو به دیوالونه یې له بیخ ووځې، په هر حال همدغه بې ډیزاین او پخواني هوټل د لسګونو کورنۍ د ژوند تېرولو زریه وه ...

د کوټې دروازی مخکې ودریدم که څه هم دې هوټل کې کوم خاص تشریفات نه وه او کارکونکي د هوټل د مالک سره بیحد راحت او فری وه خو بیا هم زما په نظر مناسب نه وو چې بغیر د دروازي ټکولو کوټې ته ننوځم نو ځکه دروازه مې وټکول او کله چې د هغه خوا څخه د مالک غږ مې واورید چې ویل یې: څوک یې؟ راځه.

نو دروازه مې خلاصه کړه او دننه ورغلم د هوټل مالک چې د 50/55 کالو د عمر سړی و او وزن یې هم ماشاءالله بیحد ډېر وو زما په لیدو ځان یې خپل د میز له شا څخه لږ وښورو او په خندا یې وویل: پوهېدم چې ضرور به ته اوسیږې!

د هغه په دی خبره مې حیرت وکړو او همغه حال کې مې کرار سلام ورباندی واچو چې هغه د سلام د ځواب راکولو سره پخندا وویل: دلته چې څومره کسان کار کوی هغوی عادت نه لری چې د راتګ وخت کې دروازه وټکوی او اجازه وغواړی، نو ځکه همدا چې د دروازی د ټکیدو غږ مې واورید پوه شم چې شاید ته اوسیږې، ځکه د هغه نورو په نسبت لږ تعلیم یافته معلومیږي.

د هوټل د مالک په خبرو مې یوازی سر وخوځاوه او غوښتل مې ژر خپل کار ووایم او لاړ شم خو هغه لکه چې تازه یو کس د خبرو کولو لپاره پیدا کړی وو چې

زه یې خبرو ته پرېنخودلم او ویې ویل: نوم دې څه دی؟ زما لیاده ووت او رښتیا څومره تعلیم دی کړی؟

د هغه په داسې پرلپسې پوښتنو کولو پوه شم چې دومره ژر تګ د دې کوټې څخه امکان نلرې نو ځکه دروازه مې د ځان پسې بند کړل او یو څو ګام د هغه د میز خواته نږدې شوم او ومې ویل: نوم مې طاها دی او د اقتصاد په برخه کې لیسانس لرم.

زما په دې خبره هغه په حیرت راوکتل او بیا کامل توګه خپل په څوکۍ کې کښیناست او داسې حال کې چې په لاس باندی ماته په کوټه کې موجود هغه یو خیرنې څوکۍ باندی د کښیناستلو اشاره کول ویې ویل: دا ته څه وایې؟ ایا د رښتیا پوهنتون دې ویلي؟

داسې حال کې چې د هغه مخامخ په هغه تور چرم داره څوکۍ باندي چې د ډېر وخت تېریدلو له سبب پوست یې اوښتی وو او نور د جرم لځایه یې پخته معلومیدل کښیناستم کرار مې سر د "هو" به بڼه

وخوځاوه چې د هغه حیرت نور هم ډېر شو او ویې ویل: نو دلته څه کوې؟ مطلب تخو ماشاءالله تعلیم یافته هلک یې کولای شې یو سم دفتر کې په یو سم معاش باندې کار شروع کړې نه دا چې زما دې خراب هوټل کې د ګارسون په توګه کار وکړې؟!

د هغه خبرو کې یو ډول خاص مهربانې او صمیمت وه، بلخصوص کله چې خپل هوټل یې خراب معرفې کړو او زما لیاقت یې په یو سم دفتر کې د کار کولو ولید، د دې سبب شو چې بې اختیاره لهجه مې د رسمي حالت څخه په یو دوستانه حالت بدل شې او ومې ویل: ډېر وګرځیدم د کار پسې خو چا کار رانکړو اوس وخت د پوهنتون سند تر څو چې واسطه ونلرې په هېڅ درد نخورې.

زما په دې خبره هغه په افسوس سر وخوځاوه خو ناسایه په خوشحالۍ وویل: شاید نور ځایونو کې واسطه لومړۍ خبره وکړي خو زما هوټل کې زه لیاقت

او استعداد ته ګورم نه واسطي ته، شابه پاسېږه زما سره راځه ...

د دې خبری سره سم د هوټل مالک بغیر له دی چې زما ځواب ته په تمه اوسیږی خپل د میز له شا څخه پورته شو او زه یې د ځان پسې د کوټې وویستلم،هرڅومره چې کوښښ مې وکړو ترڅو ورته ووایم چې ماته یوازی یو دوه زر روپۍ د میاشتي د پوره کیدلو مخکې راکړه او نور زه کوم څه نغواړم خو هغه بغیر له دی چې ما ته د کوم خبری کولو اجازه راکړی زه یې د ځان پسي د هوټل د پیسو ساتلو صندوق دار خواته ویوړلم، چیرته چې د هوټل د ورځنې عاید او کارکونکو ته د معاش ورکولو حسابي کیدل.

زموږ په تلو د هغه ځای مسئول چې یو ځوان هلک وو او زموږ تر تلو مخکې لګیا و خپل موبایل کې ګوټی وهل زموږ په تلو په تلوار خپل د څوکۍ څخه پورته شو او د هوټل د مالک سره یې ستړی مشې وکړل د

هوټل مالک زه هغه ته معرفي کړم که څه هم موږ دا دوه میاشتو کې یو بل یو څه پیژندل خو د هوټل مالک زه ورته سم صحیح معرفي کړم او د هغه وروسته یې هغه هلک ته په امرانه لهجه وویل: د نن وروسته د هوټل ټول د پیسو او د کاریګرانو د معاش حساب،کتاب د طاها په غاړه دی. او ته هم د هغه همکاری وکړه، (خپل سر یې د هغه هلک خواته لږ نږدی کړو ترڅو خبره یې تاثیر ولري او لا په کلک لهجه یې ورته وویل: یوازی همکاری، مطلب د هغه خبره منه او د هغه شاګردی کوه، د نن وروسته هغه ستا مشر دی.

د هوټل د مالک په دی خبره هلک څه چې زما سترګې لا د حیرت څخه راووتل، خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې دا ځل د هوټل مالک په ورین تندی زما خواته را وکتل او خپل لاس یې زما په اوږه کیخود او همغه مسکا پر شونډو یې وویل: د دی وروسته ته دلته کار کوی او معاش دی هم نهه زر افغانۍ د میاشت دی، نور ضرورت نشته د آشپزخاني خواته لاړ شې ته یوازی

دلته باید د میز شاته په څوکۍ کښینی او د هوټل د پیسو حساب کتاب وکړی همغه کار چی درس دی ورته ویلې.

خو څکه چې لږ بې تجربه ماته ښکاری نو د یو میاشت لپاره نوخان (هغه ځوان هلک ته یې اشاره وکړل) درته د کارونه په اړه معلومات درکوی خو د هغه وروسته ستا لیاقت او استعداد ښايي چې څنګه په دی نوې ماحول کې ځان عادت کوی او خپل کار مخ ته وړی؟

د هوټل مالک په دومره تلوار زه په نوی دندی وګمارلم او ارتقا مقام او معاش یې راته ډېر کړو چې ما خپل ټول خبری لیاده وویستل او یوازی مې په ګنګس انداز وپوښتل:ایا د اوس څخه دا کار شروع کړم؟
او هغه هم پخندا سر د"هو" په بڼه وخوځو او زه یې د نوخان نومې هلک سره یوازی پریخودلم او لاړ، د هغه د تلو څو شیبې وروسته هم زه همغسې ګنګس ولاړ وم او د هغه د تلو لاری ته مې کتل نه پوهیدم چې څه

وکړم؟ تر دی چې نوخان راباندی غږ کړو او په تروش تندی وویل: ته د هوټل د مالک څه کیږی؟ د کوم خوا یې پیژني؟

د هغه په دی خبره مې حیرت وکړو او ومې ویل: زه هغه نه پیژنم، مطلب څه مې نه کیږی.
نوخان په غوسه بغیر له دی چی ماته وګوری د میز له سر یو څو ورقي راپورته کړل او همغه حال کې په پوسخند وویل: نه یې پیژنی او همدا چې راغلی درته یې دومره غټ دنده درکړل او معاش یې دومره درته پورته کړو؟! ستا په نظر زه خر یم؟

د هغه په دی خبره د هغه د خبری او مطلب تر پای ورسیدلم هغه له دی چې ما د هغه ځای نیولې وو غوسه و او فکر یې کاوه ما واسطه لګولې یا دا چې د هوټل مالک زما کوم شناخته دی چې داسې ما ته معاش ډېر کړو.
- زه د ربښتیا هم هغه نه پیژنم، ما یوازی هغه ته وویل

چې د اقتصاد پوهنځي څخه لیسانس لرم ... نور څه مې ورته ونه ویل هغه خپل دا کار راکړو، باور وکړه ما ستا کار نه غوښت.

زما په دی خبره نوخان د ورقو ټولو څخه لاس واخیست او په حیرت یې وپوښتل: تا پوهنتون ویلی؟
- هو.
نوخان- نو دلته څه کوی؟ ته که د پوهنتون سند لری نو ولې دې دلته ګارسوني کول؟
- د پوهنتون په سند باندی چا کار نه راکو نو مجبور شوم دې کار ته.

زما په دی خبره هغه نور څه ونه ویل او که څه هم تندی تروش وو خو د څو شیبو مخکې پشان ټُنده لهجه یې نه درلود خپل څوکۍ ماته پریخودل او په نه زړه لګیا شو د هوټل د حساب کتاب په اړه یې معلومات راکړل، دومره د نوخان په خبرو کې غرق شوی وم چې خپل د یو ساعت مخکې خبری،فکرونه،اندیښنې او حتا

ساعت مې لا له هېره وتي وو، یو وخت خپل د موبایل په غږ په ښود راغلم اقرا وه!

د نوخان څخه مې بخښنه وغوښتل او په تلوار مې موبایل ته ځواب ورکړو.
- الو سلام علیکم.
د هغه خوا د اقرا نیولی آواز مې ترغوږ شو: علیک سلام ښه یې؟
- شکر، خپله څنګه یې؟ښه یې؟ محمد څنګه دی؟
اقرا- شکر د خدای فضل دی مور دواړه هم ښه یو، هغ.. هغه نن دی ناوخته کړل نو ځکه ورخطا شوم او زنګ مې درته وواهه خیرت خو دی؟ چیرته یې؟ولې دی نن دومره ناوخته کړل؟

د اقرا په خبره تازه مې ساعت ته فکر شو د شپې اوه بجې وه او زه تراوسه هوټل کې وم؟ په تلوار مې ورته وویل: بس دغه دی درغلم.
اقرا- سمده ژر راشه مور درته په تمه یو.

- پنځه دقیقو کې لخیره کور کې یم کوم شئ خو نغوارې؟

اقرا- نه کوم شئ ته ضرورت نشته، یوازی ته پخیر راشه.

- سمده بس درغلم خدای پامان.

اقرا- خدای پامان.

د اقرا سره د خدای پاماني وروسته د نوخان خواته مې مخ کړو چې خپل موبایل کې لګیا وو.

- زه باید نور لاړ شم سبا به د نور شیانو په اړه خبری وکړو سمده؟

نوخان بغیر له دی چې سر د موبایل څخه پورته کړی وویل: سمده، خو یوازی نن وختي تللې شې سر له سبا باید د شپې تر اته بجو هوټل کې پاتې شې.

په حیرت مې وویل: د شپی تر اته بجو؟

نوخان په پوسخند وویل: هو نو، کله چې د څوکۍ شاته وظیفه او مفت پیسي غوارې باید تر ناوخته کار هم وکړې.

د هغه په دی خبره پوه شوم چې تراوسه يې د زړه کوفت نه دی وتلې او له دی چی په یو ورځ کې خپل وظیفه له لاسه ورکړی او د عرش څخه فرش ته راغلې پر ما غوسه دې نو ځکه څه مې ونه ویل او روان شوم، غوښتل د هوټل د مالک سره خبری وکړم او ورته ووایم چې زه دا دنده نغواړم او همغه ګارسوني زما لپاره بهتره ده خو د هوټل مالک کوټې ته د تلو مخکي آغاګل مې ولید چې له اشپزخاني راووت زما په لیدو هغه په حیرت وویل: ته تراوسه دلته یې؟ ما فکر وکړو چې غرمه له هوټل لاړی؟

بغیر له دی چې د هغه د پوښني ځواب ورکړم ومې پوښتل: د هوټل مالک خپل کوټه کیدی؟
زما په دی خبره آغاګل په حیرت خپل وریځه پورته واچول او ويې ویل: یو ساعت مخکې هغه لاړو خیرت خو دی؟ نن زموږ غریبانو د خبرو ځواب نه راکوی او د رئیسانو سره ګرځي؟

د هغه په دی خبره چې ویې ویل د هوټل مالک تللې "اه" مې له خولي ووتل او بیا مې ټوله کیسه ورته وکړل کله چې خبر شو زه د اقتصاد د پوهنځۍ سند لرم او د هوټل مالک د دی پر پوهیدو ماته نوی کار او معاش ټاکلې نو سخت خوشحاله شو خو کله چې ما ورته وویل زه دا وظیفه نغوارم نو آغا ګل په حیرت وویل: ته لیونۍ شوی یې؟ البته زما په نظر لیونی ویې؟ کنه کوم هوښیار انسان د پوهنتون د سند لرو باوجود راځی یو داسې هوټل کې په شپږ زره افغانۍ د ګارسونې دنده کوی؟ او د دی باوجود اوس چې یو نفر درته دومره ښه کار درکړی نو ته یې ولې نه منې؟ او هو تا ولې ماته تر اوسه نه وه ویلې چې تا پوهنتون ویلې؟

په ګنګس انداز مې وویل: لومړۍ خو دا چې تا هېڅکله راڅخه پوښتنه نه وه کړې او دویم دا چې ته خپل هم پوهېږی زه دشپي تر ناوخته کار نشم کولای او د هوټل

مدیریت مطلب دشپی تر اته بجو هوټل کې اوسېدل نو
ځکه مې انکار وکړو.

آغاګل په زیر راوکتل او ویې ویل: یو خبره کوم په دی
امید چې خفه نشې.
بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې اغاګل کرار وویل: ته
ولې یوازی یې؟ مطلب ولې کور کیدی نه مور شته، نه
پلار، نه کوم خور اوورور؟ حتا د ښځې کورنۍ هم
نلری یوازی ته میرمن او یو ماشوم د دی؟ بده ونه منې
خو کله ناکله فکر کوم چې جنۍ دی راتښتولې او واده
دی ورسره کړی؟

د آغاګل په دی خبره مې خندا راغله او ومې ویل: ستا
په نظر زما د قواری او شکل سره دا ښایي چې کوم
جنۍ وتښتوم؟
زما په خبره آغاګل هم پخندا شو او ویې ویل: زما مور
تل وایې د تېزو اوبو مه وېرېږه بلکې د مړاو اوبو و
وېرېږه! مطلب د هغه کسانو څخه مه وېرېږه چې تېز

او  چالاک دی بلکې د عاجز کسانو ښځه و وېرېږه ځکه اصل فساد په همدی عاجز خلکو کې وی او ته هم بیحد عاجز یې؟!

د هغه په خبره مې وخندل خو څه مې ونه ویل نه مې غوښتل خپل د ژوند په اړه چاته کوم څه ووایم ما هغه ټول شیان د همدی لپاره شاته پریخودلې وه ترڅو یو نوی ژوند پیل کړم نه مې غوښتل زما تېر وخت زما په راتلونکې باندی سایه واچوی نو ځکه خبره مې بدل کړل او ومې ویل: زه باید نور لاړ شم ناوخته ده. آغاګل څو شیبې په مشکوک انداز راوکتل د هغه وروسته یې کرار وویل: لږ صبر وکړه زه خپل شیان راټول کړم زه هم غواړم لاړشم، نو دواړه به یوزای په موټر سایکل لاړشو داسې به ته هم ژر ورسیږی؟

د آغاګل خبره مې خوښه شوه نو ځکه سر مې ورته د "سمده" په توګه وخوځاوه او په تمه شوم ترڅو راشې هغه هم ډېر ژر خپل کارونه خلاص کړل او دوه دقیقو

کې بیرته راغلو، د هغه سره یو ځاي د هوټل څخه ووتلم هغه موټرسایکل درلود البته دومره زوړ او خراب وو چې د موټرسایکل نوم ورته اخیستل مناسب نه وه باید ویلي مې وایې کباړ! خو همدا زوړ،خراب موټرسایکل په آغاګل دومره ګران وو چې د ورځې یو لس ځله خو د هوټل د باندی راوتلو تر څو وګوری چې چا خو یې موټر سایکل نه دی وړی؟ البته ما ورته پخندا ویل که دا چا ته مفت هم ورکړی بیا هم څوک یې نه وړی.

ډېر ژر دواړه د کور پخوا روان شو لاره کې آغاګل نور کوم داسې خبره او بحث ونکړو چې زما حوصله خرابه کړی زیاتر خبری د هوټل د مالک د وراندیز د منلو په اړه وه او زما څخه یې غوښتنه کول ترڅو هغه دنده ومنم، که رښتیا ووایم د ګارسوني څخه هغه دنده زما ډېره خوښه شوی وه خو وخت یې خراب وو ما نشو کولای اقرا تر نیم شپه یوازی کور کې پرېږدم هغه هم داسې

ماحول کې د لومړۍ ځل لپاره مې د استاذ د کورنۍ پسی آرمان وشو!

د هغوی شتون زما لپاره یو طلاي شانس وو ځکه د اقرا او محمد لخوا مې فکر بیغم و پوهېدم چې خپل د پلار کور کیده او طبعیت یې ښه دی او که خدای مکرړه کوم ستونزه راپیښ شي یو څوک شته چې مرسته ورسره وکړی په همدی بیغم فکر به زه تر هر وخت چې زړه مې غوښته بیرون ګرځیدلم،خو اوس یو دقه مې نشو ناوخته کولای په دی فکرونو مې "اه" له خولې ووتل چې آغاګل داسی حال کې چی موټر سایکل یې د کور د کوڅي خواته ګرځو ویې ویل: څه آهونه باسې خیرت خو دی؟ څه شوی؟

- هېڅ هسې زړه مې تنګ وو.

آغاګل- اوممم خو زما په نظر هېڅ زړه تنګون بې دلیل نه وی؟

غوښتل مې ځواب ورکړم او ووایم چې داسې کوم څه نشته خو زما د څه ویلو مخکې په هغه تور شپه کې یو شئ ناساپه زموږ د موټرسایکل مخي ته راغلو دومره په ناساپه توګه هغه کس یا شئ زموږ مخ ته راغلو چې اغاګل د موټر سایکل کنټرول له لاسه ورکړو او موټرسایکل د کوڅي منځ کې چپه شو، زما پښه او اوږه د موټر سایکل لاندي پاتي شول او د خورځیدو وخت کې بدن مې پر ځمکه کش شوو او د هغه سره سم موټر سایکل تقریبا زما د پاسه راوغورځید، د غورځیدلو سره سم بې اختیاره مې د درد او حیرت څخه "اخ" له خولی ووت.

دومره خوږ شوی نه وم مطلب کوم هډوکي مې مات شوی نه وو، خو فکر مې کاوه اوږه او پښه مې د ځمکی سره د لګیدو له سبب پوست یې اوښتې نو ځکه سوخت او درد یې کاوه، د دی څخه مخکې چې پر خود راشم او موټر سایکل لځان څخه لری کړم او خپل شاوخوا ماحول د نظر څخه تېر کړم ترڅو وګورم دا

څه شې؟یا څوک وو چې زموږ مخې ته راغې؟ چې یو چا د ځمکې څخه راکش کړم او مخامخ په دیوال یې ولګولم مخ یې نه راته ښکاریدو له یو خوا تیاره وه او له بلخوا هغه کس خپل مخ په پټو باندی پټ کړی وو، د چاقو تیز خوا یې زما د مرۍ لاندی کیخودل او په داسې غږ چې کوښښ یې کاوه ونه پیژندل شې ویې ویل: هر شئ چې لری راوباسه ...

د هغه کس په داسې امرانه او وحشیانه لهجه بې اختیاره مې لاس خپل د جیبونو خواته لاړو او همغه حال کې د سترګو له کونج مې د آغاګل پسې وکتل ترڅو وګورم څه حال کیدی؟ دوه نفرانو چې هغوي هم خپل مخونه په پټو باندی پیچلې وه آغاګل یې زما پشان رانیولې وو، نه پوهېږم داسې یو بد حالت کې ولې ذهن ته مې دا خبره راغلل چې آغاګل یې ولې په دوه نفرو نیولې دی خو زه دا یو نفر رانیولې یم؟ خپل ځواب مې خپل ځانته ورکړو" ځکه چې اغاګل یو څه قد او قواره لری او که وغواړی نو جنګ کولای شې خو

ته نه چندان کوم قواره د جنګ لری او نه هم چندان جنګي نفر یې نو ځکه یوازی یو نفر رانیولې یې!"

د چاقو یخه او تېزه څوکه چې په مری کې مې لږ ننوتل او د هغه کس غږ چې دا ځل په غوسه باندی راڅخه وغوښتل چې خپل ټول شیان ورکړم د هغه بیځایه فکرونو څخه راوباسلم نظر مې د اغاګل څخه واخیست او خپل جیب کی موجود ټول شیان چې عبارت وه له یو زوړ موبایل، دوه درې سوه افغانۍ،یو تسبیح او حتا د برق بیل ورقه مې لا ورکړل، نور کوم خاص شئ زما سره نه وه.

خو د اغاګل د جیب څخه یې څو زر افغانۍ او یو بهترینه ماډل موبایل واخیست ما فکر کاوه خبره همدلته خلاصه شوه او هغوی به موږ پریږدی، البته همداسي هم ښکاریدل ځکه هغوی موږ خوشی کړو او شاته،شاته په تلو شول او همغه حال کې د احتیاط لپاره خپل چاقوګان زموږ خواته نیولې وه ترڅو

ناساپي کوم برید ونکړو، البته ما خو کوم د حملې کولو اراده نه درلود .. ما یوازې غوښتل ېر تر ژره کور ته لاړشم بس نور مې هېڅ نه غوښتل، آغاګل هم چوپ معلومیدی او ښکاریدل چې هغه هم یوازې غواړی دوی لاړ شي ...

خو ناساپه هغه کس چې زه یې نیولې وم بیرته زما خواته راغلو چاقو یې زما خواته ونیو او ویې ویل: د موټر سایکل کیلي کومه ده؟
ما په حیرت د هغه خواته وکتل او ومې ویل: هملته د موټرسایکل سره ده.
زما په خبره یو د هغه درې کسانو څخه د موټرسایکل خواته لاړو خو کیلي هلته نه وه! کله چې کیلي پیدا نکړل هغه کس چې چاقو یې په لاس کې وو په غوسه زما خواته رانږدی شو او چاقو یې په ګواښ کوونکي انداز وخوځاوه او یو ځل بیا د موټرسایکل کیلي وغوښتل د هغه حرکات دومره د لیونیانو پشان وه چې زه وېار شوم چې هسې نه مفت میدان کې مې په

چاقو ووهې او مړ مې کړی هم هغه هم د یو زوړ موټرسایکل په سر، نو ځکه په تلوار مې وویل:

- د موټرسایکل کیلې زما سره نشته باور وکړه، شاید د غورځیدلو وخت کې کوم ځای ولیدلې وی؟ شاوخوا وګوره.

زما په خبره هغه دوه نفرو خپل د موبایل ګروپونه روښانه کړل او شاوخوا په کتو شول خو هغه دریمې کس تر اوسه په ګواښ کوونکي انداز چاقو زما خواته نیولې وو د څو شیبو ګرځیدو وروسته یو د هغه دوه کسانو څخه چې د موټرسایکل د کیلې پسی ګرځیدو سر یې راپورته کړو او داسی حال کې چې د آغاګل خواته یې قدم اخیستو ویې ویل: دلته کیلې نشته داسی ښکاری چې یو چا اخیستی؟
بیایی د آغاګل خواته چاقو ونیو او ویې ویل: کیلې راوباسه هله ژر کوه.

د هغه په خبره ما په اندیښنی د آغاګل خواته وکتل باور مې نه راتلو چې آغاګل دی په هغه بد حالت کې د موټرسایکل کیلي اخیستی وی! خو د آغاګل د خاموش او تقریبا بد نظر په لیدو یو څه و وېرېدلم او ځان سره مې ویل چې هسې نه آغاګل کوم غلط کار وکړی او دواړه مرګ ته ورکړی، زما په نظر د یو زوړ موټرسایکل په سر مړه کیدل بیخې د شرم خبره وه! غوښتل مې آغاګل ته ووایم که د موټر سایکل کیلي د رښتیا هم ستا سره ده نو خپل لخیره بغیر د کوم جنګ او جنجال یې ورکړه.

خو زما د څه ویلو مخکې همغه کس چې د آغاګل خواته روان وو په ناساپه توګه یې آغاګل په خوله باندی په بوکس وواهه او په غوسه یې ورته وویل: د انسان پشان کیلی راکړه کنه همدلته دی وژنم رزیل ...

د هغه نفر په دی کار ورخطا شوم وېرېدلم چې هسې نه آغاګل په غوسه شي او کوم جنګ وکړی، زما وېره د

هغوی لاسونو کې د چاقوګانو څخه وه، البته چاقو نه باید ووایم برچو څخه! که له غلطي څخه یې هم یو دانه وهلې وایی ژوندی پاتي کیدل ورڅخه سخته وه، د ادی خبره مې ذهن ته راغلل چې تل یې ما او طاهر ته ویل که کوم ورځ خدای مکړه غل ونیولې نو بغیر له دی چې جنګ وکړی خپل ټول شیان ورکړی او یوازی ځان وژغوری، ځکه مال او دولت به خدای بیا درکړی، خو خدای مکړه که پر تاسو کوم شې وشې نو څه فایده د هغه پیسو؟

او یو متل یې هم خپل د خبرو اخر کې ویلو زما صحیح یاد ته نه راځې خو څه ناڅه داسې و چې"سر زنده باشه کلاه بسیار است!" مطلب که ستا سر روغ اوسیږی نو خولۍ به ډېر پیدا شې؟! البته دا متل اوس وخت زموږ زیاتر خلکو د ښځو په اړه کاروه او ویل یې: که نر ژوندی وی نو ښځی به ډېر ورته پیدا شې ... د دی فکرونو څخه راووتلم او غوښتل مې په اغاګل غږ کړم او ورته ووایم چې ارام اوسیږه او هر څه چې لری

ورکړه او پرېږده دا رزیل کسان لاړ شي خو آغاګل مقاومت کاوه او داسې ښکاریدل چې د موټرسایکل کیلي د رښتیا هم د ده سره ده؟ او دی نغواړی هغه ورکړی؟

په همدی کش مکش کې اغاګل ناساپه د هغه کس د مخ څخه پټو کش کړو کوم کس چې اغاګل یې په بوکس وهلې وو، د پټو کش کولو سره سم موږ دواړو د هغه کس څهره ولیدل! ما خو یوازی په حیرت د هغه خوا ته کتل، باور مې نه راتلو چې دوی دی زموږ مخه نیولې وی ... دا غله اصل کې همغه زموږ د کوڅي مخامخ کور همسایه ګان وه؟! همغه کسان کوم چې آغاګل ویلی وه دا ټول غله دی .. زه خو یو دم د ډېر حیرت څخه ګوونګي شوم خو د اغاګل غږ مې واورید چې په کنځلو یې هغه کس ته وویل: ای حرمو**ي زه د اول پوهېدلم چې همدا تاسو د فاحش** زام**ن یاست ...

د دی خبری سره سم اغاګل هغه کس ته کوم چې پټو یې د مخ څخه لری کړی وو یو زدنې او کلک بوکس ورکړو او دا بل یې له ګریوان راونیو، زه هک حیران ولاړ وم او هغوی ته مې کتل کوم کس چې زما خواته چاقو نیولې وو په غوسه باندی خپل په هغه دوه ملګرو چغه کړل او ویې ویل: رزیلانو تاسو دوه نفر یاست هغه یو دی ژوندی یې مه پرېږدی موږ یې وپیژندلو ویې وژني ...

د هغه په دې خبره تازه مې مغزو فعالیت پیل کړو دوي غوښتل اغاګل ووژني ځکه هغه دوی پیژندلی وه؟ البته خبره یوازی د اغاګل نه وه هغوي غوښتل ما هم ووژني ځکه ما هم دوي پیژندلې وه ... په دی فکر نه پوهېږم ناساپه څه وشو خو د هغه کس کوم چې زما خوا ته یې چاقو نیولې وو خو ټول فکر یې خپل د دوه ملګر او اغاګل خواته وو په نابېره برید کې مې د هغه لاس ورتاو کړو زما په داسې ناساپه حرکت باندی د هغه د

خولی څخه د درد ډکه چغه پورته شوه او چاقو يې له لاس وغورځيد.

ما هم موقع ورنکړل او يو کلک زدنې لغت مې په خيټه ورکړل او پر ځمکه مې راچپه کړو د هغه د غورځيدلو سره سم ښکته شوم او د هغه چاقو مې له ځمکې راوخيست او د اغاګل خواته مې وکتل يو نفر اغاګل نيولې وو او دويم يې په تلوار چاقو په لاس د هغه خواته روان وو ترڅو هغه په چاقو ووهې، هغوی زما څخه يو څو ګام لرې وه، دومره چې ترڅو ما ځان خوځو او د آغاګل مرستي ته ورتلم هغه کس خپل ګوزار کړی وو ... نه پوهېږم ناساپه څه وشول څو کوم چاقو چې می په لاس کې وو هغه مې په بيحد تلوار د هغه کس خواته ختا کړو ...

چاقو څو ځله په هوا کې وڅرخيد او بيا مخامخ د هغه کس په لاس کې ننوت ... په همغه لاس کې کوم چې چاقو يې نيولی وو او غوښتل يې اغاګل ووهی!

زما د چاقو د ګوزار سره سم د هغه کس له لاس چاقو وغورځید او په چغو،بوغو باندی خپل لاس ونیو همدی چغ ما چغ کې د کوڅي د یو کور دروازه خلاصه شوه او یو نفر غږ کړو چی څه خبره ده؟ د هغه کس په غږ زما او د آغاګل په بدن کې د خوشحالۍ وینه جریان پیدا کړل، دومره چې آغاګل هغه نفر کوم چې دې نیولی په لغتې باندی لځان څخه لری کړو، څومره چې د هغه کس غږ ته موږ خوشحاله شو هغومره هغه درې کسان و ډارل شول، داسې وېره ته وا چې د عزرائیل غږ یې آوریدلې ..!

هغه کس چې ما پر ځمکه راغوځولې وو په تلوار راپاسید او غوښتل یې وتښتي خو ما د شالخوا راونیو نه مې غوښتل د چا په ګیر یې ورکړم ځکه زما په نظر داسې کسان د پولیسانو په ګیر ورکول هېڅ فایده نه درلود، داسې کسان ډیر ژر بیرته له زندان څخه راوځي او بیا نو هغه وخت د غل لځایه ستا د وینو دښمنان جوړیږی، نو ځکه بغیر د کوم چغ ماچغ څخه مې د هغه

د غوږ څنګ ته کرار وویل: زما موبایل او نور شیان راکړه د هغه وروسته هر چیرته چې ځې لاړشه زه ستا سره کوم کار نلرم ...

زما په دی خبره هغه په تلوار خپل جیب ته لاس کړو او زموږ اخیستل شوی ټول شیان یې راکړل د اغاګل موبایل هم د ده سره وو،هغه یی هم راکړو کله چې شیان مې ورڅخه واخیستل نو خوشې می کړو آغاګل هم لکه چې په دی خبره پوهیدی چې د دوی نیول کوم فایده نلری نو ځکه څنګ ته شو او هغوی ته یې لاره ورکړل ترڅو لاړ شي، همدا چې لاره خوشې شول هغوی درې واړه داسی حال کی چی خپل د هغه دریم نفر کوم چې لاس یې ما په جاقو وهلی وو اوږه نیول او مرسته یې ورسره کول له هغه ځایه وتښتیدل د هغوی د تلو وروسته د اغاګل خوا ته ورغلم.

- ښه یې؟
آغاګل داسی حال کې چی خپل موټرسایکل یې له

ځمکی راپورته کاوه ویې ویل: خبری مکوه یوازی راځه چې د دی لعنتی ځای لاړشو.
- سمده.

بغیر د نور اضافه خبری کولو مرسته مې وکړل ترڅو هغه خپل موټرسایکل راپوته کړی او ډیر ژر خپل کوځي خواته وګرځیدو هغه کس چې خپل د کور دروازه یې خلاصه کړی وه او غږ یې کړی وو په حیرت زموږ خواته راکتل خو موږ بغیر د کوم څه ویلو د هغه له مخ تېر شو او خپل د کور خواته روان شو دواړه د راپیښ شوی بیښی ښخه تراوسه ګنګس وو، همدا چې کور ته ورسیدو آغاګل په تلوار خپل د کور دروازه وټکول دومره کلک یې ټکول چی حد یی نه درلود، د هغه په داسې وحشیانه دروازه ټکولو څو ثانیو کې د هغه کوچنی ورور دروازه خلاصه کړه

د دروازی خلاصیدو سره سم آغاګل بغیر د کوم څه ویلو په تلوار کور ته ننوت، هغه بیحد ورخطا

معلومیدی رنګ یی هم پریدلی وو! د هغه د دی حال په لیدو لږ ورخطا شوم، نو ځکه ما هم په تلوار د کور دروازه وټکول او د عادت مطابق د دروازی د دویم ټک سره اقرا دروازه خلاصه کړه بغیر له دی چی هغې ته د خبرو اجازه ورکړم ومې ویل: زه د اغاګل کور ته ځم ژر بیرته راځم.

اقرا - خیرت خو دی؟
- هو خیرو خیرت دی هغـ ...

لا مې خبره پوره شوی نه وه چې د آغاګل دوی د کور څخه د ښځو د چغو غږونه پورته شول، د چغو په غږ په تلوار د هغوی د کور خواته مې منډه کړل اقرا هم ورخطا زما پسي راغلل، زه دومره اندیښمن وم چی بغیر له دی چې اقرا ته کوم څه ووایم یا د آغاګل دوي د کور دروازه وټکوم یا کوم اجازه واخلم د هغوی کور ته ننوتلم، آغاګل مې ولید چې د کور منځ کې ناست دی او مور و خویندي څنګ ته ولاړی دی او ژاړی؟ لومړۍ

مې ګمان وکړو چې شاید هغه کش مکش کې اغاګل په چاقو لګیدلې او خوږ شوی خو زما فکر نه دی شوي، نوځکه د هغه د زخم په لیدو دوی داسي ورباندی راټول شوی او ژاړی؟

په دی فکر بیحد وډار شوم خو کله چې د اغاګل غږ مې واورید چې ویل یې ښه یم او څه نه دی شوی، لږ مې فکر راحت شو همدی حال کې د آغاګل او د هغه د کورنۍ فکر زموږ خواته شو آغاګل زما په لیدو په تلوار خپل کورنۍ ته وویل: ها ..! د طاها څخه پوښتنه وکړی هغه هم زما سره وو کله چې غلو زما مخ ونیولو، باور وکړي پر موږ هېڅ نه دي شوی ..

د آغاګل په دی خبره چې ویې ویل"طاها هم زما سره وو کله چې غلو زما مخ ونیوو" خپل شاته مې د اقرا ورخطا غږ واورید د هغې د غږ په اوریدو په تلوار مې د هغې خواته مخ وګرځو، رنګ یې د دیوال د ګچ پشان تک سپین شوی وو شونډي څو ځله وخوځول خو هېڅ

غږ ورځخه را ونه ووت د هغې د داسې حال په ليدو وډار شوم په تلوار مې له اوږی ونيول او ومې ويل: هې ماته وګوره،هېڅ خبره نشته وګوره زه يو دم ښه يم ..

اقرا بغير د څه ويلو د ليونيانو پشان زما خوا ته راکتل داسې لکه چې غوارې ما ته په کتلو ډاډمنه شې چې د رښتيا هم ښه يم؟ خو بدبختانه چې نظر يې زما پر اوږه ولګيد کوم چې د موټرسايکل څخه د غورځيدلو وخت کې کميس يې لږ شليدلی وو او لږ وينه ورځخه راغلې و د هغه زخم په ليدو يې اوښکو د سترګو څخه په رابهيدو شول او ژړا يې شروع کړل، د هغې د ژړا په ليدو په زړه کې مې اغاګل ته ښه کنځل وکړل اوس تازه پوه شوم چې د اغاګل کور کې ولی داسی حال وو؟

هغوي هم لکه چې د اغاګل شليدلې کالۍ او پريدلې رنګ ته کتلې وه چې داسې حال يې جوړ کړی

وو،کوښښ مې وکړو اقرا کراره کړم خو هغه بغیر له دی چې زما یو خبری ته غوږ ونیسي ژړا ته یې ملا تړلی وه دومره چې مجبور شوم لاس یې ونیسم او د اغاګل دوي له کوره ووځم او خپل کور ته لاړشو ترڅو اقرا کراره کړم او ډاډ ورکړم چې زه ښه یم، خو زموږ د تلو مخکي د اغاګل مور رامخکې شوه زه یې د اقرا څخه لری کړم او هغه یې غیږ کې ونیول او دا ځل دواړو ژړا ته شروع وکړل ...

د هغوی په دی کار زه هک حیران ودرېدم، دواړو داسې ژړل ته وا زما او د اغاګل جنازی دویته راوړی؟

د آغاګل د پلار په غږ بلاخره دا احساساتي د ژړا شیبې پای ته ورسیدل هغه په غوسه ټولو ته وویل چې کور ته ننوځې د هغه په غږ د آغاګل مور هم د اقرا څخه جلا شوه خو خپل کور ته د ننوتلو حال کې د اقرا لاس هم ځان پسې کش کړو او ما ته یې هم وویل چې د هغوي سره کور ته لاړشم،خو ما غوښتل خپل کور ته

لاړشم نو ځکه محمد مې بهانه کړو او د تلو څخه مې انکار وکړو خو بهانه مى چندان ځواب ورنکړو ځکه د اغاګل پلار وويل: لاړشه خپل زوى هم دلته راوړه.

د هغه په دى خبره خوله مى خلاصه کړه چې يو بله بهانه جوړه کړم خو کله چې نظر مې په اقرا ولګيد چې د اغاګل د مور غيږ کې لږ آرامه شوى وه او د اغاګل خويندى شاوخوا يې ولاړې وه او هغې ته يې دلدارۍ ورکول بې اختياره مې سر د "سمده" په توګه وخوځاوه او د محمد د راوړلو پسې لاړم کله چې کور ته ننوتلم نو محمد کوټه کې ويده وو، د کوټې ګروپ اقرا روښانه پريخودلې وو البته بايد ووايم د کور ټول ګروپونه اقرا روښانه پريخودلې وه!

شايد په دى ډول يې خپل وېره کمول؟ محمد مې همغه خوب حالت کې راوخيست د محمد د راخيستلو سره سم احساس مې وکړو د کوټې فضا لږ سره شوه؟ داسې لکه چې يو کس له کوټې ووت؟ شاوخوا مې

وکتل خو هېڅوک مې ترسترګو نشو، فکر مې وکړو چې هسې خیالاتی شوی یم نو ځکه بغیر له دی چې دی موضوع ته ډېر فکر وکړم د محمد خواته مې وکتل چې د ځای بدلیدلو له سبب خوب کې تندی تروش کړی و او په ناراضه توګه یی همغه خوب حالت کې د ځان سره بنګ،بنګ کاوه.

د هغه دی کار ته مې خندا راغلل دومره خوږ حالت باندی تندی تروش کړی وو چی بې اختیاره مې سر ښکته کړو او تندی مې ورځخه ښکل کړو، هوا دومره یخه نه وه خو د احتیاط لپاره مې د هغه خپل کمپل کی مې وپیچو او د اغاګل دوي د کور خواته روان شوم ...

هلته په تلو محمد مې د اغاګل د کوچني ورور غیږ کې ورکړو ترڅو اقرا ته یې ویسي کوم چې بله کوټه کې د ښځو سره ناسته وه او خپل هم هغه کوټې خوا ته روان شوم کوم کې چې اغاګل، پلار او یو کوچنې ورور

یی ناست وه، د اغاګل کورنۍ د څلور خویندو او درېو ورنو څخه مشتمل وه چې هغه کې اغاګل د ټولو څخه مشر او وروستي څلور خویندی او اخر کی دوه ورونه، یو بوډا مور او پلار وه، د سلام پر ویلو کوټې ته ننوتلم اغاګل لګیا وو د راپیښ شوی حالت کیسه یې کول او همغه حال کې خپل د پښي زخم ته یې کتل.

د هغه په دی کار ما هم خپل اوږی او پښي ته فکر شو تازه می لږ درد احساس کاوه خو دومره نه وو چی پعذاب شم د اغاګل پلار په تلوار خپل کوچني زوی ته وویل چې لاړ شې او یو پاک ټوټه موږ ته راوړی هغه هم د سمده پر ویلو له کوټې ووت د هغه د وتلو سره سم زه هم د آغاګل څنګ ته کښیناستلم او د هغه دی کار ته چی په اخ او اوخ باندی لګیا و خپل پښې ته یې کتل پخندا شوم او ومی ویل: څومره ته نازولي یی؟!

زما په خبره آغاګل خپل د پښې څخه نظر واخیست او ماته په کتلو یې په تروش تندی وویل: زه نازولی یم؟

پوهېږی د موټر سایکل څخه په هغه دومره سرعت غورځیدل او بیا د څو ناشنا کسانو لخوا نیول کیدل څه معنا لری؟ پوهېږي نږدی وو په چاقوګانو می سوری،سوری کړی او ته وایي نازولي يې؟

پخندا مې خپل اوږی او پښي ته اشاره وکړل او ومې ویل: که لیاده دي نه وې وتلې نو هغه موټرسایکل باندی ته یوازی نه وی سپور؟ او هو چاقو یوازی ستا خواته نه وو نیولی شوی؟!
آغاګل- نه .. نه اصلاً هم داسي خبره نه ده ته راته ځان پهلوان،پهلوان مکوه ته یو نفر نیولې وی خو زه دوه نفرو نیولې وم، نو زما او ستا ډېر فرق کیږی او هو لومړۍ ګوزار ما وکړو او هغوی زما د مرګ فتوا صادر کړل نو اصل مصیبت پر ما وو نه پر تا!؟

د هغه په داسی دلیل راوړلو او دا چې غوښتل يې ځان قهرمان وښايي هم مې خندا راغلې وه او هم غوسه؟!
نو ځکه د هغه د پلار خوا ته چې ما ورته حاجی صیب

ویل مخ کړو او ومې ویل: په تاسو دې زما خبره بد ونه لګیږی حاجی صیب! خو دا زوی مو بیحد بیعقل دی.

زما په دی خبره د اغاګل او د حاجی صیب دواړو وریځې د حیرت څخه پورته شوی د دی څخه مخکې چې دواړه کوم څه ووایې دا ځل مې مخ د اغاګل خواته واړو او ومې ویل: ته د غل سره څنګه لاس او ګریوان کیږی؟ هغه هم داسې حال کی چی هغوی ډېر دی او چاقوګان هم لری؟ او د هغه څخه بتر دا چې نه خدای منې او نه هم رسول؟ نه ورته د خلکو ژوند مهم دی او نه هم کوم بل څه، داسې کسان په هېڅ دین او مذهب نه دی،داسی کسان د هیچا په غم کې نه دی ...

که نن شپه خدای مکړه هغه چاقو پر تا لګیدلې وایی بیا تا څه کول؟ آیا تا د یو شیبې لپاره خپل او خپل کورنۍ ته فکر وکړو؟ اصلاً ما ته دی فکر وکړو؟ فکر دې و چې هغه کش مکش کی زه هم شتون لرم او

امکان لری ستا د یو زوړ،خراب او ډېزلې موټرسایکل له لاسه دواړه ووژلو شو؟

دا چې د هغه موټر سایکل ته مې خراب او ډېزلې وویل آغاګل غوسه شو او ویې ویل: اوس خو نه یو مړه شوی نو دا بیځایه خبری څه معنا؟

نه مې غوښتل د هغه د کورنۍ مخ کې هغه ته کوم څه ووایم خو دا چې تر اوسه ورته خپل هغه احمقانه کار صحیح ښکاریدو عصاب یې راخراب کول،نو ځکه داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې پورته ونه اوسیږی ومې ویل: منم چې اوس ژوندی یو او هېڅ نه دی شوی خو لږ عقل څخه کار اخیستل هم بد نه دی، ته کوم د فلم هېرو نه وی چې د هغه دومره غلو سره لاس په ګریوان شوی هغه هم د څه لپاره؟ د یو خراب موټرسایکل په سر چې قیمت یې په زور باندی پنځه زرافغانۍ ته  لا نه رسېږی! یعنې ممکن وو نن ماښام د

څو زرو افغانیو په سر هم ځان مرګ ته ورکړې او هم ما ...! آیا اوس هم دا خبره تا ته ریشخند ښکاری؟

اغاګل ناساپه غوسه شو او ویې ویل: فکر مې نه کاوه چې دومره ډارن اوسیږې؟
د هغه په دی خبره ما ته هم غوسه راغلل او د هغه پشان په ټُنده لهجه مې وویل: هو زه ډارن یم، صحیح پوه شوی،زه ستا پشان د فلم هیرو نه یم چې د یو خراب، ډېزلې موټرسایکل په سر ځان مرګ ته ورکړم ... ته ولې د نن شپې پیښې ته صحیح فکر نه کوی؟ ولی خپل کار درته صحیح ښکاری؟ پوهیږې که یوه ثانیه!

یوازې او یوازې یوه ثانیه ما ناوخته کړې وایې یا زما وار غلط تللې وایې په تا څه کیدل؟( اغاګل بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما په پوسخند وویل: نو اوس د دی لځایه چی دلته کښینې او ماته د شجاعت او بیځایه غرور څخه سینه وټکوې مور او خویندی به دی د جنازی سر ته ناستې وایې ... ته ولی خپل د کورنۍ په

اړه فکر نه کوی؟ که پر تا نن شپه خدای مکړه کوم څه شوې وایې نو د دوی به څه حال وایي؟

زما په دی خبره یو دم کوټه کې چوپتیا خپره شوه او زه تازه پرخود راغلم ... ما نه غوښتل داسی خبری اغاګل ته وکړم هغه هم داسې حال کې چې پلار او ورونه یې موجود وه ..خو د هغه بیځایه خبرو زما عصاب راخراب کړل، نن شپه نږدی وو د هغه د خرتوبي له لاسه مفتی،مفتی زه هم مړ شم ..! خپل شونډه مې وچیچل تر څو خپل بیځایه فکرونه لری کړم او د څو شیبو چوپتیا وروسته کرار مې وویل: وبخښي ما نه غوښتل داسی خبری وکړم ... نه پوهیږیم ولې ناساپه خپل کنټرول مې له لاسه ورکړو ...؟!

دا دومره وخت کې چې ما او آغاګل یو دبل سره خبری کول، البته بهتره به وی که ووایم موږ دواړو لفظي شخړه کول حاجی صیب چوپ ناست وو او یوازی زموږ خبرو ته غوږ نیولې وو کله چې ما ورڅخه

بخښنه وغوښتل نو تازه هغه وخت یې خبری وکړل او ویې ویل: ستا ټول خبرې صحیح وه بچي! اوس وخت کې د خلکو دین او ایمان تللې چا ته د انسان ژوند مهم نه دی، اوس وخت خلک په هسې خبره یو بل وژنې، بیا غله خو بیخې دین او ایمان نلری دوي خو د خوشحالۍ څخه هم وژل کوی.

بیایي د آغاګل خواته وکتل او خپل خبرو ته یې دوام ورکړو: د اغاګل کار غلط وو، هغه نه باید د څو زرو افغانیو په سر د داسي خلکو سره ځان اچولی وایی، اوس هم دا خبری خوشي کړی هر څه چې وو تېر شو، خدای مو راتلونکي کې د داسي پیښو څخه وساته ...

بیا یې خپل کوچني زوی ته کوم چې بیچاره تللې و تر څو یو پاک ټوټه راوړی اشاره وکړل او هغه ماشوم چې تراوسه زمونږ خبرو کولو له سبب یو کونج کې ولاړ وو په تلوار رامخکې شو او پاک ټوکر یې زما خواته ونیو ما هم بغیر د څه ویلو ورڅخه واخیست، اوږه مې

دومره نه وه خوږ شوی خو پښه مې لږ خوږ شوی وه او په خاورو هم وه همداسې مې نشو ترلې نو ځکه سر مې پورته کړو خو د څه ویلو مخکې نظر مې په آغاګل ولګید چې په تروش تندی لګیا وو خپل پښه یې ترل داسې حال کې چې د هغه د پښي زخم هم زما د پښي پشان په خاورو لړلې وو، د هغه په دی کار په تلوار مې ویل: داسی مه ترړه.

زما په غږ هغه راوکتل چې ما د حاجی صیب خواته کوم چې دوه سترګي زما خواته نیولی وه وکتل او وویل: الکول شته؟
هغه په ګنګس انداز راوکتل چې ما خپل خبرو ته دوام ورکړو: زخم یې په خاورو دی، داسې ترل یې ښه نه دی امکان لری چرک او میکروب وکړی، که الکول وی نو لومړۍ دی په هغه ومینځې د هغه وروسته دی وتړی او که الکول نه وی نو په پاکو اوبو دی ومینځې خو داسې خیرن ترل یې د فایدی لځایه تاوان کوی.

زما په خبره حاجی صیب د پوهیدو په انداز سر وخوځاوه او بیا همغه کوچني هلک یې د الکولو پسي واستوه خو د هغه هلک د تلو مخکې ما ورته وویل: که پاک پخته وی نو لږ هغه هم راوړه.

کوچني ماشوم د سر په خوځولو ما ته د "سمده" ځواب راکړو او له کوټې ووت، څو شیبې وروسته د الکولو قوطي او پخته په لاس کوټې ته راننوت، قوطي او پخته یې زما خواته ونیول چې ما هم د مننې پر ویلو ورڅخه واخیستل بیا مې د اغاګل خوا ته چې دوه سترګي ماته نیولې وه وکتل او ومې ویل: لږ صبر زه لومړۍ خپل پښه وتړم بیا راځم ستا مرستي ته.

هغه هم بغیر د څه ویلو سر وخوځاوه چې ما په تلوار پخته پر الکولو لنده کړل او خپل د زخم پاکول مې شروع کړل همدا چې پخته مې د پښي سره ولګیدل دومره سوخت یې وکړ او وسوځیدل چې نږدی وو د اغاګل پشان زما اخ او اوخ هم پورته شې خو په مشکل

مې ځان کنټرول کړو، ډېر ژر مې خپل پښه وتړل او د هغه وروسته د آغاګل خواته نږدی شوم د هغه پښه د حق تېر نشم د رښتیا هم یو څه ډېر خوږ شوی وه، زما پښه یوازی پوست یې اوږېدلې وو خو د هغه ده زخمې شوی وه او وینه یې کول داسې ښکاریدل لکه چې کوم شئ پکې ننوتلی وی؟!

لږ پاک پخته مې راوخیستل او داسي حال کې چې په الکولو باندي مې لندول پخندا مې وویل: یو څه درد لری خو فکر نه کوم ستا هیرو لپاره دومره شئ اوسیږی؟

زما په دی خبره حاجی صیب په کراره وخندل خو آغاګل په همغه تروش تندی وویل: ژبه دی خلاصه شوی! تر همدا نن ماښام دی خبره له ستوني نه وتل خو اوس دې خوله نه بندیږیـ ...

آغاګل لا خپل خبره پوره کړی نه وه چې ما الکول د هغه په زخم ووهل، چې د درد څخه د هغه "اخ"پورته

شو ما هم بغير د رحم کولو څخه خپل د زړه ټول بړاس او غوسه ورباندی وباسل او ښه مې د زخم د پاکولو په بهانه د الکولو په واسطه پعذاب کړو، کله چې الکولو باندی مې پښه ورڅخه ښه ومېنځل نو بیا مې په پاک ټوکر  وتړل او خپل ځای ته لاړم البته لاسونو مې د الکولو بوی کاوه، غوښتل مې پاسیږم او د لاس مینځلو لپاره بیرون لاړشم چې همدی وخت کې د اغاګل کوچني ورور چلمچې په لاس کوټې ته راننوت.

لومړۍ مې ګمان وکړو چې پوه شوی چې زما لاس په الکولو شوی نو د هغه لپاره یې د لاس مینځلو اوبه راوړی؟ خو کله چې د آغاګل دویم ورور مې سرخان په لاس ولید نو پوه شوم چې ډوډۍ راوړی، غوښتل مې ووایم چې زه وږی نه یم او ډوډۍ نخورم خو زما د څه ویلو مخکې اغاګل وویل: لومړۍ خو بیځایه ستونه مې نه خوښیږی او دویم دا چې پوهیږم تا د سهار څخه تراوسه کوم څه نه دي خوړلي، نو غوره به دا وي چې

بغیر د کوم اضافه خبرو څخه رامخکې شه او بوډۍ وخوری.

د هغه په دی خبره ما هم نور بیځاه کوم بهانه ونکړل او سرخان خوا ته نږدی شوم، خو د څه خوړلو مخکې مې اقرا یاد ته راغلل نه پوهېدم چې هغې بوډۍ خوړلې او کنه؟ د حاجي صیب په غږ د هغه خوا ته مې وکتل.
حاجی صیب- په بیغم فکر خپل بوډۍ وخوره د آغاګل مور ستا ښځې او زوی ته بوډۍ ورکړل.

د حاجی صیب په دی خبره فکر مې راحت شو اقرا دا څو وخته بیحد کمزوری شوی وه، نه مې غوښتل اوس چې داسې طبعیت یې خراب شوی وو دلته په پاتي کیدلو وړی اوسیږی، د منني په پار مې سر وخوځاوه او خپل بوډۍ خوړل مې پیل کړل د بوډۍ خوړلو وروسته چای راغلل او لومړۍ پیاله ما ځانته ډک کړل،بیحد ډېر می چای ته اړتیا درلود نو ځکه بغیر د

کوم ست کولو پیاله چای مې راوخیستل خو لا غړپ
مې کړی نه وو چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او
محمد په خوشحالۍ او چغو راننوت، د هغه په لیدو
پخندا مې خپل پیاله چای په ځمکه کیخودل او غیږه
مې ورته خلاصه کړل، هغه هم په ځغاستو زما غیږی ته
راغلو.

دا څو وختو کې محمد هم خپل د مور پشان ډنگر شوی
وو شوخي کمه شوی وه، د پخوا پشان یې نه خندل
عاجز شوی وو،اقرا ویل دلته کوم ملگری نه لری،ویل
یې د راحیل پسې زړه اچولې، که څه هم د هغې دا
خبره لږ بل ډول معلومیدل خو کله چې خپل ځان او
هغې ته مې کتل نو دا خبره یئ راته منطقي او د منلو
وړ ښکاریدل، که څه هم د محمد عمر لږ وو خو حافظه
یې قوی وه، څوک یې نه هیردو دلته په راتلو بار،بار یې
خپل په هغه ماشومانه انداز د اقرا او زما څخه د
استاذ، خپل خاله گانو،انا او حتا د ذوالفقار پوښتنه کړی

وه، او مورې په زر رقم خبرو د هغه د دی پوښتني د ځواب ورکولو څخه ځان ژغورلې وو.

داسي حال کې چی ویښتیان مې ورڅخه ښکل کول ومې ویل: نن خو دی شوخې نه ده کړی هوم؟ خپل ماما(مور) خو دی نه ده پعذاب کړی؟
زما په خبره محمد خپل سر راپورته کړو او داسې حال کې چی خپل سر یې د "نه"پشان خوځاوه خپل په هغه ماشومانه لهجه یې وویل: نې ..نې ماما وال ... وال ...تاتری .. نې ... با ... بابا اجې ... با .. با ..اوت بتي

د هغه په خبره په کوټه کې موجود هېڅوک پوه نشو خو زه سم په ترجمه او تفسیر پوه شوم، محمد غوښتل وواییي: ماما ویل ساتېری مکوه بیا بابا راځې او د اوښ بچي درته ښایي! زما موبایل کې د اوښ د بچي یو ویډیو وه، محمد به هره شپه هغه کتل او دومره یې هغه خوښېدل چې حد یې نه درلود اوس هم هغه یې یادول، د هغه په داسې خورې خبرو بې اختیاره مې غیږ

کې کلک ونیو او داسی حال کې چی ښکل کوی مې ومې ویل: افرین همداسي هوښیار هلک اوسیږه او خپل ماما مه پعذابوه.

زما په داسې خوشحاله لهجه هغه هم خوشحاله شو او په بیحد خوږ انداز او شوق باندی وویل: اوت بتي؟ د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم اغاګل پخندا وویل: ایا امکان لری دا ناشنا ژبه موږ ته هم معنا کړی؟ چې دا اوس څه معامله روانه ده؟ او د څه په اړه خبری کیږی؟

د هغه په خبره سر مې پورته کړو او تازه مې هغوی ته فکر شو، حاجی صیب او آغاګل پخندا زموږ خواته راکتل له دی چې یوه شیبه مې هغوی لیاده ویستلې وه او داسی د محمد سره په خبرو کې ګرم راغلې وم شرمنده شوم خو کرار مې وویل: زما موبایل کې یو ویډیو ده هغه کې د اوښ بچي دی هغه ویډیو د محمد

بیحد خوښېږی اوس هم وایې ما درسته ورځ کوم شوخي نه ده کړې او ما ته د اوښ بچي وښایه.

زما په خبره آغاګل په حیرت خپل وریځه پورته واچول او ویې ویل: دا چې اوس یی اوت بتی، اوت بتي ویل مطلب یې همدا د اوښ بچي وو؟
پخندا مې سر د "هو" په بڼه وخوځاوه چې آغاګل پخندا وویل: الله اکبر پخوا وخت کې خلکو ویل د ګونګ په ژبه مور پوهېږي! خو اوس لکه چې پلار هم پوهېږي؟ د ده خبری اف بې ای(د امریکا استخباراتو شبکه) پولیس لا نشې معنا کولای خو ته ورباندی پوه شوی، ولای صد آفرین دی وی پر تا ما خو یوه شیبه فکر وکړو کوم چنایي ژبه وایي ...؟

د هغه په خبرو مې وخندل خو د څه ویلو مخکې محمد خپل لاس زما په مخ کیخود ترڅو د هغه خواته وګورم او بیا یی په همغه خوږه لهجه خپل غوښتنه یو ځل بیا تکرار کړل ترڅو ورته د اوښ بچي وښایم همدا

چې لاس مې خپل جیب خوا ته ویوړو ترڅو موبایل راوباسم اغاګل محمد ته وویل: هې، هې کاکا دی قربان شې د اوت بتی دی لاړو غلو ویوړو ..

د هغه په خبره محمد په حیرت زما خواته راوکتل چې ما پخندا خپل موبایل د هغه خواته ونیو او ومې ویل: نچ، نچ هغه غل به زه دبا،دبا(محمد وهلو ته دبا دبا ویل) کړم کوم غل چې وغواړی ستا اوت بتی(اوښ بچی) واخلې ...

محمد په خوشحالۍ موبایل زما د لاس کش کړو او لګیا شو ترڅو روښانه یې کړی ما هم پخندا د هغه خواته کتل چې آغاګل په حیران لهجه وویل: تا خپل موبایل ورنکړو؟
داسی حال کې چی تراوسه مې نظر د محمد خواته وو ومې ویل: چا ته؟
آغاګل په همغه حیران لهجه وویل: غلو ته؟ مګر ستا موبایل هغوی ونه تښتو؟

د هغه په دی خبره نظر مې د محمد څخه واخیست او دا ځل ما په حیران لهجه وویل: هو، خو بیرته مې ورڅخه راواخیست ..

اغاګل دا ځل داسی حال کی چې سترګی له حیرت راوتلې وه وویل: را وادې خیست؟ تا خپل موبایل د غلو څخه واخیست؟ کله؟
- همغه وخت چې هغوی غوښتل وتښتي! مګر تا ونه لیدل کله چې ما ورڅخه شیان راوخیستل؟

اغاګل په همغه حیران نظر سر د "نه" په انداز وخوځاوه چې دا ځل ما حیرت وکړو خو ډیر ژر می حیرت پخندا بدل شول او ومې ویل: هغه نفر چې ما راګیر کړو هغه داسی ښکاریدو لکه چې د دی ټول مشر اوسیږی؟ ځکه هغه دواړو کسانو زموږ ټول شیان هغه ته ورکړی وه نو ځکه کله چې راګیر می کړو ورته ومی ویل زما شیان راکړه د هغه وروسته دی خوشې کوم، هغه هم زموږ څخه اخیستل شوی ټول شیان راکړل.

زما په دی خبره اغاګل په تلوار وویل: زموږ اخیستل شوی تېول شیان؟
- اهوم.
آغاګل- مطلب زما موبایل دی هم راواخیست؟

داسی حال کې چی خپل جیب ته مې لاس کاوه ترڅو د هغه موبایل ورکړم کوم چې دا څو ساعتو کې بیخې مې لیاده وتلې و ومې ویل: هو ستا موبایل می هم راوخیست.
د دی سره سم د هغه موبایل مې خپل د جیب څخه راوویست او د هغه خواته مې ختا کړو چې اغاګل په هوا کې خپل موبایل ونیو او په حیرت باندی ورته په کتو شو،ما هم خپل د جیب څخه هغه تېول شیان کوم چې د هغه غل څخه مې اخیستی وه راوباسل، لومړۍ مې خپل درې سوه افغانۍ کوم چی درې دانې زاره سلګونان وه یوی خوا ته کړل بیا مې خپل تسبیح او د برق بیل راوخیست او د هغه وروسته نور تېول پیسي او شیان مې د اغاګل خواته ونیول..

چی زما په دی کار هغه بیا په حیرت راوکتل، چې ما پخندا وویل: واخله دا ستا پیسي دی ما د هغه غل څخه راوخیستل.
زما په دی خبره حاجی صیب پخندا شو او ویې ویل: تا څنګه وخت پیدا کړو چی د هغه د جیبونو څخه خپل شیان راوخلې؟

د هغه په خبره ماته هم خندا راغلل او ومې ویل: ولای زما دومره مهم شیان نه وه چې وغوارم ځان مرګ ته ورباندی ورکړم، خو کله چې آغاګل هغسې ځان میدان ته واچو او غله یې وډبول نو ما ځان سره ویل چې تنور خو هسې هم داغ دی راځه ډوډۍ ولګوله!

زما په دی خبره ډول پخندا شول چې اغاګل څو زر افغانۍ زما خواته ونیول او ویې ویل: واخله خپل پیسي دی هم ماته راکړی.
د هغه په دی خبره په حیرت مې وویل: نه،زما سره درې سوه افغانۍ وه چې وامې خیستل ما نور پیسي

نه درلود.
زما په خبره هغه هم حیرت وکړو او ویې ویل: زما سره هم څلور زره افغانۍ وه خو اوس دا شپږ زره دی؟ دا دوه زر نور زما نه دی ..
- زما هم نه دی ...!

ناساپه دواړه چوپ شو خو څو شیبې وروسته د ټولو د خندا غږ پورته شوه حاجی صیب پخندا وویل: تاسو ډاډمن یاست چې غلو ستاسو لاره نیولې وه؟ زه خو داسې فکر کوم چې تاسو د هغوی بیچاره ګانو لاره نیولې وه ...

هغه شپه تر ناوخته د آغاګل کور کې پاتی شو او د راپیښ شوی پیښې په اړه مو خبری وکړل او ومو خندل د نیمي شپی وروسته خپل کور ته لاړو او هلته بیا تر څو ساعتو اقرا لګیا وه زما خوږ شوی اوږی او پښي ته یې کتل تر یو ساعت لګیا وم هغې ته مې ډاډ ورکو چې ښه یم او کوم څه نه دی راباندی شوی،

خلاصه چې سهار چې کله کار ته روان کیدلم نو سترګي مې د خوب له غم نه خلاصیدل، دومره مې خوب راتلو چې حد یې نه درلود.

خو له مجبوریت پاڅېدلم کالې مې بدل کړل او د کار پخوا روان شوم آغاګل هم زما سره سم له کوره راووت د هغه سترګي هم له خوب نه خلاصیدل، زما په لیدو د خوب څخه په ډک غږ یې وویل: راځه زه به دې ورسوم.
د هغه ځواب مې پخندا ورکړو او ومې ویل: نه خیر ویسي، زه نور هېڅکه ستا په هغه بې برکت موټرسایکل نه کښینم، نغوارم بیا کوم پیښه رامخکې شې.

زما په خبره هغه هم پخندا شو او ویې ویل: زه ورک شه خیرن،خپله به بې برکت یې کنه کلونه کیږي زه په دې موټرسایکل ځم راځم هېڅکله داسې کار نه دی شوی، هغه شپه چې ته راغلې داسي کار وشو، نو هسې

زما د موټرسایکل نوم مه بد کوه ټول فساد په تا کې دی.

خپل اوږی مې پورته واچول او داسې حال کې چې د یخ له لاسه مې خپل لاسونه د کورتي په جیب کې ننویستل ومې ویل: په هر حال زه نغوارم ستا سره لاړشم،غوارم لږ پیاده روی وکړم ترڅو خوب مې وپریږی.
اغاګل داسي حال کې چې موټرسایکل روښانه کاوه سر د "سمده" په توګه وخوځاوه او ویې ویل: نو ژر ځان راورسوه زه لاړم خدای پامان.
-خدای پامان.

د هغه د تلو وروسته کرار،کرار روان شوم کله چې د کوڅي سر ته کوم ځای کې چې د پرون شپې د غلو کورونه وه ورسېدم نو لږ تم شوم او ټول پام مې د هغوی د کور خواته کړو تر څو چې وګورم ایا کوم مشکوک شئ شته او کنه؟ خو هېڅ کوم عجیب حرکت

مې ورځخه ونه لید نو مجبور روان شوم،کار ته په رسیدو د دی لځایه چې خپل د پرون د هوټل د مالک راکړل شوی کار خوا ته لاړشم د آشپزخاني خواته مې حرکت وکړو اغاګل چې زما ځخه لږ وختي رسیدلی وو لګیا و په مالګه،مرچکي باندي یې محمود ته د پرون ماښام کیسه کول.

زما په لیدو محمود په حیرت راوکتل او ویې ویل: دا لیونۍ رښتیا وایي؟ پرون ماښام ستاسو مخه غلو نیولې وه؟

زما د ځه ويلو مخکي اغاګل په هيجان وويل: اوه ... اوه نه وی محمود چې وګوری د هندی فلمو هېرو پشان يې ټول درته قيمه،قيمه کړل باور به ونکړې که ووايم د يو غل له لاسه يې چاقو واخيست بيا يې دا بل غل کوم چې غوښتل يې ما په چاقو ووهې زخمي کړو او اخر کې هم زمو ږ تول شيان د غلو څخه واخيستل او هغوی په ک*نه په لغت ووهل او ويې تښتول.

د اغاګل داسې کيسي تعريف کولو ته مې خندا راغلل، هغه داسې په هيجان د پرون شپې پيښه تعريف کول چې زه هم غو ږ شوم ترڅو وآورم چې آيا د رښتيا د کارونه ما کړې؟ البته پرون شپه زما هغه کار هېڅ زما په کنټرول کی نه وو، پرون شپه چې کوم چاقو ما خطا کړو د هغه کنټرول هېڅ زما لاس کې نه وو، او دا خبری زه لږ ډاروالم پرون شپه زه د څو شيبو لپاره د دوه مياشتو مخکې پشان شوی وم، د هغه ورځ پشان چې فهيم مې وواهه ...

زه پرون ماښام د آغاګل د هغه حال په ليدو ورخطا شوم او غوښتل مې مرسته وکړم خو هغه کارونه ما ونکړل! البته د هغه لومړۍ نفر لاس تاو کول او لغته ورکول زما خپل کار وو .. خو هغه چاقو په هغه توره شپه کی داسې په هدف او نښه ويشتل زما کار نه وو ...

نه پوهېدم چې څه روان دی؟ او څوک راسره مرسته کوی؟ خو دومره پوهېدم چې هرڅوک چې دی يا د شموئيل لخوا راستول شوی يا د شموئيل په واسطه ما پيژنې! په دی خبره يو دم يقينې وم او پوهېدم چې شموئيل ضرور د دی کيسي په يوځای کې شتون لری ...زه پخپل عجيب غريب فکرونو کی غرق وم چې محمود اغاګل ته په اشاره کولو سره ما ته وويل: دا رښتيا وايې؟
زه چې تراوسه خپل په فکرونو کې غرق وم د محمود په خبره پوه نشوم نو ځکه په ګنګس انداز مې وپوښتل: ها؟ څه وايې؟

آغاګل په مشکوک اندازوویل: ګوره د ده په دی کارونو کې ماته یو چل ښکاري، تر پرون پورې ځان بې سواد نیولې وو خو ناساپه خبر شو چې د پوهنتون سند لری، بیا تر ماښام ځان عاجز او ډارن کس نیولې وو خو ناساپه د غلو په راتلو ورڅخه د فلم هیرو جوړ شو او نښه ویشتل یې شروع کړل، باور وکړه زه فکر کوم دا عادی کس نه دی.

د هغه په خبره ما او محمود دواړو په یو ځل وویل: بنده کړه خوله دی.

زموږ په خبره هغه نور هم خپل خبرو ته مالګه،مرچکي ورکړو او خلاصه چې په نیم ساعت کې ماته زر رقم لقبونه راکړل لومړی ویل دا کوم پټ ساتونکي دی؟ بیا یې ویل کوم پټ د پولیسانو مامور دی، بل ځل یې ویل ضرور د یو پیسه دار سړی زوی دی چې خپل د پلار سره یې جنګ کړی او داسې ځای راغلې؟! د هغه دی خبری ته می یو څه حیرت وکړو ځکه څه ناڅه هغه

جنګ او پلار موضوع یی صحیح ګمان کړی و  بغیر د پیسه دار څخه ...

خلاصه چی دومره خبری وکړل چې اخر کې محمود خپل د لاس چاقو کوم چې غوښه یې وربانديٍ ټوټه کول د هغه و مخ ته ونیول او ویې ګواښه و چې که نور چوپ نشې نو په همدی وهې او بلاخره د محمود ګواښ کار وکړو او آغاګل خپل خوله بنده کړل خو بیا هم ما ته یې په سترګو،سترګو اشاره کول چې د هغه دی کار ته زما بیحد خندا راغلل خو د دی څخه مخکې چې کوم څه ورته ووایم د هوټل مالک می ولید چې خپل کوټې ته ننوت د هغه په لیدو بغیر له دی چې د آغاګل اشارو ته کوم توجه وکړم، د لږ کار لرم په ویلو له آشپزخاني ووتلم ..

د هوټل د مالک د کوټې دروازه مې وټکول او ډیر ژر له هغه خوا د ننوتلو اجازه صادر شول کله چې کوټې ته ننوتلم نو د هوټل مالک مې ولید چې خپل د میز څنګ

ته ولاړ وو او خپل کورتي باسل زما په لیدو په مسکا یی ویل: ته کله راغلی؟
- دوه ساعت کیږی تقریباً.
زما په دی خبره د هوټل مالک په حیرت خپل کورتي په څوکۍ واچول او داسی حال کی چی کښیناست زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: نو ولی ما ونه لیدلی؟ کله چې هوټل ته راغلم نو لومړۍ د دی لپاره چی وګورم ته په څه حالت کی یې؟ او آیا خپل د نوی کار سره دی عادت دی کړی او کنه؟ د هوټل د مدیریت بخش ته ورغلم خو ته هلته نه وی؟ نو خان ویل تر اوسه نه یې راغلې؟!

- زه وخت راغلې وم، خو ... هغ... هغه اصل کې زه اشپزخانه کی وم.

زما په دی خبره د هغه وریځې د حیرت پورته شول او ویې ویل: هلته دی څه کول؟مګر پرون ما تاته نوي دنده نه وه درکړی؟

- هو ...خو ... اوممم .... هغه ... زه نغواړم هغه کار وکړم.
زما په داسې ناساپه ځواب هغه د کښیناستلو حال کې لړ تم شو، خو د څو شیبو وروسته په تروش تندی خپل په څوکۍ کښیناست او ویې ویل: ولې؟ تر کوم حد چې فکر کوم د ګارسونې او ځغاستو،راځغاستو د کار څخه خو ډېر ښه دنده ده، منم شاید ستا د سند په اندازه نه وی خو بیا هم ..
خبری ته مې پرینخود او ژر مې وویل: نه، خبره زما د سند یا کوم بل څه نه ده، هغه ... اصل کې زه د ګارسوني په دنده راضي یم، نو ځکه نغواړم د مدیریت کار وکړم.

د هوټل مالک څو شیبې په زیر راوکتل د هغه وروسته په حیرت یې وویل: ستا دا انکار خو د نوخان له لاسه نه دی؟ هغه خو کوم څه نه دې درته ویلې؟
- نه .. نه اصلاً، هغه هېڅ نه دی ویلي برعکس هغه پرون خپل تر وس زما سره مرسته هم وکړل،اصل

ستونزه زما ده، هغه .. زه تر ناوخته هوټل کې نشم پاتي کېدلې.

او بیا ورته شروع شوم او خپل حالت مې بیان کړو حتا د پرون ماښام د غلو کیسه مې لا ورته وکړل زما د خبرو خلاصیدو وروسته هغه په خلاصه خوله د حیرت راوکتل او د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: باور مې نه راځې تا واده کړی؟ د څهرې او عمر څخه دی نه ښکاری ...ما فکر کاوه مجرد یې؟

نه پوهېدم د هغه دی پوښتنی ته څه ځواب ورکړم؟ چې هغه پخندا شو او ویې ویل: یوازی راته جالب وه نو ځکه مې وویل، په هر حال زه د دی خبری پوهیدلو وروسته چې تا پوهنتون ویلې نشم کولای تا په ګارسوني کې ونیسم.
د هغه په دی خبره ورخطا شوم فکر مې کاوه شاید غوارې ما له کاره وباسي؟ په دی فکر خوله مې جوړه کړل ترڅو ورڅخه درخواست وکړم چې داسې کار

ونکړی، ما دی کار ته اړتیا درلود ما نشو کولای یو ځل بیا بیکاری وزغمم،خو زما د څه ویلو

مخکې هغه وویل: زما په نظر دا به بیعقلی اوسیږی چې زما هوټل کې یو تعلیم یافته کس شتون ولرې او زه خپل د هوټل مدیریت یو داسې هلک ته په لاس ورکړم چې خپل نوم لا صحیح نشی لیکلې، نوخان دومره تعلیم نلری څومره چې ته لری خو هغه وخت لری ...

څو شیبې چوپ شو د هغه وروسته یې وویل: ته تر څومره وخت هوټل کې پاتي کیدلې شی؟
- ماذدیګر، ماښام پوری!
هوټل مالک- مطلب تر پنځه،پنځه نیم بجو پوری؟
- هو همدومره راځې.
زما په دی خبره هغه په خوشحالۍ وویل: نو ستونزه حل شوه.

په تعجب مې وروکتل غوښتل مې پوښتنه وکړم ستونزه څنګه حل شوه؟ آیا غواړې ما له کاره وباسي؟
خو یو ځل بیا زما د څه ویلو مخکې هغه په خوشحالۍ وویل: ما تاته په ګارسوني کې شپږ زره افغانۍمعاش درکو او ته په هغه باندی خوشحال وی!
خو اوس چې معاش مې درته نهه زر کړو خو دوه، درې ساعت اضافه کار راغلو نو ته یې نشې کولای، زه غواړم ستا د هغه ګارسوني کار ورکړم نوخان ته سره ده ستا د څو ساعته مدیریت! مطلب ته خپل په همغه پخواني وخت پنځه بجو لاړشه کور ته ستا پاتي دوه، دری ساعت د مدیریت کار هم نوخان کوی.

- څنګه زه پوه نشوم؟ یعنی نوخان هم زما د ګارسوني دنده کوی او هم د مدیریت؟ نو زه څه وکړم؟
زما په خبره د هوټل مالک پخندا شو او ویې ویل: ته څومره ساده یې، زما مطلب دا دی چې ته تر پنځو بجو که غواړې کار وکړې نو تاته همغه پخواني یعنې د ګارسوني شپږ زر افغانۍ معاش درکوم،ستا د معاش

درې زره افغانۍ ورکوم نوخان ته،ځکه هغه ستا لځایه درې ساعت اضافه ستا پکار پاتی کیږی.

تازه مې د هغه په خبرو سر خلاص شو او خوشحال شوم که څه هم پیسي مې درې زر افغانۍ کم کیدل او همغه د ګارسوني معاش مې اخیست،خو په هر حال دنده مې ښه وه نور مجبور نه وم هره شیبه د یو میز څخه بل میز خواته وځغلم او د خلکو فرمایشونه راوخلم، اوس د میز شاته کښیناستلم او همغه معاش مې اخیست. زما په چوپ کیدو د هوټل مالک سر وخوځاوه او ویې ویل: څنګه؟ و دی نه ویل منې او کنه؟

د هغه په غږ په خود راغلم او ژر مې وویل: هو، مطلب منم یې.
هوټل مالک په خوشحالۍ خپل څوکۍ ته تکیه ورکړل او ویې ویل: ډېر ښه، نو ورځه خپل کار ته ورسیږه او هو د تلو مخکې نوخان ته هم ووایه چې دلته راشې

ترڅو د هغه سر هم خلاص کړم.
- سمده.

سمده مې وويل خو د کوټې څخه ونه وتلم، غوښتل مې د هغه څخه اجازه واخلم ترڅو هم کور ته لږ وخت لاړشم او هم مې غوښتل لږ پيسي واخلم، که څه هم پرون ماښام هغه دوه زره افغانۍ کوم چې د غل له جيب څخه زموږ په نصيب شوی وه ما او آغاګل يو د بل سره نيم کړی وه او زر ما او زر آغاګل اخيستې وه، خو بيا هم زر افغانۍ هيڅ نه کيدل ما غوښتل يو دوه،درې زر افغانۍ نور هم د هوټل د مالک څخه قرض کړم ترڅو نن اقرا ويسم ډاکټر ته نن سهار چې راتلم طبعيت يې ماته د نور ورځو په پرتله ډېر خراب معلوميدی.

هوټل مالک- خيرت خو دی؟ څه شوی؟
د هغه په غږ خپل د فکرونو څخه بهر شوم او په بيحد شرم مې وويل: هغه ... اوممم .. ما غوښتل که امکان

يې وی زما د معاش څخه یو څو زر روپۍ همدا اوس ماته راکړی ځکه زما پکار دی، بیا د میاشتي اخر کې هغه روپۍ زما د معاش څخه وګرځوي او همچنان که اجازه راکړی زه نن لږ وخت لاړشم ...!

د هوټل مالک څو شیبې په زیر،زیر راوکتل داسې چې خپل د کړی خبری څخه پښیمانه شوم، اه چې څومره مې دا حالت کې خپل په پخواني کار پسی آرمان وشو، څو میاشتي مخکې خپل د رضا او خوښي مالک وم هر کله چې غوښتل مې کور ته  تللې شوم او هر څومره چې غوښتل مې پیسي مې راخیستلې شول بغیر له دې چې چا ته داسې سوال وکړم. د هوټل د مالک په غږ مې د هغه خواته وکتل هغه داسې حال کې چې خپل د میز د روق څخه پیسي راخیستل ویې ویل: سمده خو یو نن درته دا اجازه درکوم ځکه دا دوه،دونیم میاشتو کې تا هیڅکله داسې کوم درخواست نه وکړی خو د دی وروسته پام نیسه په وخت به راځې او منظم به کار کوی ما د بې نظم او تنبل کسانو څخه بد راځې.

د دی خبری سره سم یې درې زر افغانۍ زما خواته ونیول، د هغه په دی کار بیحد خوشحاله شوم لاس مې اوږد کړو ترڅو پیسي راواخلم او همغه حال کې خوله مې د منني د الفاظو لپاره جوړه کړل چې ناساپه د کوټې دروازه په کلک خلاصه شوه او آغاګل داسې حال کې چې د ورخطای څخه یې رنګ پریدلې وو کوټې ته رانوت او زما خواته په کتو شو.

د هغه د نظر څخه مې هېڅ ښه احساس وانخیست، د هغه کتلو کې وېره وه .. او دا وېرې زه ډارولم بد احساس مې درلود فکر مې کاوه کوم بده پیښه واقع شوی؟ او دا حس مې هغه وخت صحیح ثابت شو کله چې آغاګل په اندیښنی وویل: طاها ... هغه ... راځه لاړشو کور ته ..
په لړزانه غږ مې وویل: څ ... څه شوی؟
آغاګل ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: کوم خاص خبره نه ده هغه ... لکه چې د وریندارۍ فشار لږ ښکته

شوی وو، بابا او ادی وړی ډاکټر ته ما ویل ښه به وی چې ته هم لاړ شې ...؟

د آغاګل په خبرو کې زما سر یوازی په یو لفظ خلاص شو او هغه دا چې اقرا په شفخانه کېده ...او بس نور پوه نشوم چې څه یې وویل او څه نه، په ځغاستو د کوټې د دروازي خواته روان شوم بغیر له دی چې د چا خبری ته غوږ شم یا حتا د اغاګل څخه د هغه شفخاني ادرس لا پوښتنه وکړم، یوازی غوښتل مې اقرا ووینم، غوښتل مې خپل په سترګو ووینم چې ښه ده ...
ورخطا وم .. خپل په ژوند کې د لومړۍ ځل لپاره داسې ورخطا شوی وم، داسې چې نه پوهېدم څه وکړم؟

لا د هوټل څخه نه وم وتلې چې آغاګل زما پسې راورسید زه خپل په کارونو نه پوهیدلم هسې د لیونیانو پشان خپل په ځان څرخیدم،په ژوند کې د لومړۍ ځل لپاره داسې لاس او پښه شوی وم مغزو مې

هېڅ کار نه کوو د اغاګل په غږ د هغه خواته متوجه شوم هغه په تروش تندی چې اندیښنه ورڅخه له ورایه ښکاریدل زه یې د لاس څخه کش کړم او همغه حال کې چې خپل موټر سایکل خواته یې وړلم کرار یې وویل: آرام اوسیږه طاها، کوم څه نه دی شوی ومې ویل کنه فشار یې لږ ښکته شوی ادی او بابا ورسره دی زوی دی هم زموږ کور کیدی خیرو خیرت دی راځه زه دی هغه شفخاني ته وړم، د دی ځای څخه دومره لری نه ده.

د هوټل څخه تر هغه شفخاني کوم کې چې اقرا وه شاید شل دقیقي لاره وه، خو پر ما دومره تېر شول لکه شل قرن، تر څو چې رسیدلو ذهن کې مې زر رقم فکرونه راغلل د اقرا د نن سهار خراب حالت مې رایاد شو او پر ځان مې لعنت وویل چې ولې مې هغه داسې حال کې یوازی پریخودلې وه، همدا چې شفخاني ته ورسیدو بغیر له دی چې د آغاګل په تمه شم د شفخاني

خواته په منډه شوم نه پوهېدم چې اقرا په کوم بخش یا کوم منزل کیده؟

یوازی د لیونیانو پشان ټول شفخانه مې تر پښو لاندی کړل اخر کې په حاجی صیب مې نظر ولګید چې د یو کوټې مخکې د اغاګل د مور سره په څوکۍ ناست وه، د هغوې په لیدو ګامونه مې هغه خواته چټک کړل او همدا چې ورسېدم بغیر د سلام کلام څخه یوازی یو پوښتنه مې وکړل"اقرا چیرته ده؟" زما په غږ هغوی دواړو زما خواته راوکتل، حاجي صیب د څوکۍ څخه پاسېد او داسې حال کې چې لاس یې زما پر اوږی کیخوده مخامخ کوټې ته چې دروازه یې بنده وه او عاجل بخش ورباندی لیکل شوی وو اشاره وکړل او ویې ویل: دننه ده ډاکټران ورسره دی.

غوښتل مې د کوټې خواته لاړشم خو حاجی صیب پرینخودلم او ویې ویل: د تلو اجازه نشته، ډاکتر ویل

همدلته په تمه اوسیږو، هلته یوازی یو مریض نه دی نور مریضان هم دی.

په دی خبره شاته راغلم خو زړه مې بې واره درزیدو، د آغاګل د مور خواته چې کرار یې ژړل مخ وګرځو او ومې ویل: تاسو څنګه خبر شوی؟
زما په غږ هغې راوکتل او خپل د اوښکو پاکولو حال کې ویل: جمیله د هغې سره وه چې ناساپه په ورخطای راغلل او ویې ویل چې اقرأ لورکې بی هوښه شوی، د هغې په خبره موږ هم په تلوار هلته لاړو او کله چې هغه مو بی هوښه ولیدل نو دلته ډاکتر ته مو راوستل.

په ګنګس حالت مې سر وخوځاوه او د کوټې د دروازی سره په دوه پښو کښیناستلم، اقرا ... زما ښځه ... زما ناموس ... په بد حال کې په کور کې بې هوښه شوی وه ... او ...او د دی لځایه چې زه ... خاوند یې ... د هغې څنګ کې اوسیږم او د هغې مرسته وکړم ...

بیګانه خلکو هغه تر ډاکتر راوړی وه ... دا خبره د هضمولو وړ نه وه ... هغه منفي احساسات چې دا دوه میاشتو کې ما تر یو حد کنټرول کړی وه ناساپه د یو شدید طوفان پشان زما په ذهن چپه واچول ... داسې یو مضبوط چپه چې تر څو د کوټی دروازه خلاصیدل او ډاکتر ورڅخه راوت زه په همغه حالت کې ګیر پاتې وم ...

د دروازی په خلاصیدو په تلوار لځایه پاسېدم لومړۍ د عمر پوخ یو ډاکټر او ورپسي یو ډاکټره له کوټي راووتل او د هغوي پسي یو ځوانه نرسه چې د یو کتابچي پشان شئ هم لاس کې وو د هغوی څنګ ته روانه وه، د هغوې فکر زما خوا ته نشو او مخامخ د حاجی صیب خوا ته ورغلل، د عمر پوخ ډاکټر داسي حال کې چې خپل دستکشي له لاسونو څخه ویستل ویې ویل: تاسو د دی مریض پایوز یاست؟

د ډاکټر په خبره حاجی صیب په تلوار سر د "هو" په ښه وخوځاوه او ویې ویل: هو، خیرت خو دی؟ زموږ مریض څه مشکل لری؟
ډاکټر بغیر د څه ویلو تندي تروش کړو او د تلو وخت کې وویل: زما کوټې ته راشې تر څو خبری وکړو.

ډاکټر لا دوه ګام نه وه اخیستی چې ما ورپسي غږ کړل، ما د هغه د داسي تشریفاتو وخت نه درلود ما غوښتل همدغه شیبه پوه شم چې په اقرا څه شوی؟ ما غوښتل هغه ووینم، د هغې غږ واورم، ترڅو چې د هغې غږ مې خپل په غوږنو اوریدلې نه وی زړه مې نه صبریدی، زما په غږ ډاکټر د سترګو له کونج راوکتل چې زه یو څو ورنږدی شوم او ومې ویل: څه ستونزه لری؟ څه وراندی شوی؟ اوس ښه ده؟ کولای شم ویې وینم؟

زما په مسلسل او پرلپسي پوښتنو ډاکټر کامل زما خواته راوګرځید او داسې حال کې چی د سر ځخه

ترپښو یې زه د نظر څخه تېرولم ویې ویل: ته د مریض څه کیږی؟

زما د څه ویلو مخکې د اغاګل مور وویل: خاوند یې دی.

د هغې په خبره ډاکټر دا ځل ښه په زیر زما خواته راوکتل خو د څو شیبو وروسته یې د څهری حالت نور هم ونیول شو او دا ځل تقریبا په غوسه یې وویل: که حالت یې دومره درته مهم وو نو ولې دې وختي ډاکټر ته نه راوړل هوم؟
لا مې خوله ځواب ته نه وه خلاصه کړی چې ډاکتر روان شو او همغه حال کې وویل: زما کوټې ته راشې تر څو کامل توګه خبری وکړو.

که څه هم زړه مې د اقرا خواته وو او غوښتل مې لومړۍ هغهووینم خو د ډاکټر خبرو زړه کې وېره راوچول دومره چی مجبور شوم وریسې شم، زما سره حاجی صیب هم د ډاکټر کوټې ته راننوت او د هغه

سره د اغاګل مور هم راغله ډاکټر په همغه تروش تندی خپل د څوکۍ شاته کښيناست او مور ته يې هم د کښيناستلو وويل کوټه کې دوه څوکۍ د ډاکټر د ميز مخامخ وه او يو کوچ د کوټې کونج کې وو د اغاګل مور د کوچ خواته لاړل او زه د ډاکټر مخامخ په څوکۍ کښيناستلم.

زمونږ د کښيناستلو سره سم هغه نرسه او ډاکتره هم کوټې ته راننوتل ډاکټر خپل د مخ څخه يو ورقه او قلم راوخيست او د يو څه د ليکلو وروسته يې هغه زما خواته ونيو او ويې ويل: دا دوا راوړه د هغه وروسته به خبرې وکړو.
په تلوار مې نسخه د هغه له لاسه واخيستل او له کوټې ووتلم همدا چې دروازه مې خلاصه کړه نو اغاګل مې د کوټې مخ کې وليد زما په ليدو په تلوار يې پوښتنه وکړل چې څه شوی؟

نسخه مې مخ ته ونیول او پوه مې کړو چې غوارم
لیکل شوی دوا راوړم اغاګل زما د لاس نسخه
واخیستل او ویې ویل: ته همدلته اوسیږه زه یې
راوړم.
غوښتل مې مخالفت وکړم خو هغه په زوره نسخه زما
له لاسه واخیستل او د تګ حال کې وویل: دواخانه د
سړک هغه بل غاړۍ ته ده، ته په دی حالت باندی د
سړک څخه نشی اوړیدلی.

د دی خبره سره سم په تلوار زما له مخي لری شو، د
هغه په تلو په سست او بیحال ګامونو د دهلیز د
څوکۍ خواته لاړم او کښیناستم "اه" که نن آغاګل نه
وایې یا د هغه مور او حاجی صیب نه وایې نو زما او د
اقرا په سر به څه بلا راغلې وایې؟ محمد به څنګه
شوی وایې؟ دی خبرو ته فکر کول لا زه لیوني کولم، که
نن د آغاګل مور اقرا په هغه خراب حالت کې نه وایې
لیدلې او ډاکټر ته یې نه وایې راوړی یعنې تر ماښام تر

کوم وخت چې زه کور ته تلم تر هغه وخت به ایا اقرا هغسې پاتي شوی وایي؟

ناساپه یو صحنه مې ذهن ته راغلل ... اقرا پر ځمکه غورځیدلې وه، محمد یې سر ته ناست وو ژړل یې او همغه حال کې په ژړا باندی اقرا له اوږی کش کول ترڅو پاسیږی خو هغه بې هوښه پرته وه، دومره هغه صحنه مې د سترګو وړاندی د حقیقت پشان وه چې لاس مې اوږد کړو ترڅو اقرا راپورته کړم خو ناساپه د آغاګل په غږ سترګي می خلاصی کړل ...

په ګنګس انداز مې وروکتل چې آغاګل د دوا پلاستیک زما لاس ته راکړو، د هغه په دی کار تازه په خود راغلم په تلوار مې دوا ورڅخه واخیسته او د ډاکټر د کوټې خواته روان شوم، دوا مې په همغه خراب حالت باندی د ډاکټر مخې ته کیخودل او په ځوکۍ کښیناستلم، ډاکټر دوا واخیستل د کتلو وروسته یې نرسي ته ورکړل او همغه حال کې ورته یو څه نور فرمایشات هم

ورکړل او بلاخره د هغوی د تګ وروسته ډاکټر زما خواته چې د ډېر ورخطای او اندیښنې څخه په پښو بند نه وم مخ کړو او ویې ویل: خبره ډېره نه کش کوم ستا د ښځې یوه ګرده د فعالیت څخه ولیدلې، مطلب خرابه شوی ده، شاید یوه هفته کیږی چې ګرده یې خراب شوی او همدا د ګردی خراب کیدل د دی سبب شوی چې دا دومره درد ولری او داسی کمزوری شې او وزن له لاسه ورکړی ..

د همدی ساعت څخه وروسته هرڅومره وخت چې تاسو پرېږدي چې خرابه ګورده یې په بدن کې پاتي شي هغومره د دی ژوند ته خطر دی،ځکه د هغې خراب شوی ګرده د هغې د بدن نور غړۍ کرار،کرار د ځان سره خراب کوی نو غوره دا ده چې ژر تر ژره یې ګرده راوویستل شي د دی څخه مخکې چې دا بل ګرده یې هم خرابه شي، البته دا بل ګرده یې هم سل سلنه جوړه نه ده خو ... خو د هغه څخه لا بد خبر دا چې ښځه دی

کم او زیاد د یو نیم میاشتي ماشوم لری البته باید ووایم درلود!؟

خو د درد،میکروب او زر نور دواګانو د خوړلو له سبب ماشوم مړ شوی خو غورځیدلې نه دی، اوس دا ستونزه د ګردی د ستونزی سره یوځای شوی او نړدی ده ټول بدن ونیسي ته یوازی یوه لاره لری او هغه دا چې ژر تر ژره خپل ښځه اپریشن(عملیات) ته تیاره کړی، او ځکه چې ستاسو اقتصادی حالت راته چندان ښه نه ښکاری نو زه دومره فیس او پیسي نه اخلم اصل کې د ګردی عملیات زه د شل زر افغانۍ څخه په کمه نه کوم خو ستاسو مراعات به وکړم او دا عملیات به په پنځلس زر افغانۍ وکړم دا یوازی د ګردی عملیات دی،د ماشوم لری کولو لپاره اغلب وخت موږ د صفای څخه کار اخلو خو ځکه چې ستا د ښځې یو ګرده ستونزه لری او بل له فعالیت غورځېدلې نو موږ د پاکي لځایه یو بل جراحي عملیات کو او ماشوم لری ختا کوو چی دا عملیات هم ځانته جلا قیمت لری او ...

ډاکټر خبری کول، قیمتونه یې ټاکل د لری ختا کولو او غورځولو داستان یې تعریف کاوه خو زما ذهن کې یوازی یوه جمله ګرځیدل" ستا د ښځې ګرده د فعالیت څخه ولیدې او باید ژر تر ژره عملیات کړو د هغه څخه بتر دا چې ښځې دی ماشوم هم درلود چې هغه هم خراب شوی او باید سقط شې" دومره مې دا خبری ذهن کې وګرځیدل چې اخر کې د حاجی صیب د بسم الله او بیا د هغه لاسونه چې زه یې ونیولم ترڅو له څوکۍ ونه غورځیږم د هغه جهنم څخه راوویستلم او د بیخبری نړۍ ته لاړم ...

***

بوټونه مې د دهلیز د دروازی سره وویستل خو کور ته د ننوتلو مخکې و دریدم، ستوني مې تازه کړو ترڅو پوه شې زه راغلې یم او همداسې هم وشول څو شیبې لا نه وه تیر شوی چې د آغاګل مور راووتل زما په لیدو

په تلوار زما خواته راغلل او په خلاص تندی وویل: راځه زویه خپل کور د دی ولې اجازي ته ولاړ یې؟

د سلام پر ویلو سر مې وخوځاوه او ورپسي شوم هغه د دی لځایه چې زما سره راشی زما له لاسه یې د اقرا دوا شیان واخیستل او د اشپزخاني خواته لاړل، د هغې په دی کار خوشحال شوم غوښتل مې یو څو شیبې د اقرا سره یوازی اوسیږم، په همدی فکر کرار د اقرا د کوټي خواته روان شوم دروازه مې خلاصه کړه اقرا د کوټي کونج کې په چپرکټ باندی ویده وه، البته د خوب څخه ډېر حالت یې د بی هوښ انسان پشان ښکاریدو، رنګ یې تک ژیړ شوی وو،سترګي ننوتلي او تور حلقې کړی وه، دومره وزن یې دا یوه هفته کې له لاسه ورکړی وو چې هډوکي راوتي وه.

کرار یې څنګ ته ناږدی شوم په لاسونو باندي شنه او تور داغونه وه کوم چې زیاتر یې د ستن او کنول لګولو له لاسه وه یا هم د وینو اخیستلو او زر نور چکاپ کولو

له سبب، د لاس رګونه يې د ډېر ډنګر والې له لاسه شنه،شنه راوتي وه، د هغې د دی حال د ليدو طاقت مې نه درلود دا چې داسې بيحال پرته وی او خپل د شاوخوا څخه په هېڅ نه وی خبر، خو کله چې هغه ورځ ته مې فکر کاوه نو په همدی حال مې هم شکر باسو او لځان سره مې ويل ناشکری مکوه شايد مريضه وی خو همدا چې ژوندی ده يو نړۍ ارزی ...

هرڅومره چې مريضه ده په بد حال ده ژوند خو ده! نفس خو اخلې؟ او همدا خبرو زما زړه کرار کاوه، هغه ورځ د ډاکټر په هغه ناساپه خبرو چې د ماتي راديو پشان په يو ساه يې د اقرا په اړه وکړل زه پځان پوه نشوم او بې هوښ شوی وم، خو کله چې په هوښ راغلم نو تازه مې سر خلاص شو چې څه مصيبت مې په سر رانازل شوی؟ هغه ورځ زه په ډېر خبرو پوه شوم لومړۍ دا چې زما د پوزی وينو کولو اصلی سبب دا دي چې زه عصبي فشار لرم او کله چې ډېر غوسه،خفه، يا استرس ولرم نو دا عصبي فشار مې

پورته کيږی او د دی پورته کيدلو له سبب کله ناکله مې پوزه په وينو کيږی يا کله ناکله بې هوښ کيږم ډاکتر ويل که کنټرول يې نکړم نو امکان لری سکته مغزی وکړم!

په هر حال په هغه ورځ د ډاکټر دا خبری ما هېڅ وا نه وريدل ځکه ټول فکر مې د اقرا خواته وو، او دا چې د هغې چپه ګرده په کامل توګه خراب شوی او بايد عمليات شې او د هغه څخه بتر دا چې اقرا څومره د درد ګولې او زر رقم دواګاني چې زما په پټه خوړلې وه د دی سبب شوی وو چې د يو نيم مياشت ماشوم يې په کامل توګه د ډير دوا خوړلو له سبب خراب شې.

او دا مصيبت د ګوردی د خراب کيدل څخه ډير لوي مصيبت وو، ډاکټر د دوه عملياتو هغه هم په يو وخت کې د کولو وړانديز وکړو خو قيمت يې ډير وو تقريبا پنځوس زر افغانۍ راتلل؟! هغه هم هغه وخت کې چې زما جيب کې د غربت له لاسه موږکانو کرکټ کاوه،

حاجي صيب او اغاګل مشوره راکړل چې اقرا په همغه ورځ يو بل ډاکتر ته ويسو، ځکه هغوي فکر کاوه چې شايد دا ډاکټر خپل د جيب لپاره داسي خبری کوی او امکان لری دروغ وايي او ستونزه دومره جدی نه وی؟

خو کله چی دوه نور ډاکټرانو ته مو هم ويوړل او هغوی هم همدا خبره وکړل نو مجبور د کور د مالک خواته لاړم کوم چا ته چې ما دونيم لک افغانۍ ورکړی وه او کور مې ورڅخه ګرو کړی وو،د هغه څخه مې يو لک افغانۍ واخيستل او کور می د ګرو لځايه مياشت کې په څلور زر افغانې کرايه کړو البته اول کې نه منل خو زما او د اغاګل په ډېر زارې کولو راضې شو د هغه وروسته همغه ډاکتر ته لاړم او د عمليات کولو خبره مې وکړل ....

او ډاکتران نه وو سم دم قصاب وو! د يو ساعت په موده کې اقرا عمليات کړل خراب ګورده يې او ضايع شوی ماشوم دواړه يې لری ختا کړل او خبره خلاصه

... البته د اقرا د عملیات کوکونه چې ما کله ولیدل نو په حساب باندی څلور ګوتي نور که یې ملا ورته ځیرې کړی وایې نو بغیر د کوم شک څخه چې دوه نیم کیدل .. یعنی دوه ولیشت یې نس او ملا ورڅخه ځیری کړی وه تقریبا شل،دویشت کوک یې ورکړی وه داسې کوکونه چې زیاتر د کالو ګنډولو پشان وه نه د بدن ...

اه څومره بد ورځې وه هغه لومړۍ هفته یو پښه مې شفخانه کې وه د اقرا لپاره او بل د اغاګل دوي کور کې د محمد لپاره ... خدای دی د حاجی صیب کورنۍ ته جزای خیر ورکړی که دوي نه وایی خدای خبر که ما کوم کار سر ته رسولې وایې، د اغاګل مور د یو رښتینې مور پشان د عملیات د لومړی ساعت څخه تر همدا اوس د اقرا سره وه او یوه شیبه یې لا هغه یوازی نه پریخودل ...

اقرا خوب کې لږ وخوځیده چې د درد له لاسه یې "اخ" له خولې ووت، د هغې په دی دردمند غږ په تلوار

ورنږدی شوم ترخو وګورم څه ستونزه لری؟ چې نظر مې د هغې څنګ ته د چپرکټ څخه په راښکته شوی د وینو پشان پلاستیک ولګید چې سر یې د دوه ګوتو په انداز پنډ پیپ په واسطه د اقرا په چپ اړخ ګورده کی وو، دا پیپ او پلاستیک یو هفته مخکې کله چې د هغې ګورده یې وویستل نو ډاکترانو ورته تېر کړو، ویل یې د یو هفتې لپاره دی د هغې ګورده کې وی، ځکه چی ګورده یی تازه ویستلی او هغه بله ګورده یی هم لږ کمزوری ده او سم فعالیت نشې کولای نو د یو څو وختو لپاره دا پیپ د مرسته کوونکي ګوردی پشان کار کوی ...

او د دی لځایه چی اوبه ګورده صاف کړی او بیا تشناب ته لاړه شې اوبه به د تصیف وروسته مستقیم د دی پیپ په واسطه دی پلاستیک ته راځې، مطلب تشې متیازی به په همدی پلاستیک کې کوی دا پلاستیک دا یوه هفته ما خالي کاوه او څومره اقرا په دی کار شرمیدل او ژړل یې، د هغې په دی ژړا او شرمیدلو ما د

عملیات په دویم ورځ د هغې سره جنګ وکړو ... زه د هغې خاوند وم او د هغې ښه، بد ، روغ ، ناجوړ ټول پر ما مربوط وه نو څه مطلب چې دا دی د یو داسي بې معنا کار لپاره وژاړی؟ او وشرمیږی؟

البته د زړه اصل کوفت مې د هغې د پخواني کارونو له لاسه وو، کوم وخت چې ما به ورته ویل راځه ډاکټر ته لاړشو خو هغې به انکار کاوه او په دروغو به یې ویل ښه یم ... که همغه وخت ډاکټر ته تللې وایې شاید ګورده یی نه وایې خرابه شوی،شاید هغه ماشوم د ډیر دوا خوړلو له لاسه نه وایې ضایع شوی او زر نور شاید ... شاید .. چې د اقرا د مریض څهری په لیدو به مې زړه کې ساتو،څه چې کیدونکې وه هغه شوی وه نو د هغه په یاد راوړل زما په نظر کوم فایده نه درلود بلخصوص اوس وخت چې اقرا مریضه وه او طبعیت یی بیحد نازک شوی وو او په نه خبره به هم خفه کیدل.

په هر حال زما هغه ټُنده لهجه او څه ناڅه جنګ کار وکړو او اقرا نور د پلاستیک تش کولو حال کی نه ژړل خو هېڅکله هغه وخت کې زما خواته هم نه راکتل او خپل سترګي پټي کول ..

نړدی شوم پلاستیک مې د ځمکي څخه راپورته کړو بیحد د چپرکټ څخه لاندی غورځیدلې وو د همدی سبب اقرا یې پعذاب کړی وه، د بالښت په سر مې کیخود ترڅو چپرکټ ته لړ نږدی اوسیږی او اقرا پعذابه نکړی د کار خلاصیدو وروسته چې سر مې پورته کړو نو د اقرا سترګي مې خلاصی ولیدل د هغې په ویښ لیدو کوښښ مې وکړو خپل ځان خوشحال وښایم ځان خفه یا پریشانه نیول د هغې روحیه خراب کول، ډاکټر ویلې وه کوښښ وکړه خوشحاله یی وساتي او که څه هم زه ذاتً شوخ او ټوکي انسان نه وم خو دا څو وخته د اقرا لپاره مې کوښښ کاوه شوخ اوسیږم ترڅو هغه خپل حالت ته ډېر فکر ونکړی.

ښکته شوم تندی مې ورڅخه ښکل کړو او پخندا مې
وویل: د خوب وخت اغلې؟
اقرا په نیولې غږ وویل: کله راغلې؟
- تازه راغلم یو څو دقیقي کیږي،څنګه یې؟
اقرا په همغه نیولې غږ وویل: ښه یم، محمد دې راوړو؟

- نه.
اقرا- ولې؟
- لیاده دې وتلې؟ نن اتمه ورځ ده، ډاکټر ویل په اتمه
ورځ کلینک ته لاړشو ترڅو پیپ وباسي ... نو ځکه
محمد مې د حاجي صیب له کوره را نه ویست.
زما په دی خبره اقرا دومره خوشحاله شوه چې د څو
ثانیو لپاره یی خپل حالت هېر شو او غوښتل یې په
تلوار لځایه پاسیږی چی ما له اوږي ونیول او په حیرت
مې وویل: دا څه کوی؟ په کراره دا څه ډول پاسېدل
دی؟

اقرا چې تازه خپل د ناساپه حرکت له لاسه درد احساس کړی وو په درد باندی خپل په چپ اړخ باندی لاس کیخود او ویې ویل: اخ هېڅ مې فکر نشو.

د هغې په داسې بې فکری مې تندی تروش کړو خو څه مې ونه ویل،د اغاګل مور چې کوټې ته رانوتل نو ما ورته د ډاکټر ته د تلو خبره وکړل هغې هم زمورږ سر د راتګ وویل ما هم ومنل زما په نظر یو ښځه ښه وه ترڅو د اقرا سره د پیپ لری کولو وخت کې وایي، ډېر ژر مې ټاکسي ونیول او د کور تر دروازې مې راوړل څو دقیقو کې د ډاکټر شخصي کلینک ته ورسیدو، ډاکټر مورږ په بل شفخانه کې لیدلې وو خو د عملیات وخت کې مورږ دلته راغوښتلو خپل شخصي کلینیک ته کوم کې چې د عملیات کولو وروسته اقرا درې ورځی بستری کړل.

په هغه درې ورځو کې تقریبا زما څخه لس زر افغانۍ یوازی د اطاق کرایه او دوه، درې قلم دواګانو اخیستلو

باندی ولاړل، بغیر د ډاکټر د عملیات کولو فیس او زر نور بیځایه فرمایشات چې خبره تر پنځوس زر افغانیو ورسېدل،که څه هم ما ته لومړي اولویت او مهم د اقرا حالت وو او اوس هم دي .. خو بیا هم کله چې کتل مې ډاکټر داسې پیسي زما څخه شکول او نه یې کتل چې زه غریب یم که خان؟ نو دا کار یې زور راکو، یعنې دوي یو قوطي ګولې پر ما باندي په درې سوه افغانۍ خرخ کړل داسې حال کې چی همغه ګولې ما پخپل د ذوالفقار په دفتر کې په سل افغانۍ د ورځي خرڅول ...

زه نه وایم چې دوي دې ګټه نکوی، برعکس زه وایم ګټه وکړی دا د هغوي حق دی خو انصاف او حلال ګټه دی وکړی نه دا چې د سل افغانیو په سر دی دوي دوه سوه افغانۍ وګټي بغیر د هغه نور چهارصد بیست بازیانو څخه چې په هر بهانه به زما جیب ته ولاړ وه ترڅو پیسي را څخه وباسي، دې یو هفته کې په دی خبره مې پوره سر خلاص شوی و چې دویته اصلا مهم

نه ده چې ته پیسي څنګه او په څه ډول پیدا کوی؟
هغوي ته یوازی مهم دا ده چې ستا څخه یو دوه روپي
اضافه وشکوی وسلام.

اوس هم د مجبوریت څخه مې اقرا دلته راوړی وه،
هغه خبیث ډاکټر هر څومره چې ډېر پیسي اخیستل او
رحم په نوم کوم څه یې نه پیژندل خو په همغه اندازه
هم انکار نشم کولای لیاقت یې درلود، انسانان یې
داسې عملیات کول ته وا د قرباني څاروي! منظم یې
هر غړی ورڅخه راویست او ګنډلو بغیر د کوم استرس
یا اندیښني څخه ...

کلینک ته چې ننوتلو نو څو نور کسان مو هم د انتظار
سالون کې ولیدل، دا کلینک که څه هم د دی ډاکټر
شخصي کلینک په حساب راتلو خو یوازی د ګوردي
بخش نه وو، بلکې دوه،درې نور ډاکترانو هم دلته کار
کوو موږ د ګوردي د بخش خواته لاړو هلته یوازی دوه
ښځې او یو بوډا سړي ناست وه،لکه چې تازه راغلې وه

او غوښتل يي عمليات وکړي؟ اقرا مې د ښځو تر څوکۍ ويوړل او بيا د هغه بوډا سړی خواته چې د کوټې په دی بل اړخ کې ناست وو او تسبيح اړول راغلم، زما په راتلو سړی سر راپورته کړو خو بغير د څه ويلو بيا يي خپل تسبيح اړول پيل کړل ما هم څه ونه ويل او څنګ ته يې کښيناستلم ...

د خبرو په غږ مې نظر د کوټې هغه بلخوا ته شو، چې يو د هغه دوه ښځو څخه د اغاګل د مور سره په خبرو لګيا وه او پوښتني ورڅخه کول او د آغاګل مور هم ماشاءالله لکه بې بې سې راډيو پشان د ښځې د هر پوښتني ځواب په ترجمه او تفسير ورکو يعنې د اقرا د ناروغتوب څخه نيولې د هغې د عمليات، دواګانو، خرچه او حتا دا چې اوس د څه لپاره راغلې يو او په کوم ټکسي کې راغلې يو؟ دا يې لا ورته وويل ..؟!

ما ورته په خلاص سترګو له حيرت کتل! او د هغه ښځه لا ډېر حيرانونکي او عجيب دا وه چې هغه ښځې

هم ورته همداسي په ترجمه او تفسیر خپل د راتګ کیسه بیان کړل، خپل د ځنګ جنۍ کوم چې په تور حجاب کې دومره پیچل شوی وه چې نوک یې لا نه ښکاریدو او په څوکۍ باندی تقریبا څملیدلې وه اشاره وکړل او ویې ویل: دا مې لور ده یو نیم کال مخکې مې ورکړل خپل د لیور زوی ته همدا چې د هغه په نوم شوه ته وا ورباندی تور جادوی چې شوی وی …

ورځ تر بلې خراب کیدل، ډوډۍ نخوړل، وزن یې له لاسه ورکوی،د کور د کار نه وه، یو جوړه کالۍ که وینځلې وایې نو د بل د وینځلو نه وه، دومره خرابه شوه چې پوست او هډوکې شوه څو میاشتي مخکې خاوند د ایران څخه راغلو او واده یې وکړو د هغه د راتلو سره دا نور هم خرابه شوه لومړۍ مو فکر وکړو چې کوم د خدای ناخبر به تعویذونه ورباندی کړې وی،خراب وخت دی زموږ د کلې خلک زموږ د خوشحالۍ د لیدو سترګي نلری په همدی فکر مې په زر

رقم مولیانو او زیارتونو وګرځول زر رقم تعویذونه مې ورته وکړل خو هېڅ ګټه یې ونه رسول ...

یو هفته مخکې میره د تلو مخکې وویل چې یو ډاکټر ته یې ویسو مور هم خپل د کور څنګ ته کلینک ته ویورل هلته یې راته وویل چې ګورده یې ډېره لړی او د دی ځای ادرس یې راکړو ترڅو راشو، نه پوهېږم چې څه به وکړی خوری؟ دعا کوه چې عملیات یې نکړی د پردی خلکو ښځه ده اوس که خبره عملیات ته ورسېدل خلک به څه وایې؟ اوس یې لا خسرګڼي د ورځې زر ځله پیغورنه او طعني راکوی وایي خپل مریضه لور یې پر مور خرڅه کړل،چا نکول پر مور یې تېره کړل، اوس لا ورځ کې زر ځله زمور تر غور تېره وی چې دا خو ښځه نه ده او مور خپل زوی ته بله ښځه کوو که سبا ورځ عملیات یې وکړو نو بیخي بهانه لاس ته ورځې ...

هغه ښځې خبری کول فریادونه یې کول خو زما نظر د څو شیبو لپاره د هغې څنګ ته په هغه جنۍ ولګید چې

خپل د مور د هر خبري سره ځان غونج کاوه، اه څومره جاهل خلک لرو افسوس دی زموږ د ټولني په دی بول فکر کولو وی ...یو نیم نظر مې د هغه بوډا سړی خواته واچو او کرکه مې ورځخه راغلل چې خپل د اولاد د صحت او سلامتیا لځایه ورته ولور او د خلکو خبری مهم دی، نظر مې په بیزاری د هغه ښځه واخیست او د اقرا خواته می وکتل اقرا صحیح په څوکۍ نشو کښیناستلې او پعذاب معلومیدل له څوکۍ پاسېدلم او د هغی خواته ورغلم.

- ښه یې؟

زما په غږ اقرا په بیحال نظر راوکتل چې زه یو دوه ګام نور هم ورنږدی شوم.

- درد لری؟

اقرا داسی حال کی چې سر یی لاندې نیولې وو په بیحد نیولې غږ یی وویل: نشم کښیناستلې.

د هغې په دې خبره لږ ورخطا شوم د اوږې څخه مې ونیول ترڅو مرسته وکړم باسېږي، چی تازه د اغاګل مور زمورږ خواته فکر شو.
اغاګل مور- څه شوي زویه؟
داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه بغیر د کوم پعذاب کولو اقرا له څوکۍ راپاڅوم ومې ویل: نشې کښیناستلې درد لرې(اقرا ته مې خپل اوږه تکیه کړل او ومې ویل: پر ما تکیه وکړه او کرار راپاڅیږه ترڅو چې زمورږ نمبر راځې همدلته به کرار، کرار قدم ووهو سمده؟

اقرا د سر په خوځولو زما خبره ومنل او په بیحد خوارۍ ودرېدل کله چی پر ما یې تکیه وکړل نو باور مې نه راتلو، دومره ډنګره شوی وه چې تکیه کول یې هیڅ نه ښکاریدل، بغیر له دې چې دهلیز کې موجود کسانو ته کوم توجه وکړم کرار،کرار مې اقرا د ځان سره وګرځولو زمورږ نمبر دویم و، همدا چي د ډاکتر له کوټې نفران راووتل نو مورږ ننوتلو، ډاکټر زمورږ سره ښه

ګرم ستړ مشې وکول، اخر موږ یې خاص مشتریان وو!
مریض ورته نشم ویلې ځکه هغه زموږ سره د دوکاندار
او اخیستونکې معامله کړی وه نه د ډاکتر او مریض ...

د ستړی مشي وروسته ډاکټر د کوټي کونج کې ایخودل
شوی کټ ته اشاره وکړل او له اقرا څخه یې وغوښتل
ترڅو هلته لاړه شې او خپل زخم لوڅ کړي، زما په نظر
د نړۍ بدترین شکنجه همدا ده، که څه هم اقرا یوازی
خپل چپ اړخ زخم ښکاره کړو خو خدای په سر شاهید
دي چې زړه مې غوښتل د ډاکټر هغه دواړه لاسونه
مات کړم کوم چې د اقرا په تشي کیخودلې وه خو
مجبوری ډېره بده ده ډېره ...

د ګوردي بخش کوم ښځینه ډاکټره نه درلوده چې د
اقرا زخم وګوری نو باید دا حال مې زغملې وایي، البته
ډاکټر هم کامل مراعات کاوه او له کار څخه یې
ښکاریدل چې فکر یې یوازی د زخم خواته دی او نور

کوم مردار نظر نلری د څو شیبو زخم کتلو وروسته یې زما خواته وکتل او ویې ویل:

– زخم یې دومره نه دی ښه شوی فکر کوم که یو څو ورځې نور هم پیپ پاتي کړو بهتره به وي...
ډاکتر لا خبره نه وه خلاصه کړې چې اقرا په تلوار وویل: نه ..
د هغې په غږ ډاکټر وروکتل چې اقرا په همغه تلوار وویل: نور نغوارم ضرورت نشته لرې کړې.

زه پوهېدم چې د هغې دا تلوار او تاکید په څه خاطر دی نو ځکه په تروش تندی مې وویل: که ډاکتر وايې یو څو ورځې نور دی هم وی مطلب یو څو ورځې دی وی، هغه بهتره پوهیږي.
ډاکټر زما او د اقرا خواته وکتل د هغه وروسته خپل د میز خواته ولاړ او داسي حال کې چې یو څه یې لیکل ویې ویل: که مریض نغواړي پیپ پاتي شي نو کوم ستونزه نشته لرې به یې کړم واخله دا شیان راوړه.

غوښتل مې مخالفت وکړم خو کله چې د اقرا مظلوم نظر مې ولید نو څه مې ونه ویل او یوازی په بد،بد کتلو مې پوه کړل چې د دی کار سره مخالف یم،د ډاکټر له لاسه مې پارچه واخیسته او په تلور له کوټې ووتلم ډېر ژر د ډاکټر غوښتل شوی شیان مې راوړل دومره خاص شئ نه وه دوه،درې دانې بانداژه وه او یو د جراحي کوچني چاقو چی د اقرا د پیپ شاوخوا کوکونه یې وربانديې وشکول او پیپ یی د چپ اړخ ګوردی څخه راکش کړو، کله چی پیپ یې راکش کاوه نو اقرا د ډېر درد له لاسه د مار پشان په ځان څرخیدل، د کټ روجاي کلک په منګولو کې نیولې وه او کوښښ یې کاوه د درد له لاسه چغي ونه وهې ...

د هغې د داسې حال په لیدو زړه مې غوښت مخکې لاړشم او ډاکټر منع کړم، خو پوهیدلم چې داسې کار نشم کولاې نو ځکه د اغاګل مور مې د اقرا سره پریخودل او خپل له کوټي ووتلم، همدا چې ما د کوټي دروازه بند کړل د اقرا د درد څخه ډک چغه مې تر غوږ

شوه بې اختیاره مې سترګي وتړل، حاضر وم مړ شم خو اقرا په داسې حال کې ونه وینم، تقریبا پنځه دقې د کوټې د دروازې شاته ولاړ وم چې بلاخره د آغاګل مور راغږ کړل او ویې ویل چې پیپ یې وباسو راشه، کله چې کوټې ته ننوتلم نو اقرا مې د ګچ پشان په پریدلې رنګ باندې په څوکۍ ناسته ولیدل چې خپل یو لاس یې د حجاب له پاسه خپل په چپ اړخ ګورده کیخودلې وو.

ډاکتر زما په لیدو داسې حال کې چې یو څه لیکل پخندا وویل: دومره کم زړه مه اوسیږه ځوانه! ته باید کلک زړه ولرې ترڅو و کولای شې د دې وروسته خپل د ښځې مرسته وکړې، که ته داسې د یو څاڅکي وینو په لیدو وتښتې نو دا بیچارګې چا ته پناه ویسي؟

د هغه د داسې بیځایه فلسفي خبرو حوصله مې نه درلود، هغه زما لځایه نه وو ترڅو پوه شې د اقرا د درد څخه ډک په هر چغه باندې پر ما څه تېرېدل او ځان

راته څومره کمزوری ښکاریدو، دا چې خپل د ناموس، خپل د ښځې،خپل د مینې مرسته نشم کولای د مرګ څخه بتر وو، زما ځواب چې ډاکتر وا نه ورید نو سر یې راپورته کړو څو شیبې زما خواته راوکتل د هغه وروسته د اقرا خواته یې مخ کړو او ویې ویل: د دی وورسته به بیحد ځانته خیال ساتي، دروند کار به نکوی،ځان به ډېر نه ستړی کوی،ورځ کې به خامخا اته یا حتا که امکان لری د هغه څخه لا ډیر اوبه څښې، لوبیا،نخود، دال او حتا ډېره غوښه بلخصوص د غوای غوښه چې بیحد درنه ده نخوری ..

اصلا ډوډۍ به ډیره نخوری .. مطلب مې د ډوډۍ خوړلو څخه دا نه دی چې بیخي ډوډۍ مخوره مطلب مې دا دی چې په یو ځل ځان مه مړه وه، هره پنځه دقیقي وروسته یو ګوله ډوډۍ خوره، کوښښ وکړه ورځ کې د درې وخت ډوډۍ خوړلو لځایه پنځه، شپږ ځله ډوډۍ وخوری خو لږ،لږ او د دوه کیلو څخه ډېر وزن به نه پورته کوی،که کوټه دې جارو کول نو نیم

کوټه یو ځل جارو کړه نیم یې څو دقیقې وروسته پوه شوی زما په خبرو؟ په هیڅ ډول به پر ځان فشار نه راوړی، یوه ګورده دې نشته او دا بل ګورده دی هم 30% تقریبا خرابه ده نو بیحد به پر ځان فکر ساتي ..

بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: زه خو وایم د همدا اوس څخه د یو بل ګوردی په لټه کې اوسیږی زه فکر نکوم چې په دې یو ګورده دی ستا ښځه د یو دوه کالو څخه ډېر دوام راوړی.

د دې ډاکتر یو کار چې زما هم بد راتلو او هم مې خوښیدو همدا مخامخ خبره کول وه، له دی چې مخامخ یې د اقرا حال ماته وویلو زه خوشحال شوم ځکه کولای مې شو د همدا اوس څخه د راروان ستونزو لپاره ځان چمتو کړم او یو غم ورته وخورم خو دا چې د اقرا په وړاندی دا خبره وکړل نو تندی مې تروش شو، نیم نظر مې د اقرا خواته واچو چې سر یې ښکته اچولې وو او کوم څه یې نه ویل بیرته مې د

ډاکټر خواته وکتل ترڅو پوښتنه وکړم بله ګورده له کوم ځای بیدا کولای شم؟

اړ قیمت به یې څومره وی؟او که پیدا شول نو ایا تاسو خپل بیا عملیات کوی؟ او زر نور پوښتني مې ذهن کې وه چې غوښتل مې د ډاکټر څخه یې وپوښتم خو زما د څه ویلو مخکې د آغاګل مور یو داسې خبره وکړل چې زه د ډېر شرم څخه پر ځمکه ننوتلم.

آغاګل مور- ډاکټر صیب تاسو اقرا لورکۍ د دومره شیانو څخه منع کړل ایا په هغه کې ماشوم راوړل هم شامل دی؟ یعنې نور نه باید ماشوم راوړی؟

د آغاګل د مور په خبره ما د ډېر شرم له لاسه یوازی ځمکې ته کتل خو د اقرا له څهری کوم خاص احساس ما ته نه ښکاریدو! یو ډول بې حسه وه؟ داسې لکه چې پوهیږې د ډاکټر ځواب څه دی؟ او څه څیز د دی په تمه دی؟ یو ډول عجیب نامیدې د سترګو په نینکو کې

لیدل کېدل داسې ناميدى چې زه يې ډارولم، د ډاکټر په غږ د هغې څخه مې نظر واخيست.

ډاکټر- عجيب ده د اوس زماني زياتر خوابښياني د کار په غم کيدى نه ماشوم!؟ ما فکر کاوه شايد تاسو په دې غوسه اوسيږى چې ما ستاسو اينګور د کار کولو څخه منع کړى؟ خو تاسو د کار لځايه د ماشوم په فکر کې ياست؟(د ډاکټر لهجه ناساپه بدله شوه او په غوسه يې وويل: تاسو د رحم او شفقت په نوم کوم څه پيژني کنه؟ زه کوم څه نه وايم همدا تاسو راته ووايست آيا داسې ښځه اوس وخت د ماشوم راوړلو ده؟ دې خپل يوه ګورده يوه هفته مخکې لرى ختا کړى، د هغه سره يې خپل يو نيم مياشتني ماشوم ضايع کړى او د هغه څخه بتر دا چې دا بله ګورده يې هم ديرش فيصد خرابه ده او امکان لرى دا هم د فعاليت ولوېږي ...

ته يې بدن ته وګوره په ټول بدن کې نور د کوک وهلو يو اينچ ځاى نه دې پاتي شل،دويشت کوک مو ورکړې

لکه کالو پشان مو سر ترپایه ګنډلې او هغه وخت تاسو د دی لځایه چې خپل د اینګور په غم کې اوسیږی د هغې څخه ماشوم غواړی؟

د آغاګل مور ډېره ساده ښځه وه، په زړه کې کوم بده اراده د دی پوښتنو کولو څخه نه درلود، د پخوا ښځو پشان چې هر کار کې یو پوښتنه کوی دې هم داسې یو بیځایه پوښتنه کړی وه خو د هغې پوښتني ډاکټر بیحد عصبې کړی وو، دومره چې په خبرو،خبرو کې لومړۍ هغه بیا وریسي زه سم صحیح سپک کړم! ډاکټر ګمان کړې وو چې زه د اقرا په غم کې نه یم او ورڅخه ماشوم غواړم، چې داسې یو پوښتنه مثلاً زما مور کړی؟ خلاصه چې دومره خبری وکړل چې زموږ غوږونه یې راوخوړل اخیر کې اقرا د اغاګل د مور خوا ونیول او ډاکټر یی پوه کړو چې دا ښځه نه زما مور ده او نه هم د هغې خوابښي ده او زموږ همسایه ده او دا پوښتنه یې هم هسې کړی ...

د اقرا د خبرو اوریدلو باوجود بیا هم د ډاکټر تندې خلاص نشو او موږ یې تقریبا خپل د کوټې څخه وشړلو، د هغه په خبرو باندی زما سر په دوه خبرو سم صحیح خلاص شو لومړۍ دا چې نور ماشوم بی ماشوم، هغه سم واضح وویل چې اقرا نور ماشوم نشې راوړلې البته که څه هم وروسته یې وویل تر یو څو کالو خو زما په نظر دا د څو کالو خبره یې هسې د اقرا د زړه د خوشحاله کولو لپاره وکړل، خو په هر حال دا ماته دومره مهم موضوع نه وه ما دومره د ماشوم شوق نه درلود یو زوی مې درلود همغه راته بس وو، خو اقرا په دی موضوع سم له ورایه خفه ښکاریدل، خو زما خفګان د ډاکټر په هغه خبره باندی وو کوم چې ویې ویل د اقرا دا بله ګورده هم 30% سلنه خرابه ده ...

***

د دی ځای د کسانو څخه مې بد راتلل دا هغه کسان وه چې یو عمر یې ماته چل راکړی وو، خو نن یو ځل بیا

زه دوي ته مجبور شوی وم، په دی فکر"اه" مې له سیني ووت څو ورځي مخکې اقرا مې یو ځل بیا ډاکتر ته ویوړل او هغه دا ځل په جدی توګه زما څخه غوښتنه وکړه چې اقرا ته یو بله ګورده پیدا کړم، ډاکټر په واضح توګه راته وویل" که غواړی ښځه دی ژوندی پاتي شې نو ګورده ورته پیدا کړه" د اقرا دویمې ګوردې هم یو کوچني ډبره پیدا کړی وه چې دا د ډاکتر په نظر بیحد خطرناک موضوع وه ..

د ډاکټر په هغه لومړۍ ګواښ کوم چې د پیپ ویستلو وروسته ما ته ویلې وه زه د ګوردې پسي په ګرځیدو شوی وم خو د یو میاشت در بدری او خواری وروسته بیا هم ونه توانیدلم کوم ګورده پیدا کړم هر چیرته چې تلم نامید راتلم، آغاګل ویل تر یو، یونیم لک روپو ګورده پیدا کیږی،خو زه تر لس لکو لا تیار وم چې ګورده واخلم خو زما له قسمت لکه چې په ټول نړۍ کې د ګوردی خرڅلاو او تبادله بنده شوی وه، هر چا

راته یو د دروغو مشوره راکول یو ویل فلانکي ولایت ته لاړشه ګورده شته، بل ویل فلانکي ولسوالي ...

ته ځینو خو ویل هندوستان یا پاکستان ته لاړ شه خو یو نفر هم باېه ځواب نه راکو ما حتا د هغه منحوس میراث د اخیستلو فکر لا کړی وو، حاضر وم د اقرا لپاره دا ذلت په ځان واخلم او د هغې د صحت لپاره هغه برخه میراث واخلم ترڅو دیته پکي یو ګورده واخیستلې شم، خو هره ورځ چې تېرېدل زما نامیدی زیاتیدل تر دې چې خپل غوسه،کرکه،ضد او نفرت مې یو اړخ ته پریخود او نن مې اقرا د استاذ کور ته راوړل ...

البته یوازی محمد او اقرا مې د استاذ د کور مخکې ښکته کړل او خپل راغلم ترڅو د کور شیان ویسم همغه د استاذ د څنګ کور مې یو ځل بیا کرایه کړو خو دا ځل یو څه په ډېر قیمت، د کور شیان مې تر همغه ځایه خپل ویوړل خو د دی څخه مخکې چې ځوک مې وویني له هغه ځای لاړم او نور کار مې د کاریګرانو په

غاړه واچو ترڅو د کور سامان کور ته ننباسي، ما نه غوښتل خپل د استاذ،ذوالفقار یا کوم بل خپل خپلوانو سره مخ شم زما اراده د راتګ نه وه ما یوازی اقرا راوستلې وه ځکه نور مې یوازی ځان نشو ساتلې ...

هو د شرم خبره وه خو ما خپل ښځه او ماشوم نور نشو ساتلې او د څلور میاشتو پیشو،موږک پشان د تښتیدلو،راتښتیدلو وروسته بیرته همغه استاذ ته مجبور شوی وم، کله چې اقرا مې د استاذ د کور مخکې ښکته کړل نو هغې راڅخه ډېر غوښتنه وکړل چې ورسره یوځاي لاړشم خو ما ونه منل ...

د کوڅي سر کې ولاړ وم او د لری څخه مې خپل د کور خواته کتل چې کاریګران لګیا وه او د موټر څخه یې کور ته شیان ننویستل، دا دوه کاریګر مې په بیحد قیمت راضی کړل ترڅو د کور شیان د موټر څخه د کور دننه ننباسي، اقرا چې د استاذ کور ته ننوتلم زه په تلوار د هغه ځایه لری شوم خو لا کامل له کوڅي نه وم

وتلې چې استاذ په ورخطاي خپل له کوره راووت او زموږ د کور خواته په منډه شو هغه شاید ګمان کړی وو چې زه د کاریګرانو سره یم او د کور شیان ځای پرځای کوم؟

خو خبر نه وو چی زه د کوټي سر کې د غل پشان پټ ولاړ یم او هغه ته ګورم .. ما خپل مخ په پټو کلک پیچلې وو او یو غټه کورتي مې هم اچولې وه داسې چې هیڅ مخ مې نه ښکاریدو استاذ څو دقیقي د کاریګرانو سره خبری وکړل او اخوا دیخوا شو خو کله چې زما د لیدلو څخه نامید شو نو بیرته کور ته ننوت، عجیب وه خو زړه مې ورپسي تنګ شوی وو! حتا د دی کوټي پسې مې لا زړه تنګ شوی و، فکر مې کاوه دا څو میاشتي ورک وم او اوس تازه خپل کور ته راغلی یم ..

نه پوهېږم تر کله به هلته ولاړ وم خو ناساپه د شور ماشور په غږ نظر مې خپل د کور څخه واخیست او د

کوڅي سر ته مې وکتل چې د مخامخ کس په ليدو فکر مې کاوه روح مې له بدن ووتل بې اختياره مې نوم ورڅخه واخيست ذوالفقار ...؟!

خپل ځای کې جام پاتي وم هېڅ حرکت مې نشو کولای يوازی دوه سترګي مې د ذوالفقار خواته نيولې وه چې د ليونيانو پشان زما خواته راروان وو، بغير له دی چې خپل شاته هغه کسانو ته وګوری کوم چې د هغه پسي چغي وهل او غوښتل يې ترڅو ذوالفقار خپل موټر د کوڅي له مخې لری کړې،خو ذوالفقار بغير له دی چې د هغوی غږ ته کوم پام وکړی ديخوا راورن وو، د هغه د هر ګام نږدی راتلو سره ما خپل فاتحه ويل، ځان مې سم يو زدني وهلو ته چمتو کړی وو، چې ناساپه ذولفقار په همغه تيز رفتار بغير له دې چې زما خواته وګوری زما له څنګ تېر شو او د استاذ په کور ننوت ...

د هغه په تلو تازه په خود راغلم او راياد مې شول چې ما خپل ځان داسي پيچلي وو چې هغه اصلا ما ته فکر

نشو، په نامیدۍ مې د هغه تللې لارۍ ته وکتل څومره مې زړه ورپسي تنګ شوی وو،کاش یو څو شیبې ډیر پاتی شوی وایې، په افسوس مې سر وخوځاوه او د دوکان خواته لاړم نه پوهیدم څه واخلم،یوازی د دی لپاره چې د کوڅي منځ کې هسې د لنډغرانو پشان ونه دریږم د دوکان خواته لاړم ترڅو کوم څوک راباندی شک ونکړی، بغیر د کوم هدف مې د دوکان شاوخوا کتل چې د سترګو له کونج مې د استاذ د کور خوا ته پام شو چې دروازه یې په تېزی خلاصه شوه او ذوالفقار په غوسه ورڅخه راووت ..

د هغه سره سم استاذ هم راووت ذوالفقار په تلوار ځان د هغه کاریګرانو خواته ورسو کوم چې لګیا وه زما د کور شیان یې ځای پر ځای کول او همدا چې د هغوي څنګ ته ورسید نو یو د هغه دوه کاریګرانو څخه یې د ګریوان راونیو، دوکان له هغه ځایه لری وو نه پوهیدم چې ذوالفقار هغه ته څه وایې؟ خو د هغه د غوسي او د استاذ د کوښښ څخه چی غوښتل یی ذوالفقار د هغه

بدبخت کاریګر څخه جلا کړی پوه شم چې موضوع زما په سر ده؟ لکه چې ذوالفقار زما پوښتنه د هغوی څخه کول البته خپل په طریقه ...

څو دقیقي دا کش،مکش روان وو لکه چې ذوالفقار زما پوښتنه د هغوي څخه کول چې زه چیرته یم؟ خو کله چې هغه بدبختانو ویل نه یو خبر، نو ذوالفقار جنګ شروع کړو استاذ کوښښ کاوه هغه راکش کړی خو ذوالفقار د هغه سرې ګریوان نه خوشي کاوه، ذوالفقار مې په دی بد حال نه وو پیرزو د هغه په داسې لیدلو مې زړه درد کاوه خو لعنت دی وی پر دی ژوند چې هیڅکله زما د خوښي مطابق نه وو، د دوکاندار په غږ د هغه خواته مې وکتل.
– کوم څه غواړی؟
- هو .. هغه ...

نه پوهیدم چې څه واخلم؟ زه اصلاً د کوم څه د اخیستلو لپاره نه وم راغلې چی اوس فرمایش ورکړم

خو کله چی د دوکاندار مشکوک نظر مې ولید نو یو انرژي مې وغوښتل هغه هم د سر په خوځولو یخچال خواته لاړو ترڅو ما ته انرژی راوخلې، د هغه په تلو نظر مې د کوځي سر کې په زبیر ولګید چي په منډه رااروان وو او دوه سترګي د ذوالفقار خواته نیولې وه، زما د څنګ په بیحد تلوار تېر شو او ډېر ژر یې ځان تر ذوالفقار ورسو او د استاذ په مرسته یې ذوالفقار د هغه بدبخت ګاریکر څخه جلا کړو.

خو ذوالفقار لا هم لګیا وو ګاریکر ته یې یو څه ویل او ګوته یې د ګواښ په انداز ورته خوځول، تر دې چې استاذ زبیر ته یو څه وویل او زبیر بلاخره د څو دقیقو کش مکش وروسته ذوالفقار ځان پسي راکش کړو د هغوی په دیخوا راتګ باندی ما په تلوار د دوکاندار خواته مخ کړو، هېڅ مې نه غوښتل په دی ډول باندی د ذوالفقار او زبیر سره ملاقات وکړم که خدای مکړه ذوالفقار په داسې حال لیدلې وایې نو بې له کوم شک چې مې کولم یې، ذوالفقار او زبیر زما له څنګ تېر شول

او ما يې غږ واورید چې د تلو حال کې زبیر ورته
وویل:

زبیر- څه خبره ده ذوالفقار؟ تا هغه بدبخت ولی
رانیولی وو؟ طاها ... طاها چیرته دی؟

ذوالفقار د کوټي منځ کې خپل اوږه د زبیر د لاس کش
کړل او په غوسه باندی ورته وویل: که تا پریخودلې
وایې نو ما به ورڅخه پوښتنه کړی وایې چې چیرته
دی؟
زبیر- د چا څخه دی پوښتنه کړی وایې؟ هغه بدبخت د
کوم خوا خبر دی چې طاها چیرته دی؟ مګر نه دی
اوریدل چې قسمونه یې اخیستل او ویل یې نه یم
خبر؟!
ذوالفقار په غوسه باندی خپل ویښتیانو کی لاس تیر
کړو او ویې ویل: غول یې خوړل،سم صحیح خبر وو
یوازی موږ ته یې دروغ ویل ..

زبير په ګنګس انداز د ذوالفقار اوږه ونيول او ويې
ويل: ته څه لګيا يې ذوالفقار؟ مګر تا ونه ويل چې
طاها خپل ښځه او زوی راوړی د مولا صيب کور ته؟
ها؟
ذوالفقار يو څه وويل خو د دوکاندار په غږ چې ماته
يې انرژې نيولې وه ما د هغه غږ وانه وريد، په تلوار
مې انرژی ورڅخه راوخيسته او پيسي مې ورکړل
همدی وخت کې زبير او ذوالفقار هم زما د څنګ لری
شوی وه او د کوڅې سر ته روان وه ما يې نور غږ نه
اوريدو او نه پوهېدم چې څه وايې؟

که څه هم احمقانه او تر ډېره غلط کار وو خو ما
غوښتل د هغوی خبری واورم، غوښتل مې پوه شم
ذوالفقار او زبير زما د تګ وروسته زما په اړه څه ګمان
کوی؟ که څه هم بيحد خطرناک کار وو خو د هغوي په
تګ زه هم د دوکان څخه راووتلم او کرار، کرار ورپسي
شوم د کوڅي سر ته په رسېدو زبير وويل: راځه اول
دا موټر د دی ځايه ويسو بيا به نور خبری وکړو.

د زبیر په دی خبره بیحد خفه شوم که موټر کې تللې وایې نو ما یې نور خبری نشو اوریدلې او نه پوهېدم چې څه وایې؟

ذوالفقار- د موټر حوصله نلرم ته یې له دی ځایه د سړک خواته ویسه زه هم درپسي کرار،کرار درځم.

د ذوالفقار په دی خبره چې زبیر ته یې وکړل او بیا یې خپل د موټر کیلې ورکړل بیحد خوشحاله شوم،زبیر د ذوالفقار موټر د کوڅي د سر د سړک خوا ته وباسو او ذوالفقار هم پیاده،پیاده په فکرونو کې غرق د هغه پسي روان وو او زه هم د هغه څخه یو شل قدم لری د غل پشان ورپسې وم، ذوالفقار د تګ حال کې د پخوا پشان نه تلو، پخوا به چې روان وو نو داسې تلو لکه پهلوانانو، اوږي استواره نیول سینه یې مخ ته ویستل او کلک ګامونه یې اخیستل د هغه په داسې تګ به زبیر تل پخندا ما ته ویل: ذوالفقار داسې روان دی چې د سلواتیا متری څخه هم سړی پوهیږی چې ورزشکار دی.

خو اوس اوږی ښکته نیولې وه کرار،ګامونه یې اخیستل او بیحد خفه ښکاریدو، د هغه د داسې حال په لیدو مې پر ځان لعنت وویل، د سړک غاړه کې زبیر موټر درولې و او ځنګ ته یې ولاړ وو، ذوالفقار هم د هغه خواته لاړو، د دوی څخه په یو څه واټن کی یو غرف وه چی سګریت پکې خرڅیدل که څه هم د سګریټ وهلو عادت مې نه درلود خو د دی لپاره چې د هغوی خبری واورم مجبور شوم د هغه غرفي خواته لاړشم، غرفه کی د ۱۴/۱۵ کالو په عمر یو هلک ناست وو، چې زما په لیدو لګیا شو په پوښتنو کولو چې څه غوارې؟ او څه ماډل سګریټ مې پکار دی؟

ما هم د دروغو د سګریټ قوطیان اخوا، دیخوا کړل او هلک مې پوه کړو چې خپل یې انتخابوم،خو همغه حال کې ټول فکر مې خپل د ځان څخه یو لس،پنځلس ګام لری د زبیر او ذوالفقار خبرو خواته وو.

زبیر- اوس اصل کیسه وکړه څه شوی؟ طاها چیرته دی؟ تا ولې هغه بدبخت کاریګر رانیولی وو؟

ذوالفقار په نیولې غږ وویل: طاها نه وو.

زبیر- څنګه نه وو؟ همدا تا مګر څو دقیقې مخکی ونه ویل چې خپل ښځه او زوی راوړی د مولا صیب کور ته؟ او خپل پخواني کور یی هم کرایه کړی؟ نو چیرته دی؟

ذوالفقار په همغه نامید غږ وویل: هغوي راوړی خو خپل نه وو.

زبیر- شاید ... شاید چیرته به کار لری را به شې تر ماښام؟

ذوالفقار ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: فکر نکوم ...

زبیر- د .. د وریندارۍ څخه دی پوښتنه وکړل؟ هغې ونه ویل دا څو میاشتي چیرته وه؟ او طاها اوس چیرته دی؟

ذوالفقار- نه ..

زبیر په غوسه وویل: ولې دی پوښتنه ونکړل؟ مګر تا

خوله نه درلود؟ خو سم به دې ځان پوه کړی وايې چې دا څو مياشتي چيرته وه؟ او هغه خر اوس چيرته دی؟

د زبير په داسې غوسه ناک لهجه د ذوالفقار غوسه ناک غږ هم پورته شو.
ذوالفقار- د څه پوښتنه مې کړی وايي؟ ها؟ اصلاً د چا ښځه مى کړی وايې؟ د اقرا ښځه چې د ګور د مړی پشان وه يا د هغه ژړندوک ماشوم ښځه چی يوازی خوله يې خلاصه نيولې وه او ژړل يې؟ ها؟ د چا ښځه مې پوښتنه کړی وايې؟ هغه کاريګر ښځه پوښتنو کولو تخو تا پرينخودلم نو د چا ښځه مې پوښتنه کړی وايې چې هغه ... هغه ...

ذوالفقار نور څه ونه ويل او په غوسه باندی خپل ږيره کې لاس تېر کړو، زبير هم د څو شيبو لپاره چوپ شو او يوازی د ذوالفقار خواته کتل، د هغوي د دی حال په ليدو پوه شوم چې دا څو مياشتي ما نه يوازی خپل پر

ځان او اقرا ظلم وکړو بلکې په داسې ناخبر تګ مې پر دوي هم ظلم کړی وو.

یو پاکټ سیګریټ مې واخیسته او غوښتل مې لاړشم نور مې نه غوښتل د هغوي خبری واورم، خو لا یو ګام مې لا نه وو اخیستي چې د ذوالفقار نیولې آواز مې تر غوږ شو چې زبیر ته یې په داسې یو مظلومانه غږ خبری وکړل چې ما عمر کې د ذوالفقار داسې درمانده او عاجزانه غږ نه وو اوریدلی.

ذوالفقار- زبیر .. که تاته یې ځای معلوم دی ته وخدای راته ووایه .. په قران نه غوسه کېږم .. نه جنګ کوم... نه کنځل کوم ... په قران که ورته بده خبره لا وکړم یوازی غواړم ویې وینم ... خیر دی راته ووایه چیرته دی طاها؟

د ذوالفقار په داسې عاجزانه غږ ځان مې کنټرول نشو کړی او بې اختیاره مې مخ د هغه خواته وګرځو، زبیر په حیرت ځان ته لاس ونیو او ویې ویل: ته فکر کوی

چې زه د طاها لځایه خبر یم او تاته نه وایم؟ ها؟ ذوالفقار- هو، فکر نکوم بلکې باور لرم، طاها دومره زړه او جرئت نلری چې په یوه شپه بغیر له دی چې چا ته خبر ورکړی داسې ټول پریږدی او لاړ شې، هغه تاته ضرور ویلې چې چیرته ځې؟ خو ته ماته نه وایې .. زبیر په پوسخند وویل: ته لیوني شوی یې ذوالفقار، که زه د طاها لځایه خبر وایې نو لیونې وم چې دا څو میاشتي ستا سره در په در د هغه پسې وګرځم؟

ذوالفقار ناساپه خپل کنټرول له لاسه ورکړو، زبیر یې د ګریوان راونیو او په غوسه یې وویل: ما ته د چل راکولو لپاره داسې دی کول کنه ته خبر یې چی هغه چیرته دی، ګوره زبیر زه ستا سره هېڅ کار نلرم ماته یوازی د طاها پته راکړه، هغه چیرته دی؟

زبیر خپل ګریوان په زوره د ذوالفقار له لاسه وباسو او په غوسه یې وویل: اخوا شه ذوالفقار تا خپل عقل له لاسه ورکړی، دا څو میاشتو کې په کراتو،کراتو مې درته

وویل"چـــې زه نــــه یـــــم خبـــــر چـــې طــــاهـــا چیـــرتـــه دی؟" په قران قسم زه نه یم خبر، هغه ما ته هېڅ نه دی ویلې یوازی د تلو مخکې یو مسج کړی وو چې تاته مې وښود بس نور څه یې نه دی راته ویلې باور وکړه ...

ذوالفقار لکه چې د زبیر په دی خبره نامید شو چې شاته لاړو،په موټر یې تکیه ووهل او په نامید غږ یې وویل: نو د چا څخه پوښتنه وکړم؟ چا ته د هغه ځای معلوم دی؟
زبیر- د ورینداری څخه، د هغې څخه پوښتنه وکړه چې دا خو میاشتي چیرته وه؟ او طاها اوس چیرته دی؟ هغې ته ضرور معلومات شته، اصلاً زه خو وایم موږ باید لږ صبر وکړو، ځکه که طاها خپل ښځه او زوي راوړی نو مطلب خپل هم راځي، لږ وخت شاید ونیسي خو حتماً راځي ..

ذوالفقار هېڅ ونه ویل چې زبیر وپوښتل: ته ولې دومره ناآرمه یې؟ تخو باید اوس خوشحال اوسیږی طاها خپل ښځه او زوی راوړی د استاذ کور ته او زه سل سلنه ډاډمن یم چې هغه خپل هم راځې نو ته ولې داسې اندیښمن یې؟

ذوالفقار په همغه دروند نظر د زبیر خواته وکتل او ویې ویل: راځې ... زه هم پوهېږم چې راځې خو ... فکر نکوم چې د خیر راتګ دی اوسیږی ...

زبیر په ګنګس انداز وپوښتل: څه مطلب د خیر راتګ؟

ذوالفقار څو شیبې چوپ پاتي شو د هغه وروسته یې په کرار خو په غمژن لهجه وویل: زه په ظاهر دوه ورونه لرم،خو هېڅکله مې هغوي ته د ورونو په نظر نه دی کتلې ځکه چې د هغوی عمرونه زما څخه دومره پورته وه چې ما ته یې تل د کاکاګانو او مشرانو حیثیت درلود نه ورونو، زه د هغوی د زامنو او ماشومانو په عمر وم ما به چې کله د هغوې د کوچنیانو سره لوبه کول نو هغوی به خپل ماشومانو ته ویل چې

دا ستاسو کاکا دی او داسې او هغسې خبری مه ورسره کوی، شاید ذوالقرنین او لالا غوښتل په دی ډول ما ته د هغوي منځ کې احترام راکړي خو خبر نه وه چې په دی ډول یوازی ما د هغوې څخه لری کوی، د دوي په ډېر ویلو ماشومانو زه خپل د ډلې څخه باسلې وم زما سره به یې لوبه نکول تل به زما څخه په تیښته وه ...

د هغوی دا کارونه پر ما بیحد بد لګیدل زه هم ماشوم وم ما هم غوښتل د نور ماشومانو پشان لوبه وکړم،شوخي وکړم خو زه د لالا او ذوالقرنین د بیځایه خبرو له لاسه تل په کورنۍ کی یوازی وم، ټولو ماشومانو ماته په کاکا غږ کاوه شاید ستا په نظر ریشخند راشې خو هغه وختونو کې غټ ترینه آرمان مې دا وو چې یو نفر ما ته زما په نوم غږ وکړی نه په "کاکا" ما د هغوی دا بیځایه احترام نه غوښت ما یو داسي څوک غوښت چې زما سره ملګری اوسیږی، زما سره لوبي وکړي نه دا چې ما لځان وشړی او خدای زما دعا قبول کړه او طاها یې زما ژوند ته راوستو ...

ذوالفقار ژوره ساه واخيسته او ويې ويل: طاها د هغوي پشان نه وو، کله چې دادا راوړ د ادی غيږ کې ورکړو او ويې ويل چې دا به نور زموږ سره اوسيږی ماته ډېر جالب وو،زموږ کور کی هيڅ ماشوم نه پاتي کيدو که هغه د ذوالقرنين ماشومان وه يا هم د لالا ټول به د شپي د راتلو سره تلل خو طاها پاتي شو لومړی کې د ماشومتوب او جاهليت وخت وو د هغه په پاتي کيدو خفه شوم (ذوالفقار وخندل يو ترخه مسکا لکه چې هغه وختونه يې د سترګو وړاندی راغلې اوسيږی او ويې ويل:

— اول کې مې بد ورځخه راتلل ځان سره مې ويل ماشومان خو ما هسې هم ځان سره لوبو کولو ته نه پريږدي يو مور او پلار مې درلود چې هغه هم د ده په راتلو راڅخه لاړل، په دادا او ادی طاها بيحد ګران وو د طاها نوم زما پلار کيخود لالا هغه وخت د طاها څخه بيحد بد راتلل، هغه وخت نه پوهېدلم چی ولې داسی کوی؟ حتا تر همدا څو مياشتو مخکې لا نه پوهېدم خو

اوس .. (د ذوالفقار په چوپتیا او غمژن نظر اه مې له سینی وخوت نو زبیر اخر خپل کار کړی وو او ذوالفقار ته یې کیسه کړې، مثلاً ما ورځخه قول اخیستی وو او قسم مې ورکړی وو چې ذوالفقار ته به کوم څه نه وایې؟!)

ذوالفقار د زبیر خواته وکتل او ویې ویل: خو طاها ما ته همغه ورور شو کوم چې ما یې آرمان درلود، هغه د نور ماشومانو پشان نه وو، ما به درسته ورځ په تنګ کاوه، ساتیری به مې ورسره کاوه او حتا وهلو به مې، خو هغه به زما څخه نه تلو هر څومره به مې چې لځان لری کاوو ماښام به بیرته د سرخان په سر زما څنګ ته کښیناست، ما به چې هرڅومره کوښښ کاوه د نور ماشومانو پشان د ده سره چلند وکړم او پوه یې کړم چې زه د هغه کاکا یم او نه باید زما سره داسې رفتار وکړی خو هغه هیڅکله ماته "کاکا" ونه ویل هیڅکله ...

هغه زما سره یو کور کې غټ شو د دادا د وفات وروسته لالا موږ خپل کور ته ویوړلو او هلته نه پوهېږم د څلور کالو وروسته څه شوی وه خو لالا کرار،کرار غوښتل طاها پوه کړی چې پلار یې څوک دی؟او اصل کورنۍ څوک ده؟ طاها تر هغه وخت زما پلار ته بابا ویل او زما مور ته یې مور ویل، خو د څلور کالو وروسته پوه شو چې زما پلار د هغه پلار نه! بلکې نیکه دی، لومړۍ د لالا په دی کار وېرېدلم فکر مې کاوه هغه غواړی طاها زما څخه لری کړی د نورو ماشومانو پشان خو طاها د لالا په یوه خبره لا عمل ونکړو رفتار یې زما سره هېڅ بدلون ونکړو.

هیڅکله هغه کوټه کې نه ویده کیدو کوم کې چې لالا یا طاهر دوي ویده کیدل، تل زما او د ادی کوټې ته راتلو زموږ سره ویده کیدو د ادی د وفات وروسته که څه هم د اوه کالو وو او په ډېر خبرو پوهیدو خو بیا هم تل زما سره وو، هغه وخت زما ځای نه وو معلوم؟ یوه ورځ به د ذوالقرنین په کور کې ویده کیدلم یو

ورځ د لالا .. کوم شپه به چې د ذوالقرنین کور کی وم هغه شپه به طاها ضرور ځان هلته رارسو که څه هم د فرید څخه یې بیحد بد راتلل.

د ذوالفقار په دی خبره زبیر پخندا وویل: عجیب ده د طاها دښمني همغه ماشومتوب کې د فرید سره وه؟ د زبیر په خبره ما ته هم خندا راغلل د رښتیا هم ما د همغه ماشومتوب څخه د فرید څخه بد راتلل منافق، ذوالفقار هم کرار وخندل او ویې ویل: هغه ډېر منافق،جاسوس وو، دوارو په یو ښونځې کې درس ویلو فرید به د دروغو خبرونه لالا ته راوړل او طاها به یې وربانډی واهه نو ځکه طاها تل ورڅخه بد راتلل، شاید خنده دار درته ښکاره شي خو د ادی او دادا د مرګ وروسته ما فکر کاوه، زه یوازی نه یم یتیم شوی؟ فکر مې کاوه طاها هم زما سره یتیم شوی؟

او ځکه چې زه غټ وم نو طاها ته مې خپل د مسؤلیت په نظر کتل،تل مې فکر کاوه زه باید د هغه خیال

وساتم او د هغه ساتنه وکړم، د هغه ماشومانو پشان شوی وم چې خپل د مور او پلار په نه موجودیت کې خپل د ماشوم ورور خیال ساتي، که څه هم طاها خپل کور، پلار،مور، خویندی او ورور درلود خو ما فکر کاوه طاها د هغوي نه بلکې زما ورور دی او زه باید د هغه ساتنه وکړم، خو د ساتني چل نه راتلو ما د هغه څخه ساتنه په وهلو کې لیدل هر څوک چې د هغه خواته راتلو یا غوښتل یې هغه ته کوم څه ووایې نو ما واهه، شاید د فرید د دی دومره کینې یو سبب همدا وی چې ما تل د طاها په سر هغه وهلې؟!

د ذوالفقار په خبره زبیر پخندا وویل: اوه.. اوه د دی وهلو په کارنامه دی زه سم خبر یم، یعنې د طاها سره زما د ملګرتیا یوه میاشت لا نه وه تیره شوی چې زما مخ دی ونیوو او زه دی وګواښولم، چې زما وراره ته که کوم ستونزه جوړه کړې نو ژوندی دی نه پریږدم ...

د زبیر په دې خبر زما سترګي له حیرت راووتل، باور می نه راتلو چې ذوالفقار دی زما په خاطر هغه ګواښولې وی؟! خو د ذوالفقار خندا پوه کړم چې د رشتیا یې داسی کار کړی.

ذوالفقار- هغه ډېر ساده دی او څومره چې هغه ساده وو ته هغومری ۴۲۰ وی نو ځکه مې وګواښوالې ترڅو هغه کوم غلط لاری ته ونباسي ..

زبیر په حیرت وویل: یعنې زه ستا په نظر خراب هلک راتلم؟؟

ذوالفقار په پوسخند د هغه خواته وکتل او ویې ویل: تا خپل د هغه وخت سر او شکلک لکه چې لیاده وتلی؟ د سر هر ویښته دی په زر رقم رنګونو رنګ کړی وه، ګوتو کیدې د ملنګانو پشان زر دانۍ ګوتمې او غاړه کیدی د لنډغرانو پشان لاقتونه اچولې وه، ړېره دی خو بیخی ونه داسې ښکاریدلې لکه ایجړا!؟

نو ځکه ما ګمان کاوه د دی دور زماني د هغه خراب هلکانو له ډلي يې،نه مې غوښتل طاها ستا سره ملګری اوسيږی خو نه پوهيږی تا کې هغه څه ليدلې وه چې د دومره عجيب،غريب کارونو باوجود هغه د کلونو وروسته بار،بار ته ماته ښودلې او ويل يې دا زما صميمی ملګری دی، کله چې پوه شوم هغه نشم درڅخه منع کولای نو دويم لاره مې خپل کړه..

زبير- او زه بدبخت دی وګواښولم؟!
ذوالفقار پخندا وويل: هومم خوند يې درکړو؟
د ذوالفقار پخندا زبير په غوسه وويل: ای مرض،مرض پوهېږی ستا په هغه خبرو تر څو ورځو مې جرئت نشو کولای د طاها خواته وګورم خبری کول خو لری.

د دوي په خبرو د میاشتو وروسته می خندا راغله، ما دا دوه ليونيان څنګه داسې پريخودلی وه؟! د لږ لفظي کش،مکش وروسته ذوالفقار په غمژن لهجه وويل: کله ناکله ځان راته ګنهکار ښکاری؟! کله ناکله فکر کوم چې

شاید زما له لاسه طاها خپل د کورنۍ څخه بد راځي!؟ ځکه ما تل کوښښ کاوه هغه زما سره اوسيږی او نه مې پریخود چې خپل د کورنۍ خواته لاړشي،که ما پریخودلي وايي شاید هغه خپل د پلار او نور کورنۍ سره جوړ شوی وایی؟!

د ذوالفقار په دی خبره چې په یو خاص درد یې وکړل زړه مې غوښت ورمخکې شم او وايم ته ملامت نه وی او حق نلری داسې بيځايه فکرونه وکړی،زه د اول څخه د هغوی په کورنۍ کی په حساب نه راتلم هغوی زه نه غوښتلم نه دا چې ما هغوی نغوښتل.

زبیر- داسې خبری مکوه، اوس د دومره خبرو د پوهیدو باوجود خو بیخې داسې خیال لا مکوه، ته ملامت نه وی ټول ستونزه د طاها د پلار په طرز فکر کې وه چې طاها یې ملامت ګڼلو ..

که څه هم زبیر حقیقت وویل خو زړه مې په درد راغلو یو دوه ګام د هغوي څخه لری شوم او د یو سوپر

مارکټ په زینو کښیناستلم د دروغو مې موبایل راوباسو او داسی مې وښودل لکه زه چې موبایل کې مصروف یم.

ذوالفقار- شاید .. خو ... دا زما حق نه دی زبیر ... زه نه پوهیږم هغه خبره تر کوم حده رښتیا ده؟ اصلا ما ته مهم نه ده چې څه شوی؟ هغه کارونه چې شوی ټول زموږ ماضې وه او ټول کارونه زما په بیخبرې کې شوی ما په هغه کارونو کې هیڅ ګډون نه درلود حتا روح مې لا د هغه کارونو څخه نه وه خبره، حتا که زما مور لا په هغه موضوع کې ملامت اوسیږی بیا هم دا زما حق نه دی ...

طاها نشې کولای د بل چا ګناه زما په حساب کی ولیکې، ما شاید د هغه حق کې ډېر تیروتنې کړی وی خو باور وکړه هغه په دی نړۍ کې زما ټول هستې ده ... ( ذوالفقار د هغه کسانو له ډلې څخه وو چې هیڅکله یې خپل احساسات په ښکاره توګه نشو بیان

کولای او نن چی داسی خبری وکړل مطلب زړه یې بیحد درد کړی وو، نیم نظر مې د هغه خواته واچو چې په خفګان باندی خپل ویښتیانو کې لاس واهه، زبیر یې په اوږه لاس کیخود او دلداری ورکړل.

زبیر- هسې بیځایه فکرونه مکوه، او هوو طاها ته ملامت نه یې حساب کړی درته ومې ویل کنه چې هغه تر اخر ویل تا ته باید دا خبری ونکړم ترڅو ته خفه نشی، نو که ستا خفګان هغه ته مهم دی؟ مطلب ته یې د ګنهکارانو ډله کې نه یی شمارلې؟!

ذوالفقار- کله چې دی خبری ته فکر کوم چې هغه په دومره لوی واقعیت باندی داسې ناساپه خبر شوی زړه می درد کوی، زه طاها پیژنم د هغه په قد او قواری مه ختا وځه شاید جسماً لوی شوی وی خو د هغه احساسات او زړه د یو پنځه کلن ماشوم څخه لا پاک دی، کاش ما ته یې ویلې وایې، کاش خپل درد یې له ما سره شریک کړی وایي، کله چې د هغه داسی ناساپه تګ

ته فکر کوم نو زړه می درد کوي یعنی تر کوم حد هغه په تنګ راغلی وو چې داسی ناساپه لاړو ...؟!

زبیر- اه ... اه ... ذوالفقار دومر فکرونه مکوه،اوس خو هغه دی بیرته راغلې کله چې دی ولید نو غیږ کې ونیسه او هې هې ورسره وژاړه نور نو ما ته دومره ایموشنل( احساساتي) خبری مکوه.

ذوالفقار په پریشاني خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړو او ویې ویل: د څه راتګ زبیر؟ د څه راتګ؟ هغه خپل په زړه نه دی راغلې هغه مجبور شوی چې راشې.. په دی خبری دی سر خلاصیږی کنه؟
زبیر- څه مطلب مجبور شوی؟ خو خپل ښځه یې راوړی؟ هااا ... مطلب خو دی دا نه دی چې ښځې یې مجبور کړی؟ وا وا؟!
ذوالفقار- هو اقرا مجبور کړی .. خو هغه مجبوریت نه دی کوم چې ته فکر کوی، اقرا ناروغه ده، هغه هم کوم

معمولې ناروغه ما ته نه ښکارې ..
زبیر- څه مطلب معمولې ناروغه نه ښکاری؟

ذوالفقار - زبیر زه بد احساس لرم ... فکر کوم طاها په یو لوی مصیبت کې ولېدلې.
د ذوالفقار په دی خبره زبیر هم ورخطا شو او ویې پوښتل: دا ته څه وایې؟ څنګه مصیبت؟ څه شوی ذوالفقار؟ ورینداره څنګه مریضه ده؟
ذوالفقار- دقیق نه پوهیږم خو دومره ډاډمن یم چې طاها د اقرا د مریضي له سبب مجبور شوی راشې او دا چې خپله نشته او ورک دی دا کار یې ما ډاروی، طاها چې هر کله یو کار کی بند شې یا وډار شې نو داسې کار کوی چې د ستونزي د حل لځایه ځان ته بل ستونزه پیدا کوی، د لومړۍ مشکل څخه لا غټ مشکل ...

د ذوالفقار په دی خبره مې خندا راغلل، ذوالفقار زه ښه پیژندلې وم او پوهیدی چې زه اوس په دی شرایطو کې څه ډول پریکړه کوم؟ نور هلته کښیناستل مې

جایز ونه ګڼل او روان شوم، دا زما ژوند وو او پریکړه یې هم ما کول بس وو نور وېرېدل او خپل ژوند د بل چا په غاړه اچول ما باید دا ځل د تل لپاره یو فیصله کړی وایې داسي فیصله چی یا په یو ښه ژوند پای ته رسیدل یا هم مرګ ...

***

شاوخوا دیوالونو ته مې کتل فولادی رنګ زما په نظر بیحد دروند او یو ډول منفي او رسمی رنګ دی، دا رنګ ما زیاتر وخت په دولتي ځایونو لکه دولتي شفاخانه،مکتبونه،حوزی او زندان! داسې ځایونو کې لیدلې وو کوم بل ځای مې دومره د دی رنګ استعمال نه وو لیدلې. هوا مخ په تیاره کیدو وه، د کوټي ګروپ روښانه وو خو رڼا یې دومره نه وه یوازی همغه څوکۍ چې زه ورباندی ناست وم او د هغه شاوخوا میز یې روښانه کړې وو نور د کوټی شاوخوا تیاره وه ..

سم د اظهاراتو د اخیستلو اطاق ښکاره کیدو، د میز په سر یو جک او یو پلاستکي ګیلاس کیخودل شوي وو د ډېر بې حوصلګي څخه مې جک راوخیست خو کله چې تش مې ولید نو خندا راغله، تش جک یې د پیالي سره کیخودلی وو عجب ګرم میلمه پالنه؟!

همدي فکرونو کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او یو آشنا څهره مې د څو دقو وروسته ولیدل، زما په لیدو هغه لکه چې بیحد حیرت کړی وو چې د څو شیبو لپاره په زیر،زیر یې راوکتل د څو دقو وروسته تازه لکه چې باور یې وشو دا د رښتیا زه یم!

حمیدی- باور مې نه کیږی فکر مې کاوه ستا د همکاری څخه باید لاس ومینځو؟!
د هغه په خبره مې پوسخند وواهه او بغیر له دی چې خبره کش کړم همغه اول کې می خپل د راتګ دلیل واضح کړو.
- اوممم زما هم د راتګ زړه نه وو خو څه وکړم پیسي

شیرینه وی!
زما په دی خبره هغه لومړی حیرت وکړو خو د هغه وروسته په کټ،کت پخندا شو او ویې ویل: عجیب ده د څلور،پنځه میاشتو وروسته اوس پوه شوی چې پیسه شیرنه ده؟

غوښتل مې ځواب ورکړم چې دروازه خلاصه شوه او دا ځل جنرال راننوت، زما پع لیدو هغه کوم خاص ریکشن ونه ښود داسې لکه چې پوهیدی زه راځم؟

د هغه په راتګ حمیدی ورته سلام واچو او سترې مشی وکړل، جنرال یه کرار انداز د هغه ځواب ورکړو او زما مخامخ څوکښ راکش کړل او کښیناست، بغیر د کوم څه ویلو څخه ماته زیر شو د هغه د داسې نظر څخه لږ وډار شوم حمیدی چې فضا درنه ولیدل نو کوښښ یې وکړو خپل یو خبره وکړی او هغه فضا او ماحول سم کړی خو د هغه د څه ویلو مخکې ما وویل: تر اوسه خپل په وړاندیز ولاړ یاست؟

د حمیدی د خولې خلاصولو مخکې جنرال په کلک وویل: زه خپل د خبری څخه هیڅکله نه پر شا کیږم، بلخصوص د دی موضوع څخه خو هیڅکله هم نه ...

د هغه په داسې کلک ځواب خوله مې بنده شوه،د راتلو مخکې مې ډیر خبری او پلانونه ځان سره ذهن کې جوړ کړی وه خو اوس چې وخت یې راغلو نو صحیح مې خبری نشو کولای، یو خوا بلخوا مې کتل او ذهن کې مې خپل خبری سنجول چې جنرال وویل:

– زه پوهیږم ته په څه خاطر راغلې یې.
بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې هغه خپل لاسونه د میز په سر یو د بل سره وتړل او ویې ویل: ستا ښځه ګوردي ته اړتیا لری کنه؟
د هغه په دی خبره سترګي مې له حیرت خلاصي پاتي شوی او یو ثانیه کې مې مغز ته زر رقم منفي فکرونه راغلل او د ټولو څخه شدید منفي فکر دا چې اقرا ته د ګوردی نه پیدا کیدلو دلیل خو جنرال نه دی؟ ایا هغه

خو داسي کوم کار نه وی کړې چې ما مجبور کړې ترڅو دلته راشم او د هغوی سره همکاری وکړم؟ لکه چې جنرال پوه شو چې د هغه په خبری څومره منفي فکرونه مې ذهن ته راغلې چې لږ زما خواته را ټیټ شو او ویې ویل: بیځایه فکرونه مکوه ما ستا د ښځې د مرضتیا او ګوردي نه پیدا کیدلو سره هېڅ تړاو نشته، که کوم کار مې کړی وایې نو هیڅکله مې درته دا موضوع نه بیان کول.

د هغه په خبره لږ مې زړه ارام شو رښتیا وایې که هغه کوم غلط کار کړې وایې نو باید چوپ پاتي شوی وایې ترڅو زه ورڅخه د ګوردی غوښتنه وکړم نه دا چې خپل راته ووایې دومره بیعقل خو نه دی چې خپل ځان خپل راوښایي؟

جنرال- ما دا خبره ځکه درته وکړل ترڅو پوه شئ ما دربانډی نظر وو،یوازی نظر ... نور کوم خاص کار مې نه دی کړی، اوس هم ځکه مې دا موضوع راکش کړل

ترڅو ژر تر ژره دا خبره حل او فصل کړم، ته خپل د ښځې لپاره ګورده غواړې خو ګورده د اوس لپاره د پکتیا په یو ولسوالې او شفخانه کې هم ته نشې پیدا کولې،ځکه مرکز یې تغیر کړی خو ..

د هغه خبرو ته ما په پوره هوش او حواس غوږ نیولې وو.

جنرال- خو زه کولای شم یوه ګورده درته پیدا کړم.
- د څه په بدل کې؟ مفت خو د خدای لپاره مرسته نکوی؟
جنرال کرار وخندل او ویې ویل: ښه خبره دې وکړل مفته مرسته کول زما قانون کې نشته، کله چې مرسته کوم مطلب یو شئ درڅخه په بدل کې غواړم؟ لکه څنګه چې ته زموږ سره د همکاری کولو په بدل کې یوشې غواړې، که منې او کنه خو دنیا همدا ده ترڅو چې یو بل ته مجبور ونه اوسیږو تر هغه وخت یو د بل لپاره کوم کار نکو، تا تر همدا پرون زما سره د همکاری

کولو په اړه فکر لا نه وو کړې خو نن چې ماته مجبور شوی نو زما د ویلو مخکې راغلې ...

نن ته ما ته مجبور یې نه زه تاته؟! خو بیا هم زه درسره همکاری کوم ستا د ښځې د ګوردې چاره زه پخپل کوم د هغه سل لک افغانیو بغیر ...

په حیرت مې وروکتل باور مې نه راتلو چې هغه دی داسې یو لوی کار همداسې د خدای د رضا لپاره زما حق کې وکړی؟

جنرال- پوهیږم شاید هضم کول یې درته سخت وی خو زه دا کار کوم ترڅو د پښتنو خبره نمک ګیر دې کړم؟! کله چې د احسان لاندی شوی هغه وخت ماموریت ته یوازی د یو کار او جبر په نظر نګوری بلکې هغه ته خپل د احسان د جبران کولو په نظر ګوری .. او زه ستا څخه همدا غواړم چې د زړه د خلاص زموږ سره همکاری وکړی نه د جبر او مجبوریت څخه ...

ګنکس وم نه پوهېدم یعنی هغه یوازی د دی لپاره چې
پر ما احسان واچوی غوښتل اقرا ته ګورده ورکړی؟
اخر دا ماموریت څه دی چې دومره دویته مهم دی؟
چې حاضر دی د هغه د سر ته رسولو لپاره تر دی حد
لاړ شي؟

- زه یو څو شرطونه لرم.
حمیدی- د څه شرط؟

د هغه په غږ چې تراوسه خاموش وو ما او جنرال
دواړو وروکتل چې جنرال هغه ته ویل: که امکان لری
نو موږ یوازی پرېږده، هر کله چې موږ یو معقول توافق
ته ورسیدو او طاها ومنل چې زموږ سره همکاری وکړی
نو بیا زه تاته غږ کوم ترڅو راشي او د ماموریت په اړه
معلومات ورکړی.

د جنرال په خبره ما بیحد حیرت وکړو هغه په ډېر
محترمانه لهجه حمیدی له کوټي وشړو او حمیدي هم
په دی خبرو لکه چې پوه شو چې تندی تروش کړو خو

بغیر د څه ویلو له کوټې ووت د هغه د وتلو وروسته جنرال زما خواته راوکتل او ویې ویل: د لومړۍ ورځ څخه مې چندان ورڅخه ښه نه راتلل خو څه وکړم چې مجبور یم د دوي د بخش سره په شریک دا ماموریت سر ته ورسوم، په هر حال ته خپل شرطونه ووایه ...

د هغه په خبره مې وریځې له حیرت پورته شوی، څه مطلب مجبور وم؟ حمیدی ویلې وه چې د مواد مخدر د بخش امر دی؟ نو مطلب دا ماموریت چې هرڅه دی یو اړخ یې د مواد مخدر په څانګه تړاو لری او بل اړخ یې د جنرال په بخش؟ جنرال د کوم بخش امر دی؟ یا جنرال دی؟ ډېر مې زړه غوښتل ورڅخه پوښتنه وکړم خو ځان مې راکنټرول کړو او خپل شرطونه کوم چې ذهن کې مې ساتلي وه هغه مې ورته وویل: لومړۍ شرط مې هغه وو کوم چې تاسو راته حل کړو.
جنرال- ګورده؟

- هو، خو ايا ويلې شې تر کوم وخت به دا ګورده تر ما راورسيږی؟ مطلب زه غوارم د ماموريت څخه مخکې دا کار وشي ترڅو زړه مې لږ ډاډمن وی.
جنرال- زه هم غوارم ماموريت ته دتلو مخکې دا کار ترسره شې ترڅو هم ته زموږ په حسن نيت باندی ډاډمن شې او هم زړه دی خپل د کورنۍ لخوا بيغم شې.

د هغه په داسي منطقي خبری لږ مې زړه جمع شو خو کله چې هغه ماموريت ته مې فکر کاوه نو لږ وېرېدلم او د ځان سره مې ويل اخر دا څنګه ماموريت دی چې دوی داسي ورته تلوار دی؟
د جنرال په غږ له فکرونو راووتلم: ښه بل شرط دې څه دی؟
- بل شرط مې دا دې، که څه هم ستاسو نيت تراوسه خو ماته خير ښکاری خو بيا هم انسان دی او زر فکر انسان ته پيدا کيږی، نو ځکه زه غوارم کوم پيسي چې

تاسو د دی ماموریت په سر ما تهمنلې هغه تاسو د ماموریت ته دتلو مخکې ماته راکړی.

زما په دی خبره هغه خپل وریځي پورته واچول چې ما ژر وویل: پوهېږم شاید فکر کوی زه به هغه پیسي واخلم او تښتم یا داسی کوم بل فکر خو نه .. زما اصلاً داسي کوم ارداه نشته بلخصوص اوس چې پوهیږم هغه څو میاشتي ستاسو د نظر لاندی وم اوس خو بیخی د تښتي فکر نکوم هغه پیسي د دی لپاره غواړم ځکه ګمان کوم ماموریت بیحد سخت دی او د مرګ امکان هم پکي شته .. نو ځکه غواړم هغه پیسي زما سره اوسیږی که مړ هم شوم خیال مې راحت وی چې ..

جنرال- چې پیسي خو دی اخیستی؟!
- هو څه ناخه همداسي.
جنرال- اومم سمده خو..
- خو څه؟

جنرال- ستا خبری او دلایل تر یو حد صحیح دی، خو زموږ فکر هم وکړه هرځومره چې زموږ د نظر لاندی اوسیږی څه ضمانت لری د ګوردی او ټول پیسو اخیستلو وروسته ته زموږ سره همکاری وکړی؟ شاید ځان په لیونتوب ووهي او زموږ سره کار ونکړی؟ هغه وخت موږ څه وکړو؟ په زوره خو موږ پر چا کار نشو کولای، نو داسي به وکړو د هغه پیسو څخه 25 لک به زه تاته په لاس نقد درکړم او 75 لک نور به یې ته یو اکانټ جوړ کړی او زه به پیسي هغه اکانټ ته واستوم خو د بانک د رئیس څخه به داسې یو ضمانت خط راوخلو ترڅو چې د دولت لخوا رسمي خط نه وی ورغلې تر هغه وخت تاته نور پیسي درنکړی ..

- ستاسو په نظر دا لږ مشکوک معامله نشول؟ ځکه تاسو خپل د دولت خلک یاست؟ شاید د ماموریت د خلاصیدو وروسته ما ته کوم خط رانکړی او هغه پیسي ځانته وګرځوی؟
زما په خبره جنرال پخندا شو او ویې ویل: دومره بی

اعتمادی د دولت په اړه ښه نه ده، او هو ته فکر کوی زه د دی پیسو په غم کې یم؟ زه همدا اوس هم ټول پیسي تاته درکولې شم خو دا چې نه درکوم په دی سبب دی چې ته موږ ته چل رانکړې او پر شا نشې، که بیا هم زما خبره نه منې نو سمده زه ټول پیسي تاته درکوم خو یو شرط لرم؟!

- د څه شرط؟

جنرال- ته،ستا ټول کورنۍ او خپلوان د نظر لاندی نیسم ترڅو ډاډمن اوسیږم چې ته نه تښتي نه پښیمانه کیږی او نه هم موږ ته چل راکوی داسي صحیح ده؟

که څه هم تر اوسه د جنرال ټول خبری منطقي وه خو بیا هم ما د هغه په یو خبره باور نه راتلو دومره کلونو کې په یو خبره مې صحیح ذهن خلاص شوی وو او هغه دا چې په پولیسانو باندی په هېڅ ډول باور نه کیږی، هغوي د رارون حالت د ټول پیښو شریکان دی که هغه غلا ده،که قتل دی،که جنایت دی، هرشئ چې

دی هغه کې خپل د دولت خلک هم شته او دا مې په ثبوت سره بار،بار لیدلې وه نو ځکه مې وویل: که څه هم ستاسو خبری سند دی، خو بیا هم زه غوارم د تګ مخکې هغه پیسي واخلم نو خوشحاله کېږم که پیسي ماته راکړی، او هو زه د کوم تښتیدلو یا د ماموریت نه منلو اراده نلرم نو هرڅوک چې د نظر لاندی نیسي ویې نیسې زه کوم ستونزه نلرم ..

جنرال- اوممم سمده شرطونه دی خلاص شول؟

- نه، دوه شرط نور هم لرم.

جنرال- عجب! نور څه؟

- دا شرط مې د ټولو څخه مهم دی ..( جنرال په زیر نظر راوکتل چې دا ځل زه لږ د هغه خواته ورټیټ شوم ترڅو خپل د خبری اثر د هغه په څهری کې ووینم او و مې ویل: زه نغوارې دې ماموریت کې زما کورنۍ شامل اوسیږی ..

جنرال- د شامل څخه مطلب؟

- مطلب زه نغواړم زما کورنۍ دی موضوع کې راداخل شي په هېڅ بڼول.
جنرال- اومم ښه و چې خپل دی وویل ځکه موږ هم څه ناڅه همداسې يو پلان درلود، د هرڅه د ويلو مخکې غواړم درته ووايم چې څنګه چې خپل دی هم خبرو کې وويل د مرګ امکان شته، ځکه دا ډېر لوی ماموريت دی او زموږ لومړی ګام هم ستا د منلو وروسته همدا وو چې تاته يو جعلي نوم او کورنۍ درکړو، مطلب ترڅو چې ماموريت پای ته رسيږی تر هغه وخت ته خپل د کورنۍ سره ملاقات نشې کولای..

نن سه شنبه ده که ته زموږ سره د همکار کولو خبره ومنې نو د پنجشنبې په ورځ يو بهترينه ډاکتر ستا د ښځې د ګوردی عمليات کوی او د شنبي په ورځ موږ ستا د راتګ په تمه يو مطلب څلور ورځې فرصت لرې ترڅو خپل کارونه خلاص کړی ..
- او ماموريت څومره وخت دوام کوی؟
جنرال په بيغم فکر څوکۍ ته تکيه ورکړل او ويې ويل:

دقیق نیټه نشم ویلې، ځکه هر څومره چې ستا هوش او لیاقت ډېر وی هغومره ژر ماموریت خلاصیږی.
- تخمیني عدد هم نشې ویلي؟ مطلب یو میاشت؟ دوه میاشتې؟
زما په خبره جنرال پخندا شو او ویې ویل: دا خو دی بیخي لږ وخت دی یاد کړو، تخمیني توګه که ووایم نو شاید شپږ،اوه یا هم شاید تر یو کال وخت ونیسي؟!

د هغه په دی خبره ناساپه دوه زړه شوم یو کال ډېر وخت وو، زه یو کال څنګه اقرا او محمد یوازی پریږدم؟ په څه بهانه؟
جنرال- پوهېږم ډېر وخت دی خو موږ خپل ځو کاله د دی ماموریت لپاره مصرف کړی، موږ ریسک نشو کولای ځکه زموږ مقابل کسان ډېر هوښیار کسان دی،موږ نشو کلوای په تلوار باندی هغوی ونیسو،که خپل د کورنۍ په اړه اندیښمن یی نو زه کولای شم درته د عربستان یو کلن د دروغو ویزه درواستوم، ترڅو کورنۍ دی فکر وکړی ته تللې خارج ته؟! البته خپل د کورنۍ څخه

کامل توګه بیخبر نه یی موږ درته د هغوی خبر درکوو ..

ذهن کې مې زر رقم فکرونه وه خو یو احساس هڅولم ترڅو دا معامله قبول کړم، زه که تر اخر عمر ځان هم مړ کړم نو نشم کولای یو لک افغانۍ لا ټولې کړم سل لک خو لرې او له بلخوا د اقرا ګورده هم مفت آپریشن کوی دا یو طلایي شانس دی که څه هم پر خطر دی خو د زحمت بغیر راحت نشته کنه؟ په دی فکر مې سر پورته کړو او ومې ویل: سمده تر یو کال زه ستاسو سره یم خو که د یو کال څخه ماموریت ډېر شو بیا نو پر ما کوم حساب مکوی.

جنرال- سمده بیغم اوسیږه شاید د کال مخکې لخیره سره راټول یې کړو..

جنرال د دی خبری د کولو سره په میز لاس کیخود او د ولاړیدو اراده یې وکړل چې ما ژر وویل: زه یو بل شرط هم لرم.

زما په دی خبره هغه د پاسېدو حال کې ودرېد او څو شيبي په درووند نظر راوکتل لکه چې زما دا ډېر شرطونو عصبې کړی وو؟ ځکه تندی تروش شو خو کښيناست او ويې ويل: بل څه شرط لری؟

- تاسو ويل دې ماموريت کې د مرګ امکان هم شته؟

زما په دی خبره د جنرال تندی تروش شو او ويې ويل: بايد دومره عقل ولری او خپل پوه شې چې سل لک افغانۍ ما د خدای د رضا لپاره تاته نه دی درکړی، دا يو ډېر مهم ماموريت دی او د مرګ شانس خو ضرور ورسره ترلې دی.

- زه هم پوهېږم چې شته، تخميني توګه ويلی شې څومره؟ مطلب څو سلنه شانس لری زه دی ماموريت کې مړ شم؟

جنرال- اه هلک ته څومره خلق تنګ انسان يې؟ هر خبره کې تخميني او درصدی دی شروع کړی، مرګ او ژوند د خدای په لاس کيدی ته بسم الله کړه راشه خدای به هر څه اسانه کړی.

- بې له شک چې مرګ او ژوند د الله"ج" لاس کېدي خو دا زما د ژوند موضوع ده دومره خو حق لرم چې پوه شم څو سلنه شانس یې شته د هغه ماموریت ژوند رانشم؟ زه کورنۍ لرم .. باید د هغوی په اړه هم فکر وکړم.

زما په دی خبرو جنرال څو شیبې په خاموش نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: ستا د ژوند مثله پر تا مربوط ده که هوښیار اوسیږی نو د مرګ شانس دی شاید صفر سلنه اوسېږي خو که بیعقلي وکړی شاید اتیا سلنه امکان ولری مړ شې،تخمینی توګه معامله 50%50 ده هر څه پر تا تړاو لری.

د هغه په خبرو مې سر وخوځاوه، موضوع نیم پر نیم وه یعني د شانس خبره وه د بخت او طالع؟! چې بدبختانه ما بیخې نه درلود، نو یعنې د همدا اوس څخه ځان یاید مړ حساب کړم؟ په دی فکر پوسخند مې وواهه چې جنرال وویل: شرط دی څه دی؟

- اوممم ... هغه ... که ... مطلب که په دی ماموریت کې ووژل شوم نو نغوارم زما کورنۍ ته کوم څه ووایست؟ مطلب ورته مه وایست چې ما داسې د پیسو په بدل کې ماموریت قبول کړی وو.

دا خبری مې به بیحد مشکل وکړل او چوپ شوم، ما نغوښتل که مړ شوم سبا ورځ خلک ذوالفقار،اقرا یا حتا محمد ته دا پیغور ورکړی چې پلار یې خپل ژوند په سل لک افغانیو خرڅ کړو! د څو شیبې درنې چوپتیا وروسته جنرال په کرار غږ وویل: که یاد دی وی ته د یو کال لپاره عربستان ته د کار لپاره تللې یې؟ نو که کوم څه وشول ټول کسان به فکر وکړی ته هلته د کار کولو په دوران مړ شوی یې نه دلته؟!

د هغه په دی خبره مې وروکتل او سر مې د منني په پار وخوځو، چې جنرال له څوکۍ پورته شو د هغه په پاسیدلو زه هم پورته شوم چې هغه راته د کښیناستلو وویل او خپل له کوټې ووت، خو ډېر ژر داسې حال کې

چې یو لاس کې یې یو تور د کمپیوټر کیخودلو پشان بکس ورسره وو او بل لاس کې څو سپین ورقي وه کوټې ته رانئوت، ماته مخامخ کښیناست او کوم شیانو باندی چې موږ توافق کړی وو هغه او زما شرطونه او پیسي ټول یې هغه ورقه کې ولیکل د هغه وروسته یې لومړۍ خپل امضا کړل د هغه وروسته یې زما خواته قلم او ورقه کیخودل او ویې ویل: دا امضاء کړه ترڅو یو ډول رسمي قرارداد ولرو.

د هغه په خبره ما هم بغیر د څه ویلو امضاء ولګول امضاء مې بیحد ژر وکړل ترڅو منفي فکرونه مې منع نکړی همدا چې امضاء مې خلاصه شوه نو جنرال هغه تور بکس زما خواته راټیله کړو او ویې ویل: دا هم زموږ د قول او قرار مطابق ستا سل لک افغانۍ، د نن څخه تر شنبې ورځې پورې وخت لرې چې خپل ټول کارونه پای ته ورسوی، د هغه وروسته تر یو کال شاید زموږ میلمه اوسېږې ...

***

د څو دقیقو وروسته یو مسج مې د موبایل په سکرین ښکاره شو چې پکې د یو ځاې آدرس لیکل شو وو، د هغه مسج په لیدو مې ځان ته وویل: دوه زړه توب او هر رقم وېره،شک او تردید نور بس دی، دا هغه لاره ده کوم چې تا پخپل ټاکلې نو مجبور یې د دی لاري تر اخیر لاړ شې، په ژوند کیدی د یوځل لپار هم که کیږی نو خپل په پریکړی ودرېږم طاها ...دا ستا د ژوند یو نوی پړاو دی چې ستا پر مخ خلاصیږي، داسې پړاو چې په خدای باندي د توکل بغیر بله چاره نه لرې او بې له شک چې خدای بهترینه مددګار او ساتونکي دی، راحت او ښه ژوند په مفت باندی د چا نه نصیب کیږی، هر پرمختګ یو قرباني غواړی، هر نوی کار ته لاس اچول ریسک او خطر لری

البته دا ریسک تر اوسه خو زما پر ګټې روان وو، دوه ورځې مخکې اقرا د ګوردي عملیات کړی وو او نوی ګورده یی ترلاسه کړی وه،که څه هم زه ورسره نه وم خو د لری څخه مې د هغې د عملیات کارونه څارل البته د جنرال په مرسته... تر ډېر حد د هغې د حالت څخه خبر وم، بدن یې ګورده منلې وه او حالت یې ښه وو، هغه سل لک افغانیو باندی لومړۍ کار مې چې وکړو هغه د یو کور اخیستل وه، همغه د استاذ د کور څنګ ته کور مې واخیست او قواله مې هم د اقرا په نوم کړل ..

البته زړه خو مې نه غوښت هغه خراب کور په دومره قیمت واخلم خو مجبوره وم زه شاید تر یو کال یا شاید بیخې نه وایې ... نو نه مې غوښتل زما د تګ وروسته اقرا د شپي تېرولو لپاره یو چت لا په سر ونه لرې نو ځکه هغه کور مې په شل لک افغانۍ واخیست او د اقرا په نوم مې کړو د هغه وروسته د اقرا په نوم مې یو بانکي حساب جوړ کړو او پاتي ټول پیسي مې هلته واچول بغیر د شل زر افغانیو څخه چې هغه او د

بانک کارت مې اقرا ته واستو او ورته ومې ویل چې هر وخت پیسو ته اړتیا ولرې نو د همدې اکانټ څخه دې راواخلې ...

دا ټول کارونه ما د موبایل لخوا وکړل او خپل حضوري توګه د هغې خواته نه ولاړم، که څه هم اقرا ډېر راته وویل چې د هغې د لیدلو لپاره ورشم خو ما انکار وکړو ما یو مسئولیت په غاړه اخیستې وو او تر څو چې پای ته مې نه وایی رسولې نو نشوم تللې، اقرا ته مې همغه دروغ وویل کوم چې جنرال راته ویلې وه "د یو کال لپاره عربستان ته د کار لپاره ځم "او دا بهانه مې تر ډېر هم کار وکړل، ځکه زما د شرایطو سره جوړ راتلل..

البته ذوالفقار او زبیر ډېر زما پسې وګرځیدل تر دې حد چې عربستان ته د تلونکو ټولو مسافرو څخه یې زما پوښتنه وکړل او کله چې هلته زما معلومات ورته ونشو نو تر هوایې میدان پورې ولاړل خو زه یې پیدا نکړم، د هغوی داسې بې تابې او غمژن حالت زه خفه کولم خو

ما بل چاره نه درلود، د شنبې په سهار اته بجو د قول مطابق د جنرال خواته ورغلم ترڅو هغه منحوس ماموریت په رسمي توګه شروع کړم، رښتیا که ووایم نو په تمه وم د دی فلمونو پشان جنرال ماته یو پرونده راکړی او هغه کې د دی ماموریت ټول معلومات لیکل شوی وی؟!

خو جنرال یوازی ماته یو تذکره، یو نوی موبایل،سیمکارت او یو نفر راته معرفې کړو سره د یو کور آدرس او بس؟! هغه ماته یوازی دومره وویل چې د دی وروسته زما نوم طاها نه، بلکې برهان دی؟! او هغه سړی چې راته معرفې کړو کوم چې تقریبا د 60/63 کالو وو ویل دا دې پلار دی .. او یو کور چې مورږ په هغه کې اوسیږو؟ خلاصه زما نوم برهان دی زه یو بوډا پلار لرم نور کوم کورنۍ نلرم او زه خپل د دی بوډا پلار سره په یو کوچني کور کې چې د میاشتي درې زر افغانۍ کرایه ده اوسېږم ..

بس نور هیڅ معلومات یې رانکړل، اخر کې هم ویې ویل چې د دی وروسته تر هغه وخت چې ماموریت پای ته رسیږی نور نه باید د حوزی یا کوم دولتي ځای خواته لاړشم؟! او د دې خبری سره سم یې د حوزي څخه وویستلم او ویې ویل: د دی ځای څخه لری لاړ شه او ډېر ژر به موبایل ته دې یو مسج راشې او یو آدرس به درته در واستول شې همدا چې آدرس درواستول شو نو همغه آدرس ته لاړ شه ...

او همداسی هم وشول څو دقې مخکې یو آدرس ماته د یو ناشنا شماری لخوا راغلو، البته شماره ماته ناشنا وه، ما ته دا موبایل هم ناشنا وو هغوی ماته یو ساده ګلګسې موبایل راکړی وو د یو نوی سیمکارت سره او په دی موبایل کې دا شماره کوم چې ماته ناشنا ښکاریدل د "احمدزی صیب" په نوم ثبت شوی وه؟! نه پوهېدم دا احمدزی څوک دی؟ او دې ماموریت کې زما سره څه تړاو لری؟

هغوی اصلا زه د ماموریت څخه خبر نکړم؟ د هغوی په دی کار سخت غوسه راغلې وه، دا نو څه ریشخند وو، هغوی ما ته هېڅ معلومات رانکړو او د قرباني د غوا پشان یې ډاریک د قتل ګاه میدان ته واچولم ... او امید لری چی دا ماموریت زه ورته حل کړم؟ اصلا زه دوی ته باید د څه اطلاعت ورکړم؟ یا د چا اطلاعت ورکړم؟ د دی څخه مخکې چې عصاب مې خراب شې پیاده،پیاده د هغه آدرس خواته روان شوم دومره لری نه وو شل دقو کې هغه آدرس ته ورسیدم، یو غټ ښکلی د ماشین خرخولو شرکت وو ...

دومره لوی شرکت وو چې د څو شیبو لپاره هک حیران و دربډلم، دا ځای ولې تر اوسه ما نه و ولیدلې؟ خو بېر ژر مې د زبیر یوه خبره ذهن ته راغلل چې هغه به تل په ریشخند ما ته ویل: طاها ته دی نړې کې خدای هسې د فرې هیټ بال پشان راستولې یې" مطلب د غلطي څخه راغلې یې او هغه دا خبره زیاتر وخت په دی خاطر کول ځکه زه بېر نه ګرځیدم همیشه خپل په

لاره تلم مطلب دوکان ته او د دوکان څخه کور ته .. نور کوم ځای نه تلم نو تعجب نشته چې داسې ښکلې ځای مې تر اوسه نه وی لیدلې ...

د شرکت مخکې یو غرفه وه چې ماته د شرکت د ساتونکي ځاې ښکاریدو، حق یې هم درلود داسې ښکلې شرکت که ساتونکي نه درلود نو چا درلود؟ لاره بنده وه شرکت ته د ننوتلو مخکې باید د غرفي خواته تللې وایې نه پوهیدم هلته په تګ څه ووایم؟ یا اصلا زه دلته څه کوم؟ د ډېر استرس څخه خپل د ګوتي نوکان خوړل مې شروع کړل دا مرض مې تازه پیدا کړی وو، کله به چې ورخطا یا وېرېدلم نو دا کار می کاوه،  دا کار یو ډول عصبي عادت دی چې زیاتر وخت هغه کسان یی کوی کوم چې بیحد استرس لری لکه څنګه چی اوس ما درلود ...

لا یوه دقه نه وه تېره شوی چې موبایل مې په جیب کی ولړزیده په تلوار مې راوخیست یو بل مسج راغلی

وو د همغه "احمدزی" نومې کس لخوا پکي ليکل شوه وه" څلورم منزل د الحاج غضنفر احمدزی دفتر" بس يوازې همدا يو خط ليکل شوی وو، مطلب بايد د دی ښکلې شرکت څلورم منزل ته لاړ شم؟ څو ژورې ساه ګاني مې واخيستو او د هغه غرفي خواته نږدی شوم، کله چې نږدی ورغلم نو تازه هلته موجود په دوه نفرو مې نظر ولګيد دوه دانې ساتونکی وه ...

چې دواړه بيحد ماشاءالله تکړه وه، يعنې زه د هغوی په مقابل کې لکه ميږی معلوميدم .. هغوی دومره چاق او لوړ قدی وه، په بيحد محترمانه لهجه مې هغوی مخاطب کړل او ومې ويل: سلام سهار بخير.
زما په غږ دواړو راوکتل خو ځواب هغه نفر راکړو کوم چې په څوکۍ ناست وو او کلاشينکوف يې خپل په څوکۍ تکيه کړی وو.

– عليک سلام،ستا سهار هم پخير مهرباني؟
خپل شونډې مې يو بل پر بل ووهل ترڅو لږ لندی

کرم،د خولي لاړې مې هم تېر کړل او د څو شیبو چوپتیا وروسته مې کرار وویل: هغه ... ما ... د ... د ښاغلې غ... غضنفر احمدزی صیب سره کار درلود.

زما په خبره هغه سر وخوځاوه او خپل و مخ ته په میز باندی د کیخودل شوی ورقو څخه یو کتابچه یې راوخیسته او همغه حال کې چی نظر یی په کتابچی وو ویې ویل: نوم دی؟
- طا....
ژر مې خپل خبره غوڅه کړل او ومې ویل: برهان ...

زما په دی رقم مشکوک حرکت دواړو راوکتل او دا ځل هغه بل ساتونکي چې ناست وو او موبایل کې ګوتي وهل ویې ویل: د پلار نوم؟
د یو شیبې لپاره جام پاتي شوم، د پلار نوم؟ زما د پلار نوم خو نغواړی مطلب د برهان د پلار نوم غواړی؟
خاوری دی زما په سر شې ولې مې هغه تذکره یو ځل صحیح ونه کتل؟ هغوي دوه سترګي زما خواته نیولې

وه او زه لګیا وم مثلا خپل د پلار نوم مې په یاد کاوه د خو شیبو وروسته هغه لومړۍ ساتونکي چې زما نوم یې پوښتنه کړې وه پخندا باندی خپل ملګری په اوږه وواهه او ویې ویل: مه یې بعذابوه ..

بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: د پلار نوم ته ضرورت نشته دا زما ملګری لږ شوخ مزاج دی ...

د هغه په خبره یو راحت ساه مې له سینې وختل او پریدلې رنګ مې لږ ځای ته راغلو او د درغو یو ریشخندی مسکا مې وکړل نږدی وو د کار په همدی اول کې دوه لاس خپل ځان مفته،مفته په ګیر ورکړم، ساتونکی یو کوچنی ورقه زما لاس ته راکړل او ویې ویل: څلورم منزل چپ اړخ ته د ښاغلي غضنفر صیب دفتر دی ښه وخت ولری.

د هغه له لاسه مې هغه کوچني ورقه واخیسته او د ژبي لاندی مې کرار تاسو هم ښه وخت ولری وویل او روان شوم. په لړزانه قدمونو شرکت ته ننوتلم لکه

لیونیانو پشان مې شاوخوا کتل د څو شیبو لپاره مې هرڅه لیاده ووتل نه پوهېدم څه وکړم؟ خپل په دی بې فکر مې پر ځان لعنت وویل او خپل لاسونه مې کلک سره موټ کړل ترڅو خپل تمرکز بیرته لاس ته راوړم او ښه وو د څو شیبو وروسته مې عقل سر ته راغلو د لیفټ خواته روان شوم ترڅو څلورم منزل ته لاړشم ..

خو نیم لاره کې پښیمانه شوم او د ځان سره مې وویل د لیفټ لځایه که په زینو لاړشم نو بهتره به وی؟ په دی توګه یو څه اضافه وخت لاس ته راوړم ترڅو وکولای شم یو څه خپل ذهن ارام کړم او همچنان خپل هغه منحوس تذکره هم وګورم چې هغه کې زما مطلب د برهان د پلار نوم څه دی؟ او د څو کالو دی؟ په دی فکر د زینو خواته مې قدمونه چټک کړل ...

همدا چې لومړۍ منزل ته ورسېدم نو خپل جیب ته مې لاس کړو او تذکزه مې راوویسته،نوم برهان د پلار نوم حبیب الله عمر 26، شغل آزاد،دین،اسلام،قوم

پشتون، تخلص یې هم لیکلی وو برهان خاکسار ..عجب تخلص یی راکړی وو خاکسار ... تر څو چې څلورم منزل ته رسیدلم دا اطلاعات مې د ځان سره دومره مرور کړل ترڅو حفظ مې شول کله چې څلورم منزل ته ورسیدم نو د دهلیز اخر اړخ کې په یو میز مې نظر ولګید چې یو ځوان هلک یې شاته ناست وو، او یو کمپیوټر یې ومخ ته کیخودل شوی وه ..

د هغه هلک څنګ ته یو ښکلې دروازه وه چې د دروازی په سر په ښکلی خط لیکل شوی وه"د الحاج غضنفر احمدزی دفتر" مطلب دا هلک د دی احمدزی نومي کس د دفتر منشی دی؟ په کرار ګامونو د هغه خواته نږدی شوم، همدا چې د میز څنګ ته یې ودریدم نو د هغه فکر زما خواته شو او خپل د موبایل څخه یې سر راپورته کړو او ویې ویل: مهربانی کوم امر خدمت؟ هغه کوچنی ورقه کوم چې د شرکت ساتونکی راکړی وه، د دی ځوان هلک خواته مې ونیول او ومې ویل: د ښاغلې غضنفر احمدزی صیب سره مې کار درلود.

زما په خبره هغه په زير نظر راوکتل او بغير د څه ويلو يې زما له لاسه ورقه واخيسته، د ميز له شا څخه پاسېد او خپل څنګ ته کوم دروازه چې ورباندی د "الحاج غضنفر احمدزی" نوم ليکلې وو، وټکول او ننوت ما ډېر کوښښ وکړو ترڅو د کوټې دننه لړ وګورم خو خبيث دروازه دومره خلاصه کړه چې خپل ننوتلې شو او دومره ژر يې هم د ځان پسي بند کړل چې ماته د کتلو فرصت لا ونشو، خيرن څوک وا نعوذبالله د کعبي دروازه وه چې داسې ژر،ژر يې د ځان پسي بنده کړل ...

اصلاً ښه مې ورڅخه رانغلل نه د ده څخه او نه هم د هغه احمدزی نومي کس څخه ... همدا چې خپل د نوم مخکي لکه نادیده کسانو پشان الحـــــاج ليکلې وو معلوميدی چې څومره مغرور او خودپسند انسان دی داسي پيسه دار خلک زياتر وخت خپل د پيسو ښودلو لپاره خپل د نوم سره الحاج ليکي، نه د خدای د رضا لپاره که ده مثلاً د خدای لپاره حج کړی وايې نو

ضرورت نه وو خپل د دفتر په دروازی په دومره غټ الفاظو وليکي الحاج ... دا ټول هسې د ځان ښودلو ډرامه وه ...

په همدی فکرونو کې وم او ښه مې خپل په ذهن کې هغه ته کنځل کول چې بلاخره دروازه بيا هغومره لږه خلاصه شوه او هلک راووت بغير له دی چې ما ته وګوری د ننوتلو يې وويل ما هم بسم الله کړل او کوټي ته ننوتلم همدا چې کوټې ته ننوتلم نو لومړۍ نظر مې چې ولګيد هغه د کوټې په مخامخ فضا باندی وو ..

يعنې د کوټي نيم برخه په شيشو پوښل شوه وه او ټول ښار د همدی ځای څخه ښکاريدو بيحد ښکلې منظره وه داسې چې د څو شيبو لپاره په کتلو کې غرق شوم او بلاخره د يو چا د ستونی تازه کولو په غږ په خود راغلم د کوټې راسته خواته يو ښکلې ميز او څو څوکۍ کيخودل شوی وه چې د ميز شاته د 50/55 کالو په عمر يو سړی ناست وو، يعنې د هغه د حال په

توصیف کې دومره ویلې شم چې څومره چې دا
شرکت او دا کوټه ښکلې وه هغومره دا کس بدرنګ وو
...

یو تک تور، خریلې ږیره،ګنجې سر، یو غټ خیټه او د
هغه ټولو څخه بد دا چې خپل په دی قواری او شکلک
باندی د کالو لځایه دریشي اچولې وه چې بیخي نو نور
الا نور یې ځان شرمولې وو، لومړۍ مې فکر وکړو
شاید دا هغه احمدزی نومي کس نه وی؟! خو کله چې د
میز په سر مې د ده بدرنګ انسان و مخ ته هغه نوم په
یو ښکلې چار چوکاټ کې لیکلې ولید نو باوری شوم
چې همدا خپله دی ...

بغیر له دی چی خپل د میزی څخه پاځیږی د سترګو په
اشاره یې ما ته د کښیناستلو وویل او همغه حال کې د
ژبي لاندي ځان سره بنګ،بنګ وکړو چې زه پوه نشوم
چې څه یې وویل؟ خو ژر د څوکۍ خواته لاړم او
ورباندی کښیناستلم ترڅو فکر ونکړي د ده دا شرکت او
پیسو پر ما کوم تاثیر کړي د کښیناستلو سره سم هغه

په خاموش نظر راوکتل او ما هم وروکتل نه پوهیدم څه ووایم؟ اصلاً نه پوهیدم دا کس دوست دی که دښمن؟ مطلب د پولیسانو او جنرال د کسانو لخوا دې؟ یا د هغه لعنتي ماموریت د کسانو څخه دی؟

د څو شیبو چوپتیا وروسته هغه په تروش تندی وویل: نوم دی برهان دې کنه؟

په ګنګس انداز می سر وخوځاوه چې د هغه تندی لا تروش شو، زما خواته راکتلو حال کې خپل د میز له سر همغه کوچني ورقه راوخیستل په کوم کې چې ساتونکی زما نوم لیکلی وو هغه یې په یو مردار،خوا ګرځونکي انداز باندی امضا کړل چې زما د لومړۍ ټولګي د ملګرو د چټل نویس خط لا ورڅخه ښکلې وو یعنې دومره خراب خط ... همغه امضاء حال کې په دروند نظر زما خواته راکتل کله چې خپل چټل نویس امضاء یې پای ته ورسول نو ورقه یې زما خواته ونیول او ویې ویل:

– اول خو زما لخوا په جنرال صیب سلام ووایه او بیا ورته ووایه چې ستاسو سر هر امر او حکم زموږ په سر سترګو قبول دی خو، لږ ورته وایه زموږ خیال هم ساته زه نشم کولاي هر هفته یو نفر هغه شرکت ته واستوم شاید راباندی شک وکړی او که خبر شول زه ستاسو سره همکاری کوم په قران که مې ژوندي پریږدی ...

د هغه د خبرو په مطلب پوه نشوم، خو دومره پوه شوم چې دا کس هم جنرال ته کار کوی! د هغه له لاسه مې ورقه واخیسته چې په تروش تندی وویل: سر له سبا راشه ترڅو هغه شرکت ته دې معرفی کړم نور تللې شې ..

خپل د خبری د خلاصیدو سره سم په تروش تندی خپل د جیب څخه پاکت سیګرت یې راوباسل او داسې حال کې چې د ژبي لاندي یو چا ته کنځل کول سګریټ وهل یې پیل کړل، غوښتل مې د هغه شرکت او جنرال په اړه پوښتنه ورڅخه وکړم چې دی څنګه جنرال پیژنی؟

او ايا دی ماموريت کې زمونږ همکار دی؟ خو هغه د هيڅ کار اجازه رانکړل او په بد اخلاقۍ د دروازی خوا ته اشاره وکړل او ويې ويل: ځه نو څه ماته ګوری؟ اوس لپاره ورک کيږه زما له مخي، سبا سهار په همدی وخت راشه ...

حتا زه يې پرينخودلم چې د هغه په داسې بې ادبانه لهجي حيرت وکړم او تقريبا خپل د دفتر څخه يی وشړلم؟! د هغه دی کار ته هک حيران شوم نه پوهيدم اخر ولې زما سره داسي چلند وکړو؟ ده مګر جنرال نه پيژندو؟ نو بيا ولې زما سره بد چلند وکړو؟ مونږ دواړه مثلاً همکار راتلو کنه؟ که همکاراً مې داسې بيشخصيت وی نو خدای دی د هغه ماموريت والا د کسانو خير راپيش کړی هغوی به نو څه نمونه کسان وی؟ څو شيبی لکه ليونيانو پشان د شرکت شاوخوا وګرځيدم خو کله چی کوم څه مې لاس ته رانغلل نو هغه آدرس ته کوم چې جنرال راکړی وو او ويلې وه تر يو کال دا ستا کور دی؟!

د هغه آدرس پخوا راون شوم یو ساعت وروسته کله چې هلته ورسیدم نو خپل په شانس مې لعنت وویل دا منطقه ما څه ناڅه پیژندل یعنې د ټول پکتیا غریب ترینه، معتاد ترینه، خراب ترینه، او خلاصه بدبخت ترینه منطقه همدا وه!؟ یعنې زه باید د یو کال لپاره دلته ژوند وکړم؟ دوه سترګي مې په هغه خراب کور ګنډلې وه کوم چې مثلا اوس زما کور وو ... دومره قدیمي دروازه یې درلود چې د ډیر زوړوالي څخه یې رنګ اوختی وو، یعنی نور کسان چی ماموریت ته ځې لنکروزر ورکوی، د رئیسانو پشان دریشې او موټر ورکوی خو ما بدبخته ته یې یو خراب بایسکل لا رانکړو ...

بایسکل دی پر بلا شې حدقل یو سم کور خو به یې راکړی وایې؟ دا نو اوس کور شو؟ په قران یو لغته ورکړم دیوالونه یې راچپه کیږی، بیا ته بل ریشخند ته وګوره ما د همدی هدیری کیلۍ لا نه درلود؟! تقریبا یو لس دقي د ماتم زده خلکو پشان ولاړ وم او نه پوهیدم

چې څه وکړم؟ چی ناساپه د کور دروازه په بیحد یو خراب غژ،غژ غږ باندی خلاصه شوه او د نن سهار لیدلې هغه بوډا سړی کوم چی جنرال ویلی وه دا ستا پلار دې راووت، په تروش تندی زما خواته وکتل او ویې ویل:
څه استخاره کوی دا نیم ساعت چې دلته ولاړ یې؟
راننوځه دروازه هم ځان پسی بند کړه.

هغه دا خبره وکړل او ننوت څو شیبې په حیرت خپل ځای کې ودریدم خو بلاخره کور ته ننوتلم د کور دننه د دباندی څخه لا زیات خراب وه، دوه خرابي کوټی، یو کوچني اشپزخانه او یو تشناب چې د کور اخری برخه کې وه، یعنې داسې نقشه فکر نکوم کوم انجنیر اچولی وی؟! د کور څخه لا ریشخند په هغه کې موجود شیان وه فکر کوم دا د کوم سوالګر کور وو چی اوس زموږ په نصیب شوی وو؟ یعنی دومره خراب ... یو خیرن نالۍ په کوټه کې هواره وه او دوه بالښتونه چې د ډېر زوړوالي څخه یې پخته راوتلې وه ...

بوډا بغیر د څه ویلو لاړ او په کوټه کې موجود په همغه یو نالې کښیناست او یو زوړ کمپل یې هم پر ځان راکش کړو خو زه لا هم همغسې هک حیران ولاړ وم چې هغه راوکتل او ویې ویل: راځه کښینه داسې شاوخوا ګوري ته وا زړه دې غوښتل په کوم پنج ستاره هوټل کې درته کوټه درکړې؟

د هغه په دې خبره بغیر د څه ویلو کوټې ته ننوتلم بل نالې کوټه کې نه وه مجبور په هغه زوړ خیرن فرش چې د ډیر زوړوالي څخه یې تارونه خپرېدلې وه کښیناستم زما د کښیناستلو سره سم هغه وویل: پاڅه یو څه پخه کړه د وږې له لاس مړ شوم.

د هغه په داسې امرانه لهجه مې تندی تروش شو خو بیا هم بغیر د څه ویلو پاسېدم پوهېدم چې دا کس کوم عام کس نه دی! یو حس مې ویل که جنرال دا معرفي کړې او داسې ماموریت کې برخه ورکړې مطلب دا کس ضرور کوم نظامي کس دی؟ بلخصوص کله چې

امرونه یې کول نو مطلب د رښتیا هم یو مرګ و درد رتبه لرې چې داسې مغرور دی، هغه کوچنۍ خراب آشپزخاني ته ننوتلم یو کړایۍ او دوه هګۍ مې پیدا کړل د آشپزخاني کونج کې په دیوال باندي یو پلاستیک ځوړند وو هغه مې چې راوخیست نو پکي رومیان او پیاز وه ...

خندا مې راغله یا الله دا نو څه حال دی؟ دا نو څنګه ماموریت دی؟ داسې حال کې چې لګیا وم کړایي کې مې غوړی اچول د هغه بوډا غږ مې واورید چې ویل یې ما ته تازه شني چای دم کړه!

زړه مې ویل دا کړایي راوخله او په دې سر یې وواهه چې باره دا فرمایشونه یې بند شي، خو په زوره مې ځان کنټرول کړو او د یو استغفرالله پر ویلو د هغه خیرن بوشکي څخه مې یخ شوی غوړی راوباسل، دومره کلک موښتې وه چې سم په جنګ مې ورځخه یو قاشق رابیل کړل داسې حال کې چې غوړی ګرمیدل

لګیا شوم پیاز او رمیان مې میده کړل دوه پیاز، دوه رومیان د هګۍ پخولو حال کې یو خیزن چایجوشه مې واخیسته او د حویلي د بمبي څخه مې د اوبو ډکه کړل خلاصه چې نیم ساعت کې مې هګۍ او چای دم کړل خو اخری دقیقه کې مې فکر شو چې ډوډۍ نشته؟ په دی فکر اه مې له سیني ووت چې د کوټې څخه بیا د هغه بوډا غړ پورته شو.

— دا اوس د غواښي غوښه پخوي که څنګه؟ خو ژر کاوه د لوږی له لاس مړ شوم.

خدای دی د رښتیا مړ که، دا خبره مې د ژبي لاندی وکړل او بیا مې غږ پورته کړو او ومې ویل: هګۍ مې پخي کړی خو ډوډۍ نشته؟

د دی څخه مخکې چې ورته ووایم غوارم لاړشم او د نانوایي څخه ډوډۍ راوړم د هغه غږ مې واورید: راځه ما وخت وچ ډوډۍ اخیستي وه تاته ولاړ وم.

د هغه په دې خبره لږ حیران شوم د قواري څخه داسې نه ښکاریدل چې دومره مهربان اوسیږي او ماته انتظار وکړي ترڅو یوځاي ډوډۍ وخورو؟ خو څه مې ونه ویل هګۍ،ترموز او دوه پیالي مې راوخیسته او کوټي ته ننوتلم هغه خپل کمپل لږ د ځان څخه لری کړو او ما تازه د کوټې په کونج کې په یو کوچني بخاری نظر ولګید، بوډا د هغه د څنګ یو کوچني سرخان راوخیست او خپل ومخ ته یې هوار کړو درې ګرمۍ د ننوایې ډوډۍ په سرخان کې پیچل شوی وه.

د ډوډۍ خوړلو حال کې بوډا هګۍ ته بیخی لاس لا ونه واهه؟ او یوازی د ترخو چای سره یې ګرم ډوډۍ خوړل د هغه په دی کار لږ حیران شوم فکر مې کاوه شاید زما د پخ شوی هګۍ څخه یې بد راغلې؟ خو هغه د چاي څښلو حال کې کرار وویل: زه شکر لرم غوړ شیان نشم خوړلې.

د هغه په دې خبره مې لومړۍ حیرت وکړو خو څو شیبې وروسته مې زړه وربانديې وسوځید غوښتل مې ورته ووایم که غواړې نو کوم بل شي به ورته راوړم؟ خو د هغه د خندا په غږ خوله مې بنده شوه: داسې په افسوس مه راته ګوره د رښتیا شکر نلرم هسې په دی ماموریت کې ستا د پلار په صفت شکر لرم؟!

هغه خپل په خبره ښه وخندل خو ما ورته په تروش تندی وویل: یعني د رښتیا دا ماموریت دومره اړین دی چې تاسو حاضر یاست د هغه لپاره تر دی حد لاړ شې؟ او هو اوس خو څوک نشته نو کولای شې بوړۍ وخوری؟

زما په خبرو بوړا څو شیبي په زیر راوکتل د هغه وروسته خپل پیاله چاي په هغه زوړ شلېدلې،شلېدلې فرش کیخودل او ویې ویل: که مهم نه وایې نو موږ به دومره احتیاط نه وایې کړی؟ او هوو هیڅکله داسې فکر مکوه چې دلته څوک نشته او ته تنها یې نو د

ماموریت خلاف کار کولای شي؟ نه هېڅکله د غلطي څخه لا داسې کار ونکړې حتا خوب حالت کې لا ځان د ماموریت په حال کې اماده باش ونیسي مورې دا ماموریت په بیحد ستونزو تر دی ځای رسولې د یو هګۍ خوړلو په سر یې نشو خراب کولای، ته دی هم بوږې ژر وخوره چې ډېر خبره درته لرم.

د هغه په دی خبره پوه شوم چې بلاخره یو نفر شته چې زما د پوښتنو ځواب راکړی په دی فکر په تلوار می دوه ګولي بوږۍ وخوړل او سرخان مې ټول کړو زما په داسې تلوار هغه په دروند نظر راوکتل خو څه یې ونه ویل، ښکته شو او په کوم نالې چې ناست وو د هغه د لاندی څخه یې یو څو کاغذونه راوویستل تقریبا څه نا څه د یو پروندی پشان وه زما د کنجکاو نظر خواته یې راوکتل او خبرو کولو ته یې شروع ورکړل.

– مورې نن ته اصل مرکز د ماموریت ته نه وی استولې .. نن چې ته کوم ځای ته تللې وی هغه څه ناځه زمورې

همکاران په حساب راځې ..
د هغه په دی خبره بی اختیاره مې د هغه احمدزی بد اخلاقي ذهن ته راغلل او ومې ویل: ټول همکاران مو داسی دی؟
زما په خبره هغه سر خلاص نشو او په ګنګس انداز یې وپوښتل: څنګه دی؟
- داسي بد اخلاق؟ هغه نن زما سره ډېر بد چلند وکړو ..

ورته لګیا شوم او د احمدزی یوه،یوه خبره مې سم په تفسیر ورته بیان کړل زما د خبرو خلاصیدو وروسته د هغه تندی تروش شو او ویې ویل: رښتیا یې ویلې چې هر شئ به سم شي خو خراب ذات هیڅکله نه سم کیږی، ډېر د هغه خبرو ته فکر مکوه هغه شاید په نوم زموږ همکار اوسیږی خو اصل کې مجبور دی ...
- څنګه مجبور دی؟

بوډا څو شیبی راوکتل د هغه وروسته یې وویل: که څه هم هر خبره پر تا اره نلرې خو ځکه چی اوس دی

ماموریت ته راغلې یې نو درته وایم، هغه یو حرام خور انسان دی موږ زرها وار په غیر قانوني کارونو کی ګیر کړی خو ځکه چې متاسفانه پیسي لری نو په زر رقم بهانو ځان د زندان څخه راباسې، اخیری ځل مو چی په داسی یو غلط کار راګیر کړو نو د دی لځایه چی زنداني یې کړو یو معامله مو ورسره وکړل، د احمدزی شرکت د هغه کسانو سره چې موږ په تعقیب کې یوو، یو ډول ورشه، درشه او همکاری لری ..

- مطلب احمدزی هم د هغه ماموریت برخه ده؟ خو تاسو خو ویل دا زموږ همکار دی؟ هغه جنرال پیژندو، حتا سلام یې لا ورته راوستو؟!

– نه دا خبیث دومره نه دی چې د ماموریت برخه اوسیږی، احمدزی د هغه کسانو سره تجاراتي ورشه،درشه لرې نور کوم خلاف کار کې همکاری نلرې، نو ځکه موږ وسوسه ورکړل او ورته ومو ویل که زموږ سره همکاری وکړی نو یو خو به د ده ټول پخواني جرمونه پاک کړو او له بلخوا هغه نفران چې موږ

وریسې یو، یو بېول د ده تجارتی رقیبان په حساب راځې که موږ هغوی ونیسو نو ټول تجارت یوازی احمدزی ته پاتي کیږی، نو ځکه اوس خپل د حرص او طمعې څخه زموږ سره همکاری کوی ..

د هغه په خبرو فکر ته لاړم خو ناساپه می وویل: یعنې که زموږ ماموریت ښه پای ته ورسیږی تاسو د ربښتیا احمدزی خوشې کوی؟ او ټول تجارت هغه ته ورکوی؟ خو تاسو ویل چې احمدزی هم څه ناڅه مجرم دی؟ نو څنګه داسې مرسته ورسره کوی؟ یوازی د یو همکاری په خاطر؟
زما په خبره هغه په شیطنت وخندل او ویې ویل: هیڅکله دا ګمان مکوه چې موږ د مجرمانو سره دوستی کوو .. اوس هم دا خبری خوشې کړه او ماته غوږ شه ..

د هغه په خبرو که څه هم ذهن مې لږ ګډوډ شو خو کوښښ می وکړو ټول فکر د هغه په لاس کې هغه

ورقو او عکسونو خواته ورکړم،هغه د پروندی لومړۍ ورقه چې په غټ ټکو ورباندی یو نوم لیکل شوی وو زما خواته ونیو او ویې ویل: دا نوم چې ګوری زموږ ټول کار د همدی بلې سره دی.

د هغه په خبره په زیر نظر مې د هغه نوم خواته وکتل چې په سور خط په ډیر لوی ټکو لیکل شوی وو " الفا" د هغه په غږ نظر مې د هغه عجیب نوم څخه واخیست.

– شاید دا نوم درته عجیب او تر ډېر حد بی معنا ښکاره شئ، خو زموږ ماموریت همدا ډله ده "الفا" لومړۍ به درته خپل همدا د"الفا" نوم تشریح کړم، ساینس وایي چې لیوان خپل د ځان او نسل ساتلو لپاره یو رهبر یا هم مشر ټاکي چې دی مشر ته "الفا" ویل کیږی دا مشر په ټول لیوانو کی چالاک،زیرک،باهوش، او بیحد ځواکمن دی یعنې داسی مشر تاکي چې د هر ارخ د هغوي د ډلې ساتنه وکړی

الفبا تل یوازې ځان ستونزې لرې کوي او لاره خپل بېلې یا ګروه ته خلاصوي او دا الفا هم څه ناڅه همداسې دې؟!

په خلاصه خوله مې ورته کتل که ووایم د یو خبرې په معنا یې هم سر مې خلاص نشو نو دروغ به نه وي،اخر زموږ ماموریت د لیوانو سره څه کار درلود؟ زما د ګنګس نظر په لیدو بوډا یو بې حوصله ساه واخیسته او ویې ویل: لکه چې پوه نشوې؟ راځه یو بل ډول درته تشریح درکړم، ګوره زموږ ولایت مطلب پکتیا کې کلونه کېدل چې مختلف ډلې شتون درلود چې غیر قانوني کارونه لکه د مواد مخدر قاچاق، قتل، انسان تښتونه، غلا او زر نور ډول مردار کارونه یې کول خو تقریبا شپږ کال مخکې یو عجیب کار وشو ...

البته لومړۍ کې موږ ته کوم خاص موضوع ښکاره نشول خو کرار،کرار خبره غټېه شول،شپږ کال مخکې یو بل نوی ډله او ګروه جوړه شوه موږ لومړۍ دا ګروه هم

د هغه نور ډلو پشان وګڼل خو ډېر ژر مو نظر بدل شو دا ډله د نور ډلو پشان نه وه ... مطلب کار یې د موادو لیږد، رالیږد، قتل یا غلا نه وه دا ډلي د پکتیا ټول غیر قانوني ډلې او کسان لمینځه وړل؟!

د هغه په خبره په حیرت می وروکتل څه مطلب غیر قانوني ډلې او کسان یې لمینځه وړل؟ مطلب ښه کسان وه او بد کسان یې لمینځه وړل؟ که داسې وی نو دوی ولې غواړی هغوی لمینځه ویسي؟ دا ډله خو د دوي په ګټه کار کوی او یو ډول د پولیسانو مرسته کوی؟ لکه چې زما له سترګو زما په پوښتني پوه شو چې ویې ویل: د ښه کار لپاره یې لمینځه نه وړل، نه هم زموږ سره یې کوم مرسته کول، هغه ډلې غوښتل د پکتیا ټول غیر قانوني ډلې او کسان پخپل لاس کې ونیسې ..هغه یو مافیایې کړی غوښتل جوړه کړې ..

بی اختیاره می له خولې ووتل: مافیا ..؟!

– هو، مافيا کله چې ټول ډلې هغه خپل پر نوم او خپل تر رهبری لاندی کړل نو هدف يې اول کلونو کې يوازی د مواد مخدر برخه وه، موږ فکر کاوه شايد په همدی قناعت وکړی نو ځکه ډېر کار مو نه ورسره درلود، خو کله چې هغه شپږ کلونو کې د پکتيا ټول مهم ډلی د ځان سره ملګری کړل او خپل ځانته يې يو خاص او نا اشنا نوم د "الفا" ورکړو نو موږ لږ جدی ونيول خو دومره نه، خو کله چې و مو ليدل د هغه د حکم بغير په ټول پکتيا کی د چا پلار يوه خاشه مواد نشې ورلی، راوړلې او ټول مواد د هغه د لاس لاندی دی نو لږ اوضاع جدی شول خو بيا هم موږ خوشحاله وو، ځکه هغه يوازی د موادو برخه نيولی وه ...

مطلب قتل او نور جنايتونه يې نکول کار يی د تارياک،هيرون،شيشه او دې شيانو سره وه موږ ورپسې وو خو دومره جدی توګه نه، ځکه دوی مواد مخدر په افغانستان کې دننه نه ويشل، بلکي په قاچاقی توګه يې ايران، پاکستان او نور مملکتونو ته اړول او له هغه

خوا یې نغد پیسې راوړل او مزې کول، خو کله چې یو،یونیم کال مخکې پاکستان ته د ارولو شوی موادو د خرڅولو وروسته هغوی د دې لځایه چې د تل پشان نغدی پیسې د ځان سره راوړي دا ځل ډک موټر وسلې راوړل ... نو هغه وخت خبره خرابه شوه...

سترګي مې د حیرت راووتل او هغه خپل خبرو ته دوام ورکړو: موږ ډېر وګرځیدلو ترڅو پیدا کړو هغه دا وسلې د چا؟ یا د څه لپاره راغوښتلې دی؟ خو هیڅ شئ مو لاس ته رانغلل، تر دی چې د ده د وسلو راوړلو په دویم هفته په *** منطقه کې یو ډېر وحشایانه چاودنه او برید وشو، چې وروسته د داعش ډلی هغه برید په غاړه واخیست او جالب خبره دا وه چې هغه برید کې استعمال شوی وسلې او تجهیزات همغه وه کوم چې د "الفا" ډلی راوړی وه ...

- یعنې هغه وسلې داعشو ته ورکړی وه؟
— ورکړی نه، باید ووایې خرڅ کړې وه، هغه نوی

تجارت شروع کړی وو د وسلو خرڅولو.. او فرق یې نه ورته درلود چی دا وسلي داعش اخلې؟ القاعده اخلې؟ غل یې اخلي یا قاتل یې اخلې؟ هغه ته مهم پیسه وه داسې ښکاریدل لکه چې د موادو لځایه په دې کار کې ګټه ډېره وه ځکه په یو کال کې دوه موټر وسلې د مختلفو هیوادونو څخه په قاچاق توګه افغانستان ته راوړل.

- نو تاسو ولې د هغوی مخه نه نیول؟

— فکر کوی موږ بیغم ناست وو؟ یا دا دومره معلومات مو د ځان جوړ کړی؟ همدا چې موږ ته خبر راورسید چې داسې کار هغه کړې او وسلې هیواد ته داخل کړی نو موږ خپل ماهر،کاربلد جاسوسان او نظامي خلک په مختلفو نومونو او طریقو د هغه په ډله کې ننویستل حتا یو ځل خو مو ځان ورته د وسلو اخیستونکي مشتری معرفی کړو چې په هغه عملیات کې مو د ده د ډلی درې مهم غړی او څو نور کسان ونیول، خو زموږ

کار هېڅ ګټه ونه رسول برعکس لکه چې زموږ کار هغه نور هم و هڅو تر څو خپل کار ته لا په ښه جوش او خروش دوام ورکړی ...

څو عکسونه یې زما خواته ونیول او ویې ویل: دا عکسونه چې ګوری دا هغه درې کسان دي چې موږ په هغه عملیات کې نیولي وه.
- اوس هم ستاسو سره دی؟
— نه، متاسفانه ...
په حیرت مې وویل: مطلب آزاد شول ..؟
— نه ..
د هغه په "نه" نور مې هم حیرت ډېر شو او ومې ویل: وتښتیدل ..؟
— نه، نه ازاد شول او نه هم وتښتیدل ...

د هغه په ځوابونو ګنګس شوم، څه مطلب نه ازاد شول او نه وتښتیدل؟
- نو ... نو څه شول؟

– ووژل شول ...
دا ځل نو رسماً مې سترګي د کاسي راووتل او تقریباً په بند،بند لهجه مې وویل: ت... تاسو ووژل؟
هغه په یو دروند نظر راوکتل او ویې ویل: ستا په نظر موږ لیونیان یوو؟ دا کسان زموږ لپاره طلایي شانس وو ترڅو "الفا" راګیر کړو خو بدبختانه چې هغوي په زندان کې د نامعلوم کسانو لخوا په دویم ورځ د بندي کیدلو ووژل شول ...

د هغه په دی خبره نری لرزه مې پر بدن خپره شول،یعنې هغوی دومره توان درلود چې د دولت د نظر لاندی، د سلګونو پولیسانو په شتون کې هغه کسان ووژني؟ د هغوي په وژل کیدو مې دومره حیرت ونکړو، فلمونو کې مې لیدلې وه چې ځینې مافیاي ډلې خپل کسان خپله وژني ترڅو د دوي په اړه کوم معلومات پولیسانو ته ورنکړي، البته یوازی په فلمونو کې مې لیدلې وه او که رښتیا ووایم نو لکه د سپي پشان پښیمانه وم له دې چې دا ماموریت مې منلې وو،

هغوي کوم عادی ډله نه وه، هغوی یو مافیـــا وه هغه هم کوم عادی مافیا نـــه ... د بوډا په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم ...

– احمدزي چې سبا تا کوم شرکت ته استوې هغه شرکت اصل کې د سلطان عزیزی شرکت دی ... ما ته سم غوږ شه هلک! دا سلطان عزیزی اصل کې د "الفا" د پیسو او موادو لیږد رالیږد خزانه ده، یعنې مواد څنګه باید واستول شي؟ او پیسي څنګه واخیستل شي؟ ټول کار همدا کس کوی، دا کس په ظاهره د موټر خرڅ کولو شرکت لری چې ټول د مواد لیږد رالیږد یې هم د همدي موټرنو له لارې کیږی،هغه د موټرانو دننه په بیحد مهارت باندی موادځاې پر ځای کوی، موږ ستا څخه مخکې تقریباً لس نفر خپل تکړه ترینه ماموراً هلته استولي خو متاسفانه هغوی تر اوسه نه دی توانیدلې چې د سلطان عزیزی نظر جلب کړی او د هغه ډلې ته ننوځې ...

دا کس بیحد شکاک،تژز او زیرک دی، هر کس،ناکس خپل بڼلې ته نه داخلوی دوي ځانته خاص اصول لرې چې د هغه پر بنسټ کسان انتخابوي او خپل د مافیا کړۍ ته یې داخلوی دا چې تر اوسه موږ نه یو توانیدلې چې دا بڼله لمینځه ویسو یو دلیل یې همدا دې، نور بڼلې دومره د کسانو په اړه تحقیق نکوی خو دوی د دی څخه مخکې چې یو نفر خپل بڼله کې اضافه کړی د هغه کس ټول شجرنامه ګوری ..

اوس پوه شوم چې جنرال ولې زما نوم بدل کړو او ولې زه دلته راوستلوم؟! خو که د دوي لسګونو تکړه جاسوسانو د هغه کس نظر نه دی جلب کړی نو زه یې څنګه جلب کړم؟ همدا پوښتنه مې د هغه بوډا څخه وکړل البته فکر کوم د بوډا نوم ورته توهین دی ځکه دا د رښتیا نظامي کس ښکاریده.

– ولای که رښتیا ووایم نو زه هم تاته چندان امید نلرم،بده دی نه درباندی لږیږی خو زه فکر کوم ته یو

څه ډېر ډارن،بې زړه او ساده يې .... خو جنرال صيب ستا په اړه بيحد جدی دی او هغه وايې چې ته ضرور د هغه کس نظر جلب کولای شې؟ نه پوهېږم هغه په تا کې څه ليدلې چې موږ يې نشو ليدلې؟؟ په هر حال سبا معلومېږی چې د جنرال صيب نظر تر کوم حد صحيح دی؟

چوپ شوم نه پوهيدلم چې څه ووايم؟ کله چې دی ماموريت ته مې "هو" کړل نو يو سلنه مې لا ذهن ته دا خبره نه وه راغلې چې د مافيا او داسې کسانو سره دی مخ شم، که رښتيا ووايم نو بيخې مې فکر نکو چې افغانستان دی مافيا ولری؟! ما فکر کاوه مافيا يوازی په خارجي سريالونو او فلمونو کې شتون لری نه په افغانستان کې؟! تر اوسه مې دا خبره د "الفا مافيا" نه وه هضم کړې او باور می نه راتلو چې دلته افغانستان کې بيا بلخصوص پکتيا کېدی داسی کوم ډله شتون ولری؟!

— څه ته داسې فکرمند شوی؟
- ها؟ هغه(نه پوهیدم چې خپل د ذهن خبرې ویل هغه ته سم کار دی او کنه؟ خو دومره مې ذهن ګډوډ وو چې مجبور وم یو چا ته ووایم ترڅو زړه مې لږ سپک شي نو ځکه ومې ویل: د خبرو کولو مخکې بخښنه غوارم، خو زما تر اوسه باور نه راځي چې افغانستان او بلخصوص پکتیا کې‌دی داسې مافیا ډله شتون ولرې؟ اصلاً زما په نظر دا کار امکان نلری ...
— څنګه پوه نشوم؟ ولې امکان نلری؟
- یعنی .. اومم څنګه ووایم؟ یعنې .. مافیا خو مفت خبره نه ده؟! او بل ما د مافیا نوم څه دروغ ووایم یوازی په فلمونو او سریالونو کې اوریدلې او فکر نکوم چې افغانستان کیدې داسې خطرناک مافیا شتون ولری؟

هغه څو شیبې چوپ شو، داسې ناساپه خاموش شو چې ما فکر وکړو چې شاید زما خبری ورباندی بد لګیدلې وی؟ نو ځکه خوله مې جوړه کړل ترڅو بخښنه

ورځخه وغوارم خو د هغه په خبره خوله مې بنده شول.

– زه نه پوهېږم اخر جنرال صیب په څه امید ته دی ماموریت ته راوړی یې؟ او په کوم دلیل دومره تاته امید لری؟ او پر تا ډاډمن دی؟ واقعاً غوارم پوه شم اخر په څه دلیل ته باید داسې یو مهم ماموریت لپاره انتخاب شې؟! ته چې تر اوسه د مافیا د نوم په مطلب نه پوهیږې؟ ته چې تر اوسه فکر کوی مافیا یوازې فلمونو او ډرامو کې شتون لری؟ ته څنګه اخر کولای شې زموږ سره مرسته وکړې هومم؟

د هغه د خبرو په ځواب کې زه یوازې چوپ پاتی شوم فکر مې کاوه ډېر غلطه خبره مې کړې چې هغه داسې عصبی شوی؟ زما په چوپ کیدو هغه نور هم عصبی شو او د یو غوسه ناک معلم پشان چې خپل د تنبل شاګرد څخه درس پوښتنه کوی ویې پوښتل: اصلاً ته ماتع د مافیا لفظ معنا کړه، مافیا څه معنا لری؟ ها؟

د هغه په داسی غوسه ناک لهجه زه نور هم خپل په کړی خبری شرمنده شوم چې بلاخره د څو شیبو وروسته هغه ژوره ساه واخیسته او ځان یی کنټرول کړو، لکه چې تازه پوه شو چې زه هم کوم ګناه نلرم، او زه بدبخت هم یو عادی کس یم چې په ناچاری مې پښه داسې یو خطرناک ماموریت ته خلاصه شوی، بوډا ستونې تازه کړو او داسې حال کې چی خپل ځانته یې پیاله چاي ږکول کرار په خبرو راغلو او ویې ویل:

– مافیا ...! په اصل کې داسې یو غټې سازمان یافته ډلې ته ویل کېږي چې د موادو قاچاق، د انسانانو د اعضاو قاچاق،زورواکي، رشوت،فساد،قتل او غلا کې ښکېله وي او د قانون څخه بهر خپل واک او نفوذ ساتي.دا ډله خپل فعالیتونه پټ ساتې او له زور، ډار او اړیکو کار اخلي چې له حکومت او پولیسو څخه ځان خلاص کړی، مافیا په څو ډوله ده لکه د مخدره توکو مافیا ..

اول- قاچاقبران، تولیدوونکي، او نړیوالې شبکې چې
پکې د بزګر نه تر صادراتو پورې یو تنظیم شوی
سیستم لري، دیته د مخدره توکو مافیا ویل کیږی.

دویم- ځمکني یا ملکیت مافیا، دا مافیا د غاصبین،
جعل کوونکي، او زورواکي کسان دی چې دولتي
ملکیتونه یا شخصي ځمکې غصبوي،جعلي سندونه
جوړوي، رشوت ورکوي، او خلک ګواښي ..

دریم- سوداګریز مافیا،دا مافیا وارداتي/صادراتي
انحصار کوونکي دی چې مارکېټونه او بازارونه
کنټرولوي، د کنټرول څخه مطلب د نرخونو لوړېدل یا
کمېدل تنظیموي لکه ناساپه د غوړي،تیل اوره، درمل یا
حتا طلا بیه ناساپه پورته کیدل یا ناساپه ښکته کیدل،
دا ټول د همدی مافیا کار دی.

څلورم- فاسدې شبکې په حکومت یا ادارو کې لکه
مثال په توګه د کانونو، ګمرکونو، تدارکاتو یا امنیتي
ترونونو پر سر غیرقانوني معاملې، لکه ساده دی پوه

کړم یو کان راووځې د دی لځایه چې په قانوني توګه هغه یو شرکت ته وسپارل شې ځینی مافیایې کړی هغه خپل په خوښه په یو مشخص او ټاکلې کس خرخوی او موږ دی ټول یاد شوی کسانو ته مافیا وایو، اوس پوه شې چې افغانستان کې مافیا شته او کنه؟

د هغه خبری داسې وه لکه یو معلم چې شاګرد ته درس زده کوی؟ او ما هم زده کړو، واقعاً باید دا خبره ومنم چې لومړی خو د هغه تشریح ډېره واضحه وه او دویم دا چې تراوسه مې دی خبرو ته په دی زاوی نه وکتلې ..کنه زه هم دومره بی خبره نه وم او پوهیدم چې داسې کارونه جریان لری خو ما دی کارونو ته د واسطه بازی نوم ورکو نه د مافیا؟! زما د چوپ نظر په لیدو هغه خپل د چای د پیالي څخه یو دوه غړپ وکړل او بیا داسې حال کې چې نری مسکا یې پر شونډو وه خپل د ځنګ څخه یې یو بالښت زما خواته راختا کړو او ویې ویل: په دی بالښت تکیه وواهه او که زړه دی

غوارې او بیکاره یې نو زه به درته یو څه نور معلومات هم درکړم؟ څنګه خوښه دی ده؟

که رښتیا ووایم دومره خو زړه مې نه غوښت، خو ځکه چې اوس دی ماموریت ته راغلی وم او هغه که په زور وه، که په رضا وه یا هر لقب چې ورکړم خو اوس زه د دی ماموریت یوه برخه وم نو باید خپل معلومات مې ډېر کړې وایې نو ځکه بالښت مې ورڅخه واخیست او سر مې د "هو" په انداز وخوځاوه چې هغه په خوند باندی په خبرو کولو لګیا شو لکه چې بیحد خوشحاله وو له دی چې یو نفر یې پیدا کړې تر څو خپل معلومات ورسره شریک کړې؟ او خبری وکړې؟ د رښتیا چې هم بوډاګان د خبرو ذخیره وی، البته د هغه خبری ما ته ډېر ګټوری وه ځکه زیاتر یې اطلاعات او معلومات وه نه بیځایه کیسې، نو ځکه په پوره توجه ورته غوږ شوم.

– ما تاته د پکتیا د مافیا په اړه وویل خو ستا باور ونشو، خو که درته د یو داسې کس په اړه ووایم چې د هغه ثبوت ته همدا اوس په یوه شیبه کې په ګوګل کې د هغه د نوم په لیکلو سره پیدا کولای شې نو ایا هغه وخت باور کوی چې افغانستان کې مافیا شتون لری؟

په ګنګس انداز مې وپوښتل: څوک؟
– رئیس خدای داد ...!
په همغه ګنګس انداز مې وپوښتل: دا نو څوک دی؟
زما په خبره هغه په کټ،کټ پخندا شو او ویې ویل: وای .. باور مې نه کېږی یعنې ته د رښتیا رئیس خدای داد نه پیژني؟

کله چې زما چوپ نظر یې ولید نو ډاډمن شو چې د رښتیا هم زه په دی نوم کوم څوک نه پیژنم؟ نو په هیجان باندی خپل پر ځای نیغ کښیناست او ویې ویل: رئیس خدای داد چې مشهوره د مافیا په پلار وو، د کابل ټول ښار د هغه د کنټرول لاندی وو، یعنې ځنګه

چې "الفا" دا څو کالو کې د پکتیا ټول غیر قانوني ډلې خپل د لاس لاندی نیولې همغسې رئیس خدای داد ټول کابل خپل تر ولکې لاندی کړې وو، انسان تښتونه، د ځمکو غیر قانوني غضب، زورواکی، د موادو قاچاق دا ټول کارونه یې کول ..

خخو د ټولو څخه جالب د هغه زورواکې وه؟! هغه په عام خلکو دومره زورواکې نه کول،هغه د دولت په خلکو زورواکې کول، که څه هم ښه نه ده چې ووایم خو د هغه ځېنې کارونه زما خوښیدل، مطلب څه ناڅه با انصاف کارونه یې کول د عام خلکو لځایه زیاتر کش،مکش یې په دولت کې د مفسد کسانو سره وو د هغه کسانو سره چې د دولت په نوم یې فساد کاوه، په هر حال بیحد بیرحم انسان وو په 2012 کال کې د یو خاص عملیات په جریان کې ونیول شو او زندان ته واچول شو...

د هغه په بندی کیدو ټولو فکر کاوه خبره خلاصه شوه او رئیس خدای داد بندی شو او نور څوک نشته چې فساد وکړی، خو خبره هغه وخت خطرناک او جالب شوه چې رئیس خدای داد زندان کې ناست په ټول کابل باندی حکومت کاوه، هسې خو ورته د مافیا پلار نه ویلو ... هغه زندان کې داسې وخت تیر کاوه ته وا لکه چې زندان ته د میلمستیا لپاره راغلې وی؟! هغه په زندان کې کرار ناست وو او خپل کارونه یې مخ ته وړل، کله چې دولت پوه شو چې هغه په بندی کولو نشې کنټرول کولاې نو د هغه د مرګ پلان یې جوړ کړو.

او بلاخره اشرف غنې د هغه د مرګ حکم صادر کړو او د درې کال زندان وروسته په یو داسی ورځ چې هېڅوک نه وه خبره چې څه روان دی؟ د رئیس خدای داد ژوند ته د پای ټکې کیخودل شو او اعدام شو ...

ما د هغه خبرو ته په خلاصه خوله کتل، فکر مې کاوه د کوم جنایي فلم کیسه اورم؟! باور مې نه راتلو چې

داسې کس دی د رښتیا په افغانستان کې تېر شوی وی؟ زما د څهری په لیدو هغه پخندا شو او ویې ویل: ته چې څومره عمر لرې هلک د هغه دوه چند زه په دی جنايي بخش کې تجربه لرم،یعنې کم او زیات 50 کال تجربه کاری لرم،دا مثال د رئیس خدای داد چې ما تاته درکړو دا ډېر ناچیز مثال وو، ما په زرګونه داسې جرمونه پخپل سترګو لیدلې او شاهد پکې تېر شوی یم چې شاید تا په فلمونو کې لا نه وی لیدلې؟

پوهیږې یو جمله ده نه پوهیږم کوم فلسیوف ویلې یا کوم روانشناس؟ خو هر چا چې ویلې ما وربااندی ایمان راوړی، وايي: د انسان ذهن ته چې هر ډول خیال او فکر راشې هغه په اصل نړۍ کی شته؟! ځکه زموږ ذهن هغه شئ نشې خلق کولای او تصور کولای کوم شئ چې بیخی موجود نه وی ... دا جمله څومره چې فلسیوفانه ده هغومره ډارونکې ده ... فکر وکړه زموږ ذهن څومره شیان تصور کولای شې؟ او موږ فکر کو دا هسې خیال او دروغ دی ... خو اصل کې هغه ټول

شیان امکان لری او موجود دی ... ته د مافیا په خبره
کې تراوسه ګنګس یې او باور دې نه کیږی چې
افغانستان کې مافیا شته؟

که زه درته یو بل خبره وکړم شاید بیخې ماته لیوني
ووایې؟ خو ومې ویل کنه هر خبره چې د انسانانو فکر
ته راشی هغه خبره د ربښتیا ژوند کې پیښه شوی
ده،ځکه زموږ مغز هغه دروغ نشې ویلې کوم چې
بیخې شتون نلری ...

– سریالي وژنو لفظ دی کله اوریدلې؟ پوهیږی دا څه
معنا لری؟
سر مې د "نه" په انداز وخوځاوه چې هغه خپل خبرو
ته دوام ورکړو: دی ډول وژنو کې ځینې کسان چې
عصبي، رواني مرض لری بغیر د کوم خاص دلیل څخه
د جامعي یو خاص قشر په نظر کې نیسې او وژني، دا
ډول قتلونه که ربښتیا ووایم تر څو وخته مخکې ما هم
فکر کاوه چی یوازی په خارج کې کیږی او هغوی داسې

لیونیان دی؟ خو کله چی خپل د داسې یو دوسي سره مخ شوم نو باور مې نه کیدو، د دیرش کالو په عمر یو سړی بغیر د هېڅ کوم خاص خصومت څخه د 8/9 کالو کوچني هلکان رانیول او وژل یې ..

څکه چې دا قتلونه په یو ولایت کې نه کیدل او هر میاشت د متفاوت ولایتونو څخه داسې جسدونه موږ پیدا کول نو ګمان مو وکړو چی دا هسې تصادف دی او شاید مختلف کسات داسې وژني کوی؟ خو کله چی څلور جنازی مو د یو،یو میاشت په موده کې په یو بڼول وژني پیدا کړل نو پوهه شو چې ضرور یو شئ دی مینځ کې غلط دی؟ هغه هره یوه میاشت کې یو ماشوم هلک یا جنۍ راګیر کول او په حساب باندی څلور ورځي د ځان سره ساتل، په دی څلور ورځو کې هغه هر بڼول کار د دی ماشومانو سره ککاوه که هغه جنسي تیری وی،بدني شکنجه وب خلاصه هر بڼول کار چې دی ذهن ته راشي هغه کارونه یې ورسره کول او

اخر کې هغه ماشومان وژل، هغه هم کوم عادی وژنه نه ...

هغه دا ماشومان د میخونو په واسطه مړه کول یعنی غټ،غټ فولادی میخونه یی د دی ماشومانو په سرونو کې ټکول او په دی ډول یې دا ماشومان وژل، کله چې راګیر مو کړو نو تازه پوه شو چې دا سړی پدوفیلیا لری؟! شاید دا نوم لا ته نه وې اوریدلې کنه؟ دا یو ډول رواني جنسې مریضي ده، چې هغه کې مقابل کس د 12 کالو څخه کم عمر ماشومانو سره علاقه پیدا کیږی او داسې مردار کارونه کوی دا راوني هم همداسې مرض درلود او ماشومان یې ځکه وژل ځکه چې د ده په زړه باندی کارونه نکول ...

زه چی تاته ګورم نو فکر کوم بیخی په ژمنی خوب ویده یې؟! کنه هر هوښیار انسان چې اوس وخت انترنت او فسبوک لری خبر دی چې نړۍ کې څه روان دی؟ همدا څو وخته مخکې د لوګر یو ښونځي راګیر کړو کوم کې چې 136 ماشومانو باندی جنسي تېر

شوی وو. هغه هم د ښونکو له طرف، پوهیږی په یو سروې کې چې په 2017 کال کې وشول دا ثابت شول چې په افغانستان کې 91% سلنه ماشومان خپل په ژوند کې یو ځل ضرور د داسې حالت سره پیښ شوی، یعنې ضرور کوم خبیث یو ځل دا ټول ماشومانو ته په بد نظر کتلی او لاس یې وهلی شاید ځینو یی تر تیری تللی وی خو ځینو یی شانس راوړی وی او ژغورل شوی وی

خو د افسوس خبره ده چې 91% سلنه زموږ ماشومان په دی جامعه کې په امن کې نه دی او د شرم خبره پوهیږی چیرته ده؟ شرم خبره دا ده چې ټول سینه ټکوی او ځانته مسلمانان وایی یعنې په یو اسلامي هیواد کې دا کارونه تر دی حد مخ ته تللې، تر دی حد چې ته خپل کوچني ماشوم یوازی دوکان ته نشې استولې چې هسې نه دوکاندار کوم رزیل کس ونه اوسیږی او ماشوم ته زیان ونه رسوی د دوکاندار څخه البته ګیله نشته کله چې زموږ ښوونکي داسې وکړی

کوم چې مثال د خبری زموږ معنوی پلار په حساب راځې ...

بوډا "اه" کړل او ویې ویل: نور زما خوله مه خلاصوه چې مجبور کیږم داسې پیښې درته بیان کړم چې په خوب کې به دی للا نه وی لیدلې داسې پیښي چې په میاشتو،میاشتو کولای چې خوب دی د سترګو څخه وتښتوی،دا نړۍ ډېر خرابه شوی دومره چې چغالان د انسانانو په شکل کې ژوند کوی او په تمه دی چې کوم کس یوازی راګیر کړی او ویې ډارۍ، بهتره ده چې لاړ شې او ویده شې سبا سهار ډیر مهم کارونه لرو دا خبري مې ځکه درته وکړل ترڅو لومړۍ خو ته پوهه شې چې مافیا او د هغه څخه لابتر ډلې په دی پاکه خاوره کی ساه اخلې، او بل د دی لپاره دا خبری مې وکړل ترڅو ته درک کړې چې ستا کار څومره مهم دی او که دا ډله لمینځه لاړ شې نو څومره بې ګناه خلک به وژغورل شی..

ما ته مهم نه ده چې ته ځنګه دی ماموریت ته راغلې یې؟ خو د نن څخه وروسته دا ماموریت ته د یو جهاد په نظر وګوره؟ او شک مکوه چې ستا کار د جهاد څخه په کمه نه دی،جهاد کې مخامخ دښمن وژني خو دلته هغه دښمن وژني چې ستا سره په یو سرخان کښیني،ستا ډوډۍ خوری، او تا په خنجر وهې او تاته خیانت کوی دا منافق دی او اسلام کې بهترینه جهاد د منافقینو سره جهاد دی تر دی حد چې خدای ویلې که دا منافقان زما کور ته یعنې کعبي ته لا که دننه شول نو راوباسې او ویې وژني ...

نور نه هغه کوم څه وویل او نه هم ما نور د خبرو حوصله درلود، د دی دومره معلوماتو څخه چې په یو ځل مې مغز ته ننوتلې وه سر مې ګنګس شوی وو، غوښتل مې یو څو ساعت ویده شم ترڅو لږ فکر مې ارام شي پاسېدلم ترڅو هغه بل کوټې ته لاړشم او د پاسېدلو سره سم نظر مې په بوډا ولګید چې د بخاری خواته نږدی شو او کوم دوسیه یې چې ماته خودلې وه

هغه ټول ورقی دانه،دانه پری کړل او بخاری ته یې واچول د هغه په دی کار سم صحیح ډاډمن شوم چې دا ماموریت کوم ساده ماموریت نه دی ...

***

سبا سهار د قول مطابق په اته بجو د احمدزی شرکت ته حاضر شوم هغه هم په تروش تندی یو دوه ځایه زنګ وواهه او د هغه وروسته داسې حال کې چې لګیا وو کنځل یې کول زه یې د یو نفر سره په یو موټر کې د یو بل شرکت خواته واستولم، خو زه نن د پرون ورځې په پرتله خبر وم چې چیرته ځم؟ او غوارم څوک وګورم؟ سلطان عزیزی، زه نن د دی کس شرکت ته د کار لپاره تلم او د ټولو امید دا وو چې زه د همدی کس نظر جلب کړم ترڅو وکولای شم د "الفا" باند یا .. بلې ته ننوځم خو دا دومره اسانه خبره نه وه

ځکه زما څخه مخکې په لسګونو زیرک او هوښیار جاسوسانو د دی لاری څخه هلته د ننوتلو کوښښ کړی

وو خو تر اوسه په دی دوه کلونو کې یو نفر هم نه وه توانیدلې چې هلته ورسیږی نه پوهېدم چې ایا زه به کامیاب شم او کنه؟ له دی چې جنرال داسی یو خطرناک ماموریت لپاره زه ټاکلې وم حیران وم، ما خو ځان کې داسی کوم خاص شئ نه لیدو چې پر هغه دی وغوارم داسژ یو ماموریت سر ته ورسوم خو جنرال پر ما ډېر امیدونه ترلې وه، د یو ساعت مزل وروسته هغه شرکت ته ورسیدو.

د شرکت د لوی والې او عظمت په لیدو ما یو ځل بیا د ځان سره اقرار وکړو چې د زبیر خبره یو دم حق ده او زه په دې نړۍ کې ژوند نکوم، کنه څنګه امکان لری زه دی همدلته ژوند وکړم خو ما دی تر همدا اوس داسې ځایونه نه وې لیدلی؟ کوم نفر چې احمدزی زما سره راستولې وو هغه مخکې او زه ورپسې شوم او شرکت ته ننوتلو عجیب وه د دی ښاغلي عزیزی دفتر هم په څلورم منزل کی وو؟ نه پوهېږم دا څلورم منزل حساب

څه دی؟ چې زیاتر رئیسان غواړی دفتر یې همدی منزل کې اوسيږی؟ الله اعلم؟

د عزیزی د دفتر مخکې هم یو منشئ ناست وو البته په دی تفاوت چې بیحد مشکوک وو؟ یعنې داسې زموږ دواړو خواته راکتل ته وا راغلې یو غلا وکړو؟ البته ما خو غلا نکول جاسوسي مې کول؟! د دفتر منشئ او هغه هلک کوم چې احمدزي زما سره راستولې وو د عزیزی دفتر ته ننوتل او زه دهلیز کې په تمه پاتي شوم، شاوخوا مې وکتل د شرکت شاوخوا زیاتر په کمرو پوښل شوی وه یعنې هر کونج کې یوه کمره لګیدلی وه او دا کار سخت کاوه تر دی حد چې راحت مې شاوخوا لا نشو کتلې ..

د څو دقیقو وروسته دواړه راووتل منشي خپل د میز شاته بیرته لاړو او کوم کس چې احمدزی زما سره راستولې وو هغه زما خواته راغلو او ویې ویل: ښاغلې عزیزی د اوس لپاره یو مهم غونډه لرې یو نیم ساعت

صبر وکړه بیا دې خپل دفتر ته غواړی او د کار په اړه درته وایې.

د هغه په خبره مې سر د پوهیدو په انداز وخوځاوه او هغه روان شو ما هم شاوخوا وکتل د دهلیز راسته خواته یو دوه څوکۍ کیخودل شوی وه لاړم او هملته په انتظار کښیناستم، د عزیزی په اړه ډیر معلومات مې نه درلود پرون ماښام یو عکس او د ده د شرکت په اړه یو څه معلومات نظامي بوډا راکړی وه نور په څه نه وم خبر د هغه څخه بتر دا چې د راتلو وخت کې احمدزی ویلې وه چې عزیزی که درته هر کار یادو کړو نو ته به بغیر د کوم فکر کولو څخه وایې چې "هو"ما زده او "نه" به ورته نه وایې ... دا خبری یو څه وېرولم هسې نه داسی کار راڅخه وغواړی چې ما نه وی زده؟

په همدی فکرونو کې په استرس باندی می خپل پښه خوځولو چې د عزیزی د دفتر دروازه خلاصه شوه او درې،څلور نفر ورڅخه راووتل،د هغوی د وتلو سره سم

منشي هم له څوكي پاڅيد او كوټي ته ننوت، څو شيبې وروسته له كوټې راووت او پر ما يې غږ كړل ترڅو دننه لاړشم. كوښښ مې وكړو خپل اعتماد بنفس لاس ته راوړم او هلته د پرون پشان چې د احمدزی شرکت کې ګنګس وم ګنګس و نه اوسيږم، خو همدا چې دننه لاړم ټول کړی خبری مې لياده ووتل ...

د كوټې چپ اړخ ته د يو عظيم ميز شاته يو د عمر پوخ سړی ناست وو، د عمر له لحاظ شايد د احمدزی په عمر وو! خو چيرته احمدزی او چيرته دا ... عكسونو كې دومره وحشي نه معلوميدې .. خو اوس چې د نږدی مې ليدو نو بايد ووايم دا كس حق لری چې د داسې يو لوی مافيا راسته لاس اوسيږی، داسې راكتل چئ ما فكر كاوه زما د ستركو له لاری زما روح ويني او پوهيږی چې زه د څه لپاره راغلې يم؟ په سر يې ويښتيان نه وه او اخری ماشين يې وهلې وه شايد په زوره باندی د كوتي نيم بند اندازه راتلل خو دومره وه چې سر يې ورځخه تور ښکاره کوو.

که څه هم په څوکۍ ناست وو خو ښکاریدل چې قد یې د دوه مترو څخه ډیر دی، تور رنګ یخن داره کالې اچولې وه که څه هم عمر یې ډیر وو خو غښتلې او څهارشانه ښکاریدی او د ټولو څخه ډیر چې زه یی په وحشت کې اچولم پر مخ باندی د چپ وریځې څخه نیولې تر زنې پوری یو ژور داغ وو او ماته د چاقو نښه ښکاریدل؟ دا نښه په هغه عکس کې نه وه کوم چې پرون ماښام ما لیدلې وو، د مغزی یوه خوا ته یې د یو کبرا مار ټیټو وهل شوی وه چې د مار نور بدن د هغه د یخن لاندی پټ وو یوازی د مار دوه پړقیدونکې سترګې او ژبه چې د چیچلو په انداز یې راویستلې وه معلومیدل، خلاصه په یو جمله کې د رښتیا هم د مافیا غړی ښکاریدی ...!

یعنې که کوم چا معلومات هم نه وایې راکړی بیا هم ما کولای شول په لومړۍ نظر لیدلو باندی ووایم چې دا کس مجرم دی، قواره یی د مجرمانو پشان وه! لکه څنګه چې په یو فلم کې بغیر د چا د ویلو ته پوهیږی

هیرو څوک دی او غدار سوک؟ دا کس هم بغیر د ویلو معلومیدی ... د هغه د ستونی تازه کولو پر غږ په خود راغلم او عجیب وه څنګه چې ما هغه ته سر ترپایه کتل او د هغه قواره مې خپل ذهن کې ثبت کول هغه هم همداسې ماته راکتل!؟ البته چیرته زما نظر او چیرته د هغه نظر؟ د هغه نظر دومره دروند وو چې فکر مې کاوه پر ستون فقرات مې نرم خوله د وېرې له لاسه راغله ..

– کتل دی خلاص شول؟

د هغه په بیحد بدې او وحشیانه غږ لاس او پښه شوم خو په تلوار مې ځان راټول کړو او ومې ویل: وبخښې .. هو مهرباني ..
– زه ښه ده چې کتل دی خلاص شول، ځکه زه بیحد کار لرم او ستا د کتلو حوصله نلرم ..

د هغه په دی خبره خپل د خولې لاړې مې تېر کړل او غوښتل مې خوله خلاصه کړم او بیا بخښنه وغوارم،

خو د هغه په ناساپه پاڅیدلو خوله مې وګنډل شول، څنګه چې ګمان مې کړی وو همغسې وو، تقریبا دوه متر قد یې درلود داسی حال کې چې خپل د میز د شا څخه راوت او په کوټه کې موجود په تور چرمي کوچ کښیناست خپل مخامخ بل کوچ ته یې اشاره وکړل او ویې ویل: راځه کښینه، ترڅو ژر تر ژره کار دی درته ووایم.

په تلوار د هغه کوچ خواته لاړم او د کښیناستلو سره سم مې په رسمی لهجه وویل: مهربانۍ امر کوی ..
زما په خبره د هغه پر شونډو نرۍ خندا راغله،البته زیاتر د پوسخند پشان وه نه د خندا پشان!؟ او ویې ویل: اوس مطلب د خدای په امید ګنګس نه یې؟ او زما خبرې آوری؟

د هغه د داسي طعنه امیز لهجې څخه مې هېڅ ښه رانغلل ما خپل ټول عمر کې د طعنه ورکونکو او مغرور کسانو څخه بد راتلل او دا کس لکه چې هم طعنه

ورکول يې خوښيدل او هم بدبختانه بيحد مغرور ښکاريدو، نه پوهيږن ناساپه څه وشول خو ومې ويل: کله چې دلته ستاسو مخ ته ناست يم مطلب يو دم تيار يم ښاغلې، اوس هم ژر خپل خبرې وکړی ترڅو نه ستاسو وخت بيځايه ضايع شي او نه هم زما ...

د خبرې کولو وروسته پوه شوم چې ما د چا په مقابل کې داسې تنده او صريح لهجه کارولې؟ د مافيا د غټ ترينه کس په مقابل کې ... هغه څوک چې زما وژل ورته بې له شک د کوم ميږی د وژولو څخه لا آسانه کار دی، په بيحد سختي مې سر پورته کړو او د هغه خواته مې وکتل فکر مې کاوه همدا چې سر پورته کړم نو يو تومانچه به يې زما خواته نيولې وی او درب مړ به مې کړی، د هغه بوډا نظامي د خبرو څخه زه تر دی حد ويرېدلې وم د هغه "الفا" د ډلې څخه، خو کله چې نظر مې پورته کړو او د هغه خندانه څهره مې وليدل نو لومړی خو د بيغمې څخه يوه ژوره ساه مې له سينې ووتل خو وروسته حيران شوم، دا ولې خاندی؟

عزیزی- څومره قهرجن؟ د عمر څخه خو کوچني
ښکاری؟ ستا د عمر هلکان باید ډیر حوصله ولری
بلخصوص د مشرانو مخکې ...!
د هغه په خبره د خولې لاړی مې تېر کړل او کرار مې
وویل: تاسو پر حق یاست زه بخښنه غوارم.
عزیزی- اومم په هر حال ځکه چې تازه راغلې یې نو
کوم څه نه درته وایم، خو بل ځل تکرار نشې.
- په سترګو.
عزیزی- اهوم،څه کار کولای شې چې احمدزی زما
خواته راستولې یې؟

د احمدزی د نوم په اوریدو مې ژر مغزه فعال شول او
ومې ویل: هر کار .. هر کار چې تاسو ووایست هغه
کولای شم.
زما په خبره د هغه تندی لږ تروش شو البته غوسي
څخه نه! بلکې د فکر کولو پر انداز بیا یې څو ځله زما
خبره د شونډې لاندی د ځان سره تکرار کړل د هغه
وروسته کرار یې وویل: غوږ شه څه درته وایم هلک،

زما د خبرو کولو وخت کې خپل خوله به بنده نیسي زما څهرې ته مه ګوره چې مهربان ښکارم زه بیحد بې عصاب انسان یم او هېڅ مې نه خوښیږي د خبرو حال کې زما په خبره کې څوک ځان واچوي.

د هغه په خبره ژر،ژر مې سر د سمده په توګه وخوځاوه او زړه کې مې ځان سره وویل ستا د قوارې کوم ځای د مهربان کسانو پشان دی؟ چې ته وایې زما څهرې ته مګوره اصل کې زه ډیر بې عصاب انسان یم؟ ته د څهرې بد انسان ښکارې هسې ځانته دلدارې مه ورکوه، لګیا وم زړه کې مې ځان سره خبرې کول چې هغه وویل.

عزیزي- ستا سره که حساب کړم نو دا یوولسم نفر دی چې احمدزي زما خواته د کار لپاره راستوې؟ او ټول هم یو تر بل بتر کسان راستوې، یو هم د کار کس نه راستوی ټول مفت خوران دی، نو ځکه نن مې اراده وه چې لومړی خو تا په کار ونه نیسم او دویم هغه ته

زنګ وواهم او ورته ووایم چې صحیح ده چې مثال د خبری همکاران یو؟ خو دا په دی معنا نه ده چې ته ورځ کې شل نفر زما خواته راوستوی د کار لپاره، زه خپل ځانته پخپل کاریګران پیدا کولای شم هغه ته هیڅ ضرورت نلرم، خو ستا خبری خوند راکړو ..

لږ زما خواته راتیټ شو او پخندا یې وویل: دا چې و دې ویل هر کار چې درته ووایم کوې، ګوره زه بیحد مصروف کس یم او ډېر کارونه لرم نو نشم کولای خپل ټول کارونو ته ورسیږم زه د دی شرکت بغیر هم نور کارونه لرم خو دا شرکت بیحد راته مهم دی، څو وخته کیږی د شرکت په لیږد،رالیږد شعبه کې ما ته ګډوډی ښکاری ...
لومړۍ مې دومره توجه ورته ونکړل خو هغه ورځ تر بلې بی شرم کیږي ..

خپل لځایه پاسید د هغه په داسې ناساپه پورته کیدو زه لږ په وېره باندی شاته لاړم چې هغه د سترګو له

کونج راوکتل او پوسخند يې وواهه خو بغیر د څه ویلو خپل د میز خواته لاړ او یو دوسیه ورڅخه راوخیسته او زما خواته يې ونیول لاس مې اوږد کړو ترڅو دوسیه راوخلم چې هغه په غوسه وویل: یو نفر زما څخه غلا کوی .. البته ما ته د هغه غلا پیسي هېڅ مهم نه دی خو دا چې فکر کوی ما ته چل راکولای شې دا د زغملو وړ نه ده، مور نه دې زیږولې داسې څوک چې د عزیزی پیسي وخوری او هغه له شالخوا په خنجر ووهې ... اوس ستا کار دی منځ کې پوهیږې څه دی؟

دوسیه کې زیاتر حساب او کتاب وو او زه پوه شوم چې دا د همغه شعبي حساب،کتاب دی د عزیزی خبری دومره پر جذبي وه چې بې اختیاره موضوع ته مې فکر کول شروع کړل، یعنې دا کوم خر دی چې راغلی د د ده څخه غلا کوی؟ یعنې خبر نه دی چې عزیزی څوک دې؟ او څه کارونه کولای شې؟ ضرور نا خبره دی کنه عمر کې داسې بد نکول، د هغه خبری مې خپل ذهن کې

پورته ښکته کړل او حیرت مې وکړو هغه دا خبرې د څه لپاره ما ته وکړل؟ هسې نه چې ...؟
په حیرت مې وروکتل او ومې ویل: تاسو غواړې زه هغه غل راګیر کړم؟

زما په خبره د هغه سترګي وپړقیدل او داسې حال کې چې بیرته خپل پر ځای کښیناسته ویې ویل: افرین خوښ مې شوی، فکر مې نکوی دومره هوښیار اوسیږې، هو زه غواړم ته ماته هغه حرم*وني پیدا کړې البته ما ته د غل پیدا کول دومره ستونزمن خبره نه ده، زه هغه د یو ساعت څخه لا په کمه موده کې پیدا کولای شم خو زه غواړم ته هغه په حوصلې راګیر کړې، د نن څخه وروسته ته د لیږد،رالیږد د شعبې اجرایی مدیر یې البته تر یو میاشت .... تر څو وګورم ایا کولای شې هغه غل راګیر کړې او کنه؟ که تر یو میاشت دی پیدا کړو نو همدلته شرکت کې یو بهترینه کار درکوم کنه نه یوازی تا .. بلکې د احمدزي هغه لس نور راستول شوی کسان هم د شرکت څخه باسم ..

نو سم فکر دی راڅول کړه د شرکت څخه موټران او نور شیان څومره وځي؟ او پیسي څومره راځي؟ وخت ناوخت هغه شعبې ته لاړشه او خپل تحقیق وکړه په ټاکلي وخت مه ورځه ناخبره ورځه ترڅو هغه کسان چې ما ته د چل راکولو فکر لری ستا په هر ځل لیدو زاره وچوي، غوارم له دې چې زما څخه غلا کوی د سپي پشان وډار شي او وېرېږی، غوارم ستا په هر ځل لیدو هغوی یو کوچني ملاقات د عزرائیل سره وکړی ..

زما خواته لږ راټیټ شو او په هیجان زده لهجه یې وویل: داسې د نظر لاندی ونیسه لکه یو ښکاری چې خپل ښکار تر نظر لاندی نیسي،هغوی باید تر همدی حد وېره احساس کړي داسې چې ستا پر هر غږ نفسونه یې سینه کې قید شي او خپل د مرګ په انتظار کښیني، هرڅومره چې هغوی و وېروی او تر مرګ یې ورسوی هغومره ستا د کار څخه زه راضي کیږم ...

د هغه په خبرو ما خپل د خولې لاړې تېر کړل د هغه خبرې د کوم عادی انسان خبرې نه وه، دا خبرې یوازې یو رواني کس کولای شول، اوس پوه شوم چې د خبرو اول کې د صبر څخه مطلب څه وو؟ ده نه غوښتل غل په یو ټک کې ګیر یا مړ کړی؟ ده غوښتل هغه د نظر لاندی ونیسي او هره ورځ یې د وېرې له لاسه مړ کړی ...

عزیزی- هر خبره چې وشول یا هر شې چې دی پیدا کړل نو بغیر د وخت تیرولو مخامخ زما دفتر ته راشه او ما خبر کړه(بیا په فکرمند انداز باندی بیرته په کوچ باندی تکیه ووهل او ویې ویل: زما په نظر خبره یوازی د غلا او پیسو نه ده ... فکر کوم دې منځ کې هغوي نور کارونه هم کوی؟!

د هغه په دی خبره دا ځل خبره د وېرې څخه اوښتي وه احساس مې کاوه ساه نشم اخیستي، یعنې امکان لری شک یی کړی وی چی شرکت ته جاسوسان راغلې؟ د خبری اړولو لپاره مې ژر وویل: سمده، پوه شوم چې

باید څه کار وکړم.

عزیزی- موټر لری؟

- نه ښاغلې موټر نلرم.

عزیزی- کور دی چیرته دی؟

همغه کور چې جنرال راکړی وو د هغه ادرس می ورکړو د هغه منطقي د نوم په اوریدلو یې وریځې د حیرت پورته واچول لکه چې پوهیدی هغه منطقه ښنګه ځای دی؟ البته تعجب یی نه درلود ټول کسان پوهیدل چې هغه منطقه ښنګه نامی ده.

د عزیزی په ناساپه پوښتنه پر خود راغلم.

عزیزی- واده دی کړی؟

- ها .. نه .. هغه ... زه خپل د ... د پلار سره یوازی ژوند کوم ..

زما په دی خبره هغه څو شیبې نور هم په زیر نظر راوکتل او ویې ویل: اوممم نو داسې خو نه کیږی، هغه منطقه د شرکت څخه ډېر لری ده ترڅو چې ته ته ځې،

راځې دوي خپل کار کړی، سر له سبا د شرکت موټروان کور ته درپسې درځی او تا لځان سره شرکت ته راوړې ... البته یوازی راوړی دی، د دیخوا تګ به پخپل ځې، او هو د غرمې وخت کې شرکت کاریګرانو ته ډوډۍ ورکوی نو د ډوډۍ غم مکوه، یوازی پاتې کیږی خبره د معاش چې هغه پر تا سپارم، څکه ته اوس د یو میاشت لپاره په کار ګمارل شوی یې نو نه پوهېږم څومره معاش درکړم؟ کنه زما د نور کاریګرانو معاش معلوم دی، څومره معاش غواړی د دی یو میاشت لپاره؟

د هغه د خبرو لهجه یو ډول وه؟ که ووایم مهربانه او شوخ وه نو شاید عجیب ښکاره شې؟! خو ماته همداسې ښکاریدل.

- نه پوهیږم هر څومره معاش چې تاسو راکړی زما قبول دی زه کوم ستونزه نلرم.

هغه څو شېبې په زیر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: څکه چې کار دی څه ناڅه سخت دی نو دا

میاشت دوولس زر افغانۍ درکوم، خو کله چې هغه غل دی پیدا کړو او رسمي دنده دې زما سره شروع کړل نو نهه،لس زر شاید درکړم سمده؟

- هو، مننه.

— د مننې وړ نه ده حق د دی، ښه نو راځه ستا د کار ځای درته وښایم.

سر مې وخوځاوه او د هغه سره یوزای د دفتر څخه ووتلو، عزیزی مخکې او زه ورپسې وم د څلورم منزل څخه په لیفټ کې دویم منزل ته ولاړو او لکه چې زما د کار ځای د یو میاشت لپاره همدا وو؟ لومړۍ لس،پنځلس دقیقې په معرفي کولو کې تېر شول تقریبا شل کسانو هلته کار کاوه او ما باید همدا شل کسان د نظر لاندی نیولې وایي ترڅو پکې غل یا هم غله مې پیدا کړې وایې، د معرفي وروسته ما فکر کاوه عزیزی به نور خپل دفتر ته لاړ شي او زه به خپل کار شروع کړم ...

خو په بیحد حیرت کې هغه وړاندیز وکړو چې ټول شرکت ما ته وښایي؟! که څه هم وړاندیز یې یو څه بل ډول وو خو و مې منلو او ورسره یوځای د ټول شرکت دیدن مې وکړو، عزیزی بیحد خوش اخلاق انسان وو که څه هم د څهرې څخه وحشي معلومیدی او له بلخوا هغه بوډا زه دومره ورڅخه وېرولې وم چې فکر مې کاوه یو زنځېرې لیوني دی؟! خو نه هغه ډېر خوش اخلاق انسان وو، یعنې تقریباً یو ساعت زما سره په پوره حوصله تېر کړل او ماته یې د شرکت هر اړخ راوښود؟!

لومړۍ منزل چې د راتګ وخت کې ما صحیح نه وو لیدلې هلته یې ویوړلم او د ولاړ موټرانو هر یو نوم او قیمت یې راته وویل، بیحد قیمتي موټرونه وه، ما دا موټرونه څه دروغ ووایم یوازې فلمونو کې لیدلې وه؟! د یو موټر د وړاندی تېرېدلم چې نظر مې د موټر په ښیښه کې پر ځان ولګید او د خو شیبو لپاره حیران شوم خپل د څهرې په لیدو ... اه لعنت دی وی په دی

ماموریت، نه پوهیږم جنرال څه مرض درلود چې بوډا ته ویلې وه زه باید عزیزی دفتر ته د تلو مخکې خپل ږیره واخلم؟  لومړۍ خو ما د دې خبری څخه سخت مخالفت وکړو او نه مې منل خو کله چې ډېر یې وویل نو مجبور شوم خپل ږیره واخلم او اوس د یو 26/27 کلن سړی لځایه 16/17 کلن هلک ښکاریدم!

د رښتیا چی د خدای او د هغه د رسول "ص" په هر حکم کې لوی برکت او حکمت نغښتلې دی لومړۍ همدا ږیره ... ما په یوه ږیره اخیستلو خپل ټول هغه ابهت له لاسه ورکړو، بې ږیری زه څومره معصوم ښکاریدم؟ نه پوهیږم تر څومره وخت به هلته ولاړ وم او خپل بې ږیری مخ ته مې کتل چې د عزیزی پر غږ چې زما څنګ ته ولاړ وو پر خود راغلم.

عزیزی- اوممم ښه موټر دی، خو د کاری خلکو لپاره نه دی، زیاتر د هغه پیسه دار سړیانو د اولادونو لپاره دی چې غواړی خپل د پلار پیسې نور خلکو ته وښایی.

د هغه په خبره مې مخ وروګرځو او بیا مې د موټر خواته وکتل، او شکر مې وباسو چې هغه فکر کړې وو زه د موټر په تماشا یم؟! ژر مې ځان راټول کړی او ومې ویل: هو، حق ستاسو سره دی، ما یوازی ورته کتل د اخیستلو کوم نیت مې نه وو، البته که د اخیستلو نیت هم وکړم بیا هم داسې موټر نشم اخیستې.

زما په خبره هغه بیا په زیر نظر راوکتل، د هغه داسې کتل زه وېرولم بل ډول یې کتل نه پوهیږم څنګه یی بیان کړم خو د کتلو انداز یی بل ډول وو؟!
عزیزی- خو زه دا خبره نه منم.
په حیرت مې وویل: کوم خبر؟
عزیزی- دا چې و دی ویل که وغواړی بیا هم نشې اخیستې؟! زما په نظر انسان چې هر شې وغواړی هغه تر لاسه کولای شې یوازی باید کلکه اراده د هغه شئ د ترلاسه کولو لپاره ولری.

د هغه دا خبره یو ډول فلسیوفانه او تر ډېر برید د روانشناسو پشان وه هغوی تل داسی بیځایه خبری کوی او یو مشهور تکیه کلام هم خپل د دی خبری لپاره جوړ کړی" خواستن توانستن است" په هر حال ما دا خبره نه منل ځکه موږ ژوند کی د ډېر شیانو د ترلاسه کولو امید لرو او بیحد هم شاید د هغه شئ لپاره کار وکړو او زحمت وباسو خو هغه شې نشو ترلاسه کولای، ځکه اوس وخت هر شئ په پیسو دی که پیسي ولری نو هر شئ تر لاسه کولای شې هر شئ ...

زما په چوپ کیدو هغه وویل: دا یو ساعت وګرځیدو دومره مو خبری وکړل خو تا ماته خپل نوم ونه ویلو؟!

د هغه په دی خبره ما هم تازه دی خبری ته فکر شو نو ځکه په تلوار مې ځان راټول کړو او ومې ویل:
وبخښی،غلطي زما وه ما باید ځان معرفي کړی وایې زما نوم برهـان دی.

ما فکر کاوه چې شاید معرفي یوازی زما لخوا وی؟ خو ناساپه عزیزی خپل لاس رامخکې کړو داسې چې مجبور شوم لاس یې ونیسم او هغه په یو خاص لهجه وویل: ښکلې نوم لری .. زما نوم هم سلطان دی ...سلطان عزیزی ..

د هغه په دی کار ما یوازی د لیونیانو رقم سر وخوځاوه او غوښتل مې خپل لاس ورځخه لری کړم خو هغه بغیر له دی چې زما لاس خوشې کړی زما سترګو ته زیر وو، دا حالت شاید د څو ثانیو څخه ډېر دوام ونکړو خو همغه څو ثاني هم زما ساه یې سینه کې بنده کړه نظر یې بیحد درونډ وو ...

د غرمي ډوډی مې هملته شرکت کې وخوړل او د ماذدیګر، ماښام وخت وو چې د شرکت څخه د کور پخوا روان شوم، د کور پوری پیاده لاره بیحده ډېره وه نو مجبور شوم بس کې لاړشم البته بدبختانه بس زما تر کوره نه تلو خو بیا هم ښه وو د یو ساعت پیاده

مزل څخه یې بچ کړم، ډېر ژر کور ته ورسیدم، دروازه خلاصه وه،
نو ما هم ونه ټکول او همداسې کور ته ننوتلم خو لا دروازه مې خپل شاته د ځان پسي نه وه بنده کړی چې بوډا له کوره راووت،زما په لیدو په لاس باندې د نږدی و رتګ اشاره راته وکړل د هغه په دی کار لږ حیران شوم خو مخکې ولاړم تر څو وګورم څه خبره غواړی وکړی؟ خو همدا چې د هغه څنګه ته ورسېدلم هغه بغیر د څه ویلو خپل لاسونه پر ما راچاپیر کړل او کلک یې غیږ کې ونیولم ...؟!

د هغه دا کار دومره حیران کړم چې څو شیبې بې حرکت خپل ځای کې ودریدم،خو څو شیبی وروسته تازه پر خود راغلم او فکر مې شو چې بوډا زما کالیۍ او بدن تلاشی کوی؟! په دی کار یې نور هم حیران شوم او په تلوار ورڅخه لری شوم.
- څه شوی؟ دا څه کوی؟
زما په داسی ورخطا غږ هغه پخندا راوکتل او بیا

داسې حال کې چی کور ته ننوتلو ویې ویل: هیڅ، هسې د سهار څخه چې د کور وتلې وی نو تر اوسه مې نه وی لېدې زړه مې درپسې تنګ شوی وو.

د هغه د خبرو لهجه یو ډول طنز آمیزه وه! داسې چې زه یې غوسه کړم، په تلوار ورپسې کور ته ننوتلم او ومې ویل: دا نو څه ریشخندی ده ها؟

زما په غوسه ناک لهجه هغه د کوټې د دروازې سره ودرېد، د سترګو له کونج نیم نظر یې زما خواته را واچو او ویې ویل: په کراره، هسې شوخي مې درسره کول دومره هم راته ګران نه یې چې د دوه ساعت نه لیدلو له سبب زړه مې درپسې تنګ شې او غیرې کې دی ونیسم، اصل کې ما ته چک کولې ترڅو عزیزی یا دهغه سپیانو خو کوم کمره یا د خبرو اوریدلو وسیله ستا په کالو،مالو کې نه وی ځاې پر ځای کړې؟ ته ساده انسان یې په دی خبرو دی سر نه خلاصیږی ...

د هغه په دی خبره تازه د هغه د کار په دلیل پوه شوم او څه ناڅه مې غوسه کم شوه او خپل په داسې غوسه کیدو لږ شرمنده شوم چې هغه په تلوار وویل: ښه نو څنګه وه ورځ دی؟ عزیزی دی ولید؟ کار کې ونیولې؟ کوم بخش کې ونیولې؟ څه کار یې درکړو؟ ایا لږ معلومات دی راټول کړی شول؟ زموږ کسان دی ولیدل؟ هغوي څه کوی؟

هغه داسی په یو ساه پوښتنیکول شروع کړل چې مجبور ما هم په یو ساه ځواب ورکول پیل کړل،زما د هر خبری سره د هغه سترګي د حیرت څخه خلاصیدل کله چې خبری مې خلاصي شوی هغه په غوسه وویل: ما ته چل راکوی؟ واقعا فکر کوی دا خبری دی ښه شوخي ده؟ درته ویلې مې وه ماموریت په ټوکو مه نیسه ...

د هغه غوسي ته حیران شو او ومې ویل: ما هم په ټوکو نه دی نیولی، څه چی وو هغه مې درته وویل.

– دا یعنې څه؟ ته غواړې ووایې چې عزیزی ستا سره دوه،درې ساعت وخت تېز کړو او تاته یې شخصاً خپل شرکت وخود؟
- هو.

خلاصه چې تر یو ساعت ما چې هرڅومره ورته قرآنونه او قسمونه اخیستل هغه زما په خبری باور نه راتلو تر دی حد چې اخر لاړو او جنرال ته یې زنګ وواهه البته خپل په خاص مخابره نه تیلفون! جنرال لکه چې خپل د هغه نور کسانو له لاری څه ناڅه په موضوع خبر شوی وو چې زما بدبخت خبری تایید کړل او د بوډا څخه یې وغوښتل ترڅو زما ټول خبری هغه ته ووایې، خو بوډا چې تازه زما په خبرو باور راغلې وو په جنرال باندی مخابره بنده کړل او زما خواته یې په یو حیرت ناک نظر راکتل شروع کړل، ته وا کوم فضای موجود یې مخکې ولاړ دی؟

بوډا د څو شيبو عجيب غريب کتلو وروسته يو ځل بيا يې زه خپل د پوښتنو تر ضربي لاندی ونيولم او دا ځل يې زما څخه غوښتل چې د نن ورځي پيښې دانه،په دانه او لفظ پر لفظ بيان کړم ما هم ورته بيا له سر ټول خبرې وکړل او هغه هم زما د هر خبرې سره يوازی يوه خبره کول "دا څنګه امکان لری؟" خلاصه کله چې خبرې مې خلاص شول هغه په فکرمند انداز وويل: دا څنګه امکان لری؟ موږ خپل لس دانې کاربلده او ماهر کسان هلته واستول خو عزيزی د هغوی د يو نفر سره لا دومره وخت نه وو تېر کړی او دومره خبری نه وه کړی څومره چې نن ستا سره وکړل؟ دا څنګه امکان لری؟

د هغه دې لفظ ته مې نور غوسه راغلې وه چې هر دقه يې ويل "دا نو څنګه امکان لری؟"
- زه هم نه پوهيږم خو اوس خو وشو که اجازه مو وې نو زه ځم تشناب ته؟

په دی خبره بغیر د څه ویلو له کوټې ووتم اه بوډا عصاب یی راوخوړل خپل په خبرو، د تشناب څخه چی راووتلم نو د تشناب د دروازی خوله کې می بوډا ولاړ ولید، د هغه په داسې ناساپه لیدو په ورخطای شاته ولاړم چې هغه په خوشحالۍ وویل: موږ باید خبری وکړو باید د عزیزی د دی کار دلیل پیدا کړو ...

خلاصه چې بوډا ټوله شپه زما عصاب راوخوړل او دومره عزیزی،عزیزی وویل چې نور د دی نوم په اوریدو مې لا خوا ګرځیدل دشپي لس بجۍ وه چې بالاخره زما بدبخت څخه یې لاس واخیست او خپل خبری په دی ډول پای ته ورسول ...

– سر له سبا نه یوازی ته بلکې موږ ټول کسان ګرځو ترڅو هغه غل پیدا کړو، د غل پیدا کول نه یوازی ستا او زموږ د نور کسانو دنده هلته قوی کوی،بلکې د عزیزی اعتماد هم پر تا ډېروی او د هغه د اعتماد ډېرول مطلب ستا لاره خلاصیدل د هغه د ډلې خواته، نو خپل

ټول هوش او فکر ولګوه موږ باید دا بیعقل کس یا کسان پیدا کړو چې جرئت یې کړی د عزیزی څخه غلا وکړی، او هو دا خبره هم لیاده ونباسې سبا چې کله شرکت ته ولاړی نو لومړی خو د عزیزی سره لیدنه وکړه، خو که هغه درسره لیدنه ونشول نو د هغه منشې ته ووایه چې ستا لپاره د عزیزی څخه یو څه بیسی واخلې ..

په حیرت مې وویل: پیسې؟ د څه لپاره؟

– زما لپاره.

- ستاسو لپاره؟ ولې؟

– اه ته څومره ساده یې نه پوهیږم په دی سر او شکلک دې عزیزی څنګه تا ته دومره مهم کار در کړی؟ ګوره ته به لاړشې او عزیزی ته به ځان داسی مظلوم او عاجز ونیسې سم خپل د دی څهری پشان او ورته به ووایې چې زما پلار د شکر مرضتیا لری او دا څو وخته کیږی چې د هغه دوا خلاصه شوی خو زه بیسې نلرم

چې دوا ورته واخلم نو که زما د معاش څخه یو څو روپۍ همدا اوس راکړې نو ډېر به مو مهربانی وی.

په ګنګس انداز مې د هغه خواته کتل نه پوهیدم د هغه د دی خبرو مطلب اخر څه دی؟ هغه داسې ځان نیولې وو ته وا د ربښتیا شکر لری او دوا ته ضرورت لری؟ زما ګنګس نظر چی هغه ولید نو په کراره یې وویل: ګوره کله چې ته ځان هغه ته غریب او ناچار معرفې کړې نو د هغه نظر نور هم ستا پخوا کیږی او اوس وخت ټولنه خو ته پیژنی؟ د بیچاره کسانو څخه هر ډول چی غواړې نو ګټه اخلې کله چې ته هغه ته ناچار په نظر راشې نو شاید ستا د دی مجبوریت څخه په ګټه اخیستلو هغه تا خپل غیر قانوني کار خواته دعوت کړی؟ یو تکیه کلام دی وایې: د وږی کس سترګي یوازی ډوډۍ ګوری!؟

تازه مې د هغه په خبرو سر خلاص شو او بې له شک باید ومنم چې دا بوډا یو ماهر، نظامي او مسکلي کس

دی، داسې پلان ولاکه د شیطان فکر ته لا راغلې وایی! رښتیا وایی اوس وخت هر کس غواړی د مقابل کس د مجبوریت څخه خپل په ګټه فایده پورته کړی لنډ مثال یې همدا جنرال چې زما د مجبوریت څخه خپل په ګټه یې فایده پورته کړه او زه یې دی منحوس ماموریت ته راوستولم، په دی فکر یوه خبره مې ذهن ته راغلل او بوډا ته مې وویل: امکان لری خپل د کورنۍ سره خبری وکړم؟ یوازی غواړم د هغوی د حال پوښتنه وکړم ډیر خبری نکوم.

زما په خواهشمنده لهجه بوډا څو شیبې په زیر نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: جنرال ویلې وه چې ته ښځه او یو ماشوم لری، نو هو اجازه شته، خو هفته کې یوه ورځ هغه هم د یو ساعت لپاره او نن ځکه چې خپل د ماموریت په لومړۍ ورځ کېدی بیحد ښه پرمختګ درلود نو دا اجازه درکوم، خو د دی وروسته هفته کې یوځل پوه شوی؟

د هغه په دی خبره بیحد خوشحال شوم او ژر مې سر د "سمده" په توګه وخوځاوه که څه هم هفته کې یو ځل یوازی د یو ساعت لپاره خبری کول لږ وه خو داسې یو خطرناک ماموریت کی دومره اجازه ورکول هم لوی نعمت وو،بوډا ولاړ شو هغه بل کوټې خواته ولاړ او څو شیبې وروسته راووت کله چې راغې نو یو ساده ګلکسې موبایل یې زما خواته ونیو او ویې ویل: دا موبایل خاص ستا لپاره دی ترڅو خپل د کورنۍ سره خبری وکړې، خو دومره ووایم چې سیمکارت دی د زموږ د نظر لاندی دی.

- مطلب تاسو آوری چې زه څه وایم؟ دا خو ..

غوښتل مې ووایم چې دا خو غیر قانوني کار دی او زما نه خوښیږی ما نه غوښتل د اقرا سره د خبرو کولو وخت کې زر نفر د هغی غږ واوری، بوډا لکه چې زما د خبری په مطلب پوه شو چې ژر یې وویل: نه مطلب می د نظر لاندی څخه دا نه دی چې موږ ستا او ستا د

کورنۍ خبری اورو نه، مطلب می دا وو چې مورې ستا د سیمکارت موقعیت او نمبر بدل کوو او په عربستان یی کیږدو ترڅو ستا کورنۍ شک ونکړی چی ته افغانستان کی یی.

د هغه په دی خبره تر یو حد می زړه بیغم شو خو نه پوهیږم بیا هم ولې فکر مې کاوه چی امکان لری زمونږ خبرو ته غوږ ونیسی؟ دا ماموریت دویته بیحد مهم وو او ډیر امکان یی درلود چې د احتیاط لپاره هم که کیږی نو داسې یو کار وکړی او زمونږ خبرو ته غوږ شې تر څو ډاډمن شې چې زه خو د ماموریت په اړه کوم چا ته څه نه وایم؟ په دی فکر په شکمن زړه مې د اقرا نمبر ته یو مسج ورکړو او ومې لیکل چې زه یم او وټساپ ته راشه ...

موبایل باندی مې خبری نشو کولای مجبور وم وټساب ته یې راوغواړم خو اقرا لکه چی مسج ونه لید؟ پنځه دقیقي په تمه شوم خو د پنځه دقیقی وروسته طاقت

مې ونشو او دا ځل مې یوازې دومره زنګ وواهه ترڅو د موبایل غږ واوری او مسج وګوری او همداسی هم وشول د څو دقیقو وروسته اقرا وټساپ کې انلاین شوه، تراوسه هیڅکله مو وټساپ کې یو د بل سره خبری نه وکړې، زموږ د کوژدی دوران د نور نامزدانو پشان نه وو چې 24 ساعت یو دبل سره خبری وکړو او مسجونه وکړو.

استاذ د داسې کارونو څخه بد راتلل نو ځکه ما هم تر واده پوری چې دوه میاشت وخت وو یو مسج لا اقرا ته ونکړو،خو اوس د څو کاله وروسته ما ورته مسج کاوه او عجیب وه فکر می کاوه کوم بد کار کوم؟ او له بلخوا یو عجیب احساس مې درلود ما هیڅکله اقرا ته مسج نه وو کړی زیاتر خبری مو په زنګ وه چټ مو نه کاوه.
همدا چې انلاینه شوه سلام مې واستو د هغه خوا یوازې یو لفظ راغلو طاها؟!

داسې د "طاها" لفظ په سواليه انداز ليکلې وو لکه چې پاېمنه نه وه چې د رښتيا هم زه يم؟ د هغې دی کار ته مې خندا راغله او ومې ليکل: زما نمبر ته نګورې د خارج نمبر دی؟ او هو ستا په شاوخوا کې زما څخه بغير په دا څو ورځو کې ايا کوم بل څوک هم خارج ته تللي؟

خپل په دروغو بيحد شرمنده وم خو مجبور وم اوس چی دا د دروغ ويلو سلسله مې شروع کړی وه مجبور وم چې تر پای ورسره لاړ شم.

اقرا ته مې د بل مسج کولو اجازه ورنکړل او ډاريک مې زنګ ورپسی وواهه ما دومره وخت نه درلود چې دری ساعت چټ وکړم که څه هم د اقرا سره چټ کول خاص خوند درلود خو ما بايد د هغې غږ اوريدلې وايی او د هغې له خولې مې اوريدلې وايی چی ښه ده؟

- سلام

زما د سلام په څواب کې د هغه خوا یوازی د اقرا د
پوزی کش کولو غږ راغې، چې مطلب ژړل یې؟ دهغې
په ژړا ناساپه ورخطا شوم او ومې ویل: څه شوی؟
ولې ژاړی؟ درد لری؟ کوم چا څه درته ویلې؟ ها اقرا؟
ځواب راکړه ولې څه نه وایې؟
ما د دی خوا څخه په یو نفس پوښتنې کول بغیر له دی
چی صبر وکړم چې هغه ځواب راکړی کله چې چوپ
شوم نو هغې یوازی یوه خبره وکړل.

اقرا- ولی داسې بیخبر لاړی؟

پوه شوم چې خفه ده او دا ژړا یې هم د خفګان له
سبب ده نه د کوم بل ستونزی څخه، په دی فکر لږ مې
هوسا ساه واخیست او ومې ویل: ما خو درته ویلې وه
کنه چې مجبور یم دی سفر ته، تخو پوهېږی چې په
افغانستان کې ما زر کاله وروسته هم نشوای کولای چې
تاته یوه ګورده پیدا کړم ...
اقرا په غوسه وویل: تاته چا ویلې وه چې زه ګورده

غوارې؟ ها؟ تا زما څخه یو ځل پوښتنه وکړل چې داسې کار دی وکړو؟
- د چا ویلو ته ضرورت نه وو، ته زما ښځه یې او دا زما مسئولیت دی چې ستا د صحت او روغتیا غم وخورم.

اقرا چوپه شوه چې ما بیا وویل: ته حق لرې چې غوسه اوسیږی، خو دا ټول د څو میاشتو خبره ده لخیره څو میاشتي وروسته راځم ته به هم تر هغه وخته ښه شوی اوسیږی لخیره، ما به هم خپل قرضونه ادا کړی وی او هیڅ ستونزه به نه وې انشاءالله ..

اقرا ته مې ویلی وه د هغې د ګوردی پیسې مې د یو چا څخه قرض کړی او د هغه قرض د ادا کولو لپاره مجبور یم چې عربستان ته لاړشم د کار لپاره، هو نو دروغ خو په پیسو نه دی.

اقرا- ته حتا د عملیات په ورځ لا رانغلې؟

د اقرا په دی خبرې مې نرۍ مسکا پر شونډو راغله هغې غوښتل زه یې ناز واخلم، د هغې دا لهجه د جنګ نه وه دا زیاتر د مرورتیا او ناز کولو لهجه وه، او زه په صحیح توګه پوهیدم چې اقرا د مرضتیا په وخت کې څومره حساسه کېږي او هر خبره څومره په زړه نیسې، نو ځکه مجبور شوم یو ساعت د کوم وخت څخه چی بوډا راکړی وو هغه یوازی د اقرا د مرورتیا د ختمولو لپاره ولګوم دومره مې ورته وعدی د یو ښه راتلونکې او ښه ژوند ورکړو چې بلاخره خوشحاله شوه او د محمد خبری شروع کړل، اقرا چې تل خوشحاله وایې نو د محمد د ورځنې حالت خبری کول ..

لومړی کې یو څه د محمد د خفګان او له دی چې ما یادوی او راپسې ژاړی وویل او د هغه وروسته د هغه د شوخي او شیطنت څخه لګیا شوه دومره د هغي په خبرو کی غرق وم چې هیڅ مې د بوډا شتون ته فکر نشو چې د دروازی مخکې ولاړ وو او ماته یې راکتل، کله چې فکر مې شو ورته نو هغه خپل لاسي ساعت

څو ځله په ګوتو وواهه او په دی بڼول یې زه پوه کړم
چې د خبرو وخت خلاص دی، سم د هغه زندانیانو
پشان چې میاشت او کال کې یو ځل خپل د کورنۍ
سره د خبرو کولو شانس لری همغسې احساس مې
درلود ..

په دی فکر "اه" مې له سيني ووتل او که ووایم زړه مې
نه کیدو موبایل بند کړم نو دروغ به نه یې، د اقرا غږ
داسې راباندی لګیدی لکه خوږ زخم ته د ملحم پشان،
هیڅ مې زړه نه غوښت موبایل بند کړم خو د مجبورۍ
څخه د هغې د خبری منځ کې وولیدم او ومې ویل: زه
باید نور لاړشم سبا وختي کار ته ځم او هو سبا خبری
نشم کولای نو ورخطا نشې.

اقرا په ورخطای وویل: ولې؟ ولې سبا خبری نشې
کولای؟
بوډا ته می بد،بد وکتل او یو بل دروغ مې اقرا ته
وویل: دا نمبر زما خپل نه دی، پوهیږی دلته عربستان

کې هر چاته دولت سیمکارت نه ورکوی دا د یو بل ملګری موبایل دی چې زما سره کوټه کې یوځای اوسیږی په دی موبایل تازه راغلې ټول کسان خپل د کورنۍ سره خبری کوی، نن ما ورڅخه په بیحد زاریۍ واخیست ترڅو تاته خبر درکړم چې په خیر رسیدلی یم، د نن څخه وروسته هفته کې یو ځل درسره خبری کولای شم هغه هم زه پخپل درته زنګ وهم.

اقرا- هفته کی یو ځل؟

- هو، ومې ویل کنه ډیر خبری نشم کولای، اوس هم هغه کس ولاړ دی خپل موبایل غواړی نو تر بیا لومړی خپل پر ځان او بیا پر محمد خیال ساته خدای پامان. د اقرا کرار د خدای پاماني غږ می واورید او زنګ مې بند کړو غوښتل مې پر بوډا یو دوه پټکي وکړم چې ولی دومره ژر راغلو؟ خو کله چې وټساپ کې مې د خبرو وخت ولید چې دوه ساعت او شل دقیقي وو، نو خپل خوله مې بنده کړل او په همغه چوپ خوله مې

موبایل د هغه لاس ته ورکړو، هغه هم بغیر د څه ویلو موبایل واخیست او په تروش تندی وویل: پاڅه ډوډۍ دی وخوره او ژر ویده شه سبا ډېر کار لرو.

سهار وختي د عزیزی د کړی خبری مطابق د کور دروازه وټکیدل او موټروان زما پسې راغلو ترڅو شرکت ته مې ورسوی، د تلو وخت کې بوډا بیا زما د غوږ لاندی یو ځل بیا خپل د پرون ماښام خبری تکرار کړل او کله چې ښه ډاډمن شو چې زما عصاب یې په کافي انداز خوړلې نو د تلو اجازه یې راکړل زه هم د دی لپاره چې ژر د هغه د خبرو له لاسه بیغم شم د کور ووتلم خو کله چې د کور مخکې په ولاړ موټر مې نظر ولګید سترګی می له حیرت خلاصي پاتی شویچ ...

دا همغه د پرون ورځي موټر وو کوم چې زه یې مخکې ولاړ وم او ځانته می کتل او عزیزی فکر کړی وو زما خوښ شوی؟ ایا امکان لری هغه زما د خوښیدلو له سبب دا موټر راستولې وی؟ خپل په دی فکر مې خندا

راغله .. عجب احمقانه فکر .. معلومداره ده چې داسې کوم خبره نشته عزيزي ولی باید داسی کار وکړی؟ ضرور دا موټر د اول هم د همدی موټروان سره وو؟ په همدی فکرونو باندی موټر ته پورته شوم،څه دروغ ووایم تر شرکت چې رسیدلو نو زړه کې مې جنرال ته کنځل کول ..

یعنې ما جنرال ته کار کاوه خو هغه ما ته یو خراب بایسکل لا رانکړو خو دا بدبخت عزیزی کوم چې زه راغلې وم تر څو تباه يې کړم ماته داسي قیمتی موټر راستوی؟! هې خدایه شانس هم نلرو کاش دا د جنرال لځایه وايې او جنرال د ده لځایه هغه وخت زه پوهیدم څه کار ورسره وکړم،په دی عجیب غریب فکرونو می خپل سر وخوځاوه. د نیم ساعت وروسته شرکت ته ورسیدو او همدا چې شرکت ته ننوتلم نو د بوډا د خبری مطابق لومړۍ لاړم خلورم منزل ته تر څو عزیزی وګورم او ورڅخه یو څو روپۍ وغواړم خپل د مثلا پلار د شکر مرضتیا لپاره؟!

خو عجیب وه عزیزی تر اوسه نه وو راغلې؟! مجبور منشئ ته مې د پیسو خبره وکړل او خپل د کار پخوا روان شوم بغیر د سلام کلام خپل د کار ځای ته ننوتلم تر څو په ناساپه تګ باندی هغه غل و وېروم همغسې چې عزیزی ویلې وه، اوس چې ماته یې داسی موټر زما د کور مخکې راستولې وو باید د زړه د خلاصه مې ورته کار کړې وایې که څه هم د یو لنډ مودی لپاره،خو بیا هم باید احسان مې ورته جبران کړی وایې کنه ګناه یې درلود داسې نمک حرامي،په دی فکر می خندا راغله او همغه خندا پر شونډو د کاریګرانو منځ کې په ګرځیدو شوم ...

زما په نظر خو هرڅه عادی او نرمال ښکاریدل یوازی ستونزه په هغه دوسیه کې وه کوم چې عزیزی راته لومړۍ ورځ ښودلې وه، هغه کې د شرکت څخه وتلې شیان ډېر خو پیسې کم وه؟! او عجیب لا دا وه چې هلته نه وه لیکل شوی چې هغه شیان چا د شرکت ویستلې؟ لومړۍ مې فکر وکړو چې غل شاید خپل د

همدي شعبې مدير وی؟ ځکه ټول حساب کتاب د همده په لاس کېدې او هېڅ شئ د مدير د اجازی بغير د شرکت نه وتلې او نه رانوتلې شې، خو کله چې د هغه څخه مې پوښتنه وکړل نو پوه شوم چې هغه تازه راغلې او مخکينې مدير څو مياشتي مخکې استعفا ورکړی او د شرکت څخه تللې.

او عجيب دا وه چې دا غلا د دی نوی مدير په راتلو نه وه شروع شوی بلکې د هغه پخواني مدير وخت کې شروع شوی وه نو مطلب دا مدير بې ګناه دی، که دا بې ګناه وی نو اخر غل به څوک وی؟ بوډا ويل موږ هم ستا سره مرسته کوو خو هغه تر اوسه ما ته هغه کسان لا نه وه رامعرفې کړی کوم چې مثال د خبری زما همکاران په حساب راتلل،عجيب وه ما هغه جاسوسان چې جنرال دی شرکت ته داخل کړی وه نه پيژندل؟ او نه پوهيدم چې ولې ماته نه وايې چی هغوی څوک دی؟ ايا دوي پر ما اعتماد نلری؟ که اعتماد يې نه درلود نو ولې زه دی ماموريت ته راوږلم؟

نیم ساعت لګیا وم اخوا دیخوا ګرځیدم خو هېڅ نښه مې پیدا نکړل او دا کار واقعاً نامید او غوسه کړم ما باید ژر تر ژره دا ماموریت پای ته رسولې وایې ما نه غوښتل دلته و اوسیږم، پرون ماښام د اقرا د غږ اوریدلو وروسته د دی لځایه چې زرہ مې ارام شې بې کرار شوم، زرہ مې غوښتل کاش د هغوي سره وایې او د محمد هغه شیطنت مې خپل په سترګو لیدلې وایې، نه دا چې دلته اوسیږم او د غلو پسې وګرځم ترڅو د مافیا مشر د غلو په پیدا کولو خوشحاله کړم او د هغه د رضایت له لاری د هغه مرادر ګروپ ته ننوځم ما خپل کورنۍ غوښتل نه دا عصاب خراب کوونکي ماموریت، په دی فکرونو سوړ اسویلې مې له سیني ووت چې یو نفر راباندی غږ کړل او ویې ویل چې عزیزی خپل دفتر ته غوښتلې یم ...

د هغه په دی خبره لومړۍ لړ و وېرېدلم خو وروسته مې یاد ته راغلل چې ما سهار وختي د هغه څخه د پیسو غوښتنه کړې وه شاید په همغه خاطر یې

غوښتلئ یم؟ په دې فکر لړ مې زړه آرام شو او د هغه د دفتر خوا ته روان شوم، منشئ د تل پشان خبل د میز شاته ناست وو خو زما په لیدو یې هېڅ و نه ویل شاید خبر وو چې زه راځم؟ د عزیزی د کوټې دروازه مې وټکول او کله چې له هغه خوا د عزیزی د رانئوځه آواز مې تر غوږ شو نو دننه ننوتلم، د پرون پشان خپل د میز شاته ناست وو او مخامخ د کمپیوټر صفحي ته یې دوه سترګي نیولې وه ...

څو شیبې پښه نیولې د دروازی چوکاټ کې پاتي شوم خو کله چې ومی کتل هغه نه راګوی نو د سلام پر ویلو د هغه د میز خواته روان شوم، چې تازه هغه زما خواته فکر شو او د کمبیوټر څخه یې نظر واخیست، څو شیبې بغیر د څه ویلو سر ترپایه راوکتل د هغه وروسته په سترګو باندی د کښیناستلو اشاره وکړل او ویې ویل: علیک سلام، پخیر راغلې؟

ژر د هغه د میز مخامخ په څوکۍ کښیناستم او ومې ویل: خیر ویسي ... هغه د ټولو خبرو څخه مخکې ما ... غوښتل .. له تاسو څخه .... هغه ... مطلب مننه وکړم ... له دی چې زما پسې مو موټر راوستوو نړۍ مننه.

عزیزی خپل د میز له شا څخه راپورته شو او داسې حال کې چې زما مخامخ په بل څوکۍ کښیناسته ویی ویل: مننې ته اړتیا نشته، ته ماته کار کوی او زه ستا د کار په بدل کې مئسول یم چې ستا د تګ راتګ چاره وکړم، تا اصغر ته یو څه ویلې وه لکه چې سهار؟
سر مې پورته کړو او په ګنګس انداز مې وویل: اصغر؟!
نه دا کس زه نه پیژنم او کوم څه مې هم نه دی ورته ویلې.
عزیزی- اصغر ته نه پیژني؟ همدا چې زما د کوټې مخکې ناست دی؟
په حیرت مې وویل: ستاسو منشې؟ د ده نوم اصغر دی؟

زما په خبره عزیزی پخندا شو څو شیبې ښه وخندل د هغه وروسته یې وویل: هو، زما منشئ د ده نوم اصغر دی، تا ورته سهار مګر د پیسو په اړه نه وه ویلې؟

د هغه په دی خبره تازه پوه شوم چې عجب بد مې وکړل د شرم څخه مې شونډه وچیچل او کرار مې وویل: وبخښې ما د هغه نوم نه وو زده هو، هغه... ما .. هغه ته ویلې وه چې .. که تاسو مناسب ګڼي یو څو روپۍ ما ته د میاشتي مخکې راکړی هغه .. هغه زما پکار دی.
عزیزی- څه یې کوی؟
- ها؟
عزیزی- وایم پیسي څه کوی؟ د څه لپاره دی پکار دی؟ کومه ستونزه لری؟

د هغه په دی خبره زړه کې مې له خدای خپل د دروغو لپاره معافي وغوښتل او خوله مې پرانیستل ... خلاصه د بوډا د پرون شپي دانه،دانه ویل شوی خبری مې په

بيحد معصوميت او مظلوميت باندی بدبخت عزيزی ته وکړل، داسې چې خپل د دروغو جوړ شوی کيسی باندې خپل مې لا باور وشو او زړه مې پر ځان وسوځيد اه زه څومره بدبخت يم .. کله  چې کيسه مې خلاصه شوه نو سر مې پورته کړو او د عزيزی خواته مې وکتل ترڅو د هغه په څهری کې خپل د ويل شوی دروغجني کيسی اثرات وګورم، هغه په زير نظر راکتل،د هغه نظر يو ډول وو؟! د نظر څخه يې کوم څه نه معلوميدل، يعنې نه پوهيدم چې ايا زما خبری منلې؟ او کنه؟ خو تندی تروش وو او دا تروش تندی زه څه ناڅه وېرولم.

عزيزی- اوممم خدای دی کورنۍ وبخښه او پلار ته دی روغ صحت درکړی،هر څومره پيسي چې دی پکار دی اصغر ته ووايه هغه يې درکوی او که غواړی نو نن وختي تللې شی.

د هغه دومره سخاوت ته مې حیرت راغلو، ورځ تر بلې عزیزی زه خپل په دا ښه اخلاقو او کارونو حیران کولم، یعنې د رښتیا عزیزی د مافایا غړی دی؟ اخر ولې نه معلومیږی؟ منم شاید څهره یې څه ناڅه وحشتناکه ده خو اخلاق یې بیحد ښه دی بیحد پاک زړه لری البته د پاک زړه د ویلو لپاره شاید لږ وختې وی خو بیا هم فکر نکوم چې دا دی کوم بد انسان اوسیږی؟!

کوښښ مې وکړو چې ځان خوشحاله وښایم، له دی چې مثلاً زما سره یې مرسته کړی ترڅو خپل مریض پلار ډاکټر ته ویسم د هغه احسان مند اوسیږم نو ځکه ومې ویل: مننه ... نړۍ مننه ښاغلیه ... نه .. نه زه نن رخصتي ته ضرورت نلرم نن خپل کار کوم همدا چې پیسي مو راکړل ډیر مو راباندی احسان وکړو د عمر تر اخیره به مې ستاسو دا احسان هیر نشې ...

عزیزی خپل غټ بدن په څوکۍ باندی تکیه کړو او داسې حال کې چې یو لاس یې خپل په میز واهه په

تروش تندی وویل: د دی سره کیږی لسم ځل چې درته وایم زه نه پر تا کوم احسان کوم او نه هم هسې کار درته کوم، کوم څه چی درکوم هغه ستا خپل حق دی؟! دا پیسي به د میاشت په اخر کې ستا د معاش څخه کم شې نو د احسان په نظر مه ورته ګوره دا ستا خپل د کار پیسي دی ...

- خو بیا هم مننه، که کوم کار زما سره نلری نور زه لاړشم ...

عزیزی- اهومم تللې شې البته د تګ مخکې دا راته ووایه چې ایا نن دی کوم مشکوک شې تر نظر شو کنه؟

- له دی چې نامید کوم مو بیحد شرمنده یم او بخښنه غواړم خو نه ښاغلیه ما نن کوم عجیب یا مشکوک شئ ونه لید.

عزیز په فکر کې ډوب شو او کرار یې وویل: سمده تللې شي ...

***

نن شلمه ورځ وه چې د عزیزی په شرکت کې مې کار کاوه، خو ما تر اوسه غل نه وو پیدا کړی بوډا،جنرال او د هغه ټول ټیم د لیونیانو پشان د غل پسي وه خو غل پدرلعنت د ګیر کیدلو نوم نه اخیست، داسې په ماهرانه توګه هر سند او نښه یې خراب کول چې ما فکر کاوه شاید دا زمونږ هسې خیال اوسیږی او غلا به بیخې نه کیږی؟

هر ساعت چې تېر کیدو زما اندیښنه ډېرېدل، که غل مو نه وایی پیدا کړی نو بیا به څه شوی وایی؟ کله ناکله مې لځان سره ویل که غل پیدا نشو نو عزیزی به مونږ ټول خپل د شرکت څخه وباسي او که هغه وباسلو نو بله لاره خو نشته نو امکان لری جنرال نور د دی خیرن "الفا" ډلې شا پریږدی او ماموریت پای ته ورسوی؟! خو د بوډا په خبرو چې ویل یې که عزیزی مو له لاسه ووت مجبور یو بل لارۍ د الفا ډلې ته ننوځو زما هیلې لمینځه وړل او په دی خبره یې پوهولم چې دوي ترڅو چې د "الفا" ډلې ته ننوځې نه

او ما مرګ ته ورنکړی تر هغه وخت د دی کار څخه لاس نه اخلې، بوډا ویل د عزیزی لخوا هغه ډلی ته تګ بهترینه لاره ده نور لاری بیحد خطرناک دی ...

په همدی ګنګس فکرونو کې په شرکت کې ګرځیدم چې فکر مې د یو ګاریکر پخوا شو دا څو وخته مې څه ناڅه پیژنده نوم یی خالد وو ښه هلک وو تل یې سر خپل په کار کې وو خو نن ما ته لږ ورخطا او پریشانه ښکاريد؟ لومړۍ مې دومره ورته پام ونکړو خو کله چې څو ځله پرلپسي د یو بل کاریګر سره چې نعمان نومیده د غوږ لاندی بنګ،بنګ وکړو او په ورخطای اخوا دیخوا وکتل نو لږ په زړه کې مې شک وولید، ولی داسي وکړل؟ دلته کاریګران دومره یو د بل سره خبری نکوی دا د عزیزی یو قانون دی په شرکت کی د کار وخت کې خبری کول منع دی؟!

شاید عجیب وی خو هغه همداسې یو قانون ټاکلې وو، او ټولو کاریګرانو تر همدی شلمه ورځې چې زه راتلم

شرکت ته دا قانون يې په کامل توګه راعايت کاوه بغير د نن څخه چې دا دوه نفرو يو د بل سره خبرى كول؟! لومړۍ مې فکر وکړو چې شايد کوم ستونزه لرى چې داسې ورخطا دى؟ نو ځکه غوښتل مې خواته يې نږدى شم او پوښتنه وکړم چې څه مشکل لرى؟ خو زما د ورتګ مخکې خالد د نعمان غوږ کې يو څه وويل او داسې حال کې چې خپل موبايل يې راخيست د شعبي ووت ...

نه پوهيږم ناساپه يو بد احساس مې د هغه په دى کار پيدا کړو او عجيب وه زما احساسات زياتر وخت صحيح ثابت کيدل؟! په همدى فکر په کراره د هغه پسې شوم هغه د شرکت په انګړ کې لګيا وو موبايل کې خبرى کول د څو دقو خبرو کولو وروسته يې موبايل بند کړو او په ورخطاى باندى يو خوا او بلخوا ته په کتو شو ما ځان د يو موټر څنګ کې پټ کړو د څو شيبو اخوا ديخوا کتلو وروسته بلاخره د شرکت څخه کامل ووت زه هم کرار،کرار ورپسې شوم د

شرکت څخه د وتلو وروسته د سړک هغه بل غاړې ته لاړ او هلته په ولاړ سپین کورولا موټر کې کښیناست او ولاړ؟!

دا چې داسی بې اجازې او په داسې مشکوک توګه له شرکت ووت، زه یې بدګمان کړم خو د ځان سره مې وویل چی شاید کوم ستونزه لری؟ شاید د کورنۍ کوم کس یی مریض وی؟ یا کوم بله پیښه به شوی وی چې داسې ورخطا له شرکت ووت؟ انسان دی یو وخت کی زر کار امکان لری ورته پیښ شې نو ځکه شاید داسې ورخطا وو او زه هسی مشکوک شوی یم؟

په همدی فکرونو هملته ولاړ وم او د هغه د تګ لاری ته مې کتل چې یو چا مې پر اوږی لاس کیخود ځکه چې فکر مې نه وو د هغه په داسی ناساپه حرکت د وېرې څخه درې متر لری وپرېدم او خوله مې خلاصه کړه چې یو دوه کنځل دا کس ته واچوم چې داسی زه یې وډارولم خو د عزیزی په لیدو چې په حیرت یې زما

خواته راکتل خوله مې بنده شوه، او په تلوار مې وویل: وبخښي .. هغ ... هغه ... سلام.

عزيزی په همغه حيرت يو دوه ګام زما څخه شاته لاړ، خپل يو لاس يې د هغه غټ تور کوټ په جيب کې چې اچولې وو ننويست او داسې حال کې چې په زير نظر يې زما خواته راکتل ويې ويل: عليک سلام، خيرت خو دی؟ ته دلته څه کوی؟

نه مې غوښتل تر څو چې ډاډمن شوی نه يم يو بې ګناه نفر د داسې يو خطرناک کس په ګير ورکړم نو ځکه ژر مې وويل: هغه .. ما هغه (د سړک هغه بلخوا دوکانو خواته مې اشاره وکړل او بيا مې په بند،بند لهجه وويل: هغه ... ما غوښتل .. سګريټ واخلم .. خو هغه .. فکر مې کاوه چې .. چې شايد تاسو بده منې چې .. شرکت کې څوک سګريت ووهی .. نو ... نو ځکه دلته ولاړ وم او فکر مې کاوه چی لاړشم او کنه؟

عزیزی په حیرت باندی خپل وریځي پورته واچول او ویې ویل: مطلب ته دلته ولاړ وې او فکر دی کاوه چې لاړشې سګریت واخلی او کنه؟

- هو.

خپل پر ځان مې لعنت وویل چې یو سم بهانه جوړل مې لا نه وه زده، عزیزی په تروش تندی راوکتل او ناساپه خپل اغوستل شوی کوټ یې لرې اخوا کړو د هغه په دی کار زړه مې درب وهل ... یعنې پوه شو چې ما ورته دروغ ویلې؟ غواړی تمانچه راوخلې او ما مړ کړی؟ په دی فکر سترګي مې د وحشت څخه خلاصي شوی او په وېره مې د خولې لاړی تېری کړل چی هغه خپل د کوټ لاندی د کالو د جیب څخه یو قوطي سګریټ راوویست او داسې حال کې چې زما پریدلې رنګ ته یی کتل یو سګریت یې زما خواته ونیو ...

د هغه په دی کار خپل د څو شیبې مخکې احمقانه فکر ته مې خندا راغله، عجب ډارن شوی یم، دا دویم ځل

دې چې د عزيزي په اړه داسې فکر کوم، د دې ټول بيځايه فکرونو اصلي دليل هغه بوډا دی هغه زه داسی وېرولې يم چې فکر کوم عزيزی يو حيوان دی او يوازينې کار يې د خلکو وژل دی! د عزيزي پر غږ په خود راغلم.

عزيزي- واخله مګر درې ساعت دلته د سګريټ اخيستلو پسې دی فکرونه نه کول؟ واخله دا هم سګريټ.
په تلوار مې سګريت د هغه له لاسه واخيست او ومې ويل: هو .. هغه مننه .. ډير مننه .. زه به نور لاړشم شرکت ته ... بيا هم وبخښي.

غوښتل مې ژر د هغه ځايه پښي سپکي کړم،خو لا دوه ګام مې نه وه اخيستی چې هغه راپسی غږ کړل.

عزيزي- ضرورت نشته نن شرکت ته لاړشې.
د هغه په خبره په وېره مې وروکتل او ومې ويل:
ولې؟
عزيزی خپل دواړه لاسونه دا ځل د کوټ په جيبونو کې

ننویستل او ویې ویل: ځکه چې زما سره راځې ..
- چیرته؟
عزیزی- اوممم کله چې لاړشې نو پوه به شې ...

هغه په لاس باندی د یو ښکلی موټر خواته اشاره وکړل او خپل لومړی هغه خواته روان شو زه هم ورپسي شوم خو بد احساس مې درلود هېڅ مې زړه نه غوښتل چې موټر ته پورته شم، نه پوهیدم چې عزیزی غواړی ما چیرته ویسي؟ د څه لپاره مې وړی؟ او څه اراده لری؟ پر ځان مې لعنت وویل له دې چې د خالد پسي له شرکت راووتلم بیا داسې لکه لیونیانو پشان درې ساعت د شرکت مینځ کې ولاړ وم،که ژر شرکت ته ننوتلې وایې شاید عزیزی نه وایې لیدلې او دا کارونه به هم نه وایې شوی.

د موټر خواته نږدی شوم عزیزی موټر نه چلوی یو موټروان یې درلود چې ما چندان ښه نه ورڅخه راتلل، البته کوم خاص کار یې نه وو کړی بس همداسې مې نه

خوښېدې، غوښتل مې د موټروان څنګ ته کښینم، ځکه ذهن مې ویل څومره چې د عزیزی څخه لری اوسیږی هغومره په امن کې یې، خو لا دروازه مې نه وه خلاصه کړې چې عزیزی خپل څنګ ته په شاته سیټ کې د کښیناستلو اشاره وکړل د هغه په دی کار د خولې لاړی مې تېر کړل او د هغه خواته روان شوم همدا چې موټر ته پورته شوم موټر حرکت وکړو ...

ما خپل پوره کوښښ کاوه چې د عزیزی څخه هر څومره چې کیږی په هغومره واټن کې اوسیږم، دا کار مې د دې لپاره کاوه که مبادا عزیزی راباندی شکمن شو او زما د وژلو اراده یې وکړل نو ځان د موټر د دروازی څخه لاندی واچوم او وتښتم، پوهېږم چندان ښه او عقلمند کار خو نه ښکاری خو د سل فیصده مرګ څخه دا لاره یو څو سلنه د ژوند شانس لری او زه یو سلنه د ژوندی پاتې کیدلو شانس لا د لاس نه ورکوم ما اقرا ته قول ورکړی وو چې بیرته به ورځم نو باید خپل کوښښ مې کړی وایې او ژوندي پاتي شوی وایې ...

موټر د شرکت څخه مخ پر ليرې کېدو وو او زما د زړه ضربان هم مخ پر پورته کېدو وه احساس مې کاوه د ډېر وېرې څخه امکان لرې زړه مې له سيني راووځې، په جنرال بوډا او هر هغه کس چې زه يې دې ماموريت ته راستولې وم لعنت مې ويل اخر ما يې پر دې خلکو څه؟ کاش بوډا يو مرګ راکړې وايې چې د ضرورت په وخت کې مې خبر ورکړې وايې؟ خو هغه ماته هېڅ داسې کوم شئ نه وو راکړې هغه ويل عزيزې ډېر هوښيار دې او موږ که په هر ډول تاته کوم کمره يا لوډسيپکر درکړو هغه پوهېږې په دې ماموريت کې يو جاسوس هم د خبر ورکول کوم جاسوسي سامان نه درلود بلکې هر چا چې هر څه اوريدل او ليدو د شرکت څخه د تلو وروسته ګزارش کاوه ...

ما هم همداسې کول د ټول ورځ اوريدلې او ليدلې شيان مې کله چې کور ته تلم بوډا ته مې ويل او بوډا بيا جنرال او نور کسانو ته خبر ورکو، په همدې فکرونو کې وم او ځکه چې ډېر استرس مې درلود نو په

ناخودآګاه توګه لګيا وم د عزيزی راکړل شوی سګريټ
می لاس کې قات کاوه، چې د هغه غږ مې واورېد.

عزيزی- نه يې وهې؟
- ها؟؟

د هغه په ناساپه پوښتنه هېڅ پوه نشوم، چې هغه زما
لاس کې خراب او مات شوی شګريټ ته اشاره وکړل او
ويې ويل: سګريت نه وهې چې داسې دې مات کړو؟
خپل لاس او بيا مې د هغه خواته وکتل او تازه پوه
شوم چې د هغه د خبری مطلب څه دی؟ نو ځکه په
تلوار مې وويل: و ... وهم يې هغه .. هغه ... د روښانه
کولو ل ...لپاره يې ليټر نه وو راسره ... نو ځکه مات
مې کړو.

عزيزی- عجيب ده سګريټ وهې خو جيب کې ليټر
نلری؟
- ه.. هغه درلود مې خ .. خو رانه ورک شو ..

زما په خبره عزیزی د پوهیدلو په انداز سر وخوځاوه، بیایې جیب ته لاس کړو یو نوي سګریټ او یو ښکلې لیټر یې زما خواته ونیو، لکه چې نن عزیزی قسم اخیستي چې پر ما دا سګریټ ووهي؟ کنه زړه یې نه بیغم کیده؟ په نه زړه مې سګریټ او لیټر ورځخه واخیست او مننه مې وکړل، ما سګریت وهل نه وه زده، البته خوښیدل مې هم نه چې سګریت ووهم نو ځکه هسې مې لاس کې نیولې وو چې د څو شیبو وروسته عزیزی بیا وویل: نو ولې نه روښان کوی؟ اوس خو لیټر مې هم درکړو؟

نه پوهیدم اخر ولې نن دې دومر زما د سګریټ وهلو او نه وهلو په غم کیدی؟

- ه.. هغه موټر کې دننه زما په نظر ښه نه دی؟

عزیزی- نه کوم ستونزه نشته خپل د خوا ښیښه راښکته کړه او په بیغم خیال سګریټ دې وواهه.

نه پوهېدم چې نور څه بهانه وکړم؟ البته نور بهانه هم نه وه پاتي مجبوره وم د عزیزی د درووند نظر څخه د خلاصیدلو لپاره دا منحوس سګریټ ووهم، ښیښه مې ښکته کړه سګریټ مې د لیټر مخکې ونیو او د دوه، درې ځل لیټر وهلو وروسته کله چې روښانه شو نو خپل شونډو ته مې نږدې کړو په دې ټول موده کې د عزیزی درووند نظر مې پر ځان احساس کاوه کوښښ مې وکړو ځان نرمال وښایم داسی لکه زه خو یو ماهر سګریټي یم؟ خو متاسفانه همدا چې یو کش دود مې سیني ته کش کړو په ټوخ شوم داسې ټوخ چې د بند کیدو نوم یې نه اخیست دومره مې وټوخل چې اوښکې می له سترګو راوبهیدل ...

اه لعنت دې وې دا نو څه مردار شئ دی؟ مړ یې کړم، تازه مې ټوخ لږ کرار شوی وو چې عزیزی په غوسه زما د ګوتو د مینځ سګریټ واخیست د هغه په دی کار په تلوار مې وروکتل چې هغه خپل د خوا ښیښه راښکته کړل او داسی حال کې چې زما روښانه کړی سګریټ

يې خپل پر شونډو کيخودو او په ماهرانه توګه يې واهه ويې ويل: ښه نو وايه هلته دې څه کول؟

خپل د اوښکو ډکي سترګي مې په لستوڼې پاک کړل او په داسې غږ چې د ډېر ډوخيدو له لاسه خراب شوی وو ومې ويل: چيرته مې څه کول؟
عزيزی مخ راوګرځو په دروند نظر يې زما خواته وکتل او بيا داسې حال کې چې د سګريت دود يې زما پر مخ خوشې کاوه ويې ويل: د شرکت مخ کېدی څه کول؟ چا ته ولاړ وی؟

د هغه په دی کار چې د سګريټ دود يې زما خواته راخوشې کړو يو ځل بيا په ډوخ شوم او همغه حال کې مې خوله بيرته خپل پخواني ويل شوی دروغو ته جوړه کړل چې هغه په بيحد بد نظر راوکتل او ويې ويل: که ووايې چې د سګريټ اخيستلو لپاره هلته ولاړ وی نو دا خوله دې درمات کوم پوه شوی؟

د هغه په پورته غږ په وېره مې وروکتل چې عزيزی په پوسخند وويل: ته د سګريت وهلو يې؟ ستا په نظر سګريټي کسان داسی سګريټ وهی؟ درې ساعت دی سګريټ نشو روښانه کولاې د هغه وروسته د لومړۍ کش سره په ټوخ شوی مطلب تا تراوسه سګريټ نه دی وهلې؟! نو اوس راته رښتيا ووايه تا هلته څه کول؟

غوښتل مې لږ ورڅخه شاته لاړشم او خپل هغه لومړۍ پلان کوم چې د موټر څخه د جمپ اچولو او تښتېدلو وو ذهن کې يو ځل بيا تکرار کړم، چې ناساپه عزيزی د لاس ونيولم او خپل خواته يې کش کړم د هغه په دی کار د ډېرې وېرې څخه مې سترګي راووتل، عزيزی په غوسه ناک نظر داسې چې کتلو يې زما نفس قيد کاوه وويل: د لومړۍ ورځ څخه مې درته ويلې وه چې په هر څه باندې پوه شې نو بغير د کوم فکر کولو به ماته خبر راکوی ويلې مې وه کنه؟

دومره کلک یې زما لاس نیولې وو چې بې اختیاره مې
د هغه د خبري د تایید لپاره سر وخوځاوه ..
عزیزی- نو بیا ولې زما څخه خبره پټوی؟ رښتیا ووایه
تخو د هغه غلو سره نه یې شریک شوی؟ چې داسې
خبره اخوا دیخوا کوی؟

دومره وېرېدلې وم چې مغز مې یوازی یو حکم راکو؟
حقیقت ووایه او ځان بیغم کړه نو ځکه بې اختیاره
مې وویل: نه ... نه .. زه د هیچا سره نه یم یوزای
شوی ....ه ... هغه ن .. نن مې پ ...پر یو چا ش..شک
وشو ن... نو ځکه هلته ولاړ وم ..او ورته کتل مې ..

عزیزی بغیر له دې چې ما خوشې کړی نور یې هم خپل
خواته نږدی کړم دوه سترګي زما سترګو ته داسې
نیولې وه ته وا لکه چې غوښتل یې زما د سترګو له
لارې زما مغز ووینې؟!
عزیزی- پر چا؟ پر چا دی شک راغلو؟ د شرکت بیرون تا
څه کول؟

- پ..په خالد ...په هغه مې شک راغلو نو ځکه ورپسې شوم .. هغه بغیر د اجازې اخیستلو له شرکت ووت او ... او ..

عزیزی- او څه؟

- او په یو ...یو کورلا موټر کې چې د شرکت مخکې ولاړ وه کښیناست او لاړ ..

عزیزی- هغه یوازې وو؟

- نه .. نعمان ... نعمان سره یې د تلو مخکې خبرې وکړل او .. او دواړه لږ مشکوک ښکاریدل.

د خبری د خلاصیدو سره سم عزیزی خوشې کړم چې ژر ورڅخه لرې شوم، د لرې کیدلو سره سم د پوزې څخه مې وینه راغلل، لعنت دې وی پر دی ژوند، خپل لاس مې پوزې ته وینو پوهیدم چې د ډېر استرس او وېرې له لاسه داسې شوی یم ډاکټر راته ویلې وه چې ډېر پر ځان فشار مه راوړه، نه پوهیدم د وینو راتلو مخه څنګه ونیسم چې عزیزی یو دوه کاغذی د سمالونه زما خواته ونیول که څه هم تر مرګ د هغه

 څخه وېرېدلې وم خو ژر مې د سمالونه د هغه له لاسه واخیستل هغه هم یو بل سګریت روښانه کړو او داسې حال کې چې سګریت یې واهه ویې ویل: ولې دی همغه اول کې دا خبری ونکړل؟ ولې دې لومړې ماته دروغ وویل؟

خپل پوزه مې کلک په دسمال ونیول او همغه حال کې کرار مې وویل: هغه .. زه بډبمن نه وم اوس هم بډبمن نه یم ما د هغوی څخه بغیر د نن ورځې نور هېڅ مشکوک حرکت نه وولیدلې نو ځکه غوښتل مې لومړۍ خپل بډبمن شم او د هغه وروسته تاسو ته ووایم خو تاسو ...

خوله مې بنده کړل اوس وخت د غوسي نه وه بلخصوص د داسې کس مخکی چې د نن په کار یې سل په سل بډبمن شوم چې د بوډا ټول خبري د ده په اره صحیح دی او دا یو کله خراب، لیوني او قاتل انسان دی، څنګه چی نن هغه زه و وېرولم یو پیري یا

حتا هغه لیوني جنرال چې زما د مرګ پسي راغلې و لا نه وم ډارولې ...

عزیزی په پوسخند راوکتل او ویې ویل: ما درته په لومړۍ ورځ وویل چې زما په څهرې مه ختا وځه زه بیحد عصبي انسان یم، درته ویلې مې وه چې هر مشکوک شئ چې دې تر نظر شو نو فوراً ماته ووایه خو تا خبره اخوا دیخوا کړل نو حق دی وو چې داسې کار درسره وکړم البته(کامل زما خواته راوګرځید او ویې ویل: ما خو ونه وهلې؟ نو بیا ولې دی پوزه په وینو شوه؟!

هېڅ مې ونه ویل چې دا ځل د هغه غږ مې خپل ځنګ ته واورید په تلوار مې سر پورته کړو زما ځنګ ته راغلې وو؟ د هغه په دی کار و وېرېدم خو کوم خاص ریشکن مې ونه ښود که ځان مې وېرېدلې ښکاره کړې وایې نو امکان یې درلود چې فکر وکړې زه د رښتیا د غلو سره شریک یم چې داسې ډاریږم؟!

عزيزی- کوم خاص مشکل يا مريضي لری؟

زړه مې غوښتل ورته ووايم پر تا يې څه پدرلعنت؟ خو په دا څو دقيقو کې عزيزی داسې خپل د ځان څخه وېرولې وم چې په کراره مې ورته وويل: نه پوهېږم خو يو وخت يو ډاکټر راته ويلې وه چې عصبي فشار لری.
عزيزی- هوممم عصبي فشار؟!

څو شيبې زما خواته زير وو داسې چې نور مې حوصله د رښتيا تنګ شوه غوښتل مې وپوښتم ايا زما پر مخ باندی کوم څه دی چې ته داسې راته ګوری؟ خو جرئت مې ونکړو او يوازی ورڅخه لری شوم، زما په دی کار هغه ژوره ساه واخيسته او خپل ځای ته بيرته لاړ.

عزيزی- ارسلان! شرکت ته لاړ شه کار مو خلاص شو.

د هغه په خبره په غوسه مې خپل غاښونه سره وچيچل يعنې کوم کار يې نه درلود يوازی زما د خولې

څخه د خبرو ایستلو لپاره یې ځان سره راوړم؟! عجب حرم*ني انسان دې، زړه کې مې عزیزی ته کنځل کول چې ارسلان چې د دېرش یا هم درې دیرش کالو په عمر سړی وو او د عزیزی خاص موټروان وو او ټول هغه وخت کې چې عزیزی زما څخه اظهارات اخیستل لکه کوڼ او ړوند انسان پشان یوازی موټرواني کول ویې ویل: ښاغلي هلکانو هغه دوه نفر راوړی کوم چې ..

ارسلان د موټر د هینداری څخه زما خوا ته راوکتل او خپل خبره یې بنده کړل، لکه چې د دوي د هغه غیر قانوني کارونو په اړه خبره وه؟ او نه یې غوښتل زه خبر شم.

عزیزی- پوه شول چې چا راستولې؟

د عزیزی پر غږ ارسلان زما څخه نظر واخیست او ویې ویل: نه ښاغلیه، هغوی څه نه وایې، څو دقیقي مخکې هلکانو راته مسج وکړو ویل چې هغوي میلمانه کړې که

وخت لری یو ځل هغه خواته لاړشو همدلته زموږ مخکې راځې؟

عزیزی- نه ارسلان، د نن لپاره زه نور حوصله نلرم ما تر شرکت ورسوه او خپل لاړشه وګوره چې څه خبره ده؟

ارسلان نور څه ونه ویل او د سر په خوځولو یې د عزیزی خبره تایید کړل، خو څو دقیقې لا نه وه تېر شوی چې د عزیزی موبایل ته زنګ راغلو، کله چې موبایل یې پورته کړو نو کوم څه یې ونه ویل؟! یعنې یوازی غوږ نیولې وو، د څو شیبو وروسته یې هم یوازی یوه خبره وکړل؟ زه درځم ... او موبایلګ یې بند کړو ...

نه پوهیدم چې څه روان دی؟ هغه کسان څوک دی چې ارسلان یې په اړه خبری کول؟ او عزیزی ته چا زنګ وهلې؟ او څه یې ورته وویل چې داسې ناساپه تندی تروش شو؟ او چیرته روان دی؟ او چا، چا ته میلمستیا

کړی؟ او څوک دی میلمانه؟  په همدی فکرونو کې وم چې عزیزی وویل: ارسلان، د میلمنو خوا ته لاړ شه.

د عزیزی په خبره ارسلان په تلوار زما خواته راوکتل او بیا یې د عزیزی خواته وکتل او ویې ویل: دا هم لځان سره ویسو؟

عزیزی نیم نظر زما خواته چې لکه جاسوسانو پشان د دوي دوارو خبرو ته مې غوږ نیولې وو واچو او کرار یې وویل: کوم ستونزه نه جوړی حرکت وکړه، سر مې درد کوی غوارم ژر دا کار خلاص کړم او یو څو دقیقي ویده شم.

که څه هم طلایی شانس وو ترڅو پوه شم دوي چیرته روان دی؟ او د چا سره لیدنه کوی؟ او میلمانه یې څوک دی؟ که دا معلومات مې راټول کړې وایې امکان یې درلود د جنرال دوی ماموریت کې مې ډیر لوي مرسته کړی وایې، خو ما نن تر کافي اندازه د عزیزی څخه زاره چودلې وه نه مې غوښتل نور د ده سره کوم

ځای ته لاړ شم، نو ځکه په تلوار مې وویل: هغه ... ما .. ما همدلته ښکته کړې زه خپل ځم شرکت ته، تاسو خپل کار ته ورسیږی.

عزیزی د سترګو له کونج راوکتل او پر شونډو یې پوسخند راغلو خو ارسلان زما خبره تایید کړل او ویې ویل: فکر کوم همدا کار به بهتره وی تا به همدلـ .... ارسلان لا خپل خبره نه وه پوره کړې چې عزیزی همغه پوسخند پر شونډو وویل: موږ دی پخپل تر شرکت رسو، یوازی لاره کې یو څو دقیقي تم کیږو، ایا ته کوم عاجل کار لری چې داسې تلوار د دی شرکت ته د تللو؟ د عزیزی په دی خبره پوه شوم چې هغه پر ما شکمن دی؟! نو ځکه ژر مې وویل: زه؟ نه ... نه زه هېڅ کوم کار نلرم یوازی ستاسو لپاره مې وویل.
عزیزی- اهوم ښه ده نو زموږ سره راځې ...

نه پوهېدم چې دوي چیرته روان دی او څه کار لری؟ خو دومره پوهېدم چې کوم سم کار نه دی او دا د دوی

دوارېو د څهرو څخه ښکاریدل بلخصوص د ارسلان د څهری څخه چې په مشکوک نظر یې زما خواته کتل؟! پدرلعنت داسی کتل ته وا ما یې حق خورلې؟ کاش جنرال دا ارسلان لومړۍ زندان ته واچوي هېڅ مې نه خوښېده، کوښښ مې وکړو ځان ناګاراه واچوم خو هر څومره چې د شرکت د لاری څخه د هغه ځاې خوا ته نږدی کیدلو زما د زړه درزا پورته کیدل، د نیم ساعت وروسته تقریبا د ښار د ماحول څخه ووتلو دا لاره مې پیژندل! د دی ځای څخه تقریبا په یو ساعت مزل کې زموږ کلي وو؟

نه پوهېدم د دوی کار چیرته دی؟ او چیرته روان دی؟ خو کله چې ارسلان موټر د پوخ سړک څخه د لاری په سر یو کور خواته تاوو کړو نو پوه شوم چې د دوی مقصد همدا کور دی؟ که ووایم وېرېدلی وم نو ایا بده خبره ده؟ که بده خبره هم ویې زه وېرېدلې وم واقعاً ...ویرېدلی وم .. د یو داسې کس سره چې په قتل، وژنو او غیر قانوني کارونو کې د مافیا د مشر راسته

لاس په حساب راځې ایا د داسې کس سره یوازی کوم ځای ته تګ منطقي کار دی؟

معلومداره ده چې د بیعقلانو کار دی،هېڅ هوښیار کس د داسې کسانو سره  یکې،یوازی یو ګام لا نه اخلې څه ورسیږی چې داسی دشت بیابان ته ورسره راشې. موټر د یو خام کور مخکې ودرېد د کور دروازه لږ خلاصه وه ارسلان غوښتل هارنګ ووهي ترڅو یو کس دروازه پوره خلاصه کړې او دې موټر کور ته ننباسي، خو عزیزی ورته وویل چې ضروت نشته موټر کور ته ننبایې او ژر راځو.

د عزیزی د دی خبری سره سم لومړۍ ارسلان او د هغه وروسته عزیزی د موټره ښکته شول زه نه پوهیدلم چې څه وکړم؟ د ښکته شم او ښکته نشم په منځ کې بند وم چې عزیزی د موټر څخه د ښکته کیدلو وروسته زما خواته راغلو د ښکته شوی ښیښې څخه یې سر لږ موټر ته رانویست او ویې ویل: موږ دننه ځو لږ کار

لرو، خو ډېر ژر بېرته راځو تر هغه وخت ته موټر کې پاتي شه سمده برهان؟

د هغه په خبره مې ژر سر د سمده په توګه وخوځاوه چې هغه پخندا زما د سر ویښتیانو کې لاس وواهه او روان شو، د هغه په دی کار هک حیران شوم، څه وشو؟ هغه زما د سر ویښتیانو کې ولې لاس وواهه؟ د هغه دا حرکت دومره حیران کړم چې د څو شیبو لپاره مې یو دم لیاده ووتل چې زه داسې لیری ځای د یو داسې رواني خلافکار سره راغلې یم، یوازی فکر مې د هغه په دې ناساپه حرکت کې وو، هر څومره چې فکر مې وکړو هېڅ کوم منطقي دلیل مې د هغه دی کار ته پیدا نکړو؟ هغه زما په ویښتیانو کې داسی لاس تېر کړو لکه کوم وخت چې مورې یو خورې ماشوم ګورو نو د میني څخه د هغه د سر ویښتیان اخوا دیخوا کوو! خو زه خو ماشوم نه وم؟ چې هغه دی داسې کار وکړی؟!

همدی عجیب،غریب فکرونو کې وم او نظر مې پر هغه دروازی وو په کوم چې عزیزی او ارسلان ننوتلې وه،دروازه تراوسه خلاصه وه او دننه حویلې لږ ښکارېدل حویلې کې یو موټر ولاړ وو، البته ما ته یوازی یو موټر هغه هم نیم ښکاریدو امکان یې درلود نور موټران هم وی؟ یعنې دا یې د هغه میلمنو موټر دی کوم چې ارسلان یادول؟ نور کوم خاص شئ نه ښکارېدي، نظر مې د هغه خوا واخیست او شاوخوا مې وکتل د دی کور څخه په ډېر فاصله کې یو بل کور وو دې منطقه کورونه زیاتر یو دبل څخه په لری واټن کې جوړ شوی وه

او یو بل ته نږدی کور دومر نه وه زما شاته تقریبا شل پنځه ویشت متر لری پوخ سړک وو، چې یو، دوه موټر به په تلوار ورباندی تېرېدل د سړک هغه بل غاړې ته هم همدا حال وو دانه،مانه کور په ډېر واټن کې یو د بل سره جوړ شوی وه، نظر مې د سړک څخه واخیست

او دننه موټر ته په کتو شوم زه اوس د عزیزی په موټر کې یوازی یم؟ او کولا شم د هغه موټر تلاشي کړم؟!

البته امکان لری موټر کی کمره وی؟ په دی فکر په زیر نظر مې د موټر شاوخوا وکتل ماته خو کوم کمره یا مشکوک شئ نه ښکارې، البته فکر نکوم چې عزیزی دی دومره بیعقل اوسیږی چې کوم مهم سند یا بل شئ دی موټر کې وساتي، په دې فکر نظر مې بیرته د هغه کور دروازی خواته کړو، یو حس هڅولم چې کور ته ننوځم او وګورم چې عزیزی هلته څه کوی؟ خو وېرېدم چې ګیر مې نکړې، هسې چندان شانس خو نلرم که دا ځل لږ راباندی بد ګمان شوی وایې بې له کوم شک همدلته یې مړ کولم، خو ما د همدی کار لپاره پیسي اخیستي؟ زه راغلې یم تر څو د عزیزی د کارونو په اړه جنرال ته خبر ورکړم، امکان لرې دلته دی کور کې یو مهم معامله روانه وی؟

زه باید خپل مسئولیت په ښه توګه ترسره کړم که زه نن معلوم کړم چې دلته څه روان دی؟ نو امکان لری ماموریت ژر پای ته ورسیږی او زه هم ژر خپل کور ته لاړشم؟! دا فکرونو دومره وسوسه کړم چې د موټر دروازه مې خلاصه کړل او ورڅخه ښکته شوم، یو دوه ګام مې د هغه کور خواته واخیستل خو بیرته پښیمان شوم، که ګیر مې کړی بیا څه ورته ووایم؟ زما په نظر بهتره به دا وی چې د داسي لیوني خلکو سره ځان وا نه چوم او کرار موټر کې کښینم، اصلاً ما یې پر اطلاعاتو او معلوماتو څه؟

زما کار دا دي چې تر یوکال د عزیزی څنګ کې ځان ژوندی وساتم؟ بس تمام ... که تر یو کال دلته وخت تېر کړم د هغه وروسته بغیر د کوم ټک او ټوک څخه خپل عادی ژوند ته تللې شوم زموږ قرارداد د یو کال وو، هو طاها همدغه کار بهترینه دی ورځه کرار موټر کې کښینه، تا یې پر دی جنجالې کارونو څه؟ په دی فکر بیرته د موټر خواته مې مخ وګرځو خو زړه مې

راته وويل: که د جنرال لپاره هم نه وی عزيزی خلاف کار دی د يو مسلمان په توګه د يو افغان په توګه ته څنګه دا اجازه ورکوی چې هغه دی ستا په خاوره کې داسې مردار کارونه وکړی او ستا وطنوال دی ووژني؟ د بوډا خبری مې ذهن ته راغلل چې ويل يې ستا دا کار جهاد دی،دومره مې دا خبری ذهن کې اخوا ديخوا شول چې بلاخره د وطن پالني احساس مې راباندی قوی شو او د کور خواته روان شوم ..

دروازي ته چې نږدې شوم نو کرار مې شاوخوا وکتل حويلې کې څوک نه ښکاريدل او دی کار ما ته لږ زړه او جرئت راکړو ترڅو د کور دننه قدم کېږدم،ټول توجه مې شاوخوا وه ترڅو په ناساپي توګه کوم کس راباندی رانشې، حويلې کې يوازی همغه يو موټر ولاړ وو بل کوم موټر نه وو کور بيحد خراب وو تر دی حد چې ما خپل په هغه کور کوم چې جنرال راکړی وو شکر وويست دا خو بيخي هديره ده نه کور! عجيب وه حويلې کې هېڅوک نه وه؟!

دوه کوټې څنګ په څنګ د حویلۍ اخری کونج کې جوړ شوی وه نور هېڅ کوم شئ شاوخوا نه وه د حویلۍ راسته طرف دیوال هم یو څه نړېدلې وو دا دومره خراب کور او ځای ته عزیزی څنګه خپل میلمانه راوړی؟ معامله بیحد مشکوک راته ښکاریدل یو څه چې د هغه کوټو خواته نږدې شوم نو د یو کوټې څخه مې د څو کسانو اواز واورید کرار،کرار همغه خوا ته نږدی شوم ښه قسمت ورته ووایم که شانس؟ خو هرڅه چې وو دا کوټې یو کړکۍ درلودل چې ټول کوټه ورڅخه ښکاریدل ..

د کړکۍ خواته نږدې شوم د کتلو مخکې مې لومړۍ غوږ ونیو د څلور کسانو څخه د ډېر خلکو غږونه راتلل چې ټول ناشنا وه! که په اټکلې توګه هغه پنځه کسان وشمارم او دوه نفر نور یو یې عزیزی او بل ارسلان وی نو مجموع کیږی اوه نفر؟! که مبادا ونیول شوم ایا د اوه نفرو څخه تښتیدلې شم؟ دا لومړۍ فکر وو چې ذهن ته مې راغې خو ډېر ژر مې دا فکر د ذهن څخه

لرې کړو،ځکه که خبره یوازې عزیزي ته لا پاتې شوې وای نو هغه ما ته بس وو په هغه دیب مانند قواره یې ولاکه کې ورځخه ښور لا خوړلې وایې ...

غږونه واضح راتلل د ځو شیبو وروسته عجیب غږ مې واورید؟! غږ داسې وو لکه یو نفر چې وهل کوی؟ په دې فکر کرار د کړکۍ له کونج مې کوټې خواته وکتل خو کاش نه مې وایې کتلې؟! د مخامخ صحني په لیدو نفس مې سینه کې قید شو .. دوه نفر د کوټې د چت ځخه چپ راځوړند وه؟! هغه هم لوڅ؟! یو چاق لنډی سرې تور کیبل په لاس د هغوی ځنګ ته ولاړ وه او په نمبر باندې دواړه وهل؟! د هغوی خولې تړلې وه ځکه ما د چیغو غږ نه اورید ..

د هغه صحني په لیدو سر مې ګنګس شو په زور مې ځان کنټرول کړو ترڅو لاندې پر ځمکه ونه غورځیږم، عزیزی خپل هغه غټ تور کوټ ویستلې وو او لګیا وو

خپل ساعت يې هم د لاس لرى كاوه ويې ويل: ما غوښتل ويده شم ...

يو كس چې ما بيخى نه و وليدلې او تازه اوس مې ليده د عزيزى د خبرى په ځواب كې وويل: موږ پخپل دا موضوع حل كول نه پوهيږم ولې تاسو راغلى؟

عزيزى بغير له دى چې د هغه خبرى ته كوم ارزښت وركړى خپل د جيب څخه يې سګريټ راوويست ليټر يى ورته وواهه او د روښانه كېدلو وروسته يې يو غټ كش ورڅخه واخيست كله چې دود يى د خولې څخه بيرون ويست نو ليټر يې خپل ومخ ته ونيو څو ځله يى اخوا ديخوا كړو او داسې حال كې چې خندل يې ويې ويل: څو ورځې كيږى خپل د كور حيوان ته مې بووږى نه ده وركړى پوهيږى كه تر ډېر وخت يو حيوان وږى وساتي نو څه كوى؟

ما د هغه دوه كسانو څهرې نشو ليدلې كوم چې د چت څخه راځوړند وه د هغوى مخونه د عزيزى خواته وو

او ماته يې شا وه خو د هغوی د درد او وېرې څخه بېک ستمی مې اوریدلې شو.

عزیزی- نه پوهیږې؟صبر زه درته ووایم کله چې بېر یې وږی وساتي نو حتا خپل مالک لا خوری، اوس هم زما حیوان وږی دی که تاسو دوارېو کې هر چا ژر خبری وکړل هغه خوشې کوم او کوم چې ونکړل هغه ورېم خپل د حیوان د خوراک لپاره څنگه مو خوښه ده؟

د دی خبری وروسته یې د ارسلان خواته اشاره وکړل او ویې ویل: د دوارېو خولې خلاصی کړه گورم څوک لومړی خبری کوی؟
د هغه په اشاره ارسلان په تلوار د دوارېو کسانو خولې خلاصی کړل، یو د هغه کسانو په تلوار وویل: زه ... زه وایم .. زه خبری کوم .. خیر دی ما خوشې کړی ..
د هغه څنگ ته راځورېند کس خپل په ملگری غوسه شو او ویې ویل: بنده کړه خوله دی... بنده کړه ... موږ څه نشو ویلې لیاده دی وتلې که کوم څه ووایو نو نه

یوازی مورې بلکی زمورې ټول کورنۍ وژني؟!
هغه کس چی لومړۍ په خبرو راغلې وو په ژړا یې
وویل: و دی وژني ... ټول دی و وژني مهم دا دی چې
ما خوشـــ ...

ملګری خبره وریږی کړل او پر کنځلو یې ورته پیل
وکړو خو غږ یې یوه شیبه کې بند شو ... وینه په
چټکې سره د هغه د پری شوی ستوني څخه په
راوتېدلو شول د خر خر غږ یې ما اوریدی په سترګو
مې توره شپه راغله، یو ګام د کړکۍ د څنګ بې اختیار
لری شوم ویې واژه؟ عزیزی هغه کس وواژه؟! د هغه
لاس کې چاقو وو .. عزیزی زما په مخ کې یو کس
وواژه، څه نه وه پاتې چې د بېر وېرې څخه همله بې
هوښ شم په یوه شیبه کې د هغه کس وینې ټول
ځمکه سره کړل او هغه داسې خپل بدن خوځاوه لکه
یو حیوان چې د نفس ورکولو حال کی وی؟!

عزیزی داسي حال کې چې خپل چاقو يې په دسمال پاک کاوه کرار سګريټ واهه، بغير له دی چې هغه کس ته چې اخری ساه ګاني اخیستل وګوری د هغه لومړی کس خواته لاړو همدا چې ورته نږدی شو هغه کس خپل پرتوګ کې میتازی وکړل ...

عزیزی- اه رزیل ډارن ...

یو قدم د هغه کس څخه شاته لاړ او ويې ویل: هر څومره ژر چې په خبرو راشې هغومره به دی درد کم وی، که ښه معلومات راکړی خوشې کوم دی نه تنها ته!؟ بلکی کورنی دی هم ژغورم ..

سرې په ژړا خپل سر وخوځاوه او ويې ویل: ق... قسم اخلی؟ و .. وعده راکوی؟
عزیزی په پوسخند خپل ږیره کې لاس کش کړو او ويې ویل: هو وعده درکوم، اوس ژر کوه خبری وکړه یو بی ادب پیشو دی کور کېده چې باید ادب يې کړم

تر څو پوه شې کله چې ورته وايم موټر کې پاتی شه باید پاتې شې ...

د دی خبری وروسته بغیر له دی چې ښور وخوری سترګي زما خواته راواړول زړه مې د څو شیبو لپاره حرکت ونکړو لیدلې وم؟ د عزیزی د سترګو په تعقیب ارسلان هم په حیرت د کړکۍ خواته راوکتل او د لومړۍ ځل لپاره ما د هغه په سترګو کې د شک سره حیرت هم ولید، خو ډیر ژر یې ځان راټول کړو او ویې ویل: هر څه یې ولیدل؟

ما حرکت نشو کولای فکر مې کاوه پښې مې کار نکوی جام ولاړ وم او هغوی ته مې کتل ..

عزیزی- کرار یې راونیسه نغواړم خوږ یې کړی.

د عزیزی په دی خبره ارسلان زما خواته رامنډه کړل او تازه هغه وخت زما عقل سر ته راغلو او د کور د دروازی خواته مې مخ کړو او په منډه شوم، عزیزی زه

ژوندی نه پريخودلم د دی کار د ليدلو وروسته يې خو بيخې ژوند نه پريخودلم د ډېر وېرې څخه مې لاس او پښې لړزيدل او سم نشوم ځغاستلې ...

د کور تر دروازی مې واټن زياد وو د پښو د نږدی راتلو غږ مې اوريدو په يوه شيبه کې د دی څخه مخکې چې د دروازی څخه ووځم يو ځواکمن لاس مې پر اوږو راچاپير شو او شاته يې کش کړم ...

– ښه به دا وی چې بيځايه لغتې ونه وهې او په کراره زما سره راشې،مشر غوسه دی.
د وېرې څخه لړزيدم مخ مې وګرځو او غوښتل مې ويې وهم او ورڅخه وتښتم خو بريالي نشوم باور مې نه راتلو ارسلان دومره ځواکمن وو؟! لکه چې عزيزی خپل هر کس په بيحد غور انتخاب کړی وو؟ د څهرې څخه دومره هم قوی ماته نه ښکاريدو خو اوس چې لاس په ګريوان شو بايد ومنم چې زور يې زما څخه ډېر وو.

- پربېږده چې لاړشم ... خیر دې ... ما ... ما څه نه دې لېدلې .. خیر دی خوشې مې کړه ... چا ته څه نه وایم .. قسم دی ...

ارسلان- راځه دننه لاړشو مشر به پریکړه وکړې چې ژوندی دی پرېږدی کنه؟

د هغه په دی خبره مې د خولې لاړی تېر کړل، عزیزی پریکړه وکړی چې ما ژوندی پرېږدی کنه؟ په دی خبری کې خو شک نشته چې هغه ما وژني ... په دی فکر یوځل بیا ورسره په کش مکش شوم ترڅو ځان ورڅخه خوشې کړم خو هغه دومره کلک نیولې وم چې ښور مې نشو خوړلې، په زوره یې ځان پسې د کوټې خواته کش کړم البته د دویم کوټې خواته کوم کې چې څوک نه وه، کله چې هلته ورسېدو نو په تلوار یې د کوټې دننه ټیله کړم او دروازه یې راپسې بنده کړل ..

د دروازی د بند کیدلو غږ مې چې واورید لا وډار شوم ځان مې د دروازی خواته ورسو او څو ځله مې لاستې

ورڅخه پورته او ښکته کړو دا منحوس دا یو دقه کې قفل د کوم خوا کړو؟ لکه چې جیب کی ساتلې وو؟

- ارسلان خیر دی دروازه خلاصه کړه ... پخدای چا ته څه نه وایم، اصلاً فکر وکړی زه هلته نه وم، پریږدی چې لاړشم پخدای چا ته څه نه وایم ..

هر څومره مې چې چغي کړل د هغه خوا مې کوم ځواب تر لاسه نکړو لکه چې تللې وو؟ په دی فکر وېره مې په غوسي بدل شوه دروازی ته مې په زوره لغت ورکړل.

- خلاصه کړه دا دروازه حرمو*ی ته حق نلری ما دلته بندی کړی، رزیل، خبیث تاسو یو نفر ووژولو که پولیسان خبر شې ټول زندان ته اچوی اعدام کوی مو، پریږدی زه لاړشم قسم اخلم چې چاته څه نه وایم،خو که خوښې مې نکړی پخدای پولیسانو ته ټول خبری کوم ..

د قفل د خلاصیدو غږ مې واورید په خوشحالۍ څو ګام شاته شوم لکه چې ګواښونو مې کار وکړو؟ خو کله چې کوټې ته راننوتلې کس باندی مې نظر ولګید د خولې لاړی مې په وېره تېر کړل عزیزی؟! څو ګام شاته شوم هغه کامل کوټې ته راننوت او دروازی د ځان پسې بند کړل، بغیر له دې چې ما ته وګوری لګیا وو خپل د لاس ساعت یې ترو او سر یې ښکته وو.

عزیزی- ولې د موټر څخه راښکته شوی؟
- ه ... هغه ... ما... ما هېڅ نه دی لیدلی ... زه .. زه هیچا ته هېڅ نه ... وایم خیر دی ما خوشی کړه ...
عزیزی سر راپورته کړو او بیا یې خپل پوښتنه تکرار کړل: ولې د موټر څخه راښکته شوی؟ دلیل؟ یوازی یو دلیل راوړه ترڅو و دی نه وژنم، البته باید دلیل دی قوی وی ..

د هغه په دی خبره ذهن کې مې د یو ښه دروغو پسې په ګرځیدو شوم او ډېر ژر یو مناسب دروغ مې پیدا

کړل نو ځکه په تلوار مې وویل: ه ... هغه زه .. زه راغلم تر څو ... تاسو ته ووایم چ ... چې زما .. پلار زنګ وهلې ... او .. او لږ مریض دی ... غوښتل مې ووایم چې یو څه ژ ... ژر لاړشو د دی ځای څخه ... چې ... چې ناساپه ...هغه ... هغه ...

عزیزی خپل سر وخوځاوه او کرار یې وویل: اوممم دلیل دی لږ قانع کوونکي وو نو مه وېرېږه نه دی وژنم.

د هغه په دی خبره نه پوهېږم ولې خو زړه مې بیغم شو او وېرېدل مې هم لږ کم شول، شاید عجیب په نظر راشې خو ما د یو خلافکار چې څو شیبې مخکې زما په مخکې یو قتل کړې وو خبری باندی اعتماد درلود؟! او فکر مې کاوه چې دروغ نه وایې؟ البته هغه دروغ ویلو ته مجبور هم نه وو که غوښتل یې ما ووژني نو چا یې مخ نیول؟ نه ... نو ولې وغواړی دروغ ووایې؟

زما په کرار کیدو عزیزی خپل یوه وریځ په حیرت پورته واچول او داسی حال کې چې خندل یې ویې

ویل: عجیب ده تا زما په خبري باور وکړو؟
- ه ... هو نو ... خو تا ویل نه دی وژنم؟!

زما په دی خبره د هغه خندا لا پسي زیاته شوه، کله چې ښه یې وخندل نو ویې ویل: یعني ته زما په خبری باور لری؟

- فکر کوم ته دروغ ویلو ته مجبور نه یې؟ که وغواړی ما ووژني نو ... نو د هغه کس پشان مې وژلي شي بغیر له دی چې کوم څوک خبر لا شې نو ولې باید اوس راته د دروغو د ژوندی پاتي کیدلو وعده راکړی؟
عزیزی په ځلانده نظر راوکتل او ویې ویل: اوممم ته ډېر هوښیار هلک یې افرین خوښ مې شوی، زه د رښتیا هم نغوارم تا ووژنم ما د اول ورځې څخه ستا داسې خبره منل او اطاعت کول خوښېدل ...

- یعنې اوس پریږدی چې زه لاړشم؟
عزیزی پوسخند وواهه او ویې ویل: ته بندی نه یې، ویلې مې وه کنه خپل دی رسوم؟ اوس هم خپله دی

ورم خو یو کوچني شرط لرم ... بلاخره تا یو قتل خپل په سترګو لیدلې او امکان لری راتلونکی کې ما ته خطر جوړ کړی؟!
په تلوار مې وویل: نه ... نه زه هیچا ته هېڅ نه وایم قسم اخلم باور وکړی .. زه چاته څه نه وایم.

عزیزی- زه هم غوارم باور وکړم خو د باور کولو لپاره ومې ویل کنه یو شرط لرم؟
- څ ... څه شرط؟
عزیزی- ګوره زه څوک کوم کار ته نه مجبور کوم که تا زما په خبری عمل کړی وایې او موټر کې پاتي شوی وایې نو آرام،آرامي به وایې خو تا ځان پخپل دی موضوع ته راکش کړو نو اوس مجبوره یې چې زما سره اوسیږی.

- څ ..څنګه؟ زه پوه نشوم؟
عزیزی- اوس چې هر څه دی لیدلې نو یا به زما سره

پاتي کيږی يا دی هم مړ کوم، نشم کولای د دی موضوع وروسته دی ازاد پريږدم.

د هغه دا خبره مې څو ځله ذهن کې پورته ښکته کړل يعنې عزيزی غواړی زه د هغه د ډلې سره يوځای شم؟ يعنې غواړی زه د "الفا" ګروپ ته لاړشم؟ عجب موږ په آسمان کی د دی شانس پسې ګرځيدلو او ده پر ځمکه راکړو؟ که بوډا او جنرال خبر شي چې عزيزی زه خپل ګروپ کې داخل کړی يم د خوشحالې څخه به مړه شې ... کوښښ مې وکړو خپل احساسات راکنټرول کړم چې هسې نه د ډير خوشحالۍ څخه لکه د ليونيانو پشان وخاندم او ځان رسوا کړم، بايد داسې وښايم لکه زه خو د هر شي څخه ناخبره يم؟!

- څن ..څنګه ستاسو سره بايد اوسيږم؟ ز .. زه خو او .. اوس هم تاسو ته کار کوم!؟
زما په خبره د عزيزی پر شونډو عجيب مسکا راغلل او ويې ويل: د دی وروسته يو څه نور کار هم بايد وکړی

البته وېربږه مه پر تا دومره سخت نه نیسم ...
- غ ... غواړې پر ما باندی هم انسان ووژني؟
عزیزی پخندا شو او ویې ویل: ستا سره خبری کول مې خوښیږی خو ناوخته ده، تا وویل چې پلار دی لږ مریض دی او زنګ یې وهلې وو؟
ژر مې سر د "هو" په بڼه وخوځاوه چې هغه وویل: نو راځه چې لاړشو نور خبری به په موټر کې وکړو ..

د دی خبری سره سم هغه له کوټې ووت زه هم ورپسې شوم، کله چې له کوټې ووتلم او د کور د دروازی خواته مې غوښتل لاړشم نو بې اختیاره مې نظر د هغه کړکۍ خواته شو، زه د اول هم پوهېدم چې دی ماموریت کې به وژنه او جنګ ګورم خو دا ډول مرګ کیدل مې نشو هضم کولای زه کوم نظامي کس نه وم چې ټول عمر مې داسی کارونو او پیښو کې تېر کړی وی چې اوس دا پیښه راته عادی ښکاره شي، زه یو عادی کس وم چې دا ډول شیان مې یوازی په فلمونو او سریالونو کې لیدلې وه

خو اوس چې د نږدی څخه خپل په سترګو د دی پیښو شاهد وم نو د لیدلو طاقت مې نه درلود، د کوټې فرش پر وینو تک سور وو خو کوم کس نه ښکاریدو نه هغه جسد او نه هم کوم بل کس د عزیزی پر غږ پر خود راغلم.

عزیزی- کوم څه هلته نشته، راځه ..

د هغه په دی خبره مې د خولې لاړی تېر کړل او بغیر د نور څه ویلو له کور ووتلم ارسلان موټر کې ناست وو، بغیر د څه ویلو یې په مشکوک نظر راکتل د هغه د داسی کتلو څخه دومره بد مې راتلل چې حد یې نه درلود، بل موټر شاوخوا نه ښکاره کیدو لکه چی همغه د حویلې موټر کې ټول تللې وه او مړی هم لځان سره وړی وو؟ یا شاید مړی کوم چیرته پټ کړی وی او دوی له دی ځایه تللې؟!

هر څه چې وو خو اوس بغیر زموږ دړې کسانو څخه مرغه هم دلته پر نه واهه،که څه هم د عزیزی څخه مې

اوس وېره او وحشت بيحد ډېر شوی وو خو د مجبوری څخه خپل پخوانی ځای کې کښیناستم زما په نظر د عزیزی ځنګ کې اوسیدل د ارسلان څخه غوره دی؟ زما په نظر ارسلان د عزیزی څخه ډېر بتر دی، البته موضوع لږ راته مشکوک ښکاریدل؟! عزیزی باید د دی دومره خبرو د پوهیدلو وروسته زه وژلي وایې؟ نه دا چې ما خپل په ډله کې شامل کړی؟!

اخر ولی هغه زه و نه وژلم او شرط یې کیخود ترڅو د هغه سره کار وکړم؟ زما د کښیناستلو سره سم موټر حرکت وکړو عزیزی خپل د جیب څخه یو سګریت راوویست او داسي حال کې چې روښانه کاوه یې ویې ویل: ته زما په خبرو سم پوه شوی؟
- هو ... خو .. خو زه کوم څوک نشم وژلي ..
زما په خبره د عزیزی تندی تروش شو څو شیبې په دروند نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: زه هم نغوارم پر تا کوم څوک ووژنم، دومره دا خبره مکوه عصاب مې خرابیږی.

- س..سمده.

عزيزی خپل د سګريټ څخه غټ کش واخيست او بيايې ټول دود زما پر مخ را خوشی کړو د هغه په دی کار پر ټوخ شوم چې هغه په شيطان خندا وويل: حتا دا خاصيت دی لا د هغه پشان دی؟! څنګه امکان لری يو کس دومره د بل کس پشان اوسيږی؟ نوم دی،خوی دی، اخلاق دی،کارونه دی، څهره دی ... حتا وېرېدل دی ... څنګه امکان لری؟ کله ناکله فکر کوم چې وخت شاته تللې ...

په ګنګس انداز مې وروکتل نه پوهېدم چې څه وايې؟ او څوک يې مطلب دی؟ خو د هغه په لهجه کې عجيب غوندی درد او افسوس په نظر راتللې؟ د څو شيبو زير کتلو وروسته چې زما عصاب يې راخراب کړل بلاخره هغه خپل نظر واخيست او مخ يې وګرځو او بيرون ته په کتو شو، نه پوهېدم چې عزيزی زما څخه څه کار غوارې؟ خو همدومره چې ويې ويل کوم

کس راباندی نه وژني باید شکر مې ویستلی وایی که د موادو ورېل،راوړل یا قاچاق وی د هغه سره مې کوم ستونزه نه درلودل ځکه زه خو دوه جانب جاسوس په حساب راځم؟!

نو بوډا او جنرال به راسره مرسته وکړې په دی فکر ما هم د بیرون خواته کتل شروع کړل او د لومړۍ ځل لپاره مې احساس کاوه چې یو ګتور کار می ترسره کړی او که بوډا په دی خبره پوه شې نو سخت به خوشحال شې، دقیقي او ثاني مې شمارل ترڅو بوډا ووینم او دا خبر ورته ورکړم البته دی منځ کې د هغه کس د مړه کیدلو صحنه مې هم ذهن کې ګرځیدل او څه ناڅه طبعیت یې راخراب کاوه،ما یې مخونه صحیح و نه لیدل نه پوهیدم چې څوک وه؟ او ولې عزیزی داسی رانیولې وه؟ خو دومره پوهېدم چې ضرور یو ډیر بد کار یې د عزیزی په حق کې کړی چې هغه داسې ورته غوسه وو؟

عزیزی زه د شرکت لځایه کور ته ورسولم کله چې غوښتل مې د موټر څخه ښکته شم نو هغه مې اوږه ونیول د هغه په دی کار مې وروکتل چې هغه کرار وویل: امید لرم چې خپل د وعدی څخه پر شا نشې، ځکه زه دومره مهربان کس نه یم بلخصوص د هغه چا حق کې چې خپل وعده ماتوی؟!

- پخدای چا ته څه نه وایم.

عزیزی- زه هم پوهیږم چې څه نه وایې، زما مطلب هغه شرط ته وو؟ کوم چې تا ومنل او ودې ویل چې زما سره پاتي کیږی ...

نه پوهېدم هغه ولې دا خبره دومره تکرارول؟ ما خو منلې وه چې د هغه ډلې کې کار وکړم نو بیا ولې داسې کوی؟ د دی لپاره چې باوری کړم چې هغه ته کار کوم ومې ویل: سمده، تاسو چې هر کار راته ووایست زه هغه کوم بغیر ده ...

عزیزی په تلوار وویل: بغیر د څه؟

- بغیر د کوم کس د وژلو .. زه کوم څوک نشم وژلي

خیر دی دا کار ما ته مه راکوی نور هر کار ووایست زه یی کوم.

زما په خبره عزیزی څو شیبې راوکتل خو ناساپه د لیونیانو پشان پخندا شو، ښه یې چې وخندل د هغه وروسته یې وویل: ته ډېر ساده یې برهان ... ډیر ساده ... ته اصلاً په بل باغ کې چکری وهې ..

زما اوږه یې خوشی کړل او داسې حال کې چې په سترګو باندی د تګ اشاره راته کول په همغه خندا یې وویل: اوس ورځه کور ته دې، سبا شرکت کې د دې موضوع په اړه صحیح خبری کوو.

د هغه په دی خبره ما هم څه ونه ویل او په خوشحالي د موټر څخه ښکته شوم، البته په ظاهره هغه ته مې ځان فکرمند او خفه وښود خو کله چې د هغه موټر د کوڅي څخه ووت نو په تلوار د کور د دروازی خواته مې حمله واچول او ننوتلم زما د ننوتلو سره سم بوډا

هم د کور راووت او په حیرت یې وویل: مه وایه چې هغه موټر د عزیزی وو؟ او هغه ته راوړی؟

د هغه په دی خبر حیران شوم، دې له کوم خوا خبر شو؟
- ته څنګه پوه شوی؟
بوډا- د دروازی مخکې کمره ده.
په حیرت مې وویل: رښتیا؟
بوډا- هو.
- نو ما ولې نه ده لیدلې؟
بوډا- دا خبری پریږده دا ووایه چې عزیزی څه ویل؟ او ولې ته خپل راوړی؟

د هغه په دی خبر د نن ورځې ټول کارونه مې د سترګو مخکې تېر شول او کله چې هغه صحنه کوم کې چې عزیزی هغه سړی لکه یو حیوان پشان حلال کړو ذهن ته مې راغلل نو بدن مې له وېرې څخه ولړزید، بوډا لکه چې زما خراب حالت ته فکر شو چې د کور ته د ننوتلو

يې وويل زه هم بغير د څه ويلو کور ته ننوتلم، د کوم څه د ويلو مخکې بوډا راته يو پياله اوبه راوړل او کله چې ډاډمن شو چې طبعيت مې لږ ښه دی نو د نن ورځې په اړه يې يو ځل بيا وپوښتل او دا ځل زه ورته شروع شوم.

که څه هم منځ کی چندان جالب کيسه نه وه او زياتر زما د وېرې او چغو موضوع وه، خو اخر کې کله چې ورته ومې ويل عزيزی غواړی زه د هغه سره اوسيږم نو د بوډا سترګي د حيرت خلاصي پاتي شوی په تمه وم چې د خوشحالي څخه کوم ريکشن وښايي؟! خو هغه يوازی زما خواته په حيرت راکتل! داسی چې مجبور شوم ورباندی غږ کړم.

- ښه ياست؟ پوه شوی چې څه مې وويل؟

زما په غږ بوډا لکه چې تازه پر خود راغې؟ په تلوار خپل لځايه پاسيد د هغه په دی کار مې خندا راغلل فکر مې کاوه شايد د ډير خوشحالۍ څخه نه پوهيږی چې

څه کوی؟ او یا هم شاید غواړی خپل دا خوشحالۍ د جنرال سره شریکه کړی؟ خو کله چې په همغه تلوار زما خواته بیرته راوګرځید او د هغه دوه کسانو د نومونو پوښتنه یې وکړل کوم چې ما په شرکت کې ورباندی شک کړې وو او د عزیزی په ګیر مې ورکړی وه، نو لږ وډار شوم بوډا هیڅ نرمال نه ښکاریدی؟!

بوډا- نومونه یې څه وه؟
- هغه .. د یو نوم خالد وو بل نعمان ..

بوډا زما خبره په مخابره کې یو چا ته وویل نه پوهیدم چې ولی داسې کوی؟ دې باید اوس خوشحاله وایې ما د "الفا" ډلې ته لاره پیدا کړی وه او زه اوس د هغه ډلې غړی په حساب راتلم؟! نه پوهیږم د مخابري شاته کس څه وویل چې بوډا نفس په سینه کې بند شو، زما خواته نظر را واچو او څو ځله یې خوله خلاصه او بنده کړل خو هېڅ یې ونه ویل د هغه حالت ورخطا کړم په تلوار څنګ ته یې ورغلم او مرسته مې ورسره

وکړل ترڅو کښېنې، کوم اوبه چې هغه ماته راوړې وه همغه مې بیرته هغه ته ورکړل نه پوهیدم چې څه یې اوریدلې چې داسې ورخطا شوی؟

خو دومره پوهیدم چې چندان ښه خبر نه دی او د هغه څخه لا بتر دا چې پوهیدم دا خبر په ما باندی ارتباط لری؟! د څو شیبو وروسته چې بوډا لږ ښه شو نو مخابره یې پر نالې ګوزار کړل او ما ته چې ورخطا یې سر ته ولاړ وم د کښیناستلو وویل، زه هم په تلوار کښیناستم ترڅو واورم څه شوی؟ او څه خبره ده؟

بوډا- طاها پوهېږې تا چې کوم دوه کسان د عزیزی په ګېر ورکړل هغه څوک وه؟
د هغه په دی بډول پوښتنې کولو لږ و وېرېدم او هېڅ ښه احساس مې ورڅخه وانخیست نو ځکه یوازی سر مې د "نه" په بډول وخوځاوه چې بوډا په یو ناباوره او عجیب خندا وویل: هغه زموږ کسان وه ... مطلب تا

زمونږ خپل کسان د عزیزی په لاس ورکړل ...
په حیرت مې وویل: څـــه؟؟

بوډا- څه چې دې واوریدل، البته ته په دی کار کې ملامت نه یې، ملامت مونږ یو چې تاته مو خپل کسان معرفي نکړل(ناساپه غوسه شو او ویې ویل: دا ټول د هغه حمیدي له لاسه هغه نه غوښتل تاته د ماموریت ټول کسان در معرفي کړو، که هغه مونږ پریخودلې وایې ترڅو د عزیزی په شرکت کې زمونږ موجود کسان درته معرفي کړو نو اوس به داسې نه وایې شوې، دا ستا ګناه نه ده، هغه خپل په بیعقلي خپل نفران مرګ ته ورکړل، تشویش مکوه ما چا ته نه دی ویلې چې تا هغوي د عزیزی په ګیر ورکړی؟ نو ته هم ځان ناګاره واچوه پریږده ټول فکر وکړې چې عزیزی پخپل هغوی ګیر کړی او وربانده‌ی شکمن شوی ...

د بوډا په هر خبره مې خوله د حیرت خلاصه پاتي کیدل ما څه کار کړی وو؟ ما .. ما خپل کسان ... خپل

همکاران ... د .. د عزیزی په ګیر ورکړی وه؟! هسې نه هغه دوه .. هغه ... دوه نفر کوم چې عزیزی شکنجه کول همدوي وه؟ په دی فکر زړه مې له حرکت وولید ..

- ما ... ما وویل چې ... چې عزیزی نن دوه نفر نیولې وه او .. او یو یې ورڅخه وواژه ما ... ما د هغوی مخونه و نه لیدل ایا ... ایا هغه دواړه خو .. خو نعمان او خالد نه وو؟

بوډا- آرام اوسیږه طاها .. نه، هغه دوه کسان نعمان او خالد نه وو ..
د بوډا په دی خبره تازه مې نفس خلاص شو او د خدای شکر مې ادا کړو چې زما د بیعقلۍ له لاسه دوه بې ګناه کسان نه دي وژل شوی، خو د بوډا په خبره دا خوشحالۍ مې ژر پای ته ورسېدل.

بوډا- خو ... د غرمې څخه هغه دواړه نادرک دی؟ نه ورڅخه حمیدي خبر لری چې چیرته تللې؟ او نه هم جنرال او یا کوم بل څوک، زه فکر کوم ستا د شک په

سبب عزیزی هغوی دواړه نیولې(د هغه په خبره مې رنګ د وېرې ښخه وپرېد چې بوډا په تلوار وویل: خو مه وېرېږه د تشویش کوم ځای نشته، هغوي غلا نه ده کړې او عزیزی دوي یوازی ستا د شک پر بنسټ نیولې کله چې ثابت شې چې دوي غلا نه ده کړې نو خوشې کوی ...

- تاسو ډاډمن یاست چې عزیزی به هغوي خوشې کړی؟

بوډا- زه ستا حالت درک کولای شم طاها او پوهیږم چې عزیزی خپل په نن کارونو ته تر مرګ وېرولې یې خو هغه دومره هم بیعقل نه دی چې خپل دوه کارمندان کوم چې څه ګناه یې هم نه ده کړی هسې مړه کړی، هغه ډېر هوښیار سړی دې، عزیزی هغوي وړی ترڅو اظهارات ورڅخه واخلې کله چې ډاډمن شو چې بیګناه دی نو خوشې کوی، زه سل په سل ډاډمن یم، البته زما په نظر عزیزی چی هرڅومره هغوی ووهي نو حق یې دې، هغوی څنګه داسې غلطې کولای شې چې

ته ... یو ساده او عام کس پر هغوی مشکوک شې؟
هغوی کلونه په دی برخه کې روزنه لیدلې، هغوي باید بیحد چالاک اوسیږې ...

- که عزیزی هغوي شکنجه کړل امکان لری په شرکت کې موجود نور جاسوسان د هغه په کیر ورکړی؟
بوډا- لکه چې طبعیت دی ښه نه دی طاها؟ عزیزی هغوی د جاسوسي په جرم نه دی نیولې، هغه دوی دواړه ستا د شک پر بنسټ نیولې،کله چې شک یې لری شي نو هغوي ضرور خوشې کوی ...

د بوډا په خبره لږ ارام شوم ځکه هغه بیحد په ډاډ خبری کول، څو شیبې چوپ ناست وم چې د بوډا دروند نظر مې پر ځان احساس کړو کله چې ورومې کتل نو هغه وویل: ما فکر کوو ته به د دی موضوع سره مشکل ولری او سخت مخالفت به وکړی ...؟
په ګنګس انداز مې وپوښتل: د کوم موضوع سره؟
بوډا- همدا د عزیزی د وړاندیز سره.

د هغه په خبره لا ګنګس شوم او ومې ویل: نو ولې مشکل ولرم؟او مخالفت وکړم؟ مګر تاسو ټولو نه ویل چې باید په یو ډول د "الفا" ډلې ته ننوځو؟ نو عزیزی هم زه هغه ډلې ته ننویستلم نو ولی باید خفه اوسیږم؟ او مخالفت وکړم؟
بوډا په حیرت وویل: الفا؟
- هو، نو! تاسو زما خبری کامل واوریدل؟ ما وویل چې عزیزی غواړی زه د هغه سره ډله کې اوسیږم؟!

بوډا څو شیبې په حیرت،افسوس، او نامیدی راوکتل د هغه وروسته یې خپل سر په دواړه لاسونو کې ونیو د هغه دی کار ته مې حیرت راغلو دا ولې نن داسې کوی؟ د دی لځایه چې خوشحال شی داسې پر افسوس او نامیدی ما ته ګوری؟
د څو شیبو وروسته یې سر راپورته کړو او ویې ویل: تاته چا وویل چې هغه تا د "الفا" په ډله کې نیسی؟

دا ځل ما حیرت وکړو او ومې ویل: لکه چې ستاسو حالت ښه نه دی؟ خو دا درې ساعت کیږي چې وایم عزیزی ویل ته باید زما سره ډله کې اوسیږی کنه مړ کوم دی. ما هم د هغه وړاندیز ومنو ځکه زموږ ماموریت هم همدا وو چې دی ډلې ته ننوځو کنه؟
بوډا- هغه تاته خپل په خوله وویل چې ته باید د "الفا" ډلې ته راشې؟ ایا هغه د "الفا" نوم واخیست؟

لږ مې فکر وکړو او ومې ویل: نه نوم خو یې وانخیست خو موږ پوهیږو چې هغه د "الفا" ډلې کې کار کوی او د هغه مافیا راسته لاس دی نو کله چې ویې ویل زما سره به اوسیږی او کار به کوی نو زه پخپل پوه شوم چې مطلب یې همغه د "الفا" ډله ده ..
بوډا- خو ته غلط پوه شوی یې ..
- هغه نو څنګه؟
بوډا- ته ډېر ساده یې طاها ... د هغه مطلب د "الفا" یا کوم بل ډلې ته نه وه ...
په ګنګس انداز مې وپوښتل: نو څه ته وه؟

بوډا یو ځل بیا په هغه نامید او افسوس ناک نظر راوکتل او ویې ویل: درته وایم خو قول راکړه چې غوسه کېږې به نه سمده؟

- نه ولې باید غوسه شم؟
بوډا- که څه هم پوهېږم چې سل په سل غوسه کیږې خو مجبور درته ټول کیسه وکړم ترڅو یو وخت په ناساپه حرکت کې راګیر نشې ..

د بوډا په هر لفظ ویلو مې بد احساس کاوه، نه پوهېدم چې څه خبره ده چې بوډا وېرېږی چې زه غوسه نشم؟

بوډا- ما تا ته لومړۍ ورځ ویلې وه چې موږ د"الفا" د ډلې پر خلاف څو کاله مخکې یو عملیات تر سره کړې وو چې هغه عملیات کې مو د "الفا" د ډلې درې مهم کسان ونیول چې ..
خبره مې ورپرې کړل او ومې ویل: پوهیږم بیا هغه درې کسان "الفا" پخپل زندان کې ووژل ترڅو تاسو ته معلومات درنکړی.

بوډا- هو، افرین نو هغه نیول شوی کسانو کې د یو نفر نوم برهـــان وو ..!
کرار مې دا نوم د ځان سره زمزمه کړو برهـــان ..!
- دا خو زما نوم دی کنه؟ همدا چې تاسو ماموریت کې ماته راکړی؟
بوډا شاوخوا وکتل داسې لکه چې ما ته د کتلو جرئت نلری؟ او ویې ویل: هو، همغه نوم دی ګوره طاها زه په دی خبره نه وم خبر یعنې موږ یو نفر هم په دی موضوع نه وو خبر بغیر د جنرال څخه ...

- په کوم موضوع؟

بوډا- هغه ... هغه ...څنګه ووایم ګوره دا عزیزی یو څه عجیب غریب خاصیتونه لرې، یو د هغه خاصیتونو څخه یې دا دې چې .. چې ..هغه ... هغه ... ( په حیرت مې د بوډا دی ورخطا لهجې ته کتل نه پوهیدم چې څه غواړی ووایې چې داسی په ویلو کې زړه نا زړه دی؟ خو کله چې د څو شیبو وروسته یې خپل

خبره پوره کړل زړه مې ویل کاش همغه نیم کې دا
خبره پریخودلې وایې او هیڅکله یې نه وایې کړې ...

بوډا- عزیزی بچه باز دی ... البته پوره بچه باز نشو ورته ویلې ځکه هغه د دی کارونو څخه مخکې واده کړې وو او ښځه یې درلود خو کاله مخکې په یو پیښه کې د هغه ښځه او ماشومان ووژل شول البته تر کوم ځای چې موږ خبر لرو دا کوم پیښه یا تصادف نه وو بلکې یو انتقامي برید وو چې هدف یې پخپل عزیزی وو خو لکه چې د ده مرګ نه وو پوره چې د ده لځایه د ده کورنۍ ووژل، د هغه وروسته تر خو کالو عزیزی یوازی وو البته موږ فکر کو چې تر همدا اوس یوازی دی؟؟ خو هغه عملیات کې کله چې موږ هغه هلک ونیو په ظاهره یوازی د "الفا" د ډلې یو کس وو خو جنرال د هغه څخه په پټ اظهارات اخیستي وه او معلوم کړې وو چې هغه هلک اصل کې د عزیزی *** مطلب د عزیزی نفری دی او په عزیزی بیحد ګران دی ...

جنرال غوښتل د هغه هلک په سر د عزیزی سره معامله وکړی، عزیزی هم لکه چې غوښتل د هغه د ژغورلو لپاره زموږ سره څه ناڅه همکاری وکړې خو د هر څه د کولو مخکې "الفا" هغه درې کسان ووژل، د دی هلک د مرګ په سر عزیزی او "الفا" تر څو وخت یو د بل سره په جنګ وه البته اوس هم یو د بل څخه یې څه ناڅه ښه نه راځې خو بیا هم یو د بل سره کار کوي، خو د عزیزی د کارونو څخه موږ ته داسې ښکاری چې هغه په نه زړه د "الفا" سره کار کوی؟!

نو ځکه موږ ټول عملیات د عزیزی خوا ته متوجه کړی، عزیزی هغه لاره ده چې موږ به تر "الفا" او د هغه تر بربادي رسوی، خو د دی باوجود چې عزیزی د "الفا" څخه بد راځې بیا هم د هغه پر خلاف کوم کار نکوي تر دې حد چې دا دوه کال کیږی موږ لګیا یو چې د ده په واسطه "الفا" ته ورسیږو خو عزیزی زموږ یو نفر لا نه دی پریخودلې چې د "الفا" ډلې ته نږدی ورشې ننوتل خو پکې لرې، تر دی چې جنرال ته معرفي کړی او اصل

کې ته یې د عزیزی د مړ شوی نفری په توګه هغه ته وړاندی کړی، لومړۍ کې موږ فکر نکو چې دا پلان دی مثبت اغیزه وکړي؟!

خو کله چې عزیزی ستا سره داسې دوستانه مخکې راغلو نو موږ لږ امید پیدا کړو البته د عزیزی د نن په کار سل په سل ډاډه شو چې یو امید شته "الفا" ته تر رسیدلو، موږ دا یو میاشت کې په دی خبری پوه شوی وو چې عزیزی به ستا د ساتلو لپاره هرومرو یو کار کوی خو دا خبره مو ذهن ته نه وه راغلې چې هغه دی د یو قتل د لیدل په بهانه تا و وېروي او خپل ځنګ ته د پاتي کیدلو وړاندیز درکړي ...

دا ځو یم ځل شو چې اعتماد کوم او په بدل کې مې دوکه نصیب کیږی؟ولې باید تل زما سره داسې کار وشي؟ زه یوازی غواړم یو عادی ژوند ولرم د نور خلکو پشان غواړم خپل د کورنۍ سره بغیر د کوم ستونزي او مشکل څخه وخت تېر کړم بیا ولې داسې کیږي؟

لومړۍ څو کاله د پيريانو له لاسه پعذاب وم او شپه ورځ راکې ورکه وه، کله چې هغوی څه ناڅه پريخودلم خبر شوم چې مور مې مړه ده او د مرګ سبب يې هم زما انا ده کوم چې راته د مور حيثت درلود،د هغه څخه بتر دا چې کوم چا ته چې ما خسر ويل استاذ ويل هغه اصل کې زما ماما وخوت؟!

دا خبری مې هضم کړی نه وه چې اقرا هغسې مريض شوه، او اوس .. اوس تازه مې پر جنرال باور راغلې وو چې هغه داسې کار راسره وکړو اخر ولې؟ اوس تازه د عزيزی د کارونو په دليل پوهيدلم د هغه حرکات،خبری، خندا هغه ماته وويل يا به زما سره اوسيږی يا مړ کوم دی؟ او ما وويل ستا سره اوسيږم، مطلب ما خپل په خوله هغه ته وويل چې صحيح دی زه ستا نف ... الله اکبـــــر دا لفظ مې لا نشو ويلې ..

ناساپه دومره غوسه شوم چې احساس مې کاوه د غوږونو څخه مې دود وځې، خو د دې څخه مخکې

چې خوله خلاصه کړم ځان سره مې وویل د دی ټولو کارونو ملامت اخیر څوک دی طاها؟ ایا د ربښتیا جنرال ملامت دی؟ نه هغه ملامت نه دی،که لس سلنه هغه ملامت وی نو نوي سلنه زه پخپل ملامت یم، که ما لږ عقل او جرئت درلود نو د دی ښځه مخکې چې په پټو سترګو د جنرال خبره مې منلې وایې باید لومړۍ مې د ماموریت او د هغه ټول کسانو په اړه ورسره بحث کړی وایې نه دا چې په پټو سترګو میدان ته راټوپ کړم، ملامت هغه نه دی که ما هم داسی یو ساده خر انسان لکه خپل د ځان پشان پیدا کړی وایې نو داسی کارونه مې ورباندی کول ...

زه یو ساده، جاهل، ډارن، او بې زړه انسان یم ما خپل ټول ژوند د ذوالفقار د سایي لاندی تېر کړې هر ستونزه چې راتلل نو د هغه شاته پټ کیدلم، خپل د ژوند هر مشکل ته مې هغه وړاندی کاوه او اوس چې د ربښتیا میدان ته راغلې وم نو نه مې شو درک کولاې چې انسانان تر دی حد خبیث دی، ما ژوند کې چا ته چل نه

وو ورکړی، چا ته مې دروغ نه وه ویلې، کوښښ مې کړی وو تل ښه اوسیږم او فکر مې کاوه څکه چې زه ښه یم نو ټول ښه دی؟! خو نن پوه شوم چې ټول ښه نه دي؟!

او تل ښه اوسیدل هم ښه نه دی، که ډېر ښه اوسیږی نو خلک درباندی د ساده او بیعقل گمان کوی کوم چې پر ما باندی شوی وو ... بوډا په تمه وو چې زه کوم لیونتوب یا جنګ وکړم خو ما هېڅ ونه ویل څه مې ویلو ته نه درلود، هغه متل دی وایې: خود کرده راتدبیری نیست، اوس هم خپل مې کړی وه چې لعنت دې وې پخپل باندې مې .. کرار لځایه پاسېدم او د کوټې څخه ووتلم بوډا هم جوخت زما پسې راووت.

بوډا- چیرته روان یې؟

خپل بوټونه مې راوخیستل ترڅو پر پښو یې کړم خو بوډا مې لاس ونیو او په ورخطایی وویل: تا ته وایم چیرته روان یې؟

خپل لاس مې په غوسه ورخخه کش کړو نه مې غوښتل د ده سره کوم جنګ وکړم زړه مې نه منل چې یو بوډا سپین ږیری سړی دې ووهم، البته ده ګناه هم نه درلود حتا جنرال هم نه وو ملامت ټول ملامت زه پخپل وم، نو پر چا مې چغې نشو وهلې او بل کس مې نشو ملامت کولاې بوډا لکه چې زما د چوپتیا څخه وډار شو چې په تلوار او خواهشمند لهجه یې وویل.

بوډا- ما ته وګوره طاها ..! زه پوهېږم چې غوسه یې او فکر کوی موږ درته چل درکړی خو باور وکړه دا زموږ اخری لاره وه موږ دوه کال کېږې چې هر رسۍ ته په دې امید لاس اچو ترڅو تر عزیزی او بیا تر "الفا" ورسیږو خو عزیزی موږ خپل سل متری ته لا نږدی نه پرېږدې خو ته د یو میاشت په موده کې دومره هغه ته نږدی شوی یې چې هغه شخصاً خپل موټر کې تر کور راورسولې؟ دا نه منونکي پرمختګ دی که څه هم لاره یې غلطه ده خو پایله یې روښانه ده!

عزیزی ځومره چې حیوان ښکاری هغومره هم نه دی، شاید په نه خبر کوم کس ووژني خو ستا سره کوم کار نلری مورې ... مورې ...نه پریږدو چې ... چې ...

ور ومې کتل هغه خپل خبره پوره نشو کړی پوسخند می وواهه او د هغه خبره مې ورپوره کړل: تاسو زما ساتنه کوی کنه؟ زما ساتنه کوی ترڅو عزیزی پر ما جنسې تېری ونکړی؟

بوډا خپل شونډه وچیچل او په شرم باندی سر ښکته واچو چې ما وویل: پوهیږی حاضر وم په دی ماموریت کې مړ شم ... خو د شرافت مرګ مې غوښت... نه داسې مرګ ... ما د هغه پیسو څخه شل لک افغانۍ مصرف کړی نور ټول مې په بانک کې ساتلي،تر سبا اتیا لک افغانۍ حوزی ته دراستوم، هغه شل لک نور هم همدا چې کور مې خرڅ کړو درکوم یې پاتي کیږی خبره د ګوردې هغه هم حساب کوم، غم مکوی زه ستاسو پشان حرام خور او چلباز نه یم، بلخصوص که

زما د کورنۍ خبره منځ کې اوسيږی نو زه تل کوښښ کوم د صحيح لاری د هغوي سره مرسته وکړم، سر له سبا ګورم د بازار په نرخ څومره چې يوه ګورده خرڅيدل هغومره پيسي تاسو ته درکوم.

لځایه پاسيدم چې بوډا هم راسره پاسيد ...
بوډا- طاها ... ته .. ته داسې نشی کولای.

په پوسخند مې وروکتل هيڅ احساس مې د هغه داسې خبرو ته نه درلود هيڅ ...
جيب ته مې لاس کړو د هغوی راکړی موبايل او تذکره مې د هغه په سينه ووهل او ومې ويل: دا هم ستاسو شيان، البته زما تذکره او موبايل ستاسو لاس کېده، همدا چې پيسي می درکړل هغه اخلم ...

د دهليز څخه د کور تر دروازه بوډا راپسي وو يوه خبره يې د زارۍ او خواهش کول بل خبره يې د ګواښ او زور ... خو ماته يې يوه خبره هم مهم نه وه، کله چې غوښتل مې د کور څخه ووځم نو هغه له اوږی کش

کرېم داسی حال کې چې د ډېر غوسی څخه یې ستمي کاوه ویې ویل: ځان څخه خر مه جوړه،ګوره اوس خبره تر خبرې تېره ده .. نور نشې کولای ماموریت پرېږدی که موږ اجازه هم درکړو بیا هم نشې تللې ... د عزیزی نظر پر تا دی که لاړشې درپسې ګرځې او کله چې دی پیدا کړې نو ژوندی دې نه پرېږدي ..

- راته مهم نه ده، هر غول چې خوری و دی خوري ..

غوښتل مې حرکت وکړم چې هغه بیا راکش کړم او دا ځل تقریبا په زارۍ وویل: ګوره طاها ته زما د زوی پشان یې زه ستا بد نغوارم، ګوره عزیزی کوم معمولې کس نه دی که خبر شو چې ته اصل کې پولیسانو ته کار کوی او په داسې یو نقشه ورته نږدی شوی یې نو فرق نکوی چې د ماموریت په منځ کې پښیمانه شوی یې او کنه؟ هغه ډېر بی رحم سړی دی، که خبر شو نو نه یوازی تا وژني او زموږ ټول پلان او جاسوسان به

لمينځه ويسي بلکي ستا کورنۍ هم لمينځه وړی ښځه دی،ماشوم دی، کورنۍ دی ټول ...

څو شيبي مې وروکتل د هغه وروسته پخندا شوم زما پخندا بوډا په حيرت راوکتل چې ما وويل: که د څو دقيقو مخکي بيعقل کس وايې شايد په دی خبری مې باور کړی وايې خو اوس يوازی يوه خبره درته کولای شم ..

بوډا په دقت راوکتل ترڅو زما خبره واوری ما هم خپل ځان لږ ورنږدی کړو او په کلک غږ مې ورته وويل: ټول ورک شې حرمون***

د دی خبری سره سم بغير له دی چې د بوډا راوتلې سترګي د حيرت ته وګورم له کور ووتلم هوا تياره شوی وه،کوڅه خالې وه په غوسه باندی روان شوم کور ته نشوم تللې داسې ناساپه خو بيخې نشوم تللې، غوښتل مې کوم مسافر خاني يا هوټل ته لاړشم سبا د ورځې مې په راحت مغزو د دی موضوع په اړه فکر

کاوه البته باید ووایم د بهانې پسې مې فکر کاوه ترڅو اقرا قانع کړم چې ولی د یو کال سفر په یو میاشت کې پای ته ورسېد؟

سړک ته چې ووتلم زما د بد قسمت څخه یو موټر لا په هغه شاوخوا نه وو،کوم موټران چې هم تېرېدل یو هم ماته نه درېدو دا منطقه په غلا او وژونو باندی مشهوره وه،نو ځکه دشپې په وخت کې کوم موټر جرئت نه کاوه د دی منطقي څخه نفر پورته کړی، غوښتل مې تر چهار راهي لاړشم هلته امکان وو کوم موټر پیدا کړم تر څو یو مسافر خاني می ویسي،جیب کې مې دوه زر افغانۍ وه زما په نظر تر سبا ورځې راته بس وه؟ تر چهار راهې یو څه لاره پاتي وه چې د سترګو د کونج مې دوه کسان ولیدل چې زما شاته راپسي دی؟!

لومړۍ می ګمان وکړو چې شاید هسې زما وهم او خیال وی؟ خو کله چې تګ مې تېز کړو او هغوی هم راپسي تېز شول نو ډاډمن شوم چې ما تعقیب کوی؟

خو څوک دی؟ غله دی؟ د جنرال کسان دی؟ یا که د عزیزی؟ لومړی او دویم خبري سره مې کوم خاص ستونزه نه درلود خو دریم؟! عزیزی .. که د عزیزی کسان وی بیا نو خبره خرابه ده؟! هغه وخت مطلب د بوډا خبره صحیح ده؟ او عزیزی په دی آساني زما شا نه خوشي کوي؟  په دی فکر د غوسي څخه مې خپل غاښونه وچیچل لعنت دی وی، اول لعنت دی پر ما وی چې په مفت میدان کې مې ځان برباد کړو ..

بیا دی لعنت په هغه منحوس جنرال وی چې حتا د ګاونډي توب خیال یی لا ونه ساتلو او زه یی داسې یو منحوس ماموریت ته راکش کړم، څومره بې رحم وو، یعنې لږ یې لا پر ما رحم رانغلو؟ په دی فکر مې پوسخند وواهه او خپل ځواب مې پخپل ورکړو ولې باید راباندی رحم وکړی؟ هغه زما څخه د څو کالو مخکې خپل د لور د مرګ کینه په زړه نیولې وه او اوس چې داسې طلایي شانس ورته په لاس ورغلې نو په خوند یې  خپل زړه راباندی تش کړو او عجب یې

هم تش کړو،داسې ځای او کس ته یې راوستولم چې نه یوازی مرګ مې هره شیبه په تمه دی؟ بلکې داسې مرګ مې په تمه دې چې سراسر بې عزتي، ننګ او رسوايي ورسره ده...

کوښښ مې وکړو خپل پر ځان کنټرول وساتم د غوسې څخه هیڅ نه جوړیدل، باید منطقي فکر مې کړی وایې خو څه وکړم؟چهار راهي ته چې ورسیدم نو لومړی شک مې لمینځه ولاړی غله نه وه؟! که غله وایې نو همغه تیاره کې کله چې دومره خلک نه وه کار یې راخلاص کاوه، اوس دوه شک پاتي وه د جنرال کسان دی؟ یا که د عزیزی؟ د زړه له تل مې امید کاوه چې د جنرال کسان اوسیږی، په هر حال د پولیسانو سره یو توافق ته رسیدلې شوم خو عزیزی ...حتا د هغه په اړه فکر مې لا نشو کولاي، که هغه راپسي اوسیږی نو مطلب بربادی؟!

یو کوچني هوټل چې د سړک هغه غاړې ته خلاص وو روان شوم، د میز تر شا کښیناستم هغه دوه کسان هم زما څخه لږ وروسته هوټل ته راننوتل او زما د شا میز باندی کښیناستل،ګارسون راغې ترڅو فرمایش واخلې خو زما هېڅ شئ زړه نغوښت، خو د وخت تیرولو لپاره مې یو خوراک کباب راوغوښت خو نیمه لاره کې پښیمان شوم دی هوټل ته یوځل مخکې هم راغلی وم بهترینه چلم یې درلود،ما هم غوښتل وخت تېر کړم نو چلم وهل زما په نظر بهترینه ټاکنه ده؟

د چلم وهلو لپاره دوي خاص ځای درلود د هوټل لاندی طبقه، هلته لاړم او یو د نعنا په خوند چلم مې راوغوښت هغه کسان هم زما پسې راغلل او دا ځل زما څخه یو څه لری په بل میز د چلم وهلو لپاره کښیناستل ... په مشکوک نظر مې وروکتل که د جنرال کسان اوسیږی نو نیم ساعت کې ضرور کوم کار کوی،یا خپل راځي زما خواته یا هم شاید یو څوک راوستوي خو که د ... زړه مې نغوښت حتا د هغه په اړه فکر لا

وکړم، چلم وهل مې دومره نه وه زده خو خوښېدی مې کله ناکله د ذوالفقار او زبیر سره مې واهه.

البته په مور دري وارو کې زبیر ډېر ماهر وو د چلم د دود څخه یې عجیب غریب شیان جوړل، خو ما او ذوالفقار عادی واهه، نیم ساعت تېر شو خو هېڅ کوم کار ونشو هغوی کرار ناست وه او چلم یې واهه د هغوی داسې چوپتیا زړه نا زړه کړم، هسې نه ما بد ګمان کړې وی او دا عادی کسان اوسیږی؟ خو عقل مې دا خبره نه کنل چې دوي دی عادی کسان اوسیږی، که عادی کسان وایې نو دومره یې زه نه تعقیب کولم، اه لعنت دی وي اوس څه وکړم؟ د یو ساعت وروسته کله چې د ډېر چلم وهلو له لاسه مې سر ګنګس شوی وو لځایه پاسیدم

زما د پاسیدلو سره سم د سترګو له کونج مې د هغوي دوارو حرکت نه پام شو چې زما د پاسیدلو سره چلم وهل یې پریخودلې وه، د هغوی په دې کار پوسخند

مې پر شونډو راغې نو د ربښتیا ما تعقیب کوی، د چلم پیسې مې حساب کړل او له هوټل ووتلم شپه تقریبا تېره شوی وه، نه پوهیدم چیرته لاړشم؟ په دی وخت کې کوم مسافر خانه به ایا خلاصه وی؟ لعنت دی په دی کسانو وی د دوی له لاسه مجبور شوم یو ساعت دلته منتظر پاتې شم کنه وخت تلم او یو ځای مې پیدا کوو ...

بې هدف د سړک په غاړه روان وم او هغه دوه کسان هم د سایې پشان زما شاته راروان وه یو څه چې لاړم نو و درېدم،همدلته د سړک په غاړه کښیناستلم او د موټرانو تګ، راتګ ته مې سترکی ونیول هغه دوه کسان هم زما څخه یو څه لری و دریدل او یو د بل سره په خبرو شول، یو څو دقیقې چې کښیناستم نو یخ مې وشو، نن لکه چې زما د بدشانسې ورځ ده؟ خپل کورتې می کور ته د ننوتلو وخت کې ویستلې وه او اوس یوازی په یو کمیس کې په دی یخ کې د سړک په غاړه لکه کوڅه ډب سپې پشان ناست وم ..

نظر مې خپل د ځان څخه په څو متر لرې کې په یو کوچني غرفي ولګيد سګریټ، انرژی او څه نور میده شیان یې خرڅول، نه پوهیږم ولې خو زړه مې غوښتل سګریت ووهم؟! وايې سګریټ د انسان مغزه ارام کوی؟ البته دا خبره سګریټي کسان کوی، غوښتل مې امتحان یې کړم چی ایا رښتیا وایې کنه؟ نږدی ورغلم یو پاکټ سګریټ مې د یو اورلګیت" ګوګرد" سره واخیست او بیرته خپل پخواني ځای ته راغلم، د سګریټ قوطي ډېر ښایسته وو ما عمر کې سګریت نه وو وهلې خو عجیب ده بیا هم د سګریت بوی مې خوښیدو؟!

دا قوطي سګریټ یې په بیحد قیمت راکړو نه پوهیږم پر ما یې لغمان چل وواهه یا که د رښتیا هم دا سګریټ قیمتي وه؟ خرڅونکي خو ویل دا بهترینه مارک دی؟ نه وم خبر چې سګریټ هم مارک او ښه و بد لری؟ زما په نظر خو ټول سګریټ یو ډول وه؟ په هر حال اوس خو یې راباندی خرڅ کړل وبه ګورم چې رښتیا وایې کنه؟

البته قوطي فرق کاوه هغه قوطي سګريټ چې سهار عزيزی يو دانه ماته ورڅخه راکړو پوښ يې تور وو او سګريټونه يې هم يو څه ډبل او عجيب وه؟!

خو د دی قوطي تک سپين وو او سګريټ داني هم نرۍ وه؟! يو دانه مې راوويست او کوښښ مې وکړو چې روښانه يې کړم خو شمال وو همدا چې د اور لګيت دانه به مې ووهل نو سګريټ ته د اور اچولو مخکې به شمال اور مړ کړو؟ دوه، درې ځل مې کوښښ وکړو خو ونشو څلورم ځل مې لاسونه نږدی ونيول ترڅو شمال اور مړ نکړی بريالي شوم اور مړ نشو خو سګريټ هم بل نشو؟! سګريټ زما لاس کې وو او که يو لاس مې اخيستی وايې او اور ته مې سګريټ نيولې وايې نو اور مړ کيدو؟! نه پوهيدم چې څه وکړم؟ همدی کش مکش کې يو ډډ غږ مې خپل د شالخوا واوريد چې ويې ويل.

– سګريټ دې خوله کې ونيسه او لاسونه دې داسې حال کې چې اور دې بل کړی کرار پورته ويسه او سګريټ روښانه کړه ...
په تلوار شاته وګرځيدم چې عزيزي مې خپل په دوه قدمي کې وليد.
بې اختياره مې نوم ورڅخه زمزمه کړو: عزيزی؟!

هغه بغير له دې چې کوم خاص ريکشن وښايي په ارام توګه راغې او زما څنګ ته د سړک په غاړه کښيناست، ما د هغه په شتون باور نه راتلو څه ورسيږی چې زما څنک ته د سړک په غاړه کښيني؟

عزيزی- ما ته راکړه زه يې درته روښانه کړم.

د هغه په دی خبره نور حيرت نه وو پاتي رسماً سترګي مې راوتلې وه، هغه غواړی ماته سګريټ روښانه کړی؟ خپل شاته د هغه دوه کسانو پسي مې وکتل نه وه؟!
عزيزی زما د کتلو وخت کې لاس را اوږد کړو سګريټ او اورلګيت يې زما له لاسه واخيست او همغه حال کې

وویل: څوک نشته ...
په حیرت مې ویل: ستا کسان وه؟

عزیزی د اورلګیت په لومړۍ داني باندی په بیحد ماهرانه توګه سګریت روښانه کړو او لومړۍ کش یې هم پخپل ورڅخه واخیست،خو ژر یې دود ورڅخه خوشې کړو او داسې حال کې چې سګریټ یې زما خواته نیو ویې ویل: څومره خراب مارک دی اخیستي؟ د لومړۍ ځل سګریټ وهلو لپاره دا درووند سګریټ ښه نه دی، بهتره به وی چې د یو عادی سګریټ څخه شروع وکړی د دی مواد څه ناڅه زیات دی ژر دی د سګریټ وهلو معتاد کوی.

ما ورته کتل بغیر د څه ویلو، کله چې ویې لید چې سګریټ یې له لاسه نه اخلم نو یوه وریځه یې د پوښتني په انداز پورته کړل.
- هغه دوه نفران ستا کسان وه؟
زما په پوښتني عزیزی په خندا راوکتل او ویې ویل:

مطلب دومره رسوا درپسې وه چې پوه شوی؟( بیا هم بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې عزیزی په همغه خندا وویل: ګوره زه پر تا باور لرم خو بیا هم هوښیار او چمتو اوسیدل مهم ده کنه؟ هو هغه دوه نفران زما کسان وه ما ویل هسې نه د انسان دوستي حس دی قوی شې او پولیسانو ته خبر ورکړی؟ احتیاط د عقل شرط دی.

عجب اوس پوه شوم چې بوډا ولې زما پسې رانغلو؟ هغه پوهیدی چې شاید عزیزی زما پسې نفرا اچولې ..

عزیزی- و دي نه ویل ته په دی نیمه شپه دلته څه کوی؟ تر نیم شپو د ګرځیدو عادت دی نه درلود ..!

د هغه په دی خبره مې په پوسخند د هغه له لاسه سګریت واخیست او ومې ویل: مطلب یو نن دی زما پسي خپل سپي نه دی اچولې؟ د ډېر وخت کیږی چې تعقیب کوی مې چې داسې زما د عادتونو څخه خبر یې؟

په تمه وم چې زما په خبره چې د هغه کسانو ته مې سپي وویل غوسه شې؟! خو هغه په پوسخند راوکتل زړه مې غوښتل دا خوله یې ورمات کړم ترڅو نور داسې پر ما ونه خاندی خو افسوس چې عقل مې د دی کار څخه منع کولم، سګریټ مې شونډو ته نږدی کړو خو د دی څخه مخکې چې کش یې کړم د عزیزی غږ مې واورید.

عزیزی- په یو ځل یې سینې ته مه کش کوه، لومړی کرار خوله کې وساته د هغه وروسته یې سږو ته کش کړه او بیا کرار یې خوشې کړه ساه دی مه بندوه غټه ساه واخه ...

که څه هم تر مرګ د دی کس څخه مې په دی څو ساعتو کې کرکه راغلې وه خو بادمن وم چې خبره یې ګټوره ده؟! ځکه لیدلې مې وو چې څنګه په ماهرانه توګه سګریټ وهې اخر با تجربه دی کنه؟! کله چې د هغه په خبره مې عمل وکړو نو ومې منل چې قهاره

سګریټي دي، که څه هم لومړۍ اول دوه کش مې لږ په زحمت واخیستل خو دریم،څلورم کش مې په ماهرانه توګه واخیست کوم خاص احساس مې نه درلود البته د دی څخه منکر کیدلې نشوم کله چې سګریټ مې ګوتو کې نیولې وو او کش مې ورڅخه اخیست نو یو ډول د غرور احساس می کاوه؟!

اوس پوهیږم ولی تازه ځوان شوی هلکان دومره د سګریټ خواته راځې؟ هغوی یو دروغجن د غرور احساس کوی، فکر کوی په سګریت وهلو باندی غټان شوی او ډیر مهم شخصیت ښکاری؟! په دی فکر مې پوسخند پر شونډو راغې ...

عزیزی- یخ دی نه کیږی؟
- نه، البته که ستا یخ کیږی نو لاره خلاصه ده تللې شې او هو غم مکوه ستا شکایت چا ته نکوم (مخ مې وروګرځو او ومې ویل: د دی لپاره شکایت نکوم چې ستا څخه وېرېږم، د دی لپاره یې نکوم ځکه پوهیږم

چې خبره مې هیڅا ته ارزښت نلری او که هر څومره هم ووایم چې زه شاهد وم چې تا یو نفر مړ کړو نو هیڅوک زما خبره نه منې برعکس شاید ګناه هم زما پر غاړه واچوی اخر پیسي ډیر زور لری ...

زما په خبره عزیزی په کټ،کټ پخندا شو او ویې ویل: عجیب ده!؟ ډیر عجیب ده ... ناساپه هوښیار شوی؟! تر څو ساعتو مخکې د ډیر ویرې څخه دې یوازی هو،هو ویل خو اوس دی ژبه پیدا کړل؟ څنګه داسې ناساپه دلاور شوی؟ نشه،مشه خو دی نه ده کړی؟

غوښتل مې ښه جوړ یې سپک کړم، زړه مې غوښتل ورسره په جنګ شم خو عقل مې منع کولم دا فهیم یا فرید نه وو چې ویې واهم او زړه مې ډاډه وې چې ذوالفقار مې شاته شته .. دا عزیزی وو داسې کس چې د انسانانو وژل ورته د میږی د وژلو اندازه آسانه خبره وه، د نن شپي کار دا راته ثابته کړل چې پر هیڅا باور نه کیږی او یوازیني کس چې ما ژغولې شي هغه زه

يخپل يم البته که د عقل او منطق څخه کار واخلم نه دا چې هسې احساساتي او د وېرې څخه بډک پرېکړې وکړم ..

عزيزی- څه وشول؟ ژبه دې بنده شوه؟
ژوره ساه مې واخيسته او ومې ويل: زه نغوارم ستا سره کار وکړم، د نن ورځې پيښه زه هيروم داسې لکه چې نه هلته وم او نه مې هم څه ليدلي؟! په بدل کې ستا څخه هم درخواست کوم چې همدا کار وکړی او فکر وکړی زه نه هلته وم او نه اصلاً ستا شرکت کې کار کوم؟! ته خپل په لاره لاړ شه زه هم خپل په لاره وسلام.

عزيزی په ريشخند راوکتل او ويې ويل: عليک سلام، دومره آسانه فيصله دې حل کړل؟ ماشاءالله په دی هوش؟!
د هغه په دی ريشخندی لهجه مې غاښونه يو پر بل وچيچل او په غوسه مې وويل: نو څه غواړی؟ ولې زما

پسي يې؟
عزيزی په پوسخند وويل: ولې فکر کوی چې ستا پسې يم؟!
- که زما پسې نه يې نو دلته څه کوی؟ ولې نه پرېږدی لاړشم خپل په درد مړ شم؟
عزيزی په شيطنت وويل: اوممم درد؟ څه درد لری؟ ما ته ووايه شايد علاج يې درته پيدا کړم؟

- زه ستا پشان نه يم.
عزيزی- اوممم دا خو معلومداره ده چې زما پشان نه يې هر انسان يو دبل سره فرق لری په دی زه هم پوهيږم.
- زما مطلب ... زما مطلب زه ستا پشان قاتل نه يم ... ستا پشان 420 بچـ ..( ومې نشو ويلې بچه باز! د هغه لځايه مې وويل: غوره به دا وی چې خپل پشان کسانو پسي لاړ شې او دا خبره همدلته پای ته ورسوي.

عزیزی بغیر د څه ویلو خپل جیب ته لاس کړو د هغه په دی کار دا ځل د وېرېدلو لځایه حملې ته چمتو شوم، که اخیری خبره مرګ وی نو په دومره آساني هم زه مرګ ته ښه راغلاست نه وایم!؟ که نور نه وی د مرګ مخکې یو دوه بوکس او لغتې باید ورکړم ترڅو زړه مې وربانډی یخ شي، زما آماده باش حالت په لیدو عزیزی په پوسخند خپل لاسونه پورته کړل او ویې ویل: اوووو په کراره یوازی غواړم یو سګریټ راوخلم ...

د هغه په دی خبره خپل دفاعي حالت څخه شاته شوم چې هغه پخندا خپل سګریت راوخیست او داسې حال کې چې روښانه کاوه یې ویې ویل: ښه ده چې خبر یې قاتل یم،نو خولي ته دی پام کوه هسې نه د مړه کیدونکو کسانو لیست کې ستا نوم هم وراضافه کړم ...؟

د هغه په دی ګواښ و ډارشوم خو بیا هم غوښتل مې ورته ووایم چې هر کار کوی وکړه او زه ستا څخه نه

وېرېږم خو د څه ويلو مخکې مې يو غږ واورېد ...
بيحد آشنا غږ څومره وخت کيدو چې دا غږ مې نور نه وو اوريدلې؟ درې مياشتي؟ څلور؟ که پنځه؟ شايد هم کال؟

- ناکه يې مه په غوسه کوه ماشومه ...

- شموئيل ...؟!

عزيزی د سګريټ وهلو وخت کې په تروش تندی راوکتل او ويې ويل: شموئيل؟ دا نو کوم خر دی؟
بغير له دې چې د هغه خبری ته کوم توجه وکړم لځايه پاسېدم، زما شاته وو ديوال ته يې تکيه وهلې وه،زما د پاسيدلو سره سم عزيزی هم راپاسيد شاخوا يې په مشکوک انداز وکتل نه مې غوښتل د هغه مخکې کوم څه ووايم خو زړه مې د شموئيل پسې تنګ شوی وو بيحد ... فکر مې کاوه نور به هيڅکله يې ونه وينم ..

شموئیل- تا ویل نور نغوارې ما ووینې ...
څه مې ونه ویل رښتیا وایې دا خبره ما ورته کړې وه خو هغه وخت بیحد غوسه وم دا څو میاشتو کې د دې دومره پیښو وروسته هغه موضوع راته بیحد ناچیز ښکاریدل که څه هم په کامل توګه مې له ذهن څخه نه وه ویستلې خو بیا هم تر یو حد ورسره عادت شوی وم، عزیزی په مشکوک انداز راوکتل او ویې ویل: فکر کوم د رښتیا نشه،مشه یې؟ څه دی وهلې؟

غوښتل مې ورته ووایم ورک شه نور عصاب دی راوخوړل خو زما د څه ویلو مخکې شموئیل وویل: جنګ مه جوړوه طاها، دا کس د هغه لیونۍ جنرال څخه ډېر بتر دی، که درته ووایم همدا اوس څه فکرونه یې ذهن کیدی د وېرې څخه به دی زړه ودریږی ...

د شموئیل په خبره په حیرت مې د عزیزی خواته وکتل، د څه په اړه فکر کوی چې حتا د شموئیل په نظر لا ډاورنکې دی؟

زما د حیران نظر په لیدو عزیزی په غوسه وویل: هاا!؟ څه دی؟ نه دی وم لیدلی؟
ژر مې ورڅخه نظر واخیست او ومې ویل: وبخښې ..
زما په خبره عزیزی په پوسخند وویل: عجب! نن عجبه شپه ده؟ فکر کوم پیریان لری؟
د هغه په خبره په حیرت مې د شموئیل خواته وکتل،یعنې شموئیل یې لیدلې؟
شموئیل- زه یې نه یم لیدلې ستا د عجیب کارونو څخه داسې وایې.

عزیزی- هلته د څه لپاره ګوری زه دلته یم ...(د دی څخه مخکې چې کوم څه ووایم عزیزی رانږدی شو داسې حال کې چې زه یې بوی کولم ویې ویل: چلم کې مواد نه وه کنه؟ نو بیا ولې د نشه یې خلکو پشان ګډوډی خبری کوی؟

شموئیل- بخښنه ورڅخه وغواړه طاها ..ورته ووایه چې پلار دی مریض وو او د نن ورځې پیښې او څه نور

خبرو عصبی کړی وی چې داسې خبری دی وکړل، د دی ځخه ډېر يې پر ځان مه مشکوک کوه ..
د شموئيل په خبرو سترګي مې د حيرت راووتلې، زه د ده پدرلعنت، بچه باز ځخه بخښنه وغواړم؟ خو د کوم مخالفت مخکې شموئيل وويل: زما خبره ومنه طاها .. دا کس بيحد خطرناک دی .. که وغواړی مړ دې کړی نو زه هېڅ نشم کولاي،خپل هم پوهيږي چې زه نور د انسانانو نړۍ کې لاس وهنه نشم کولای، نو بهتره به دا "وی چې د اوس لپاره ورځخه لری شې ...

د هغه په خبره د عزيزی خواته چې تراوسه په مشکوک نظر يې زما خواته راکتل ومې کتل، زړه مې نه غوښت ورځخه بخښنه وغواړم خو د شموئيل په خبرو لړ و ډار شوم هغه پوهيدی چې د عزيزی مغز کی څه روان دی .. نو ځکه ومې ويل: هغه ..زه ... زه بخښنه غواړم ... لږ عصبی وم هغه د پلار شکر مې بيحد پورته شوی وو تر مرګ رسيدلې وو له بلخوا نن بيحد سخت ورځ مې تېر کړل داسی ... داسی شيان مې وليدل چې .. چې

عمر کې مې نه وه لیدلی نو .. نو ځکه ناساپه داسي د کنترول څخه ووتلم وبخښه ...

عزیزی لکه چې زما په خبرو باور نه وو شوی چې په مشکوک انداز یې دوه سترګي راته نیولې وه؟!

شموئیل- ورته ووایه کار ته هم درځم، ورته ووایه هغه کار ته ارتیا لرم ..

کوم خبری چې شموئیل راته وکړه هغه مې په نه زړه عزیزی ته وویل، د څو شیبو وروسته د عزیزی د تندی ګونځې لری شول او پخندا یې وویل: خدای دربانډی رحم وکړو چې خپل خبری دی بیرته واخیستل،کنه ډیر بد پلان مې درته جوړ کړی وو، ما د داسی کسانو څخه بیحد بد راځې برهـان ... کوم کس چې زما په خبره کې خبره کوی... په هر حال اوس چې دی بخښنه وغوښتل ما هم وبخښلې ...راځه زه دی تر کور رسوم.

څه مې ونه ويل فکر مې کاوه که کوم خبره خپل د خوا وکړم شايد موضوع خراب کړم؟ په تمه وم چې شموئيل کوم څه ووايې ..

شموئيل- مننه ورڅخه وکړه ..

- مننه.

عزيزی- ها؟

- هغه ... ما .. ما ويل مننه له ... له دی چې زما احمقانو خبرو څخه تېر شوی نور به داسی ونکړم ...

د عزيزی سترګي د خوشحالۍ څخه وځليدل خپل يو لاس يې زما پر اوږه کيخود او پر بل لاس باندی د سړک خواته اشاره وکړل ډېر ژر ارسلان د عزيزی د موتر سره زموږ مخکی ودريد، يعنې دا تر اوسه همدلته وو؟ ما څنګه نه وو ليدلی؟

عزيزی موټر ته پورته شو او ماته يې هم د ختلو وويل خو زما نظر د شموئيل خواته وو ..

شموئیل- زه درسره یم مه وېرېږه.
عزیزی- څه ته ګوری؟ راپورته شه کنه ..

د عزیزی په غږ په تلوار موټر ته پورته شوم، نه پوهېدم شموئیل عزیزی له کوم خوا پیژني؟ او ولې وویل چې د عزیزی سره نرم اخلاق وکړم نه جنګ؟ شموئیل موټر کې نه وو خو غږ مې ورڅخه واورید.
شموئیل- کله چې یوازی شوی نو خبری کو خو دومره پوه شه د داسې کس غوسه کول مطلب د مرګ راغوښتل دومره بیعقل مه اوسیږه ...

غوښتل مې ذهن کې مې د شموئیل ځواب ورکړم پوهیدم چې زما د ذهن خبری اوریدلې شی خو د څه ویلو مخکې عزیزی وویل: که پلار دی ډېر مریض دی نو سبا کار ته مه راځه ورسره پاتي شه ...

بیا مهربان شوی وو ..د هغه د داسې مهربان لهجي څخه مې بد راغلل پوهیدم چې ولی داسې په مهربانې زما سره خبری کوی دا کار غوسه کولم زړه مې غوښتل

کنځل ورته وکړم خو د شموئیل غږ خوله رابنده کړه.
شموئیل- طـــاها .. کوم څه مه وایه یوازې مننه وکړه
او ووایه چې کار ته ورځې ...
هېڅ مې زړه نغوښت داسې کار وکړم خو د شموئیل
ټینګار مجبور کړم ..
- مننه، ضرورت نشته کار ته درځم.

عزیزی نور څه ونه ویل خو کور ته تر رسیدلو د سترګو
له کونج یې راکتل د هغه داسی کتلو غوسه کولم،
بلخصوص اوس چې په کیسی پوه شوی وم او پوهیدم
چې ولی داسی ګوری؟ د لس دقیقو وروسته کور ته
ورسیدلو یعنې په یوه ورځ کې دوه ځل عزیزی زه کور
ته ورسولم؟ ژر له موټر ښکته شوم او د منني کولو
سره سم مې غوښتل لاړشم خو هغه را غږ کړل.
عزیزی- سبا ارسلان درپسي درځي ..
- ولې؟ مطلب ولې د ..د شرکت موټروان نه راځې؟
عزیزی په پوسخند وویل: ځکه شرکت کې نور کار

نکوی، ارسلان درپسي درځې او نوي د کار ځای ته دی وړی.

د هغه په خبره د ارسلان خواته مې وکتل چې بد، بد یې زما خواته راکتل، غوښتل مې پوښتنه وکړم چې نوی کار می چیرته دی؟ خو نور زړه مې نغوښتل د عزیزی سره خبره یو پر دوه کړم بلخصوص د کور مخکی چې خبر وم کمره لګیدلې او بوډا شاید موړ ګوری؟ نو ځکه د سر په خوځولو یوازی سمده مې وویل چې عزیزی خپل استعمال شوی سګریټ د موټر د ښیښې څخه لاندی کوڅه کې ختا کړو او ارسلان ته یې د تګ وویل، همدا چې د هغه موټر د کوڅې څخه ووت دروازه خلاصه شوه.

پوهیدم چې بوډا دی په بوسخند کور ته ننوتلم هغه په تلوار دروازه بنده کړل او زما پسی شو.
بوډا- تا ... تا د عزیزی سره څه کول؟
خپل د بوټونو ویستلو حال کې مې وویل: یعني غواړی

ووایې چی خبر نه وی چې عزیزی زما د تعقیب پسي کسان ګمارلي؟

بوډا په حیران سترګو راوکتل شاید فکر یې نه کاوه چې دومره ژر به خبر شم؟
کوټې ته ننوتلم هغه هم زما پسي راننوت د نن شپې په خبرو او کارونو بلخصوص د شموئیل په خبرو پوه شوی وم چې باید دا ماموریت سر ته ورسوم،ځکه که عزیزی مې نه وایی ختم کړی هغه زما شا نه خوشې، کول په دی فکر د بوډا خواته چې کوټې منځ کې ولاړ وو وګرځیدم او ومې ویل: زه دا ماموریت پای ته رسوم، خو ... خو د هغه وروسته نغواړم نه تا او نه ستا همکاران بلخصوص د هغه جنرال رنګ لا ووینم ...
داسې به زما د ژوند څخه ورک کیږی لکه له سر چې وجود مو نه درلود ...

***

نن د عزيزی کور کې میلمستیا وه او زه هم دعوت وم؟!
تقریبا یوه نیم میاشت کیدل چې د عزیزی سره مې د
هغه کور کې د ساتونکي په توګه کار کوه؟! عجیب
ښکاری خو عزیزی ما ته خپل د ساتني دنده راکړی وه
چیرته چې تلو نو زه به ورپسی تلم، البته اول میاشت
کې کوم ځای چې تلو زه یی دننه نه پریخودلم، زه به
پع موټر کې منتظر وم د هغه بیرته راتګ ته خو
کرار،کرار اعتماد یې راباندی ډیر شو البته د هغه سبب
هم شموئیل وو ...

شموئیل په هغه شپه واضح راته وویل چې په څه
مصیبت کې مې ځان اچولې، عزیزی خبیث پر ما باندی
د رښتیا هم خپل د هغه منحوس مړ شوی نفری ګمان
کاوه نو ځکه هره شیبه یې زه څارلم شموئیل نشو
کولای دومره کسان زما څخه لری کړی هغه حق نه
درلود د انسانانو په نړۍ کی لاس وهنه وکړی، همغه د
جنرال وژل ورته یو درس عبرت ګرځیدلې وو، خو بیا
هم خپل پوره کوښښ یې کاوه ترڅو ما په امن کی

وساتي، البته څه ناڅه د جنرال د پلان سره هم موافق وو ...

که څه هم ما په جنرال هېڅ باور نه راتلو خو شموئيل ویل که سم مخکې لاړشو نو د جنرال پلان سل په سل کار کوی، او زه باید یوازی یو کار وکړم البته همغه کار چې جنرال راڅخه غوښتي وو؟! یعنې عزیزی ته نږدی کیدل او د هغه اعتماد په لاس راوړل، عزیزی که څه هم نظر یې زما په اړه متفاوت وو او تل یې غوښتل زه یې څنګ کې اوسیږم او کار ورته وکړم خو همغه حال کې بیحد چالاک او مشکوک انسان وو، یعنی که د شموئیل مرسته نه وایې همغه لومړۍ میاشت کې د عزیزی له لاسه وژل کیدلم ...

کله چې د عزیزی سره کوم ځای تلم نو ضرورت نه وو د هغه منحوس ورځ پشان د ځان څخه د فلم هیرو جوړ کړم او جاسوسي وکړم، زه کرار کښیناستم او شموئیل د هغوی ټک په ټک خبری راته راوړلو دومره

زما اطلاعت قوي او باورمند وه چې بوډا او جنرال يې لا حيران کړی وه؟! کله چې جنرال وليدل د هغه نور جاسوسان يوازې د عزيزی په شرکت کې موټرونه پاکوي او نور کوم خاص کار نکوی نو ټول يې لری کړل .. او اوس يوازيني جاسوس د عزيزی په ګروپ کې زه وم؟!

د هغوی ټولو توجه زما خواته وه او زما توجه بيا د شموئيل خواته ... ما تر اوسه په جنرال او د هغه په همکارانو باور نه درلود،هغوی خپل د ګټې پسې وه که کوم ورځ خدای مکړه عزيزی پر ما شک کړې وايې او راګير کړی وايې نو سل په سل ډاډمن يم چې جنرال او د هغه ملګري به زما د ژغورولو لپاره هيڅ کار ورنکړې هېڅ ... نو ځکه کوښښ مې کاوه د شموئيل سره يو تنها پلان جوړ کړم داسې پلان که مبادا راګير شوم نو ځان پخپل وژغورم نه دا چې د جنرال مرستي ته په تمه شم ..

ستونزی او مشکلات انسان ځواکمن کوی، یو کتاب کې لیکل شوی وه، کله چې طوفان راشې نو انسان د وېرې څخه نه پوهیږی څه وکړی؟ چیرته پناه ویسي؟ او څنګه ځان وژغوری؟ د طوفان مخکې ډېر کسان تسلیم کیږی او مرګ ته غاړه ایږدی خو ... خو کوم کسان چې د طوفان سره مقابله کوی کله چې طوفان خلاص شې نو د هغه څخه یو نه ماتیدونکي کس جوړېږي، دا خبری یو دم زما د اوس حالت په اړه صحیح وه زما پر ژوند هم ناساپه د ستونزو او مشکلاتو طوفان راغلو داسې چې نه پوهیدم څه وکړم؟ څنګه ځان وژغورم؟ زه هم څه ناڅه تسلیم کیدلو ته نږدی وم خو ...

خو د شموئیل په برکت تسلیم نشوم او اوس ... اوس د دی طوفان مخکې ولاړ یم او د ژوندي پاتي کیدلو لپاره لاس او پښې وهم، په دا یو نیم میاشت کې دومره بدلون مې کړې وو چې خپل مې هم محسوس کولای شو، نور په هر ټک د ډارن کسانو پشان د وېرې څخه نه پریدم، اوس مې په هر چا باور نه کوو اوس

هوښیار شوی وم ، البته شموئیل ویل غبِ شوی یې ... شاید رښتیا وایې؟ مشکلاتو او ستونزو غبِ کړی یم،هوښیار کړی یم ،پوه کړې یې یم چې دا نړۍ څومره بې رحم ده او دی نړۍ کې هغه کس ژوندي پاتي کیږی کوم چې زورو او چالاک وی ...

د نن میلمستیا عزیزی ته ډېر مهم وه، نه پوهېدم چې ولي؟ او د څه لپاره؟ خو دومره معلومات راته بوډا راکړې وه چې یو ډیر خطرناک کس غواړي د هغوی د ډلې سره یوځای شي؟ نه پوهیدم چې دا خاص کس څوک دی؟ خو دومره پوهېدم چې چندان ښه کس نه دی او ښه ارادی هم نلری، هرڅومره کوښښ مې چې وکړو ترڅو د جنرال او د هغه د همکارانو څخه یو څه نور معلومات تر لاسه کړم خو هغوي هم ناخبره وه او نه پوهیدل چې دا کس د څه لپاره راروان دی؟

دا یوه میاشت کې عزیزی راته موټر راکړی وو ترڅو تګ راتګ کې کوم ستونزه ونلرم، البته د هغه دلیل هم زما

او د ارسلان جنګ وو؟ البته جنګ ارسلان شروع کړو او ویل یی زه ستا نوکر نه یم چی تا هره ورځ ویسم او راوړم، ما هم ورته وویل چې ما هم ستا د قواری ښخه چندان ښه نه راځې او خلاصه چی همدی خبرو کی یو بوکس او لغت هم وشو چې هغه کې ارسلان ښه وهل وخوړل ...

البته ما ونه واهه؟ شموئیل وواهه خو زما زړه یې وربانديي یخ کړو، د هغه جنګ وروسته عزیزی ماته یو کوچني موټر راکړو ترڅو خپل هر چیرته چی غواړم لاړشم نه دا چې ارسلان راپسې راشې، البته له دی چې ما ارسلان وهلې وو بیحد په حیرت کې وو او باور یې نه راتلو؟! البته حق یې هم درلود که ما د ارسلان د وهلو زور درلود نو همغه ورځ مې واهه کوم ورځ چې هغه قتل مې ولید او هغه زه ونیولم!

موټر مې د عزیزی د کور په لوي حویلې کې ودرو پدرلعنت داسې کور درلود ته وا مابې ده، بیحد غټ او

ښکلې وو یو حویلې درلود چې اته نور کورونه پکي جوړیدلې شول، د حویلي کونج کې یو ښکلی باغچه وه چې د ګلانو ډکه وه، د موټر څخه د ښکته کیدلو سره سم غفار چې د عزیزی د کور د ساتونکو مشر وو البته زما مشر هم په حساب راتلو زما خواته راغلو په غوسه یې راوکتل او ویې ویل: دومره ناوخته ولې راغلی؟ ویلې می وه چې په شپږو بجو دلته حاضر اوسیږه خو ته اوس راغلی؟

خوله مې جوړه کړل ترڅو یو دروغ ووایم خو د هر څه د ویلو مخکې هغه وویل: خبری مکوه ژر پورته لاړښه او ګوره مشر څه کار درسره لری چې دا یو ساعت کې زموږ عصاب وخوړل دومره چي ستا پوښتنه یی وکړل ...؟

د هغه په خبره سر مې وخوځاوه او په تلوار د کور خواته روان شوم دا هم د عزیزی یو بل خاصیت چې دا یو،یو نیم میاشت کې پیدا کړی وو، یعني تشناب ته به

چې لا تلو نو غوښتل یې چې زه ورسره لاړشم، که څه هم د هغه د دی کارونو په مطلب پوهیدم خو عجیب وه تر اوسه هغه داسې سر عام کوم بیځایه خبره نه وه کړې؟ ډیر که جرئت یی کړی وایې نو زما ویښتیانو کې لاس واهه یا هم کله ناکله خپل سګریت یی پر ما روښانه کو؟ د دی څخه علاوه نور کوم بیځایه غوښتنه یې نه درلود کله ناکله فکر مې کاوه چې شاید د جنرال دوي خبره غلطه وی؟

شاید هغه برهان نومي هلک د ده نفري نه وه؟ شاید یو بل اړیکه به یې ورسره درلود؟ هرخومره چې فکر می کاوه د عزیزی کارونه د بچه باز کسانو پشان نه راته ښکاریدل؟! دا یوه نیم میاشت کې هره شیبه،هر ځاې کې ورسره وم خو ما ورڅخه کوم بد کار یا عادت نه وو لیدلي، البته بغیر د یو ځل څخه چې د ارسلان سره یوازی یوځای لاړو او زه یې کور ته واستولم، د هغه دا کار بیحد مشکوک کړم،نو ځکه شموئیل ورپسې لاړو ترڅو وګوری هغه چیرته تللې؟

خو کله چې راغلو نو شموئیل خبره اخو دیخوا کول او ویل یې چیرته نه وو تلې او کوم خاص خبره نه وه، کله چې ډیر می وویل څه شوی؟ څه شوی؟ نو پوه شوم چې عزیزی فاح*ش*خا** ته تللې وو؟! البته زما باور نه راتلو چې پکتیا کیدی داسې مردار ځایونه شتون ولری؟ د عزیزی په دی مردار کار که څه هم څه ناخه بد مې ورڅخه راغلل خو په یوه خبری سل په سل ډاډمن شوم؟! هغه دا چې هغه د ښځو سره شوق درلود نه د هلکانو سره؟

د دی خبری د پوهیدلو وروسته شموئیل مې واستو ترڅو معلوم کړی اخر دا د برهان کیسه تر کوم ځایه واقعیت لری؟ خو عجیب وه شموئیل هیڅ معلومات د هغه په اړه پیدا نکړل، شموئیل خپل زیاتر معلومات د هغه کس د فکر کولو څخه پیدا کول خو عزیزی حتا د برهان په اړه فکر هم نه کوو ترڅو شموئیل ورڅخه اطلاعت پیدا کړی، او دا خبری زه غوسه کولم اخر دا برهان څوک دی؟

څو ځله مې کوښښ وکړو چې خپل په شتون کې د عزیزی فکر د هغه برهان نومي کس خواته ویسم تر څو شموئیل د هغه د ذهن څخه په اصل کیسه پوه شې خو کوم ګټه یې ونکړل یوازی دومره پوهیدو چې هغه کس عزیزی ته بیحد ګران دی؟! خو دا چې په کوم نسبت ګران دی دا مو معلوم نشو کړي ...

نه پوهیږم ولی خو بیحد زړه مې غوښتل د برهان په اصلې کیسی خبر شم، ذهن کې مې یوه خبره ګرځیدا ایا د رښتیا د عزیزی نفری وو؟ ما یې عکس د بوډا څخه اخیستي او لیدلې وو ښایسته نه وو، معمولي څهره یې درلود، زما پشان خو بیخی نه وو د هغه څهره او زما څهره ځمکې تر آسمان یو دبل سر فرق کول، خو شموئیل ویل ستاسو دواړو سترګو کې یو ډول عجیب عاجزی او معصومیت دی؟! شاید دا یوازیني زموږ مشترک نقطه وه ... سترګي ...

د عزیزی د کوټې دروازه مې وټکول د هغه غږ مې واورید چې د ننوتلو اجازه یې راکړل کله چې ننوتلم نو هغه مې د الماری سره ولاړ ولید لګیا وو کالی اخوا دیخوا کول زما په لیدو په خوشحالۍ وویل: ښه وو چې راغلې برهان، ستا په نظر کوم جوړه کالې واچوم؟

د هغه په دی خبره څو شیبي په چرت کې لاړم، زه خپل تر اوسه ځانته کالي نشم انتخاب کولاې هغه وخت عزیزی غواړی زه ورته کالي انتخاب کړم؟

د هغه منتظر نظر مې چې ولید نو ومې ویل: نه پوهیږم د کالو په انتخاب کې زه هم یو څه کمزوری یم.

زما په خبره هغه په کټ، کټ پخندا شو لکه چې نن یې طبعیت ډیر ښه وو؟

عزیزی- کوم رنګ ستا په نظر منظم، ښکلې او خلاصه داسې ښکاري لکه ... مطلب دا کس با وقار او جذبه

لری؟! هغه کوم رنګ دی ستا په نظر؟
په ګنګس انداز مې د هغه د څهرې خواته وکتل غوښتل
مې ورته ووایم ته چې هر څه واچوی نو وحشي او
خطرناک ښکارې، نو ضرورت نشته دومره د کالو
انتخاب کې زحمت وباسي،خو دا خبره مې ذهن کې
وساتل او ومې ویل: زما په نظر تور رنګ ..!؟
عزیزی په خوشحالۍ وویل: نو تور کالی اچوم ...

د هغه په تایید مې حیرت ونکړو دا څو وخته تل یې
همداسې کار کوو،زما څخه به یې مشوره غوښتل او
کله به چې ما کوم څه ویل نو همغه کار به یې کاوه ...

د نیم ساعت وروسته بلاخره چمتو شو نن یې بیحد پر
ځان وخت تېر کړو؟ لکه چې د نن میلمستیا ورته ډېر
مهم وه؟ بهترینه کالي،قیمت بیه ساعت،ګوتمۍ،په یوه
کلمه کې داسې ځان جوړ کړی وو ته وا واده یې دی؟

اته بجو شاوخوا وه چې بلاخره د ده غوښتل شوی
میلمانه راغلل، عزیزی د میلمنو په کوټه کې وو همدا

چې راغلل ټول هلته ننوتل زه هم ورپسي ننوتلم خو د لومړۍ ځل لپاره عزيزی له کوټې وويستم؟!

د هغه په دی کار سخت غوسه شوم، پدرلعنت تر اوسه پر ما باور نه درلود چې داسی وويستلم، کوم کسان چې راغلې وه همغه يو نظر کې چې ما وليدل لومړۍ می ګمان وکړو چې هزارګان دی؟! ځکه بيحد تنګ سترګې درلود خو کله چې دريشې او خبری مې ورڅخه واوريدل نو پوه شوم چې چينايان دی؟ عجيب ده چنايان د عزيزی سره څه کار لری؟ او ولې عزيزی ته دومره مهم دی؟ ډير مې زړه غوښتل پوه شم هغه لعنتی کوټه کې څه خبری روان دی؟ خو افسوس چې هلته تګ مطلب د عزيزی بدګمان کول او ځان وژل ..

په تمه وم چې شموئيل له يو خوا پيدا شې او کوم خبر راته راوړی خو هغه هم نن ورک وو، البته حق يې هم درلود بيچاره دا يو مياشت کې داسې زما پسي و ته وا زما د ساتونکي دنده يې اخيستی، 24 ساعت زما سره

وه، هغه هم کار درلود بیکاره خو نه وو خپل د نرۍ د پیریانو مشر وو زما څخه ډیر کارونه يې درلود البته نن يې راته ويلی هم وه چې ځان په کوم مصیبت کې وانچوي ځکه زه کار لرم او نشم راتلې ... په دی فکر اه مې له سینی ووت، یعنې زه باید لاس تر زني کښینم او ځان خبر نکړم چې دا چنیان د عزیزی سره څه خبری کوی؟

د بوډا خبري مې راياد شول چې ويل يې دوی د اسلحو قاچاق کوی او د مختلف کشورنو څخه اسلحي راوړی،یعنی امکان لری دا کسان هم د هغه کار لپاره راغلی وی؟ په دی فکرونو کرار،کرار لیونتوب ته نږدې کیدلم چې خپل څنګ ته مې د یو چا ږډ غږ واورید.

— لیوني نه شې په دی فکرونو کوچني جاسوسه ..؟!

ساه مې سینه کې بنده شوه، ما ته يې وويل جاسوس؟! په وحشت او ډار مې د هغه کس پسې وکتل چې دا خبره یې راته کړې وه خو کله چې نظر

مې د عبدالرحمان په خندانه او شیطانه څهره ولګیدل بې اختیاره مې ساه له سینې ووتل، زړه مې غوښتل کنځل ورته وکړم، خو هغه پخندا وویل: اه دومره مه وېرېږه جاسوسان باید هوښیار،چالاک،تکړه،او نترس اوسیږی نه دا چې په یو غږ یې زاره وچوې ...

- ته دلته څه مرګ کوی؟

عبدالرحمان په همغه خندا زما د څنګ تېر شو او د سالون په کوچ کښیناست او ویې ویل: فکر مکوه ستا د مخ پسي خفه شوی یم چې دیدن ته دی راغلم .. نه ..شموئیل بیکار نه وو ویل یې د هغه لځایه راشم ترڅو کوم څوک علیجناب طاها خان صیب ته په بد نظر ونګوری ...

د هغه په خبرو مې خپل غاښونه وچیچل او ومې ویل: ضروت نه وو چې راشې اوس هم که خفه یې نو لاره خلاصه ده تللې شې.

عبدالرحمان په خندا وویل: اووه دومره غوسه؟! نچ،نچ شکر ته دی ښه نه ده.

- څه؟

عبدالرحمان- ها مطلب مې فشار ته دی ښه نه ده .. ستاسو انسانانو د مرضتیا په نومونو کې زه کله ناکله غلط کیږم، عصبی فشار دی درلود کنه؟ غوسه درته ښه نه ده راشه کرار کښینه(د کوچ څنګ ته په میز باندی کیخودل شوی میوو ته یې اشاره وکړل او ویې ویل: سیب وخوره ...

کوښښ مې وکړو ځان کنټرول کړم د ده سره بحث بې فایدی وو، خو که شموئیل راستولې نو مطلب کولای شم ورباندی کار وکړم؟

عبدالرحمان- فکر یې هم مکوه، زه ستا نوکر نه یم چې درته کار وکړم خپل پښې او لاسونه لری خپل کار خپل وکړه.

بد،بد مې وروکتل له دې چې زما د ذهن خبره يې اوريدل سخت بد مې راتلل کاش دا خاصيت ما هم درلود ...

عبدالرحمان په پوسخند وويل: ډېر زموږ د خاصيتونو آرمان مکوه که څه هم په هر څه کې ستاسو انسانانو څخه غوره يو، که هغه اوږد عمر دی،که هوښيارتيا ده که ځواک دی او هر نور څه چې وی بيا هم اشرف المخلوقات تاسو ياست نه موږ پيريان ...

- بخيلی کوی؟
عبدالرحمان- زه او بخيلي؟ آرمانونه او کاش، کاش تا زموږ د ځواکونو پسي کاوه نه ما ..
- ګوره زه د جنګ او بيځايه خبرو حوصله نلرم که شموئيل راستولي يې نو بايد زما سره مرسته وکړی، هله، شابه ورشه وګوره هغه کوټه کې هغوی څه وايي؟
عبدالرحمان خپل تندی تروش کړو او په غوسه يې

وویل: زه ستا نوکر نه یم چې پر ما داسې امرونه کوي، خولې ته دې پام کوه.

نه پوهیدم ولې دومره ضدی دی؟ یو دوه ژور ساګاني مې واخیستل او دا ځل کرار مې وویل: امر نه، بلکې هیله کوم مرسته وکړه لاړشه وګوره هلته څه وایې؟ ته مګر شموئیل زما د مرستي لپاره نه یې راستولې؟
غواړې کله چې شموئیل راغلو ورته ووایي چې د هغه کار دی خراب کړی؟

عبدالرحمان- دا د شموئیل کار نه دی چې زه یې خراب کړم دا ستا کار دی ..
- هو، سمده منم چې زما کار دی خو شموئیل هم پکي شامل دی که راغلو او خبر شو تا مرسته نه ده کړی غوسه کیږی، نور دې زړه ما خو درته وویل ...

عبدالرحمان څو شیبی په زیر راوکتل د هغه وروسته روان شو له دی چی بلاخره زما خبره یې ومنل سخت خوشحاله شوم خو یو دقه لا نه وه تېر شوی چې بیرته

راغلو او په کوچ کښیناست ..
- څه وشو؟ څه یې ویل؟
عبدالرحمان- والاکه پوه نشوم په عجیب ژبه یې خبری کول ..
- څه مطلب عجیب ژبه؟
عبدالرحمان- اممم مطلب په داسې ژبه یې خبری کول چې زه نه پوهیدم هسې چینګ، چینګ یې و بس ..
په حیرت مې وویل: چنایی خبری کول؟

عبدالرحمان- چنایي؟ اوممم داسې ژبه هم شته؟
- هو، ته پوه نشوی څه یې ویل؟
عبدالرحمان- و مې ویل کنه چې پوه نشوم.
دا ځل په حیرت مې وویل: مګر ته پیري نه یې؟
عبدالرحمان- پیری یم، ولې شک لری؟
- هو، لږ، لږ شک لرم اخر ته څنګه پیری چې د هغوی په ژبه نه پوهیږی؟

عبدالرحمان په تروش تندی وویل: ته فکر کوی موږ پیریان د نړۍ په هر ژبه خبری کولای شو؟ ډېر بیعقل یې که داسې فکر کوی،موږ پیریان کوم ماحول کې ژوند کو د همغه ماحول ژبه زده کو مثال زه پښتو،فارسي،ازبکی،پشه یې،بلوچي او حتا عربي لا ویلی شم خو نور ژبي مې نه زده، البته شموئیل شاید پوه شئ هغه ډېر عمر لری او د ژبو زده کول یې هم خوښیږی، خو زه د مختلف ژبو د زده کولو حوصله نلرم نو ځکه نه پوهېږم هغوی څه ویل؟

په خلاصه خوله مې ورته کتل یعني زما د بد شانس څخه نن باید د شموئیل لځایه دا لیونی راغلې وایې ترڅو داسی کارونه وکړی؟ عبدالرحمان خوله جوړه کړل ترڅو یو څه ووایې خو د څه ویلو مخکې د مرمۍ ټک شو ... په تلوار مې خپل د شا څخه تومنچه راوخیسته، عزیزی راته دا تومنچه راکړی وه البته د استعمال طریقه یې هم هغه راته ښودلې وه، خو ما دومره نه وه زده زیاتر نمایشي توګه راسره وه، لومړۍ

یوه دقیقه کې یو ټک وشو خو د هغه وروسته څو پرلپسي ټکان او شور ماشور غږونه د حویلۍ څخه پورته شول، نه پوهیدم چې څه روان دی؟

هملته ولاړ وم او نه پوهیدم چې د عزیزی خواته لاړشم یا بیرون؟ چې عزیزی په تلوار له کوټې راووت د هغه د راوتلو سره سم ارسلان هم په ځغاست کور ته راننوت.

عزیزی- څه شوی ارسلان؟؟ دا غږونه د څه دی؟
د لومړۍ ځل لپاره مې ارسلان دومره وېرېدلې ولیده، په تلوار یې خپل د خولې لاړې تیر کړل او ویې ویل:
ا.... الفا .... مشره ... الفا راغلې ...

"الفا" دا لفظ مې ذهن کې په ګرځیدو شو، الفا ... ایا همغه الفا دی کوم چې بوډا یادوه؟ هو نو د عزیزی سره بل کوم الفا کار درلودلې شي؟! همدا یو الفا دی خو هغه دلته څه کوی؟ د عزیزی خواته مې وکتل د لومړۍ ځل لپاره هغه مې هم ورخطا ولید د شونډی لاندی کنځل وکړل،د هغه وروسته په تلوار یې زما خواته راوکتل

لکه چې غوښتل يې کوم څه ووايې؟ خو د څه ويلو مخکې د کور دروازه خلاصه شوه او څو مسلحه کسان رانوتل د هغوی د راننوتلو سره سم عزيزی زما څنګ کوټې خوا ته اشاره وکړل د هغه مطلب مې واخيست هغه غوښتل زه کوټې ته ننوځم؟

خو نه پوهيدم چې ولې؟ لومړۍ مې ګمان وکړو چې شايد هلته کوم شئ وی چې عزيزی غواړی هغه د الفا د نظر څخه پټ وساتي؟ خو کله چې ننوتلم نو هلته هېڅ نه وه؟! کوټه خالي وه، غوښتل مې بيرته بيرون ووځم چې عبدالرحمان شاته کش کړم ..

- څه کوی؟ خوشې مې کړه.

عبدالرحمان- هيسس خبری مکوه، هغه سړی
(عبدالرحمان د دروازی د سوری څخه د عزيزی خواته چې د دهليز منځ کې ولاړ وو اشاره وکړل او ويې ويل: هغه غوښتل ته دلته اوسيږی ترڅو کوم څوک درته زيان ونه رسوی ..

عزیزی غوښتل ما پټ کړی ترڅو کوم زیان را ونه رسیږی؟ خو ولې؟
په حیرت مې وویل: ته د کوم خوا پوه شوی؟
عبدالرحمان په پوسخند وویل: حافظه دی هم لکه چې خرابه شوی؟ زه پیری یم او ستاسو انسانانو ذهن ویلې شم هغه دقه کې چې هغه درته اشاره وکړل ذهن کې یوازی همدا خبره وه چې ته باید امن کې اوسیږی ...

د عبدالرحمان په دی خبره نور هم ورخطا شوم، په تشویش باندي مې د دروازی له سوری څخه د دهلیز خواته وکتل، تر اوسه مې باور نه کیدو چې الفا دی راغلې وی، که د رښتیا هغه الفا دی نو ولې په دی بڼول د عزیزی کور ته راغلو؟ مګر دوی دواړه یو د بل سره کار نکوی؟ او د هغه څخه لا بډېر چې یو خبری پریشانه کړې وم هغه دا وه چې عزیزی ولې غوښتل ما امن کې وساتی؟ اصلا د څه کس یا شئ څخه په امن کی؟

مسلحه کسان شاوخوا د دهلیز و درېدل یو نفر یې د دي کوټي خواته راغلو کوم کې چې زه وم او خبیث داسی ودرید چې ما نور د دروازی د سوری څخه کوم شي نشو لیدلې! یوازی د هغه شا مې لیدلې شول، ای لعنت دی وی پر تا منحوس بل ځای قحط وو چې ته راغلې دلته و دریدې؟

عبدالرحمان- غواړی لری کړم درته؟
مخ مې د هغه خواته چې کرار بیغم د کوټې کونج کې ولاړ وو وګرځو او ومې ویل: کولای شې؟

عبدالرحمان- هو صبر ..

عبدالرحمان د دی خبری د ویلو سره سم زما د مخ څخه غیب شو! څو شیبې په تمه وم خو هېڅ ونشو؟! لکه چې هسې چل یې راکړو او لاړو؟ د دی فکر په کولو خوله مې کنځل کولو ته جوړه کړل چې هغه مسلح کس نه پوهېږم په څه دلیل خو د دروازې له مخې لری شو،د هغه د لری کیدلو سره سم عبدالرحمان هم راغلو.

عبدالرحمان- صحيح شو؟

- مننه.

نور مې څه ونه ويل البته بايد يو بخښنه مې هم غوښتلې وايې ...

عبدالرحمان- د څه لپاره بخښنه؟

د عبدالرحمان په دی خبره سترګې مې پټې کړل او ومې ويل: دا کار دی ډېر غلط دی، منم چې زموږ د ذهن ويلو ځواک خدای درکړی خو دا په دی معنا نه ده چې هره شيبه زموږ مغزو ته راننوځې دا کار دی يو ډول تېرې دی ... ته زما د فکر کولو په شخصي حريم تېر کوی ...

عبدالرحمان- عجب!

عبدالرحمان غوښتل بل څه هم ووايې چې ما اجازه ورنکړل او نظر مې د هغه کوچني سوری څخه د دهليز خواته ونيو، دوه کسان چې د قد او اندام څخه بيحد

غښتلې ښکاريدل د مُسلح کسانو د مينځ څخه د عزيزی خواته چې د دهليز منځ کې ولاړ وو ورغلل، کله چې هغه ته ورسيدل نو يو کس چې شنه جوړه کالي اچولې وه څو ګام شاته لاړو خو کوم کس چې سپين جوړه کالي اچولي وه او د عمر څخه يو څه بوډا معلوميدی د عزيزی و مخ ته ودريد، که څه هم د عمر څخه ډېر ښکاريدې خو عجيب وه د عزيزی په قد او قواری وو؟!

ما د همدي فاصلي څخه لا د عزيزی څهره ليدلې شول چې تندی تروش او غاښونه يې يو پر بل وچيچل، يعنې همدا بوډا کس الفا دی؟ باور مې نه راتلو، دا کس داسي سپين کالې اچولې وه او تسبيح لاس کې نيولې وه چې ما فکر کاوه د کوم مسجد امام دی نه د مافيا مشر؟!

رښتيا يې ويلې چې د خلکو په قواری مه ختا وځې، دا بوډا د قواری څخه څومره معصوم او پاک ښکاری! خو ته يې کارونو ته وګوره، د "الفا" هېڅ کوم عکس د

جنرال دوي سره نه وو هغوي د "الفا" په اړه هېڅ معلومات نه درلودل يوازې يو مستعار لقب يې ورڅخه پیژندو "الفا" بس نور نه وه خبر چې رښتيني نوم يې څه دی؟ او چیرته اوسيږي؟ که عکس يې واخلم بوړا او جنرال دوي به بيحد خوشحاله شي، تر اوسه دومره کلونو کې هيچا "الفا" په سترګو نه و ليدلې عکس اخيستل خو لرې.

په دې فکر په خوشحالي مې خپل موبايل راوخيست او د دروازې له سورې څخه مې غوښتل عکس واخلم خو بدبختانه چې مناسب فضا نه وه او عکس سم نه اخیستل کيدو له بلخوا هغوی خبرې کول پيل کړې وه او ما غوښتل د هغوی خبرې هم واورم نو ځکه د مجبورۍ څخه د عبدالرحمان خواته چې بيغم ولاړ وو او زما کارونو ته يې کتل مخ وګرځو ...

زما د نظر په ليدو هغه خپل وريځه پورته واچول او ويې ويل: ها؟ بيا څه غواړې؟

- ته کولای شې عکس واخلې؟
عبدالرحمان- عکس؟
- هو، په موبایل باندی عکس اخیستلې شي؟
عبدالرحمان- مورِ پیریان ستاسو انسانانو د نرۍ څیزونو نه کارو.
د هغه په دی خبره د نامیدی څخه مې اه له سیني ووت چې هغه وویل.
عبدالرحمان- ولې خپل نه اخلې؟
- دلته عکس سم نه راځې ډېر خراب ځای دی.
عبدالرحمان- اوممم غوارې له دی ځایه یو بل سم ځای دی ویسم ترڅو عکس واخیستلی شې؟

په نامیدی مې د دهلیز او هغه مسلح کسانو خواته اشاره وکړل او ومې ویل: نه ویني دومره کسان هلته بیرون ولاړ دی که ووتلم ژوندی مې نه پرېږدی ..
عبدالرحمان- ما هم ونه ویل چې د هغه خوا دی ورېم ..
- څه مطلب؟ پوه نشوم ..
عبدالرحمان- مطلب زه کولای شم تا د ځان سره د

همدی ځایه ویسم، یو داسې ځای ته چې ټول ولیدلې شې بغیر له دی چې کوم کس تا وګوری؟!

په حیرت مې وروکتل د هغه د خبرو په مطلب نه پوهیدم؟! خو دومره پوهیدم چې هغه خپل د ځواکنو په کارولو سره غواړی ما له دی ځایه ویسي ..
عبدالرحمان په پوسخند وویل: زه شکر چې مغزه دی دومره خو کار کوی، هو زه غواړم خپل د ځواک په کارولو تا له دی ځایه ویسم.

د دی خبری د کولو سره سم زما خواته رانږدی شو خپل لاس یې زما خواته راوړاندی کړو او ویې ویل: زما لاس ونیسه او سترګي دی هم پټې کړه.

د هغه په دی خبره بې اختیاره مې د هغه لاس ونیو خو د سترګو پټ کولو مخکې می وویل: غواړی ما هم د ځان پشان غیب کړی؟
زما په دی خبره عبدالرحمان پخندا شو او ویې ویل: نه متاسفانه موږ انسانانو نشو غیب کولای،یوازی غواړم د

دی کوټې څخه دی کوم بل سم ځای ویسم، ترڅو عکس واخیستلې شي.
- ضرور باید سترګي پټې کړم؟ همداسی مې نشې ورلې؟
عبدالرحمان- ته څومره خبری کوی، مګر تا نه غوښتل چې د هغوی خبری واوری او عکس یې واخلې؟ نو خوله دی بنده کړه او سترګي پټې کړه ترڅو ژر دی له دی ځایه ویسم.

د عبدالرحمان په دی خبره که څه هم زړه مې غوښتل ورسره یو جنجال وکړم خو خبره یې منطقي وه، ما ته مهم د الفا او د عزیزی خبری اوریدل وه، نو ځکه سترګي مې پټې کړل، د سترګو پټو کولو سره سم احساس مې کاوه بدن مې په هوا دی؟! غوښتل مې سترګي خلاصي کړم خو د عبدالرحمان دروند لاس مې په سترګو کیخودل شو او د سترګو خلاصولو اجازه یې رانکړل، ناساپه ګمان مې وکړو چې د یو شدید طوفان منځ کې یم، د شمال پشهار مې اوریده حتا خپل د

ویښتیانو پورته تلل مې لا د شمال د شدت څخه احساس کولای شول دا ټول شیان شاید د یو څو شیبو خبره وه د هغه وروسته عبدالرحمان خپل لاس زما له سترګو څخه واخیست او ویې ویل: سترګي دی خلاصي کړه راورسیدو.

د هغه د خبری وروسته په کراره مې سترګي خلاصی کړل دومره ګنګس وم چې پر پښو سم نشوم دریدلې، بیحد زیات مې کانګي راتلل خو په زوره مې خپل ځان کنټرول کړی وو، فکر مې کاوه د ساعتونو د موټر سفر مې کړی دومره مې بدن درد کاوه او طبعیت مې خراب وو، زما د حال په لیدو عبدالرحمان پخندا وویل: اه ... تاسو انسانان څومره نازک یاست، خو تخو نه باید دومره کمزوری اوسیږی؟ ځکه څه ناڅه ځکه زموږ د طایفي یې ..

کوم څه مې ورته ونه ویل او خپل شاوخوا ته په کتو شوم کله چې پوه شوم چیرته یم نو سترګي مې د

حیرت څخه خلاصي پاتي شوی، زه د عزیزی کوټه کې وم، دا کوټه په دویم منزل کې وه او زه څو شیبې مخکې په لاندی منزل کې وم ...؟!

څو شیبي مې په حیرت شاوخوا وکتل خو بېر ژر مې ځان راټول کړو او د کوټې د دروازی خواته روان شوم،پوهیدم چې ټول کسان لاندی منزل کیدی او هېڅوک د پورته منزل خواته نه راځي نو ځکه په بیغم خیال له کوټې ووتلم او د لومړۍ منزل د زینو خواته لاړم، د زینو کونج کې ودرېدم د دی ځای څخه لاندی دهلیز کامل معلومیده حتا د هغوی خبری هم واضح راتلل، الفا اوس په کوچ ناست وو داسې حال کې چې عزیزی یې مخکې ولاړ وو ..

موبایل مې راواخیست او څو عکسونه مې ورڅخه په تلوار واخیستل بیا مې ژر موبایل جیب ته کړو او د هغوی خبرو ته غوږ شوم.

هغه بوډا چې ارسلان ورته "الفا" ویلې وه لاس اوږد کړو په میز باندی د ایخودل شوی میوو څخه یې یو سیب راوخیست او ویې ویل: ښه نو عزیزی، و دی نه ویل تا ولې زما د مشوری بغیر داسې یو کار وکړو؟
د هغه په خبره عزیزی خپل لاسونه موټ کړل او د غوسې څخه په ډک غږ یې وویل: دا زموږ په کار باندی اړوند کوم موضوع نه وه چې زه تاسو ورباندی خبر کړم ...

الفا د راخیستلې سیب څخه یو غچ وکړو او په خندا یې وویل: یعنې ته غواړې ووایې چې ما په نه خبر ځان دومره په زحمت کړو او ستا کور ته راغلم؟ هوم؟
عزیزی- نه، زما مطلب دا نه وو ..
الفا- نو مطلب دی څه وو؟
عزیزی- هغه ... هغه ... ما غوښتل د دی موضوع په اړه ستاسو سره مشورت وکړم.
الفا- کله؟ کله دی غوښتل مشورت وکړې؟ کله چې دی پیسې جیب ته اچولې وایې هغه وخت؟

عزیزی ژوره ساه واخیسته خپل رېږه کې ګوتي ووهل د هغه وروسته یې وویل: یعنې تاسو په دی نیمه شپه په داسې ډول زما کور ته یوازی د دی لپاره راغلې چې زه پیسي یوازی جیب ته نکړم؟

د عزیزی په خبره "الفا" ښه د زړه د خلاص وخندل د هغه خندا ډارونکي وه؟! د هغه خندا ما ته د رواني کسانو د خندا پشان ښکاریدل، د هغه کسانو پشان چې د قتل او وژولو مخکې خاندی همغسې سادیسمي خندا!؟ د څو شیبو خندا وروسته یې وویل: هوښیار شوی یې عزیزی ... خو ډېر هوښیارتیا تا ته ښه نه ده، یو حیوان باید تل حیوان پاتي شې که هوښیار شو بیا نو خپل مالک ته ضرر رسوی او کوم حیوان چې مالک ته ضرر ورسوی هغه باید ژر تر ژره مړ شې که څنګه؟ زما د خبرو په مطلب خو پوهیږی کنه؟!

د هغه په خبره زما سترګي له حیرت راووتل، دا بوډا اوس عزیزی د سپي سره مقایسه کړو؟ او بیا یې په

مرګ و ګواښه وو؟ دوه سترګي مې د عزيزی خواته ونيول ترڅو د هغه ريکشن وګورم د هغه لاسونه لا کلک موټې شول د مغزي رګونه يې ما د دی ليری څخه لا ليدلې شول چې د ډېر غوسي او عصبی فشار څخه راووتل جنګ ته په تمه وم خو د عزيزی په خبره خوله مې له حيرت خلاصه پاتي شوه، يعنې دا بوډا دومره ځواک لری چې عزيزی د دومره توهين او سپکاوی وروسته ورته تسليم شو؟

عزيزی- هو، بی له شک تاسو حق وايست.
الفا- ښه ده چې زما خبره منې، ډېر ښه ده، ورځه هغه کسان دلته راوړه.

نه پوهيدم چې د هغه مطلب د هغه کسانو څخه څوک دی؟ خو کله چې عزيزی ارسلان ته اشاره وکړل او هغه د ميلمنو د کوټي خواته روان شو نو پوه شوم چې مطلب يې هغه چنايان دی؟! يعنې عزيزی د الفا په ناخبری کی دا کسان راغوښتلې وه او غوښتل يې کوم

معامله وکړی؟ خو د څه معامله؟ یعنی دومره مهم معامله وه چې الفا یې تر دی ځایه راکش کړو؟

ډېر مې زړه غوښته د هغه معاملي څخه ځان خبر کړم،ارسلان چنایان چې اوس یې د وېرې څخه رنګونه لا پسي تک ژېړ شوی وه دهليز ته راوړل د هغوی د راوړولو سره سم بوډا خپل لځایه پاسید اوس د دی ځای څخه مې سم لیدلې شو تک تور سترګي، غنم رنګ مخ او سپین ږېره یې درلودل څهره یې تر ډېره بریده د بلوچ خلکو پشان وه! بلخصوص قد، قواره یې چې په همدی عمر کې هم تندرست او ځواکمن ښکاریدو د هغه بدبخت چنایانو مخکي و درید لکه چې هغوی "الفا" پیژنده چې ورته په زاری شول د هغوی په زاری کول باندی الفا په پوسخند باندی د عزیز خواته وکتل او ویې ویل: دا کورمک سترګي(تنګ سترګي) لکه چې تازه پوه شول د دی ځنګل پادشاه څوک دی؟

د هغه د خبرې ځواب کې عزيزې يوازې د ډېر غوسې څخه سترګې وترېل او سر يې وخوځاوه خو کوم څه يې ونه ويل، الفا يو څو ګام په هغه چنايانو راوګرځيد داسې لکه چې يو زمري خپل په دام کې راګير شوی ښکار باندې ګرځې د هغه په دې کار هغه بدبختان د ډېر وېرې څخه د ده پښو ته ځانونه واچو چې د هغوی په دی کار د الفا خندا لا پسې زياته شوه د ښه کټلو او خندلو وروسته د عزيزې خواته ورغلو خپل لاس يې د هغه پر اوږه کيخود او ويې ويل:

– د نن شپې کارونو او خبرو څخه عبرت واخله عزيزې ... نغوارېم خپل رام کړې حيوان خپل پر لاسونو ووژنم ... زما د صبر او زغم کاسه ډېره کوچنۍ ده عزيزې ... او ډېر ژر پر سر راځې نو فکر دی ساته ...زما د صبر سره لوبې مکوه چې تاوان يې يوازې ته ګورې او بس ... اوس هم ځکه چې وويل دی غوښتل دی
وروسته ماته خبر راکړې د مرګ څخه دې تېرېږم ..

البته میلمانه دی د ځان سره ورېم ځکه ستا څخه زه ډېر ښه میلمه پالنه کولای شم ...

د دی خبره سره سم هغه کس ته چې د ده سره راغلې و اشاره یې وکړل او خپل له دهلیز ووت،د هغه د وتلو سره سم د هغه کسانو هغه بدبخت چنایان چې ژړل یې او خپل پر ژبه یې زاری کول له اوږو ونیول او د ځان پسي په کش کولو له دهلیز وویستل ډېر ژر دهلیز د الفا د کسانو څخه خالي شو د هغوی د تګ سره سم د عبدالرحمان غږ مې واورید.

عبدالرحمان- که کار دی وشو نو راځه چې خپل پخواني ځای ته دی ویسم.

مخ مې د هغه خواته وګرځو او په تلوار مې وویل: بیا غواړې هغسې مې ویسي؟
عبدالرحمان پخندا وویل: نه دا ځل دی په غېږ کې ورېم.
- څـــــه؟
عبدالرحمان په همغه خندا وویل: استغفرالله، هسې زما

د خولي څخه خبرې باسې، خو څه ووایم؟ معلومداره ده چې همغسې دی ورېم ترڅو څوک دی ونه ویني.

د غوسي څخه مې سترګي پټې کړل او بغیر د څه ویلو مې د هغه لاس ونیو که څه هم پوهیدم چې دا ځل مې بدن د دومره عجیب غریب حالاتو توان نلری خو نه مې غوښتل کوم څه ووایم چې بیا عبدالرحمان راباندی ریشخند ووهې،خپل بدن مې کلک نیولې وو او بیا د هغه ډارونکې درد او حالت په انتظار کې وم چې عبدالرحمان پخندا وویل: راورسیدو سترګي دی خلاصي کړه.

د هغه په دی خبره مې ژر سترګي خلاصي کړل باور مې نه راتلو همغه پخواني کوټه کې وم! خو ما هېڅ کوم څه احساس نکړل؟ نه کوم د شمال غږ وو او نه هم کوم د بدن درد! په حیرت مې د عبدالرحمان خو اته وکتل چې هغه په شیطنت وویل: ستا د خبرو څخه مې ښه رانغلل نو ځکه لومړۍ ځل مې هغسې بوتلې ...

- یعنې تا له قصد زه هغسې پعذاب کړم؟!
عبدالرحمان بغیر د څه ویلو یوازې پخندا راوکتل زړه مې غوښتل ښه جوړ یې وډبوم خو افسوس ...افسوس چې زور مې نه وربا‌ندی رسیدو ..

د بیرون څخه د عزیزی غوسه ناک غږ په اوریدو د عبدالرحمان د ماشومانه ضد او کار څخه تېر شوم او د کوټې د دروازی خواته ورغلم لږ مې دروازه خلاصه کړه او بیرون ووتلم د کور ټول ساتونکي په دهلیز کې ولاړ وه، خو هیچا د عزیزی د وېرې څخه کوم خبره نشو کولای عزیزی دومره غوسه وو چې د مخ رنګ یې تک سور شوی وو، د لومړۍ ځل لپاره مې پر عزیزی زړه وسوځید، بیچاره خپل په کور کې،خپل د کسانو مخ کې په یو روپي شو ..

د څو دقیقو وروسته ارسلان لږ جرئت وکړو او د عزیزی خواته ورغلو مخ کې ودرېد او همدا چې خوله یې خلاصه کړل چې کوم څه ووایي د عزیزی دروند

لاس يې په مخ ولګید دومره په زوره يې په څپېړه وواهه چې ارسلان خپل د هغه دومره بدن او قوارې سره د کوچ څنګ ته وغورځيد .. د عزيزی په دی کار بې اختياره يو ګام بيرته د کوټې خواته لاړم زما د شاته تلو سره سم د عبدالرحمان د خندا ډک غږ پورته شو.

عبدالرحمان- اوه .. اوه حالات ډېر نازک دی کوچني جاسوس!؟ زما مني ترڅو چې غوسه يې نه وی سړه شوی خواته يې مه نږدی کيږه ...

که څه هم د عبدالرحمان د څو شيبو مخکې کار باندی غوسه وم، خو د دی خبری سره يې موافق وم، عزيزی يو دم ليوني شوی وو د ارسلان د وهلو وروسته يې هغه ميز په کوم چې ميوه کيخودل شوی وه راپورته کړو او په ديوال يې وويشت، هرڅه يې چې مخ کې ورتلل ټول يې مات او خراب کول، دومره غوسه وو چې هر نفر کوښښ کاوه خپل ځان ورڅخه بچ کړی خو عزيزی په هيچا رحم ونکړو د ارسلان د وهلو وروسته

يې غفار او د هغه ساتونکي راونيول نه يوازې وهل يې بلکي هر ډول کنځل يې چې په خوله ورتلل هغوي ته يې کول ..

د هغه په داسې ليدو غوښتل مې د کوټې دروازه کرار وترم او تر يو څو ساعتو هملته پټ شم ترڅو د عزيزي غوسه سړه شې يا هم له کور ووځې،خو لا مې دروازه نه وه ترلې چې د عزيزي قهرجن غږ مې واوريد چې ويې ويل: يو .... يو حرمو*ي زموږ منځ کېدی ... يو جاسوس زموږ منځ کيدی ...

د جاسوس د نوم په اوريدو بې اختياره مې غوږونه تېز او لاس د کار ولېد،خپل د خولي لاړې مې تېر کړل،يعنې پوه شوی چې زه جاسوس يم؟ نه که خبر شوی وايې زما پسي راتلو نه دا چې ووايې؟! يوازې مشکوک شوی؟ خو ولې؟ څنګه مشکوک شوی؟

عزيزي داسې حال کې چې د ډېر غوسي څخه ستمي کاوه بدبخت ارسلان له ګريوان ونيو او د فرش څخه

يې راپورته کړو،که څه هم د ارسلان څخه مې بيحد بد راتلل خو نن ماښام مې په دی بدبخت هم زړه وسوځيد ..

عزيزی- ارسلان ... وګوره ..وګوره کوم پدرلعنت زموږ د منځ څخه هغه ... هغه بې شرف الفا ته خبر ورې؟ وګوره ... وګوره دا نمک حرام څوک دی چې د نن شپې د ليدني خبر يې د هغه حرمو*ی تر غوږ رسولې؟ تر سهار .. تر سهار وخت لری که ... که پيدا دی نکړو زما مخ ته رانشې خپل قبر پخپل وکينه او ځان پټ کړه د دی څخه مخکې چې زما لاس در ورسيږی پوه شوی؟

د عزيزی په خبره ما خو هوڅا نفس واخيست، شکر مطلب يې د الفا د جاسوس څخه وو نه د پوليسانو! خو عجيب وه راته الفا او عزيزی دواړو يوځاي کار کوو نو بيا ولې الفا د عزيزی خواته جاسوسان راستول؟ تازه د جنرال او بوډا دوي په خبرو پوهيدم هغوی ويل عزيزی يوازينې لاره ده الفا ته تر رسيدلو او د هغه تر

برباد کولو؟ مطلب هغوي پوهيدل چې عزيزی او الفا يو دبل سره په جنګ دی او پر يو بل باور نلری؟

د عزيزی په چغو پوغ باندی ارسلان او ورپسي د کور نور ساتونکو خپل پښې سپکي کړل او په سترګو،سترګو ويلو باندی د عزيزی له مخ تقريباً وتښتيدل د هغوی د تلو وروسته ما هم کرار دروازه بنده کړل او کوټې ته ننوتلم عبدالرحمان نه وو خدای خبر بيا چيرته غيبانه شوی وو؟ عزيزی تراوسه غوسه وو او ما نه غوښتل د هغه د سترګو وړاندی پورته ښکته شم ترڅو مفت ميدان کې مې بياب کړی.

کوټې ته د راننوتلو وخت کې تومانچه راڅخه د دورازی کونج کې غورځيدلې وه دومره ورخطا شوی وم د الفا په ناساپه راتګ چې بيخې مې لياده ووتل تومانچه بايد لاس کې ونيسم نه دا چې پر ځمکه يې کيږدم، خپل د تومانچې خواته ورغلم راپيرته مې کړل، عجيب وه خو دا تومانچه راباندی ګرانه شوی وه! کله چې

راسره وه نو د امنیت احساس مې کاوه فکر مې کاوه کوم څوک راته زیان نشې رسولې؟ که څه هم پوهیدم هسې دروغجن احساس دی خو بیا هم زما خوښیده ...

د بیکارۍ څخه د کوټې منځ کې کښیناستم او خپل تومانچې ته په کتو شوم، خو ټول فکر مې د هغه اخیستل شوی عکسونو خوا ته وو، یعنې د الفا د عکس په لیدو به بوډا څه ووایې؟ زړه مې غوښت د هغه څهره وګورم کله چې ورته وایم د الفا عکس راسره دی؟ ضرور تعجب کوی؟ بیا به په تلوار د مخابرې خواته منډه وهې او جنرال ته دا خبر ورکوی،په دی فکر مې مسکا پر شونډو راغلل چې د کوټې دروازه په کلک خلاصه شوه ...

دومره د دروازی په ناساپه خلاصیدو حیران شوم چې
بې اختیاره مې تومانچه هغه خواته ونیول، خو د
عزیزی په لیدو چې په غوسه او څه ناڅه حیرت یې
زما خواته راکتل ژر مې تومانچه راښکته کړل او ومې
ویل: وبخښي ... هغه .. هغه ما فکر وکړو کوم بل څوک
دی.

عزیزی بغیر د څه ویلو څو شیبې په ځېر راوکتل د هغه
وروسته یې وویل: موټر راوباسه غوارم تر یوځای
لاړشم.
- سمده.

د سمده پر ویلو لځایه پاسیدم او د دروازی خواته روان
شوم عزیزی څنګ ته شو او زه په تلوار له کوټې ووتلم،
دا یوه، یونیم میاشت بلخصوص د نن شپي د حالت په
لیدو په یوه خبری سم صحیح مې سر خلاص شوی وو
او هغه دا چې کله چې عزیزی غوسه یا عصبي وی نو

يوازې ورته سمده .. په سترګو .. ووايه مطلب د هغه تایید وکړه که داسې وخت کې ورځخه پوښتنه وکړې چې چیرته ځو؟ یا څه کار لری؟ نو یو جانانه وهلوو ته خپل بدن تیار کړه، لومړۍ مې غوښتل خپل موټر راوباسم خو نیمه لاره کې پښیمانه شوم عزیزی ویل موټر راوباسه، نو مطلب خپل موټر یې غوښته نه زما؟! خو متاسفانه د ده د موټر کیلې د ارسلان سره وه نه زما سره؟

نه پوهېدم څه وکړم؟که پورته لاړشم او دا خبره ورته وکړم نو ضرور غوسه کیږی هسې هم نن ماښام عصاب،مصاب نلری،خو که دلته ودرېږم او هغه راشي نو بیا هم غوسه کیږی .. مجبور د کور شاوخوا په ګرځیدو شوم ترڅو ارسلان یا هم کوم بل څوک پیدا کړم او د هغه په واسطه موټر روښانه کړم خو ټول د عزیزی د وېرې څخه ځانونه غیب کړی وه، اخر مجبور شوم خپل موټر روښانه کړم همدا چې موټر مې روښانه

کړو عزیزی په هممغه تروش تندی او غوسه له کور راووت ..

خپل تور غټ کوټ یې اچولې وو او سګریټ یې په خوله کې وو، کله چې زما موټر یې خپل و مخ ته ولید نو په حیرت یې راوکتل چې ما په تلوار وویل: ستاسو د موټر کیلې د ارسلان سره وه او ارسلان ما پیدا نکړو نو ځکه مجبور شوم دا موټر راوخلم ...

عزیزی بغیر د څه ویلو سر وخوځاوه، فکر مې کاوه د تل پشان شاته سیټ کې کښینې خو هغه زما څنګ ته په مخ کې سیټ کې کښیناست، که څه هم دا څو وخته څه ناڅه د هغه د رفتار سره مې عادت کړې وو خو بیا هم عزیزی یو داسې کس وو چې چا اټکل نشو کولای چې د هغه راروان حرکت څه دی؟ بیحد مرموز شخصیت یې درلود نو ځکه لږ ورڅخه ډاریدم البته د ډار څخه ډېر احتیاط مې کاوه، موټر مې روښانه کړو زما د ښه بخت حتا د دروازی ساتونکي لا تللې وو ...

مجبور شوم پخپل دروازه خلاصه کړم موټر بیرون وباسم او بیا دروازه بنده کړم .. دی ټول موده کې عزیزی په خاموشۍ کې لګیا وو خپل سګریټ یې واهه کله چې عمومی سړک ته ورسیدم نو تازه یې غږ پورته شو او ویې ویل: د *** منطقي خواته لاړشه.

د هغه په خبره د موټرواني حالت کې مې په ګنګس انداز وروکتل د کوم منطقي نوم چې هغه واخیست ما بیخي نه وو لیدلې ..خپل د خولې لارې مې تېر کړل او کرار مې وویل: هغه ... هغه وبخښي خو ما دا ځای نه دی لیدلې؟!
د خبری کولو سره سم د کنځل او وهلو په تمه وم خو د هغه لځایه د عزیزی حیران غږ مې واورید: مګر ته د پکتیا څخه نه یې؟
د سترګو له کونج مې د هغه حیران څهری ته وکتل او په تلوار مې وویل: هو ..هو .. زه د پکتیا څخه یم.

عزیزی- عجب! نو بیا ځنګه دا آدرس درته معلوم نه دی؟
رښتیا مې ورته وویل: هغه ... هغه زه دومره نه ګرځم، تل کار ته ځم او د کار ځخه کور ته .. نو ځکه ډېر ځایونه مې نه دی لیدلی.
عزیزی ځو شیبي په چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته داسی حال کې چې خپل د سګریټ ځخه یې کش اخیست ویې ویل: عمومي څلور لاري ته ووځه د هغه ځایه چپ خوا ته تاو شه بیا همداسې زه درته لاره ښایم.
- سمده.

ځنګه چې عزیزی ویل همغسې روان وم د نیم ساعت وروسته په یو کوځه کې ننوتلم او عزیزی د موټر د درېدو وویل، ما هم موټر و درو او په مشکوک انداز شاوخوا په کتو شوم،عزیزی دلته څه کار لری؟ ایا د کوم چا سره ملاقات لری؟ کاش شموئیل نن ماښام وایې نن چې دومره زما پکار وو د هغه لځایه د هغه

ليوني ورور راغلې وو چې يوازې ضد او ماشومانه کارونه يې زده وه نور په هېڅ هم نه وو خبر، زړه کې مې عبدالرحمان ته کنځل کول چې عزيزې له موټر ښکته شو، د هغه د ښکته کيدلو سره سم زه هم ښکته شوم ...

زه مثلاً د هغه ساتونکي يم کنه؟ بايد ورسره لاړشم؟ عزيزې بغير د څه ويلو د يو کور د دروزاې خواته روان شو زه هم کرار ورپسې روان شوم،هغه کوم څه ونه ويل او ما هم د هغه خاموشي په رضايت معنا کړل مطلب هغه غوښتل زه ورسره اوسيږم؟ که نه يې غوښتل نو د نن ماښام پشان يې چې له کوټې وويستل ويل يې راته چې مه راځه کنه؟ په همدې فکر لړ زړه او جرئت مې ورکړو او څو ګام نور هم ورننږدې شوم زما په ننږدې ورتلو عزيزې د سترګو له کونج راوکتل او ويخندل ...!

د هغه پخندا حیرت مې وکړو!؟همدا ځو شیبې مخکې د غوسي څخه ورسره یوه خبره نشو کیدلې او اوس خاندی؟ د ځو شیبو وروسته دروازه خلاصه شوه د دیرش،څلویښت کالو په عمر یو چاغ سړی راووت او همدا چې نظر یې په عزیزی ولګید نو خوله یې له خوشحالۍ څخه درې متر خلاصه شوه او په چاپلوسي عزیزی کور ته دعوت کړو، عزیزی هم بغیر له دې چې هغه سړی په انسانانو کې وشماری او کوم ځواب د هغه خبرو ته ورکړی تندی د ځو شیبو مخکې پشان تروش کړو او کور ته ننوت ..

د عزیزی د ننوتلو وروسته زه هم کور ته ننوتلم، دوه منزل لوکس کور وو بیحد ښکلۍ فضا یې درلودل خو نه پوهېږم ولې ما پکې بد احساس درلود؟! په مشکوک انداز مې شاوخوا وکتل خو کوم عجیب شئ مې تر سترګو نشو عزیزی بغیر له دی چې هغه سړی ته چې په ظاهر د کور مالک ښکاریدو کوم توجه وکړی دهلیز ته ننوت.

زه هم دهلیز ته ننوتلم نه پوهیدم چې عزیزی په څه خاطر دلته راغلې؟ د هغه سړی د څهری څخه کوم چې موږ ته دروازه خلاصه کړه داسې نه ښکاریدل چې چندان مهم کس دی اوسیږی؟ بلخصوص کله چې عزیزی بیخی ورته توجه لا ونکړل، نو مطلب عزیزی دلته د یو بل چا دیدن ته راغلې؟ خو څوک؟ دهلیز منځ کې څو چرمي کوچونه څنګ په څنګ کیخودل شوی وه عزیزی بغیر د کوم څه ویلو لاړ او د هغه پر یو دانه کښیناست چې یو ځل بیا هغه سړی په چاپلوسی باندی د عزیزی خواته ورغلو او ویې ویل:

– پخیر راغلې مشره، خدای مو هر کله راوله،په راتګ دی زموږ دا فقیرانه جونګړه روښانه کړل.

عزیزی په دروند نظر داسې حال کې چې سګریت واهه د هغه سړی چاپلوسانه خبرو ته غوږ ونیو د ښه شیبې چوپتیا وروسته یې په دروند غږ وویل: ستا د بیځایه

خبرو حوصله نلرم که غواړې ژبه دی خوله کې پاتي شي نو بهتره به دا وی چې بیځایه خبری ونکړې.

د عزیزی په دی خبری خندا راغله،د هغه دا خبره ما ته د ذوالفقار ګواښونه را په زړه کړل هغه تل داسې کسان ګواښول، خدای دی ډېر عمر در کړی ذوالفقار ... کاش کولای مې شو چې یو ځل بیا دی ووینم ... کاش ...

عزیزی- څه لری؟
د عزیزی په خبره د هغه سرې سترګي له خباثت وځلیدل او یو ځل بیا یې چاپلوسی ته خوله خلاصه کړه او ویې ویل: هر څه چې تاسو امر وکړی هغه به مو په خدمت کې وی مشره! نوی، تازه دست نخورده مال راغلی، ستاسو له ښه شانس همدا نن ماذدیګر زموږ لاس ته راورسیدل، داسې مال دی چې ...

عزیزی خبره وریرې کړل او داسې حال کې چې خپل د سګریټ څخه یې لوی کش اخیست ویې ویل: هر څه چې په لاس کې لری راوړه، چې نن ماښام غواړم

دومره مست شم چې لیاده مې ووځې څه شوی؟ یا حتا زه څوک یم؟

د عزیزی په دی خبره سرې په تلوار سر د سمده په توګه وخوځاوه او په ځغاستو د پورته منزل خواته روان شو، یعنې عزیزی دلته راغلې ترڅو شراب وڅښې او نشه شې؟ یا هم شاید چرس او مواد غوارې ووهې؟ هر څه چې دی خو  غوارې ځان نشه کړې ترڅو د نن شپې د الفا هغه توهین امیزه خبری او کارونه لیاده وباسي، په افسوس مې سر وخوځاوه او په تمه وم چې هغه سرې د شراب یا موادو سره راشې خو کله چې نظر مې په دوه،درې ځوان انجونو ولګید چې تقریبا بربنډې د زینو څخه د راښکته کیدو په حال وه خوله مې له حیرت خلاص پاتې شوه ..

خو ډېر ژر پر ښود راغلم او نظر مې د هغوی څخه واخیست د ډېر شرم او خجالت څخه تک سور شوی وم باور مې نه راتلو چې د عزیزی مقصد د مست کیدلو

ښخه انجوني وه نه کوم مواد یا شراب! ای لعنت دی وې پر تا عزیزی باور مې نه راتلو چې دا دی همغه فاحش*ه خا*ه وی، کوم چې شموئیل ویلې وه .. په بیحد جبر مې نظر د عزیزی خواته کړو ترڅو ورته ووایم زه موټر کې په تمه کیږم او هر کله چې تا خپل غول خوړل خلاص کړل د هغه وروسته راشه، خو کله چې هغه انجوني مې ولیدل چې یو د عزیزی غیږ کې او بل یې یو او بل څنګ ته کښیناستل نو زړه مې غوښتل څاڅکي اوبه شم او د ډیر شرم څخه پر ځمکه ننوځم ...

د درې واړو انجونو عمر لږ ښکاریدو، شاید که ډیر،ډیر وایې شل یا یویشت کالو په عمر شاید وی، یعنې دا انجوني کورنۍ نلری؟ پلار، ورور،کاکا،ماما؟یعنې هیڅ داسې کس خپل په سر نلری چې دوي وساتي او داسې کارونو ته یې پرینږدی؟ امکان لری چې په زوره یې راوړې وی او دی کار ته یې مجبورې کړې وی؟ نه که په

زوره یې راوړی وایې داسې نه خندل او داسې ځانونه په عزیزی نه موښل ...

مجبور کس له څهری څخه ښکاری چې مجبور دی خو د ادی خبره د دی انجونو د سترګو حیا تللې وه، فکر مې کاوه د جهنم منځ کې شتون لرم او زره اندازه اکسیجن لا نشته د ساه اخیستلو لپاره، خپل ګریوان ته مې لاس کړو او خپل د یخن یو دوه تڼي مې خلاصې کړل چې د هغه منحوس دله،دوس سړی چې اوس پوهیدم کار یې څه دی د خندا غږ پورته شو.

– مشره لکه چې ستاسو د مست کیدلو څخه مخکې ستاسو موټروان مست شو؟!

د هغه په دی خبره عزیزی په تلوار زما خواته راوکتل او لکه چې تازه یې زما شتون ته فکر شو، خپل یوه وریځ یې په حیرت پورته کړل او ښه په زیر یې زما خواته راوکتل د څو شیبو کتلو وروسته پخندا او شیطنت یې د هغه جنۍ غوږ کې کوم چې د ده غیږ

کې ناسته وه یو څه وویل او هغه جنۍ په بیحد ناز او نخرو زما خواته راروانه شوه، د هغې په نږدې راتلو مې سترګې د حیرت او وحشت څخه خلاصې پاتې شوی چې عزیزی پخندا وویل: فکر کوم نن شپه ستا د مجردی د مات کولو شپه ده برهان؟!

د عزیزی په دی خبره د جنۍ د نږدې راتلو په اصل مقصد پوه شوم بې اختیاره څو ګام ورخڅه شاته شوم او په تلوار مې وویل: ضرورت نشته ... زه ... زه ت... تاسو ته په ... په موټرو کې په تمه یم ...

دا یوه جمله مې په یو خواری او زحمت ادا کړل او د هغه وروسته بغیر له دې چې د هغه منحوس دله حیران نظر ته وګورم یا هم د عزیزی مشکوک نظر ته کوم پام وکړم دوه پښې مې درلود دوه نور مې هم قرض کړل او په منډه د هغه منحوس کور څخه ووتلم ... په موټر کې کښیناستم او د موټر ټول دروازی مې وتړل، فکر مې کاوه زړه مې نږدې دی د ډېر هیجان او

وېرې څخه د خولې څخه راووځې، د دی ځای ادرس مې په بیحد رپیدونکې لاسونو خپل موبایل کې ولیکو ...

باید د دی ځای ادرس جنرال دویته ورکړم ترڅو د داسې مردار کارونو مخه ونیسي، نه پوهېږم ترڅو ساعتو به د هغه منحوس کور مخکې په موټر کې ناست وم او عزیزی ته مې کنځل کول چې بلاخره د کور دروازه خلاصه شوه او عزیزی داسې حال کې چې سګریټ یې دود کاوه له کور راووت، د هغه د څهری په لیدو د لومړۍ ځل لپاره مې کرکه ورڅخه راغلل ما حتا هغه وخت چې دې مې د هغه کس د وژولو حال کې ولید دومره کرکه نه وه راغلې لکه څنګه چې اوس مې ورڅخه بد راغلل..

عزیزی پخندانه خوله د موټر خواته راغلو او مخکې سیټ کې کښیناست بغیر له دې چې ورته وګورم موټر مې روښانه کړو او روان شوم، هرڅومره چې کوښښ مې کاوه ځان غوسه ونه نیسم خو بې اختیاره مې

تندی تروش کړی وو زړه مې غوښتل تومانچه راوخلم او په هغه کې موجود ټول مرمۍ د عزيزی په سر کې خالي کړم خو د موټر د اشټرينګ په کلک نيولو ځان مې د دی کار څخه منع کاوه ..

عزيزی- ولې دی هغه جنۍ رد کړل؟

د عزيزی په ناساپه پوښتنه نيم نظر مې د هغه خواته واچو، چې هغه خپل د سګريټ څخه غټ کش واخيست او داسې حال کې چې زما په خوا يې خوشې کاوه يو ځل بيا وويل: هوم؟ و دی نه ويل ولې؟

کوښښ مې وکړو خپل ځان کنټرول کړم، دا ماموريت بيحد مهم وو او ما حق نه درلود په داسې يو بيځايه کار باندی هغه خراب کړم،د عزيزی کار د هغه په عمل نامه کې ليکل کيدو نه زما په عمل نامه کې چې زه ورته خفګان وکړم؟! بلخصوص چې هغه انجونۍ هم راضې وه داسې نه وه چې په هغوی جنسې تيرې کيده او زه لکه بيغرت ولاړ وم؟! په دی فکر ژوره ساه مې

واخیسه او کرار مې وویل: زه شاید دا څو وخته د سم لارې څخه غلط لارې ته راغلې اوسیږم خو بیا هم مسلمان یم او زړه مې دا اجازه نه راکوی چې داسې کار دې وکړم.

په تمه وم چې عزیزی یو بد ریکشن وښایي، خو د څو شیبو وروسته کله چې د هغه کوم غږ مې وا نه ورید نو کرار مې وروکتل چې هغه مسکا پر شونډو زما خواته راکتل، کله چې زما نظر یې ولید نو ویې ویل: نو ولې دې زه منع نکړم؟ مګر اسلام کې دا نه دی راغلې چې کله تاسو خپل مسلمان ورور په بد کار ګوری نو هغه د بدی څخه منع کړی؟! لومړۍ په لاس، که په لاس مو توان نه درلود، نو په خبرو،که هغه مو هم نشو کولاي بیا نو په زړه؟!

د عزیزی په دی خبره په حیرت مې وروکتل، دا حدیث وو؟! کوم خبره چې هغه وکړل هغه حدیث شریف وو، خو عزیزی ولې باید حدیث زده کړی؟ منم چې مسلمان

به وی خو .. خو د هغه یو کار هم د اسلام سره جوړ نه راتلو، اصلاً هغه ولې ما ته دا حدیث وویلو؟ لکه چې نشه دی؟ یا هم شاید لیوني شوی؟ نه ضرور نشه دی،کنه داسې خبره ولې باید وکړي؟ دی خپل په زړه تر دی منحوس،مردار ځای راغلو پخپل خوښه یې هغه مردار کار وکړو او اوس ماته داسې په ملامت انداز راګوی ته وا ما په زور دلته راوړی او دی کار ته مې مجبور کړی؟!

د هغه خبری ته مې خندا راغلل وایې تا به زه منع کړی وایې؟! خپل منحوس شکل،قواری او کارونو ته یې لکه چې نه دې کتلې؟ چې یوه خبره ورسره نکیږی او لړ چې عصاب یې خراب شې څواب په مرمۍ درکوی زړه یې غوښتل زه یې منع کړم ترڅو ومې وژني؟ زه مګر لیوني یم؟ بغیر د څه ویلو مې بیرته نظر د موټروانې خواته کړو چې دا ځل په غوسه یې وویل:

– تا ته وایم برهان ... ولې دی زه منع نکړم ها؟؟ ولې دی راته نصیحت ونکړو؟ ولې دی ونه ویل سلطان دا کار دی ښه نه دی؟ ها؟ ولې دی زه د تل پشان ونه ګواښولم ترڅو داسې کار ونکړم؟

په خلاصه خوله مې د عزیزی خواته کتل د هغه خبری عجیب وه؟! د هغه د خبرو مخاطب زه نه وم؟! او دا هغه وخت پوه شوم کله چې ځانته یې د سلطان خطاب وکړو نه د عزیزی ...! ده زما سره خبری نکول؟ ده اصل کې د هغه برهان سره خبری کول!؟ همغه چې جنرال دوی یادوه؟ زما د حیران نظر په لیدو لکه چې تازه پر ښود راغې او پوه شو چې زه هغه برهان نه یم کوم چې دی فکر کوی!؟ ځکه ناساپه پع غوسه یې راڅخه مخ وګرځو ما هم نور څه ونه ویل ..

خو انکار نشم کولای له دی چې بیحد مې زړه غوښتل د هغه برهان په اړه پوه شم اخیر هغه د عزیزی څه کیدو چې پر عزیزی دومره ګران وو؟ ای کاش شموئیل دلته

وايې عزيزی داسې په فکر کې تللې وو چې بی له شک ويلی شم د هغه برهان نومي کس په اړه يی فکر کاوه او که شموئيل وايې نو امکان يې درلود نن شپه پوه شوی وای چې دا برهان نومې کس اصل کې څوک دی؟

له دی چې د عزيزی په فکرونو نه پوهيدم سخت غوسه راغلې وه، د شپي تقريبا يوه بجه وه سړکونه تر ډېره بريد خالی وه ما هم خپل د غوسي د کم کولو لپاره د موټر سرعت ور زياد کړو، د موټر د سرعت په ډېر کولو عزيزی نيم نظر راوکتل خو څه يې ونه ويل، ما هم چې د هغه خاموشي وليدل يو څه نور هم موټر ته مې سرعت ورکړو

غوښتل مې د څلور لاري خخه تاو شم چې ناساپه د سترګو په رپ کې يو ماشوم مې وليد چې زما د موټر مخکې راغلو دومره په ناساپه توګه راغلو چې ما هرڅومره د موټر په بريک پښه ټينګه کړل خو بيا هم ونه توانيدم چې موټر ودروم او هغه ماشوم مې وواهه

... د هغه د وهلو وروسته په یو متر فاصه کې تازه موټر مې بریک ونیو او ودرېد .. دومره په ناساپه مې بریک نیولې وو چې عزیزی سر د موټر په ښیښې ولګید زما سر هم د موټر په شټرینګ ولګید خو درد مې ورڅخه احساس نکړو .. ټول فکر مې د هغه ماشوم په خوا وو، ما هغه د موټر لاندی کړو؟

عزیزی په غوسه داسې حال کې چې خپل تندی نیولې وو وویل: څه غول خوری هاا؟ نږدی وو چې دواړه مړه کړی ...

په خلاص سترګو د وېرې مې د هغه خواته وکتل، ده مګر هغه ماشوم ونه لید کوم چې ما د موټر لاندی کړو چې خپل د تندی په غم کیدی؟ زما د وېرېدلې نظر په لیدو عزیزی خپل تندی لیاده ووت او په ګنګس انداز یې وپوښتل: ښه یې برهان؟ خوږ شوی یې؟
- م... ماشوم ...
زما په خبره عزیزی نور هم ګنګس شو او ویې ویل:

ماشوم؟ کوم ماشوم؟ ښه یې؟ ولې دی ناساپه داسې بریک ونیو؟

فکر مې کاوه د ډېر وېرې او وحشت څخه مې فشار ښکته شوی ژړا راغلې وه باور مې نه راتلو ما یو بیګناه ماشوم وواژه ما خپل په بې احتیاطي هغه وواژه ..

زما د ژړا په لیدو عزیزی له اوږی ونیولم یوهیدم چې غوارې دلداری راکړې خو ما یو بیګناه ماشوم وژلې وو، د هغه دلداری راکول څه فایده درلودل؟د هغه خبرو نور هغه ماشوم نشو ژوندی کولای ...
- ما ... ما هغه وواژه ...
عزیزی په اندیښنی راوکتل.
— ته څه لګیا یې برهان لیونې شوی یې؟ څوک دی وواژه کوم ماشوم؟

په تلوار مې د هغه لاس خپل د اوږی څخه لری کړو او له موټر څخه ښکته شوم، شاید ژوندی وی؟ امکان لری ژوندی اوسیږی؟ که څه هم باوری وم په کوم سرعت

چې ما هغه وواهه ژوندی پاتي کیدل یې امکان نلری مګر دا چې معجزه وشي؟! خو بیا هم غوښتل مې خپل د زړه لپاره وګورم،غوښتل مې وګورم څه خاوری مې خپل په سر کړل؟ زما د ښکته کیدلو سره سم عزیزی هم راښکته شو، شاوخوا د لیونیانو پشان د هغه ماشوم د جسد پسې ګرځیدم خو ... خو هیڅ شي نه وه؟!

عزیزی زما خواته راغلو داسې حال کې چې زه یې له اوږی نیولم ویې ویل: ولې له موټر څخه راښکته شوی؟ څه مرګ پر تا شوی؟
په حیرت مې شاوخوا وکتل بیا مې د عزیزی خواته وکتل او ومې ویل: ماشوم څه شو؟

عزیزی په غوسه خپل غاښونه سره وچیچل او ویې ویل: کوم ماشوم؟
- هم.. همغه چې ما په موټر وواهه؟
عزیزی په حیرت راوکتل داسې لکه چې زما په خبره نه

وی پوه شوی ویې ویل: تا په موټر ماشوم وواهه؟ کله؟

په ژړغوني غږ مې وویل: هم ...همدا اوس .. یو کوچني ماشوم ناساپه راغلو پخدای ما بریک ونیو خو هغه د موټر مخکې ځان واچو ما نه غوښته چې ویې واهم باور وکړه ...

عزیزی په مشکوک انداز شاوخوا وکتل تکه تور شپه وه موږ چې کوم سړک خوا کې وو دا یو فرعي سړک وو دلته دومره تګ،راتګ نه وو، زه تر اوسه لګیا وم د ماشوم پسې ګرځیدم چې ناساپه عزیزی په تلوار له اوږی کش کړم او د موټر خواته یې ویوړلم بغیر له دې چې زما کوم خبری ته غوږ ونیسي زه یې په زوره موټر ته واچولم او پخپل د موټر شاته کښیناست،په بیحد تلوار یې موټر روان کړو .. زما یوه خبری ته یی هم غوږ نه نیو ما ورته زاری کول چې موټر ودروه ترڅو د

هغه ماشوم پسې وګور شاید امکان ولری چې ژوندی وی؟

خو عزیزی بغیر د څه ویلو په تروش تندی او څه ناڅه په اندیښني بغیر له دې چې زما خبری ته غوږ ونیسي په بیحد ډېر سرعت موټر راون کړی وو، داسې لکه چې موټر په هوا کې روان دی نه پر ځمکه .. کله چې خپل د کور مخکې ودرید تازه هغه وخت یې د موټر سرعت کم کړو، ما نور نه ژړل یوازی ناست وم او فکر مې کاوه .. هغه ماشوم به هم مور او پلار درلودل؟ یعنې هغوي به اوس وریسي ګرځې؟ شاید خپل د ماشوم د راتلو په انتظار وی؟

خو .. خو خبر نه دی چې ما د هغوي ماشوم په موټر وواهه ... ما هغه وواژه ... هغه ماشوم به نور هېڅکله د هغوي خواته لاړ نشې ... په دی فکرونو مې دومره سر په درد شو چې فکر مې کاوه یو ځل بیا عصبي د فشار دوره راباندې راغلل او د پوزی څخه مې وینه په

بهیدو شوه،عزیزی د کور مخکې موټر ودرو او زما خواته راغلو زه يې له اوږی ونیول او د کور خواته يې کش کړم، ما هم داسې حال کې چې کوښښ کاوه خپل په لسټونې باندی د پوزی وینه بنده کړم ورپسی کش کیدلم ...

دهلیز ته په ننوتلو بغیر د دربېدو عزیزی د دویم منزل خپل د کوټي خواته کش کړم، زه يې خپل په کټ کښينولم او لکه لیونیانو پشان شاوخوا په ګرځیدو شو څو شیبې وروسته یو څو کاغذی دسمالونه يې زما خواته ونیول، په نه زړه مې د هغه له لاسه دسمالونه واخیستل او خپل پوزی ته مې ونیول تازه مې د پوزی وینه دریدلې وه چې عزیزی مې مخکې ودرید او ویې ویل: ته عصبی مرض لری؟

په ګنګس انداز مې سر پورته کړو او د هغه خواته چې په مشکوک انداز يې زما مخ ته راکتل ومې ویل: څه؟ عزیزی- وایم ته عصبې ناروغتیا لری؟ کله ناکله توهم

وهې؟
په همغه ګنګس انداز مې وویل: توهـم؟
عزیزی- هو توهم ... مطلب بیځایه خیال او فکر؟
داسې خیال چې ته فکر وکړې رښتیا دی؟

د هغه د خبرو په مطلب نه پوهیدم، په ګنګس انداز مې وروکتل چې هغه ژوره ساه واخیسته بیا د کوټې د کونج خواته ورغلو کوم خوا کې چې یو میز او یو څوکۍ کیخودل شوی وه د میز له مخ یې څوکې راواخیسته او زما مخ ته وراندی کښیناست او ویې ویل: هلته هېڅوک نه وه برهان؟! هلته هېڅ کوم ماشوم نه وو هلت...

ژر مې خبره ورپرې کړل او ومې ویل: نه هلته ماشوم وو ما پخپل سترګو ولید ما .. ما هغه وواهه ..

عزیزی په افسوس ناک نظر راوکتل.
— نه، برهان هلته هیڅوک نه وو، اصلاً ته ماته دا وایه چې د شپې په دی ناوخته یو ماشوم هلته په

هغه خالي سړک کې څه مرګ غوارې؟ او بل دا چې ما د موټر مخکینې برخه وکتل موټر د هیڅ شي سره نه وو لګیدلې؟! که تا د ربښتیا یو ماشوم وهلې وایې نو د موټر مخکینې برخه باید پر وینو شوی واې کنه؟ ایا تا کوم وینه ولیدل هلته شاوخوا؟تا په هسې میدان باندی بریک ونیو برهان ... هلته هیڅوک نه وو هېڅوک ...

د عزیزی یوه،یوه خبره مې ذهن کې په ګرځیدو شوه " نه هلته هیڅوک نه وو، اصلاً ته ماته دا ووایه چې د شپي په دی ناوخته یو ماشوم هلته په هغه خالي سړک کې څه مرګ غوارې؟ او بل دا چې ما د موټر مخکینې برخه وکتل موټر د هیڅ شي سره نه وو لګیدلې؟! که تا د ربښتیا یو ماشوم وهلې وایې نو د موټر مخکینې برخه باید پر وینو شوی واې کنه؟ ایا تا کوم وینه ولیدل هلته شاوخوا؟تا په هسې میدان باندی بریک ونیو برهان ... هلته هیڅوک نه وو هېڅوک ..." تازه مې مغزو کار پیل کړو او ... اه لعنت دی وی، خپل سترګي مې کلک سره وتړل او لاسونه مې موټ کړل، پیریان ...

هغوي راغلې ... شموئیل راته ویلې وه چې هغوی زما د تګ، راتګ خبر شوی او شاید وغواړی پعذای دی کړی،څنګه مې دا خبره لیاده ووتل؟ اصلاً زه ولې د عبدالرحمان په ناساپه تګ باندی به دی موضوع مشکوک نشوم؟ ای لعنت دی وی عجب زدني ښه راغلاست یې راڅخه وکړو؟ تر اوسه مې د بدن بند،بند د وېرې څخه لړزیدو د عزیزی په غږ د فکرونو څخه راووتلم ...

عزیزی- بیا په کوم سوچونو کې غرق شوی؟ بیا دی څوک مړ کړو؟

د عزیزی په دی خبره کوښښ می وکړو ځان راټول کړم پیریان څه د نن او پرون کیسه نه وه چې زه دی تر دی حد ورڅخه و وېرېږم، البته منم چې نن یې یو څه ډېر وېرولې وم، څوک وا رزیلان تللې وه کوم هندی فلم یې کتلې وو چې د هغه صحنه یې پر ما اجرا کړل، رښتیا ایا پیریان فلم ګوری؟ د عبدالرحمان خبره مې رایاد

شول ویل یې موږ ستاسو انسانانو شیانو نه استعمال کووو؟! مطلب نه یې ګوری؟ نو بیا ولې نن داسې خطرناک زه وه وېرولم؟ اصلاً دا عبدالرحمان ولې ناساپه داسې غیب شو؟

باید ومنم چې د نن پیښې بیحد وېرولې وم، خو بیا هم دا معنا یې نه درلود چې زه دی د عزیزی مخکې ځان داسې وبایلم زه د پیریانو سره د جنګ بغیر بل لوی مسئولیت په غاړه لرم، خپل ستونې مې تازه کړو او ومې ویل: وبخښي هغه ... هغه اصل کې زه د شپې تر دی ساعت د کور څخه بیرون نه پاتي کیږم.

عزیزی خپل یوه وریځ پورته واچول او ویې ویل: مطلب؟
- مطلب ... ه.. هغه زه یو څه د شپې د تیاری څخه وېرېږم؟! نو .. نو ځکه هغه دقه چې راروان وو زما ذهن کې داسې بیځایه خبری ګرځیدل او ناساپه و ډار

شوم او فکر مې وکړو چې کوم ماشوم مې د موټر لاندې کړی.

زما د خبرو خلاصېدو وروسته عزيزی څو شيبې په حيرت راوکتل خو ډېر ژر يې حيرت پخندا بدل شو او ويې ويل: باور مې نه کيږي يعنې د وېرې څخه دې موټر داسې تيز روان کړی وو ترڅو ژر راورسيږی؟

سر مې ښکته واچوي چې عزيزی په افسوس خپل سر وخوځاوه، ما هم د دروغو خپل ځان داسې وښود چې"هو" زه خو د رښتيا دومره ډارن يم، خو عزيزی څه خبر وو چې ما څه وحشتناک شيان ليدلې؟ ما د جنرال د لور ټوټې شوي بدن ليدلې وو، ما د هغه ليوني جنرال سره د ژوندي پاتې کيدلو لپاره مبارزه کړې وه او دومره پيريانو وېرولې وم چې اوس څه ناڅه ورسره عادت شوی وم؟! البته بغير د نن شپې وېرولو څخه، که زما لځايه بل هر څوک وايې او دومره ډارونکې شيان يې

ليدلې وايې نو بې له شک ويلې شم چې په همغه لومړۍ کې به مړ وايې، خو زه ژوندی وم؟!

د څو شيبو چوپتيا وروسته عزيزي داسې حال کې چې تر اوسه يې پر شونډو مسکا وه وويل: نن ماښام همدلته پاتې شه هسې نه لاره کې بيا کوم څوک د موټر لاندې کړې ..

عزيزی خندل خو ما د هغه دا خبره بيحد خوښه شوه، نن ماښام ما هم نور جرئت نه درلود چې يوازی ځان تر کور لاړشم، هر څومره چی يوازی وايې هغومره د پيريانو شوق راتلو تر څو ما بدبخت وو وېروي، نو د عزيزی کور کې پاتې کيدل بيحد ښه شانس وو، که څه هم زړه مې غوښتل د الفا څخه اخيستل شوی عکسونه بوډا ته وښايم خو زما د ژوند څخه خو مهم نه و؟

لځايه پاسيدم او کرار مې وويل: مننه، که ستاسو اجازه وې نو زه به لاندی منزل کې په يو کوته کې تر سبا پاتې شم؟ (بيا مې د هغه تندی ته وکتل چې د موټر

درولو حال کې په ښیښه لګیدلی وو او که څه هم نه وو مات شوی خو تک شین شوی وو او ومې ویل: او بخښنه هم غوارم .. ما ... ما نغوښتل داسی وکړم.

عزیزی چې زما نظر ته پام شو چې د هغه تندی ته ګورم نو پخندا یې خپل په تندی لاس کش کړو او ویې ویل: کوم خبره نه ده ما د دی څخه غټ زخمونه لیدلې دا خو مات شوی لا نه دی، او هو لاندی منزل ته مه ځه .. زما د کوټې ښې اړخ ته چې کوم اطاق دی هملته ویده شه.

د هغه په دی خبره نه پوهیږم ولې خو ناساپه د بوډا خبره مې ذهن ته راغلل" عزیزی بچه باز دی؟!" خو ژر مې خپل دا فکر له ذهن څخه وویست نه داسې کوم خبره نشته که عزیزی بچه باز وایې نو نن ماښام باید په هغه منحوس کور کې هلک ځانته راغوښتلې وایې نه جنی؟! په کراره مې سمده وویل او غوښتل مې له کوټې ووځم چې هغه راپسی غږ کړل.

عزیزی- رښتیا برهان ..؟!
مخ مې وروګرځو ..
- ها؟!

عزیزی- ستا څخه خو نه یم خبر خو زه بیحد وږی یم، او ویني چې ټول کسان د وېرې څخه غیب شوی نو خپل د خیر البته (پخندا او شیطنت یې خپل شین شوی تندی ته اشاره وکړل او ویې ویل: د یو قصاص په نظر ورته وګوره او زما د مات کړې تندي په خاطر ډوډۍ راته تیاره کړه.

د هغه په خبره مې خندا راغلل دا کار یې سم د زبیر پشان وو، هغه داسې په هر کار کې ځانته ته د یو ګټې لاره پیدا کول، سر مې وخوځاوه او روان شوم، لاندی منزل کې آشپزخانه وه کله چې ورننوتلم نو تازه مې دا فکر ذهن ته راغلو چې څه پوخ کړم؟! د یخچال خواته ورغلم کله چې مې خلاص کړو نو یو زه پکې کم وم؟!
نور نو  تر سر ډک وو  ...

هر شي پکی موجود وه د غوښي څخه نیولې شیدي، پنیر، مربا، سیب،کیله خلاصه چې هر مرګ او درد پکې موجود وه خو ما دا شیان نه غوښتل، یخچال مې لړ اخوا دیخوا کړو او بلاخره یو څو هګۍ مې پیدا کړل، د هګۍ په لیدو خندا مې راغلل هغه وخت چې تازه مې کور نیولې وو او د ذوالفقار څخه جلا شوی وم نو شپه و ورځ مې هګۍ پخول تر دی حد چې زبیر به کله ناکله پخندا راته ویل د هګو میرہ ..

هې یاد یې پخیر ... څه وختونه وه، غټ ترینه مصیبت او ستونزه مې هغه وخت پیریان وه، خو اوس .. اوس د داسې کسانو سره مخ شوی وم چې پیریانو ته یې لا تعلیم ورکو، دا د پیریانو څخه بتر وه سم شیطانان وه ... د انسان په شکل کې شیطانان .. خپل په فکرونو کې غرق وم او همغه حال کې لګیا وم رومیان مې میده کول چې د عزیزی غږ مې خپل شاته واورید.

عزیزی- بیا په کوم فکرونو کې غرق یې؟

نیم نظر مې ورواچو او په صداقت مې وویل: ما یوازی هګۍ پخول زده، اوس مې چې هګۍ راواخیستل نو خپل د ملګری خبره مې رایاد شول هغه به تل ما ته ویل د هګو میرﮤ ...

زما په خبره عزیزی پخندا شو، آشپزخانه کې یو کوچني میز او دوه،درې څوکۍ څنګ ته کیخودل شوی وه داسې حال کې چې یو څوکۍ راکش کول او پر هغه کښیناست ویې ویل: عجب! اوس چیرته دی هغه ملګری دی؟

د هغه په دی خبره مې خپل شونډه وچیچل عجب بد مې وکړل زه نه باید هغه ته خپل شخصی معلومات ورکړم؟!
- ه.. هغه ... اوس کابل کیدی ... څو کاله مخکې د پکتیا څخه لاړو.
عزیزی- اهوم، اوس هم ورسره خبری کوی؟ مطلب ملګری یاست؟

د هغه د پوښتنو څخه لږ ورخطا شوم، خو ځان مې راټول کړو دا یو عادی او نرماله مکالمه ده نه باید ورخطا شم او هغه پر ځان مشکوک کړم، نو ځکه ځان مې د رومیانو په میده کولو مصروف وښود او ومې ویل: نه .. یعنې دومره خبری نکو، مطلب د لومړۍ څخه هم دومره صمیمې ملګری نه وو، اوس چې هم کابل ته تللې بیخې نو ملګرتیا مو خلاصه شوه.

عزیزی د پوهیدو په انداز سر وخوځاوه، چې ما هوسا نفس واخیست، شکر لکه چې پخیر تېر شو؟ څو شیبې چوپتیا وه نه ما څه ویل نه هم هغه یوازی دوه سترګي زما خواته نیولې وه او زما کارونو ته یې کتل رومیان مې ښه سره کړل د هغه وروسته مې هګۍ مات کړل،څلور هګۍ مې کړایۍ ته ورواچول او غوښتل مې سر یې د یو څو دقیقو لپاره بند کړم ترڅو سم پخي شي چې عزیزی راغږ کړل.

عزیزی- نور هګۍ نشته؟
- څنګه؟
عزیزی- وایم نور هګۍ نشته چې دا څلور دانۍ دی
پخې کړل؟ په دی خو زه لا نه مړیږم ته څه خوری؟
- هګۍ شته غواړی یو دوه نور هم وراضافه کړم؟ البته
زه یې نخورم.
عزیزی- ولې؟
- زړه مې نغواړی.

زما په دی خبره ناساپه د عزیزی تندی تروش شو او له
څوکۍ راپاڅید، بغیر له دی چې زما خواته راوګوری د
یخچال خواته لاړ څلور نور هګۍ راوخیستل او زه یې
د ګاز له مخې لری کړم داسې حال کې چې راخیستل
شوی هګۍ په کړایۍ کې اچول په تروش تندی وویل:
یوه شپه زما کور کې پاتې شوی نغواړی بوډۍ
وخوری؟ خلک به څه وایې؟ چې عزیزی خپل میلمه ته
بوډۍ ورنکړل؟ یا که وېرېږی نمک ګیر نشې هوم؟

د هغه په دی خبره مې حیرت وکړو، فکر مې نه کو زما بوډۍ نخوړل به هغه په دومره خبرو تعبیر کړی؟!
غوښتل مې څه ووایم خو هغه وار رانکړو او ویې ویل: زما بد راځي یوازی کښینم او بوډۍ وخورم، که زړه دی هم نغواړی بیا هم مجبور یې کښینی او د دروغو زما سره بوډۍ وخوری لیاده خو دی نه دی وتلې دا زما د تندی قصاص دی؟!

د هغه په دی خبره مې بیا خندا راغلل داسې ویل زما د تندی قصاص؟ ته وا ما ورته په قصد مات کړی البته مات هم نه وو؟!

- فکر نکوم په دی دومره شئ دی قصاص راشې؟ اخر مات شوی لا نه دی؟ یعنې که یو څاڅکۍ وینه راغلې وایې بیا هم یوه خبره، او له بلخوا ما له قصد هغه کار ونکړو زما تندی هم خوږ شو.

عزیزی بد،بد راوکتل او ویې ویل: دروغ ولې وایې؟ پر تا خو هیڅ نه دی شوی.

د عزیزی په دی خبره خپل د سر ویښتیا چې پر مخ او تندی مې راغلې وه او زما د سر زخم چې د عزیزی څخه یو څه ډېر وو پټ کړی وو،هغه ته وخود او ومې ویل: دروغ نه وایم وګوره زما تندی ستا څخه ډېر خوږ شوی، مات شوی،وینه ورڅخه راغلې،البته ځکه چې د ویښتیانو لاندی دی نو ځکه تا ونه لید، اوس ډاډمن شوی چې له قصد مې هغه کار نه وو کړی؟

زما د تندی د زخم په لیدو ناساپه عزیزی د هګۍ پوستک یو خوا ګوزار کړو او زما خواته راغلو د هغه په داسې ناساپه راتګ یو څو ګام شاته لاړم، لکه چې غلط خبره مې وکړل؟ عزیزی په تلوار ځان تر ما راورسو او زما د تندی زخم ته په کتو شو د هغه حرکاتو کې یو ډول عجیب وېره او اندیښنه ښکاریدل؟!
عزیزی- ولې دی اول ونه ویل چې خوږ شوی یې؟
کوښښ مې وکړو ځان د هغه څخه لږ لری کړم او ومې ویل: د ... دومره لوی زخم نه دی یوازی یو معمولې ټپ دی.

عزیزی په غوسه خپل غاښونه یو پر بل وچیچل او څو ګام زما څخه شاته لاړ او بیا بغیر له دې چې زما خواته وګوری له اشپزخانې ووت، د هغه دی کارونو ته حیران وم! یعنې زما لپاره ورخطا شو؟ عزیزی عجیب انسان وو هر څومره چې کوښښ مې کاوه ویې پیژنم هغومره ورځ په ورځ عجیب کیدو، د کړایۍ خواته ورغلم او په مشغول فکر هګیو ته ودریدم،د څو دقیقو وروسته هګۍ پخه شول، اور مې مړ کړو خو عزیزی تر اوسه نه وو راغلې غوښتل مې لاړشم او ورته غږ کړم چې ډوډۍ تیار ده، چې خپل اشپزخانې ته راننوت تندی همغسې تروش وو.

بغیر د څه ویلو زما خواته راغلو په حیرت مې د هغه حرکات د نظر لاندی نیولې وه، کله چې زما څنګ ته راورسید نو د زخم دوه دانۍ پلستر(چسپ) یې زما خواته ونیول او ویې ویل: دا دی په زخم باندی تر سبا سهار ولګوه ترڅو زخم دی نور خراب نشې، سهار چې

غفار راغلو نو د هغه سره لاړشه ډاکټر ته ترڅو وګوري جدي زخم خو نه دی؟!

خوله مې له حیرت خلاصه پاتی شوه خو ناساپه پخندا شوم او ومې ویل: فکر کوم په هغه ټک کېدی دماغو جدی زیان لیدلې عزیزی؟ کنه هر هوښیار انسان پوهیږی چې په دی دومره کک زخم باندی څوک نه مړ کیږی.

کله چې دا خبره مې وکړل د هغه وروسته تازه مې دماغو کار وکړو او پوه شوم چې مخ کې می څوک ولاړ دی؟! خپل شونډه مې کلک وچیچل او غوښتل مې بخښنه ورڅخه وغواړم چې عزیزی بغیر د کوم خاص ریکشن څخه د میز خواته لاړ او ویې ویل: شاید امکان یې شته، البته دا زیاتر کارونه د لوړی نس څخه کیږی که ډوډی راته راوړی نو شاید دماغ مې ځای ته راشي؟

***

د هغه شپي څخه تقريباً دوه مياشتي تېرېدل په دی دوه مياشتو کې څه ناڅه د عزيزی سره د پخوا څخه ډېر صميمی شوی وم، د هغه او د الفا د ډېر کارونو په اړه مې معلومات تر لاسه کړې وه، او په دې پوه شوی وم چې عزيزی د مجبوری څخه د الفا سره کار کوی او هغه ورځ چې کوم چنايان ده خپل کور ته راغوښتلې وه هغه اصل کې د طلاو د يو کان لپاره راغلې وه؟!

په بدخشان ولايت کې د طلاو يو کان(معدن) پيدا شوی و، د هغه کان په اړه دولت ته معلومات نه وه او ځينو شخصي کړيو غوښتل هغه په غير قانوني توګه د ځان لپاره خرڅ او پيسي جيب ته واچوې، نو ځکه هغه د طلاو کان يې په پټ توګه په تور بازار کې پر ليلام اچولې وو، تور بازار څخه مې مطلب د خلافکارانو،مجرمانو، مافيايې کړيو، بازار دی کوم کې چې دوي هر ډول معامله کوی که هغه د موادو اخيستل وی، د وسلو اخيستل وی، يا هم د انسانانو د بدن د غړو

اخیستل او قاچاق ... دوي دلته هر شئ خرڅوي او اخلې او د دی ځای نوم یې تور بازار کیخودلې ...

د طلاو کان هم دی بازار کې د خرڅلاو لپاره کیخود ل شوی وو، چې د هغه د اخیستلو کسانو څخه یو هم عزیزی وو، عزیزی هغه کان اخیستې وو او غوښتل یې هغه کان په پټه باندی پر چنایانو خرڅ کړی او د هغه ټول پیسي جیب ته کړی، د دی خبری په اوریدو بیحد مې عزیزی ته عصاب خراب او غوسه راغلل، هغه د طلاو کان د دولت او ټول ولس حق وو او د عزیزی دا کار د وطن د خرڅ کولو په برابر وو، خو کله چې پوه شوم عزیزی ولې غوښتل دا کان یوازی ځان واخلې نو غوسه مې څه ناڅه سړه شوه، که عزیزی هغه کان نه وایې اخیستي نو زر نور وطن خرڅونکي،غلامان موجود وه چی هغه واخلې ...

خو عزیزی د دی لپاره اخیست ترڅو خپل پیسي ډېر کړی او یو جلا ګروپ ځانته جوړ کړی؟! هو عزیزی

غوښتل خپل شتمني او ځواک ډېر کړی ترڅو د الفا سره په مقابله کې ودرېږی خو متاسفانه چې الفا ته خبر له مخکې رسیدلی وو نو ځکه هغه شپه یې عزیزی داسې بیاب کړو او خپل پر ځای کښینوي، الفا دا یو کال د عزیزی د څارني لپاره د هغه خوا ته جاسوسان استول، حتا هغه دوه نفر کوم چې عزیزی رانیولی وه او یو نفر یې زما مخ کې وواژه هغه دواړه هم د الفا جاسوسان وه؟!

ما د طلاو کان د پیدا کولو او د هغه د خرڅ کولو خبر بوډا او جنرال دویته ورکړو او د حق تېر نشم هغوی هم ډېر ژر عمل وکړو او هغه کسان یې راونیول کوم چې په غیر قانوني توګه لګیا وه او کان یې
راویست،خو بیا هم تقریباً نیم کان طلا د هغه ځای استخراج شوی وه؟!

عزیزی ویل هغه طلا د الفا سره ده؟! او دا چې الفا څه ورباندی کول هغه د ړنا ورځ پشان روښانه وه، الفا پر

هغه طلاو د نور مملکتونو څخه ځانته وسله راغوښتل البته تر دا دوه میاشتو کوم داسې خبر ما نه وو اوریدلې چې هغه طلا دی الفا چیرته په تور بازار کې معامله کړی وی؟! خو عزیزی ویل الفا ډېر ځیرک دی،هغه طلا ساتلې ترڅو کله چې اوضاع آرام شې نو هغه وخت یې راوباسي نه اوس چې ټول خلکو د نظر لاندی نیولې ..

او باید ومنم الفا بیحد هوښیار انسان وو او څنګه چې هغه خپل کارونه پر مخ وړل ما فکر نه کوو چې زر کاله وروسته دی لا جنرال دوی هغه راګیر کړی شې، هغه د رښتیا هم یو الفا وو؟! خپل د لقب پشان یو نمونه، ځیرک او هوښیار رهبر .. کله ناکله مې فکر کاوه که الفا د دی لځایه چې د مافیا مشر شې یو سیاسي مشر په دولت کې د خلکو د ګټې لپاره جوړ شوی وایې نو دا وطن به څومره پرمختګ کړی وایې؟ خو افسوس چې زموږ زیاتر زیرک او هوښیار کسان یا خپل د ګټې پسي دی یا هم د نورو د غلامي پسي ..

د موبایل د زنګ پر غږ په خود راغلم ژر مې څواب ورکړو عزیزی وو، له دې چې ناوخته کړې مې وه غوسه وو، د سمده درغلم پر ویلو مې خبره ورپرې کړل او موبایل مې بند کړو، دا یوه نیم میاشت کیدل چې د عزیزی سره تلم جیم ته؟! منم چې عجیب ښکاری خو عزیزی د ورزش سره بیحد شوق درلود؟! خپل دا قد او قواره یې د ورزش له لاری داسې غټه کړې وه، دا څو وخته زه یې هم په زور لځان سره جیم ته وړلم که څه هم لومړۍ ورځو کې بیحد مې بد راتلل خو باید ومنم اوس د یو نیم میاشت وروسته فکر کوم بدن مې د پخوا څخه یو څه په فرم راغلې؟

نور مې اوبږی بوکي نه دې راوتلې بادې مې کړې او که رښتیا ووایم نو د عزیزی څخه مننداوی وم چې په زوره یې لځان سره جیم ته ویوړلم، اوس تازه دا قواره مې د انسانانو پشان شوی وه، څو دقیقي وروسته جیم ته ورسیدم موټر مې د سړک بل غاړې ته په پارکینګ کې پارک کړو او پخپل د یو بکسي سره چې پکي د ورزش

شیان وه د جیم خواته روان شوم، بیحد ښکلې جیم وو ..

پیسي هم کله ناکله ښه شئ وی داسې جیم ما یوازی په فلمونو کې لیدلی وو چی د پیسه دار او خانانو زامن پکې ورزش کاوه خو دا یوه نیم میاشت کی ما هم په داسې یو لوکس ځاې کې ورزش کاوه البته د عزیزی په برکت؟! کنه ما تخو په دې قیمتي ځاې کې د جارو وهلو دنده لا چا نه راکول ورزش کول خو پکې لرې ...

همدا چې دروازه مې خلاصه کړه او سالون ته ننوتلم نو لومړۍ شئ چې مې احساس کړو هغه وو د خولې بوی! که څه هم د دې ځاې مالک تل کوښښ کاوه تر څو دا ماحول پاک وساتې خو بیا هم د خولی بوی یو نه ورک کیدونکې شئ وو، بغیر له دې چې د نور کسانو خواته کوم توجه وکړم د عزیزی خوا ته روان شوم، په دې څو وختو کې پوه شوی وم چې د جیم د ټولو څخه اخری کونج، کوم ځاې چې فضا یې څه ناڅه د نور سالون په پرتله تیاره ده د عزیزی د ورزش کولو ځاې دی ..

البته نه يوازې زه بلکې د جيم ټول کسان پوهيدل چې دا څو متر ځای د عزيزی دی او هېڅوک حق نلرې هغه خواته ورشي .. البته بغير زما څخه چې د هغه سره مې دلته يو ځاې ورزش کاوه؟! او پخپل عزيزی زما استاذ وو؟!

يعنې ورځ تر بلې زه د عزيزی په کارونو حيران کيدلم؟! هغه دومره په ماهرانه توګه ورزش کاوه چې په جيم کې موجود ټول کسانو آرمان کوو چې عزيزی استاذ شي؟ خو عزيزی يوازی زما استاذ شوی وو؟ کوم حرکت لاړشم؟ څو سيټ لاړشم؟ څومره د هر حرکت منځ کې ارام وکړم؟ دا ټول هغه راته خودل کله ناکله چې لوی وزن مې پورته کوو نو پخپل به يې زما څارنه کول، ترڅو د غلطې څخه وزن پر ځان وانچوم او ځان خوږ نکړم.

- سلام.

زما د سلام په غږ عزيزی د ورزش کولو څخه لاس واخيست او راوېکتل.
عزيزی- دا وخت د راتلو دی؟
په تلوار مې خپل بکس پر ځمکه کيخود او داسی حال کې چې ورڅخه يو د ورزش پتلون او دريشي(زير پيرهني) راخيستل ومې ويل: وختې مې حرکت کړې وو خو لاره کې مې د موټر ټير پنچر شو ترڅو چې هغه مې جوړ کاوه نو ناوخته شول.

عزيزی په کوچني څوکي چې اصل کې د سينې د وزن پورته کولو لپاره وو کښيناست داسې حال کې چې بوتل اوبه يې راخيستل په سر باندې د کالو بدل کولو اطاق خواته اشاره وکړل او ويې ويل: ژر دې کالی بدل کړه او راشه.

- سمده.

په تلوار د کوټی خواته روان شوم خپل کالي مې د يو ورزشي پتلون او دريشې سره بدل کړل او بيرته د

عزیزی خواته راغلم، هغه لکه چې د تل پشان زما د راتګ مخکې خپل ورش خلاص کړې وو چې لګیا وو کرار یې اوبه څښل؟ پدرلعنت عجب بدن جوړ کړی وو؟! سم د ذوالفقار پشان البته د ذوالفقار څخه ډېر یې زحمت ویستلې وو ذوالفقار دومره ورزش نه کوو هغه زیاتر کوښښ کاوه بدن یې منظم اوسیږی خو عزیزی داسې ورزش کاوه ته وا غواړی کوم د بدن جوړوني سیال کې ګډون وکړی؟!

البته باډې د کالو اغوستلو وخت کې دومره نه ښکارېدل خو اوس چې پتلون او یو تنګ دریشې اچولې وه نو بدن یې ډېر ښکلې ښکاریدو، مړ شې لخیره ...یعنې امکان لری یوه ورځ زما بدن هم داسې شې؟ خپل ځانته مې وکتل منم چې دا یو نیم میاشت کې د عزیزی په هغه عجیب غریب او قیمتي پروټینونو باندی اته،نهه کیلو اضافه وزن مې اخیستي وو او بدن مې د پخوا څخه ډېر راته غښتلې ښکاریدو خو بیا هم چیرته زه او چیرته عزیزی؟

عزیزی- بیا چیرته ورک شوې؟ شابه ژر راشه زه زر کار لرم درې ساعت تاته نشم په تمه کیدلې ..

په تلوار یې خواته ورغلم چې هغه په تروش تندی د منډې د ماشین خواته ټیله کړم، د دې ماشین نوم مې صحیح نه وو زده؟! یوازی دومره پوهېدم چې هرڅومره ځغلې د هغه لاره نه خلاصیږی! د اصلې ورزش کولو مخکې د څو دقیقو لپاره عزیزی تل په همدی ماشین ځغلولم ویل یې بدن دی ګرم کوي ترڅو نور حرکات په آسانې وکړی، ځغاستلو ته مې شروع وکړل چې عزیزی مې څنګ ته ودرېد او ویې ویل: کوم خبری ته دې فکر کاوه؟ چې هلته ولاړ وې؟

- کوم خاص شئ نه وو، یوازی فکر مې کاوه ایا داسې ورځ به راشې چې زما بدن هم ستا پشان شي؟
عزیزی- څنګه زما پشان؟
- مطلب ستا پشان غښتلی؟
زما په خبره عزیزی پخندا شو او ویې ویل: په ویښ

باندی بیځایه خوبونه مګوره برهان ...په یو یا هم دوه میاشتو کې داسې باډي جوړ کول ناممکن خبره ده، البته ستا بدن اوس هم ډیر ښه ورزش ته ځواب ورکړی د پخوا څخه ډېر ښه شوی یې.

- هو، پخپل هم فکر کوم چې بدن مې اوس ډېر ښه شوی،البته فکر کوم زیاتر د وزن اخیستلو څخه داسی شوی؟!

عزیزی- اهوم وزن ښه دی خو ... هغه وخت چې په ورزش کولو باندی ورڅخه عضله جوړه کړی نه چربي او وازګه

- څومره وخت کیږی چې ورزش کوی؟

عزیزی- زه؟

- هو.

عزیزی- اته، اته نیم کال شاید کیږی.

- اووو دومره ډېررر؟!

عزیزی- غواړی زما پشان بدن جوړ کړی؟

د ځغاستول حال کې مې سر د "هو" په بڼه وخوځاوه چې عزیزی په خوشحالۍ وویل: غم مکوه که تر هغه وخت ژوندی وم نو پخپل درسره مرسته کوم چې داسې بدن جوړ کړی.
په پوسخند مې وویل: انشاءالله چې ژوندی به یې ...

د یو ساعت ورزش کولو وروسته چې بدن مې تقریبا میده،میده شو د جیم څخه راووتلو د یوه نیم میاشت ورزش کولو باوجود اوس هم بدن مې د ورزش سره عادت نه وو او هره ورځ د جیم څخه د راوتلو وروسته فکر مې کاوه اوس نو د ډېر سترېیا له لاس مرم، فکر مې کاوه یو سلو لس ټېره هغه غټ ټریلر موټر راباندی تېر شوی،داسې بدن مې ټوک،ټوک وو او درد یې کاوه خو عزیزی په بیغم خیال لګیا وو د کیلې جوس یې خوړو؟!

نه پوهېدم اخر دا نو څنګه انسان دی؟ ولې درد یا سترېیا نه احساس کوی؟ په زیر،زیر مې ورته کتل چې

هغه خپل د لاس جوس زما خواته ونیو؟! د هغه په دی کار په حیرت مې وروکتل چې هغه پخندا وویل: واخله دومره دی راوکتل چې و دې ډارولم دا جوس راته زهر نکړي ..

په تلوار مې وویل: نه .. ما د جوس لپاره نه کتل زه اصلاً د ورزش کولو وروسته تر یو دوه ساعتو اوبه لا نشم څښلې جوس خو لری، هسې دی خبری ته مې فکر کاوه چې د ورزش کولو وروسته ته ولې نه ستړی کیږی؟ مطلب زه خو د اخ و ټوخ لویږم خو ته ماشاءالله جوس خوری؟!

عزیزی پخندا شو او غوښتل یی کوم څه ووایی چی موبایل ته یې زنګ راغلو، د موبایل په غږ ما ته ځواب راکول یی لیاده ووتل او موبایل یې راوخیست د عزیزی یو عجیب عادت دا وو چې د موبایل ځواب ورکولو وخت کی خبری نه کول یوازی هو .. نه .. ویل یا هم زیاتر وخت په چوپتیا کې د مقابل نفر خبرو ته

غوږ نیو خو دا ځل یی هغه لا ونه ویل نه پوهیږم د موبایل شاته څوک وو؟ او څه یی وویل؟ چې ناساپه د عزیزی د څهرې رنګ بدل شو خپل غاښونه یې یو پر بل وچیچل

او خپل د موټر کیلې زما خوا ته ونیول، پوه شوم چی مطلب یی د موټر راوړل دی. په تلوار د موټر خواته ورغلم او روښانه می کړو د موټر د روښانه کیدلو سره سم عزیزی همغه حال کی چی موبایل یې پر غوږ نیولی وو راپورته شو بغیر له دی چی پوه شم چیرته باید لاړشم موټر می روښانه کړو، دا څو میاشتي د عزیزی سره کار کولو څه نا څه هوښیار کړی وم اوس د پخوا پشان ساده نه وم پوهیدم چی په اضطراری او ستونزمنو وختونو کی څنګه رفتار وکړم.

دا جرئت مې نه یوازی د انسانانو په وړاندي ډېر شوی و، بلکې د پیریانو مقابل کې هم څه ناڅه دلاور شوی وم، اوس د هغوې د ځینو مضریتونو څخه نه ډارېدل،

لکه دشپي لخوا به يې چې دروازه په خرش خرش
خلاصول يا هم د ساسي پشان به پع دیوالونو حرکت
کاوه نور د هغوي په دی کارونو نه ډاریدم اوس ډادمن
شوی وم چې هغوی ما نشې وژلی او یوازی زما په
وېرولو غوارې شموئیل پعذاب کړی، نو ځکه د هغوی
داسې مضریت اوس راته تر ډیره برید د ماشومانو د
شیطنت پشان ښکاریدو نه کوم وېره او ګواښ ...

د جیم څخه تقریبا شل پنځه ویشت متر لری شوی وم
او بې هدف روان وم چی عزیزی په غوسه موبایل بند
کړو او ما ته یی وویل: د *** خواته لاړشه.
- سمده.

دا ځای مې پیژنده همغه ځای وو چی لومړې ځل د
عزیزی د اصلې څهری سره مخ شوم، همغه ځای چی
عزیزی پکی یو نفر وواژه .. پوهیدم چی بیا هم
همغسې یو موضوع راپیښه شوی، خو دا ځل د وېرېدلو
لځایه غوږونه مې تېز کړی وه ترڅو یوڅه معلومات

راتېول کړم چې ایا بیا د الفا جاسوسان یې رانیولې؟ یا که دا ځل کوم بل بدبخت یې راګیر کړی؟ د نیم ساعت وروسته همغه د څو میاشتو مخکې کنډ او کپر کور مخې ته ورسیدم،موټر مې د کور مخکی و درو چې عزیزی بغیر د څه ویلو ښکته شو ...

زه هم ورپسي ښکته شوم عزیزی هیڅ ونه ویل البته د ویلو لپاره یې څه درلود هم نه، اوس زه هم د هغه د ګروپ یو برخه په حساب راتلم، کور ته چی ننوتلو نو لومړی کس چی مخکې راغلو هغه ارسلان وو..

ارسلان- مشره ...
عزیزی د خبرو کولو وار ورنکړو، او پهداسې حال کې چې خپل غاښونه یې یو پر بل چېچل ویې ویل: چیرته دی؟

ارسلان یو څو ګام شاته لاړو او د سر په خوځولو یې د هغه اشنا کوټې خواته اشاره وکړل، هو، نو معلومداره ده چې همغه پخوانې کوټه ده، دا ځای ته وا د عزیزی د

شکنجې او قتل کولو پېښځای دی؟ عزیزی په غوسه ناک ګامونو کوټې ته ننوت ما هم غوښتل ورپسې لاړشم چی ارسلان مې اوږه ونیول او ویې ویل: ته چیرته روان یې؟ خیرت خو دی؟

په پوسخند مې خپل اوږه د هغه له لاسه جلا کړل او ومې ویل: سترګي خو لری انشاءالله؟ که لری نو ګوری چې د عزیزی پسې روان یم.

ارسلان په غوسه راوکتل او ویی ویل: مشر ووایه، ته دومره شئ نه یې چی هغه ته په نوم غږ کوی.

ارسلان د عزیزی د لاس تربیه شوی حیوان وو، البته وحشي حیوان او کله چې کوم کس یو وحشي حیوان اهلې کړي نو هغه حیوان یوازی یو کس پیژني او ورته خدمت کوی؟ او هغه دې د هغه مالک؟! ارسلان هم د عزیزی د رام کړې حیوان حیثیت درلود، البته په دی توپیر چی فکر یې کاوه ځاې او مقام یې د یو اهلی

حیوان څخه ډیر دی؟ خو عزیزی چی کله ورته توجه نکول او ما ته یې ارزښت راکو نو ده اور اخیست ...

اوس هم دا کارونه او خبری زیاتر د ډېر ضد له لاسه کول نو ځکه ما هم د دی لپاره چی ښه اور ورواچوم ورته ومې ویل: هرڅومره شئ چئ یم او کنه؟ لومړی خو هغه پر تا مربوط نه دی او دویم دا چې ته د پیاز سر یې او که تل چې داسې فرمایشونه کوی؟ زړه مې غواړی ورته عزیزی ووایم اصلا زړه مې غواړی ورته سلطان ووایم ته څه کاره؟

زما په خبرو د ارسلان د مخ رنګ د ډیر غوسي څخه سور شو او ناساپه خپل کنټرول یی له لاسه ورکړو، غوښتل یی ما په بوکس ووهې، خو زه یې ژر په نیت او ارادي پوه شوم او د هغه د ګوزار کولو مخکې ما په بوکس وواهه او بیا مې یو جانانه لغت هم په خیټه کې ورکړل، دومره ناساپه او تخنیکې ګوزار می ورکړو چې ارسلان پر ځمګه راوولید او په راوتلو سترګو د درد او

حیرت یې زما خواته راوکتل، شاید باور یی نه کیدو چې د هغه څو میاشتو مخکی ډارن هلک کوم چی د ژوندی پاتې کیدلو لپاره د ته زارۍ کول داسې وهل ورکړي؟

په دوه پښو یی ځنګ ته کښیناستم او په پوسخند مې د هغه تک سور مخ ته چی د ډېر درد له لاسه رنګ یې اوښتې وو وکتل او ومې ویل: که تر اوسه دې فکر کوو چې زه د همغه څو میاشتو مخکې ماشوم یم، نو د نن د وهلو وروسته داسې غلط فکر نور ونکړې پوه شوی او کنه؟ زه نور هغه ساده انسان نه یم کوم چې خپل د ژوندی پاتي کیدلو لپاره زارۍ کوی، زه دا څو میاشتي ستاسو په منځ کې غټ شوم او په ډیر شیانو پوه شوم نو که غواړې ژوندی پاتي شې زما خواته مه راځه دا یو دوستانه نصیحت وګڼه نه کوم ګواښ ...

د دی خبرو وروسته بغیر له دی چې د ارسلان راوتلو سترګو د حیرت ته وګورم د هغه کوټې پخوا روان شوم

کوم کې چې عزیزی ننوتلي وو، کله چې ننوتلم نو عزیزی می د کړکۍ څنګ ته د سګریټ وهلو حال کې ولید، باور مې نه راتلو یعني دومره ژر یې اظهارات واخیستل چې اوس لګیا وو او سګریټ یې واهه؟ لعنت دې وی یعنې زه یې ولیدم چی ارسلان مه وواهه؟ اصلاً ولې نور کوم کس په دی منحوس کور کې نشته؟ ولې یوازی مور درې کسان دلته یو؟ د خولې لاړې مې تېر کړل اوضاع مشکوک ښکاریدل غوښتل مې د عزیزی خواته نږدې ورشم او پخپل ورته د ارسلان د وهلو کیسه وکړم مخکې له دې چې ارسلان ورته د دروغو کوم داستان جوړ کړی ..

خو لا یو ګام مې د هغه خواته نه وو اخیستي چې د کوټې منځ کې په یو راڅرېدلې نفر مې نظر ولګید؟!انه پوهېږم عزیزی څه شوق لری چې هر نفر چې راګیر کړې نو چپه پر پښو باندی د چت څخه راځوړند کوی؟ په زیر مې ده راځوړند شوی کس خوا ته وکتل لومړۍ شئ چې مې په نظر راغلو بیحد چاغوالې وو یعنې

دومره چاغ وو چې مخ یې لا ورڅخه پوښلې وو، کله چې ښه په زیر مې وروکتل نو ناساپه مې ساه سینه کې قید شول دا ... دا خو احمدزی دی؟

د هغه په لیدو رنګ مې د وېرې څخه یو دم تک سپین شو، بې اختیاره یو ګام شاته لاړم اوضاع د لومړۍ هم صحیح نه ښکاریدل او اوس د احمدزي په لیدو سل په سل ډاډمن شوم چې خبره خرابه ده، عزیزی د څه لپاره احمدزی راګیر کړی؟ یعنې پوه شوی چې زه جاسوس یم؟ د عزیزی د څهرې خواته مې وکتل د څهرې څخه یې هېڅ کوم خاص حس نه ښکاره کیدو عادی توګه یې زما خواته راکتل او خپل سګریټ یې واهه بغیر د څه ویلو ...

فکر مې کاوه د خط اخری سر ته رارسیدلې یم، که احمدزی ګېر کړی مطلب د دی خبری څخه خبر دی چې زه جاسوس یم، حتا شاید د جنرال او بوډا څخه هم

خبر اوسيږی، لکه بې ساه جسد پشان ولاړ وم او یو نظر مې د احمدزی خوا ته چې راځوړند وو کوو او بل د عزیزی خواته، د څو شیبو وروسته عزیزی کرار زما خواته راروان شو د هغه په هر ګام نږدی راتلو فکر مې کاوه د مرګ شیبې مې رالنډېږي، د ملا په تېر مې د وېرې څخه یخه خوله راغله ..

د هغه په نږدې راتلو نیم نظر مې د کوټې د دروازی خواته واچو که وتښتم نو څومره شانس لرم چې ژوندی پاتې شم؟ البته که د شالخوا یې په مرمۍ ونه ویشتم...

ناساپه عزیزی له ستوني راونیولم دومره ناساپه او کلک چې احساس مې کاوه همغه لومړۍ ثانیه کې مې ساه بنده شول له ځمکې څخه یې په یو لاس پورته کړم او په غوسه یې وویل: لومړۍ زما د پوښتنو ځواب راکړه چې ولې؟ ولې دی ما ته چل راکړو؟ شاید د هغه

وروسته اجازه درکړم د دی لعنتې دروازی څخه چې دوه سترګي دی ورته نیولې وتښتي ..

مخ مې د ډېر فشار له لاسه تک سور شو په دواړه لاسونو مې د هغه لاس ونیو ترڅو ځان ورڅخه خوشې کړم، خبر شوی وو؟ خبر شوی وو چې زه جاسوس یم؟ د مغزی رګونه مې د ډېر فشار څخه راووتل چې عزیزی پر ځمکه واچولم او ویې ویل: حق نلری په دومره آساني مړ شې حق نلری ...

په وېره باندی مې ځان د کوټې کونج ته ورسو چې عزیزی په غوسه د کوټې د یو سر څخه بل سر ته په تګ شو کوټه کې زما،عزیزی او احمدزی څخه بغیر بل هېڅوک موجود نه وه، او حویلې کې هم ما یوازی ارسلان ولید؟! یعنې هغه هم خبر وو؟ نه فکر نکوم که خبر وایې زما د وهلو ځواب یې پر وهلو راکو، تر اوسه مې مغز دا خبره نه منل چې عزیزی دی پوه شوی وی

چې زه جاسوس یم؟ اصلاً دوي ولې احمدزی رانیولې؟ په څه خاطر؟

عزیزی خپل نیم وهلې سګریټ د احمدزی پر سینه وواهو چې د سوځیدلو له درد هغه په چغه باندی په هوښ راغلو او سترګي خلاصې کړل، خو چغو وهلو یې د مرستي کولو لځایه لکه چې عزیزی نور هم لیونی کړو چې خپل کلک سوکان یې خولې ته ورته بند کړل د عزیزی د هر کلک سوک سره د احمدزی له خولې وینه بادیدل، او ما نور هم ځان راغونج کاوه پوهېدم چې د هغه وروسته زما نمبر دی.

ټول امید مې د شموئیل خوا ته وو خو لعنت دې هغه هم نن نه راتلو، پرون ماښام یې راته ویلې وه چې د ټول پیریانو سترګي زما پر خوا دی او زه نشم کولای نور خطر وکړم او څلرویشت ساعت ستا خواته درشم، یعنې د هغه د مرستي څخه مې باید لاس مینځلې وایې،اوس څه وکړم؟ د چا څخه مرسته وغواړم؟

عزيزی چې احمدزی ښه جوړ ووهلو او خپل زړه يې يخ کړو نو زما خواته راغلو، هر څومره چې کوښښ مې وکړو د کوټې د کونج خواته لاړشم خو ونشو عزيزی راورسيد او له ويښتيانو څخه يې راکش کړم دومره په کلک يې د ويښتيانو څخه کش کړم چې سترګي مې د اوښکو ډکي شوی، خو عزيزی بغير د کوم رحم راوکتل او په همغه غوسه يې وويل: که پيسي دی پکار وه نو ماته به دی ويلي وايې، نر به نه واې که دوه چنده پيسي مې نه وايې درکړې، اخر ولې دی د ده خنزير پخاطر زما سره چل وکړو؟ هـا برهان؟ ولې؟

- زه ... زه بخښنه غواړم ..

عزيزی په پوسخند وويل: بخښنه؟ ستا پر بخښني غوښتلو باندی ايا کوم شئ سميږی؟
- پوهېږم چې نه سم کيږی خو ... خو باور وکړه زه مجبور وم.

عزیزی په همغه بې رحم لهجه وویل: د څه مجبور برهان؟هـــا؟ د څه مرګ مجبور ویې؟؟

کوښښ مې کاوه د خبرو له لارې عزیزی ارام کړم خو لا خوله مې خبرو ته نه وه جوړه کړې چې هغه په غوسه ناک لهجه وویل: ما ته اصلاً دا خبره مهم نه ده چې تا و دي خنزیر ته زما د شرکت اطلاعات ورکړې، ما ته زور یوازې په دی خبره راځې چې ما پر تا باور درلود او تا زما باور خراب کړو، هغه هم د دی رزیل د څو روپو پخاطر ...

د عزیزی په دی خبره سترګي مې د حیرت خلاصي شوی د شرکت اطلاعات؟ یعنې عزیزی فکر کوی زه د احمدزی جاسوس یم نه ده پولیسانو؟ د احمدزی خواته مې وکتل باور مې نه راتلو چې دا منحوس دی دومره هوښیار اوسیږی یعنې احمدزی عزیزی ته نه دی ویلې چې هغه اصل کې د پولیسانو جاسوسان د عزیزی

شرکت ته استول نه خپل؟ یعنې دا روباه مکار عزیزی ته ویلې چې ما جاسوسان دراستول؟

په دی فکر د امید روښنایي مې په بدن کې خپره شوه او په تلوار مې وویل: قسم درته اخلم عزیزی .. پخدای باور وکړه اول کې منم چې د ده په خبره او د ده په واسطه ستا شرکت ته رانغوتلم خو قسم پر خدای چې ما ستا جاسوسي ده ته نه ده کړی، که زما خبره نه مني د ده ځخه پوښتنه وکړه ما دا څو میاشتو کې ستا او ستا د شرکت هیڅ خبره احمدزی ته نه ده کړې قسم دی.

زما په هر خبره د عزیزی د سترګو نظر بدل کیدو، داسې لکه چې زما خبرو ګنګس او دوه زړه کړی وی؟ کله چې د هغه دوه زړه توب مې ولید نو یو دوه نور قسم مې هم واخیستل البته د دروغو قسم نه وو دا رښتیا وو ما د احمدزی لپاره جاسوسي نه کول ما د پولیسانو لپاره جاسوسي کول ..

عزيزی يو ځل بيا زما ګريوان خوشې کړو او غوښتل يې يو بيا د هغه بدبخت احمدزی خواته لاړ شي او زما د خبری رښتيا او دروغ راڅرګند کړي چې ناساپه دروازه په کلک خلاصه شوه او د هغه شپي پشان ارسلان په وېره او تلوار وويل: مشره ... مشره الفا ... الفا ټول کور محاصره کړی ..

عزيزی په ګنګس انداز وويل: څه؟ د څه لپاره؟ هغه دلته څه غواړی؟
ارسلان داسې حال کې چې د وېرې څخه يې ژر،ژر لاړی تېر کول ويې ويل: نه ... نه پوهېږم خو د خير خبره نه ده.
عزيزی- هغه نو څنګه؟
ارسلان په بند،بند ژبه وويل: هغه ... هغه مشره فکر کوم غفا... غفار ... اصل کې د الفا جاسوس وو هغه احمدزی زما په ګير راکړو او ويې ويل چې د مشر په ګير يې ورکړه، هغه له قصد موږ دلته راټول کړو.. هغه ... هغه موږ په لومه کې واچولو ..

عزیزی څو شیبې په چوپتیا کې ارسلان ته وکتل خو ناساپه خپل تومانچه یې راوخیستل او مخکې له دی چې ارسلان کوم څه ووایې یا کوم حرکت وکړې هغه یې د دواړو وریځو منځ کې په سر وویشت ...په بیحد سرعت وینه وپریدل او ارسلان پر ځمکه راوولید ...

دومره هغه صحنه وحشتناک وه چې بیان کولای نشم ..
عزیزی- کوم بیعقل حیوان چې خپل مالک د مرګ په لومه کې اچوی حق یې مرګ دی ...

د دی خبری سره سم تومانچه یې بیا راپورته کړل بې اختیاره څو ګام شاته لاړم، په تمه وم چې دویم د مرمۍ ټک زما په تندی اوسیږی، خو یو ځل بیا په نهایت حیرت کې د عزیزی د مرمۍ نښه پر احمدزی ولګیدل او خلاص .. بیا په تلوار زما خواته چې د ډېر وېرې څخه مې لاس او پښې جام پاتي شوی وه راغلو له اوږی ونیولم او د ځان پسي د کور د دروازی خواته کش کړم، خو همدا چې دروازه یې خلاصه کړه د دواړو

نظر د هغه شپې پشان په مسلحه کسانو ولګيد چې د سرک څخه د کور پخوا راروان وه د هغه په ليدو عزيزی بيرته شاته راغلو او په غوسه يې وويل: لعنت دی وی پر تا حرمو*ی دومره ژر کوم رزيل خبر در ورسو؟

نه پوهېدم چې د کوم خبر په اړه وايې؟ خو دومره پوه شوم چې د خبرو مخاطب يې الفا دی، بيحد ګنګس وم، عزيزی په کش کولو د حويلې بل کونج ته ويوړلم کوچنې خام ديوال وو عزيزی سر پورته کړو او د هغه شاوخوا يې سم صحيح وکتل او بيا زما خواته راښکته شو او ويې ويل: ما ته وګوره برهان ديخوا ته يوازی دوه نفر دی چې هغه هم ديوال ته نږدې نه دې، مطلب يوازينې د ژغورلو لاره مو همدا ده. لومړۍ زه پورته کيږم او هغه دواړه کسان د لارۍ څخه لری کوم ...

د هغه وروسته تا ته غږ کوم تر څو راپورته شئ او بيا دواړه په ګډه د دی ځای څخه تښتو، خو دا فکر مه کوه

چې ستا جلبازی مې لیاده وتلې ستا حساب هم کوم خو اوس نه په وخت یې اوس یوازی باید کوښښ وکړو چې د دی ځای ژوند لاړشو سمده؟

که څه هم عزیزی وګواښولم خو سر مې د "سمده" په توګه وخوځاوه د الفا سره د پاتي کیدول څخه ښه خبره د عزیزی سره تښتیدل وه، عزیزی که وغواړی مړ مې کړی نو شاید لږ آسانه مرګ راکړی خو الفا؟؟

عزیزی چې زما تایید ولید نو پخندا یې زما په ویښتیانو لاس تېر کړو او داسی حال کې چې د دیوال څخه پورته کیدو کرار یې وویل: مه وېرېږه برهان نه پرېږدم دا ځل دې څوک راڅخه ووژني، دا ځل تا ته تر رسیدلو مخکې باید زما د جسد تېر شې ...

عزیزی دا خبره وکړل او بیا بغیر له دی چې ما کوم خبری ته پرېږدی په یو جست له دیوال پورته شو او هغه بلخوا ته ښکته شو، د هغه د ښکته کیدلو سره سم څو د مرمۍ ډکونه پورته شول د مرمۍ د ډک سره سم

د کلا دروازه مې ولیدل چې په تلوار خلاصه شول او څو مسلحه کسان ورڅخه کور ته راننوتل،په تلوار مې خپل تومانچې ته لاس کړو خو لعنت دی وی تومانچه مې موټر کې پاتې کړې وه، ځان مې د دیوال کونج ته ښه جوخت کړو ..

مسلحه کسانو ګمان وکړو چې موږ کوټه کې یو ځکه ټول بغیر له دی چې دیخوا راوګوری هغه خواته وځغاستل د څو شیبو وروسته د دیوال د هغه خوا مې د عزیزی کرار غږ واورید او د لومړۍ ځل لپاره مې ګمان وکړو چې د عزیزی غږ د ژغورنکې ملایکې پشان دی.

عزیزی- برهان؟! د دیوال څخه راپورته شوه منطقه امن ده.

په تلوار د دیوال خواته لاړم دیوال لږ جګ وو او له بلخوا زه د عزیزی پشان دومره ماهر نه وم چې د دیوال څخه په اسانې پورته شم،څو ځل مې کوښښ

وکړو خو ونه توانیدم، د ډېر وېرې څخه ژړا راغلې وه چې عزیزی بیا راغږ کړل.

عزیزی- ولې دومره وخت تېروي برهان؟ ژر کوه کنه د دې رزیلانو فکر دیخوا کیږی.
- نشم کولای، د .. دیوال لوړ دی.

نه پوهېږم عزیزی زما په غږ کې څه احساس کړل چې په کراره یې وویل: سمده، کوم خبره نشته زه اوس خپل درځم یو دقه ..
په تلوار مې دوه سترګې د دیوال خواته نیولې وه چې د څو شیبو وروسته عزیزی مې ولید چې د دیوال په سر راپورته شو او خپل لاس یې زما خواته ونیو ما هم وخت تېر نکړو او په تلوار مې د هغه لاس ونیو، کله چې پورته یې کش کولم نو د عزیزی تندی مې ولید چې د درد څخه تروش شو او "اخ" یې له خولې ووت ..

همدا چې د دیوال سر ته ورسیدم یو مسلح کس له کور راووت او پر موږ یې نظر ولګید همدا چې موږ یې ولیدو نو خوله یې خلاصه کړه ترڅو خپل ملګرو ته خبر ورکړي خو د څه ویلو مخکې د عزیزی مرمۍ په خیټه کې ولګیدل او یوازی د درد چغه یې اسمان ته پورته شوه، د هغه کس د غورځیدلو سره سم عزیزی په یو جست د دیوال څخه جمپ واچوا، او زه هم دومره د ماحول څخه په وېره کې وم چې بغیر له دی چې وګورم د ځمکې فاصله د دیوال سره څومره ده جمپ مې واچو ..

لکه چې فاصله یې یو څه ډېر وه؟ ځکه پښه مې په درد شول، خو بغیر له دی چې خپل د پښې درد ته کوم توجه وکړم په ځغاستو شوم عزیزی هم تومانچه پر لاس زما په څو قدمې کی راځغاست، تر څو متری یوازی دښته وه او هیڅ نه ښکاریدل خو د دیرش،پنځه دیرش مترو وروسته یو څو کورونه څنګ په څنګ اباد وه عزیزی هغه خواته په لاس اشاره وکړل او په ستمي

يې وويل: تر هغه کورنو باید لاړشو شاید موټر یا کوم بل څه ولری ترڅو د دی ځای لاړشو، شابه برهان تیز شه.

زه بیحد تېز تلم خو عزیزی کرار راځغاست د څو متره تګ وروسته کله چې له کور لرې لری شو د هغه تلل نور هم کرار شول او ناساپه ودرېدو، د هغه په درېدو مجبور زه هم ودریدم او خواته یې ورغلم.

- څه شوی عزیزی؟ ولې حرکت نه کوی؟
عزیزی په ستمی کولو زما خواته وکتل او خپل لاس یې د اوږی څخه لری کړو او تازه ما د هغه زخمې اوږې ته پام شو؟ په ورخطای خوا ته ورغلم لکه چې د جنګ کولو وخت کې مرمۍ خوړلی وه؟ په تلوار مې اوږه ورڅخه ونیول.

- ولې دی اول و نه ویل چې زخمي شوی یی؟
عزیزی- فکر مې نه کوو چې دومره خطرناک زخم به اوسیږی، خو اوس چې درد او وینه تلل یې بیحد ډېر

شوی نو فکر کوم د زړه کوم رګ به یې د ځان سره شکولې وی ځکه سم ساه نشم اخیستي.

د عزیزی په هر خبره زما د زړه درزا پورته کیدل، شاته مې وکتل د کور ښځه دومره نه وو راغلې هغه کسان زموږ په څو متری کې وه که داسې درېدلې وایې، نو هغوي ضرور رارسیدل عزیزی ته مې اوږه ورکړل او ومې ویل: کوم ستونزه نشته باید تر همدی کورونو لارښو تر دی ځای تللې شی؟

عزیزی داسې حال کې چې خپل اوږه یې زما له لاسه خوشې کول ویې ویل: نشم تلې نور یو ګام لا نشم اخیستي برهان ... ته لاړشه ...
په تلوار مې وویل: نه ... امکان نلری زه تا دلته د دومره کسانو منځ کې یوازی نشم پریخودلې ..

عزیزی داسی حال کې چې د درد ښځه یې مخ تک سور شوی وو کرار وخندل او ویې ویل: لیاده مه باسه برهان ته یو جاسوس یې، تا غوښتل ما پر احمدزی

ووژني نو اوس ضرورت نشته زما لپاره همدردی وکړی، ورځه خپل ځان وژغوره او د تل لپاره د دی منحوس لوبي څخه ووځه او یو ښه ژوند پیل کړه ما ...(عزیزی په درد باندی خپل د خولې لاړی تیر کړل او ویې ویل: ما د الفا ټول طلا غلا کړی (د هغه په دی خبره سترګي مې د حیرت خلاصي پاتي شول چې هغه په نرم خندا وویل: هغه زما حق وو هغه ... هغه ما خپل په پیسو اخیستی وه خو ...

خو هغه حرمو*ی بوډا ورباندی قبضه واچول ما هم خپل حق ورڅخه واخیست ... ما ټول طلا په *** کې پټ کړی هلته یو غټ د سیبانو درخت ده د هغه راسته خواته څلور متر د ځمکې لاندی، درې تن طلا ده ... اوس هم څه لاړشه ... هغه طلا وباسه او یو ښه ژوند پیل کړه ... همغه ژوند چې تل مو آرمان ورڅخه درلود ..

غوښتل مې انکار وکړم چې عزیزی خپل په جوړ لاس لځان څخه لیری ټیله کړم او خپل تومانچه یې د هغه

مسلحه کسانو خواته ونیول چې اوس زموږ څو متری ته رارسیدلې وه، عزیزی څو ځلې ټک وکړه او په نهایت حیرت کې یو ټک یې هم په غلط ولاړ نه!؟ ټول یې په مسلحه کسانو ولګید او د هغه سره سم یې یو ځل بیا ما ته د مرمۍ په شور ماشور کې راچغه کړل: وایم لاړشه و تښته هلــه ...

دومره په کلک او غوسه یې وویل چې بې اختیار ورځخه څو ګام شاته شوم، او بیا ناساپه په ځغاستو شوم، ځغاستلم او شاته مې د عزیزی پسې کتل چې تراوسه یې بزی کول خو عجیب وه هغه مسلحه کسانو د تومانچي څخه استعمال نه کوو لکه چې غوښتل یی عزیزی ژوندی تر الفا ورسوی؟! هو نو د طلاو د ځای معلومات یوازی عزیزی ته وو؟

طاها فکر وکړه .. همدا یې وخت دی عزیزی، الفبا او د هغه ټول سپي همدلته راټول شوی همدا یې فرصت دی چې ټول ونیسو؟! په دی فکر په تلوار مې د ځغاستلو

وخت کې بوډا ته زنګ ووهو همدا چې ځواب يې راکړو خبرې ته مې پرينخود او په ساه،ساه او ستمي مې وويل: الفا ... الفا دلته راغلې، خپل د ټول ډلې سره ... عزيزي هم همدلته دی ... د دوارو جګړه ده عزيزی زخمي دی ... که غواړې ... الفا او د هغه ټول ډله په يو ځل راونيسي نو همدا يې وخت دی.

بوډا په تلوار وويل: چيرته؟؟ ته چيرته يې طاها؟ او هغوی چيرته دی؟ ادرس دی ووايه ..

په تلوار مې د هغه ځای ادرس وويلو چې بوډا وويل: ته ځان يو سم ځای پټ کړه، موږ نيم ساعت کې هلته در رسيږو البته زموږ راتګ شايد لږ وخت ونيسي،زه د هغه منطقي د پوليس امر سره خبرې کوم ترڅو کمکي کسان زموږ د راتګ مخکې واستوی همدا طلايي شانس دی الفا او عزيزی بايد همدا نن راونيسو .. ته يو امن ځای ته لاړ شه ...

د سمده پر ویلو مې موبایل بند کړو او نور هم ګامونه مې چټک کړل چې نظر مې خپل د ځان څخه په څو متره لرې کې په یو نفر ولګید!؟ تک تور کالي اچولي وه؟ مخ یې نه ښکاریدو او داسې وو ته وا په هوا کې چې ولاړ وی نه پر ځمکه؟ په همدی یو نظر پوه شوم چې انسان نه دی؟ اه لعنت دی زما په شانس او طالع وی ... په دی اخ او ډب کې دا یو پیری کم وو؟ څنګه چې هغه کوړ مغزی زما خواته راکتل پوهیدم چې دښمن پیری دی نه کوم دوست؟!

زړه کې مې د ځان سره وویل چې همداسې پلنګي په غوسه په پیری باندی لاړشه او دړی وړی کړه پدرلعنت، خو همدا چې یو ګام مې د هغه خواته کیخود او د هغه سایه لا پسي غټ شوه نو د ځان سره مې وویل: بچي طاها دومره غیرت هم ښه شئ نه دی، بهتره به وی چې وتښتي ... په دی فکر مخ مې بیرته د عزیزی پخوا کړو او الفرار عزیــــــــــزی ...

ډېر ژر په کوم لاره چې راغلې وم بیرته وګرځېدم، لعنت دې وی .. زما په نظر د انسانانو د لاس ټوټه،ټوټه کیدل او مړ کیدل غوره دی له دی چې د یو پیری په لاس ووژل شې د هغوي وهل ما لیدلې ... کافران داسې ګوزار کوی چې د هر ټک سره د مرګ غوښتنه کوی، له بلخوا زړه مې ویل باید عزیزی وژغورم هغه زما له لاسه راګیر شو، که زه نه وایې هغه په آساني تښتیدلې شو، زه نه باید د نیمي لاری ملګری شم د پیری داسې په دی حساس وخت کې راتلل شاید بې حکمت ونه اوسیږی؟

خو عزیزی خو زما ملګری نه دی؟ اصلاً که لاړ هم شم نو څه کار زما له لاسه کیږی؟ خو د تیښتي لاره هم بنده ده څه وکړم؟ پورته آسمان خواته مې وکتل چې وریځې راټول شول او میده،میده باران په وریدو شو، خدایه څه وکړم؟ کوم خوا لاړشم؟ سترګي مې کلک یو پر بل وتړل کله چې خلاص مې کړل نو زړه کې مې نور کوم شک نه وو، په کرار ګامونو خپل د لومړۍ ځای

خواته روان شوم دلته ځای،ځاې ځیني غټي ډبری وه دومره وه چې یو کس یې شاته پټ کیدلې شو ..

کله چې خپل پخواني ځای ته ورسیدم په کوم ځاې کې چې عزیزی مې پریخودلې وو نو د هغه ځای په څو متر لرې کې د یو ډبرې شاته مې ځان پټ کړو، عزیزی مې لیدو چې پر ځمکه پروت وو،کرار ستمي کاوه او له دی څخه ښکاریده چې لا ژوندی دی، درې کسان یې و سر ته ولاړ وه او یو نفر په موبایل کې خبری کول، لکه چې د الفا راتګ ته په تمه وه؟ د موبایل خلاصیدو وروسته هغه نفر د عزیزی خوا ته راغلو عزیزی په لغته باندی وواهه چې د هغه د درد څخه ډک غږ پورته شو خو سړی کوم رحم ونکړو او دا ځل یې د ویښتیانو څخه راکش کړو او ویې ویل:

— دومره ژر مه مړ کیږه خنزیره .. ته باید د مشر تر راتلو ژوندی پاتي شې، هغه ته باید د طلاو ځای وښایي

او بخښنه ورڅخه وغواړي د هغه وروسته شاید دربانديې ورحمېږم او مړ دی کړم ..

صحیح ګمان مې کړې وو، هغوي غوښتل عزیزی ژوندی الفا ته تسلیم کړې، زړه مې غوښتل سترګي وتړم او ویده شم او کله چې راویښ شم نو خپل په کور کې د اقرا او محمد څنګ کې اوسیږم، او دا ټول کارونه او خبری یو خوب اوسیږی، څو ورځې مخکې مې د اقرا سره خبری وکړل پخپل ښه وه خو ویل یې محمد لږ مریض دی ما ورته وویل ډاکتر ته یې ویسه خو هغې ویل دا څو میاشتي ستا پسي زړه اچولې او دا ټول مرضتیا د زړه تنګي له لاسه ده، ما ورته قول ورکړو چې راروان یو دوه میاشتو کې درځم او هغه څومره خوشحاله شوی وه زما په خبره ..

سترګي مې خلاصې کړل او "آه" مې له سیني ووت، زه باید ژوندی پاتي شم خو دلته درېدل او د عزیزی مرګ لیدل هم بیغرتي ده، عزیزی که هرڅومره بد وی ما ته

يې کوم شر نه دی رارسولې، هغه نه باید د هغه منحوس الفا له لاسه مړ شي ... خو څه وکړم؟ د هغوی سره وسلې دی او زما سره هېڅ نشته؟ د څو شیبو وروسته د هغه درې کسانو څخه یو کس وویل: تاسو دواړه همدلته پاتې شي زه ځم زخمیان تر موټر وړم، مشر ډېر وخت نه تېروې همدا چې راشې په دوه دقیقو کې د دی رزیل د خولې څخه معلومات اخلې او ځې ..

د هغه خبره هغه دوه نورو تایید کړل چې هغه هم د کور پخوا روان شو، اوس دوه نفر مسلحه کسان د عزیزی سر ته ولاړ وه باید یو کار مې کړې وایې، د عزیزی خبره مې ذهن ته راغلل چې یوه ورځ یې د ورزش کولو حال کې راته وویل:

– پوهېږې برهان! د هوسۍ سرعت په ساعت کې90 کیلومیټره دی، په داسې حال کې چې د زمري ده په ساعت کې 48 کیلومیټره، په دې دومره لوی توپیر پوهېږې ولې تل هوسۍ د زمري د پنجو ښکار کیږی؟

ځکه چې هوسۍ هر کله زمری خپل پسې شا ته وګوري نو د ځان بچولو لپاره منډه واخلي، د هغې په زړهٔ کې دا پوخ یقین د اول څخه جوړ شوي چې زمری به یې هرو مرو رانیسي، نو ځکه د اول ځان د زمري پر وړاندې ناوسه او ناتوانه احساسوي چې ګڼي ځان ساتل ترې ناشونی کار دی ..

د نهٔ خوندیتوب همدا وېره هوسۍ دې ته په وار وار اړباسي چې شاته وګوري، تر څو د دې او زمري تر منځ فاصله څومره ده؟ د وېرې په حالت کې دا فکر د هوسۍ پر سرعت اثر اچوي بس په همدې حال کې زمری ورنږدې کیږی او هغه د تیرو پنجو ښکار کوی ..

که هوسۍ خپل وېره لمینځه ویسي او هره شیبه شاته ونګوری نو زمری به هیڅکله دا ونه نیسې، همداسې ځیني انسانان هم د ستونزو او سختیو پر وړاندې د هوسیو غوندې دي؛ خو که چېرې له خپل توان و طاقت نه خبر شی، هیڅکله به مشکلات ورباندی غلبه ونکړې،

زه طاقت لرم؟ هو زه یې لرم ما هغه درې نفر غله ووهل، ما فهیم تر مرګ ووهو، نو زه کولای شم دا کسان هم ووهم بس یوازې باید لږ د هوښیارتیا څخه کار واخلم هو همدغه ده ...

ژوند کې باید خطر په سر واخیستل شي، ما لومړۍ ځل دې لوبې ته په قدم ایښودلو سره خطر په سر اخیستې وو، یو ځل بیا باید خطر په سر واخلم، هغه نفر یو ځل بیا د عزیزی سر ته کښیناست د هغه ویښتیان یې کش کړل او ویې ویل: په څه حال یې عزیزی؟ عمر کېدی ګمان هم شاید نه وایې کړی چې داسې زما د پښو لاندی به شې کنه؟

نور صبر جایز نه وو د ځمکې له سر مې دوه غټې زدنې ډبرې راپورته کړل او د هغه دوه کسانو خواته په بیحد کرار قدمونو روان شوم، د باران څاڅکې هم زما مرسته کوونکې وه ځکه د هغه په وربدو زما د پښو غږ دومره نه اوریدل کیدی، کله چې د شالخوا په یو مترې کې

هغوي ته نږدی شوم نو د عزیزی کرار غږ مې واورید چې هغه کس ته کوم چې د ده ویښتیان یې نیولې وه وویل: ښه یم حرمو*ي، دا د دنیا قانون دی غښتلې سړی تل د بیغرت او نامرد کس په لاس وژل کیږی، که د شالخوا راغلې نه وایې پلار دی لا زه نشوم راګیر کولای، خوشحال اوسیږه چې عزیزی دی رانیولې ...

هغه سړی بغیر له دی چې د عزیزی خبرو ته کوم ارزښت ورکړی په کټ،کټ پخندا شو او د عزیزی ویښتیان یې لاپسي کش کړل او ویې ویل: افسوس چې مشر ته ستا ژبه پکار ده کنه همدلته مې درته پرې کول ترڅو نور هیڅکله داسې اپلاتي ونه وایې ...

نظر مې د هغه سړي په لاس وو چې د عزیزی ویښتیان یې کش کول، هغه حق نه درلود د عزیزی سره داسې رفتار وکړې، عزیزی که هر څومره بد کرداره او رزیل انسان اوسیږی بیا هم په دی کسانو یې زر ځله شرف درلود، غاښونه مې یو پر بل وچیچل باید د هغه نفر پر

خوا حمله وکړم کوم چې بې غم ولاړ دی او د دی صحني تماشا کوی، باید لومړۍ هغه په ډبر په سر ووهم د هغه وروسته اسلحه یې راوخلم او کوم کس چې عزیزی د ویښتیانو څخه نیولې هغه په مرمۍ ووهم، هو همدا بهترینه پلان دی که څه هم خطر پکې ډېر دی خو بله چاره نشته ..

خو همدا چې یو بل ګام مې واخیست د هغه ولاړ کس راپام شو، ما هم وخت ضایع نکړو او په بیحد تلوار مې ډبره وربراندی وار کړل دومره په تېزی مې ګوزار وکړو چې هغه هېڅ پوه نشو چې د کوم خوا یې ډب وخوړو؟ د هغه د ځمکې ولېدلو او چغي وهلو سره سم کوم کس چې عزیزی د ویښتیانو څخه نیولې وو په تلوار زما خواته راپورته شو او تومانچه یې زما خواته ونیول، زړه مې د وېرې څخه ودرېد ... اوس څه وکړم؟

خو د هغه د ټک کولو مخکې عزیزی په همغه زخمي حال ځان لږ د ځمکې څخه راپورته کړو او خپل په ټول

پاتې زور باندې هغه سرې په سر ووهو .. دومره کلک یې ووهو چې نه یوازې د هغه کس بلکې د عزیزی د درد غږ هم اسمان ته پورته شو .. او زما مغزو هم هغه شیبه یو حکم راکړو ...د هغه اولې نفر خواته په منډه شوم تومانچه مې ورڅخه راوخیستل، هغه تر اوسه خپل مات شوی سر په لاسونو کې نیولې وو او له درد څخه یې ستمي کاوه، لکه چې بیحد مې کلک په ډبرې ویشتلې وو؟

همدا چې تومانچه مې راوخیسته نو صبر مې ونکړو یو بل کلک جانانه لغت مې هم په سر ورکړل او بیا مې تومانچه د هغه کس پخوا ونیول کوم چې د عزیزی سر ته ناست وو او خپل پوزه یې د درد څخه نیولې وه ...

- تومانچه دې زما خواته راګوزار کړه هله .. شابه ...

زما په غږ نه یوازی هغه کس بلکې عزیزی هم راوکتل، د عزیزی ټول مخ پر وینو لړلې وو او له ورایه ښکاریدل چې بیحد درد لری خو بیا هم زما په لیدو یې نری

مسکا پر شونډو راغله! لکه چې زما په راتګ خوشحاله شوی وو؟

د عزیزی څخه مې نظر واخیست او بیا مې پر هغه کس چغه کړل: وایم تومانچه دې دیخوا ګوزار کړه هله ...

خو هغه زما په خبری هېڅ غوږ نه نیوې، ته وا زه ورسره ټوکې کوم؟ پوهېدم چې هغه ولې داسې کار کوی، هغه غوښتل وخت تېر کړی ترڅو د هغه تللې ملګری یا هم الفا راورسیږی ... خو بیحد په غلط فهمې کیدي که فکر کوی زه به د ده په دی لومه کې و ولیږم .. دریم ځل مې ګواښ ونکړو او د هغه لاس ته په کوم کې چې تومانچه وه نښه برابره کړه خو د ټک کولو مخکې د عزیزی کراره اواز مې تر غوږ شو چې ویې ویل: سر یې په نښه کړه برهان ...سـر ...

نه پوهېږم ولې خو د هغه خبره مې ومنل نښه مې د هغه کس سر ته ونیول او خپل ټول جرئت مې راټول

کړو او ګوزار مې وکړو،خو په بیحد حیرت کې د
تومانچې مرمۍ مې د هغه کس د سر لځایه د هغه په
لاس ولګید؟؟ همدا چې هغه نفر په درد باندی چغه
کړل او وسله یې واچول وخت مې ضایع نکړو یو بل
مرمۍ مې دا بل کس پر پښه وویشت چې اوس لږ پر
خود راغلې وو او غوښتل یې پر ما د شالخوا حمله
واچوي، کله چې د دواړو کسانو د ناتوانې او حملې
کولو څخه مې زړه ډاډمن شو نو د عزیزی خواته مې
منډه کړل ...

لومړې مې د هغه بل کس تومانچه راوخیستل او بیا
مې کوښښ وکړو ترڅو عزیزی له ځمکې راپورته کړم،
خو عزیزی حالت دومره خراب وو چې حد یې نه
درلود، بیخې پر پښو نشو دریدلې او دا کار زه ورخطا
کولم د دوي کسان په همدی شاخوا وه او سل په سل
ډاډمن وم چې د مرمۍ ټک یې اوریدلې او اوس دیخوا
رارسیږی.

- عزیزی! زما خواته وګوره مورِ باید له دی ځای ژر تر ژره لاړشو، نو شابه زما اورِه ونیسه او راپورته شه ..

خو عزیزی لکه چې ګنګس وو او نه پوهېدی چې څه حال کیدی؟ په دردمند خندا یې وویل: ته زما لپاره راغلې برهـــان؟

دومره د هغه کسانو د راتګ څخه په اندیښني کې وم چې په غوسه مې وویل: نه تا په څه مرګ وهم، لاره کې پیری راته کمین نیولې وو مجبور شوم ستا خواته راشم اوس هم د هندی فلمونو ډیالوګونه پرېږده او حرکت وکړه.

په تمه وم په دی خبری مې غوسه شې خو هغه پخندا شو او ویې ویل: ښه ده چې پېری دی مخه ونیول، شاید باور ونکړې خو اخری آرمان مې همدا وو چې د مرګ څخه یو ځل مخکې تا ووینم وروره ...

بې اختیاره مې غوږونه تېز شول ده څه وویل؟ ورور؟!
یعنې برهان د ده ورور وو؟ نه که ورور یې وایې جنرال
دوي پوهیدل، بوډا ویل عزیزی کوم کورنۍ نلری، هغه
ویل عزیزی د ماشومتوب څخه په یو یتیم خانه کې
لوی شوی وو، د هغه پلار او مور نه دی معلوم ځکه تل
ورته خلکو حرمو*ي ویل ..؟!

په کلک مې سر وخوځاوه اوس د دي فکرونو وخت نه
دي، باید ژر تر ژر د دې ځاې وتښتو، داسې حال کې
چې عزیزی مې د ځان پسې کش کاوه ومې ویل: ته نه
مړ کیږی عزیزی، نو ښه به دا وې چې بیځایه اپلاتي
ونه وایې ..

یو څو متر چې د هغه ځایه لری شو عزیزی بیخي د
خبرو کولو څخه لا وولید او دا کار یې زه ورخطا کړم،
بې هوښ کیدل هغه هم په دی دومره زخمونو سره د
مرګ خطر ډېر کوو او ما نه غوښتل هغه مړ شې ..
اوس خو بیخې مې د هغه مرګ نه غوښت .. ما دومره

خطر د دې لپاره په غاړه نه واخیستې چې اخر کې د هغه جسد لځان سره کش کړم ...

- هې ...عزیزی زما خواته وګوره، ته نه باید بې هوښ شې، شابه سترګې دی خلاصې کړه، ما دومره زحمت د دې لپاره نه دې ویستلې چې ستا جسد لځان سره کش کړم شابه په هوښ راشه ...

زما دومره خبرو ته عزیزی یو ځواب لا رانکړو، لعنت دی وی لکه چې د رښتیا بې هوښ شوی وو؟ نور مې عزیزی نشو وړلې، له یو خوا وزن یې پر ما زیات وو او له بلخوا الفا او د هغه سپي رارسیدلې وه، که حرکت مو کړی وایې نو معلومیدو باید همدلته یو ځای پټ شوی وایې او د څو دقیقو لپاره مې مقاومت کړې وایې، پولیسان نږدی وه، عزیزی مې د هغه ډبری خوا ته کش کړو د کوم شاته چې څو دقیقې مخکې پټ وم، هغه مې په ډبرې تکیه کړو او خپل یې مخ ته

کښیناستلم لعنت دی وی د اوږی د زخم څخه یې بیحد وینه بهېدل ...

خپل جیبونو ته مې لاس کړو یو څو دسمالونه راسره وه هغه مې د عزیزی د اوږي پر زخم کیخود، عمر کې مې ګمان لا نه کوو چې زه دې یوه ورځ د یو خلافکار کس د ژغورلو لپاره ځان مرګ ته ورکړم، رښتیا چې هم نړۍ عجیب ده، یوه ورځ غټ ترینه آرمان مې دا وو چې پخپل لاسونو عزیزی ووژنم، خو اوس مې خپل ټول کوښښ کاوه ترڅو هغه ژوندی وساتم.

څو ځله کرار مې پر مخ ووهو او ورباندی غږ مې کړل: عزیزی ... زما غږ اوری؟ سترګي دی خلاصي کړه ..

زما پر غږ د هغه سترګي نیم کش خلاصې شول، خو غوښتل یې بیرته یې وتړی چې په تلوار مې وویل: نه .. نه مه بې هوښ کیږه .. ما ته وګوره .. تا مګر ونه ویل باید دواړه یوځای وتښتو؟ ها؟ تا مګر ونه ویل چې زما سره حساب او کتاب لری؟ تخو نغواړی خپل

خبره بدل کړی؟ هوم؟ تخو نغوارې بې قول انسان شې؟ کنه؟ نو شابه سترګي دی خلاصی کړه.

د هر لاری څخه مې کار اخیست ترڅو عزیزی پر هوښ وساتم، او همغه حال کې مې یو نظر د الفا او د هغه کسانو خوا ته وو، رزیل د یو فوج سره راغلې وو بیحد ډېر کسان وه ورسره هغه منحوس غفار هم ورسره وو، باور مې نه کیدو دا نو څومره د لسټونې مار وو؟! یو انسان څنګه تر دی حد رزیل کیدلې شې؟ الفا خپل د هغه دوه کسانو سر ته ناست و کوم چې ما زخمیان کړې وه، کاش وژلې مې وایې شاید د هغوي په مرګ زموږ پسې نور نه وایې ګرځېدلې، خو اوس پوهیدم چې زموږ پسې دیخو راځې او همغسې هم وشول ...

څلور پنځه کسان د څو شیبو وروسته دیخوا را په ځغاستلو شول، په غوسه مې خپل تومانچه راوخیستل باید تر اخری ثاني انتظار وکړم، کله چې ښه رانږدی شول د هغه وروسته ټک وکړم زما نښه خراب ده، که

هغه دقه د عزيزی په خبره مې نه وايې کړی او د سر لځايه مې د هغه کس لاس په نښه کړی وايې نو سل په سل ډاډمن وم چې د هغه کس لخايه به مې عزيزی ويشتلې وايې؟! عزيزی زما د خراب نښه نيولو څخه لکه چې خبر وو چې ويې ويل سر يې په نښه کړه ..

څلور مرمۍ په يو تومانچه کې وه او درې په بل کې، بايد هر ټک مې په بيحد احتياط کړی وايې همدی کش، مکش کې مې موبايل هم راوخيست بوډا څو ځله زنګ وهلې وو خو ځکه چې موبايل مې په سايلنټ حالت کې وو نو غږ مې نه و ورڅخه اوريدلي په تلوار مې راوخيست او زنګ مې ورپسې ووهو.

- الو..

بوډا- الو طاها ښه يې؟ ولې موبايل ته ځواب نه راکوی؟

- ښه يم خو شايد ډير ښه پاتی نشم ...

بوډا- څه؟ مطلب دی څه دی؟ ايا ستا ځاې پيدا کړې؟

داسې حال کې چې دوه سترګي مې د عزیزی پریدلې رنګ ته نیولې وه ومې ویل: څه ناڅه .. ګوره الفا او د هغه کسان زما خواته راروان دی د پټ کیدلو لپاره ځای نشته د یو ډبری شاته یم که ژر راونه رسیږی فکر کوم باید د مړو په لیست کې مې شامل کړی او یو فاتحه راپسې ووایست؟

بوډا- مه ویرېږه زموږ کسان ستاسو خواته درسیدلې شاید د سړک خواته وي، یو څو دقیقي نور هم همداسې ځان پټ وساته.

غوښتل مې ځواب ورکړم چې د الفا د یو کس غږ مې بیحد نږدی واورید.
– هې جلال!؟ دیخوا وګوره دلته د وینو څاڅکې ډېر دی ..؟ فکر کوم همدلته چیرته پټ شـ ...

د خبری وخت مې ورنکړو موبایل مې جیب ته کړو او پر هغه کس مې ډز وکړو خو څکه چې متاسفانه زما نښه ویشتل بیحد خراب وه،نو هسې مرمۍ مې حرامه

شوه او البته خپل په خراب نښه ویشتولو باندې خپل صحیح ادرس مې هم د هغوی لاس ته ورکړو، ناساپه د الفا د ټولو کسانو فکر دیخوا ته شو او راپه ځغاستو شول ای لعنت دی وی زما په دی شانس ...د الفا غږ مې د همغه لیری ځخه اوریده چې په بار،بار یې چغې وهل او ویل یې: عزیزی ژوندی غوارم .. فکر مو وی که مړ شو تاسو ټول ورسره دفن کوم ...

د هغه په دی خبره لږ مې زړه راحت شو، دوي اوس بې پروا ټک نشي کولای ځکه چې عزیزی ژوندی پکار دی؟! په دی فکر لږ زړه او جرئت مې پیدا کړو غوښتل مې هسې هوایې ډزې وکړم تر څو هغوې و وېرېږی او شاته لاړشي، غوښتل مې وخت واخلم تر څو بوډا او جنرال دوي راورسیږی، خو ځکه چې زه بیحد منحوس انسان یم نو د دویم مرمۍ ویشتلو لپاره مې لا ځان نه وو تیار کړې چې احساس مې وکړو د سینې یو خوا مې وسوځیده ... داسې ناساپه درد مې په اوږه کې وپیچل

شو چې بې اختیاره مې "اخ" له خولې ووت ... مرمۍ ... مرمۍ مې پر راسته اوږی خوړلې وه ..

دومره درد مې درلود چې نور حتا خپل د لاس د پورته کولو لا نه وم تومانچه پورته کول او ټک کول خو لری خبره ... فکر مې کاوه دا ځل نو ضرور مرم ..یو نظر مې د عزیزی خواته وکړو چې پر مخ یې خولې روانې وه او رنګ یې تک ژېړ پریدلې وو، روغ لاس مې خپل پر زخمي اوږې ونیو چې د الفا د کسانو غږ مې واورید.

– په مرمۍ مې وویشت ... ما وویشت ..فکر کوم نور ټک نشې کولای مخکې ورشې، عزیزی د اول هم د وار کولو نه وو دا خنزیر نه پوهیږم ناساپه د کوم خوا راپیدا شو ...؟

د هغه د غږ سره سم څلور پنځه کسان زموږ خوا ته را په منډه شول او حق د هغوی سره وو ما ځان لا نشو خوځولې، ټک کولو خو لرې، فکر مې نکو چې د مرمۍ زخم دی دومره دردونکي وی، عزیزی زما څخه ژور ټک

خوږلې وو خو لا هم تر څو شيبو پر پښو وو او جنګ يې کاوه ما هم ګمان کوو چې زه به هم همغسې جګړه وکولای شم خو لکه چې په غلط فهمۍ کې وم؟!

د عزيزی خوا ته مې ځان په بيحد زحمت کش کړو او هملته د هغه د اوږې سره مې سر په ډېره تکيه کړو اه ... لکه چې دا ځل د رښتيا،رښتيا د خط اخری پای ته ورسيدم؟! سترګي مې مخامخ د هغه لاری خواته وه کوم کې چې پيری ولاړ وو او زما د تګ مخه يې نيولې وه، که هغه پيری مې مخې ته نه وايې راغلې شايد ژغورل شوی وايې؟ د سترګو له کونج مې د عزيزی خواته وکتل او د هغه اخری خبره مې ذهن ته راغلل څومره په خوشحالۍ وويل" زما پسې راغلې وی؟" د هغه لهجه څومره هغه دقه کې خوشحاله وه؟ ته وا دا ټول نړۍ د هغه پر نوم کړی؟!

اه عزيزی اه ... اخر دی دواړه مرګ ته ورکړو سترګي مې کراړ، کرار په پټ کيدلو وه او د هغه کسانو غږ مې

خپل وخنګ ته اوریدو چې یو بل ته یې ویل: ته د راسته طرف څخه لاړ شه زه د چپ طرف درځم ...

پر شونډو مې پوسخند راغلو څه جنايي پلانونه هم جوړوی رزیلان، خو ژر راشې او خبره خلاصه کړې دا دومره پلانونه جوړول نو څه معنا؟! زه خو هسې هم نور د خرپ او خروپ نه یم، عزیزی خو هم د وخت تسلیم شوی نو ولې دومره د استخاری مونځ کوي ...؟! راشې او ژر مو د دې عذاب خلاص کړې ...

احساس مې کاوه چې بدن کې مې نور هېڅ توان نشته، یوازی یو ساه مې اخیستل او بس، چې ناساپه د عزیزی خوځیدلو ته مې پام شو، لکه چې په هوښ راغې؟ لږ مې خپل سر د هغه خواته کوږ کړو او د هغه خلاصو سترګو ته مې وکتل،د څو شیبو لپاره لکه چې ګنګس وو؟ یوازی راکتل خو وروسته لکه چې پوه شو چې په څه حالت کې یو، په اندیښنې کوښښ وکړو چې پاسیږی خو لا ښور یې نه وو خوړلې چې د الفا

سپي راورسيدل ... د رارسيدلو سره سم يو جانانه لغت يې زما پر اوږه راکړل ..

لکه چې دا د هغه دوه نور کسانو کوم چې ما زخمي کړې وه ملګرى وو چې داسې راته غوسه وو؟ دومره کلک يې ووهلم چې فکر مې کاوه د سينې هډوکې مې مات شو د درد څخه پر ځمکه ووليدم چې د عزيزى لوړ غږ مې واورید چې په چغه يې وويل: که يو ځل بيا دى ووهو هغه پښه دى در پرى کوم او سپيانو ته يې اچوم پوه شوى حرمو*ي کنه؟

د دى څخه مخکې چې هغه دوه کسان کوم څه ووايې د الفا منحوس غږ او ورپسي مرداره قواره مې مخې ته ظاهره شول.

الفا- اووو عزيزى .. په کراره ولې دومره غوسه؟ تازه اوس خو لوبه شروع شوه او ته غواړې پاى ته يې ورسوى ؟ نچ نچ، تا خو لوبي کول خوښېدل کنه؟ بيا ولې غواړې دومره ژر يې پاى ته ورسوى هوم؟

ما دومره درد درلود چې يوازی له خدای مې غوښتل ژر تر ژره مې ساه واخلې چې بيغم شم ...

عزيزی- ستا کار زما سره دی برهــان خوشې کړه، هغه پر کوم څه نه پوهېږي، هغه خوشې کړه ... اصلا ... اصلاً راځه چې يو معامله وکړو ته برهان آزاد کړه په بدل کې زه تاته د طلاو ځای ښايم څنګه؟ خوښه دی ده؟

الفا- اوممم عجيب ده عزيزی او زاری؟ ته د دی هلک مخ دی خوا راوګرځوه چې وګورم دا څوک دی چې عزيزی د ژوندي پاتي کيدلو لپاره زاری کوی؟

د هغه د خبری سره سم همغه کس چې زه يې په لغتې وهلې وم د ويښتيانو څخه کش کړم او زما مخ يې د هغه منحوس الفا خواته کړو، سترګي مې کلک ترلې وه نه مې غوښتل زما په سترګو کې درد احساس کړی، دا کسان د درد څخه تغذيه کوی د انسانانو درد دويته

خوند ورکوی او ما نه غوښتل خپل د عمر اخری وختونو کې دویته داسې خوند په لاس ورکړم ...

یوازینی امید مې د بوډا د خبرو خواته وو کاش ژر را ورسیږی، البته زما په نظر په داسې شرایطو کې د هغوی رارسیدل چندان ګټور هم نه دی؟! که اوس راورسیږی سل په سل ډاډمن یم دا منحوس الفا لومړۍ موږ وژني د هغه وروسته تښتي ...

الفا- عجب .. د دی څهره ما ته آشنا ښکارې لکه چې د دی ځخه مخکې مې هم کوم ځای لیدلې ...؟!

عزیزی په مات ګوډ غږ چې په بیحد ستونزه اوریدل کیدو ویې ویل: پخپل ښه پوهیږي چې په زوره زما د خولې ځخه یو لفظ لا نشې ویستلې ... نو بهتره همدا ده چې معامله وکړو، ته برهان خوشې کړه په بدل کې زه درته د طلاو ځای وایم ...

د عزیزی په خبره الفا په کټ،کټ پخندا شو او ویې ویل: په یاد مې راغلو برهان ... برهان ... همغه ستا حرمو*ی برادر خوانده نه دی؟ همغه چې یوځای ورسره په یتیم خانه کې غټ شوی وي؟ خو هغه خو څو کاله مخکې مړ شو کنه؟ همغه وو چې ما په زندان کې ووژو؟ هوم؟ نو دا برهان بیا څوک دی؟ یاد د دی عزیزی؟! د هغه د ژغورلو لپاره دی هم همداسې زاری کول؟ ته ډېر بدبخت انسان یې عزیزی، ته هیڅکله خپل د ژوند ارزښتناکه څیزونه نشې ساتلې او همدا ستا د کمزوتیا علامه ده ..

زه ښه وو چې ارمانجن خو مړ نشوم بلاخره پوه شوم دا برهان نومې کس د عزیزی څه کیدو؟! دوی دواړه په یو یتیم خانه کې غټ شوی وه، نو ځکه جنرال په دوي باندی د ورور ګمان نه وو کړی، ځکه دوي ذاتاً یو د بل ورونه نه وه بلکې زیاتر د یو ملګری پشان وه شاید زما او د زبیر پشان؟ نه د زبیر سره زما د ملګرتیا لړ وخت

کیږی شاید پنځه،شپږ کاله خو د دوی اړیکه ډېره ژوره ښکاریدل لکه زما او د ذوالفقار پشان؟!

هو دا مثال به ښه وی، په بیحد زور او زحمت مې سترګي خلاصې کړل او د عزیزی خواته مې وکتل په قسم سره ویلې شم چې په سترګو کې یو عجیب غم او درد پروت وو، کرار مې د شونډی لاندی وویل: وخت تېر کړه ...

ما تر اوسه د بوډا راتلو ته امید وو، عزیزی په خبرو کولای شو د الفا وخت تېر کړی، نه پوهېږم زما په خبره پوه شو او کنه؟ خو په همغه نیولې او دردمند غږ یې وویل: حق ستا سره دی مشره ... ما هیڅکله خپل د ارزښت ناک څیزونو ساتنه په سمه توګه نه ده کړی اوس هم سل په سل ډاډمن یم چې اخری لاره زما مرګ دی خوا دا یوه غوښتنه لرم د هغه دومره خدمتونو په بدل کې ...

الفا اجازه ورنکړل چې عزیزی خپل خبره کامل کړی او پخندا یې وویل: اوه عزیزی لیاده مه باسه تا زما لپاره هېڅ خدمت نه دی کړی، ټول کارونه دی په جبر او زور کړی .. ته فکر کوی زه خبر نه وم چې زما شاته دی څه پلانونه جوړول؟! غوښتل دی ما پر ځمکه ووهې؟ اراده دی زما د ګروپ د خراب کیدو وه؟ خو لکه چې لیاده دی وتلې ته یوازی یو اهلې کړی حیوان یې ته زما سره د ښکر وهلو توان نلرې ...

نه پوهېږم په دومره درد او نامیدی کې ولې ناساپه د الفا په دی خبره مې خندا راغلل او په زحمت مې وویل: نه وم خبر چې ته هم حیوان یې او ښکر ولکۍ لرې؟! هههه

زما په خبره یو دم چوپتیا خپره شوه کله چې د عزیزی خواته مې وکتل نو هغه کوښښ کاوه خپل خندا کنټرول کړی،خو لکه چې بدبختانه زما دا ټوکه په دی منحوس الفا بېر بد ولګیدل چې په غوسه یې وویل:

هوم ... ښه ده ژبه لرې ښنګه خوښه دی ده دا ژبه دی د یو نښې په توګه ځان سره وساتم هوم؟ ترڅو د دی وروسته هر چا که جرئت وکړو پر ما ریشخند ووهې ستا ژبه ورته د درس عبرت پشان وښایم؟!

د هغه خبرې دومره ګواښونکې وه چې بی اختیاره مې خپل خوله بنده کړل، عجب بد مې وکړل دا نو د ټوکو کولو وخت وو؟ سترګي مې کلک ترلې وه چې یو چا د ویښتیانو څخه کش کړم پوهیدم چې اراده یې د څه ده؟د عزیزی زارۍ مې اوریدل خو لکه چې چندان ګټور نه وو؟ ځکه هغه کس په زوره لګیا وو ترڅو زما خوله خلاصه کړې خو ما هم خپل پاتي زور واهو ترڅو پرینږدم ژبه مې پرې کړې همدی کش،مکش کې ناساپه احساس مې وکړو چې بدن ته مې یو نه کنټرول کیدونکي انرژی راداخل شوه؟!

په بدن کې مې د وینو جریان احساس کاوه ... فکر مې کاوه زړه مې د نرمال حالت څخه په کلک درزیږی ...

بې اختیاره مې سترګې خلاصې شوې نه پوهېږم زما
په سترګو کې هغه کس څه ولیدل چې په تلوار زما د
سینې څخه پاسید .. د هغه د پاسیدلو سره سم شیطان
مسکا مې پر شونډو راغله، خپل پوهیدم چې د بدن
کنټرول مې له لاسه وتلې د هغه بل ځل پشان احساس
مې درلود هغه ځل چې فهیم مې وهلې وو ... همغه
انرژی مې خپل شاوخوا احساس کول البته یو څه ډیر
د هغه حالت څخه ... دا ځل د هغه انرژی احساس
بیحد ډیر وو بیحد ...

الفا- څه کوې؟ ژر شه ژبه یې ورڅخه پرې کړه باید ژر
ددې ځایه لاړشو ...

د الفا پر غږ هغه سړی یو ځل بیا غوښتل زما خواته
راشي خو د هغه د نږدې راتلو مخکې پښه مې پورته
کړل او یو زدني لغته مې په خیته کې ووهو دومره
کلک مې ووهو چې بدبخت د درد څخه په ځمکه
راوغورځید همدا چې راښکته شو زه په یو جست له

ځمکې راپاسیدم او د هغه چاقو مې راوخیست، د سترګو په رپ کې مې چاقو د هغه مسلح کس پخوا ګوزار کړو کوم چې د عزیزی خواته یې تومانچه نیولې وه، چاقو مخامخ د هغه کس په تندی ولګید د هغه د ولیدلو سره سم الفا او د هغه کسان په تلوار راپاسیدل ...

الفا په چغه او ورخطای وویل: مړ یې کړي ... ژر کوی ..

د الفا په چغه څوک وا هغه انرژی لا زیاته شوه د هغه څلور، پنځه کسانو په یو ځل مرمۍ ویشتل شروع کړل خو د دی څخه مخکې چې پر ما کوم مرمۍ ولګیږی یو سایي پشان شې مې مخې ته راغلو، کله چې ښه مې وروکتل نو همغه پیری وو؟! همغه چې زما مخ یې نیولې وه، باور مې نه کیدو هغه زه د مرمۍ ویشتلو څخه بچ کړم؟! خو ولې؟

یوه شیبه کې هر شي بدل شول هغه زه د لاس کش کړم او کله چې سترګي مې خلاصې کړل نو نور د الفا او د عزیزی ځنګ کې نه وم؟ د سرک په غاړه وم؟! د پولیسانو رینجرونه مې لیدل چې په تلوار دیخوا راروان وه، هغه کس چې زه یې دلته راوړی وم کرار، کرار مخ په لری کیدو وو د هغه د لری کیدلو سره سم فکر مې کاوه زما هغه عجیب انرژی هم کمیږی اخری شیبه کې مخکې لدی چې د سرک غاړي ته پر ځمکه وغورځیږم وریسي مې غږ کړل ...

- ته ...ته څوک یې؟

زما پر غږ ودرېد بیا په کراره یې خپل له سر هغه عجیب غریب خولې لری کړل کوم چې ټول مخ یې وربانديې پوښل شوی وو او هېڅ نه ښکاریدو، د هغه د لری کولو سره سم سترګي مې له حیرت خلاصې پاتي شوی ... د سترګو وړاندې مې هر شئ دوه، دوه شول مغزو کې مې د بنګهاری غږ پورته شو، باور مې نه راتلو

هغه ... د هغه څهره زما پشان وه؟! داسې لکه چې زه پخپل خپل و مخ ته ولاړ اوسیږوم؟!

د هغه خوله پر مسکا خلاصه شوه .. او بیا د هغه لومړۍ ځل پشان یې خپل مغزی کوږ کړو او ویې ویل: هو، صحیح ګمان دی کړې طاها ... زه ستا همزاد یم ... نوم مې هم زقوم دی ...

- زقوم ...؟!

#نوټ

د ناول د خلاصیدو مخکې غوارم دا خبره وکړم چې همزاد څه دې؟ او څه مطلب لری؟ همزاد یا هم مشهور په"قرین" دا اصل کې یو پیرې دی، د دې په اره ډېر روایتونه او خبرې شته خو لومړۍ اسلامې برخه کې د

دی پیری په اړه معلومات درکړم،ویل کیږی چې همزاد چې اسلامې اصطلاح کې ورته" قرین ویل کیږي په معنا ده هغه جن یا شیطان ده چې د انسان د پیدا کیدلو سره سم پیدا کیږی؟! مطلب یو ډول د انسان جملې یا هم غبرګونې دی خو د شیطانانو نرۍ کې؟!

- دا قرین هڅه کوي انسان بدو کارونو ته وهڅوي، بیځایه غوسه،حسد کینه،بغض،او یاغي توب زیاتر د همدې پیری کار دی ..
- د هر انسان سره یو قرین شتون لرې حتی د پیغمبر ﷺ لپاره هم الله "ج"دا قرین مسلمان کړی و ..
- په قرآن کې الله ﷻ فرمايي:وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ.."* (الزخرف: 36)

او د خلکو په افسانو او راویاتونو کې راځې چې، خلک همزاد ته ډېر اسرارناکه ځواک ورکوي، لکه:

- دا چې همزاد یې د شپې لخوا فعاله کیږي ..
- د انسان عکس یا سیوری شي ..

- که یو څوک ځان وژني، نو همزاد یې هم وژل کیږی ..
- د همزاد سره اړیکه، جګړه یا وسوسې پیدا کوی ..
- همزاد (قرین) یو شیطاني جن دی چې وسوسې اچوي ...
- د انسان بدن فزیکي توګه نشې نیولې خو عجیب شیطاني ځواک ورکولاې شې ...

او پاتي شول خبره د "زقوم" نو زقوم په اصل کې د جهنم د یو وېروونکې درختې نوم دې .

- په قرآن کې الله ﷻ فرمایي: إنها شجرة تخرج في أصل الجحيم، طلعها كأنه رؤوس الشياطين (صافات: 64-65) ژباړه: دا یوه درخته ده چې د دوزخ له ژورو څخه را پورته کیږی میوې یې د شیطانانو د سرونو پشان ده ..
- دا درخته دوزخیانو ته د بوږی پشان ورکول کېږي چې بیحد تریخ، بدبویه او دردناک دی ..

البته بعضې خلک دا عقیده لرې چې "زقوم" اصل کې د یو د خطرناک پیري نوم دی ..
- په کیسو کې ویل کېږي چې "زقوم" یو د اور څخه جوړ پیری دی چې د انسان له وجوده تغذیه کوي، یا یې وسوسه کوي، د غوسي یا شر سمبول دی د ناڅاپي قهر، ویره، یا رواني فشار ورته کارونه همدا پیری کوی، بدني او روحي ستړیا رامنځته کوي، خلک وایي خوبونه ګډوډوي،په انسانانو ننوځي او عجیب څواک ورکوي، دا پیریان یو د بدترینه پیریانو د ډلې څخه دي او لکه چې د طاها له ښه شانس همدا د ده قرین او همزاد دی؟!

#د_ابلیس_ناول_د_دریم_پړاو_ته_څوک_یې؟
_ناول_پاي❤️
#لیکوال_خواجه_زی❤️